اللّٰہ

# مَاقَالَ أُسْتَاذِيْ

عَلٰی

# أُصُوْلِ الشَّاشِيْ (پشتو)



افادات


شیخ الحدیث حضرت مولانا سید شیر علی شاہ المدنی
الاستاذ بالجامعة الحقانية اکوره خٹک


مرتب


مولانا عبد الرحمٰن حقانی نیازی


معاون


مولانا محمد یعقوب حقانی نیازی


ناشر:


جامعه مظهر العلوم نیازی



Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat .com

تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

| | | |
|---|---|---|
| تفاسیر | خطبات | منطق |
| احایث | سیرت | معانی |
| فقہ | تاریخ | تصوف |
| سوانح حیات | صرف | تقابل ادیان |
| درس نظامی | نحو | تجوید |
| لغت | فلسفہ | نعت |
| فتاوی | حکمت | تراجم |
| اصلاحی | بلاغت | تبلیغ ودعوت |
| تمام فنون | | |

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

Maktaba Tul Ishaat.com

بسم اللہ الرحمن الرحیم

# مَا قَالَ اُسْتَاذِیْ

## عَلٰی

# اُصُوْلُ الشَّاشِیْ

افادات


شیخ الحدیث حضرت مولانا سید شیر علی شاہ المدنی

الاستاذ بالجامعة الحقانية اكوره ختک

مرتب

معاون

مولانا عبد الرحمن حقانی نیازی ❁ مولانا محمد یعقوب نیازی حقانی



ناشر: جامعہ مظہر العلوم نیازی

ڈیری کلے خوست افغانستان



Maktaba Tul Ishaat.com

# د کتاب فهرست


تقریظ شیخ الحدیث حضرت مولانا شیر علی شاہ صاحب ........................ ۱

تقریظ شیخ الحدیث حضرت مولانا انور الحق صاحب ........................ ۲

تقریظ شیخ الحدیث حضرت مولانا عبدالحلیم صاحب (دیر بابا) ........................ ۳

تقریظ حضرت مولانا محمد ابراهیم فانی صاحب ........................

انتساب ........................ ۴

نقوش ابتدائیه ........................ ۵

د ماقال استاذی حقیقت د مرتب په قلم ........................

داصول فقه تعریف ،موضوع ........................ ۷

غرض ،اهمیت او کتابونه ........................ ۹

د بسم الله آو الحمدلله تشریح ........................ ۱۱

والسلام علیٰ ابی حنیفه ........................ ۱۷

تعریف الخاص ........................ ۱۹

تعریف العام ........................ ۲۱

یجوز نکاح إمراة بغیر إذن ولی ........................ ۳۷

وأما العام فنوعان ........................ ۴۰

وأما العام خص عنه البعض ........................ ۵۳

حکم دعام مخصوص البعض ........................ ۵۴

فصل فی المطلق والمقید ........................ ۵۸

فصل فی المشترک والمؤل ........................ ۷۷

حکم المؤل ........................ ۸۵

فصل فی الحقیقة والمجاز ........................ ۸۸

ثم الحقیقه انواع ثلاثه ........................ ۹۹

المجاز خلف عن الحقیقه عند ابی حنیفه ........................ ۱۰۵

فصل فی تعریف الإستعاره ........................ ۱۰۹

فصل فی الصریح والکنایة ........................ ۱۱۸

تعریف الکنایة ........................ ۱۲۷

حكم الكناية ........................ ١٢٣
فصل في المتقابلات ........................ ١٢٦
تعريف الظاهر والنص ........................ ١٢٧
وأما المفسر ........................ ١٣٣
وأما المشكل ........................ ١٤١
فصل في الأمر، تعريف الامر ........................ ١٤٨
فصل في الأمر المطلق ........................ ١٨٣
فصل المامور به نوعان ........................ ١٩٦
فصل الأمر بالشيء يدل على حسن المامور به ........................ ٢٠٨
تعريف القضاء، أقسام الاداء ........................ ٢١٦
وأما الاداء القاصر ........................ ٢١٨
النهي عن التصرفات الشرعية ........................ ٢٣٥
يقتضي تقريرها ........................ //
فصل في تعريف طريق المراد بالنصوص ........................ ٢٤٧
فصل في تقرير حروف المعاني الواو للجمع المطلق ........................ ٢٧٠
فصل الفاء للتعقيب ........................ ٢٧٩
فصل ثم لتراخي ........................ ٢٩٠
فصل بل لتدارك الغلط ........................ ٢٩٣
فصل لكن للإستدارك ........................ ٢٩٧
فصل أو لتناول أحد المذكورين ........................ ٣٠٠
فصل حتى للغاية ........................ ٣٠٩
فصل إلى لانتهاء الغاية ........................ ٣١٣
فصل كلمة على لإلزام ........................ ٣١٨
فصل كلمة في للظرف ........................ ٣٢٢

Maktaba Tul Ishaat.com

فصل حرف الباء للإلصاق ........................ ٣٣١
فصل في وجوه البيان بيان التقرير ........................ ٣٣٦
فصل وأما بيان التفسير ........................ ٣٣٧
فصل وأما بيان التغير ........................ ٣٣٩
ومن صورة بيان التفسير الاستثناء ........................ ٣٤٦
فصل وأما بيان الضرورة ........................ ٣٥٢
فصل وأما بيان الحال ........................ ٣٥٤
فصل واما بيان العطف ........................ ٣٥٧
فصل وأما بيان التبديل ........................ ٣٦٠
البحث الثاني ........................ ٣٦٢
فصل في سنة رسول الله ........................ ٣٦٣
فصل في اقسام الخبر ........................ ٣٦٤
فصل في الاجماع ........................ ٣٨٣
فصل ثم بعد ذلك نوع من الاجماع ........................ ٣٩٠
البحث الرابع في القياس ........................ ٣٩٩
فصل شروط القياس خمسه ........................ ٤٠٣
فصل القياس الشرعي ........................ ٤١٢
فصل الأسئلة المتوجه على القياس ........................ ٤٢٢
ثم السبب قديقام مقام العلة ........................ ٤٤٢
فصل العزيمة هي القصد ........................ ٤٥٩
فصل الإحتجاج بلادليل ........................ ٤٦٣
تاريخ اختتام ........................ ٤٧٠

# عظیم الشان علمي سوغات

الحمد لله وحده والصلوٰة والسلام علیٰ من لانبی بعده وعلی آله واصحابه الذین اوفواعهده.

امابعد:

د علم اصوله فقه تعلق د هغه علومو سره دے چې کوم علوم عالیه او مقصودی دی۔ نۀ د هغه علومو سره چه آلیه او یا وسایط دی د ایو ډیراهم او بنیادی ذره رابنکونکې علم دے په دې علم د مختلفو مِن اهبو لویو لویو علماء و ډیر بهترین او قیمتی کتابونه لیکلی دی چه امت د هغې نه مستفید کیږی۔

اصول الشاشی د فقهٔ حنفی په اصولو باندې مشتمل بنیادی کتاب دے او دا طالب علمانو ته د اصول فقه حنفی د اولنی کتاب په توګه ښودلې کیږی چونکه د هر نوی علم اولنې کتاب د خپل ندرةِ موضوع په اعتبار سره او دغه وجِدَة مباحث په حواله انتهائی مشکل دی ځکه چې په معنې کښې د هغه علم نوی اصطلاحات اوقوانین متعارف کیږی نو په دې وجه د طالب علم نه د ډیری ژورې مطالعی او د محنت غوښتنه او تقاضا کوی۔

زمونږ ډیر ګران او محترم شیخ استاذی و استاذ العلماء قدوة المفسرین وزبدة المحدثین فخر الاماثل الادیب آلادیب والخطیب اللبیب حضرت مولانا ډاکټر سید شیر علی شاه صاحب دامت برکاتهم العالیه شیخ الحدیث جامعه دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک په طالب علمانو باندې دشفقت او د کرم په توګه په دارالعلوم حقانیه کښې د درجې ثالثې طالبانو ته دا کتاب ډیر په ذوق او شوق سره شروع کړو او د درجې نه علاوه د عالی درجې طالبان به پکښې هم په ډیر ګڼ شمیر او تعداد کښې شریکیدل

د هغوی دا صول الشاشی دا درسونه ګرانو او محترمو رونړو مولانا عبدالرحمن حقانی نیازی او د هغوی رور مولوی محمد یعقوب نیازی حقانی ډیر په محنت او کوشش سره د کیسټو نه راغوند کړل او د حضرت الشیخ مدظله دتصحیح او داصلاح نه پس ئے دا قیمتی تقریر په جامع او بهترین انداز کښې شائع کړو۔

ما نه ګرانو او محترمو مرتبینو په دې عظیم الشان علمی سوغات باندې د خپل

تاثراتو د لیکلو غوښتنه اوکړله۔

ماورته معذرت اوکړلو چې زۀ د خپل ډیر ګران او محترم شیخ مدظله چې د هغوی شخصیت په تمامه علمی دنیا کښې مسلم الثبوت دے او زما انتهائی محبوب استاذ هم دے زه به د هغوی په دې تقریر دلپذیر څنګه خپل تاثرات او لیکم دا خو لویه بې ادبی ده څکه چې شاعروائی ۔ ع آفتاب آمد دلیل آفتاب

خو د دې ملګرو په اصرار مې صرف د دوئی د خواهش پوره کولو د پاره دا جرأت اوکړو ورنه ع چه نسبت خاک رابا عالمِ پاک

ددې عظیم کتاب د مقبولیت دپاره صرف دغه نسبت کافی دے چې زمونږ د شیخ مدله العالی تقریر دے ددې نه علاوه دبل وصف د زکر کولو څه ضرورت نشته۔

ے زِوصفِ ماتمامِ ماجمالِ یار مستغنی ست
بآب ورنګ وخال وخط چه حاجت روئے زیبارا

په آخر کښې زه دا سفارش ضروری خیال کوم چې هر طالب علم که هغه د هرې درجې سره تعلق لری دا کتاب واخلی او مطالعه کوی دې څکه چې په دې کښې زمونږ شیخ مدظله نادر نکات بهترین اشعار ناآشنا ضرب الامثال او عجیبه قواعد او ضوابط بیان کړی دی ۔ چې په یو ځای کښې د دې پیدا کیدل او موندل ډیر مشکل دی داکتاب ګویا د یو دائرة المعارف حیثیت لری۔ دغه شان زۀ د مرتبینو د پاره هم دعا ګویم چې هغوی ډیر په محنت او په کوشش سره دا علمی ذخیره طالب علمانو ته رابر سیره کړه او په مونږ طالبانوئی ډیر لوی احسان اوکړو۔ الله کریم دې ورله ددې محنت اجر جزیل ورکړی ۔ آمین

اللهم استعملنا فی طاعتک وطاعة رسولک ور زقنا حبّک وحبّ رسولک واجرنامن خزی الدنیا وعذاب الآخره برحمتک یا ارحم الراحمین.

العبد الجانی

حافظ محمد ابراهیم فانی

خادم العلم والطلبة بجامعة دارالعلوم الحقانیه اکوړه خټک

۲۲ ربیع الثانی ۱۴۲۹ھ

# دماقال استاذی حقیقت د مرتب په قلم

الحمد لله رب العالمین والصلوٰة والسلام علی سید الانبیاء والمرسلین وعلیٰ آله واصحابه اجمعین الطیبین الطاهرین. امابعد.

زما د پاره دا د ډیرې خوشحالی او ویاړ مقام دے چې د خپل وخت د عظیم مفسر او محدث او د جمله علومو فنونو دامام شیخ التفسیر والحدیث حضرت مولانا ډاکټر سید شیر علی شاه صاحب مدظله په اصول اشاشی باندې درس شوی تقریر ستاسو په وړاندې په کتابی شکل کښې وړاندې کوم. د تحدیث بالنعمة په توګه یو څو معروضات پیش کول ضروری ګنړم د پاره د دې چې د موجوده شرحې پس منظر محترمو علماو او طلبه وروڼو ته معلوم شی.

عرض دادے چې هر کله حضرت الشیخ مدظله په جامعه دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک کښې د اصول فقه حنفی مشهور کتاب اصول الشاشی درسول شروع کړل. نو د دوئی د روزانه درس به محترم وروړ زرعالم کوم چه په جامعه حقانیه کښې د صدائی حق اسلامی کیسټ پروشی مسئول دی هغوی به په کیسټ کښې ثبت کولو. بیا زما دا اراده پورته شوه ـ چې د کیسټونه دا درسونه کاغذ ته منتقل کړم چنانچه په دې کاریاندے د الله په توکل ماشروع اوکړه. او حضرت الشیخ مدظله سره ما ددې په باره کښې مشوره اوکړه هغوی ډیره په خوشحالی سره ماته د دې اجازه راکړه.

معلومه خبره ده چې حضرت الشیخ صاحب په دارالعلوم حقانیه کښې نه صرف شیخ الحدیث دے بلکه د تخصص فی الحدیث د متخصصین شعبه د دوئی دا شراف اونګرانی لاندې کارکوی ـ ددے نه علاوه د هغوی نورهم بې انتهادینی او علمی مشاغل او مصروفیات دی نو ما دا ترتیب اوټرلو چې پنځه پنځه صفحی مې برابرولی. او بیا به مې هغه د حضرت الشیخ مدظله له په خدمت کښې پیش کولی هغوی به تصحیح اوکړه او ضروری ترمیم یا اضافه یا کمی به ئی پکښې اوکړو بیا به ئی ما ته هغه صفحی اوسپارلی زما هم تعلیمی مصروفیات وو په دی بنا دومره وخت مې د دې تقریر ته ور کولو چې پنځه صفحی به برابر شوې. دغه شان دا سلسله روانه وه چې دبده مرغه دجولائی په لسمه نیټه په کال ۲۰۰۴ء کښې د وحشی ظالمانو امریکایانو په لاس د افغانستان دخوست په

ولایت کښې زه سره د خپل ورور مولوی محمد یعقوب نیازي اونیوئی شوم۔ په دې باعث بیا دا سلسله او دریده او منقطع شوه بیا وروستو د شپږو میاشتو نه زما ورور مولوی محمد یعقوب نیازي د الله په فضل دجیل نه خوشی کړی شو او آزاد شو هغه بیا دخپل تعلیم سره سره په باقي مانده شرح مذکوره طریقي سره کار شروع کړو بالآخر په کال ۲۰۰۶ء کښې دا شرحه پوره شوه او تکمیل ته اورسیده او اولنۍ ایډیشن ئې په منځ کال ۲۰۰۶ء کښې مارکیټ ته راغلو۔ ددې شرحې منظر عام ته راتلو سره الله جل شانه ورته دومره مقبولیت ورکړو چه هر کله زه په کال ۲۰۰۶ء داکتوبر په یوولسمه نیټه (۱۱۔ اکتوبر) زه د الله پاک په فضل سره د اوږدې زمانې د بند نه خلاص شوم نو په ډیر کم تعداد کښې یو څو نسخې باقي وې۔ دجیل او دبند نه د خلاصیدو نه پس ما بیا خپله تعلیمي سلسله جاري او ساتله۔ د الله په فضل سره ما په جیل کښې قرآن کریم هم حفظ کړی وو نو دکتابونو سره سره ما د قرآن کریم دور هم کولو بیا مې ددې شرحې لفظي تصحیح شروع کړه او حتی المقدور کوشش مې اوکړو چې په دې کښې څه غلطي پاتې نه شي او دا دے چه دویم ځل اشاعت ته مې تیاره کړه۔

دا به ډیره ناسپاسي وي چې زه اول دخپل والد ګرامي ذکر په دې موقع ونکړم کوم چې هغوی زه د علم دین د زدکړې د پاره وقف کړیم او همدا رنګه د بعضو ملګرو او ورونړو ذکر په دے موقع مناسب بولم چې کومو زما د تعلیم اوتربیت او همدارنګه د دې شرحې باره کښې په څه توګه معاونت کړې دے لکه زما مشر ورور حضرت مولانا ابو فرید عبدالرحیم صاحب کوم چې هغوی زما د تعلیم باره کښې پوره سرپرستي کړیده او زما کشر ورور مولوی محمد یعقوب نیازي حقاني چه هغوی زما د بند په ورځو کښې د باقي مانده شرحې تکمیل اوکړو همدارنګه زما مشر ورور حاجي محمد نعیم خان صاحب چې هغوی ماسره په دې کښې مالي مرسته اوکړه او زما نزدې ملګري مشفق استاذ مولانا نور الهادي ابراهیمي چې دوئی ماسره د چاپ کیدو مرحله کښې ډیره منډې تړې او هلې ځلې اوکړلې ۔ دالله جل شانه دې دوی ټولو ته اجر عظیم ورکړي آمین۔

زه په پای کښې ټولو لستونکو ته خواست کوم چې انسان ضعیف دی لکه د باري تعالی ارشاد دے "خلق الانسان ضعیفا" نو که پدې شرحه کښې څه غلطي وي۔ نو هغه به زما کمزوري وي او باید د هغې نسبت ماته اوشي نه چې استاذ محترم ته او بیا مادې په هغې غلطي باندې آګاه کړ۔ واجرکم علی الله.

مولانا عبدالرحمن حقاني نیازي

# پیش لفظ

استاذالعلماء شیخ الحدیث السید شیر علی شاه المدنی الأستاذ بدارالعلوم الحقانیة اکوړه ختك

بسم الله الرحمن الرحیم

**الحمد لله وکفی وسَلامٌ علی عباده الّذین اصطفی ،**

أما بعد، دَ نن نه څو کاله وړاندې په دارالعلوم حقانیة کښ دَ یو څو طالبانو په مسلسل اصرار او مطالباتو سره ما د اصول الشاشی تدریس شروع کړو ، طالبانو کښې بعضے کسان د کالج هم وو ، د هغوئ دا خوا هش وو چه کتاب په ډیر عام فهمه انداز کښ وویل شی تو څما پوره کوشش وو چه کتاب په ډیر اسانه طریقه طالبان زده کړی او د ډیر قِیل او قُلنا نه په کښ کار وانغستے شی ، څمونږ خوږ او قابل زوږ مولانا عبدالرحمن حقانی نیازی دا درس ریکارډ کولو او بیا ئي په ډیر محنت په کمپیوټر اولیکلو او ما ته ئي دَ نظر ثانی لپاره وړاندی کړو، ما پرِ نظر ثانی اوکړو ، اوس ئي دَ چاپ لپاره وړاندې کوی، إن شاءالله تعالی دَ اصول فقه دَ مبتدی طالبانو لپاره به یوه عِلمی تحفه وی، الله تعالی دِ محترم مولوی صاحب عبدالرحمن ته ددې علمی خدماتو صله په دارینو کښ نصیب کړی او دَ دین طالبانو ته ترِ د استفادې توفیق ورکړی ،

(این دعا از من و از جمله جهان آمین باد )

وَصلّی الله تعالٰی علی أشرف رُسله وخاتم أنبیائه وعلی آله وأصحابه أجمعین الطیبین الطاهرین، آمین ثم آمین .

شیر علی شاه الاستاذ بدارالعلوم حقانیة ( ٣ ذوالقعده ١٤٢٦ه)

شیر علی شاه
١٤٢٩/١١/٩

Maktaba Tul Ishaat.com

# تقـــريـــظ

## لفضيلة الشيخ حافظ محمد انوار الحق استاذ الحديث ونائب مهتمم دارالعلوم الحقانية

بسم الله الرحمن الرحيم

دینی علومُ کښی علم اصول فقه ته خصوصي او امتیازی رتبه حاصله ده ، ددې په ذریعې سره د قران او سنت نه د مسائلُ إستنباط او إستخراج ډیر په صحیحِ طریقه کیدئ شی ، الحمد لله ډیر اهم کتابو نه په دې فن کښی لیکل شویدی او د علوم دینیه عاشقان ترینه فیض حاصلوی خو دې فن کښی کتاب اصول الشاشی څومره جامع او مکمل دی دا ددې کتاب خپل خصوصیت دې، ددې جامعیت د وجی دا کتاب د اصول فقه نورو کتبُ د پاره د متن حیثیت لری، د اصول الشاشی په مختلفو لغاتُ کښی تراجم او شروح شویدی، دا موجوده ذخیره چه په نوم د"ماقال استاذی عی اصول الشاشی" د استاذ العلماء شیخ الحدیث حضرت مولانا سید شیر علی شاه صاحب د إفاداتُ مجموعه ده، د حضرت الشیخ د علمی کمالاتُ او فیوضاتُ باندی د علماء تول طبقې معترفه دی، د ترمذی او بخاری د تدریس سره سره ني یو کال جامعه حقانیه کښی په خپل زوق او شوق سره د اصول الشاشی طلباء ته ددې کتاب درس ورکولو، او محترم مولوی عبد الرحمن رحمانی او مولوی محمد یعقوب حقانی ډیر په عَرَق رِیزِی سره د حضرت الشیخ بیان شوي نکات او تشریحات جمع کولو نه وروستو د استاذ محترم خدمت کښی پیش که او د هغوی دَ نظر ثانی او د تصویب نه پس ني دا مجموعه کتابی شکل کښی مرتب کړه ، ددې کتاب د اهمیت اندازه د کوم شخصیت چه إفادات دی د هغه نه ظاهر کیږی خو ددې جمع کونکو ( مولوی عبد الرحمن او مولوی محمد یعقوب ) شاګردانو ستائش نه کول به ډیر زیاتئ وی څکه چه هغوی یو لویه زمانه ددې جمع کولو کښی ډیر کوششونه کړی دی، دا إفادات په پښتو ژبه کښی دی خو پښتو لغت باندِ مشتمله یوه لویه خطه به إنشاء الله ډیر په فایده منه طریقه ددې نه مستفید کیږی ، ربُّ العزت دِ دَ حضرت الشیخ فیوضات د مزیدُ برکاتُ نه ما لا مال کړی ، او د مولوی عبد الرحمن رحمانی او مولوی محمد یعقوب حقانی مساعی دِ الله په خپل دربار کښی قبول کړی ،

استاذ الحدیث مولانا محمد انوار الحق (۳ / ۱۲/۲۰۰۵ م)

# تقــــريـــــــــــظ

شیخ الحدیث والقران حضرت مولانا عید الحلیم الدیروی الاستاذ
بالجامعة الحقانية اکوره ختك
الحمد لأهله والصلوة على اهلها

أما بعد، کتاب ما " ماقال استاذی علی اصول الشاشی " د ښو مقاماتو نه ولیدلو ، الحمد لله ډیر مفید او د طالب علمانو لپاره ډیر اهم او ګټور مِ محسوس کړو ، اصول الشاشی د اصول فقه په کتابونو کښ ډیر اهم او ښکلے کتاب دے مبتدیانو ته په ډیر اسان طریقے سره لوستل پکار دے ، الحمد لِله حضرت الشیخ ډاکټر سید شیر علی شاه صاحب اسان لوستلو سره سره ئي ډیر عجائبات بیان کړی دِی او محترم رور مولانا عبد الرحمن صاحب بعینه د استاذ محترم په ژبه کښ محفوظ کړی دی او اوس ئي په حقے طریقے سره طالبانو ته وړاندے کوی ، الله تعالٰی دے جمع کونکے ته اجر ورکړے او د طالبانو لپاره دے د خیر ذریعه وګرځوے.

آمین

مولانا عبد الحلیم دیروی

الأستا ذبالجامعة الحقانیه اکوړه ختك (نو شهره)

Maktaba Tul Ishaat.com

## نقـوش ابتـداليه

بسم الله الرحمن الرحيم

ذ الله تعالى د پاره حمد او شکر او په شاه د مرسلانو لکهونه او کروړونه درود وسلام ، چه د محترمو کتونکو مخې ته دا ذ شيخ التفسير والحديث د علومو او فنونو ماهر استاذ د تقرير او تحرير شهسوار مولانا السيد شير علي شاه المدني حفظه الله تعالى علمي او درسي افادات دي ، دا ذ کلونو کلدسته نايابه تحفه اصولي نسخه د بيان محتاجه نه ده دا ځکه چه دا د شيخ صاحب د علم او تحقيق نچوړ دے چه د هغي په پاك افغان و هند کښې يواځې نه بلکه په اسلامي او عالمي دنيا کښې چرچه ده او جامعه حقانيه په روښانه او شادابه ده ، د هر انسان ذوق او مزاج جدا جدا دي په زرګونو طلباء کرامو کښې بعض طلباء د خپلو استاذانو هر لفظ او اداء هره نکته ، لطيفه ، خان سره محفوظه ساتي چه داد ذهين فطين محنتي شاګرد د علمي قابليت او قدر شناسي علامه او خوش قسمتي ده، په دغه طلباء کرامو کښې سر فهرست طالب العلم مولانا عبدالرحمن حقاني نيازي هم دے ، چه د خپل استاذ نه ني د علم اصول الفقه مشهور کتاب اصول الشاشي چه په دغه فن کښې د فتاوی حيثيت لری ضبط او محفوظ کړو ، دا کتاب د استاذ محترم زير تدريس نه ؤو ليکن د کال ۲۰۰۳ د درجه ثالثه بی انتهاء خوش قسمته طلباءُ ته راوبښ شو چه د سند حديث جلوه افروز استاذ ورته د اصول الشاشي درس ورکولو اوعلمي عجائب ، غرائب ، لطائف، اونوادرات به ني ورته بيانول، په خپلو سترګو مِ د شائقينو د درس هجوم ليدلے ؤو چه په درسګاه کښې د خاے د نشتوالي په وجه باهر د درسګاه په دروازه کښې ناست او کړکو ته ولاړ ؤو ، ددوره حديث د طلباء کرامو نه علاوه به د جامعه بعض اساتذه چه ذ ورو درجو مدرسين ؤو د استفادے د پاره په درس کښې شريکيدل چه خپله علمي تنده ماته کړی ، د استاذ محترم ددرس انداز صرف هغه کس کولی شي چه د هغوی مبارك درس ني بذات خود اوريدلی وی او يا ني دهغوی تحريری او علمي افادات مطالعه کړی وی ، دا شرحه چه په علم اصول فقه کښې يو عظيم الشانه اضافه وه د محترم مرتب سره محفوظه وه د ملګرو او استاذانو په بار بار اصرار باندے منظر عام ته د راوتلو کوشش وکړی شو چه استاد او طالب د اصولو نه فايده واخلی ،

په دی کتاب کښې د ځان نه اضافات د نورو شرحو نه حاشئے رد و بدل ندی شوی بلکه کوم اثر ناك طرز خالسته انداز او عام فهم اوفصیحه پښتو ژبه چه استاذ محترم اختیار کړیده هم هغه لقل کړئ شویده ، او د زیری خبر دا هم دے چه هغوی مبارك په نظر ثانی کړیده او منظر عام ته په راوتلو ئې د خوشحالے اظهار یواځې هغوی نه بلکه د جامعه حقانیه ټولو شیوخو کړیدی چه تاسو ته به دهغوی دتقریظاتو نه معلوم شی ، پدی شرحه کښې د معاون په حیثیت سره فاضل حقانیه مولانا محمد یعقوب نیازی(چه دمرتب برادر محترم دے) ډیر محنت او کوشش کړیدی ، الله تعالٰی دِه دا شرحه په خپله بارګاه کښې قبوله او منظوره کړی او د مرتبینو لپاره دِه د نجات ذریعه وګرځوی .

آمین ثم آمین

محرر. حافظ محمد رضا حقانی المتخصص فی الفقه والإفتاء بالجامعة الحقانیة

Maktaba Tul Ishaat.com

بسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ

## د اصول فقه تعريف

اصول مضاف دی الفقه ته او دا مرکب اضافي دی، په مرکب اضافي کښې ضروري وي چه دمضاف جدا تعريف اوشي اود مضاف اليه جدا تعريف اوشي، اصول جمع داصل ده او اصل په لغت کښې ما يُبتنی عليه الشئ ته وائی معنی داچه په هغه باندی د يوبل شي بناء شوی وي لکه جرړی چه په هغوئ باندی د ونی بناء شوی وي يا لکه اصل العمارة په معنی د بنياد څکه په هغه باندی ديوالونه ولاړ وي، لکه ځرنګه چه الله تعالی دکلمی طيبی مثال بيانوي ﴿ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ ﴾ (ابراهيم/ الاية: ٢٤ ) يعنی لکه ځرنګه چه دونی هغه جرړی لاندی زمکه کښې مظبوطی اوکلکی خخی وي او خرانګی ئی بره اوچتی وي نو د کلمی طيبی هغه جرړی هم دمؤمن په زړه کښې خخی وي او د هغی خرانګی چه اعمال دي لکه لمونځ روژه وغيره هغه بره خيږي۰او اصل په عرف دعلماء کښې په معنی د راجح، قانون او دليل سره راځی، مثال د قانون لکه کل فاعل مرفوعٌ . او علماء وائی والاصل فيه يعنی الراجح فيه . نو د اصول الفقه معنی دی دلائل الفقه۰ فقه په لغت کښې فهم ته وائی، او په اصطلاح کښې ( العلم بالأحکام الشرعية العملية الثابتة بالادلة التفصلية )بعضی علماء وائی چه فقه (معرفة النفس مالها وما عليها عملاً ) ته وائی، او دا تعريف صاحب د توضيح تلويح هم کړئ دی لکن عام علماء هغه اول تعريف کوي۰احکام په دوه قسمه دي اول . احکام عملي لکه لمونځ روژه حج وغيره۰ دوېم . احکام اعتقادي چه د هغه نه بحث په فقه اکبر، شرح عقيدة الطحاوية او شرح العقائد النسفی او خيالي کښې کيږي۰او چه کله اصول الفقه مونږ د يو علم لپاره نوم کيښوده نو دا علم دی ( بالادلة الشرعية المثبتة للاحکام الشرعية )۰اوبل تعريف د اصول فقه دی په داسی شان سره چه داصول او د فقه تعريف په يو ځائ وشي ( اصول الفقه علم بالقواعد يا علم بالاصول التی يتوسل بها إلی استنباط المسائل الفقهية من ادلتها التفصلية ) موضوع داصول فقه ادلة اربعة دی يا ادلة شرعية دی( الکتاب والسنة والاجماع والقياس من حيث کيف استنبط منها الاحکام )يعنی اصول فقه کښېددی څلورو نه بحث کيږی او دا دقرآن نه ثابت دی لکه الله تعالی

فرمائی﴿ يَاأَيُّهَاالَّذِيْنَ آمَنُوا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الاَمْرِ مِنْكُمْ ﴾ (النساء/ الآية ٥٩) د أُولي الأمر نه مراد علماء مجتهدين فقهاء او اصولين دي يا د اولي الأمر نه مراد ( من له ولاية شرعية ) او مختاره قول دعلماؤ دا دئ چه موضوع د اصول فقه ادلة او احكام دواړه دي ادلة من حيث انها مثبتات (بالكسر) اواحكام من حيث انها مثبتات (بالفتح)۰ د اصول فقه زده کول په علماؤ واجب او فرض دي ځکه چه ددی په وجه په يو عالم کښی د استنباط ماده پيداشي هغه بيا ډيری مسئلی دخپل اجتهادي قوت په بناء باندی مستنبط کوي ځکه چه مسائل خو لا تُعد او لا تحصی دي په هر دور او وخت کښی چه نوی مسئلی پيداشي او بيا علماء هغه مسئلی چه د هغوئ حکم ظاهر نوي لکن د اشتراك علت له وجی نه دا قياس کړي په هغه مسائلو باندی چه هغه په قرآن او حديث کښی ذکر وي ديته قياس وائی۰ لکه الله تعالی فرمائی ﴿ فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِيْ شَيْئٍ فَرُدُّوهُ اِلَى اللّٰهِ وَالرَّسُوْلِ ﴾ ( النساء، ٥٩) که ستاسو په يو شي کښی تنازع راغله نو الله پاك ته ئی مخامخ کړئ يعنی په قرآن کښی ئی معلوم کړئ او که پيغمبر ﷺ موجود وي د هغه نه تپوس وکړئ اوکه هغه نوي نو د هغه په احاديثو کښی ئی معلوم کړئ۰ لکه چه پيغمبرﷺ حضرت معاذ بن جبل رضی‌الله عنه يمن ته ليږلو او رسول الله ﷺ ورته اوويل زه تا داسی يو قوم ته ليږم چه په هغوئ کښی اهل کتاب هم موجود دي نو ته به فيصلی په څه کوی ؟ حضرت معاذ ورته اوويل زه به په قرآن مجيد باندی فيصلی کوم۰ پيغمبر ﷺ ورته وويل که يوه خبره دی په قرآن کښی پيدا نکړه نو بيا به په څه فيصله کوی ؟حضرت معاذ(رض) جواب ورکړو ستا په احاديثو به فيصله کوم نو بيا پيغمبرﷺ ورته وويل که زما په احاديثو کښی پيدا نشوه ؟حضرت معاذبن جبل ورته اوويل ( اجتهد بالرای ) نوپيغمبر ﷺ ډير خوشحاله شو او دحضرت معاذ په سينه ئی لاس کينبود او شکريه ئی ادا کړه چه ( الحمدلله الذی وفق رسول رسول الله ) شکر دی چه الله تعالی زما دی قاصد ته دښو جوابونو الهام وکړو، اولني رسول نه مراد حضرت معاذ دی اودويم رسول نه رسول الله ﷺ مراد دی ۰ قاصد باندی هم د رسول اطلاق کيږي نو ددی څخه اجتهاد معلوم شو۰ نو که ديو تن خبره وي قياس ، او که زيات کسان په يوه خبره جمع شوي وي نو هغی ته اجماع ويل کيږی ، او اجماع هم په قرآن ثابته ده لکه

Maktaba Tul Ishaat.com

الله پاك فرمائي ﴿ يَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّىٰ وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيرًا ﴾ (النساء، ۱۱۵)ددى نه اجماع ثابتيږي شبير احمد عثماني رحمه الله تعالى داصول الشاشي په حاشية كښي فرمائي چه داجماع منكر كافر دئ ځكه چه دمسلمانانو داجماع نه كه يوسړئ انكار كوي نو الله تعالى دهغه په حق كښي فرمائي ( نوله ماتولى ) يعني وابه ئي ړوه كوم طرف ته ني چه خوخه وي يعني كافر به ني مر كړو ( ونصله جهنم ) نو اجماع او قياس دواړه من حجج الشرعة دي.

**غرض داصول فقه** تحصيل ملكة الاستنباط للاحكام الشرعية عن ادلتها الاربعة۰ يعني چه په يو انسان كښي ملكه داستنباط پيداشي اوپه هغې سره بيا دقرآن اوحديث نه استنباط كولى شي **دعلم اصول فقه اهميت اوكتابونه** دا علم من اهم العلوم نه دئ په دى علم كښي اول كتاب امام محمد او امام ابو يوسف ليكلئ دئ لكن دهغوئ كتابونه هغه وخت كښي ضائع شو اومنقول شوي ندي ۰د امام محمد او امام ابو يوسف له كتابونو نه معلوميږي چه هغوئ پدى فن كښي زيات كتابونه ليكلي وه ۰وروسي دامام الشافعي صاحب كتاب دى (الرسالة) كوم چه په قوانينو داصول فقه باندى مشتمل دئ ، اوبل دامام شافعي صاحب كتاب الام طبعه شوى دى اوموجود دئ۰ وروسي په اصول فقه كښي عيسى بن ابان كتاب ليكلى دى كوم چه په كال ۲۲۰ هجري كښي وفات دى بيا وروسي دعلي بن موسى القمى كتاب دى داپه ۳۰۵ هجري كښي وفات دى بياوروسي داصول الشاشي ملا كتاب دى (اصول الشاشي) اصول الشاشي داصول فقه اولنى كتاب دى لكن داصول الشاشي دملا په باره كښي دعلماء اختلاف دى۰المكتبة الاظهرية يوكتاب دى او په هغه كښي دمكتبة اظهرية دمشق دتمامو كتابونو نومونه دي نومكتبة اظهرية په دوهم جلد پينځمه صفحه كښي ليكى چه داصول الشاشي مصنف اسحاق بن ابراهيم الخراساني الشاشي دى او كنيت ئي ابويعقوب دئ۰ شاش دسيحون ددرياب په غاړه يوكلي دى اودى دهغه ځائ اوسيدونكى دى اوبيا وروسته دهغه ځائ نه مصر ته لاړو اوپه مصر كښي ديو كلي قاضي شو او دا كتاب (اصول الشاشي) ني په دى كلي كښي ليكلى دى او په كال ۳۲۵ هجري كښي وفات شو اود مكتبة اظهرية ددى قول تائيد الاعلام لخيرالدين زيركلي او الجواهرالمضيئه كوم چه داحنافو لوى علماء

شماري په دی کتاب کښی هغه هم په دوهم جلد ۱۳٦ صفحه کښی بیانوي چه داصول الشاشی مصنف ابویعقوب اسحاق بن ابراهیم الخراساني الشاشی دی اودا خبره معجم المؤلفین چه درضا کحاله کتاب دی هغه هم په دوهم جلد ۲۲٦ صفحه کښي بیانوي ۰ اوبعضی علماء وائی چه داصول الشاشی مصنف احمد بن محمد بن اسحاق ابوعلی الشاشي وه اونظام الدین دهغه لقب وه او ډیرو علماؤ ددی خبری تائید هم کړیدی لکه بعضی علماء په کشف الظنون باندی حواله ورکوي اوبعضی علماء وائی چه داصول الشاشی مصنف بدرالدین الشاشی الشیروانی دی او وائی چه پیدائش ئی په کال ۷٥٤ هجري کښی شوی اوپه ۸٥٤ هجري کښی وفات دی خو دحضرت شیخ صاحب(المدنی) په نظرمعتبر قول دمعجم المؤلفین اود الاعلام لخیرالدین زیرکلی معلومیږی ځکه هغوی ډیر محقیقن او روستنی علماء وه او هغوی به دیوب خبری پوره جرړی معلومولی۰ او بیا داصول الشاشی دمصنف دکتاب نه وروسته په اصول فقه کښی ابو منصور ماتریدی کتاب لیکلی دی او هغه په کال ۳۳۳هجري کښی وفات دی بیا وریسی دعلامه کرخي کتاب دی اصول کرخي ورته وائی اودا چاپ شوي هم دي دی په کال۳٤۰هجري کښی وفات دی بیا وریسی دابوبکر جصاص اصول دي هغه په کال۳۷۰هجري کښی وفات شوئ دی ډیر لوی عالم اوکلك حنفی وه دده تفسیر صرف دقرآن کریم داحکامو باره کښی دی احکام القرآن ورته وائی دا د احنافو په تفاسیرو کښی کلك او عمده تفسیر دی۰ بیا وریسی د ابو زید دبوسی کتاب دی دی په سن ٤۳۰هجري کښی وفات دی۰ بیاوریسی دبزدوي کتاب دی هغه ته اصول بزدوي وائی هغه په سن ٤۸۲هجري کښی وفات دی۰ او بیا وریسی دسرخسي کتاب دی اصول سرخسی ورته وائی سرخسی په ٤۹۰هجري کښی وفات دی ، اوبیا وریسی دسمرقندی کتاب دی هغه ته اصول سمرقندی وائیسمرقندی په کال٥٤۰ هجري کښی وفات دی ۰بیا د هغه نه وروسته دتوضیح ملا صدر الشریعة دی هغه کتاب لیکلی دی۰بیاوریسی ابن همام کوم چه د فتح القدیر مصنف اود هدایه شارح دی هغه په اصول فقه کښی التحریر په نوم باندی کتاب ولیکه او د هغه نه وروسته علامه النسفی منار ولیکه کوم چه د نورالانوار متن دی۰ بیا د حسامي ملا کتاب ولیکه المنتخب للحسامي

Maktaba Tul Ishaat.com

نومیري. بیاورپسیدهندوستان برجسته عالم محب الله بهاری مسلم الثبوت ولیکه چا چه سلم العلوم لیکلئ دی او داسی نور زیات کتابونه په فن داصول فقه کښی شته، دا مذکوره کتابونه خو صرف داحنافو دي همدارنګه شوافعو حنابلو او موالکو هم زیات کتابونه لیکلی دی او شته دي نو ددی وجهی نه اصول الفقه من اهم العلوم دی.

## بسم الله الرحمن الرحیم

په بسم الله کښی ډیر تفصیلات په نورو کتابونو کښی شته، دلته دومره یاد لرل پکار دی چه با جار او اسم مجرور دی او هر جار مجرور ته په اصطلاح د نحاتو کښی ظرف وائی او ظرف په دوه قسمه دی ۱. ظرف لغوه ۲. ظرف مستقر. ظرف مستقر دیته وائی چه متعلق ئی مقدروي ،او ظرف لغوه دیته وائی چه متعلق ئې په کلام کښی مذکور وي. لکه مررت بزید با جار زید مجرور جارسره دمجرور متعلق دی په مررت پوری ، نو دلته په بسم الله کښی ظرف مستقر دی اومتعلق ورته مقدر را اوباسو (أبتدء) یا (ابتداي) نو داسی به شي أبتدء بسم الله الرخمن الرحیم یعنی شروع کوم په نامه دالله چه رحیم او رحمن دی. او دا هم واضحه ده چه اسم دسمو نه دی که دوسم نه دی. او الله ( علم لواجب الوجود المستجمع لجمیع الصفات الکمالیة المنزه عن الزوال والنقصان ). او الرحمن الرحیم دواړه دمبالغی صیغی دي او باب ئی رَحِمَ یَرْحَمُ سَمِعَ یَسْمَعُ دی. **الحمدلله** تمام تعریفونه ثابت دي الله تعالی لره په الحمد کښی الف لام استغراقی دی په الف لام استغراقی کښی اشاره کیږی افرادو ته او الف لام جنسي کښی اشاره کیږی ماهیت ته دلته هر فرد دافرادو دحمد ثابت دی الله تعالی لره برابره خبره ده چه دا ثبوت دحمد الله تعالی ته بالذات وي اوکه بالواسطه وي،دبالذات ثبوت مثال لکه الحمدلله دلته کښی حمد الله تعالی ته بالذات ثابت دی او دثبوت بالواسطه مثال لکه یوسړئ ووائی چه زید ډیر ښائسته دی په ظاهره د زید تعریف اوشو لکن حقیقت کښی دالله تعالی تعریف دی له دی وجهی نه چه د زید خالق الله تعالی دی او الله تعالی ښائسته دی ځکه چه دمصنوع تعریف په حقیقت کښی دصانع تعریف وي یالکه یوسړی دګل او دبلبل تعریف کوي دا هم په اصل کښی دالله تعالی تعریف دی

ددی وجې نه دشیخ الهند په ترجمه کښې دا اشعار ذکر شویدي . شعر .

حمدرا باتو نسبتی‌است درست : بر درِهر که رفت بردرِ تست

مطلب داچه خدایه دحمد نسبت تاته مناسب دی یعني یو سړی که دهر چا در ته ولاړوي خدایه په حقیقت کښې ستا در ته ولاړ دئ که یو سړی چاته څه ورکړي دا په حقیقت کښې الله پاك ورکړیدي ځکه که الله تعالی هغه ورکونکي ته څه نوائ ورکړي نوده به بل چاته څه ورکړي وه. او یا به په الحمد کښې الف لام جنسی شي نو معنی به داشي چې جنس حمد دجنس حامد نه په جنس زمان اومکان کښې ثابت دي الله تعالیٰ لره. او یا به الف لام په الحمد کښې عهد خارجي شي الف لام عهد خارجي دیته وائی چه هغه سره اشاره شوی وي یو معهود ته چه هغه متکلم او مخاطب ته معلوم وي نو بناء په الف لام عهد خارجي به معنی دا شئ چه فرد کامل دحمد ثابت دی‌الله تعالی لره چه هغه فردکامل حمددباري تعالی په خپل ځان باندی کما اشیرالیه فی قوله علیه السلام ( لا أحصی ثناء علیك انت کما اثنیت علی نفسكَ ) او الف لام عهد ذهنی نه صحیح کیږی ځکه عهد ذهني په قوت دنکرې کښې وي او الحمد مبتدا واقعه شویده او اصل په مبتدا کښې تعریف دی . حمد په لغت کښې ستودن ته وائی په معنی د ستاینی او په اصطلاح کښې ( هو الثناء باللسان علی الجمیل الاختیاري ) یعنی دچا ثناء ویل دهغه کار دوجې نه کوم چه دانسان په اختیارکښې وي لکه حمدت زیداً بانه عالم نو علم په اختیار دزید کښې دی او ثناء کول دچا په داسې صفت سره چه هغه د چا په اختیار کښې نوي نو هغې ته مدحه وائی ، مثال لکه مدحت زیداً بانه جمیل الوجه ،جمال یعنی ښائست دانسان په قدرت کښې ندی ځکه چه خلقیت دانسان په اختیارکښې ندی که خلقیت دانسان په قدرت اواختیارکښې وائ نو بیاخو به یو انسان هم قبیح الوجه نه وائی. او دمدحی په باره کښې عرب وائ . مدحت اللؤلؤ علی صفانها. ما دملغلری مدحه وکړه ځکه هغه ډیره صفا او ستره ده صفاوالئ اوستره والئ دملغلرې په اختیار کښې ندی ځکه ئی ورته مدحه وویل ، اوبل داچه دحمد په مقابل کښې ذم راځي او دمدحه په مقابل کښې هجوه راځي لکه مونږ وایو پلانی دپلانی‌بادشاد هجوه وکړه او یا لکه محمد معنی داچه حمد کړی شوئ مذمم معنی دا چه مذمت کړ

Maktaba Tul Ishaat.com

شوئ نو دمحمد په مقابل کښی مذمم راځي او د ممدوح په مقابل کښیٔ مهجوء راځی دحمدداصطلاحی تعریف نه موږ ته معلومه شوه چی حمد د هغه چا کیږي چه هغه سره د هغه شي اختیار وي په کوم شي کښی چه موږ د هغه حمد بیانوه٠ نو الله تعالی مختارکل دی څکه الله تعالی په قرآن کښی فرمائی ﴿ وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَايَشَآءُ وَيَخْتَارُ ﴾ (القصص/ ٦٨ ) پدی تمامو کائناتو کښی چه الله پاك څومره تصرفات کوي دا دالله تعالی په اختیار کښی دي٠ حمد په اعتبار دمورد سره خاص دی چه هغه ژبه ده یعنی‌خاص په ژبی سره حمدویل کیږي اوپه اعتباردمتعلق سره عام دی چه په مقابله دنعمت کښی وي اوکه په مقابله دنعمت کښی نوي اوشکر دحمد مقابل دی څکه شکر وائی ( تعظیم المنعم لکونه منعماً سواء کان باللسان او بالجنان او باالارکان ) یعنی دشکر مورد عام دی که په ژبه سره وي اوکه په زړه سره وي او که په ارکانو سره وي اومتعلق ئی خاص دی یعنی شکر به په مقابله دنعمت او احسان کښی وي او شکر دمنعم په دی مذکوره دری واړو سره صحیح دی لکه شاعر وائی .

أفادتکم النعماء منی ثلاثة . یدی ولسانی والضمیرالمحجبا ٠

لکه یو سړی خپل منعم یا محسن ته وائی چه په احساناتو یا په نعمتونو دی رانه دری شیان واخشته مطلب داچه په ژبه ستاشکر ادا کوم لاسونه می هم درته په تندي اینبی او زړه می هم ستاعظمت کوي او دشکر په مقابله کښی کفران راځي لکه امام بخاری باب لګولئ دی په بخاری کښی ( باب کفردون کفر ) اودکفر لپاره خپل مراتب دي ، یو خو هغه اصطلاحی کافر دی لکه څوك چه الله اود هغه رسولﷺ اودالله کتاب (قرآن) نه منی٠ اوبل کفران په معنی د ناشکري سره راځی لکه کفران العشیر، رسول اللهﷺ یو ځل داختر په ورځ سړیو صحابه کرامو ته تقریر وکړو اوبیا ئی ښځو ته تقریر وکړو او ورته وي فرمائل(یامعشرالنساء تصدقّنَ واکثِرْنَ الاستغفار فانی رایتکن اکثرا هل النار فقالت إمراة منهن جزلة ومالنا یارسول الله اکثراهل النار قال تکثرن اللعن وتکفرن العشیر) (رواه مسلم جلد اول صفحه ٦٠ باب بیان نقصان الایمان بنقص الطاعات) ای بیبیانو ډیرخیراتونه اوډیر استغفارکوئ څکه زه اکثره ښځی په جهنم کښی ګورم نو یوي ښځی تپوس وکړو چه یا رسول الله څه وجه ده چه موږ

اکثره داهل النار ښځه یو؟ رسول الله ﷺ ورته په جواب کښې وفرمائل ښځه تاسو ډیر لعنت وایئ اوخپلو خاوندانو ناشکري کوئ. الذی هنه الله لره اعلی منزلة المؤمنین چه هغه پورته کړیده درجه اومنزلة دمؤمنانو بکریم خطابه په خپل مبارك خطاب سره، دلته کښې نی عام حمد پرینبود لکه الحمد لله رب العلمین کوم چه په سوره فاتحه کښې راغلی دی او یا داچه دنوروسلفو غوندی نی ونه ویل او خانته نی نوی طریقه غوره کړه دیکښې اشاره ده دی خبری ته چه لکه څرنگه الله تعالی په خپلو بندگانو باندی خپل نعمتونه متجدد نازلوي نود الله تعالی حمد هم جدید اونوی پکار دی. دکریم خطاب نه مراد دالله تعالی خپل مبارك خطاب دی لکه څرنگه چه الله تعالی په قرآن مجید کښې مؤمنانو سره خطاب کوي﴿ یَاأَیُّهَاالَّذِیْنَ اٰمَنُوا﴾ دلته کښې الله تعالی خپلو بندگانو ته ندا کوي اوندا دیته وائی چه منادی خپل منادیٰ خان ته متوجه کړي ښکه خوبه ابن مسعود اوحسن بصری ویل چه دیاایها الذین امنوا خطاب نه وروسته مؤمن ته پکار دي چه دزړه غوږونه دالله حکم ته متوجه کړي ښکه الله (ج) ورسره خطاب کوي. اویا دالله تعالی بل خطاب له مؤمنانو سره ﴿ وَاللّٰهُ مَعَکُمْ ﴾ یا ﴿ وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ اِنْ کُنْتُمْ مُؤْمِنِیْنَ ﴾ دیته کریم خطاب وائی . اصل کښې بخطابه الکریم دی ، خطاب موصوف او کریم نی صفت دی او دیته اضافة الصفة الی الموصوف وائی اوداسی نی ونه ویل ښکه چه دلته کښې کریم مهتم بالشان دی او کریم والی اهمیت لري کریم په ترکیب کښې صفت دی نو دائی مقدم کړو قصدا ښکه چه مهتم بالشان دی او نفس خطاب دمؤمنانو دمرتبې داوچتولو سبب نه دی له دی وجې نه چه نفس خطاب خو الله تعالی دکافرانو سره هم کړیدی لکه ﴿ یَااَهْلَ الْکِتَاب ﴾ یا ﴿ قُلْ یَااَیُّهَاالْکَافِرُوْنَ ..الآیة﴾ نو معلومه شوه چه نفس خطاب دلیل د شرف نه دی بلکه کریم خطاب په شرف دلالت کوي نو ددی وجې نه نی تعریف توصیفی بدل کړو او دهغه نه ئی مضاف اومضاف الیه (ترکیب اضافی ) جوړ کړو او مقصود په کلام کښې مضاف وي او دلته کښې مضاف کریم دی نو کریم مقصود دی په خطاب کښې ، او بل داچه قصدا نی بکریم خطابه ښکه وویل چه سجع نه برابریده او وریسی عبارت دی ورفع درجة العلمین بمعانی کتابه نودسجعې دبرابریدو لپاره نی کریم مقدم کړو او دخطابه سره کتابه برابریدو نو دیته وائی رعایة السجع لکه په قرآن

Maktaba Tul Ishaat.com

كښې راځي. ﴿ طه * مَآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْآنَ لِتَشْقَىٰ * إِلَّا تَذْكِرَةً لِّمَن يَخْشَىٰ * تَنزِيلًا مِّمَّنْ خَلَقَ الْأَرْضَ وَالسَّمَاوَاتِ الْعُلَى * الرَّحْمَٰنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوَىٰ *﴾ پکارخو داوه چه داسې نې ويلي واى چه استوى الرحمن على العرش ځکه چه استوى فعل دی اوفعل مقدم وي ، ليکن سره ددی خبرى چې فعل مقدم وي مقدم نې نکړو رعايتا لسجع ددی لپاره چه نورو اياتونو سره نې سجع برابره شي، همدارنګه په حديث شريف کښې هم راځی لکه رسول الله ﷺ فرمائي ( اعطيت جوامع الکلم ) يعنی رسول الله ﷺ فرمائي چه ماته جوامع الکلام راکړئ شوئ مرادترينه هغه حديث دی چه الفاظ نې لګ اومعنی نې زياته وي مثال لکه ( البينة على المدعي واليمين على من انکر ) ځومره لوئ او جوامع الکلام قانون دی. اصل کښې داسې وه ( اعطيت بکلم الجوامع ) الکلم موصوف دی او جوامع صفت دی اوصفت بدل شو ددی لپاره چې اصل اومقصود په کلام کښې هغه جامعيت دی نه نفس کلام ځکه نفس کلام خوهرڅوك کوي. ورفع درجة العلمين بمعانی کتابه او الله پاك دعلماء درجه په سبب دمعانيو دکتاب بلنده او اوچته کړه چه دوی دقرآن په معنی باندی پوهيږي اودلته کښې تخصيص بعد التعميم دی اهتماماً لشان العلماء ځکه چه الله پاك دعلماء درجه په عامو مؤمنانو باندی اوچته کړه نو ځکه نی تخصيص بعد تعميم وکړو لکه الله پاك فرمائي ﴿ يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ ﴾ الآية١١ ،المجادلة) اوبالکه بل ايت کښې الله تعالى فرمائي ﴿ إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ ﴾ الآية٢٨ السورة فاطر.اوبالکه الله تعالى بل ځائ کښې فرمائي ﴿ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴾ (١٧٩ /البقرة) علماؤ ته الله پاك خاص خطاب کوي. لکه څرنګه چه پدی ايت مبارکه کښې له وجی د اهتمام نه تخصيص بعد تعميم شوی دی ﴿ مَن كَانَ عَدُوًّا لِّلَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَرُسُلِهِ وَجِبْرِيلَ وَمِيكَالَ فَإِنَّ اللَّهَ عَدُوٌّ لِّلْكَافِرِينَ *﴾ (الآية ٩٨/ البقرة) دلته کښې جبرائل او ميکئل دواړه په ملايکه لفظ کښې شامل او داخل دي ، ليکن له وجی دی اهتمام د شان د جبرائل او مکائل ني دوباره مکرر ذکر کړل ، وخص المستنبطين او الله خاص وګرځول مجتهدين منهم ددیعلماء نه بمزيدالاصابة وثوابه په هغه ډيرحق رسيدو سره او په ثواب سره ، دلته کښې هم تخصيص بعد التعميم دی ځکه المستنبطين په هغه علماء کښې شريك دي ليکن الله تعالى دوئ

که مستنبط چیرته صواب او حق ته ورسیږی نو بیا ورته یوځل بیا مکرر کړل ،دا وجه دی که مستنبط چیرته صواب او حق ته وله رسیږی بیا ورته صِرف داجتهاد هغه یو دوه اجره دي اوکه صحیح صواب او حق ته وله رسیږی بیا ورته صِرف داجتهاد هغه یو اجردی. مستنبطین د مستنبط جمع ده او مستنبط مجتهد ته وائی د استنبط معنی دی(طلب نبط) معنی داچه اوبه نی طلب کړی یعنی د خمکی نه نی او به راوویستی. استنباط دیرسخت کاردی خکه الله ج دمستنبطینو تعریف کوي (وَلَوْ رَدُّوْهُ اِلَی الرَّسُوْلِ وَاِلٰی اُولِی الْاَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِیْنَ یَسْتَنْبِطُوْنَهٗ مِنْهُمْ ...الآیة﴾(النساء/٨٣.) که چیرته دوی دا خبره رسول الله ته ویلی وانی او یا نی اولی الامر ته ویلي وانی هغه اولی الامرچه هغوی استنباط کولئ شي داولی الامر نه مراد(من له ولایة شرعیة )دی، ددی ایات شانِ نزول دادی چه رسول الله ﷺ یو عامِل ولیږلو چه د پلانکئ قبیلی نه زکات راټول کړه هر کله چه هغه ورغلو نو دهغه کلی نه خلك راوتلي وه توری ورسره وی او پرقیدلی نو عامل فکر وکړو چه گنی دوی ما وژنی نو واپس رسول الله ﷺ ته راغلو او ورته نی وویل چه هغوئ مرتد شوي دي رسول الله ﷺ حضرت خالد بن ولید ته وویل چه ته ورشه خو انتظار وکړه چه اذان راخی او کنه هر کله چه هغوی نژدی کلی ته ورغلل نو د هغی قبیلی نه د اذان اواز راغلو خه لږ وخت پس د بل اذان اواز راغلو نو هغه نه پس خالد بن ولیدرضی الله عنه ورغلو او ورته نی‌وویل چه ستاسو خو د مرتد کیدو خبر راغلی هغوی ورته وویل چه مونږ خو هغه صحابي ته داستقبالیه لپاره ورغلي وه چه درسول ﷺ قاصددی نه دجنگ لپاره نو الله پاك مذکوره ایات نازل کړو مطلب دادی چه الله پاك فرمائی‌که چیرته دوئ داخبره رسول الله ﷺ ته رسولی وانی او.یانی هغو کسانو ته رسولی وانی چه هغوئ استنباط کولئ شي نو هغوئ به ورته خامخا ویلی وائ چه هغوی مرتد شوي ندي هغوئ ستاسو استقبالی ته راغلي وه نوخکه دمستنبطینو تعریف الله پاك کوي او مستنبطین دمجتهدینو تعریف دی لکه ائمة اربعة مجتهدین دي **والصلوة علی النبی واصحابه** او افاضه دخیرکثیر دی وي په نبی کریم عظیم باندی اودهغه په ملگرو باندی ۰ نبی نه مراد رسول الله ﷺ دی دنبی اودرسول په منځ کښی نسبت دعموم خصوص مطلق دی هر رسول نبي وي اوهر نبي رسول نه وي نبی هغه ته وانی چه دهغه سره دالله پاك لخوا نوئ کتاب یا نوی صحیفی اویا

نوئ شريعت وي يا نه وي· رسول هغه ته وائي چه هغه سره نوئ كتاب اونوئ شريعت وي·
پيغمبران ٣١٣ دي اوانبياء يولك خليرشت زره ( ١٢٤٠٠٠) دي· اصحابه نه مراد درسول
اللهﷺ ملگري دي او اصحاب جمع دصحابي دى اوبعضي والي چي اصحاب جمع
دصاحب دى دصاحب نه مراد دلته كښي (من صحب النبي عليه السلام ) او اصحابي دىته
وائي چه ( من رأى النبي عليه السلام ومات على ايمانه ) خو دلته كښي رؤيت عام دى چه
بصري وي اوكه قلبي وي لكه عبدالله بن مكتوم او همدارنگه نورصحابه چه هغوى ړانده
وه اگر چه دهغوئ رؤيت بصري نه وه لكن رؤيت قلبي پكښي وه· اودصحابي تعريف سره
چه مات على ايمانه دى هغه كسان خارج شول كوم چه ايمان ئیراوړى وه او بيامرتد شو
لكه طعمه بن ابيرق هغه صحابي وه اوغلا ئي وكړه نو رسول اللهﷺ امر وكړو چه لاس ئي
قطع شي نو هغه دشپې او تښتيدو او مرتد شو نو دا صحابي ندى ځكه چه اخره خاتمه ئي
په كفر شوه· والسلام على أبى حنيفة واحبابه سلام دى وي په امام ابو حنيفة صاحب او
دهغه په ملگرو· دلته كښي اعتراض دى چه پيغمبر نه بغير بل چا باندى سلام جائز دى
اوكنه ؟ نو علماء ورته جواب كوي چي سلام او درود دواړه تبعاً جائز دي بغير دپيغمبر نه په
بل چا اصالتاً ناجائز دى ، دبالتبع مثال لكه صلى الله عليه وعلى اله واصحابه وذريته
وازواجه او داجائز دى نو دلته په خطبه كښي تبعاً سلام راغلى دى اوبل داچه دلته په حمد
كښي ئي امام ابو حنيفه صاحب قصداً ذكر كړو ځكه مصنف دلته كښي ثابتوي چه زه حنفي
مسلك يم· او دأحبابه نه مراد دامام ابوحنيفه صاحب ملگري دي لكه محمد بن حسن
الشيباني امام ابو يوسف امام زفر اوداسينور دهغه غټ شاگردان دي· امام ابوحنيفه
صاحب ته الله تعالى ډير لوئ مقام اوعلم وركړيدى په څلورو واړو امامانو كښي يواځې امام
ابوحنيفه صاحب تابعي دى· امام ابوحنيفه صاحب په كال ٨٠ هجرى كښي پيداشويدى او
پدى وخت كښي درسول الله ﷺ بعضي صحابه موجود وه لكه ابو معاويه عبدالله بن ابى
أوفى وهو آخر من مات في كوفه من صحابة الرسولﷺ اوپدى وخت كښي امام ابو حنيفه
صاحب شپږكلن وه ځكه چه دا صحابي په ٨٦ هجري كښي وفات شوے دى· مسئله دادى
چه يوتحمل دى اوبل اداء تحمل دى مثلا لكه استاد سبق وائي او شاگرد ئي اوري دلته

كښې اوربدل يعنې تحمل هرخوك كولئ شي لكن اداء تحمل هرخوك نشي كولې يعنې بل
چا ته ئې نشي بيانولې نو علماء فرمائي چه صرف تحمل ماشوم چه پنځه كلن وي هم كولې
شي لكن اداء پرې دبلوغ نه وروسته كولې شي ۰ لكه محمودبن ربيع يوصحابي دى هغه
وائي چه زه پنځه كلن وم چه پيغمبر ﷺ زمونږ كورته راغلو اود بوقې څخه ئې اوبه
واخشتې او زما په سر باندې ئې واچولې، اوداحديث دى مذكوره صحابي دبلوغ نه وروسته
ذكر كړيدى سره ددې چه اوريدلې ئې په پنځه كلنئ كښې وه او خالانكه امام ابو حنيفه
صاحب په شپږ كلنې كښې وه چه ابو معاويه عبدالله بن ابي أوفي وفات شو اود حضرت
محمود بن ربيع داحديث امام بخاري نقل كړيدى. اوبل داچه امام ابوحنيفه صاحب سهل
بن سعدالساعدي ئې هم ليدلې دى او هغه په ٩١هجري كښې وفات شويدى پدې وخت
كښې امام ابو حنيفه صاحب يولس(١١) كلن وه. اوبل امام صاحب حضرت انس بن مالك
ئې هم ليدلې دى ، وهو اخر من مات فى كوفة من اصحاب الرسولﷺ اوپدى وخت كښې
امام ابوحنيفه صاحب ديارلس(١٣) كلن وه څكه هغه يعنې انس بن مالك رض په ٩٣هجري
كښې وفات شويدى همدارنګه جابر بن زيدازدى هم په ٩٣هجري كښې وفات شوى دى
همدارنګه عبدالله بن جزءالزبيدى اوعبدالله بن انيس اوابوالطفيل عامر بن وائلة او واثلة
بن الاسقع داټول صحابه معمرين دي د دوئ سره دامام ابوحنيفه رحمةالله عليه ملاقاتونه
شوي دي نوددى وجې نه دامام ابوحنيفه صاحب تابعيت ثابت دى ۰ وبعد پس دجملو
ثلاثة ونه ( پس دبسملې . حمدلې. تصيلې نه ) دا عطف دجملې فعلې دى په جمله فعليه باندى
نو تقدير دعبارت داسې شو أى أحمدُالله وأصلِّيْ وأسلِّمُ وأقول بعدها، يادا جمله معترضه ده
فإن اصول الفقه أربعة دافا فصحيه ده أى إذا فرغتَ من الحمد والصلاة فإن أصول الفقه
اربعة څكه چه حكم شرعى به يا ثابت وي په وحي سره يابه په غير وحى سره ،كه ثابت وي
په وحي سره نو يا به وحى جلىوي يابه وحى خفى وي كه جلي وي نو هغه كتاب الله دى
اوكه خفي وي نو هغه سنت دى اوكه غير وحى وي نو يابه اجتهاد دټولو مجتهدينو وي يابه
اجتهاد دبعضو وي كه دټولو وي نو اجماع ورنه قياس دى۰اصول دفقهى څلور دي
دحيثيت دحجت نه ورنه په اعتبار دذات سره اصل يودى څكه چه داڅلور واړه يو دليل ته

Maktaba Tul Ishaat.com

راجع دی ﴿ وَمَايَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى اِنْ هُوَ اِلَّاوَحْیٌ يُّوْحٰى ﴾ (النجم /٤)كتاب الله له مراد قرآن پاك دی چه دهغه تقریباً پنځه سوه آیاتونه د احکامو باره کښی نازل شوی دي او سنت درسول الله ﷺ هم حجت دی ومابنطق عن الهوی ان هو الاوحی یوحی. گفته او گفته الله بود، واجماع الامة دامت اجماع هم حجت دی ﴿ وَمَنْ يُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ مِنْ بَعْدِ مَاتَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى وَيَتَّبِعْ غَيْرَسَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ نُوَلِّهٖ مَاتَوَلّٰى وَنُصْلِهٖ جَهَنَّمَ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ﴾ (النساء /١١٥)علماء کرام ددی ایت نه د اجماع حجت والے ثابته وي د اجماع امت منکر کافر اوجهنمی دی. والقياس او قیاس چه مستنبط وي داصول ثلاثه وونه الف لام په قیاس کښی عهدی دی هغه قیاس چه دکتاب الله اوسنتو په رڼا کښی وي فلابدمن البحث فی کل واحدٍمن هذه الاقسام پس ددی مذکوره څلورو واړو اصولو متعلق مفصل بحثونه ضروري دي لیُعلمَ بذلك طریق تخریج الاحکام ترڅو چه وپیژندل شی طریقه دتخریج داحکامو دمجتهد. البحث الاول فی کتاب الله تعالی اول بحث په کتاب الله کښی دی چه قرآن کریم تری مراد دی، کتاب دفعال په وزن باندی په معنی دمکتوب دی تمام اسمانی کتابونه کتاب الله دي لکن مطلق کتاب چه ذکر شي مراد ترینه قرآن مجیدوي ځکه قاعده دادی چه مطلق ذکرشي مراد ترینه فردِ کامل وي او په اسمانی کتابونو کښی فرد کامل قرآن مجید دی ځکه ټول اسمانی کتابونه منسوخ دي اوقرآن کریم تر أبدالآباد پوری قانون دی اود الله تعالی عظیم کتاب دی اودلته کښی دکتاب الله شل(٢٠) اقسام بیانیږي نو ددی وجی نه دلته معترض اعتراض کوي چه تقسیم دشی موقوف وي په تعریف دشي پوری اودلته نی دکتاب الله تعریف ونکړو او تقسیم ئی ذکر کړو؟ نو علماء ورته جواب ورکوي چه دکتاب الله تعریف چونکه معلوم وه نو ددی وجی نه نی ونه کړواودکتاب الله تعریف دادی (الکتاب المنزل علی الرسولﷺ المکتوب فی المصاحف المنقول عنه نقلاً متواتراً بلاشبهة). فصل فی الخاص والعام فصل دی په بیان دخاص اود عام کښی دلته کښی تقسیم دکتاب الله دی څلورو اقسامو ته په اعتبار ددلالت لفظ علی المعنی ، که دلالت دلفظ په معنی مفردی باندیوي نو خاص دی اوکه په معنی جمع یامعنی مرکبی باندی وي نوعام دی ،دلته کښی دمفرد نه مراد واحد دی او دجمع نه مراد ما فوق الواحد دی. فالخاص

لفظ پس خاص یو لفظ دی. دلته کښې نی د لفظ تکیٔ ددی لپاره راوړی چه خاص حقیقتاً صفت دلفظ دی او تبعاً صفت دمعنی دی ځکه چه یو لفظ خاص شي نو معنی هم خاصه شی. وضع چه دا لفظ وضعه کړی شوی وي. د وضع په قید سره مهملات خارج شول ځکه مهملات په معنی باندی دلالت نه کوي نه حقیقتاً او نه مجازاً لکه زید مید نو دمید هیڅ مطلب نشته. لمعنی معلوم لپاره دیوی معنی معلومی، دمعنی معلوم په لفظ سره مشترك خارج شو ځکه چه دمشترك معنی معلوم المراد نه وي لکه لفظ دعین په شپاړسو معنو باندی راځی نو مخاطب د عین لفظ څخه یوه معنی نشی اخستلی ترڅو چه قرینه نوي ذکر شوی لکه عین په معنی دسرو زرو په معنی دچینی(چشمه) په معنی دجاسوس په معنی دلمر او داسی نورو معانیوسره راځي.اولمسمی معلوم او یا به دا لفظ وضعه کړی شوی وي لپاره دمسمی معلومی. دلته کښې په کلمه داو معترض اعتراض کوي چه تعریف او حدلپاره دوضاحت دمعرّف وي او کلمه دشك چه او دی داخو توضیح نه راولي بلکه ابهام راولی نو کلمه داو دلته په تعریف کښې مناسبه نده ؟ نو جواب دادی چه دلته کښې او دشك لپاره ندی بلکه دتقسیم لپاره دی یعنی عبارت په داسی شي چه دا خاص یو لفظ دی چه وضع شوی په وي لپاره دمعنی معلومي یا لپاره دمسمی معلومی، دمعنی نه مراد مالایقوم بنفسه ویقوم بالغیر دی، یعنی معنی هغې ته وائی چه هغه بنفسه نه قایمیږي بلکه په غیر پوری قائم وي لکه بیاض او سواد چه پخپله نه موجودیږی بلکه یابه په تورو وبنتو تورموټر وغیره پوری قائم وي همدارنگه بیاض هم بنفسه نه قایمیږی بلکه په غیر پوری قائم وي.او مسمی معلوم هغې ته وائی چه هغه قائم بالذات وي. علی الانفراد په انفراد باندی. او دانفراد په قید سره بیامشترك خارج شو ځکه مشترك دزیاتو معنو لپاره وضع شوي وي همدارنگه عام هم تری خارج شو ځکه عام هم ګڼو کسانو او ګڼو معانیوته شاملیږی لکه لفظ دمسلمون ددنیا ټولو مسلمانو ته شامل دی نه یواځې یومسلمان ته. کقولنا فی تخصیص الفردزید لکه زمونږ قول په تخصیص دفرد کښې زید. توضیح المقام دادی چه خاص په دری قسمه دی اول . خاص الفرد دونم . خاص النوع دریم . خاص الجنس. ۱. تخصیص الفرد لکه :بد نو د زید اطلاق په واحد باندی کیږی اود زید سره پدی معنی کښې بل

Maktaba Tul Ishaat.com

هيځوك شريك نشته ځكه ورته تخصيص الفردواني. وفي تخصيص النوع رجل او بل تخصيص النوع لكه رجل نودرجل اطلاق په ښځه باندی نه کیږی بلکه درجل اطلاق په مذكرمن بنی ادم الذی تجاوز من حدالصغرالی حد الکبر کیږي، او دښځی‌اطلاق په مؤنث من بنی ادم التی تجاوزت من حد الصغرالی حدالکبر کیږی. نوع په دوه قسمه ده یوه نوع اصولی اوبل نوع منطقی ده، دلته کښی مراد نوع اصولی‌ده نوع اصولی دیته وائی چه متفق بالاغراض وي، اونوع منطقی دیته وائی چه متفق بالحقیقة وي ځکه مناطقه دحقائقوځخه بحث کوي نودرجل ځومره افراد چه دي دهغوئ اغراض متفق دي چه هغه امامت ، قضاء ، شهادت ، وغیره دي. وفي تخصيص الجنس انسان اوبل تخصيص دجنس دی لکه انسان. انسان داصولینو په نزد باندی جنس دی ځکه دئ مختلف الاغراض دی انسان کښی دسړي نه بیل غرض دی او دښځی نه بیل غرض دی لکه اتیان بالولد(حمل) اووضع دحمل ، رضاعت اوتربیت دولد. دسړي خصوصیات په ښځه کښی نه پیداکیږی اودښځی لوازمات په سړي کښی نه پیداکیږي. والعام کل لفظ اوعام هر هغه لفظ دی ینتظم چه شامل وي جمعامن الافراد یوی جمعی دافرادو ته امالفظاً او برابره خبره ده چه دا لفظ شامل وي خپلو افرادو ته لفظاً کقولنامسلمون ومشرکون لکه زمونږقول چه مسلمون دی نو دمسلمون دلفظ نه معلومیږی چه ډیر مسلمانان دي اویامشرکون نودمشرکون دلفظ نه معلومیږی چه ډیر کفار دي ځکه دا دواړه جمعی دي او جمعه سالمه صراحتاً دلالت کوي په افرادو باندی چه اقل ئی ذری(٣) وي. وامامعنی اویابه دالفظ شامل وي خپلو افرادوته معناً کقولنا من وما لکه زمونږ قول چه من اوما دی، من اوما په اعتبار دلفظ سره مفرد دي او په اعتبار دمعنی سره جمع دي. دی وجی نه په قرآن مجید کښی چه من او ما راغلی وي کله ورته ضمیر دمفرد راجع وي هغه په اعتبار دلفظ سره وي او کله چه ورته ضمیر دجمع راجع وي هغه په اعتبار دمعنی سره وي لکه مثال دقرآن کریم ایت دی﴿ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَمَاهُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ * ﴾ (البقرة، / ٨) دلته يقول کښی ضمیر مفرد دی په اعتبار دلفظ سره وماهم کښی ضمیر دجمع دی په اعتبار دمعنی سره وحكم الخاص من الكتاب هرکله چه مصنف فارغ شو دتعریف دخاص اودعام نه نو شروع ئی وکړه په

حکم دخاص کښې اووی فرمائل چه حکم دخاص په قرآن مجید کښې **وجوب العمل به لامحالة** یعنی عمل به کیږی پدی خاص باندی وجوباً اوخامخا یعنی هرکله چه په قرآن مجید کښې دخاص لفظ راشی په هغه باندی به عمل کیږی خامخا او وجوباً لکه لفظ دثلاثه چه الله تعالی پدی ایت کښې فرمائیلی دی ﴿ فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ اِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ اِذَا رَجَعْتُمْ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ﴾ ( البقرة / ۱۹۶) که یو کس دحج قِران یا دحج تمتع نیت کړئ وي ،حج قران دیته وائی چه یو کس دعمری او حج دواړو نیت په یوځائ باندی وکړي. حج تمتع دیته وائی چه یو کس دعمری نیت وکړي اوعمره وکړي بیا خان حلال کړي اوبیا دحج په ورځو کښې دحج لپاره خانته نیت وکړي نو په متمتع او قارن دواړو باندی دم لازم دی یعنی قربانی به کوي اودی دم ته دم دشکر وائی ځکه دی کس په یو سفر کښې دوه عبادتونه وکړل یو عمره اوبل حج دی لکن که یو کس سره ذهدئی داخشتلو طاقت نوي نو دئ به دری(۳) روژی ونیسی په ایامو دحج کښې او بیا چه کله دحج نه فارغ شي نو اوه(۷) روژی به اونیسی، دری روژی به په ایامو دحج او اوه روژی به بعد الحج ځکه نیسی چه لفظ دثلاثة او لفظ دسبع خاص دی پدی کښې زیادت او نقصان نه راځي او احتمال هم د زیادت او نقصان نلری. **فان قابله خبر الواحد اوالقیاس** که چیرته خاص دکتاب الله سره دخبر واحد او یا دقیاس مقابله راغله صورتاً دصورتاً قید ځکه ضروري دی چه حقیقتاً خبر واحد او قیاس دایت مقابله نشي کولی ځکه ایت قطعي الثبوت وي او خبر واحد او قیاس ظنی الثبوت وي او ظنی دقطعي اویقنی مقابله نشي کولی لکن ظاهراً تعارض پکښې راتلي شي. **فان امکن الجمع بینهما بدون تغیر فی حکم الخاص** که چیرته ممکن وي جمع په ما بین دخاص دکتاب الله او خبر واحد کښې پداسی حال کښې چه تغیر نه راځي په حکم دخاص دکتاب الله کښې **یعمل بهما** عمل به کولئ شی پدی دواړو باندی یعنی په کتاب الله او په خبرواحد باندی **لان الاعمال اولی من الاهمال** یعنی ځکه چه اصل په دلائلو کښې اعمال دی نه اهمال او زمونږ داامام ابوحنیفه صاحب همیشه مذهب او قانون وي چه اعمال اولی دی داهمال نه داامام ابوحنیفه رحمه الله ډیرلوئ نظر دی په احادیثو باندی ، ګڼ روایاتونه داسی راجمع کړي

Maktaba Tul Ishaat.com

چه په تولو باندی عمل راشی لکه په یو حدیث کښی راځی چه رسول ﷺ به چه لمونځ ته ولاړ وه نو لاسونه به نی فوق السرة نیولی وه(دنامه دپاسه) نو امام ابوحنیفه صاحب والی دری گوتی دی دنامه نه لاندی راشی نو څوك چه دیته گوری چه لاندی گوتی راغلی دي نووانی چه تحت السرة او څوك چه دیته گوري چه بره لی گوتی اینبی دي نووانی چه فوق السرة نو تعارض نشته، او په یوبل حدیث کښی راځی رسول ﷺ فرمائی (لیس فیما دون خمسة اوسق صدقة) نشته زکات په هغه شی کښی چه هغه کم وي له پنځو وسقو نه لکه دیو زمیندار په پټی کښی غنم وشي او هغه دپنځو وسقو نه کم وي په هغو غنمو کښی عشر نشته.

اوبل ځای کښی الله تعالی فرمائی ﴿ وَءَاتُوا حَقَّهُ يَوْمَ حَصَادِهِ ﴾(انعام/ ١٤٢ ) یعنی دځمکی نه مو چه څه واخشتل دهغوی حق ورکړی، پدی ایت کښی دقلیل او دکثیرذکر نشته نو پدی کښی ظاهراً تعارض راغی نو امام ابو حنیفه صاحب په دواړو باندی عمل وکړو اووائی چه په حدیث کښی کوم شیٔ ذکردئ (لیس فیما دون اوسق صدقة ) ددی نه مراد دسوداگر غله دی که یو سوداگر پنځه وسقه غله ولري او کال پری تیرشي نو زکات پری واجب دی خکه پنځکه وسقه ډیر زیات غنم دي دری سوه(٣٠٠) صاعه تری جوړیږي اوکه دپنځو وسقونه کم وي نو په هغه کښی زکات نشته. اود ایت نه مراد دزمیندار غله دی (واتواحقه یوم حصاده) یعنی دزمیندار چه په پټی کښی لس منه غله هم وشی نو عشر به ورکوي نو دلته کښی د قلیل اوکثیر اعتبار نشته نو په دواړو حدیثونو باندی عمل راغی اوتعارض دفع شو

بهر حال امام ابوحنیفه صاحب فرمائی که چیرته په ظاهرکښی دکتاب الله دخبرواحد اوقیاس سره مقابله راغله که په دواړو باندی عمل ممکن وي نو ډیره ښه ده والا او که په دواړو باندی عمل ممکن نه وي نو پدی صورة کښی به یعمل بالکتاب ویترك مایقابله عمل به کولئ شی په خاص دکتاب الله باندی او ترك کولئ به شي مقابل دهغه ځکه چه خاص دکتاب الله قطعی الثبوت او واجب العمل وي مثاله فی قوله تعالی مثال لپاره دخاص دکتاب الله په قول دالله تعالی کښی یتربصن بانفسهن ثلثة قروءٍ یعنی ﴿وَالْمُطَلَّقَٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَٰثَةَ قُرُوٓءٍ ﴾ (البقرة / ٢٢٨) مطلّقی ښځی به انتظار کوي دخپل ځان باره کښی

ددربو حیضو ځکه چه لفظ دثلاثة راغلی اولفظ دثلاثة خاص دکتاب الله دی ځکه مونږ د خاص تعریف کړی دی ماوضع لمعنی معلوم اولمسمی معلوم اودلفظ ثلاثة معنی معلومه ده ځکه ثلاثة لفظ دی چه دلالت کوي په یوه معنی چه د دوه نه پورته وي اوله څلورونه ښکته وي او ثلاثة عدد دی اوعدد وائی نصف دمجموعی دحاشیتینوته حاشیتین په معنی دطرفین لکه ددریو نه یوطرف ته څلور دي او بل طرف ته دوه دي دوه او څلور شپږ شو دشپږو نیمه دری کیږي همدارنګه دلسو نه یو طرف ته یولس دي اوبل طرف ته نهه دي نهه او یولس شل کیږي اود شلو نصف لس کیږي اوبل داچه دعدد معنی معلومه وي په هغه کښی زیاتی اوکمی نه کیږي نو لفظ دثلاثة قروء کښی که داحنافو مذهب واخلی نو په ثلاثه به پوره عمل راشي اوکه دشوافعو مذهب واخلی نو بیا په لفظ دثلاثه باندی پوره عمل نه راځی شوافع دقرء نه مراد طهر اخلی او احناف دقرء نه مراد حیض اخلی اولفظ دقرء مشترك بین المعنیین دی اومشترك دیته وائی چه واضع یولفظ دیوی معنی لپاره وضعه کړی وي بیا ئی دبلی معنی لپاره وضع کړی وی نولفظ دقرء هم مشترك بین المعنیین دی په لغة عربی کښی بعضی کسانو دا دطهر لپاره وضعه کړیدی اوبعضی کسانو دحیض لپاره وضعه کړیدی نو پدی ایت کښی به دی لفظ نه کومه معنی اخلی نو امام ابوحنیفه صاحب وائی چه قرء نه مراد حیض واخله ځکه چه په ثلاثه به دی عمل راشی اوکه دی نه مراد حیض وانخلی نو په ثلاثه به عمل رانشی ځکه چه طلاق دوه قسمه دي ۱. طلاق سنی دئ· طلاق سنی دیته وائی چه ښځی ته سړی په حالت دطهر کښی طلاق ورکړي ۲. طلاق بدعي دئ· طلاق بدعي دیته وائی چه ښځی ته سړی په حالت دحیض کښی طلاق ورکړي ، لکه عبدالله بن عَمر(رض) خپلی ښځی ته په حالت دحیض کښی طلاق ورکړی وه نو حضرت عمر(رض) راغلو او رسول الله مبارك ته ئی اوویل چه یارسول الله زما زوئ خپلی ښځی ته په حالت دحیض کښی طلاق ورکړل نو رسول الله مبارك ورته وفرمائل ( مُرابنك فلیراجعها ) زوئ ته امر وکړه ائ عمره چه هغه خپلی ښځی نه رجوع وکړي ځکه دا طلاق بدعي دی اودا ناجائز دی نو هغه (عبدالله بن عمر) ورته بیا رجوع وکړه او ښځه ئی چه کله پاکه شوه نو په حالت دطهر کښی ئی ورته بیا طلاق ورکړل ځکه مسنون طلاق دادی چه سړئ خپلی ښځی ته په حالت دطهر کښی طلاق

Maktaba Tul Ishaat.com

ورکړي نو بنځه به دهغې نه وروسته دری حیض تیروي او چه دری حیضه تیر شي نو بنځه دعدت څخه ووته نو په لفظ دثلاثة باندی عمل راغی اوکه مونږ دثلاثة قروء نه دری طهره واخلو یعنی دامام شافعی صاحب قول واخلو څکه هغه والی چه دقرء نه طهرمراد دی لکه یو سړئ خپلی بنځی ته په حالت دطهر کښی طلاق ورکړي نو اوس داطهر په کوم کښی چه سړي بنځی ته طلاق ورکړي دي او ددی طلاق څخه وروسته بنځه چه عِدت تیروي نو دا طهر به پکښی یاحسابه وی او یابه نی نه حسابه وی که چیرته نی حسابه وی نو څه کم دری یعنی دوه نیم طلاقه شو اوکه نی حسابه وی نو بیا ددریو نه زیات شو یعنی څه پاسه دری طلاقه شو څکه پدی کوم منت کښی چه طلاق ورکوي پدی وخت کښئ خو لا طلاق ندی واقع شوئ څکه که دطهر دوه منته هم تیر شي او طلاق لا ندئ واقع شوی نو گویا دوه منته کم دری طهره شو نو په لفظ دثلاثة باندی عمل رانه غئ اگر که دا وخت یو سکنډ ولی نوي څکه پدی سکنډ کښی خو دا بنځه لا مطلقه نده ، او که چیرته دلفظ دقرء نه مراد حیض واخلو نوپدی طهر کښی چه طلاق ورکړو دهغه څخه وروسته به یو حیض راشي اوهغه به تیر شي بیا به طهر راشي بیا به وریسی حیض راشي هغه پسی به بیا طهر راشي بیا به وریسی حیض راشی او چه دا حیض تیرشي اوبیا طهر راشي نو عِدت به تیر شي څکه دری حیض مکمل تیر شول بغیر دکمی او زیاتی نه نو په لفظ دثلاثة باندی مکمل عمل راغلو نو داحنافو مذهب صحیح اوقوي وگرځیدو. **فان لفظة الثلثة خاص فی تعریف عددٍ معلوم** څکه دا لفظ ثلاثة خاص دی په پیژندلو دعددمعلوم کښی. **وهومابین الاثنین والاربعاء فیجب العمل** به پس عمل واجب دی پدی لفظ دثلاثة باندی. **ولوحمل القراءُ علی الاطهار** اوکه چیرته مونږ دقرء نه معنی دطهر واخلو **کما ذهب الیه الشافعی** لکه څرنگه چه قول دامام شافعی صاحب دی چه هغه دلفظ دقرء نه طهر اخشتئ دی. اودا چه امام شافی صاحب دلفظ دقرء نه طهر مراد کړی دی دهغه لپاره دلیل دادی چه لفظ دثلاثة په نحو کښی دمذکر لپاره راځي او دمؤنث لپاره به ثلاث راځي

ممیز از عدد بر سه جهت دان ـ زسه تا ده همه مجرور ـ

ز ده تا صد همه فرداست منصوب ـ ز صد بر تر همه فرداست ومجرور)

اوپه عدد کښې دا قانون دی چه ددریو نه تر لسو پورې خلاف القیاس وي یعنی دمذکر لپاره به عددمؤنث راځي لکه ثلاثة رجال اودمؤنث لپاره به عدد مذکر راځي لکه اربع نسوة نو په ایت دقرء کښې هم عدد ثلاثة راغلی دی نو قرء چه په معنی دطهر واخلو او طهر مذکر دی نو دقاعدې نحوی سره به برابر شي اوکه دقرء نه حیض واخلو نو حیض خو مؤنث سماعی دی نو دهغه لپاره ثلاث پکار وه نو معلومه شوه چه دقرء نه طهر مراد دی نه حیض اوامام شافعی صاحب په همدی قول باندی دلیل نیسی نو مونږ ورته جواب کوو چه دا صحیح ده لکن په خاص دکتاب الله به عمل نه راځی او په خاص دکتاب الله به هلته عمل راشي چه کله دقرء نه مراد حیض واخلو نو بیابه پوره درې حیض راشي او مونږ ورته یو بل جواب دا کوو چه دلته کښې لفظ دثلاثة راغلی دی په اعتباردلفظ دقرء سره چه لفظ دقرء مذکر دی خکه ورته ثلاثة راوړو اګر که معنی ئې مؤنث دی نو مصنف وانی چه امام شافعی صاحب دلیل پیش کوي پدی باندی باعتباران الطهرمذکردون الحیض په دی اعتبار چه طهرمذکر دی نه حیض خکه حیض مؤنث سماعی دی. وقد ورد الکتاب فی الجمع بلفظ التانیث دلّ علی انه جمعُ المذکر وهو الطهر اوپه تحقیق سره وارد شوی دی کتاب په جمع کښې په لفظ دتانیث سره، داخبره دلالت کوي چه قرء جمع مذکر دی اوطهرهم مذکر دی لزم ترك العمل بهذا الخاص اوداجزاء دی هغه ولوحمل لپاره که مونږ حمل کړو دا قرء په اطهار باندی معنی داچه که چیرته مونږ دامام شافعی صاحب پدی قول عمل وکړو یا دهغه دلیل ومنو نو لازم به شی ترك دعمل پدی خاص باندی خکه امام شافعی صاحب په قیاس لغوی دلیل نیسی اومونږ په خاص دکتاب الله سره دلیل نیسو.نو پدی وخت کښې دقیاس لغوی اوخاص دکتاب الله مقابله راغله نومونږ قیاس لغوی پرېښود او په خاص دکتاب الله باندی مو عمل وکړو. لان من حمله علی الطهر لایوجب ثلثة اطهارٍ خکه که څوك حمل کړي دا قرء په طهر باندی لکه امام شافعی غوندی نو نه لازمیږي درې اطهار بل طهرین و بعض الثالث وهوالذی وقع فیه الطلاق بل کښې لازم او واجب به شی دوه طهره اوځه برخه ددریم طهر او هغه هغه طهر دی په کوم کښې چه طلاق واقع شویدی خکه چه دا دریم طهر پکښې حساب دی نو زیات شو ددریو نه اویا پکښې ندئ حساب نو څه کم درې

Maktaba Tul Ishaat.com

طهره شو ددی وجی نه احناف دلیل نیسی پدی قول چه خاص دکتاب الله واجب العمل
دی خامخا اوکه په مقابل کښی خبرواحد یاقیاس ورسره راشی نو که په دواړو عمل ممکن
وه په دواړو عمل کیږي ورنه مقابل دخاص دکتاب الله به ترك کولئ شی نو دلته کښی چه
په خاص دکتاب الله باندی عمل کول غواړی نو په لفظ دثلاثه باندی عمل وکړه او په لفظ
دثلاثه بدون دتغیر نه هلته عمل راځی چه داحنافو مذهب ومنی ځکه مسنون طلاق دیته
وانی چه ښځی ته سړئ په طهر کښی طلاق ورکړي اودهغی نه وروسته به ښځه پوره دری
حیضه عِدت تیروي. چه کله دامام شافعی صاحب ددلیل نه مونږ جواب وکړلو نو دی وجی
نه زمونږ دلیل اومسلك قوي اوگرځیدو. فیُخرّج علی هذا حکم الرجعة فی الحیضة الثالثة
او په دغه اختلاف باندی به متفرع کیدئ شي حکم درجوع زمونږ په نزد باندی په دریم
حیض کښی رجوع کولے شي ځکه پدی دریم حیض کښی ښځه لا په عِدت کښی دننه ده او
په دریم حیض کښی سړی خپلی ښځی ته رجوع کولئ شي چه طلاق رجعی نی ورکړی
وي ځکه داحنافو په نزد باندی دقرء نه حیض مراد دی اودریم حیض عِدت کښی شامل
دی. شوافع وانی چه رجوع ورته نشی کولئ ځکه دهغوئ په نزد دریم حیض ددریم طهر
نه وروسته راغلی نو هغوی وانی چه ښځه دعدت ځخه خارجه ده ځکه هغوئ داسی وانی
چه سړي ښځی ته په طهر کښی طلاق ورکړو مثال لکه ط١ . ح١. ط٢. ح٢. ط٣. ح٣. نو دا
دریم حیض (ح٣) دهغوی په نزد له دریم طهر(ط٣) ځخه مؤخر دی ځکه هغوی پکښی دا
اول طهر چه په هغه کښی طلاق واقع شوی هغه هم حسابه وي او زمونږ په نزد خو حیض
مراد دی اودریم حیض(ح٣) باقی پاتی دی لهذا رجوع کولی شي عندنا ځکه که پدی
دریم حیض کښی یوه ورځ هم پاتی وي رجوع صحیح ده زمونږ دمذهب مطابق وزواله
اوذائل شو حکم درجوع عنده یعنی دامام شافعی صاحب په نزد ورته رجوع نشی کولئ
کماذکرنا وتصحیح نکاح الغیر ای تصح نکاح الغیر عندالشافعی یعنی دامام شافعی صاحب
په نزد دابنځه دبل سړي سره نکاح کولئ شي ځکه دهغه په نزد عدت تیر شویدی کماذکرنا
وابطاله ای وابطال نکاح الغیر عندنا یعنی زمونږ په نزد باندی دا ښځه دغیر سره نکاح نشي
کولئ ځکه زمونږ په نزد لا عدت باقی پاتی دی وحکم الحبس والاطلاق همدارنګه دا سړی

به ښځه په کور کښې ساتی ترڅو چه عدت تیرشي یعنی ثابت دی حکم دحبس او حکم داطلاق عندنا لبقاء العدت لاعنده لانتهاء العدت والمسکن والانفاق همدارنګه شته حکم دمسکن یعنی دسکونت اوحکم دانفاق عندنا یعنی داسری به دی ښځی ته پدی دریم حیض کښې دسکونت لپاره خالي ورکوي او نفقه ئی هم پری واجب دی لبقاء العدت عندنا ولیس عندالشافعی لانتهاء العدت عنده والخلع ای عندنا یعنی زمونږ په نزد باندی حکم ثابت دی دخلعې ، خلع دیته والی که چیرته ښځه خاوند ته اووائی چه زه به دومره پیسی درکړم ما طلاقه کړه نو پدی دریم حیض کښې خلع کولئ شي زمونږ په نزد باندی لبقاء العدت والنکاح ولیس عندالشافعی ځکه هغه وائی چه دخلع لپاره خونکاح شرط دی اودلته کښي نکاح ختمه شویده نو خلع څنګه کولئ شي٠ والطلاق همدارنګه دا سړی خپلی ښځی ته بل طلاق هم ورکولی شي ځکه قرآن کښې راځی الطلاق مرتان داچه زمونږ په نزد دا ښځه دده منکوحه ده او خپلی منکوحی ته سړی طلاق ورکولی شي، اوامام شافعی صاحب وائی چه پدی حیض کښې ورته بل طلاق نشی ورکولی ځکه چه عدت نه پس ښځه اجنبی شی اوپردئ ښځی ته چه منکوحه ئی نوي خوك طلاق نشی ورکولی٠ وتزوج الزوج باختها اوجائز دی دی سړي لره نکاح دبلی خور ددی ښځی ځکه دهغه په نزد عدت تیر دی اونکاح هم ختمه شویده اوزمونږ په نزد باندی دهغی ښځی له بلی خور سره تر څو نکاح نشی کولی چه دا حیض ثالث تیر شي ځکه زمونږ په نزد باندی عدت ندی تیر شوی نو جمع بین الاختین راځی او جمع بین الاختین حرام دی واربع سواها اوداامام شافعی صاحب په نزد ددی ښځی نه بغیر څلورښځی کولی شي ځکه هغه وائی چه دا ښځه ددی سړي له نکاح نه وتی ده٠ او زمونږ په نزد ددی نه بغیر څلورمی ښځی سره نکاح نشی کولی ځکه دابنځه لا ددی سړي په نکاح کښې باقی پاتی دی ورنه بیا به پنځه ښځی راشی اود څلورو نه زیاتی ښځی نکاح کول حرام اوناجائزی دي، اوچه کله دریم حیض تیر شي نو عدت پوره شو او نکاح هم ختمه شوه نو بیا ورته دبلی ښځی نکاح جائزدی٠واحکام المیراث همدارنګه احکام دمیراث یعنی چه کله ښځه پدی دریم حیض کښې وي اوخاوند مړشو نو دابنځه دمیراث حق لري اود خپل خاوند میراث اخښتی شي زمونږ په نزد باندی

Maktaba Tul Ishaat.com

لا عنده يعني دامام شافعي صاحب په نزد بنځه دميراث قابله نده ځکه دهغه په نزد ددې سړي .له نکاح نه وتلې ده اودميراث حق لی هم ختم شويدئ. مع كثرة تعدادها سره دډيروالي داحكام دميراث. همدارنګه نورې ډيرې مسئلې دي وكذلك همدارنګه يوه بله مسئله هم درته بيانوم لکه په لفظ ثلاثة په ايت مذکوره کښې مې چه درته بيان کړو قوله تعالى پدې قول دالله تعالى کښې قد علمنا مافرضنا عليهم في ازواجهم په تحقيق سره مونږ پيژندلې دې هغه مهر چه مونږ فرض کړيدی په دوئ باندې په باره د ببيانو کښې يعنې الله جل جلاله فرمائي چه ماته معلوم دی هغه مهر چه ما پردوئ باندې لازم کړيدی په باره دبيبيانو کښې. دلته کښې دوكذلك قوله نه مراد صرف دفرضنا صيغه دی ځکه الله تعالی ددې فرض نسبت خانته کوي چه ما فرض کړيدئ ، اود فرضنا صيغه خاص دکتاب الله دی ځکه نسبت ئې الله تعالی خانته کړيدی نودی وجې نه فرضنا دهغه الفاظو نه وګرځيده کوم چه خاص دکتاب الله دی. دلته کښې اعتراض وارديږي چه په دی ايت کښې دازواجهم تکئ راغلی او دا خو عام دی اونفس فرض چه (نا) ته ئې نسبت ونه کئ دا کلمه لی مشترکه دی دډيرو معنو لپاره مستعمل کيږی اوچه کله کلمه دفرض (نا) ته لی منسوبه کړی نو بيا خاص دکتاب الله دی نو حکم دجزعلی الكل دی؟جواب: مجازاً لی داسې ووبل(وكذلك قوله تعالى قد علمنا مافرضنا عليهم في ازواجهم ) اواصل کښې داسې پکار وه (وكذلك لفظ فرضنا في هذه الآية) يعنې لفظ دفرضنا پدې ايت کښې نه تول ايت ځکه په ايت کښې خو دازواج تکی اود هم ضمير راغلي داخو تول عام دي اودلته کښې يواځې په فرضنا تکی کښې زمونږ بحث دی اوهغه هم هغه فرضنا چه نا ته ئې منسوب کړی تش کلمه دفرض خو مشترکه ده ځکه فرض په معنی د قطع او نورو داسې معانيو سره راځي. او دا قول چه قدعلمنا ما فرضنا عليهم في ازواجهم خاص دا لفظ دفرضنا خاص دی في التقدير الشرعي په تقدير شرعي کښې ځکه الله تعالى وائی دا لفظ ما مقرر کړيدی. اوتقدير شرعی زيادت او نقصان نه منی ځکه يو شی چه الله تعالی متعين کړي نو بيا پکښې کمئ او زياتئ نه راځي او د مهر د زياتي اندازه نشته ځکه الله جل جلاله فرمائي ﴿ وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنطَارًا ﴾ (النساء/ ٢٠) .يعنې تاسو ورکړئ يوې ددی بنځونه په مهرکښې امبار قنطار په معنی دامبار سره راځي

لکه دغنمو لوئ ډیرئ وي هغه ته قنطار او امباروانی نو مطلب داشو که یو سړی ښځي ته په مهرکښی درپویو امباروركړي نوصحیح دی نو معلومیږي داسی چه دمهر دزیاتی لپاره اندازه نشته اوزیاتئ په مهر کښی جائز دی لکه حضرت عمررضی الله عنه یوه ورځ دمغالات فی المهور باره کښی تقریر کاوه مغالات فی المهور دیته وائی چه په مهر کښی ډیر زیادت وي هغه په تقریر کښی ویل چه.په مهر کښی زیادت مه کوئ نو یوه ښځه ورته راپاځیده اوورته ئی وویل یا امیرالمؤمنین الله خو دزیادت مهرباره کښی منع نه فرمائی ځکه قرآن کښی راځی (إِحدٰهُنَّ قِنطَاراً) نو حضرت عمر(رض) چپ شو او وویل (اخطاء عمرُ واصابت امراۃٌ) یعنی عمرخطاء شویدی مسئله کښی اوښځه صحیح وائی او هیڅ ئی ورته ونه ویل. خو دمهر داکثری حصی لپاره څه حد نشته لکن اقله حصه ورته رسول اللهﷺ په حدیث کښی بیان کړیده (لامهرأقل من عشرة دراهم) نشته مهرکم له لسو دراهمو نه ځکه خاص دکتاب الله وائی دیته که هغه سره دقیاس ټکره راغله نوقیاس به نه منی اوایت به واجب العمل منی، نو دمهر اکثری حصی لپاره حد متعین نشته د ایت نه ثابت شو او اقله حصه ئی معلومه شوه کومه چه په حدیث سره ثابته شوه٠ اوامام شافعی صاحب وائی چه داسی نده ولی چه نکاح یو عقد دی دعقودونه اودعقد لپاره چه بائع اود مشتري په منځ کښی چه خبره وشي نو هغه صحیح دی لکه مثال یو سړئ دبل سړي نه کتاب اخلی اوهغه ورته وائی په سل روپئ ئی درکوم او دواړه (بائع اومشتري ) پری راضی شول نو صحیح دی اوهغه وائی چه نکاح هم یو داسی عقد ده که خاوند او ښځه په یوه چکئ دګوری هم راضی شي نو ټیك ده نکاح منعقد ده عند الشافعی لکه وائی چه ( میاں بیوی راضی - توکیا کری قاضی ) یعنی چه ښځه او سړئ سره خوشحاله او راضی وي نو دقاضی پکښی څه کار دی ، ځکه امام شافعی صاحب نکاح عقد بولی دنورو عقودو پشان لکه په نورو عقودو مالیه کښی چه دبائع او مشتری په منځ کښی چه په څه خبره راغله صحیح ده نو نکاح هم داسی ده لکه بیع ٠بیع وائی( مبادلة المال بالمال بالتراضي وينعقد بالايجاب والقبول )چه ایجاب اوقبول دبائع اومشتری منځ کښی وشی په رضا ددواړو سره نو بیعه صحیح ده اوموږ وایو داسی نده داپه نورو عقودو باندی مه قیاس کوه پدی کښی قرآن کریم لفظ مافرضنا راوړی اوفرض

Maktaba Tul Ishaat.com

وانی قطع ته دفرض معنی پری کړی شوی شی اُویُو شی چه ته پریکی نو هغه نه بیا کمیږی
اونه بیا زیاتیږي پکار خوداوه چه په مهر کښی زیادت هم نوي لکه مونږ ته دایت نه معلومه
شوه چه هلته قنطاراً راغلی دی نو زیادت دمهر جائز شواوبل جانب دکمی کښی مونږ ته
حدیث اجازت نه راکوي چه مهردی دلسو دراهمو نه کم نه وي اودا زمونږ مذهب دی
لکن امام شافعی صاحب په قیاس عمل کوي او وانی چه زوج او زوجه په څه باندی راضی
شي نوصحیح ده نو زمونږ عمل په خاص دکتاب الله باندی راغئ او امام شافعی صاحب
خاص دکتاب الله پرینبود اوپه قیاس باندی عمل وکړو نکاح نی قیاس کړه په بیع اوپه شراء
باندی. لکن مونږ وایو چه دا صحیح ندی ځکه خاص دکتاب الله واجب العمل وي. او
اقل دمهر رسول الله ﷺ معین کړیدی اوزیاته اندازه رسول الله ﷺ ځکه متعینه نه کړه چه
هغه دسړي خپله خوخه ده چه ښځی ته څومره مهرورکوي. اودلته کښیمصنف امام شافعی
صاحب سره زمونږ نوری اختلافی مسئلی بیانوي فلا یترك العمل به پس مونږ به عمل نه
پریږدو پدی خاص دکتاب الله باندی باعتبارانه عقدمالی پدی اعتبار سره چه دا نکاح
یوعقد دی دعقودو مالیه وه نه لکه چه امام شافعی صاحب وانی، اوامام شافعی صاحب په
مافرضنا تکی باندی عمل ندی کړئ اوهغه وائی لکه څرنگه چه پدی نورو عقودو کښی
کمئ اوزیاتئ راتلی شي همدارنگه په مهر کښی هم کمی اوزیاتی راتلی شي. فیعتبر
بالعقودالمالیة ددی اعتبار به کوی دنورو عقودو مالیه سره. فیکون تقدیر المال پس
مقررکول دمال فیه پدی نکاح کښی موکولا دا سپارلی شوی دی الی رای الزوجین رائ
دزوج اودزوجه ته لکه بائع اومشتری دمبیعی لپاره چه څه قیمت کیږدي همغه قیمت
صحیح ده همدارنگه چه زوج اوزوجه په مهرکښی سره په څه راضی شو همغه صحیح ده.
کماذکره الشافعی لکه دا خبره امام شافعی صاحب ذکر کړیده لکن دامام شافعی صاحب
قیاس دنکاح په نورو عقودو مالیه له دریو وجهونه صحیح کیږي اول نکاح سنت ده اوبیعه
مباح ده. دویم په نکاح کښی مهر مقصود نه وي اوپه بیعه کښی ثمن(عوض) مقصودوي.
دریم نکاح کښی گواهان شرط دي اوپه بیعه کښی ندی شرط. وفرع علی هذا او پدی
مخکښی مسئله باندی امام شافعی صاحب تفریع کړیده چه ان التخلی لنفل العبادة خان

قوله الاشتغال بالنكاح دابهتره دى دمشغولتيا دنكاح نه خالي كول دنفلو عبادت لپاره افضل من الاشتغال بالنكاح دابهتره دى دمشغولتيا دنكاح نه خالي كول دنفلو عبادت لپاره كښې كوي چه هغه معتدل مزاجه وي خكه امام شافعي صاحب داخبره دهغه كس په باره كښې كوي چه هغه معتدل مزاجه وي خكه يو خو التوقان دى توقان ديته وائى كه يو سړي كښې قوت شهواني دومره زيات وي چه ويرېږى چه زنا يعنى گناه ونكړم نو دى كس ته واده اونكاح كول فرض دي عندنا وعنده ، پدى توقان كښى امام شافعى صاحب هم زمونږ سره متفق دى توقان په معنى دشهوت سره راخي لكه صاحب د كنز والى(النكاح سنة وعندالتوقان واجب) يعنى نكاح سنته ده اوچه سړي كښى توقان (شهوت) وي نو بيا واجبه ده خكه چه دزنا نه خان ساتل فرض دي٠ نو خبره دهغه سړي دى چه هغه سوړ سړى وي شهوت ئى كم وي اودنكاح طرف ته ئى بلكل سوچ اوخيال نوي نو ايا دا سړى به نفلى عبادت كوي او كه نكاح به كوي؟ دا خبره دامام ابوحنيفه رحمة الله عليه او امام شافعى صاحب په منځ كښى اختلافى خبره ده امام ابو حنيفه صاحب وائى اگر چه داسړى نكاح ته ضرورت نلري خو بيا هم نكاح افضله دى ده لره دنفل عبادت نه٠ اوامام شافعى صاحب وائى چه دده لپاره نفل افضل دي له نكاح نه خكه هغه دليل پيش كوي چه نكاح يوعقد دى دعقودو ماليه وه نه نو لكه خرنگه چه نور عقود دنفلو مقابله نشى كولى همدارنگه نكاح هم دنفلو مقابله نشى كولى اونفل دعقود ماليه نه نه دي همدارنگه دنكاح نه هم نفل بنه دي امام شافعى صاحب چه كله نكاح ته عقد مالي ووبل نو يوه خبره خو ئى دا وربان‌دى چسپانده كړى وه چه لكه خرنگه په بيعه كښى په مابين دبائع اومشترى كښى په خه باندى رضا راغله نو بيعه صحيح ده همدارنگه دزوج او دزوجى چه په خه باندى رضاراغله نو نكاح وشوه او بله ئى وربان‌دى دا خبره چسپانده كړه چه تخلى دنفلو دعبادت لپاره بنه ده دنكاح نه خكه چه نفل دبيع او شراء نه زيات ثواب لري بل امام شافعى صاحب دليل نيسى ديحيىٰ عليه السلام په قول لكه ديحيىٰ عليه السلام په تعريف كښى راخي ﴿ وَسَيِّدًا وَّحَصُوْرًا وَّنَبِيًّا مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ * ﴾( ال عمران/۳۹) يحيىٰ عليه السلام دقوم سرداريېغمبر عظيم الشان اودصلحاءوانبياؤ له جملى ځخه وه او واده ئى نه وه كړى٠ نو امام شافعى صاحب وائى چه الله تعالى ديحى عليه السلام تعريف بترك نكاح كوي نو معلوميږي دا چه ترك دنكاح دا امر مستحسن دى نو دعقد ماليه وه نه زيات

Maktaba Tul Ishaat.com

بهتردی، اوبل دلیل دامام شافعی صاحب قول درسول الله ﷺ دی (ماترکت فتنة اشد علی امتی من النساء)ماپه خپل امت باندی دښځو نه بغیر زیاته اولویه فتنه نده پرایښی (ماترکت بعدی فتنة اشد علی الرجال من النساء) نو امام شافعی وائی چه ولی سړئ خان په فتنه کښی غورځوي ، اوبل دلیل دامام شافعی صاحب دادی هغه وائی چه کافر هم من اهل نکاح دی نو که نکاح خه ښه شی وای نو بیا خو ته کافر سره برابر شوی اوداسی نور ډیر دلائل دي چه هغوئ پری استدلال کوي چه دنکاح نه نفل بهتردي لکن داحنافو علماء دهغوی نه جواب کوي چه منم چه نکاح یو عقد دی دعقودو نه لکن رسول الله ﷺ ددی عقد په باره کښی (النکاح من سنتی )ویلی دي اورسول الله ﷺ دبیع اوشراء په باره کښی ندي ویلي چه البیع من سنتی نو ددی وجی نه مونږ وایو چه نکاح افضله ده۰ همدارنگه رسول الله ﷺ فرمائی چه (النکاح من سنة المرسلین) نکاح دپیغمبرانو سنت دی او پاتی شو حصُورًا دیواخی دیحی علیه السلام صفت دی دی کښی ورسره نور ندي برابر خکه الله تعالی دنورو پیغمبرانو باره کښی فرمائی ﴿ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلاً مِّنْ قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ اَزْوَاجًا وَّذُرِّيَّةً وَمَاكَانَ لِرَسُوْلٍ اَنْ يَّاْتِيَ بِاٰيَةٍ اِلاَّ بِاِذْنِ اللّٰهِ لِكُلِّ اَجَلٍ كِتَابٌ* ﴾ الرعد/٣٨) پدی ایت کښی الله پاك دپیغمبر ﷺ شان بیانوي چه دپیغمبر شان دادی چه دهغه به بیبیانی اوبچیان وي نو بغیر دیحی علیه السلام نه بل پیغمبر نشته چه واده ئی نه وي کړی نو حصورًا یواخی دهغه صفت وگرځیدو دنورو لپاره واده افضل دی ، اوبل داچه امام شافعی صاحب داپیش کوي چه ( ماترکت بعدی فتنة اشد علی الرجال من النساء ) نو داخو دهمدغی وجی نه دئ چه یو سړی ناواده وي نو هغه په گناه کښی مبتلاء کیږی او چه کله واده وکړي نو هغه به دښځو دفتنو نه بچ اومحفوظ وي لکه رسول الله ﷺ فرمائی (یامعشرالشباب من استطاع منکم الباءة فلیتزوج فانه أغضُّ للبصر واحصن للفرج ومن لم یستطع فعلیه بالصوم فانه له وجاءٌ ) متفق علیه ، رواه مشکوٰة الجزء الثانی۰ معنی داچه ای ځوانانو کوم سړی چه دواده طاقت لري نونکاح دی وکړي خکه دابه ئی نظر ښکته کړي اوشرم گاه به ئی پاکه کړي یعنی زنا کښی به نه مبتلاء کیږي اوځوك چه د واده طاقت نه لري نو روژی دی ونیسی خکه دروژی له وجی نه سړی دشهوت نه بچ شي، دلته کښی فلیتزوج دامر صیغه ده یعنی

فرمانی ( رسول الله ﷺ فرمانی ( رسول الله ﷺ امرکړیدی په نکاح باندی. اوبل حدیث کښی فرمائی (تزوجوا الودودالولود ) تناکحوا وتوالدوا فانی اباهی بکم الامم) اوبل حدیث کښی فرمائی (تزوجوا الودودالولود ) يعنی دهغی ښځی سره نکاح او واده وکړئ چه ډیره مینه ناکه وي الولود چه ډیرزيات بچی راوري، رسول الله ﷺ دا اوامر دبیع په باره کښی ندی کړي لکه څرنګه چه دنکاح په باره کښی مونږ اوامر ذکرکړل اوبل داچه نفل دا یو عبادت لازمی دی څکه کوم کس چه نفل کوي صرف هغه ته ثواب ملاویږی او نکاح عبادت متعدي دی څکه چه څوك واده وکړي او خپلی ښځی ته به ډوډی راوری نو په دی ایت نی عمل وکړو ﴿ وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ ﴾ ( البقرة،/۲۳۲) مولود نه مراد پلاردی یعنی پلار به دبچی مورته ډوډی راوري اويا دهغه بچي پيداشي دهغوی دروتي وغيره انتظام به کوي لکه حديث کښی راځی (حتی بخنقة )یعنی چه دچا لوروي ماشومه اوهغی ته لوپټه(ټکری)وغیره اخلی نوداهم خیرات دی یا یو سړی خپلی ښځی ته په خوله کښی یوه لقمه ډوډی ورکړي داهم عبادت دی څکه حديث کښی راځی (حتی لقمة تجعل فی فی امرءتك ) اويا دا چه بچي دی پیداشو اوپه مدرسه کښی دی داخل کړو اوحافظ شولو لکه حديث کښي راځي چا چه قرآن يادکړو (ألبس والداه تاجاً يوم القيامة) يعنی دحافظ مور اوپلار ته به په ورځ دقیامت تاج ورپسرکولی شي نو ای امام شافعي صاحب په بیعه کښی چاته تاج ورپسرکولی کیږي ؟ نو داسی ډیر عبادتونه دي چه هغه دنکاح له وجی سړی کولی شي اوثواب ورته ملاویدی‌شي نوامام ابوحنیفه صاحب فرمائی چه نکاح دنورو پشان یوعام عقد مه ګرځوه بلکه دا یو خاص عبادت دی نو له دی وجی نه نکاح بهتره دی. اوبل داچه واباح ابطاله او مباح ګرځولی دی امام شافعي صاحب باطل والئ ددی نکاح بالطلاق په قیام دطلاق سره یعنی په ورکولو دطلاق سره کیف ما شاءالزوج خرنګه چه خوخه شی دخاوند من جمع وتفريق له جمع اوتفريق نه يعنی که ټول په یو ځای ورکوي اوکه یو یو ورکوي اومونږ وایو چه دری واړه طلاق په یو ځای ورکول دا امرمبغوض دی ، صحیح دی چه طلاق ابغض المباحات دی څکه خدای جل جلاله پری ډیر خفه کیږی اوشیطان پری ډیر خوشحالیږي لکن دضرورت له وجی‌نه جائزاومباح ګرځیدلی‌دی نو قانون دادی چه

Maktaba Tul Ishaat.com

الضروری یتقدربقدرالضرورة. اوبل قانون دادی چه الضرورات توبیح المحضورات ، محضورات بمعنی ممنوعات یالکه چه وائی (ضرورت باشد روا باشد) لکه یو سړی په ځنګل کښی له وګی مري اود خنزیرغوښه ده نو دومره خوري‌ښی چه ژوندی پری پاتی شي ځکه الله تعالی وائی چه ﴿ وَلَاتُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ ﴾ (البقره /۱۹۵) ای ولا تهلکم بایدیکم نو ضرورت صرف په یو طلاق کښی دی یوطلاق ورته ورکړه نوخبره ختمه ده لکن امام شافعي، صاحب یوبل قیاس کوي هغه داچه طلاق نی قیاس کړو په عقد مالی باندی لکه څرنګه چه په بیعه اوشراء کښی بایع او مشتری لره جائز دی په فسخ دبیعه کښی چه کل مبیعه یانصف مبیعه اویاثلث مبیعه واپس کوي نو هغه وائی چه همدارنګه په نکاح کښی‌هم که یو یادوه یا دری طلاقه ورکوي ورکولی شی لکن زمونږ په نزد باندی کل طلاق ورکول ښځی ته په یو ځای باندی ناجائز ندي لکن مکروه دي. داوجه ده چه خلك په عذاب کښی مبتلاء دی دری طلاقه په یو ځای ورکړي بیا ورسره علاج نوي نو پکارده چه یو طلاق ورکی اوبیا خپل ځان وګوري چه ګزاره بغیر دښځی نه کولی شي اوکنه که ګزاره نشی کولی نو بیا رجوع کولی شي نو داامام ابوحنیفه صاحب خومره ښه اوبهترین مذهب دی هغه وائی چه یو طلاق ورکړه اوځان معلوم کړه لکه وائی چه ( مردیت بیاآزمانیوانګهیزن کن ) نوهرکله چه امام شافعی صاحب نکاح په عقد مالی باندی قیاس کړه نو تولی مذکوره خبری نی پکښی روا کړی واباح ارسال الثلث جملة واحدة همدارنګه امام شافعی جائز کړه دری طلاقه جملةً واحدةً یعنی په یو ځای یو سړی خپلی ښځی ته دری طلاقه ورکولی شي. لکن زمونږ په نزد باندی دفعةً واحدةً دری طلاقه مکروه دي ځکه طلاق دضرورت له وجی نه راغلی ځکه که دسړي له خپلی ښځی سره تعلقات ښه نوي نو بیا به څرنګه ژوند ورسره تیروي نوضرورت دادی چه یو طلاق دی ورکړي که دری طلاقه ورکړی بیا خو دبل خاوند د نکاح نه مخکښی ورته رجوع نشی کولی امام شافعی صاحب دلته قیاس په عقد مالی باندی کوي یعنی لکه څرنګه چه بائع اومشتری کل(توله) مبیعه واپس کولی شی یانصف(نیمه) نوداسی دلته کښی‌هم یو یا دوه یادری طلاقه ورکوی‌شي نو له دی وجی نه هغه مباح ګرځولی‌دی. وجعل عقد النکاح قابلاللفسخ

بالخلع اوګرځولی دی امام شافعی صاحب عقد نکاح قابل دفسخ په خلعی سره. خلع دیته وائی چه یو سړی ښځی ته طلاق نه ورکوي او ښځه ورته اووائی چه طلاق راکړه خاوند ورته اووائی صحیح ده طلاق درکوم خویدی شرط چه ما کوم مهردرکړی هغه واپس راکړی نو ښځی ورته مهر واپس ورکړو نودی سره نکاح فسخه شوه نو دوباره که دغه سړی دغه ښځه په نکاح باندی اخلی دخلع نه پس نو امام شافعی صاحب وائی چه دغه سړی په دغه ښځه باندی ددريو طلاقو حق لري ځکه مخکنئ نکاح ختمه شوه اوس دی جدیده نکاح کښی جدید دری طلاقه دي ځکه دهغه په نزد هرسړي ته شریعت ددریو طلاقو حق ورکړیدی اوزمونږ په نزد باندی دغه خلع طلاق بائن دی نو که ده سره دوباره نکاح وکړي نو دئ صرف ددوه طلاقو حق پری لري ځکه هغی خلعی سره یوطلاق واقع دی ، ددی مثال داسی دی چه هر مسلمان ته شریعت دری کارتوس(مرمئ) ورکړیدی که یوکارتوس استعمال کړي نو واپس نی بیا نشی استعمالوی وکذلك قوله تعالی او همدارنګه قول دالله تعالی دی چه حتی تنکح زوجا غیره دتنکح نه مراد عقد دی نه وطی، دا هم خاص دکتاب الله دی او خاص دکتاب الله واجب العمل وي نوکه چیرته دخاص دکتاب الله سره دقیاس یا دخبرواحد مقابله راغله نوکه په دواړو عمل ممکن وه ډیره ښه ده ځکه چه (الاعمال اولی من الاهمال) لکن که په دواړو عمل ممکن نوه نو خاص دکتاب الله به واجب العمل وي اومقابل به ئی پرینبودلی شي. نو دامسئله چه حتی تنکح زوجاغیره الله تعالی فرمائی ﴿ فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتَّى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ ﴾ سورة البقرة، الاية: ۲۳۰ یعنی که یو سړئ خپلی ښځی ته دوه طلاقه ورکړي نو بیا هم ورته رجوع کولی شي لکن که چیرته دی سړي خپلی ته دریم طلاق ورکړو نو بیادی سړي ته دابنځه جائزه نده تردی پوری چه نکاح وکړي دابنځه دبل سړي سره یعنی چه بل سړي سره نکاح وکړي او هغه ئی طلاقه کړي او عدت تیرشی بیا واپس نی دئ په نکاح اخشتی شي، تنکح صیغه د واحد مؤنث غائب ده ځکه نکح ینکح ضرب یضرب نه راخی نو چه صیغه دغائب شوه ضمیر پکښی راجع شو دغی ښځی ته چه کومه مطلقه ده نودی نه دامعلومه شوه چه ښځه پخپله هم نکاح کولی شي ځکه معلومیږی چه نکاح بعبارت النساء منعقده ده اوامام شافعی صاحب وائی

Maktaba Tul Ishaat.com

چه حديث كښې راغلی ( أيّ ما امراة نكحت بغير اذن وليها فنكاحها باطلٌ باطل باطل )
يعنی حديث كښې راځی هرهغه ښځه چه واده وكړي بغير داجازت دولی نه ، ولی دښځی پلاريا ورور ، تره اويا بل مشر او خپل ته ويلی شي نو كه چيرته يوه ښځه بغير داجازت دولی نه نكاح وكړي نو رسول الله ﷺ فرمائی فنكاحها باطل باطل باطل نو امام شافعی صاحب اوامام احمد په نزد باندی نكاح ښځه پخپله نشی كولی هغوئ حبرواحد ته جيح وركوي اومونږه وايو په ايت كښی څه دي ؟ دقرآن ايت چه قطعی الثبوت دی اوقطعی الدلالت علی المعنی دی دی نه خو معلوميږي چه ښځه خپل ځان پخپله واده كوئ شي څكه حتی تنكح دمعلوم صيغه ده نه دمجهول اوكه تنكح يعنی دمجهول صيغه وای نو بيا به معنی داسي راتله تر دی چه واده كړئ شی نو بيا صحيح ده چه ولي به ئی واده كوي، لكن مونږه خاص دكتاب الله واجب العمل گڼو اودهغه مقابله كښی خبرواحداوقياس پريږدو٠ بيا امام شافعی صاحب بل دليل پيش كوي چه حديث درسول اللهﷺ دی (لانكاح إلا بولی) دولی نه بغير نكاح بلكل نه كيږي٠ هغوی خبرواحد واخشتو اوايت (حتی تنكح زوجاًغيره) هغه ئی متروك العمل كړو٠ او زمونږ همغه دليل دی چه داصول فقه قانون دی چه خاص دكتاب الله واجب العمل وي او دهغه مقابل كه خبرواحد ياقياس راشی اوجمع ددوئ دواړو په منځ كښی ممكنه نوي نوخبرواحد اوقياس به پريښودلی شی٠ اوبل دلته كښی احناف په حديثو كښی تأويل كوي يعنی امام شافعی صاحب چه وائی لا تنكح إلا بولی نو دا يا نهی ده اويا نفی ده كه نهی وي لكه لاتنكح النكاح نو نهی شفقتاً ده.رسول الله ﷺ په ښځه باندی شفقت وكړو څكه ورته وائی چه پخپله خوخه واده مه كوه دولي نه پكښی مشوره واخله څكه ښځه ناقصة العقل وي بل ښځی ته سړی نوي معلوم دسړو تعلق دسړوسره وي نوسړي سړي پيژني، اوكه نفی وي نودا نفی دكامل ده لكه لانكاح إلابولی يعنی لانكاح الكاملة إلابولی معنی داچه كامله نكاح هغه ده چه د ولی په ذريعی سره وشي ، دښځی نكاح هم صحيح كيږی لكن كامله نده هسی نه چه چيرته ماته نشی نو دابيا نفی دكمال شوه لكه لافتی إلاعلی ، ولی نور ځوانان نشته ؟ لكن كامل ځوان حضرت علی رضی الله عنه دی يالكه لاسيف إلا ذالفقار ولی نوری توری

نشته ؟ لکن کامله توره ذالفقار دی نو دلته کښې هم پدی حدیث کښې نفی دکمال دی لکه (لاصلوة لجارالمسجد إلا في المسجد) مثلاً دجومات(مسجد) سره نزدی دچا کور دی دهغه لمونځ په کور کښې کیږی لکن کامل ندی ځکه دجمعي لمونځ ۲۷ درجې ثواب لري او خانته لمونځ یوه درجه ثواب لري نود لاصلوة نه مراد لاصلوة کاملة شو نودلته کښې هم دلانکاح إلابولي نه مراد کامله نکاح دی اوکامله نکاح هغه دی چه دولی په اجازت سره وي اودا حدیث چه ( ایّ ماامرأة نکحت بغیر اذن ولیها فنکاحها باطل باطل باطل ) ددی معنی دادی چه نکاح نی په معرض دبطلان کښې دی قریبه ده چه باطله شي٠ او مونږ وایو چه نکاح ځکه صحیح ده چه په همدغه حدیث کښې راځی پیغمبر علیه السلام فرمائی که نکاح وشوه نو مهر به ورکوي نو دمهر دورکولو نه دامعلومه شوه چه نکاح صحیح دی ځکه په زنا کښې خو څوك مهر نه ورکوي٠ اوبل دلیل داده چه قرآن مجید کښې راځی الله تعالی فرمائی ﴿ فَلاَ تَعْضُلُوْهُنَّ اَنْ يَّنْكِحْنَ اَزْوَاجَهُنَّ ﴾ البقرة/۲۳۲) نودلته کښې أن ینکحن صیغه دجمع مؤنث غائبی ده که یو سړي یوی ښځې ته طلاق ورکړو اوطلاق طلاق رجعي وه پکار خو داده چه دا سړیٰ په عدت کښې دننه ورته رجوع وکړي لکن که دی سړی په عدت کښې رجوع ونکړه اوعدت تیرشو اوس بیا دا سړیٰ غواړي چه له دی ښځې سره دوباره نکاح وکړي نو داصحیح ده، او داسی درسول الله ﷺ په زمانه کښې شوي وه دمعقل بن یسار خور ته خاوند طلاق رجعي ورکړو اوبیا عدت تیرشو لکن رجوع ئي ورته نه وه کړی نو بیا هغه خاوند راغلو اوغوښتل ئي چه هغې ښځې سره بیا نکاح وکړي نو معقل بن یسار نه نی غوښتنه وکړه هغه ورته غوصه شو اوانکار ئي ورته وکړو نو ایت نازل شو فلا تعضلوهن الخ مه منعه کوئ دانبڅې ان ینکحن ازواجهن چه نکاح نی کړی وي دخپلو خاوندانو سره که چیرته دوئ پخپله کښې راضي وي، پدی ایت کښې هم ان ینکحن صیغه دمعلوم ده نو معلومیږي چه ښځه پخپله واده کولی شي٠ اوبل دلیل دادی چه حضرت عایشي (رض) دخپل ورور (عبدالرحمن) لور حفصه پخپله واده کړیده نو معلومیږی چه نکاح بعبارت النساء منعقده ده همدارنګه حضرت عایشی رضی الله عنها یوه انصاریه ښځه واده کړیوه دا هم دال دی په تصحیح دنکاح بعبارت النساء٠اوبل دلیل داچه امام شافعي

Maktaba Tul Ishaat.com

صاحب نکاح یو عقد گرځولی دعقودو نه نو چه ښځه نورعقود کولی شی دخان لپاره نونکاح هم کولی شي ځکه داهم یو عقد دی دعقودونه نو معلومیږي چه ښځه پخپله خوخه نکاح کولی شي اوصحیح دی ، لکن ښکار نده چه ښځه پخپله خوخه بغیر دولی داجازت نه نکاح وکړي ځکه ښځی سړي نه پیژنې، اوبل زمونږ دلیل داحدیث دی چه (الأیم احق بنفسها من ولیها) کونده ښځه زیاته حقداره ده دخپل ځان دهغی دولي نه په کور جوړولو کښی۰نو امام شافعی صاحب دخبرواحد له وجی نه خاص دکتاب الله پریږدی او مونږ په خاص دکتاب الله باندی عمل کوه۰خاصٌ یعنی دا ایت مذکوره خاص دی فی‌وجودالنکاح من المرأة په وجود دنکاح له طرفه دښځی نه یعنی چه نکاح دښځی له طرفه نه راتلې شي۰ فلایترك العملُ به پس نه شی پریښودی عمل پدی خاص دکتاب الله باندی لأجل الخبرالواحد کما فعله الشافعی اوهغه خبرواحد دادی بما رُوی عن النبی علیه السّلام ایماامرأةٍ نکحَتْ که چیرته په نکاح ورکه یوی ښځی نفسها خپل ځان بغیر اذن ولیّها بغیر داجازت دولی نه فنکاحُها باطلٌ باطلٌ باطلٌ نو نکاح ئی باطله ده باطله ده باطله ده۰ دلته په احنافو باندی اعتراض دی چه په صبیّه(وړه جینۍ) اوامة(وینځه) کښی خو احناف پدی حدیث باندی عمل کوي اوددی حدیث یعنی خبرواحد له وجی نه خاص دکتاب الله پریږدی ځکه احناف وائی که یوه ماشومه یا یوه وینځه ځان په نکاح ورکړي نو ددی دواړو نکاح باطله ده حالانکه ایت ټولو ته شامل دی ځکه صیغه دحتی تنکح خو عامه ده چه نکاح کونکی صبیة وي اوکه کبیرة وي مجنونه وي اوکه صحیحه وي یا حرة وي اوکه امة وي دی ټولو ته شامل دی نو څنګه احناف دصبیې او امی نکاح جائز نه منی او نوری نکاح ګانی صحیح منی؟ احناف ورته جواب کوي چه نکاح منعقده کیږي ایجاب او په قبول سره او صبیّه اهل دایجاب اودقبول نه ده ځکه ایجاب اوقبول کیږي په کلام او وړه ماشومه کلام نشی کولی، او په نکاح دامة کښی مونږ ځکه نکاح جائز نه منو چه هلته مصالح دمولی خرابیږي اوامة خوددی لپاره وي چه دمولی خدمت وکړي نه دواده لپاره، او که مولی ورته اجازت وکړي نو بیا صحیح دی لکن بغیر داذن دمولی نه هغه واده نشی کولی ځکه هغه مملوکه دغیر ده چه هغه مملوك ده ویتفرع منه او ددی اختلافی مسئلونه بیا ډیر

زیات اختلافی مسئلی را اوخی په مابین داحنافو او شوافعو کښې. **الخلاف فی حل الوطی** یوې ښځې پخپله خوخه واده وکړو احناف وائي چه وطی لی جائز ده او شوافع وائي چه نکاح لئه شوې نو وطی خرنگه جائز شوه **ولزوم المهر** او زمونږ په نزد باندی مهر لازم دی یعنی دا سړی به دی ښځی ته مهر ورکوي لکن شوافع وائي چه نکاح نده شوی نومهر څرنگه لازمیږي نو دامام شافعی صاحب په نزد مهرلازم ندی **والنفقة والسکنی** همدارنگه زمونږ په نزد دی سړی باندی ددی ښځی نفقه لازم دی او هم ئی سکنی لازمه ده ،اوهغه وائی چه نکاح نده شوی نه نفقه لازم ده اونه سکنی لازم دی **ووقوع الطلاق** او مونږ وایو چه که داسړی دی ښځی ته طلاق ورکړي نو صحیح ده اوشوافع وائی چه نکاح نشته نو طلاق له کونه شو طلاق خو فرعه دنکاح ده **والنکاح بعد الطلقات الثلث** همدارنگه نکاح ورونسته ددریو طلاقو نه دهغوئ په نزدجائزدی. یعنی دی سړي که دی ښځې ته دری طلاقه ورکړه عدت لانده تیرشوی نو دا ښځه بل سړي سره واده کولی شي اوکنه ؟ امام شافعی صاحب وائی چه صحیح ده څکه هغه وائی چه نکاح له سره نده شوی نو طلاق به کونه شو. اومونږ وایو چه واده دبل سړي سره نشی کولی څکه عدت پاتی ده **علی ما ذهب الیه قدماء اصحابه** لکه څرنگه چه داخبره دده پخوانی علماء اوملگری کوي یعنی واقع **بخلاف ما اختاره المتاخرون منهم** په خلاف متأخرینو شوافعو څکه هغوی وائی چه ښځه دعدت نه مخکښ نکاح نشی کولی هغوی هم زمونږدلیل نیسی چه ددي ښځې نکاح شوی وه.

**التمام فنوعان** عام په دوه قسمه دی عام **خص عنه البعض** یوهغه عام دی چه دهغه نه افراد خاص کړی شوی وي وعام **لم یخص عنه الشیء** او بل هغه عام دی چه هغه نه دهم نوي خاص کړئ شوي **فالعام الذی** پس هغه عام **لم یخص عنه شیء** چه خاص کړخولی شوئ دهغه نه څه شی **فهو بمنزلة الخاص** نوهغه عام چه تخصیص تري نوي په منزله دخاص سره دي **فی حق لزوم العمل به لامحالة** چه خامخا په هغه باندی عمل دي لکه څرنگه چه خاص واجب العمل وه نوهغه عام چه د هغه نه څه افراد خاص شوي نوي نوهغه به په خپله معنی باندي قطعا دلالت کوي او دهغه په معنی به

Maktaba Tul Ishaat.com

عمل کول واجب وي ځکه لفظ دعام واضع وضعه کړیدئ دمعنی عامی لپاره اوعام دیته وائ چه ډیرو افرادو ته شامل وي لکه المسلمون الکافرون داعام دی اوتماموافرادوته شامل دي نوپکاردادی چه عام پخپله معنی باندي په طریقی دوجوب سره دلالت کوي ورنه که عام په تماموافرادو د معنی باندی دلالت ونکړي نوبیا دی وضعی څخه فائده نشته ځکه واضع خو دئ وضعه کړئ ددي لپاره چه دا لفظ به خپلوجمیعو افرادو ته شامل وي لکه په قرآن مجیدکښي راځي ﴿ فَمِن مَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ﴾ (النساء/۲۵) الله تعالی فرمائی چه جائزدي هغه وینځي چه مالکان دئ هغوي لره لاسونه ستاسونوخومره وینځي چه وي او دهرملك چه وي ذی سړي لپاره روا دي ځکه مونږ ویلي وه برابره خبره ده چه عام په اعتبار دلفظ سره عام وي لکه المسلمون او که په اعتبار دمعنی سره عام وي لکه من او ما نو دلته په ما ملکت ایمانکم کښی عموم دی مطلق وینځی تري مراد دي نو که دیو سړي لس (۱۰) وینځی هم وي نو ټولی ورته جائز دي یا لکه بل ځائ په قرآن مجید کښی الله تعالی فرمائی ( وَأَنْ تَجْمَعُوا بَيْنَ الأُخْتَيْنِ إِلاَّ مَا قَدْ سَلَفَ ﴾ (النساء/۲۳) یعنی حرام دی جمعه په ما بین داختینو کښی مطلقا . که یو سړي دیوی بنځی سره نکاح کړیده نو په ده باندی ددی خورحرامه ده برابره خبره ده چه اختین نسبا وي اوکه اختین رضاعا وي ۰ خویندی په دری قسمه دي ۱. سکه خور (اعیانی ) ۲. میرانه خور (علاتي ) میرانه خور بیا په دوه قسمه ده مورشریکه خوروي (اخیافي ) اوکه پلار شریکه خور وي (علاتي) او ۳. رضاعي خور دی.

لکن که یو عام کښی تخصیص دبعضو افرادو شوئ وي نو په دې کښی بیا دجمهورو علماؤ قول دادئ چه هغه عام به بیا په خپله معنی وجوباً دلالت نکوي اوحکم به هغه کښی تمامو افرا دو ته شامل نوي ددی مثال بلکل داسی دی چه دګوری یوه بوریٔ دی او خوله ئی ګنډلی شویده نوهغی نه هیڅا هم ګوره ندی ویستی نو که یوکس په هغه کښی سوریٔ وکړي او چکئ تری اوباسي نو چه لاره پکښی پیدا شوه احتمال شته چه نوری چکئ هم ترینه نور څوك اوباسی نو عام هم داسی دي چه ترڅو تخصیص ترینه نوي شوئ نو قطعي الدلالة علی‌المعنی وي او چه کله ددی خبری احتمال پیداشو چه بعضی افراد تری خاص شي نو بیا قطعي الدلالة علی‌المعنی نوي اوهغه حکم یقینی‌طورباندی ټولو افرادو ته نوي

دخصوص اودعموم دلیل شامل . او بعضي اشاعره توقف کوي هغوئ وائي چه ترخو پوري دخصوص اودعموم دليل شامل . او بعضي اشاعره توقف کوي هغوئ وائي چه ترخو پوري د مجمل دی او مجمل بغير د بيان نه پخپله معني باندي دلالت نه کوي خکه بعض اشاعره وائي چه که يوه جمعه داخلي نو جمع به خالي نه وي يا به داجمعه جمع قلته وي يا به جمع کثرته وي جمع قلته ديته وائ چه دريو(۳) نه ترلسو (۱۰) پورى دلالت کوي او جمع کثرته ديته وائ چه دريو(۳) نه تر ما لانهاية پوري دلالت کوي نو که يو کس ووائ چه لفلان علي افلس چه فلانکي په ما باندي پيسى دي نو افلس جمع قلته ده او مجمل ده ترخو پوري چه هغه ددي بيان نوي کړی چه دا خو پيسى دي مثلا لس (۱۰)دي سل(۱۰۰) دي وغيره نوهغوى پدي باندي دليل نيسى چه عام شامل الافراد دى لکن مجمل دى لکه خرنګه چه دافلس لفظ عام دى لکن مجمل دى مخکښ دبيان نه دا پته نه لګيږي چه دا خو دي تر خو پوري چه متکلم د هغه بيان ونکړي خکه يو لفظ اګر چه عام وي لکن دجمعى قلتىاو جمعى کثرتى نه نشى خالي کيداى يابه جمع قلته وي يابه جمع کثرته لکن جمهورعلماء ددى قول داشاعرو نه جواب کوي چه کله يو لفظ استعمال شو نو د هغه جمع قلته جمع کثرته به ورستو ګورولکن که دي نه بغير يوه جمع راغلي وه اود هغى تخصيص نوه کړى شوى نو هغه به خپلى معنى ته من حيث الشمول شامله وي **وعلى هذا قلنا** او بناء پردي قول مذکور مونږ وايو **اذاقطع يدالسارق** کله چه دغل لاس پرى کړىشو **بعدما هلك المسروق عنده** روستو له دينه چه هغه مال مسروقه هلاك شو ده سره او ده سره موجودنوه لکه يوغل ديوسړي نه غلا وکړي اوګواهان ګواهي وکړي چه مونږدي غل سره ددي سړي مال ليدلى وه اوقاضي فيصله وکړه اولاس ئى قطع شو اوهغه مال مسروقه ددي غل سره موجودندى بلکه هلاك شوى وى **لايجب عليه الضمان** واجب نه دي پدي غل باندي تاوان **لان القطع جزاء جميع ماكتسبه السارق** خکه قطع ديد تاوان اوبدله ده دټول هغه کسب نه کوم چه غل کړيدى اوتاوان لزوم پرى نشته خکه الله تعالى فرمائى۰﴿ وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوٓا أَيْدِيَهُمَا جَزَآءً بِمَا كَسَبَا ﴾ (المائده/۳۸) دغل سړي اودغلى ښخي لاسونه قطع کړئ، ددى دواړو لپاره داجزاء اوبدله ده دهغه څه نه چه دوئ کړيدي يعنى غلا ۰ نو پدي بما کسبا

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې دا ما موصوله ده او عام ده يعنې په تمامو هغه کارونو چه ده کړيدي نو معلوميږی چه
دا قطع ديدجزاء شوه دجميع ماکسبا نه نوامام ابوحنيفه رحمه الله تعالیعليه پدي ما
باندي دليل نيسی چه ما عامه ده اوشامله ده ټول هغه کسب ته چه دي غل کړيدي نو
تاوان ته ضرورت نشته ځکه چه د هغه غلا په مقابل کښې خولي لاس قطع شو. او وائی چه
فإن كلمة ما عامة او کلمه دما عامه ده په جميع ماکسبا کښې يتناول جميع ما وجد اوشامله
ده ټول هغه ته چه موجودشوي دي من السارق دغله نه او هغه يوه سرقه کول دي او بل
مال مسروقه تری هلاك شو نو دامام ابوحنيفه صاحب په نزددي صورت کښې تاوان اخستل
ترينه جائز نه دي وبتقدير ايجاب الضمان او پدي صورت کښې چه مقرر کړی شي تاوان هم
يكون الجزاء هوالمجموع نوشي به جزاء مجموعه دقطع يد اوضمان ددواړونه نه يواځی
دقطع ديد نه اوحالانکه يواځی قطع ديد جزاء دټولو هغو کارونو ده کوم چه سارق کړيدی
چه هغه سرقه او هلاکت دمسروقی ځکه الله تعالی وفرمائل جزاء بماکسبا دټول هغه
اعمالو چه کوم چه سارق کړيدي يواځی ورته قطع ديدکافی دی نه تاوان،اوکه تاوان
ورسره شرط کړي نوبيابواځی قطع ديدخوجزاءدجميع ماکسبا رانغله . نوکچيرته داسیشي
يعنیقطع ديداوضمان دواړه مقدر کړی شي نو بيا خو لفظ د ما باندی عمل رانغئ، وبل
داچه امام ابوحنيفه رحمة الله عليه قانون دادی چه ( لايجتمع القطع مع الغرم ) يعنی قطع
دضمان سره نه جمع کيږی ځکه الله پاك په آيت کښې يواځی قطع ديد ذکر کړيدئ نه
دتاوان ،او امام شافعي رحمة الله عليه وائی کچيرته غل مالداره وه او پيسی ورسره وي نو
هغه وخت به پيسی تری واخلی او که غريب وه نو بيا به قرض دار يعنی دين به پری لازم
شي او چه کله مالدار شي نو بيا به تری واخستل شي٠او امام مالك رحمة الله عليه وائی
کچيرته مالدار وي نو تری وابه اخستل شي او که غريب وه بيا به ئی تری نه اخلی٠نودلته
کښې معلومه شوه چه امام ابو حنيفة صاحب يواځی قطع ديد جزاء دماکسبا گرځوي ، له
دغه وجهی نه قاضي ابوالحسن هم دامام صاحب رايه غوره کړيده او هغه پخپل کتاب کښی
يو حديث هم نقل کوي ( إذا أُقيم علیالسارق الحدُ فلا ضمان عليه ) اگرچه بعضو خلکو
پدی حديث باندی دکمزورتيا الزام هم لگولئ دی، نو دامام ابو حنيفه صاحب په نزد دوه

نه عقوبت دی نو هغه ته یو عقوبت دی نه
عقوبته په یو جنایت نه لازمیږی نو که یو سړی یو جنایت وکړي نو هغه ته یو عقوبت دی نه
دوه عقوبته. ولایترك العمل به او نشي به پرېښودئ عمل پدی عموم دکلمی دما باندی
بالقیاس علی الغصب په قیاس سره په غصب باندی کما فعل الشافعی امام شافعی صاحب دا
مسئله په غصب باندی قیاس کړیدی هغه وائی که یو غاصب چه دچانه په زوره باندی څه
شی واخلی او داماِل مغصوبه دغاصب په لاس کښی هلاك شي نو په غاصب باندی بالاتفاق
تاوان لازم دی نو همدارنګه دهغه په نزد باندی په سارق باندی هم تاوان لازم دی ، نو
مونږ ورته جواب کوو چه داپه هغه باندی مه قیاس کوه څکه چه دغاصب په صورة کښی
کلمه دما ندی راغلی او د سارق په صورة کښی کلمه دما راغلی‌دی ، او دا عاه دي اوهغه
عام دي چه لم یخص منه البعض. والدلیل علی‌ان کلمة ما عامة او دلیل پدی خبره
باندی چه کلمه د ما عامه ده ماذکره محمد هغه قول دامام محمد رحمة الله علیه دی
.دامام محمد په قول مونږ استدلال کولئ شو څکه امام محمد اگر چه لوی فقیه دی لکن
لوی لغوي هم دی یعني دعلم لغة امام هم دی او هغه وائي چه إذاقال المولیٰ لجاریته
هرکله چه مولیٰ خپلی وینځی ته ووېل إن کان مافی بطنك که چیری وي هغه بچئ چه
ستا په خیټه کښی دی غلاماً یعنی وینځی ته ئی ووېل که چیرته له تانه هلك پیداشو فانتِ
حرةٌ نوته آزاده ئی فولدت غلاماً و جاریة نوپیداشو یو بچئی اویوه جینئی یعنی غلام او
وینځه دواړه په یوځائی پیداشو لاتعتق داوینځه به نشي اٰذادولئ څکه مولیٰ ورته ویلی وه
إن کان مافی‌بطنك غلاماً اوما موصوله دی یعني که ستا په خیټه کښی مجموعه من حیث
مجموعه هلك وي اوحالانکه دهغی نه خو جینئ او هلك دواړه پیداشو نو دا وینځه به
نشي اٰذادولئ څکه چه مافی بطن مجموعه هلك نوه بلکه یوهلك اویوه جینئ وه نوپه
کلمه دما باندی عمل رانه غئ، اوبل داچه دعتق لپاره چه هغه کوم شرط ګرځولی وه هغه
پوره نشو ( چه مجموعه من حیث مجموعه به هلك وي ) بلکه پدی صورة کښی نیم هلك
شو اونیمه جینئ شوه اوداپه هغه صورة کښی چه ما موصوله واخلی، اوکه مامصدریه شي نو
بیاهم دامام اوبوحنیفه صاحب مذهب مظبوط اوکلك دی پدی قول کښی ﴿ اَلسَّارِقُ
وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا اَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَاكَسَبَا ﴾ وجه دمظبوط والی ئی دادی چه هرکله ما

Maktaba Tul Ishaat.com

مصدريه شي اومامصدريه ما بعد خپل په تاويل دمصدرسره گرخوي نو بيا به معنى داسې شي
جزاء بکسبهما. خکه دی بماکسبا کښې دا ما ولگيده او دا کسبالی په تاويل دمصدر کښې
وگرځاوه، او مصدرچه مضاف شي اومعرف بالام نوي نو هغه استغراق او عموم پيداکوي نو
دی صورة کښې هم عموم او استغراق راغئ يعنى جزاءً بکسبهما مطلب داچه دوئ څه کړي
وي نو بواخې قطع دبد دهغه جزاء دی بل هيڅ شئ ورسره شريك ندئ، نودلته کښې
بکسبهما شو او کسب مصدردی. او يا به دا معنى شي چه دا قطع ديد جزاء دی دټولو خبرو
لپاره نه د بل شی لپاره وبمثله او په مثل ددی مخکښنی عام سره بو بل مثال هم درته
پيش کوي نقول في قوله تعالى وابو مونږ پدی قول دالله تعالى کښې فاقرأوا ما تيسرمن
القرآن تاسی لولئ هرهغه شی کوم چه اسانه وي دقرآن نه پدی آيت کښې ما عامه ده که
يوکس په لمونځ کښې سورة فاتحه وائی يا سورة يس يا بل سورة وائی صحيح دی، نو خکه
امام ابوحنيفه صاحب وائی چه دقرآن نه معلومه شوه چه مطلق قرأت فرض دی خکه الله
تعالى فرمانى (فاقرأوا ماتيسرمن القرآن) نوکلمه دماعامه ده الحَمْدُ نه واخله تر وَالنَّاسِ پورې
نول قرآن ته شامله ده. او هرچه حديث دی چه (لاصلاة إلابفاتحة الكتاب) يعنى ندی هيڅ
لمونځ مگر په فاتحې دکتاب سره، نوامام ابوحنيفه صاحب فرمانى چه دلاصلاة إلا بفاتحة
الكتاب نه مراد وجوب دی نو هغه فاتحه واجبه وگرځوله په لمونځ کښې کومه چه دحديث نه ثابته
ده او مطلق قراءة نی فرض وگرخولو کوم چه دقرآن نه ثابت دی. امام صاحب ډير مدقق
او دقيق النظر دی امام ابوحنيفه صاحب ته الله جل جلاله کمال فقاهت ورکړی وه خکه
خوبه امام شافعی صاحب ويل چه ( الخلق عيال ابی حنيفه فی الفقه ) مطلب داچه خلق
دامام ابوحنيفه صاحب اولاد دی په فقه کښې، اولنئ سړئ کوم چه دفقه قواعد نی ايجاد
کړيدي هغه امام صاحب دی. نو امام صاحب په دواړو باندی عمل وکړو هم په حديث
باندی چه فاتحه نی واجبه وگرخوله او هم په قرآن باندی چه مطلق قراءة نی فرض
وگرخولو اودا خکه چه په اصل کښې فرض ثابتيری په دليل قطعی سره چه دلالت دلفظ په
خپله معنى باندی هم قطعي وي، بل په حديث مشهورة اوحديث متواتره سره هم فرضيت
ثابتيري نولاصلاة إلابفاتحة الكتاب خو نص دقرآن ندی اونه خبرمشهور يا متواتر دی بلکه

داخو خبرواحددی او په خبرواحد سره فرضیت نه بلکه وجوب ثابت شو نوځکه داامام ابوحنیفه صاحب په دواړوباندې عمل راغلی چه حدیث نه ی وجوب دفاتحی ثابت کړو او دقرآن ایت نه ئې فرضیت دمطلق قراءة ثابت کړو۰او بله مسئله چه اختلافي دی په مابین زموږ (احناف) اوپه مابین د شوافعو او ظواهرو کښې هغه داده چه هغوی وائی چه هر کله امام پسې مقتدي ولاړ وي بایدمقتدي هم فاتحه اووائی ځکه هغوی وائی چه حدیث کښې راغلی دي لاصلاة الا بفاتحة الکتاب او صلاة نکره ده اونکره چه په سیاق د نفی کښې راشي نو عموم پیدا کوی نوهغوئ وائی چه یو لمونځ هم نه کیږی چه فاتحه په کښې نوی ، نوای احنافو ستاسو یولمونځ هم نه کیږی ځکه فاتحه په کښې نیشته او موږ یعنی احناف وایو چه هرکله مقتدی امام پسې په لمانځه کښې ولاړ وي نو مقتدي به فاتحه نه وائی ځکه چه موږ سره دلیل ایت دی الله تعالی فرمائی چه ﴿ اِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَاَنْصِتُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴾ الاعراف/۲۰٤ یعنی الله تعالی‌فرمائی چه هرکله قراءت دقران کیږی نو تاسو ورته غوږ اونیسئ اوچپ شئ نو دی نه معلومیږی چه فاتحه وروستو دامام نه نیشته ځکه قرآن وائی چه(فاستمعوا له وانصتوا)نوهغوی‌یعنی شوافع اوظواهر وائی چه حدیث سره به څنګه کوئ کوم کښې چه راځی(لا صلاة الا بفاتحة الکتاب)؟ نوموږ ورته جواب کوه چه فاتحه دکتاب عامه ده چه حقیقتاً وی اوکه حکماً مثلاً که یو سړی ځانته لمونځ کوي او فاتحه وائی نو هغه حقیقتاً دی یالکه امام فاتحه وائی‌نو داهم حقیقتاًدی او که مقتدي غوږ نیولی وي امام ته اګرچه دا ویل حقیقتاً ندی بلکه حکماً هغه مقتدي هم فاتحه وائی ځکه عرب وائی (السامع شریك القائل) یعنی اوریدونکی دقائل سره برابردی یعنی چا چه د امام فاتحی ته غوږ ایښی دی دا داسی دی لکه چه مقتدی ېې وائی او دا موږه د ځانه نه وایو ځکه په اول کښې چه کله په رسول پاك ﷺ باندی قران مجید نازلیدو نو نبی پاكﷺ به ډیر زر زر ژبه مبارکه خوځوله نو د الله پاك مهربانی راغله او ورته وویل چه﴿ لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهٖ * اِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهٗ وَقُرْاٰنَهٗ * فَاِذَا قَرَاْنٰهُ فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهٗ * ﴾ القیامة/۱۸) مطلب دا چه الله پاك فرمائی چه ای محمده ﷺ ته مه هیریږه قران به موږ ستا په زړه کښې جمع کړو، هر کله چه موږ دقران ددی جمع نه فارغه شو نو بیا ئی په ژبه وایه۰نو وحی به اول نه اول د

Maktaba Tul Ishaat.com

پیغمبرﷺ زړه ته لاړه او د پیغمبر ﷺ په زړه کښې به هغه سورة ولیکلی شو او بیا به ئی په ژبه تلاوت کولو. نو زمونږ او د پیغمبرپاکﷺ په منځ کښې فرق دادی چه مونږ اول یو شی په ژبه ډیر خله ووایو نو بیا په زړه کښې کینی (اذا تکرر تقرر)مطلب دا چه یو شی ډیر تکرار شی نو بیا په زړه کښې ځای ونیسی ، دپیغمبر مقام ډیراوچت او لوئی دی نو دی وجهی نه وحی اول د هغه په زړه کښې ځائی ونیسی او بیا ئی په ژبه وائی. نو ځکه الله پاك په مذکوره ایت مبارکه کښې پیغمبرپاکﷺ ته وائی چه ته عجله او تلوار مه کوه مونږ به اول دا قرآن ستا په زړه کښې کینوو او بیا ئی ته په ژبه وایه. او په دی مذکوره ایت مبارکه کښې چه الله تعالی فرمائی چه (فاذا قرانه) نو پدی قرینه سره حضرت شیخ صاحب (المدنی) دلیل نیسی چه دامام قرأت دمقتدی قرأت دی ځکه هغه وائی چه په پیغمبر پاکﷺ باندی خو به قراءة حضرت جبرائیل امین کولو جبرائیل به وحی لوستا او الله پاك به اوریده چه ایا جبرائیل امین علیه السلام خو په زور زیر وغیره کښې څه کمی زیاتی نه کوي نو الله پاك داسی نه وائی چه فاذا قراء جبرائیل ځکه چه الله تعالی دجبرائیل علیه السلام قراءت ته غوږ اینبی دی نو ځانته ئی نسبت کوي او وائي چه فاذا قراءناه نو مقتدی چه د امام قراءت اوري نو دا هم داسی دی لکه چه مقتدی قراءت کوي نو ثابته شوه دا خبره چه مقتدی دپاره جائز نه دي چه امام پسی ولاړ وي او قراءت دفاتحی اوکړی ځکه لکه څنګه چه الله پاك دجبرائیل علیه السلام قراءت اوري او نسبت ئی ځانته کوي نوداسی مقتدی هم دامام قراءت اوري. او داداسی دی لکه مقتدي چه قراءت کړی وي نو په لاصلاة الا بفاتحة الکتاب باندی عمل راغلو اگر چه حقیقتاً ندی لیکن حکماً عمل پری راغلو او بل دلیل دا دی چه رسول الله مبارکﷺ فرمائی (انما جعل الامام لیؤتم به )مطلب دا چه امام ددی لپاره دی چه ته ورپسی اقتداء وکړی (فاذا کبر فکبروا) هر کله چه امام الله اکبر وائی تاسو هم ورسره الله اکبر او وائی (واذا رکع فارکعوا) هر کله چه امام رکوع کوي نو تاسو هم رکوع کوی (واذا سجد فاسجدوا) هرکله چه امام سجده کوي نو ستاسو هم سجده کوی او هم دغه حدیث کښې راځی (واذا قراء فانصتوا) هر کله چه امام قراءت کوي نو تاسو چپ شئ ،او چیرته هم په ذخیره د حدیثو کښې داسی نیشته چه(اذا قراء فاقراؤ)نو معلومه شوه

دا خبره چه لاصلاة الا بفاتحة الکتاب دا حدیث په حق دمنفرد کښی دی یعنی هغه سړی
چه خانته لمونځ کوي نو هغه به فاتحه وائی او یا په حق د امام کښی دی او داخبره مونږ د
خان نه نه کوه چه دا حدیث په حق دمنفرد کښی دی بلکه امام احمدصاحب دا خبره
کوي چه دا حدیث په حق دمنفرد کښی دی او هغه ځکه وائی چه حضرت جابررضی الله
تعالی عنه یو لوئ صحابی دی هغه وائی چه دا حدیث په حق د منفرد کښی دی، او دوی
داخبره ځکه کوي چه یو طرف ته ایت دی چه(واذا قرئ القران فاستمعوا له وانصتوا) نو
امام ابوحنیفه صاحب رحمه الله اعمال وکړو او اعمال غوره دی د اهمال نه۰ نو ایت ئی
حمل کړو په فرضیت دمطلق قراءت باندی چه مطلق قراءت فرض دی په لمونځ کښی او
بل طرف ته چه حدیث دی (لاصلاة الا بفاتحة الکتاب) نو دا حدیث ئی حمل کړویه
وجوب دفاتحی باندی چه سورة فاتحه واجبه ده په لمونځ کښی نو تعارض بین الآیة
والحدیث رانغلو۰ فإنه عام فی جمیع ما تیسر من القرآن اودامذکوره ایت عام دی په ټول
هغه کښی چه اسان وي دقرآن نه۰ دلته کښی شوافع وائی چه ماتیسر نه مراد سورة فاتحه
ده ځکه چه هغه اسان سورة دی نو مونږ ورته په جواب کوه چه دا تاسو ته ځکه اسان
ښکاری ائ شوافعو چه تاسو یادکړی ده او زده مو دی له دی وجهی نه درته اسان ښکاري
،او کچیرته مونږ یو وړوکي ماشوم ته اوو ایو پداسی خال کښی چه نه هغه سورة فاتحه یاد
کړی وي او نه ئی سورة کوثریادکړی وي چه ته سورة فاتحه هم یاد کړه او سورة کوثر هم
یاد کړه نوسورة فاتحی نه خو به سورة کوثر زر یاد کړي ځکه چه هغه کم دی نو له دی
وجهی نه ماتیسرعام دی ټول قرآن ته شامله ده ، مثلا که هغه سورة کوثر وي او که سورة
الم ترکیف وي او که بل سورة وي نو ځکه مونږ وایو چه مطلق قراءت فرض او سورة فاتحه
واجبه ده ومن ضرورته اود ضرورت ددغی معنی دعام نه عدم توقف الجواز علی قراءة
الفاتحة عدم توقف جواز دلمونځ په قراءت دفاتحی سره یعنی موقوف ندی صحت دلمونځ
په قرائة دفاتحی سره لیکن که څوك فاتحه اونه وائي نو لمونځ ئي کیږی خو کامل ندی ، او
هغوی وائی چه صحت دلمونځ موقوف دی په قراءة د فاتحی پوری یعنی چه قراءت د
سورة فاتحی دی نوي کړی نو لمونځ دی نه کیږی نو گویا ماتیسر ئی منحصر کړو یواځی په

Maktaba Tul Ishaat.com

فاتحه کښی او مونږ وايو چه بيا د ما تيسر معنی څه شئ شوه ؟ بيا خو د ما تيسر معنی نه صحيح کيږی وجاء فی الخبر او هر چه په خبرواحد(حديث) کښی راغلی دی چه شان دادی قال چه نبی کريمﷺ فرمائی چه لاصلاة الا بفاتحة الکتاب چه نيشته مونځ نه صحيح کيږی هيڅ يو لمونځ مگر په قراءة دفاتحی سره فعملنا بهما نو مونږعمل وکړو په دواړو باندي (په ايت او په حديث)ځکه چه دامام ابوحينفه صاحب رحمه الله تعالی قانون دادی (الاعمال اولی من الاهمال) يعنی چه په داورو دليلونه باندی عمل وکړی دا ښه دی د دی خبری نه چه يو دليل ترك کړی نوامام ابوحنيفه رحمه الله تعالی په دواړو عمل اوکړو علی وجه پداسی طريقی سره لا يتغير به حکم الکتاب چه په هغه سره د کتاب حکم نه بدليږی چه ايت د قران دی (ماتيسر من القران) لکه کباب پخول پدی طريقی سره چه نه سيخ وسوځی او نه کباب وسوځی يعنی چه نه ترك دروايت راشی او نه تغير په حکم دکتاب کښی راشي بأن نحمل الخبر اومونږه به حمل کوه داحديث (لاصلاة الا بفاتحة الکتاب) علی نفی الکمال په نفی دکمال باندی نو دلاصلاة معنی به داشي چه لاکمال للصلاة يعنی کامل لمونځ به هلته وي چه فاتحه ولوستل شي او که فاتحه نوی لوستل شوی په لمانځه کښی نو بيا کامل لمونځ ندی ورنه دفاتحی نه بغير هم لمونځ صحيح کيږی کمال او نقصان په واجبو سره راځی، نو په ترك د واجبو سره بطلان نه راځی بلکه نقصان راځي ، او په ترك دفرضو سره بطلان راځي لکه يو سړی په لمونځ کښی مطلق قراءة ونکړي نو لمونځ ئی باطل دی او که صرف فاتحه يعنی صرف واجب ئی ترك کړو په لمانځه کښی نو بيا نقصان راځی او دنقصان جبيره بيا سجده سهوه ده حتی يکون مطلق القراءة فرضا بحکم الکتاب يعنی چه هر کله دا مونږ حمل کړو په نفی د کمال باندی تردی پوری چه شي مطلق قراءة فرض په حکم دکتاب سره چه ايت دی وقراءة الفاتحة واجبة بحکم الخبراو شي لوستل او قراءة دفاتحی واجب په حکم دخبرواحد يعنی حديث سره، نو په دواړو باندی مونږ عمل وکړو. وقلنا كذلك فی قوله تعالی همدارنگه مونږ وايو په قول دالله تعالی کښی لکه څرنگه چه خاص قطعی الدلالت علیالمعنی دي همدارنکه هغه عام چه غيرمخصوص البعض وي هغه به هم قطعی او يقينی وی لکه په قران مجيد کښی راځی ولاتاکلوا مما لم يذکراسم

د الله پاك نوم نوی اخستل شوی .مما كنبی دا كلمه دما عامه ده لكه خرنكه چه مخكښی مونږ وئيلی وه. چه عام دوه قسما دی يو عام لفظاً دی لكه مسلمون او مشركون په اعتبار د لفظ او معنی دواړو سره عام دی او بل عام معناً دی لكه من وما اگر چه په اعتبار دلفظ سره مفرد دي لكن په اعتبار د معنی سره جمع دی نو پدی مذكوره ايات كښی د ما هغه ما دی او عام دیا و ددی نه مراد مذبوحات دي چه كوم خيزونه حلاليږی ځكه دلته كښی قرينه موجوده ده الله تعالی فرمانی( ولاتاكلوا مما لم يذكراسم الله عليه ) يعنی تاسو مه خورئ هر هغه شئ چه بغير داسم دالله تعالی نه حلال شوی وي ځكه چه كافرانو به څه شئ حلالولو نو اسم دلات او عزی به نی پري وبلو ځكه الله تعالی تری منع وكړه. نو ددی ايت نه دا معلومه شوه انه يوجب حرمة متروك التسمية عامداً چه واجب ده حرمت دهرهغه شي په كوم شی چه قصداً دالله تعالی نوم نوي اخستل شوئ يعنی بسم الله الله اكبر پری نوئ ويل شوی وجاء فی الخبر او په حديث شريف كښی راځی أنه عليه السلام سئل د پيغمبرپاك ﷺ نه چا پوښتنه اوكړه عن متروك التسمية عامداً يعنی كه چا يو شی حلال كړو او قصداً ئی پری بسم الله او نه وبله فقال كلوه نو رسول الله ﷺ ورته ووبل چه خورئ نی فان لسمية الله تعالی فی قلب كل امراء مسلم ځكه نوم دالله تعالی په زړه دهر مسلمان كښی دئ نو كچيرته مونږ په دغه حديث باندی عمل اوكړو نو پدی ايت كښی به هغه عموم پاتی نشي ځكه هركله چه متروك التسمية عمداً روا دی دحديث دوجهی نه نومتروك التسمية نسياناً خو به درجة اولی روا دی ځكه پيغمبر عليه السلام فرمانی (رُفع عن امتی الخطاء والنسيان)رسول الله ﷺ فرمانی الله تعالی زما دامت نه لری كړی دي خطاء او نسيان دواړه. يعنی كه يو سړی په بوه خبره كښی خطاء شو يا تري هيره شوه نو په هغه باندي څه گناه نيشته، نو چه هر كله د خبرواحدله وجی نه متروك التسمية عمداًجائزشوه نو متروك التسميه ناسياً بالاتفاق جائزدی نو بيا خو به ايت عمل رانه غی ځكه په يو عام كښی خصوص كوه خو دومره خو بايد پری پښودل شی چه په هغه عام د كتاب الله باندی عمل راشی يعنی مايطلق عليه العام پاتی شي.نو احناف وائی چه هر هغه شی چه متروك التسميه عامداً وي هغه به نه خوری ځكه

Maktaba Tul Ishaat.com

هر کله چه دعام د کتاب الله دخبر واحد یا قیاس سره مقابله راشی که چیرته په دواړو باندی عمل ممکن وه نو ډیره ښه ده ځکه (الاعمال اولی من الاهمال) او که په دواړو باندی عمل ممکن نه وه نو بیا به په عام دکتاب الله باندی عمل کولی‌شي ځکه چه نص د کتاب الله قطعی اویقینی دی‌او مقابل چه خبر واحد او قیاس دی هغه به پرینبودلی شی ځکه هغه ظنی دی نو ظنی دقطعی او یقینی مقابله نه شی کولی.، نو چه احناف وائی چه کوم شی متروك التسمیة عمداً وي هغه به نه خوری نو بیا دحدیث مطلب څه دی.؟ علماء لیکی دحدیثو مطلب دادی چه بعضی کسان نوی مسلمانان شوی وه او ډیرو مسلمانانو به د هغوی دلاس مذبوحه نه خوړه نو رسول الله ﷺ ورته وفرمائل چه هغوی خو نوي مسلمانان شوی دی هغوی ته خو لا ددې پوره طریقه نده معلومه نو ددی وجهی نه ددوئ په مذبوحاتو کښی شك مه کوی ، مطلب دا دی چه د نو مسلم ذبیحه روا دی ځکه هغوئ خو قصداً بسم الله نه پریږدی او په زړه کښی پری شك هم مه کوئ ځکه حدیث کښی راځی(ظنو المؤمنین خیرا) په مؤمنانوباندی نیك گمان کوی. نو رسول الله ﷺ هغه خلکو ته تسلي ورکوي چه هغوئ مسلمانان دی او زمونږ پری نیك گمان دی چه دوی به ضرور بسم الله ویلی وي. نو دحدیث مطلب دا ندی چه یو سړي دی قصداً په یوه مذبوحه باندی بسم الله نوی ویلی او هغه دی بیا خوړئ شی فلا یمکن التوفیق بینهما او ممکن ندی اتفاق په ایت او خبر واحد دواړو باندي ځکه که متروك التسمية عامداً هم جایز شي اومتروك التسمیة ناسیاً هم جائز شي نو بیا خو په نص دکتاب الله باندی عمل نه راځی ځکه د لاتاکلوا صیغه دواړو ته شامل ده که متروك التسمية عامداً وی او که متروك التسمية ناسياً وي نو ددي وجهی نه مونږ خبرواحد باندی عمل نه کوه ځکه خبرواحد ظنی دی او ایت قطعی دی او ظنی دقطعی مقابله نه شي کولی لانه لو ثبت الحل بترکها عامداً او شان دادی که چیرته ثابت شی حلال والی دمتروك التسمیة عامداً سره لثبت الحل بترکها ناسیاً نو ثابت به شی حلال والی د متروك التسمية ناسياً په طریق اولی سره ځکه متروك التسمية ناسیاً خو بالاتفاق جائز دی ځکه درسول الله ﷺ حدیث موجود دی (رفع عن امتی الخطاء والنسیان ) فحینئذ یرتفع حکم الکتاب نو په دی وخت کښی مرتفع کیږی حکم د کتاب الله

او ارتفاع دحکم دکتاب الله نسخ دکتاب وی بالکلیة ، او نسخ د کتاب الله په خبر واحد سره ناجائز دی ځکه ناسخ په قوت کښې زيات وي دمنسوخ نه او حالانکه خبرواحد چه ناسخ ګرځی کمزوری دی په قوت کښې دکتاب نه چه منسوخ ګرځي، او حکم د کتاب نه مراد د لاتاکلو لفظ دی نو که يو سړی ناسياً اوعامداً دواړه يو ځائی جائز کړي نو په لاتاکلوا باندی عمل نه راځی. همدا وجه ده که چيرته په يو عام کښې خصوص کوی دومره کوه چه څه نا څه دهغه افراد پاتی هم وي فيترك الخبر نو دی وجی نه خبرواحد به ترک کولی شي اوپه کتاب الله به عمل کولی شي وکذلك قوله تعالى همدارنګه په مثل ددی چه مونږ پرينبود خبرواحد په مقابله دعام کښی دا قول دالله تعالی دی. حرمت عليکم ...الآية وأمهاتکم التی أرضعنکم حرامی دي په تاسی باندی هغه مياندی چا چه پئ درکړی وي تاسو ته.الله تعالی په قران کښی پنځلس محرمات بيانوي يعنی پنځلس ښځی دی چه دا حرامی دی يا من حيث النسب يا من حيث غيرالنسب او يوه دشته خاوند والا ښځه .نو پدی پنځلسو ښځو کښی امهاتکم التی أرضعنکم ذکرشويده اوداعام دی مراد ترينه هغه دی چاچه شيدی ورکړی وي نوګويا ديته مرضعه موروانی او رضاع وانی پئ ځښلو ته اوس برابره خبره ده چه دابی ځښل يو ځل وی او که دوه ځله وي اويا زيات وي مطلق ارضاع ديته وانی چه ماشوم کله دمور په تي باندی خوله ولګوی. او الله تعالی مرضعاتو ته مياندی ووبلی يقتضی بعمومه حرمة نکاح المرضعة نو دا تقاضا کوي دحرمت دعموم نکاح دمرضعی ځکه چه دا مياندی دي او بل دا چه دمرضعاتو لفظ ارضعنکم دی نو ګويا هره مرضعه مرضعه ده خواه که هغی لګی پئ ورکړی وي او که ډيری نی ورکړی وي وقد جاء فی الخبر او په تحقيق سره په حديث کښی راغلی دي لا تحرم المصّة ولاالمصتان ولا الإملاجة ولا الاملاجتان حرمت نه ثابتوی يو ځل تئ کشکول او نه دوه ځله تئ کشکول او نه يو ځل تئ د ماشوم په خوله کښی ورمنډل او نه دوه ځله ، مص فعل الصبی ته ويل کيږی يعنی ماشوم چه تئ پخپله کش کوي او املاج فعل الوالدة ته ويل کيږي چه مور دوم ځله ماشوم ته تئ په خوله کښی ورکړي.دحديث مطلب دا شو چه يوی ښځی يو ځل يا دوه ځله ماشوم ته پئ ورکړی وي نو دا نی رضاعي مور نده او حالانکه حرمت په مطلق پيو

Maktaba Tul Ishaat.com

ورکولو سره ثابتیږی ، نو برابره خبره ده چه ماشوم یو ځل پئ څښلی وی.که دوه خله او.که
دری خله او امام شافعی‌رحمه الله تعالی فرمائی چه حرمت په پنځه خله پیو ورکولو سره
ثابتیږی ځکه اول کښی یو قراءت عشر رضعات وه بیا خمس رضعات وه بیا صرف أرضعنکم
قراءت راغلو او مخکښنی ټول روایات منسوخ شول. نو په یوځل تي کشکولو سره هم مرضعه
ثابته شوله، دمحرم او د مبیح په منځ کښی چه تعارض راشي ترجیح به محرم ته ورکوی
ځکه که دیو ماشوم په باره کښی دا تعارض راشی چه دی ښځی دی ماشوم ته یو ځلی پئ
ورکړیدي دا ددی رضاعی مور نده او ده سره ئی نکاح کیږی او هغه ئی مور وي نو بیا به
څنګه کیږی ؟ نو ځکه دامام ابوحنیفه رحمه الله تعالی په نزد باندی محرم ته ترجیح ورکول
پکاردي. له دی وجهی نه د امام ابوحنیفه صاحب څومره مسلی چه دي هغه په احتیاط
تقوی او طهارت باندی مبنی دی فلم یمکن التوفیق بینهما نو دقرآن او دخبر په
منځ کښی چه توفیق نشی کیدئ فیترك الخبر نو خبرواحد به پریږدی او کتاب الله باندی
به عمل کولی شی . نو دامام ابوحنیفه صاحب په نزد قرآن مطلق دی. أرضعنکم چه چا
تاسو ته پئ درکړی وي عدد لره پکښی اعتبار نیشته ځکه لغت کښی د رضاع معنی ده
مطلق پئ څښل د مور د تي (سینی)نه که هغه یوڅاڅکئ ولی نوی ؟ نوامام صاحب وائی
که چیری مونږ په حدیث دخمس رضاعات یا عشر رضاعات باندی عمل وکړو نو ایت ترك
کیږی او ایت قابل دترك نوي په مقابله د خبرواحد کښی بلکه خبرواحد به ترك کولئ شي.

**وأما العام الذی خص عنه البعض** اوهر چه هغه عام چه خاص شوی وي بعضی افراد ددی
نه ، په قرآن مجید کښی ځائ په ځائ عمومات استعمالیږی که په قرآن مجید کښی داسی
عام مستعمل شوی وي چه په هغه کښی تخصیص نوی شوئ نو په هغه کښی به بلکل
تخصیص نه کوو او وجوباً به نی ټولو افرادو ته شامله وه لکه په قران مجید کښی راځی ﴿
وَمَا مِنْ دَآبَةٍ فِيْ الأَرْضِ إلاَّ عَلىَ اللهِ رِزْقُهَا ﴾سورة هود،الایة:) معنی دا چه نیشته هیڅ یوه
دابه په مخ د ځمکه مګر رزق ئی په الله تعالی باندی دی یعنی څومره شیان چه په ځمکه
ګرځي دی ټولو ته رزق الله تعالی ورکوي دابه (ما یدب علی الارض) ته وائی نو دا عام
دی او په دی کښی خصوص بالکل نیشته او نه کیږی او په قرآن کښی داسی عام هم شته

چه دابعضی افراد ترینه خاص شوي چه بعضی افراد ترینه خاص شوی وي برابره خبره ده چه وي په قرینې دعقل سره یا په قرینې دشریعت سره لکه په قران مجیدکښی راځی﴿ وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا﴾(ال عمران/ ۹۷ ) دالله تعالی په ټولو بندګانو باندی لازمه ده چه حج دبیت الله وکړي نو لفظ د الناس عام دی لکن دا خاص شویدی په دلیل دعقل سره او په دلیل دنقل سره ځکه ددی نه ماشومان لیونی وغیره ووتل ځکه دا مکلف ندی، غریبان هم تری ووتل ځکه پدی ایت کښی دمن استطاع إليه سبيلا لفظ هم راغلی دی نو که په قران مجید کښی داسی عام راغلی وي چه دهغه څخه بعضی افراد نوي خاص شوي او د هغه مقابله دخبرواحد یا قیاس سره راغله نو د هغه په ټولو افرادو به عمل ضروري او یقینی کولی شی او مقابل به ئی ترك کولئ شي که چیرته عمل په دواړو ممکن نه وه ،اوکه چیرته داسی عام وی چه بعض افرادترینه خاص شوی وي لکه الله تعالی فرمائی﴿ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ ﴾( التوبه/ ۵) تاسی قتل کړئ مشرکین چیرته مو چه پیدا کول .المشرکین عام دی لکن بل ځائی په قرآن مجید کښی راځی ﴿ وَإِنْ أَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ ﴾ ( التوبة/ ٦) که چیرته یو مشرك له تاسو نه-پناه وغواړي نو پناه ورته ورکړی. او دا عام مخصوص البعض دی ځکه یو ایت کښی عام مشرکین مراد دي او بل ایت کښی هغه مشرکین تري ووتل کوم چه مسلمانانو نه پناه غواړي او جنګ نه کوي. یعنی مستامن کافر چه ویزه پاسپورټ ورسره وی مسلمان حکومت ورته ورکړی وي او هغه مشرکین تری هم ووتل چه پناه نه غواړی لکن هغی کښی وَان احدمن المشرکین استجارك فاجره علت موجود وي چه هغه عدم قتال دی نو په بوډاګانو، ماشومانو، زنانو، معذورینو، بمبرانو کښی هم دعدم قتال علت موجود دی نو هغوی هم تری ووتل نو په دفاقتلوا الْمُشرِکین دحکم نه وباسو، او دیته عام مخصوص البعض ځکه وائی چه بعضی افراد ترینه خاص شول. فحکمه نو حکم دعام مخصوص البعض دا دی چه انه یجب العمل فی الباقی په باقی افرادو باندی به ئی خپل حکم باندی به چه واجب وی عمل په دی باقي وي کوم چه تری خاص شوي ندی مع الاحتمال لکن سره داحتمال دتخصیص

Maktaba Tul Ishaat.com

دباقی افرادونه، یعنی کیدالی شي دشریعت له طرف نه یو بل دلیل هم راشی چه باقی افراد لری خاص شي لکه د گوری یوه بورئ ده چه خوله لی کنډلی ده صحیح اوسالمه ده لکن کله لی چه خوله خیری شي او څه گوره تری کمه شی نو د دی خبری احتمال لري چه نوره گوره هم تری کمه شي .فإذا قام الدلیل علی التخصیص الباقی هرکله چه دلیل قائم وي په تخصیص دباقی افرادو ویجوز تخصیصه جائز دی تخصیص دباقی افرادو بخبرالواحداوالقیاس په خبرواحد یا قیاس سره څکه چه داعام مخصوص البعض بیا ظنی شو خبرواحد او قیاس هم ظنی دي نو د ظنی مقابله په ظنی سره کیدالی شی. څکه چه قطعیت ددی ایت ختم شولو. إلی ان یبقی الثلث لکن تخصیص به کولی شي تردی پوری چه دری(۳) افراد باقی پاتی شي له ثلاث نه به کمولئ نه شی څکه چه له ثلا ث نه کم شي بیا خو عام نشو دعام کم از کم عدد دری دی چه دری باید باقي وي. وبعد ذلك او نور تخصیص کول ددی دریو افرادو نه کوم چه باقی پاتی دي لایجوز جائز ندی . فیجب العمل به پس په دغه دریو باندی به بیا عمل واجب او لازم وي کوم چه باقی پاتي وي وإنما جاز ذلك او مونږ تخصیص ددغه عام مخصوص البعض په خبرواحد یا قیاس سره څکه جائز کړو لأن مخصِص الذی أخرج البعض عن الجملة څکه هغه دلیل مخصص د ایت یا حدیث مشهور یا اجماع نه چه خارج کړیدي بعض افراد دجمله افرادو دعام نه لو اخرج بعضاً مجهولاً که چیرته ئی خارج کړل دهغی نه بعض مجهول افراد یثبت الاحتمال بیا خو احتمال باقي دی شی کلی شرد معین په هر فرد معین کښی دافرادو دعام نه یعنی په هغه مخکینو کښی هم احتمال باقي پاتی شو چه هغه ئی ترایستی دی او که نه .فجاز أن یکون باقیا تحت حکم العام نو جائز ده چه وی دا افراد باقي لاندی دحکم دعام نه وجاز أن یکون داخلا تحت دلیل الخصوص او جائز ده چه وي داخل لاندی دحکم ددلیل دخصوص نه .ددی مثال داسی دی لکه یو امیر امر اوکړی چه اقتلوا بنی فلان . بنی فلان ووژنی ولا تقتلوا بعضهم لکن بعضی مه وژنی داقتلوا حکم عام دی او د لاتقتلوا بعضهم حکم خاص دی یعنی بعضی لی تری خاص کړی لکن دا خاص ئی متعین نه کړل نو اقتلوا بنی فلان کښی هر فرد دا احتمال لری چه دالی ترایستئ وي او داهم احتمال لری چه دقتل په

حکم کښې لا باقي پاتې وي نو ددې وجې نه دا خبره شکې شوه او احتمال ددې خبرې شته چه کوم اوباسی او کوم پکښې باقي پاتې کړي نو دئ وائي چه دا هم جائز دی چه دئ دی باقي وي لاندې ده دحکم دعام نه چه اقتلوا دی او دا هم جائز دی چه دئ دی داخل وي لاندې ددليل دخصوص نه چه بعضهم مستثنی دي نو په اقتلوا بنی فلان کښې هر فرد مشکوك دی چه خارج شو د حکم نه يا پکښې باقي پاتې دی ځکه چه امير امر کړيدی په اقتلوا بنی فلان إلا بعضهم سره دلته کښې بعضهم مستثنی ده ، او دا قانون دی چه مستثنی مجهوله وي نومستثنی منه به هم مجهوله وي چه مستثنی معلومه وی مستثنی منه به هم معلومه وي لکه موږ وايو چه داد کجورو باغ درباندي خرڅوم لکن لس کجوری درباندی نه خرڅوم او دا لس غير معين دی دا بيعه فاسده او ناجائزه ده. ځکه چه دمجهول شي بيعه نشي کيدائي او که چيرته دا لس کجورې چه نه خرڅوي معين شی مثلا دا باغ درباندی خرڅوم لکن دا معلومې لس کجورې درباندی نه خرڅوم بيعه صحيح او جائزه ده، يا لکه د کافيه ملا وائي په هغه صورت کښې چه کله ئې تقديری اعراب بيان کړونوبيائې اوونيل(واللفظی فيما عداه)يعنی ددی نه ماسوا نور ټول ـلفظي اعراب دي ځکه موږ ته ئې اول ټول تقديری اعراب بيان کړو بيا ئې مذکوره عبارت ذکر کړو يا لکه قران مجيد کښې راځي ﴿ حُرِمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهٰتُكُمْ ﴾( النساء\٢٣)يعنی په ستاسو باندې پنځلس(١٥) ښځې حرامې دي لکن په اخر کښې بيا فرمائي ﴿ وَأُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ ﴾ ( النساء/٢٤) ددې پينځلسو نه بغير نورې ټولې درته جائزې دي . دا مستثنی معلومه ده ځکه چه مستثنی منه معلومه وي نو مستثنی هم دهغې نه معلومه شي چه دا پدې حکم کښې دی او دا ندئ او کچيرته يو سړي داسي ووېل چه اقتلوا بنیفلان إلا مَن حَفِظَ القرآن الكريم نو دلته کښې هم مستثنی معلومه ده ځکه چه مستثنی معين ده. فاستوی الطرفان فی حق المعين نو مساوي شو دواړه طرفو نه په جانب دمعين کښې يعنی چه کوم ئې ترې ايستې دی له حکم دی فاقتلوا نه او کوم پکښ باقي پاتې دي مگر فإذا قام الدليل الشرعی که چيرته دليل شرعی راغی علی أنه من جملة ما دخل پدې باندې چه دا فردمعين له جملې د هغې ندی چه داخل دی لاندې له دليل دخصوص نه ترجح جانب تخصيصه ترجيح به ورکولې

شی دی فرد معین کښی جانب د تخصیص ته دحکم نه خکه فاقتلوا المشرکین عام وه لکن بیا قران مجید خرګنده کړه وإن أحدمن المشرکین استجارك فاجره نو مونږ ته معلومه شوه چه کوم غیرمستاجرین دي هغه به وژنو او بیا به ګورو که دمستاجرینو دا علت په نورو کښی هم موجود شو نو هغه هم نه وژنو لکه ماشومان، بوډاګان، معذوران، بامیران وغیره وإن كان المخصص أخرج بعضاً معلوماً عن الجملة او که چیرته دلیل مخصص اوباسی بعضی نور معلوم افراد له مجموعی د افرادو دعام نه لکه وإن احد من المشرکین استجارك فاجره خکه چه مونږ ته معلومه ده کوم مشرك چه پناه غواړي هغه کمزورئ دی او جنګ نه کوي جاز أن يكون معلولاً بعلة نو دا جائزه دی چه وي دی دابعضی افراد خارج شده معلول بعلة موجودة في هذا الفرد المعين داسی علت چه موجودوي پدی‌فردمعین کښی.فإذا قام الدليل الشرعي‌على وجودتلك العلة في غيرهذا الفردالمعين که چیرته پیداشی‌دلیل شرعی په وجوددهغه علت کښی، کوم چه وه په افرادمخصوصه کښی بغیر ددی فرد معین په نورو کښی لکه مونږ بعضی مشرکین ددی وجی نه دقتل نه وویستل چه دوی پناه غواړي او جنګ نکوي نو واړه ماشومان بوډاګان او معذورین یا بمیران هم جنګ نه کوی نو دوئ هم نه وژنو خکه هغه علت دعدم قتل پکښ موجود شو .ترجح جهة تخصيصه ترجیح به ورکولی شي هغه جانب دتخصیص ته ئی فيعمل به نو عمل به کولی شي په هغه باندی هم مع وجود الاحتمال سره دوجود د احتمال نه په نورو کښ کیدانی شی چه د فاقتلوا المشرکین په نورو افرادو کښی هم دعدم قتال علت موجود شي نو هغه به ترینه اوباسو لکن په کوم کښی چه مونږ ته یقیناً علت معلوم شي نو هغه به یقیناً مونږ اوباسو. نو ګویا عام په دوه قسمه شوه. یو عام هغه دي چه غیر مخصوص البعض وي هغه بالاتفاق واجب العمل دي خکه چه هغه یقینی دی او دویم قسم عام مخصوص البعض دي نو هغه به خالی نه وي .که هغه عام مخصوص البعض داسی وي چه هغه بعض افراد چه تا تری خاص کړیدی هغه معلوم دي نو پدی صورت کښ احتمال صرف باقي افرادو کښ پاتی شو لکن حکم به ورته شامل وي او کنه هغه مخصوص البعض مبهم وي نو بیا عمل مونږ بالکل نشو کولئ چه هلته کښ جانبین مونږ ته ندي معلوم لکه په اقتلوا بنی فلان کښ إلا بعضهم معین ندي نو هر

فرد د اقتلوا کښې احتمال دقتل او دپریښودو شته دی۰

فصل في المطلق والمقيد فصل دی په بیان دمطلق اومقید کښې مطلق والی(مایدل علی الذات فقط) اومقید والی(ما یدلُ علی الذات مع قید او وصف زائد) لکه یو سړی والی جاء عبدالله نو دا مطلق دی اوچه والی جاءَ عبدُالله الشاعرُ نو دا مقید دی. ځکه چه دلته عبدالله مقید شو په قید دالشاعر باندی۰یا لکه مطلق رقبه داهم مطلق دی او بل دی رقبةٌ مؤمنةٌ دا مقیددی ځکه چه مقیدشو په قید دایمان سره ذهب اصحابنا دکتاب ملا والی چه زمونږعلماء(احناف)دا اصحابنا نه مراد علماء احناف دي یعنی امام ابوحنیفه رحمه الله، امام ابو یوسف رحمه الله، امام محمد رحمه الله دا دری واړه علماء دی خبری ته تللي دي إلی ان المطلق من كتاب الله تعالى چه مطلق دکتاب الله یعنی(قرآن مجید) دا لفظ دکتاب الله ځکه وائی چه زمونږ بحث په کتاب الله کښې دی. ځکه اول قسم داصول فقه کتاب الله دی ورنه مطلق په احادیثوکښې هم راځی ځکه بعضی الفاظ داحادیثومطلق دي اوبعضی الفاظ ئې مقیددي۰إذا أمکن العمل باطلاقه هر کله چه عمل ممکن وي په اطلاق دهغه باندی بغیردضرورت دتقیدنه فالزیادة علیه بخبر الواحد والقیاس لا یجوز نو زیادت په مطلق دکتاب الله باندی یامقید کول دکتاب الله په خبرواحداوقیاس سره جائز ندي ځکه چه خبرواحداوقیاس مفید دعلم ظنی دی او کتاب الله مفیددعلم قطعي دی نو دلیل ظنی دقطعي اویقیني تخصیص نه شي راوستی ځکه تخصیص د یقیني په ظني سره دا یو قسم نسخه ده او داجائزه نده۰ مثاله في قوله تعالى: مثال ئې پدی قول دالله تعالی کښې یعنی مطلق دکتاب الله لفظ دالغسل دی په قول دالله تعالی کښې﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ ﴾۰ المائدة/٦) فاغسلوا وجوهکم تاسو ووینځی مخونه خپل۰ غسل په لغت کښې شستن ته والی په معنی دوینځلو سره فالمأموربه پس ماموربه په کوم څیز چه مونږ ته الله تعالی امر کړیدی هغه فاغسلوا دی۰فاغسلواصیغه دامردی . اِغْسِلْ اِغْسِلاَ اِغْسِلُوا . اِغْسِلِی اِغْسِلا اِغْسِلْنَ او ددی باب استعمالیږی دضَرَبَ یَضْرِبُ له نو اغسلوا جمع مذکر امر دی نوماموربه هوالغسل علی الطلاق مطلق وینځل دی فلایزادعلیه شرط النیة پس اضافه والی به نه کوی پدی

Maktaba Tul Ishaat.com

غسل بالدی شرط دلیت ۰ لکه امام شافعی صاحب په اودس کښې نیت هم ضروري اوفرض گڼی اوزمونږ په نزد بالدی نیت په اودس کښې فرض ندئ۰ امام شافعی صاحب دلیل نیسی په قول دنبی کریم ﷺ بالدی نبی کریم ﷺ یوه ورځ په مدینه منوره کښې خلکوته خطاب کولو اوورته وی فرمائل ﴿ انماالاعمال بالنیات وانما لکل امرئ مانوی فمن کانت هجرتهٗ الی الله ورسوله فهجرتهٗ الی‌الله ورسوله ومن کانت هجرتهٗ الی‌دُنیا یصیبها اوامرأةٍ یتزوّجهافهجرتهٗ الی ماهاجرالیه ﴾رواه البخاری، صفحه ۱۳) مطلب داچه دټولوعملونو دارو او مدار په نیت سره دی او دهر سړي لپاره هغه شی دی دڅه شی نیت ئی چه کړی وي کوم صحابه چه دمکښې نه مدینی منوری ته دهجرت لپاره راغلی چه رسول الله مبارك هجرت کړی اومونږ هم ورپسی څو نو هغوئ ته به دهجرت ثواب ملاویږی یا یو سړی دی وجی نه راغی چه مدینه منوره کښې دنیا وګټم یا یو سړي دی وجی نه هجرت کوي چه نکاح وکړي دیوی ښځی سره نو هجرت ئی دهغه شی لپاره دی دڅه شی لپاره ئی چه هجرت کړی وي۰ لکه مهاجر ام قیس یو صحابی وه هغه دیوی ښځی سره واده کول غوښتل هغه ښځه مسلمانه وه هجرت ئی وکړو نو ده هم ورپسی هجرت وکړو نو دی صحابی ته خودنکاح ثواب ملاویږی ځکه نکاح هم سنت ده لکن دهجرت ثواب ورته نه ملاویږی ځکه دئ دواده په نیت راغلی وه۰ نو امام شافعی صاحب پدی حدیث کښې دصحت ټکی ږدی او وائی (انماصحت الاعمال بالنیات )او هغه وائی چه اودس هم یوعمل دی داعمالو نه نو په اودس کښې چه نیت نوي دا نه صحیح کیږی دهغه په نزد۰او زمونږ امام ابوحیفه صاحب دلته کښې دثواب ټکی مقدر را اوباسی او وائی (انماثواب الاعمال بالنیات )ځکه که مونږ دلته کښې دصحت ټکی ولګاوه نو بیا خودهغه صحابی هجرت باطل وه کوم چه دواده په نیت راغلی وه نو پکار خو داوه چه هغه صحابی رسول الله ﷺ واپس مکی معظمی ته لیږلی والی چه دهجرت نیت ئی کړئ والی او دواده نیت ئی پریښی والی ځکه چه رسول الله مبارك به یو سړی په باطله نه پریښود که د پیغمبرعلیه السلام په زمانه کښې به چاغلط کار کاوه نو هغه وخت به ئی پوهه کړو چه داکار غلط دی ، لکه یو صحابی راغی اولمونځ ئی ډیر زرزر وکړو او په رسول الله مبارك باندی ئی سلام

واچولو نو پيغمبرعليه السلام ورته اوفرمائل( ثم فصل فإنك لم تصل ) درى كرته هغه غلط لمونځ وكړو اودرى كرته نى ورته امروكړو او بيا نى ورته صحيح كړو. نو كه دهغه مهاجر هجرت صحيح نه واى نو بيا به نى واپس لېږلى واى چه هجرت نى صحيح شوى واى نومعلومېږي داسى چه هجرت صحيح وه لكن ثواب ورته دهجرت ملاءو نشو، او بل دا چه زيادت دنيت نه ځكه ضرورت نشته چه بيا به زيادت په مطلق دكتاب الله باندى راشى او زيادت په مطلق دكتاب الله باندى په خبرواحد او قياس سره جائز ندى ، اوبل داچه په ايت داودس كنبى دنيت او وغيره ذكر هم نشته فقط داغسلوا صيغه ده اودهغى نه مراد مطلق وينځل دي. نو دمذكوره اختلاف نه فائده دا راوځى چه كچيرته يو كس باندى باران اوبه اوبهوي نو دده اودس وشو لمونځ پرى كولى شي زمونږ په نزد باندى سره ددى چه داودس نيت نى ندى كړى اويا داچه كه يو كس يو ډنډ ته ولوېږي اوغوپى پكنبى ووهى نو ددى كس هم اودس وشوزمونږ په نزد باندى ني بغير دنيت نه اودس اوشو. اودامام شافعى صاحب په نزد باندى ني اودس ندى شوى ځكه نيت نشته نو اودس نه كيږي او هغه نيت په اودس كنبى شرط اوضروري گنى: مونږوايو چه اودس ځكه صحيح كيږى چه اودس نه مراد تطهيردى او تطهير واني إزالي دنجاست ته او ازاله دنجاست په اوبو سره راځى نيت ته هيڅ ضرورت نه لري ځكه كه نيت ته ضرورت واى بيا خو يوه جامه يا يو بل شى چه نجس وي هغه دوينځلو په وخت دتطهير نيت نشي كولئ لهذا په اودس كنبى هم نيت ته ضرورت نشته. **والترتيب** اونه به شى زياتولي شرط دترتيب په اودس كنبى لكه امام مالك صاحب ترتيب فرض گنى په اودس كنبى په خبرواحدسره اووائى چه رسول الله ﷺ فرمائى(لا يقبل الله الصلاة إلا به وكان مرتباً) اومونږ وايو چه ترتيب ځكه ضروري ندى په اودس كنبى چه په ايت داودس كنبى خو ذكردترتيب نشته اوبل داچه زيادت په كتاب الله باندى په خبرواحد او قياس سره جائز ندى. **والموالاة والتسمية بالخبر** او جائز ندى زياتول دشرط دموالاة اودتسميه په خبرواحد سره په مطلق دكتاب الله باندى ځكه ايت داودس كنبى ذكر دموالاة اودتسمي هم نشته اوبل داچه په زيادت په مطلق دكتاب الله باندى په خبرواحد اوقياس سره نشى كيداى ،

**ولكن يُعمل بالخبرعلي وجهٍ لايتغيربه**

Maktaba Tul Ishaat.com

حکم الکتاب اوعمل به کولی شي په.خبرواحدباندی پدابسی طریقی سره چه بدل نشی په هغی سره حکم دکتاب چه فاغسلوا دی. فیقال الغسل المطلق فرض بحکم الکتاب نومطلق غَسل دافرض دی په حکم دکتاب سره ځکه الله پاك فرمائی فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ ،یو غسل دی(بضم الغین) دټول بدن وینځلوته وائی یایو سری دجنابت نه لامبی یایو سری دجمعی یا داختروغیره په ورځ لامبی دیته غسل وائی. اوبل داچه غَسل(بفتح الغین) نفس وینځلو ته والی لکه فاغسلوا وجوهکم یا لکه اغسِلِ الثوب یالکه إغسِلِ القلنسوة وغیرذالك. والنية سنةٌ بحکم الخبر اونیت پکښی سنت دی په خبرواحد سره ځکه حدیث چه متواتر نوي سنت والی تری ثابتیږي اوچه خبرواحد متواتروي او صیغه دامر وي بیاتری وجوب ثابتیږي، دلته کښی دا حدیث خبرواحددی ځکه تری سنت والی ثابت شو همدارنګه ترتیب موالاة اوتسمية هم مسنون شول ځکه هغه هم په خبرواحدسره ثابت شویدي ، لکن هغه ئی ددی وجی نه ذکر نکړل چه مصنف ته معلومیده چه داصول الشاشی طالب کښی دومره صلاحیت وي چه هغه به په نیت باندی عطف کړي. وكذلك قلنا في قوله تعالى همدارنګه مونږ وایو پدی قول دالله تعالی کښی چه الزانية والزانی فَاجلدو كُلٌ واحدٍ منهما مائةَ جَلْدَةٍ زناکاره ښځه اوزنا کار سړی اووهئ هریو ددی دواړونه سل دوری، دا دقرآن حکم دی یو خو واده کړئ سړئ یا واده کړی ښځه وي دهغوی لپاره حکم درجم دی یعنی که یو واده کړئ سړئ یا یوه واده کړی ښځه زناوکړي نو هغوئ به سنګسار کولی شي ځکه الله تعالی فرمائی (الشيخ والشيخة إذا زنيا فارجموهما البتة نكالأمن الله والله عزيزحكيم) دا آیت منسوخ التلاوة دی لکن باقی الحکم دی حضرت عمرفاروق رضی الله عنه یو ورځ ممبر باندی خلقوته وفرمائل چه زه په تاسو باندی ویریږم چه یوه زمانه به راشی اوخلق به درجم نه انکار کوي اووائی به چه په قرآن مجید کښی درجم ایت کوم ځائی کښی دی نو بیا ئی مذکوره ایت مبارکه تلاوة کړو او وویل چه دا آیت منسوخ التلاوة دی لکن باقی الحکم دی اوبل داچه رسول الله ﷺ هم رجم کړی وه چه یو یهودی سړي دیوی یهودئ ښځی سره زنا کړی وه نو رسول الله مبارك هغه دواړه رجم کړل. دحضرت ابو بکررضی الله عنه اودحضرت عمررضی الله عنه په زمانه کښی هم رجم شویدی إلى يوم القيامة به جاري وي

لکن که یو سری خوان وي واده لی لوي کړی.یایوه ښځه خوانه وي واده لی لوي کړی او دا دواړه سره زنا وکړي لو دهغوی لپاره بیا سل سل دوری دي دهغوی لپاره دلیل په عبارت مذکوره کښی هغه ایت دی ﴿ اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ ﴾( النور/۲) یعنی کچیرته ناواده کړئ سړئ اوناواده کړی ښځه دزنا په جرم کښی ونیول شی اوخلورګواهان پری ګواهی ورکړی لو بیا به سل دوری وهلئ شي اوخبرواحدکښی راغلی (وتغریب عامٍ) یعنی یو کال به لی جلا وطن کوی هم ، لکن مونږ وایو که جلاوطنی هم لازم ګرو لو بیابه زیادت په کتاب الله بالدی راشی دخبرواحد دوجهی‌له لودی وجهی له سل دوری خو دقرآن حکم دی لکن دوطن له شړل داحکم سیاستادی که هلته کښی‌حاکم مناسب ګنی لو ودی شړي څه مودی لپاره، اوکه مناسب لی له ګنی لو ندی شړي څکه مولږورله حکم سیاستا وایو له حکم شرعاً، لودی وجهی له مصنف والی إِنَّ الْكِتَابَ جَعَلَ جَلْدَ المائة حدًا لزنا په تحقیق سره کتاب الله وهل دسلو دورو دالی حدوګرځاوه لپاره دزنا فلایُزادعلیه التغریب حداً پس له به شی زیاتولی په هغه باندی تغریب یعنی چه دا هم حد دئ تغریب معنی دوطن نه شړل غَرَّبَ يُغَرِّبُ تغريباًمعنی یو سړی غریب کول یعنی مسافر کول. لقوله علیه السلام له وجی ددی قول دنبی کریم ﷺ نه چه البِكْرُ بالبِكْرِ جَلْدُمائةٍ وتغريب عامٍ یعنی دخوان سړي دخوانی ښځی سره دزنا حد سل دوری اویوکال وطن له شړل دي. داعبارت په اصل کښی داسی دی (حدالزنا البكر بالبكر حد مائةٍ وتغريب عامٍ) دالقدیردعبارت به پکښی څکه راوباسی چه یواځی البكر بالبكر څه معنی لری ؟ نو اکثره په عربی عباراتو کښی مضاف مقدروي لکه ( واسأل القرية ) اواصل کښی داسی دی واسأل اهل القرية څکه دکلی دخلکو نه سړی پوښتنه کوي نه ددیوالودکلی نه، نو دلته کښی هم په مذکوره دول عبارت مقدردی بل يعمل بالخبر على وجه لا يتغير به حكم الكتاب بلکه عمل به کوي په خبرواحد سره پداسی طریقه چه بدل نشی په هغی سره حکم دکتاب فيكون الجلدُ حداً شرعياً بحكم الكتاب نوشی به داسل دوری حدشرعی په حکم دکتاب سره چه الزانية والزاني...الآية داایت دی والتغريب مشروعاً سياسةً اوتغریب یعنی دوطن له شړل به مشروع سیاسةً شي. امورسیاسی دیته والی چه (مایکون مفوضاً الی رائ الحاکم الشرعی

والقاضي والامير وغيرذالك)چه داميرالمؤمنين رالى ته لى نسبت شوى وي بحكم الخبر په حكم دخبرواحد سره چه البكر بالبكر...الآية دى اوكه مولږ تغريب هم لازم كړو نوزيادت به په مطلق دكتاب الله بالدى راشي په خبرواحداوقياس سره اوزيادت په كتاب الله بالدى په خبرواحد اوقياس سره ناجائزده وكذلك قوله تعالى همدارنگه مولږ وايو په مثل دالجلد فى الآيةالمذكورة لفظ الطواف فى قوله تعالى وليطوفوا بالبيت العتيق تاسو طواف كوى دخانه كعبى له گيرچاپيره. بيت العتيق خانه كعبى ته والى عتيق والى زوړته اوتر ټولو ته رومبى قديم كور بيت الله دى ، ياعتيق ورته ځكه والى چه ازاد دى دجبابرو دتصرف اوتسلط نه، خانه كعبى ته تراوسه پورى چاپه بد نظر ندى كتلى اوكه چالى دورانولو قصد كړيدى الله پاك تباه او ذليل كړيدى لكه ابرهه لى چه دورانولو لپاره راغلى وه نو الله پاك وربالدى په وادي محسركنبى ابابيل مقرركړل نودخپل فوج سره لى تباه اوبرباد كړل لكه الله جل جلاله فرمائى چه ﴿ أَلَمْ تَرَكَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحٰبِ الْفِيلِ *﴾ الفيل/١) بيت المقدس خوڅوځله رومیانو ونړولو اوخانه كعبه همدغسى محفوظه ده لكه الله پاك فرمائي ﴿ أَوَلَمْ يَرَوْاأَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا أٰمِنًا وَّيُتَخَطَّفُ النَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ أَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُوْنَ وَبِنِعْمَةِ اللّٰهِ يَكْفُرُوْنَ *﴾ الروم،الاية: ٦٧) نودى وجهى نه ورته عتيق والى. نودلته پدى ايت كنبى هم مطلق طواف مراددى كه هغه طواف قدوم وي . طواف قدوم ديته والى چه سړى اول خانه كعبى ته لاړشي اوطواف وكړي،كه طواف زيارت وي . طواف زيارت ديته والى چه سړى په لسمه ورځ ددى الحجى دحج نه فارغ شي اوغټ شيطان وولي اودهغى نه پس قربانى وكړي اوبيا سرهم كل(حلق ياقصر)كړي اوبيا دخانه كعبى له طواف وكړى ديته طواف زيارت والى اودا فرض طواف دى، نو هرطواف چه وي په هغه كنبى طهارت زمونږ په نزد بالدى واجب دى ، اودشوافعو په نزدبالدى فرض دى. نومصنف والى مطلق فى مسمى الطواف بالبيت يعنى حكم دوجوب ددى آيت مطلق دى په مسمى دطواف كنبى وهواعم من أن يكون طواف القدوم والطواف الزيارة فلايزادعليه پس نه به شى زياتولى پدغه طواف باندى شرط الوضوءبالخبر شرط داودس دحديث دوجى‌نه . لكه شوافع لى چه زياتوي شوافع والى چه حديث كنبى راځى ( الطواف بالبيت صلوة ) نو هغوئ والى چه صلاة

کښې اودس فرض دی. نو همدارنګه پدی کښې هم اودس فرض دی بل بعمل به بلکه به عمل کوی پدی آیت باندی علی وجه لایتغیر به حکم الکتاب پداسی طریقی سره چه تغیر رانشی په حکم دکتاب کښې بان یکون مطلق الطواف فرضاً بحکم الکتاب پداسی شان سره چه مطلق طواف فرض دی په حکم دکتاب سره والوضوء واجباً بحکم الخبر او اودس واجب دی په حکم دخبر(حدیث) سره فیجبرُ النقصان اللازم نو مکمل به شی هغه نقصان چه لازم دی بترك الوضوء الواجب په پرینبودلو داودس واجب سره بالدّم په وینی سره. لکه چه سړی په لمانځه کښې نقصان وکړي اوسجده سهوه کوي نو همدارنګه که یوسړي طواف وکړو اواودس ئی پکښې هیروه نو دم به ورکوي طواف ئی شویدی. په ترك دفرضوسره شئ باطلیږي اوپه ترك دواجبو سره په شی کښې نقصان راځی اونقصان لپاره بیا جبیره په حج کښې دم دی. وکذلك قوله تعالی همدارنګه په مثل دطواف سره مونږ وایو پدی قول دالله تعالی کښې وارکعوا مع الراکعین تاسو رکوع وکړی درکوع کونکو سره مطلق فی مسمیّ الرکوع دا ایت مطلق دی په مسمی درکوع کښې. وهو الانحناء ، رکوع معنی ده انحناء په معنی دګیدو سره. فلایزادعلیه شرط التعدیل بحکم الخبر نه به شی زیاتولی پدی مطلق رکوع باندی شرط دتعدیل په حکم دحدیث سره لکه حدیث کښې راځی چه رسول الله ﷺ په جماعت کښې ناست وه یو اعرابی لمونځ وکړلو بیاراغی اوپه رسول الله ﷺ باندی ئی سلام واچولو رسول الله ﷺ دسلام جواب ورکړو بیا ئی ورته وویل ( ارجع فصلّ فإنك لم تصل ) واپس شه لمونځ وکړه لمونځ دی ندی شوی هغه اعرابی لاړو همغسی زر زر لمونځ ئی بیاوکړو بیا راغی په رسول الله ﷺ باندی ئی سلام واچولو رسول الله ﷺ بیا دسلام جواب ورکړو اوورته وویل(ارجع فصلّ فإنك لم تصل ) دری ځله لی واپس کړو بیائی په څلورم ځل خپل شکست ومنلو چه ماته خو همدغه لمونځ راځی نورراله تاسو طریقه اوښایی نو پیغمبر علیه السلام ورته ټول لمونځ وښود اوطریقه ئی هم ورته وښوده ، نو شوافع پدغه حدیث باندی استدلال کوي چه ګویا تعدیل هم فرض دی نوکه دخبرواحد دوجهی نه مونږ تعدیل په رکوع کښې فرض کړو نو زیادت به راشي په کتاب الله باندی ،اودخبرواحد دوجهی نه زیادت په کتاب الله باندی ناجائز دی پکارخو داسی طریقه

Maktaba Tul Ishaat.com

ده چه نه سیخ وسوزی اونه کباب او هغه داده چه مطلق رکوع اوسجده فرض شي اوتعدیل په رکوع یا په سجده کښي واجب شي ، نوکه یو کس په رکوع یا په سجده کښی تعدیل پریږدی نو سجده سهوه به وکړي، یا ددی حدیث دوجی نه شرط دجماعت په لمونځ کښی زیاتوي چه په حدیث کښی راځی(لاصلوة لجارالمسجد إلا فی المسجد)یعنی خوك چه دجماعت سره ځنګ کښی اوسیږي دهغه لمونځ نه کیږي مګر په جماعت کښی مراد ترینه دجمعی لمونځ دی نو الله تعالی خو صرف دلمونځ حکم کړیدی دجمعی ذکر پکښی نشته اوکه تاسو پکښی دجمعی زیادت وکړی په خبرواحد سره اوزیادت په کتاب الله باندی په خبرواحد سره جائز ندی۰ ولکن یعملُ بالخبر علی وجهٍ لا یتغیر به حکم الکتاب لکن عمل به کولی شي په خبر(حدیث) سره پداسی طریقی چه تغیر نشی پدی سره حکم دکتاب۰فیکون مطلق الرکوع فرضاً بحکم الکتاب نو شی به مطلق رکوع فرض په حکم دکتاب الله سره والتعدیل واجباً بحکم الخبر اوتعدیل به واجب شی په حکم دحدیث سره۰ وعلی هذا بناء پدی باندی چه مطلق دکتاب الله به په خپل اطلاق باندی جاری کیږی اوخبرواحد یاقیاس ددی مطلق دکتاب الله تقید نشی کولئ قلنا مونږ وایو یجوزالتوضّی بماء الزعفران جائزدی اوس کول دزعفران په اوبو سره۰ زعفران، یو سوررنګه نبات دی اکثره دکشمیر اود ایران په علاقو کښی کیږي ډیر خلك یې په دواء کښی استعمالوي ، ډیرګرم اوقوي دي ، دزکام لپاره هم ډیر زبردست علاج دی ، دزعفران په استعمال سره دابو رنګ زیړ شي، نوکچیرته له ابو سره زعفران ګډشی نوپه هغوابو سره اودس کیږي ځکه الله تعالی فرمائی ﴿ فَلَمْ تَجِدُوْا مَآءً فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا ﴾ النساء/ ۴۳ ) کچیرته تاسی اوبه پیدانکړی نو بیا تیمم ووهی، نودتیمم لپاره شرط داشو چه عدم دوجدان دماء وي یعنی چه اوبه نوي اودزعفران اوبه خواوبه دي۰ نوکه یو کس سره نوری اوبه نوي فقط دزعفران اوبه ورسره وي نوداکس به دزعفران په اوبو سره اودس کوي اوکه تیمم به کوي؟ نو احناف وائی چه دئ به اودس کوي په اوبو دزعفرانو باندی ځکه دتیمم لپاره خوشرط عدم دوجدان دماؤدی اواوبه دزعفران خواوبه دی اوکه تاسو وایی چه داد زعفران تکی ورسره لګیدلی نوداورسره صرف دبیان لپاره لګیدلی داقیدندی بلکه داداسی

دی لکه ماء الصابون لو په ماءالصابون سره ... خو مبالغه په طهارت کښی راځی یالکه ماء البحر ، ماءالعین ، ماء البیر ، ماء النهر لولکه څرنګه چه دماء اضافت عین ، نهر ، بحر ، وغیره ته شویدی‌اوبه هغوسره اودس کیږي همدارنګه دماء اضافت زعفران ته شویدی اوبه دی سره هم اودس کیږي ویکل ماءٍ اوبه هرهغه اوبو بالدی اودس کیږي خالطه شئ طاهر چه هغوسره پاك شی یوځای شوی وي. ځکه چه اختلاط الطاهربالطاهر لایوجب النجاسة یعنی یو ځای کول دپاك شی له پاك شی سره دالجاست له واجبوي لکه اختلاط دصابون له اوبو ... یااختلاط دمالګی له ابو سره یا اختلاط ذبیری دپالو له ابو سره دااول پاك څیزوله دي ولجاست له واجبوي بلکه شی لا نبه پاکوي. فغیراحداوصافه اګرکه داطاهر شی داوبو یو وصف هم بدل کړی وي. داوبو اوصاف دری دي رنګ ، خوند ، بوئ لو په صابون سره خود اوبو رنګ اوبوئ بدل شو بیا هم وربالدی اودس کیږی ماء الصابون ورته والی، یا لکه دسیلاب اوبه . دسیلاب داوبو رنګ داوبوځپل رنګ لوي بلکه خړوي ځکه خته وغیره ورسره یوځای شوي وي لکن اودس پری جائز دی لأن شرط المصیر إلی‌التیمم ځکه شرط دصیرورت لیمم له عدم د ماء مطلق دی‌یعنی تیمم له به هلته صیرورت کوی چه ماء مطلق نهٔ وی او دلته خو ماء مطلق شته چه ماء زعفران دی عدم مطلق الماء چه مطلق اوبه لوي وهذالقد بقی‌ماءً مطلقا اواوبه دزعفران خوماء مطلقی دی. نوسره دوجود دماء مطلق لیمم ناجائز دی ځکه الله تعالی فرمائی ﴿ فَلَمْ تَجِدُوْامَآءً فَتَيَمَّمُوْا ﴾یعنی کچیرته مو اوبه پیدانکړی نو لیمم وکړی اودلته کښی خو اوبه شته نو لیمم جائز نشو. فإن قید الاضافة ځکه دالیداضافت چه ماء الزعفران دی مازال عنه اسم الماء زائل نکړو اسم دماء(اوبو) ددی اوبو نه ځکه چه داداسی دی لکه ماءالبحر وغیره (هذاعندنا لا عنده) ځکه احناف والی چه دامطلق اوبه دي لکن شوافع والی چه دامطلق اوبه پالی لشوی بلکه مقیدی شوی په قید دالزعفران سره بل قزرم بلکه دی وصف دزعفرانیت خو دامایعیت داوبو نورهم مظبوط کړو. فیدخل تحت حکم مطلق الماء لو داخلی شوی داماء الزعفران په مطلق الماءکښی، اوامام شافعی صاحب والی چه داسی نده بلکه په اوبو کښی هغه صفت پکارده په کوم صفت کښی چه له اسمان نه نازلی شویدي هغه والی چه الله تعالی فرمائی ﴿ وَاَنْزَلْنَامِنَ

Maktaba Tul Ishaat.com

السَّمَآءِ مَآءً طَهُورًا ﴾( الفرقان/٤٨) يعنی موږ نازلې کړېدی هغه پاکې اوبه چه بل شی پکښی بلکل ګډ ندیْ. نو شوافع والی چه په ماء الزعفران کښی خوهغه وصفیت اوپاکوالی نشته ګوم چه په ماء السماء کښی دی نودتیمم لپاره خو داسمان داوبو پشان خالصی اوبه پکاردي ؟ نوموږ ورله جواب کوه چه داخو ته قیاس کوی څکه چه فلم تجدواماءً خومطلق راغلی دی په باره دلیمم کښی اودا خو لی لدي ویلی چه فلم تجدواماءًمنزلاً مِنَ السَّماء اوهرچه والزلنا من السماء ماءً طهوراً دی هغه خو الله پاك خپل انعامات بیانوي پخپلو بندګانو باندی چه ماتاسو ته له اسمان نه صفا سوچه اوپاکیزه اوبه نازلې کړېدی چه بل شی پکښی بلکل ګډ ندی نو د هغی مسئلی چه تیمم دی له دی مسئلی سره چه الله تعالی خپل انعام بیانوي هیڅ تعلق نشته وکان شرط بقاله اوله چه پکښی شرط ږدی چه اوبه دی باقی وي په صفت منزل من السماء کښی اوله داقید ګرځوی دغه مطلق لپاره نوداخو بالقیاس ندی جائز څکه تقید دکتاب الله بالقیاس ناجائز دی.چه ته دغه اوبه دلیمم دجوازلپاره چه فلم تجدوا ماءً فتیمموا دی قیاس کوی په هغه اوبو باندی چه وانزلنا من السماءماءً طهورا دی نو پدیصورت کښی تقیددمطلق کتاب الله راغی په قیاس سره څکه چه هغه بیله مسئله ده اودا بیله مسئله ده قیداً لهذاالمطلق قیدلپاره ددی مطلق چه فلم تجدو ماءً فتیمموا دی(ودا لانجوز بالقیاس) یعنی دا قید کیښودل چه اوبه به باقی علی صفة المنزل من السماء وی داخو تقید کول د مطلق دی وبه اوېدی وجه چه احناف وائی چه مطلق دکتاب الله به نه مقیدکوی په خبرواحداوقیاس سره بلکه په خپل اطلاق به جاري کیږي اوشوافع وائی چه مقید کولی به شی یخرج حکم ماء الزعفران متفرع کیږي به حکم دماء الزعفران، نوداحنافو په نزد باندی (یجوزالتوضی بماء الزعفران واما الشافعی فیقول یتیمم ) هغه والی چه یوځای کښی اوبه نوي اوپه یولوښی کښی دزعفرانو اوبه موجودی وي نو داسړی به تیمم کوي څکه چه دهغه په نزد باندی دفلم تجدوا ماءً نه مراد (ماءً علی صفة کونه منزلاًمن السماء) دي اوددیمذکوره اوبو خواختلاط راغلی دی لهذا تیمم به کوي. والصابون والاشنان اومتفرع کیږي به حکم دماء الصابون اودماء الاشنان ، اوپه اوبو دصابون اوداشنان کښی امام شافعی صاحب هم له موږه سره موافق اومتحد دی وامثاله همدارنګه نورمثالونه ددی مذکوره څیزونو مماخالطه ولم یزل عنه الرقة والسیلان، دلته کښی بیاپه موږ باندی اعتراض

دی چه په ماء مطلق کښی خو ماء النجس هم داخلیږي سره ددی چه اودس ورباندی نه کیږي نو پکارخوداوه چه داحنافو په نزد باندی په ماء النجس باندی هم اودس کیدائ خکه هغه هم په ماء مطلق کښی داخلیدی ؟ نومصنف ورته جواب کوي چه داخکه صحیح نده چه ماء النجس خو پخپله وتلی دي خکه هرکله چه الله تعالی په قران مجید کښی داودس اودتیمم ذکر کوي نو ورسره دلیُطهِرَکُمْ تکی راوړي مطلب دا دی چه دتیمم اجازت مونږ ته خکه ملاؤ دی چه الله تعالی مونږه پاك کړي او تطهیر هلته پکار وي چه مخکښی نجاست موجودوي نو نجس به څنګه تطهیر راولیلکه وائی (خفته را خفته کے کند بیدار) چه یو سړی ویده وي نو هغه به بل سړی څنګه بیدار کړي نو نجسی اوپلیتی اوبه به سړی څنګه پاك کړي نو له دی وجهی‌نه په قرینی دلیطهرکم سره ماء النجس ندی مراد خکه بیا به دلیطهرکم پرخای باندی لینجس کم شي، نو که ماء النجس موجود هم وي بیا به هم تیمم کولی شي وخرج عن هذه القضیة اوخارج شویدی ددی حکم نه الماء النجس نجسی اوبه بقوله تعالی ولکن یرید لیطهرکم پدی قول دالله تعالی چه الله تعالی اراده لري چه پاك اوطاهر کړي تاسو لره،یعنی مقصود داستعمال داوبونه طهارت دی نه مجرد استعمال والنجس لا یفید الطهارة اونجس مفید ندی لپاره دطهارة بلکه نورهم تنجیس راولی. وبهذه الاشارة اوددی اشارة النص نه چه الله تعالی فرمائی لیطهرکم عَلِمَ مونږ ته معلومه شوه ان الحدث شرطٌ لوجوب الوضوء چه بی اودسی ضرور دی داودس دواجب کیدو لپاره. خکه په آیت داودس کښی چه ﴿ یٰٓاَیُّهَاالَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قُمْتُمْ اِلَی الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَکُمْ وَاَیْدِیَکُمْ اِلَی الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوْا بِرُءُوْسِکُمْ وَاَرْجُلِکُمْ اِلَی الْکَعْبَیْنِ... الآیة﴾(المائد ٦/ ) پدی ایت کښی ټول مفسرین داقید ږدي چه ﴿ یٰٓاَیُّهَاالَّذِیْنَ اٰمَنُوا اِذَاقُمْتُمْ اِلَی الصَّلٰوةِ وَاَنْتُمْ مُحْدِثُوْنَ ﴾ مطلب داچه کله تاسو دلمونځ کولو اراده وکړی اوتاسو بی اودس وئ نو اودس به کوی. دوانتم محدثون قید مونږ دلیطهرکم نه ثابتوه خکه،چه داوبو استعمال ددی لپاره وي چه سړی پری خان پاك کړي نو تطهیرهلته ضروري وي چه حدث موجود وي او چه کله حدث نوي بیا خو سړی پخپله پاك وي نوبیا طهارت ته څه ضرورت دی ؟ خکه بیاخو تحصیل دحاصل راځی اوداناجائز دی، نودلیطهرکم تکی نه مونږ ته دوه خبری ثابتی

شوی ، یوه خبره داچه . فلم تجدوا ماءً نه مراد ماءالنجس ندي ځکه چه اوبو نه مراد هغه اوبه دي چه تطهیر راولی اوماء النجس خوتطهیر نشی راوستلی نو ماءً نه مراد هغه اوبه دي چه طاهری وي نه نجسی. اودویمه خبره داچه اودس په سرِي باندی هلته فرض کیږي چه اودس ئی نوي اوکه اودس ئی وي نوبیا اودس پری لازم ندی ځکه مفسرین قید لګوي چه وانتم محدثون. فإن الطهارة بدون وجودالحدث محال ځکه حاصلول دطهارت بغیر دوجود دحدث نه محال دی. ځکه دطهارت معنی دی ازالة دنجاست ، اوازالة دنجاست فرعه ده دوجود دنجاست نه ، ازالة دنجاست وائی لری کولو دنجاست ته په وجود دنجاست کښی برابره خبره ده چه نجاست حقیقی وي اوکه نجاست حکمی وي نوبی اودسی نجاست حکمی دی نومعلومه شوه چه ازالة نجاست تقاضه دوجود دنجاست کوي اوچه نجاست موجودنوي نو ازالة دنجاست به څنګه راشي. قال ابوحنیفة رضی الله عنه المظاهرُ امام ابوحنیفه رحمة الله علیه فرمائی چه کچیرته یومظاهر. مظاهر هغه سرِي ته وائی چه خپلی ښځی ته اووائی( انتِ عليّ کظهر امی ) ته په ما باندی داسی ئی لکه ما باندی زما دمور شا. یعنی په ما باندی حرامه ئی.دجاهلیت په زمانه کښی به کچا خپلی ښځی ته اوویل انت علی کظهر امی نوهغه ښځه به بیا پری حرامه شوه ، کچیرته یو کس دظهرتکی اونه وائی بلکه داسی اووائی انتِ عليّ کبطن امی نو بیا هم پری حرامیږي ، لکن دجاهلیت په زمانه کښی به اکثره دظهرلفظ استعمالیدو نو ښځه به پری حرامه شوه. خوله بنت ثعلبه ته هم خپل خاوند اوویل انتِ علی کظهر امی هغه مشره(بوډی) ښځه وه اودخپل خاوند نه ئی ډیر زیات بچی هم شوي وه هغه راغله اورسول الله ﷺ ته ئی عرض اوکړو چه یارسول الله ماته خو خپل خاوند انت علی کظهر امی وویل رسول الله مبارك ورته اوفرمائل معلومیږي داسی چه پری حرامه شوی ئی ، بیا ئی ورته اوویل یا رسول الله ﷺ تا باندی پدی باره کښی څه حکم ندی نازل شوی رسول الله مبارك ورته اوفرمائل چه په دی باره کښی په ماباندی تراوسه پوری هیڅ حکم ندی نازل شوی لکن معلومیږي داسی چه پخپل خاوند باندی حرامه شوی ئی ، نو هغی ښځی ژړل او ویل ئی چه خاوند خو زما ټوله خوانی وخوړله او اوس زه بوډئ شوی یم او واړه واړه بچیان می دي زه به څه کوم اوپه

ژړا ژړا درسول الله ﷺ له مجلس نه واپس شوه٠ الله تعالی آیاتونه نازل کړل ﴿ قَدْ سَمِعَ اللهُ قَوْلَ الَّتِیْ تُجَادِلُكَ فِیْ زَوْجِهَا وَتَشْتَكِیْ اِلَی اللهِ وَاللهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا اِنَّ اللهَ سَمِيْعٌ بَصِيْرٌ * ﴾( المجادلة /١). رسول الله ﷺ وفرمائل هغی بوډئ ته اواز وکړی او ورته ئی اوویل ستا باره کښی آیاتونه اوحکم نازل شو کچیرته خاوند ښځی ته رجوع کول غواړي لوکولی شی ﴿ وَالَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَاقَالُوْا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا ... الآية فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَاِطْعَامُ سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا.. الخ ﴾( المجادلة / ٣ ، ٤ ) معنیداچه هغه کسان چه ظهاروکړي له خپلو ښځوسره اوبیا په خپلو کړو باندی ستومانه(پښیمانه) وي نو کفاره دظهار به ورکړي، یو غلام به ازادکړي نوښځی ته بیا رجوع کولی شي ښځه ئی بیا ښځه ده اوکه غلام ورسره نوي نوبیا به دوه میاشتی روژی ونیسی ، اوکه داهم نشی نیولی نو بیا به شپیته(٦٠) مسکینانو ته روټی ورکوي نو ښځه ورته روا شوه٠ اوس دلته کښی یوه مسئله داده چه کفاره دظهارکښی الله تعالی فرمائی (ثم یعودون لماقالوا) بیا دوئ عود کوي خپلیخبری نه، دلته کښی دا لام په معنی دعن سره دی (یعودون عماقالوا ) اعاده وکړي دهغی خبری نه کومه ئی چه کړیده چه انت علی کظهر امی دی اووائی چه ښځه واپس اخلم نو په ایت کښی الله تعالی فرمائی چه که څوك مظاهر واپس خپلی ښځی ته رجوع کول غواړي نو غلام به ازاد کړي که غلام پیدانکړي نو بیا به دوه میاشتی روژی ونیسی، دلته کښی دشهرین متتابعین قبل ان یتماسا لفظ راغلی یعنی تر څو ئي چه غلام ازاد کړی نه وی یائي شپیته روژی نیولی نه وی نو جماع به نه کوی، اوکچیرته دیوکس طاقت نوي دغلام نو بیا به شپیته(٦٠) مسکینانو ته دوه لیمه روټی ورکوي٠ لکن پدی کښی دقبل ان یتماسا لفظ نشته نو که یو کس ظهارکړی وه اودئ بیا په خپل ظهار باندی پښیمانه وه اودی کس سره غلام هم نوه او دوه میاشتی روژی ئی هم نشوی نیولی او دیرشو(٣٠) مسکینانو ته ئی روټی ورکړه اودیرش(٣٠) نورلاباقی وه اوددی په منځ کښی ئی ښځی سره جماع اوکړه شوافع والی دا کفاره ئی نده صحیح بیا به دوباره دا سری شپیتو مسکینانو ته روټی ورکوي ، اومونږ وایو صحیح ده څکه پدی کښی من قبل ان یتماسا تکی نشته نوددی وجهی نه امام ابو حنیفه صاحب فرمائی ( والمطلق

Maktaba Tul Ishaat.com

یجری علی اطلاقه والمقید یجری علی تقیده) نووالی چه إذاجامعَ امرأته فی خلال الاطعام لایستانف الاطعام نو امام ابوحنیفه رحمه الله والی چه هرکله یو مظاهر جماع وکړي دخپلی ښځی سره په منځ دطعام کښی نه به دوباره کوي طعام لان الکتاب مطلقٌ فیْ حق الاطعام خکه چه قران په حق دطعام کښی مطلق دی نو دیوجهی نه اجراء به لی هم مطلقه وي فلایُزاد علیه شرطُ عدم المَسِیْس بالقیاس علی الصوم اوپدی باندی به نه اضافه کوي شرط دعدم مسیس یعنی جماع له وجی دقیاس نه په صوم باندی. خکه هلته کښی کتاب مقید وه په شرط دمن قبل ان یتماسا سره اودلته کښی دا شرط نشته بل المطلق یجری علی اطلاقه والمقید علی تقیده بلکه مطلق به جاری کیږي پخپل اطلاق باندی اومقید به جاری کیږي پخپل تقیدباندی. وکذلك قلنا الرقبة فی کفارة الظهار والیمین مطلقة همدارنگه پردی بنیاد باندی چه مطلق به جاری کیږي پخپل اطلاق باندی اومقید به جاری کیږي پخپل تقید باندی مونږ وایو چه رقبه په کفاره دظهار اودیمین کښی مطلقه ده دظهار په کفاره کښی الله تعالی دمطلقی رقبی ذکر کړیدی، مطلقه رقبه نه مراد برابره خبره ده که غلام مؤمن وي اوکه غلام کافر وي خوچه په کفاره دیمین اودظهارکښی چا ازاد کړو نو غاړه لی خلاصه شوه او خپله بی بی ورله جائز شوه. احناف والی چه دظهار په کفاره کښی الله تعالی فرمالی ( فتحریر رقبةٍ من قبل ان یتماسا ) دلته کښی درقبی تکی مطلق الله پاك راوړی دی لو والمطلق یجری علی اطلاقه همدارنگه په کفاره دیمین کښی هم الله پاك کفاره مطلقاً ذکرکړیده . یمین په دری قسمه دی . اول یمین لغوه دی. یمین لغوه دیته والی . چه دیو چا اراده نوي خوهسی دخولی نه لی والله بالله الفاظ ووځی لکه دیوچا عادت وي ددی الفاظوویل. په یمین لغوه بالدی الله پاك سری نه نیسی خکه قرآن والی ﴿ لَایُؤَاخِذُکُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِیْ اَیْمَانِکُمْ ....الآیة ﴾(المائدة /۸۹ ) دولم یمین منعقده دی. یمین منعقده دیته والی . چه یو سری په مستقبل بالدی قسم کوي چه قسم دی زه به داکار نکوم لو بیا به هغه کار نه کوي که هغه کار لی وکړو لو بیا حانث شو اوکفاره به ورکوي خکه الله پاك فرمالی ﴿ وَلٰکِنْ یُؤَاخِذُکُمْ بِمَاعَقَّدْتُّمُ الْاَیْمَانَ ... الخ ﴾ ( المائده /۸۹ ) دریم یمین غموس دی. یمین غموس دیته والی . چه په دروغو بالدی په یو شی قسم

وکړي لکه دیو کس په تا باندی روپی دي اوتا هغه روپی لدي ورکړی لکن ته په دروغو باندی قسم کوی چه قسم دی ما ورکړی دي یا والله بالله چه مادرکړي دي، دا ډیر لوئ جرم دی خکه ته دالله پاك مبارك نوم دخپلو دروغو رښتیا کولو لپاره استعمالوی ، ددی قسم خاوند ته به الله پاك په جهنم کښی غوپی ورکوي خکه غموس دغمس نه دی د غمس معنی دی غوپی وهل. اوبیا دقران مجید په همدغه ایت کښی راخی که یو کس قسم ماتوي نو ﴿ فَكَفَّارَتُهٗ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسٰكِيْنَ مِنْ اَوْسَطِ مَاتُطْعِمُوْنَ اَهْلِيْكُمْ اَوْكِسْوَتُهُمْ اَوْ تَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ ذٰلِكَ كَفَّارَةُ اَيْمَانِكُمْ اِذَاحَلَفْتُمْ... الخ ﴾( المائدة /۸۹ ) نو دلته په کفاره دیمین کښی هم رقبة مطلقاً ذکر شویده دمؤمنة ذکر ورسره نشته خکه احناف وائی چه په کفاره دیمین کښی هم که یو سړی رقبة ازاده کړي برابره خبره ده چه داغلام مؤمن وي اوکه کافر وي نو غاړه ئی خلاصه شوه. شوافع وائی چه دظهار او د یمین په کفاره کښی به مؤمن غلام به ازادولی شي کافر غلام ندی معتبر هغه وائی چه دامنم چه په کفاره دظهاراوبه کفاره دیمین کښی درقبی مطلقاً ذکر شویدی لکن هلته په کفاره دقتل خطاء کښی کفاره مؤمنة ذکرشویده هلته کښی رقبه مقیده ده په قید دمؤمنة سره نوداهم ضرور دی چه رقبة مؤمنة وي نو امام شافعی صاحب قیاس کوي دکفاری دظهار اودکفاری دیمین په کفاری دقتل خطاء سره نو احناف ددی خبری جواب کوي اووائی چه ای امام شافعی صاحب مونږه خو مطلق دکتاب الله په یو حکم اویوه حادثه کښی دمقید تابع نه ګرخوو چه کفاره دظهاردی ، په کفاره دظهارکښی دروژو سره دمن قبل ان یتماسا تکی لګیدلی دی مقیددی اوبه اطعام دمساکینو کښی دمن قبل ان یتماسا تکی ندی لګیدلی مطلق دی نه مقید ، نوکه په مابین دروژو کښی سړی له ښخی سره جماع وکړي نوبیابه سردوباره له سرنه سړی روژی نیسی ، لکن که نیمومسکینانو ته ئی روټی ورکړی وه اونیمو مسکینانو ته لی روټی لا نوه ورکړی اوسړي له خپلی ښخی سره جماع وکړه نو دوباره به سړی روټی له سرنه نه ورکوي خکه دی سره الله پاك دمن قبل ان یتماسا تکی ندی لګولی، نو چه کله مونږ په حکم واحد اوحادثه واحده کښی مطلق دمقیدتابع نه ګرخوه نوبه احکام مختلفه اوحوادثومختلفه کښی لی په طریقه اولی سره مطلق دمقیدتابع نه ګرخوه خکه چه کفاره

Maktaba Tul Ishaat.com

دظهار جداشی دی ، کفاره دیمین جدا شی دی ، اوکفاره دقتل خطاء جدا شی دی. الله تعالی چه یوشی مطلق راورو نو ستاپکښی څه کاردی چه مقید کوی ئی ، الله تعالی حکیم ذات دی ، الله تعالی یوځای کښی مطلق ددی لپاره راوړی چه الله تعالی هغه مسئله خپلو بندګانو ته اسانه کوي ، اوبل داچه مطلق توسیعتاً ورحمتاً علی العباد راوړي ، مطلق اسان وي لکه پدیمسئله دیمین اوظهار کښی صرف یو غلام دی ازادئی کړه خبره ختمه شوه اوکه ته ورسره دایمان قید لګوی نو داخونی ته بندګانو ته مشکلوی الله تعالی یوشی اسان کړی دی اوته ئی ګرانوی اوحالانکه الله تعالی فرمائی ﴿ لَايُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْساً اِلاَّ وُسْعَهَا ﴾ (البقرة، الاية: ۲۸٦ ) پاتی شوه کفاره دقتل. قتل ډیرلوی جرم دی ځکه الله تعالی پدی ډیره سخته کړه اورقبه مؤمنه ئی ورته ذکر کړه دیجهی نه خونن سبا خلق ډیر زیات مجرمان(ګنهګار)دي اوهیڅ احتیاط نکوي ځکه که یوکس په ټوپك باندی هسی هوائی ډزی کوي اوپه تش کارتوس باندی هم سړی ولګیږي اومړشی نو داهم په قتل خطاء کښی راځی، اوداهم دقیامت نښی(علامی) دي حدیث شریف کښی راځی (چه هرج به ډیرشی قالوا ومالهرج یارسول الله قال القتل )نودقتل خطاء دجرم دوجی نه الله تعالی کفاره سخته وګرځوله اوپه دی نورو دواړو ځایونو کښی جرم دومره غټ ندی ځکه الله پاك ورته کفاره هم اسانه وګرځوله. فلا یزاد علیه شرط الایمان بالقیاس علی کفارة القتل نو نه به زیاتوی پدی رقبه باندی شرط دایمان یعنی رقبه مؤمنه لکه څرنګه چه امام شافعی صاحب زیات کړی په قیاس سره په کفاره دقتل خطاء باندی ځکه که ته دقیاس له وجی نه په رقبی باندی دمؤمنی قید اضافه کړی نو لا یبقی المطلق مطلقاً بل صارمقیداً مطلق به مطلق پاتی نشی بلکه مقید به تری جوړشی نو په نص دکتاب زیات والی پکار ندی فان قیل پدی لفظ سره اشاره کیږي اعتراض ته کوم چه شوافعو له خوانه په قاعدی داحنافو باندی واردیږي هغه داچه ای احنافو تاسو وایالی چه مطلق دکتاب الله به په خپل اطلاق جاري کیږي اومقید به په خپل تقید جاري کیږي اوتاسو وایالی چه مطلق دکتاب الله دخبرواحد یادقیاس له وجهی له نشی مقید کیدای مونږ به درته وښیو چه تاسو به مطلق دکتاب الله په خبرواحد یاقیاس سره مقید کړی وي ؟ إن الکتاب فی مسح الراس یوجبُ مسح مطلق

البعض قرآن مجیدواجبوي په مسح دسر کښې مسح دمطلق بعض ، څکه الله تعالی فرمائی وامسحوا برؤسکم . دلته په برؤسکم کښې دا « ب » تبعیض لپاره ده یعنی په بعضی سر باندی مسح وکړئ وقدقیدتموه بمقدارالناصیة بالخبر اوتاسی مقیدکړو دا مطلق دکتاب الله په ربع دراس سره له وجی دحدیث نه چه هغه قول دمغیرة دی (عن المغیرة بن شعبة ان النبی ﷺ اتی سباطة قوم فبال وتوضا ومسح علی الناصیة وخفیه وعلی العمامة رواه مسلم ) مطلب داچه رسول الله مبارك یوځای ته راغی هلته لی اودس مات کړو بیا لی دهغی نه وروسته اودس کولو نو مسحه لی وکړه په ناصیة باندی ، او په موزو باندی ، اوپه عمامة باندی ، نو احناف والی چه مسح په ربع د راس باندی فرض ده، شوافع والی چه په ایت کښې خومطلق مسح ذکرشویده تاسو چه پکښې ربع دراس قید ولګولو دا مو دحدیث دوجهی نه پکښې راوړو اودانشو مګر لقید دمطلق دکتاب الله شو په خبرواحد سره اودا خو ستاسو دقانون خلاف دی ؟ اصل کښې دسر څلور حصی دي دمخکښې طرف نه اولنی حصی ته، ناصیة والی ، اوددی مقابل کښې آخرنئ حصی ته قُذال والی ، اوددی دواړو په منځ کښې، ښئ حصی ته فودایمن والی ، اوددی مقابل چپی حصی ته فودایسر والی. لوشوافع والی چه په حدیث دمغیرة کښې چه دمسح ذکرشویدی اوتاسو ترینه ربع دراس ولی اخلی ؟

اوبل اعتراض دادی چه والکتاب مطلق فی التهاء الحرمة الغلیظة بالنکاح دقرآن مجید آیت مطلق دی په انتهاء دحرمة غلیظه کښې په نکاح باندی چه حرمت دښځی دی په دری طلاقو سره. الله تعالی قران مجیدکښې فرمالی ﴿ فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَاتَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتّٰی تَنْكِحَ زَوْجاً غَيْرَهُ ﴾ (البقرة /٢٣) که یو سړي خپلی ښځی ته دریم طلاق هم ورکړو نودوباره خپل خاوند ته نه رواکیږي ترڅو چه دبل خاوندسره نکاح ونکړي. ایت نه خو معلومیږي چه مجرد نکاح سره هم داښځه مخکنی خاوند لپاره روا شوله یعنی که یوسړئ خپلی ښځی له دری طلاقه ورکړي اوبیا هغه ښځه بل سړي سره مجردنکاح وکړي اوبیا لی هغه دویم خاوند طلاقه کړي اودریم حیض تیرشی لوښځه دوباره اولنی خاوند له رواکیږي لو ائ احنافو ستاسودمذهب مطابق مطلق لکاح سره دا ښځه رومبنی خاوند له نه رواکیږي ترڅو پوری چه ورسره دویم خاوند جماع لوي کړی حالانکه لنکح خومطلق دی اوتاسو

Maktaba Tul Ishaat.com

دحدیث له وجهی نه مقید کړو وقد قیدلموه بالدخول بحدیث امراة رفاعة اوتاسو مقیدکړو په قید ددخول سره له وجهی دحدیث دښځی درفاعة نه. دارفاعة نی قریظی دی دئ دبنی قریظه دقبیلی نه وه بنی قریظه دقبیلی نه ډیرلګ کسان مسلمانان شوی‌وه دئ هم دمسلمانانو له جملی څخه وه اوحدیث درفاعة دښځی (وعن عایشة رضی الله عنها قالت : قالت امرأة رفاعة کنت عندرفاعة القرظی فطلقنی‌ثلثا فتزوجت بعده عبدالرحمن بن الزبیر فلم اجدمعه إلا کهدبة ثوبی هذا فقال علیه السلام اتریدین ان تعودی إلی رفاعة فقالت نعم فقال لاحتی تذوقی من عسیلته ویذوق هو من عسیلتك ) دحضرت ام المؤمنین نه روایت دی چه درفاعة ښځه راغله اورسول الله ﷺ ته نی ژړا کوله او ورته وویل چه زه درفاعة سره وم بیا هغه په دریو طلاقو سره طلاقه کړم بیا می حضرت عبدالرحمن بن الزبیر سره نکاح وکړه اوهغه خوډیر کمزوری دی یعنی انتشار د الي پکښی نشته زما ددی جامی دشملو پشان، هرکله چه درفاعة ښځی دغه حالت رسول الله ﷺ ته بیانولو نو حضرت ابوبکر صدیق اوحضرت خالدبن ولید رضی الله عنهما هم په دروازه کښی ولاړوه نو حضرت خالدبن ولید رضی‌الله عنه ډیرغوصه وه چه دابښځه رسول الله ﷺ مخکښی داخبره کوي اوابوبکرصدیق رضی‌الله عنه نی هم نه منع کوي نورسول الله ﷺ تبسم کولو اوورته وفرمائل چه ایا ستا دا خیال دی چه بیا رفاعة ته واپس شی نوهغی ورته په جواب کښی وویل اوزه غواړم چه رفاعة ته واپس شم نو رسول الله مبارك ورته وفرمائل چه نه ته نشی واپس کیدای تردی پوری چه ته دده ګبین ګوتی ونه څکی اودئ ستا ګبین ګوتی ونه څکي. عسیلة کښی دیته اشاره ده که معمولی غوندی دخول هم وشو نونکاح دبل خاوند سره صحیح کیږي انزال پکښی ضروري ندی. قلنا قلنا سره ددواړو اعتراضاتو نه جواب ته اشاره کیږي اودلته کښی لف نشر مرتب دی څکه داول اعتراض نه اول جواب اوددویم اعتراض نه دونم جواب دی نو دی ترلیب ته لف نشرمرتب وائی. إن الکتاب لیس بمطلقٍ فی باب المسح چه ایت دقرآن په باب دمسحی کښی مطلق ندی بلکه مجمل دی ورنه مطلق هغه ته وائی چه دهغه په کوم فرد عمل وکړو نو په مطلق عمل راغلی دی. فإن حکم المطلق ان یکون الاتی بایّ فردکان اتیاً بالماموربه څکه حکم دمطلق هغه دی چه په هرفرد عمل وکړو نو په مامور

به باندی عمل راغی لکه کفاره دظهار کښی دی چه په کوم فرد باندی عمل وکړو نو کفاره اداء کیږي يعنی که روژی دی ونیولی یا دی غلام ازادکړو اویا دی مسکینانوته روټی ورکړه. والاتی بایّ بعضٍ کان ههنا لیس باتٍ بالماموربه اولته په مسح درأس کښی دی که یو فرد باندی عمل وکړو نو ته اتی بالماموربه نه ئی فإنه لومسح علی النصف که یوسړي په نصف سرباندی مسحه وکړه اوعلی الثُلُثَین یا په دریمه حصه دسر باندی لایکون الکل فرضاً نوپدی صورت کښی دا ټول فرض ندي بلکه بعض فرض دي ځکه چه بروٌسکم دی په بعض سر وبه فارق المطلقُ المجمل نوپه همدی وجه باندی مطلق دمجمل نه جداشو، نوخبرواحد دمجمل بیان واقع کیداشی نو دمغیرة بن شعبة روایت دمجمل دکتاب الله لپاره بیان دی چه درأس نه مراد ربع الرأس دی ځکه چه ربع قایمیږي په مقام دکل باندی نو دی‌وجهی نه داتقید دمطلق دکتاب الله رانه غئ بلکه دابیان دمجمل دکتاب الله راغی په حدیث سره. واماقیدالدخول هذاجواب عن النقض الثانی ای جماع الزوج الثانی فقد قال البعض په تحقیق سره ویلی دي بعضواصحابو زمونږ(احناف) إن النکاح فی النص حُمل علی‌الوطئ هلته کښی مونږ جماع دنص نه ثابته وه دحدیث نه نی نه ثابته وه چه دحتی تنکح معنی جماع کوه نوپدی صورت کښی دا دخبرواحد دوجهی نه نکوه بلکه دزوجیت له وجهی نه ئی کوه لکه قرآن مجید کښی راځی «حتی تنکح زوجاً» دزوجاً نه معلومه شوه چه نکاح مخکښی نه شویده، ورنه خاوند سره خوخوك نکاح نه تړي نومعلومیږي داچه نکاح نه مراد جماع ده ځکه قبول اوایجاب خوشویدی. اوبل داچه الله پاك ورته زوجاً اوویل زوج خوهغه چاته وانی چه مخکښی ورسره نکاح شوی وي نوچه مخکښی نکاح شویده نوبیا نکاح ته څه ضرورت دی، نوپدی صورت کښی دتنکح نه مراد جماع ده. دلته کښی شوافع یوبل اعتراض هم کوي ـ چه وطی خومن جانب رجل وي ځکه واطی خو رجل وي نودلته کښی دتنکح صیغی رجوع خو ښځی ته شویده ؟ نواحناف ورته جواب کوي چه اسناد دوطی إلی المرأة مجازأدی نه حقیقا اذالعقد مستفادٌمن لفظ الزوج اوعقدنکاح مستفیدشویدی دلفظ دالزوج نه ځکه زوج دیته وانی چه جوړه وي یعنی منضم مع الغیر وي یا په بل عبارت منقسم وي متساوینو ته نودسړي اوښځی جوړه هلته راشي چه

Maktaba Tul Ishaat.com

قبول اوایجاب وشی یعنی نکاح وتړل شی نوچه نکاح شوی وي بیا تنکح نه مراد جماع راتلی شی. دحضرت شیخ صاحب(المدنی) دقول مطابق احنافو ورته زبردست جواب وکړو. وبهذایزول السوال اوپه همدی سره سوال دشوافعو زایله کیږي. اوبل جواب هم شته هغه داچه وقال البعض ای بعض اصحابنا وهومذهب الجمهور. هغوی وائی چه قیدُالدخول ثبت بالخبر وجعلوه من المشاهیر یعنی دا قید ددخول کوم چه په حدیث سره ثابت دی، حدیث درفاعة خبرواحد نه بلکه خبر مشهوردی، خبرمشهوردیته وائی چه هغه متعددو راویانو نقل کړی وي اوداحدیث هم متعددو رواتو نقل کړیدی لکه مالك بن انس پخپل مؤطی کښی دا روایت نقل کړیدی همدارنگه دام المؤمنین حضرت بی‌بی عایشی رضی الله عنها په متعددو اسانیدو کښی مروي دی نو په خبرمشهورسره تقید دمطلق دکتاب الله جائز دی همدارنگه په متواتر سره هم جائز دی فلایلزمهم تقیدالکتاب بخبرالواحد نولازم نشو تقید دمطلق دکتاب الله په خبرواحد سره بلکه په خبرمشهورسره راغلو اودا جائز دی.

فصل فی‌المشترك والمؤوّل فصل دی په بیان دمشترك اومؤوّل کښی. دا دواړه نی په یو فصل کښی راوړه ځکه چه تأویل په مشترك باندی عارض کیږي یعنی تأویل په مشترك کښی راځی نوځکه نی دواړه په یوفصل کښی راوړه المشترك ماوُضع لمعنیَیْن مختلفَیْن مشترك هغه اسم دی چه وضعه کړی شوی وي ددوه معنی گانو لپاره چه دا دواړه معنٰی گانی به مختلفی وي، نو په ذکر دمعنین مختلفین سره عام خارج شولو ځکه عام واضع وضعه کړی وي دیوی معنی واحدی لپاره هغه یوه معنی به په ډیرو افرادو کښی موجوده وي لکه المسلمون یا المنافقون ، اولفظ دمختلفین تاکید دی دمعنین لپاره ځکه دوه معناگانی به هلته گرځی چه دواړه معنی خپل منځ کښی مختلفی وي اوکه دواړه معنی خپل منځ کښی مشترکی وي بیا خو معنیین مختلفین نشو. کله کله دیو لفظ لپاره دوه معنی وي لیکن رجع لی یوه وي لکه فرض په معنی دقطع سره راځی ، اوپه معنی داندازه کولو سره هم راځی لکن ددواړو معنی یوه ده اورجع لی هم یوی معنی ته کیږي نودا معنیین مختلفین نشو. نو چه معنیین مختلفین نشو نومشترك هم نشی کیدای لهذا مشترك هلته مشترك دی چه یو لفظ

قبول اوایجاب وشی یعنی نکاح وتړل شی نوچه نکاح شوی وي بیا تنکح نه مراد جماع راتلی شی· دحضرت شیخ صاحب(المدنی) دقول مطابق احنافو ورته زبردست جواب وکړو· وبهذایزول السوال اوپه همدی سره سوال دشوافعو زایله کیږي· اوبل جواب هم شته هغه داچه وقال البعض ای بعض اصحابنا وهومذهب الجمهور· هغوی وائی چه قیدُالدخول ثبت بالخبر وجعلوه من المشاهیر یعنی دا قید ددخول کوم چه په حدیث سره ثابت دی، حدیث درفاعة خبرواحد نه بلکه خبر مشهوردی، خبرمشهوردیته وائی چه هغه متعددو راویانو نقل کړی وي اوداحدیث هم متعددو رواتو نقل کړیدی لکه مالك بن انس پخپل مؤطیٰ کښی دا روایت نقل کړیدی همدارنګه دام المؤمنین حضرت بی‌بی عایشی رضی الله عنها په متعددو اسانیدو کښی مروي دی نو په خبرمشهورسره تقید دمطلق دکتاب الله جائز دی همدارنګه په متواتر سره هم جائز دی فلایلزمهم تقیدالکتاب بخبرالواحد نولازم نشو تقید دمطلق دکتاب الله په خبرواحد سره بلکه په خبرمشهورسره راغلو اودا جائز دی·

فصل فی‌المشترك والمؤوّل فصل دی په بیان دمشترك اومؤوّل کښی· دا دواړه نی په یو فصل کښی راوړه ځکه چه تأویل په مشترك بائدی عارض کیږي یعنی تأویل په مشترك کښی راځی نوځکه نی دواړه په یوفصل کښی راوړه المشترك ماوُضِع لمعنیَیْن مختلفَیْن مشترك هغه اسم دی چه وضعه کړی شوی وي ددوه معنی ګانو لپاره چه دا دواړه معنی ګانی به مختلفی وي، نو په ذکر دمعنین مختلفین سره عام خارج شولو ځکه عام واضع وضعه کړی وي دیوی معنی واحدی لپاره هغه یوه معنی به په ډیرو افرادو کښی موجوده وي لکه المسلمون یا المنافقون ، اولفظ دمختلفین تاکید دی دمعنین لپاره ځکه دوه معناګانی به هلته ګرځی چه دواړه معنی خپل منځ کښی مختلفی وي اوکه دواړه معنی خپل منځ کښی مشترکی وي بیا خو معنیین مختلفین نشو· کله کله دیو لفظ لپاره دوه معنی وي لیکن رجع نی یوه وي لکه فرض په معنی دقطع سره راځی ، اوپه معنی داندازه کولو سره هم راځی لکن ددواړو معنی یوه ده اورجع نی هم یوی معنی ته کیږي نودا معنیین مختلفین نشو· نو چه معنیین مختلفین نشو نومشترك هم نشی کیدای لهذا مشترك هلته مشترك دی چه یو لفظ

Maktaba Tul Ishaat.com

بهٔ وضعه شوی وي ددوه یا ډیرو معنو لپاره لکن ترجیح داحدهما به په اخر باندی نوي اوکچیرته یوسړي دیوی قرینی دوجی نه یوه معنی واخشته اوبله ئی پریښوده نو بیا هم صحیح دی لکن مؤوّل گرځی یعنی چه ترجیح دمعنی واحدی په اخر باندی راغله نومؤوّل شو نه مشترك لکه (رَمَدَتِ العین) سترگه خوگ شوه رمد دسترگی خوگووالی ته وائی نو د رمدت دقرینی نه معلومه شوه چه العین نه مراد سره زر ندی ، دالعین نه مراد چینه نده بلکه العین نه مراد سترگه ده لکه دقصیدهٔ بردہ علامهٔ بوصیری صاحب وائی

شعر قدتُنکِرالعین ضوء الشمسِ من رمدٍ ـــــ وتنکِرُ الفم طعم الماء من سقمٍ٠

کله سترگه دلمرړنا بدگنی دخوگیدو اومرض له وجهی نه ، اوکله بدگنی خوله اوبو لره دمریضی له وجهی نه٠ نودی شعرکښی هم دقرینی دوجهی نه دالعین دلفظ نه سترگه مراد ده ، یا یو کس ووائی (اشتریت العین) نو دلته کښی هم دقرینی نه معلومیږي چه دالعین نه سره زرمراد دي نه دلمرسترگه ، یایوکس وائی (نَبَعَتِ العَیْنُ ) چینه جاری شوه نوداهم دقرینی نه معلومیږي چه چینه تری مراد ده ځکه سره زر یا سترگه وغیره خو نه جاری کیږي٠ أولمعانِ مختلفة الحقائق یا به دا اسم وضعه کړی شوی وي دډیرو معناگانو لپاره داسی معنی گانی چه هغه به مختلف الحقائق وي، لکه لفظ دالعین چه بعضی اوقات ئی یو واضِع وضعه کوي دسترگی لپاره اوبل واضِع ئی وضعه کوي دلمرسترگی لپاره همدارنگه چینی ته ، سروزرو ته ، اوجاسوس ته هم دالعین لفظ استعمالیږي داهل لغت کتابونو تقریباً شپاړس معنی‌نبودلی دي دعین لپاره، نوردیته لفظ مشترك وائی ځکه دډیرو معنو لپاره استعمال شویدی٠ اوبل تعریف دا چه مشترك یواسم دی چه دا به وضعه کړی شوی وي په اوضاعو متعدده وو مختلفه وو سره یا به ددوه معنو لپاره وضعه وي یابه دډیرو معنو لپاره وضعه وي٠ بل داچه په موجودیت دمشترك کښی اختلاف دی ځوك وائی چه مشترك په خارج کښی موجود دی اوځوك وائی چه مشترك په خارج کښی ندی موجود لکه سلم العلوم کښی دهغه مصنف محب الله بهاری وائی (والحق ان المشترك واقِعٌ حتی بین الضدین) یعنی حقه خبره داده چه مشترك موجوددی تردی پوری چه په مابین دضدینوکښی هم موجود دي٠ لکه لفظ دقرء : لفظ دقرء یو واضِع وضعه کړی دحیض لپاره اوبل واضِع وضعه

کړی دطهرلپاره ، یا لکه لفظ د وَراء ، مخکښی ته هم وائی او وروستو ته هم وائی لکه قرآن مجید کښی راځی ﴿ وَكَانَ وَرَآءَ هُمْ مَّلِكٌ يَّأْخُذُ كُلَّ سَفِيْنَةٍ غَصْباً ﴾ ( الكهف/ ٧٩ ) دلته کښی د وکان وراء نه مراد وکان آمامهم دی نو مطلب داچه ځرنګه په معنی دخلف سره راځی همدارنګه په معنی دأمام سره هم راځی. **مثاله قولناجاريةٌ** مثال دمشترك لکه قول زمونږ لفظ دی جاريةٌ دی **فإنها تتناول الامة والسفينة** دالفظ دجاريةٌ شامل دی وینځی ته هم اوکشتی ته هم یعنی وینځی ته هم جارية وائی اوکشتی ته هم جارية وائی لکه قرآن مجید کښی راځی ﴿ وَلَهُ الْجَوَارِ الْمُنْشَئٰتُ فِي الْبَحْرِ كَالْأَعْلَامِ ﴾( الرحمن / ٢٤) معنی داچه دالله تعالی په قبضه قدرت کښی دی الجوار دجاريةٌ جمع دی کشتی ته وائی الْمُنْشَئٰتُ چه ډیری اوچتی دي په بحر کښی كَالْأَعْلَامِ دغردځوکو پشان ښکاری. لکه سفينة الحجّاج دپاکستان یوبحری جهاز وه تقريباً دری زره (٣٠٠٠ ) حاجیان به پکښی تلل ، ډیر لویٔ جهاز وه په سمندر کښی به دغرپشان ښکاریدو. **والمشتری** همدارنګه لفظ دمشتری هم مشترك دی **فإنه يتناولُ قابل عقد البيع وكوكب السماء** دالفظ دمشتری شاملیږي قبلونکی دعقد دبیع ته، عقددبیع چه څوك قبلوي هغه ته مشتری وائی اوڅوك چه عقد دبیع ورکوي هغه ته بائع وائی. اوبل داچه مشتری په ستورو کښی دیو ستوری نوم هم دی لکه ځرنګه چه زحل ، عطارد ، اوزهره دستورو نومونه دي نومشتری هم پکښی دیوستوری نوم دی **وقولنا بائنٌ** دبائن تکی هم مشترك دی **فإنه يحتملُ البينَ والبيانَ** لفظ دبائن په معنی دبینونت سره ده او په معنی دبیان سره هم استعمالیږي لکه هذا طالبُ بائنٌ یعنی داطالب بیان کوي یا انتِ بائنةٌ یعنی ته زمانه جدائی. **وحكمُ المشتَرَك** اوحکم دمشترك **انه اذا تعين الوحدُ مراداً** به کله چه متعین اومراد شو یوبه دلیل سره برابره خبره ده که هغه متعین شوی وي په قرينة نی لفظية باندی یا په قرينة نی حالية باندی. قرينة لفظية دیته وائی . چه تلفظ ورباندی شوی وي لکه (اشتريت العين) نو قرینی نه دامعلومه شوه چه سره زرتری مراد دي ، اوقرينة حالية دیته وائی چه دحال نه معلومیږي اوتلفظ ورباندی نوي شوی لکه (هذا عينٌ) نو دقرينة حالية نه معلومیږي چه جاسوس دی. **سقط اعتبار ارادة غيره** نوساقطه به شی اراده داعتبار دغیرنه یعنی هرکله چه تعین د معنی واحدی مراد شی نودغیرداِرادی اعتبار به

Maktaba Tul Ishaat.com

نه جمع شویدی علماء اوددی وجی ساقط شی. ولهذا اجمع العلماء رحمهم الله تعالی علی ان الفظ القروء المذکور فی کتاب الله تعالی پردی باندی چه کرام رحمة الله علیهم په قرآن مجید کښی ﴿ والمطلّقت یتربّصن بانفسهن ثلثة قروء ﴾ لفظ دقرء کوم چه ذکردی (البقرة/ ۲۲۸) محمول محمول دی إماعلی الحیض یا په حیض باندی کماهومذهبنا لکه دامذهب داحنافو دی أوعلی الطهر اویا محمول دی په طهر باندی کماهومذهب الشافعی لکه دامذهب دامام شافعی صاحب دی . اوپدی لفظ دقروء کښی دمذهبینو چه څومره اختلافات اودلائل دي هغه په بحث دخاص کښی تیرشویدي. وقال محمد إذااوصی لموالی بنی فلانٍ دامام محمد صاحب شپږغټ کتابونه دي اوهغه داحنافو دفقهی سرمایه ده دهغوشپږو نه جملی څخه یو جامع صغیردی اوبل جامع کبیردی لکن امام محمدصاحب دا لاندینئ مسئله په جامع کبیرکښی ذکرکړیده. نوامام محمدصاحب وائی کچیرته یوسړي وصیت وکړو چه دبنی فلان موالی ته زما دومره روپئ ورکړی یعنی یوسړی مړکیږي اووصیت نی وکړو چه دبنی فلان موالی ته زما په مال کښی مثلاً لس زره روپی ورکړی اوحال داچه دبنی فلان لپاره دوه قسمه موالی دي یعنی هغه پخپله غلام وه اوبیا ازاد شوی وه نودده معتِق(بالکسر) ته هم مولیٰ وائی اوکله چه دئ ازادشو اوبیا مالدار شو اوده هم غلامان پیداکړل اوآزادئی کړل یعنی دده معتَق(بالفتح) ته هم موالی وائی نوپدی صورت کښی به دموصی ددی وصیت نه څوك مراد وي ؟ نواول خو پکار دداده چه موصی ددیوصیت بیان وکړي چه دهغه مراد ترینه څوك دي که هغه بیان وکړو نوخبره ختمه شوه خکه . ع ( تصنیف رامصنف نیکو کند بیان) لکن که موصِی مړ شو اوبیان ئی ونکړو نووصیت باطل شو خکه تعارض پکښی راغلو . اذاتعارضا تساقطا . نوداحنافو په نزد باندی عموم دمشترك ناجائز دی اودشوافعو په نزد عموم دمشترك جائز دی یعنی شوافع وائی چه دا پیسی دی دواړو ته ورکړي هم معتَقینو(بالفتح) ته اوهم معتِقینو(بالکسر) ته . نودا هم یوه بله مسئله اختلافی شوه . امام شافعی صاحب دلیل نیسی په آیت دقرآن مجید باندی قران مجید کښی راخی﴿الم تر ان الله یسجد له من فی السموت ومن فی الارض والشمس والقمر والنجوم والجبال والشجر والدواب وکثیر من الناس ﴾( الحج / ۱۸ ) دلته کښی لفظ

دیسجُدُراغلی‌معنی داچه ائ زما پیغمبره علیه السلام‌،ته نه گوری چه الله پاك ته سجدی لگوی تمام کائنات سماوی اوتمام کائنات ارضی همدارنگه سجده کوی الله تعالی ته لمر، سپوږمی، ستوري، غرونه، ونی، ځناور، اوډیرخلکونه۰ نولفظ دسجودمشترك دی په مابین دمعنیینو مختلفینوکښی ځکه د انسانانو سجده دیته وائي ( وضع الجبهة والانف علی الارض) لکن داسمانونو،ځمکو، غرونو، اوحیواناتو سجده عاجزی ده یعنی هغوی دالله تعالی حکم ته منقاد دي، اوداللّه تعالی حکم منی نو لفظ دسجود مشترك دی په مابین دمعنیینو مختلفینو کښی که انسان ته ئی نسبت وکړی مراد ترینه تندئ لګول دي په ځمکه باندی، اوکه نوروکائناتو ته ئی نسبت وشی مراد ترینه انقیاد اوتعبداری کول دي۰ اودلته په آیت مذکوره کښی دواړه معنی مراد دي۰ نوامام شافعی صاحب وائی چه عموم دمشترك جائزدی دیو مشترك نه دواړه معنی په یو آن کښی اخشتلی شی۰ اواحناف دهغوی نه جواب کوي چه مراد دسجود نه خشوع ده اوخشوع دواړوته شامله ده الله تعالی ته به ټول کائنات یسجد یعنی عاجزی کوي۰ نوزمونږ اوستاسو عاجزی تندئ لګول دي اودنوروکائناتو عاجزی دالله تعالی حکم منل دي۰ لکه په قرآن مجید کښی راځی ﴿ وَلَهٗٓ اَسۡلَمَ مَنۡ فِي السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ﴾ (آل عمرآن/ ۸۳ ) معنی داچه خاص الله تعالی لره دي تمام کائنات السماوی او ارضی۰ توکه یو طالب اووائی چه اسمان اوځمکه یانور حیوانات هم مسلمانان دي نو دروغ ئی ندی ویلی ځکه کوم کارچه الله تعالی ځمکی ، اسمان، لمر، سپوږمی یانوروحیواناتو ته سپارلی دی نو هغه بلکل په خپل خپل وخت سره سرته رسوي نو ټول کائنات پدی معنی چه دی الله تعالی تابع دي سره شریك دي نو داحنافو قول په لفظ دیسجدُ کښی داشو چه دسجود نه مُراد خشوع دی نوزمونږ اوستاسو خشوع په سجده کښی ده اودنورو کائناتو خشوع دالله تعالی په حکم منلو کښی ده۰ نومونږ وایو چه پدی صورت کښی مونږ دمشترك نه ټوله معنی نده اخشتی بلکه مونږ دهغه لفظ معنی داسی وکړه چه ټولو ته شامله شوه۰ ولبنی فلان مَوَالٍ من اعلی دلته کښی دا واو حالیه دی نومعنی داشوه۰ اوحال دادی چه دبنی فلان لپاره پاسنی موالی هم شته مرادترینه معتِقین(بالکسر) دی ومَوَالٍ من اسفَلَ او دبنی فلان لپاره لاندینی موالی هم شته مراد ترینه معتَقین(بالفتح) دي

Maktaba Tul Ishaat.com

فمات بطلتِ الوصيةُ في حق الفريقين او داموصی مړشو قبل البيان نو باطل شو داوصيت
په حق دفریقینو کښی یعنی په حق دموالی اعلی کښی اوپه حق دموالی اسفل کښی.
لاستحالةِ الجمع بينهما له وجی دمحالوالی دجمعی نه ددی دواړو په منځ کښی چه هغه
معتق اومعتق دی اوعدمِ الرجحان اوله وجی دعدم ترجیح نه داحدهما علی الاخر. اوخوك
وانی چه دلته کښی مُرجح موجوددی چه هغه احسان دمعتق دي په ده باندی نو لهذا
معتق نه دی خکه ورکړي چه دده محسن دی اوقرآن مجید کښی راخی ﴿ هَلْ جَزَآءُ
الإحسانِ إلاّ الإحسانُ ﴾ ( الرحمن/ ٦٠ ) نوموږ ورته جواب کوه چه صحیح ده داخو دده
محسن دی لکن دموصی محسن خوندی موصی خو وصیت دواړوته کړی. ځکه موصی خو ثالث
سړی ده موصی ته خوموالی اعلی اوموالی اسفل دواړه برابردي. نودی وجی نه داحنافو دلیل قوي دی
اومرجح هم موجودنشو. وقال ابوحنیفةرح امام ابوحنیفة رحمه الله تعالی یوه بله مسئله
بیانوي. إذاقال لزوجته انتِ علیّ مثل امی چه یو سړی خپلی ښځی ته اووائی ته په
ماباندی زما دمورپشان نی لایکون مظاهراً نو مظاهر نشوداسړی پدی لفظ باندی بغیر دنیت
په یعنی که یوسړي خپلی ښځی ته اوویل انتِ علیّ کامی یانی ورته اوویل انتِ علیّ مثل
امی لفظ دمثل نی استعمال کړو یانی کاف تشبیه راوړو نودا سړی مظاهر ندی ځکه ددی
یودا معنی هم ده چه ته په ما باندی داسی مهربانه نی لکه زما مور ، یا ته په ماباندی داسی
حرامه نی لکه زما مور نو لفظ دمثل امی یا کامی دامشترك بین المعنیین دی ځکه که دا
معنی واخستل شی چه ته پرماباندی زما دمور پشان مهربانه نی نو بیا خو ظهارنه واقع کیږي
اوکه دامعنی واخستل شی ته پرما باندی زما دمورپشان حرامه نی نو ظهار واقع شو. نوچه
هرکله یو لفظ محتمل دمعنیینو وي نو دی سړي نه به پوښتنه کوئ شی چه څه مراد دی
دی. نوکه سړي ووبل چه زما مراد ترینه مهربانی ده نو ظهارنشته اوکه دسړي مراد حرمت
وي نوبیا ظهارشته نوامام صاحب وانی لان اللفظَ مشترکٌ بین الکرامة والحرمة ځکه دا لفظ
په مابین دکرامت اوپه مابین دحرمت کښی برابردی فلایَتَرَجَّحُ جهةُ الحرمة إلابنیّا
نوترجیح به نشی ورکوی جهة دحرمت ته مگرپه نیت سره یعنی اعتباربه نیت لره وي، ک
نیت نی دحرمت وي نوظهار نشته کماقلنامن قبل. وعلی هذاقلنا بناء پردی باندی چ

داحنافو په نزد عموم دمشترك جائزندی‌مونږوایو لایجبُ نظیرُفی قوله جزاءالصید واجب ندی‌نظیریه جزاءدصیدکښی‌لقوله تعالی‌فجزاءمثل ماقتل من النَّعمِ له دی قول دالله تعالی نه چه به ورکوي دهغه ضیدنه کوم لی چه ښکارکړیدی په قرآن مجید کښی ایت دی چه محرم به په حالت داحرام کښی ښکار نه کوي، که یو محرم په حالت داحرام کښی صیدوکړي نو بیا به دامحرم دهغه صید بدله ورکوي نوېدی آیت مذکوره کښی چه لفظ دمثل راغلی دامشترك بین المعنیین دی اومثل په عربی کښی په دوه قسمه ده یومثل صوری دی اوبل مثل معنوی دی لکه یو طالب دبل طالب نه کتاب ورك کړي نوهمداغشان کتاب ملاؤ نشو نوبیا به ددی کتاب قیمت ورکړي نوّدیته مثل معنوي والی او اکثره ځایونو کښی مثل صوری مرادنوي بلکه دهغی نه مثل معنوی مراد دی نوهرځای کښی به دهغی مثل معنوی اخلی. نوداحنافو په نزد عموم دمشترك جائز ندی یعنی که دمشترك یوه معنی واخستل شی نوبله معنی به هغه وخت کښی تری لنی اخشتلئ. اوشوافع والی چه عموم دمشترك جائزدی نوهغوی والی چه که دیوشی مثل صوری نوی نومثل معنوی لی واخله. اواحناف والی چه له هرکله چه مراد دهغه مثل معنوی وي نوټولو کښی به قیمت لګولی شي. لأن المثل مشتركٌ ځکه دامثل مشترك دی بین المثل صورةً وبین المثل معنیً وهوالقیمةُ په مابین دمثل صوری کښی چه هغه جسم اوسیرت دی اوپه مابین دمثل معنوي کښی چه هغه قیمت دشی دی من حیث المال وقداُریدالمثلُ من حیث المعنی بهذا النصِّ فی قتل الحمام والعُصفور اوپه تحقیق سره مونږ اخلو مثل معنوي چه هغه قیمت دی پدی آیت مذکوره سره په قتل دکبوتر اوپه قتل دچرچنی کښی ولحوهما بالاتفاق اومونږ اخلو مثل معنوی په مثل ددی دواړو کښی په اتفاق دټولو مذاهبو سره، دکبوتر اوچرچنی په خارج کښی مثل الصوری نشته نوقیمت به لی ورکولی شی په هغه اندازه خومره چه په هغه علاقه دصید کښی ددی کبوتر یا چرچنی یا ددی دواړو په مثل باندی قیمت وي، اوکه دکوم شی په خارج کښی مثل صوری موجود وي نو بیا به لی مثل صوری ورکولی شی لکه دځنګل غواپای یا غوا چه په خارج کښی مثل لري چه هغه عامی غواپای اوغواوی دي هغه به په جزاء کښی فقیرانو ته ورکړی‌شی فلایُرادُ المثل من حیث الصورة لوبل ځای کښی !

هم تری بلکل مثل صوری نشي اختتلی، خکه إذلاعمومَ المشترك اصلا خکه چه عموم
دمشترك لپاره په عباراتو کښی اویه معملاتو کښی چیرتهُ هم اصل نشته. اونه موږ چیرته
یولفظ مشترك لیدلی دی په معملاتو کښی چه هغه دی پخپله عامه معنی کښی مستعمل وي.
فَیَسقُطُ اعتبارُالصورة نوساقط شواعتبار دمثل صوری ، نومثل نه به مثل صوری نشی اختتلی
لاستحالة الجَمْع له وجی دی استحال دجمع نه په مابین دمثل صوری اومعنوی په آن
واحد کښی نوځکه احناف وائی په آیت کښی چه راځی (فجزاء مثل ماقتل من النعم) دینه
مراد مثل معنوی دی نووددی صورت به داحنافو په نزد داسی وي چه یوسړی په حالت
داحرام کښی ښکاروکړي نو کومه علاقه کښی ني چه ښکار کړئ دی د هغی علاقی دوه
ماهر کسان به فیصله وکړي چه ددی حیوآن قیمت بازارکښی څو روپی ده هغه اندازه روپی
به هغه محرم فقیرانوته ورکړي. اوس مصنف یوه بله مسئله بیانوي. ثم اذاترجح بعض
وجوه المشترك بغالب الراٸ یصیرمؤوّلاً بیاهرکله چه بعضی معانی دمشترك ته راجح کړی
په غالب الرایٔ سره نوهغه ته بیامؤوّل وائی. دمؤوّل معنٰی دی راړول . آوّل . یُؤوِّلُ . تأویل
معنی دی یوه خبره راړول. آلاولُ معنٰی الرجوعُ یا الاولُ فی لغة الانصراف ألا. یؤُلُ . اولاً
هغه لفظ چه دیوی معنٰی نه بلی معنی ته اړولی شی. لکه احنافو دثلاثة قروء معنی ثلاثة
حیض وکړو اوغلبه رایٔ داحنافو داوه چه لفظ دثلاثة یوه کلمه ده خاصه اوخاص وائی دینه
چه ماؤضع لمعنی معلومٍ نودثلاثة معنی معلومه ده چه هغه ددوه نه پورته اوله څلورونه ښکته
ده نواحناف وائی ددی نه مراد حیض دی، په لفظ دثلاثه به پوره عمل هلته راځی چه
دښځی عدت موږ دری(۳) حیضه ومنو ځکه اصل په طلاق کښی طلاق سنی دی، اوطلاق
سنی دینه وائی چه په حالت دطهر کښی ښځی ته طلاق ورکړی شی اودهغه نه پس به
ښځه دری حیضه عدت تیرکړي نوچه دری حیضه عدت تیرشو ښځه دخاوند له نکاح نه
ووتله اوشوافع وائی چه نه زمونږه اجتهاد داندی هغوی وائی چه لفظ دثلاثه عدد دی
اوعدد دثلاثة نه ترعشرة پوری خلاف القیاس راځی لکه ثلاثة رجال او اربع نسوةٍ ،اودلته
کښی قرء سره هم عدد مؤنث ثلاثة راغلی نومعلومیږي داچه قرء مذکر دی اوقرء معنی به
هلته صحیح شی چه معنی ئی طهر واخستل شی ځکه طهر په عربی کښی مذکر دی اوکه

دقرء معنی حیض واخستل شی نوحیض مؤنث دی. باقاعده به په الفاظو کښې هم مذکر اومؤنث شته لکه سپوږمی په پښتو کښې مؤنث ده. اولمربه پښتو کښې مذکردی.یا لکه مونږ وایو دا ښه سړی دی دا ښه ښځه ده دمؤنث لپاره په پښتو کښې "ده" راځی، اودمذکر لپاره "دی" راځی اوپه عربی کښې بالعکس ده په عربی کښې شمس مؤنث دی لکه طلعت الشمس یا فلما رأی الشمس بازغةً . بازغةً نی ځکه ووېل چه شمس مؤنث دی اوقمر مذکر دی ځکه وائی چه طلع القمر. متنبی وائی

فماالتانیث لإسم الشمسِ عیبٌ — وماالتذکیرُ فخرٌ للهلال.

بعضی الفاظ په بعضی ژبو کښې مذکر اوپه نورو ژبو کښې مؤنث وي. نوشوافع وائی چه لفظ دطهر مذکر دی نوځکه ورته ثلاثة راغلی. هرکله چه یومجتهد پخپل اجتهاد سره دیومشترك یوه معنی راجح کړي نوبیا به هغه ته مؤوّل وائی نودقرء لفظ مؤوّل عندالاحناف بالحیض دی ،اودشوافعو په نزدمؤوّل بالطهردی. وحکم المؤوّل وجوبُ العمل به اوحکم دمؤوّل عمل کول دي په هغه باندی په طریقی دوجوب سره. مع احتمال الخطاء لکن سره داحتمال دخطاء نه. ځکه غالب الظن احتمال دخطاء هم لري نوکه احناف دثلاثة قرء معنی حیض کوي کیدای شی چه غلط وي اوکه شوافع دقرء معنی طهر کوي کیدای شی هغوی غلط وي. نواحتمال دخطاء په احدالجانبین کښې موجوددی نوځبره سل په سلو کښې یقینی نشوه ځکه هرهغه شی چه گمان اوغالب الرای باندی وي هغه محتمل دخطاء وي یعنی په هغه کښې خطاء راتلی شی. ومثله فی الحکمیّات ما قلنا اوددی مؤوّل مثال په حکمیاتو کښې هغه دی کوم چه مونږ وایو إذا اطلق الثمنَ فی البیع هرکله چه اطلاق وشی دپیسو په بیعه کښې لکه یوسړی اووائی چه داشی په ده باندی په دومره روپی خرڅوم لکن په کوم ځای کښې چه بیعه کیږی هلته کښې مختلفی روپی چلیږی نو هغه ځای کښې چه کومی روپی زیاتی چلیږی هغه به تری مراد وي. کان علی غالب نقدالبَلَد نووی به داثمن په غالب دنقدبلد سره. وذلك بطریق التاویل اوهغه تعین دغالب نقدالبلد په سبیلی د تاویل سره به وي ځکه چه مطلق ذکرشی مراد به تری فرد کامل وي ، اوفرد کامل په نقودو کښې نقدالبلدوي. ځکه نقدالبلد په هغه بلد(ځای) کښې زیاته چلیږی

Maktaba Tul Ishaat.com

ولوکانت النقودمختلفةً اوکه بوخای داسې وه چه هلته تولی پیسې یوشان چلیږي فسدالبیعُ لما ذکرنا نو بیع فاسده شوه دهغه وجې نه چه مونږ ذکر کړه چه استحالة الجمع وعدم الرجحان دی. وحمل الأقراءِ علی الحیض اوحمل کول دقرء په حیض باندی یعنی مراد دقرء نه حیض اخستل وحمل النکاح فی الآیةعلی الوطئ اوحمل کول دی لفظ دنکاح په آیت مذکوره کښې چه هغه مشترك بین العقدوالوطئ دی په وطی باندی وحمل الکنایات حال مذاکرة الطلاق علی‌الطلاق اوحمل کول دی کنایاتو دطلاق په طلاق باندی په وخت دی ذکر دطلاق په مابین دسړي اوښخه کښې من هذا القبیل له همدی قبیلی نه دي یعنی په طریقی دتاویل سره به کیږی وعلی هذا اوبناء پردی باندی چه محتمل به گرځی په بودمحتملینو نه. قلنا الدَّینُ المانعُ من الزکوة مونږ وایو چه قرض منع کوي زکاة لره یعنی که په یوسړی باندی مثلاً شل زره روپی قرض وي اودی سړي سره نغدی هم شل(۲۰)زره روپی وي اونور ورسره څه گډان، اوښان، وغیره هم شته نوپدی سړی باندی په دی شل(۲۰)زره روپو کښې زکاة نشته ځکه هغه مشغول بالدین دی هغه خوبه قرض کښې ورکولی شي، لکن په نورو څیزونو(گډان،اوښان) کښې به څپل زکاة ورکوي یصرف إلی‌ایسرالمالین قضاً للدَّین اورجوع به کولی شی هغه اسان دمالونو ته په قرض ادا کولو کښې ځکه لفظ دمال مشترك دی په مابین دگډو،اوښانو،اونقدورپیو کښې نواسان په محتملینوکښې روپی‌دي نود روپیو زکاة به نشی ورکولی وفرّعَ محمدرح علی هذا فقال اذاتزوج امرأةً علی نصاب اوامام محمدرح بن الحسن الشیباني ورباندی تفریع هم دیوی مسئلی کړیده اووائی چه کچیرته یوسړي واده کولو اوښځی ته لی وویل چه زه به په مهر کښې درله پوره نصاب درکوم اوبیان لی ونکړو وله نصابٌ من الغَنَم ولصابٌ من الدراهِمِ اوده لره نصاب بودگډو وه لکه څلوېښت گډی اوبل نصاب ورلره دروپیو(دراهمو) وه لکه دوه سوه دراهم. یصرفُ الدین إلی الدراهم لوگرځولی به شی دامهردراهموته، ځکه هغه اسان دی دگډو وغیره نه ،ځکه چه مهر کښې هم سړی هغه شی ورکوي چه هغه زر ادا کولی شی لکن فائده لی دا راووله چه حتی‌لوحال علیهما الحولُ تجب الزکوةُ عنده فی نصاب الغَنَم کچیرته تیرشی پردی دواړو باندی کال لوداامام محمد رحمه الله په نزد

ورباندی په ګډوکښې زکاة شته دی ولاتجب فی الدراهم اونده واجب زکاة په دراهمو کښې ځکه چه هغه دده په ملکیت کښې ندي هغه خودښځې حق کیږي نوښځه تری زکاة ورکولی‌شي. ولوترجّح بعضُ وُجوه المشترَك ببیان مِن قِبَل المتکلم کان مفسّراً اوکچیرته ترجیح ورکړی شي بعضی وجوه دمشترك ته په بیان دمتکلم سره نومشترك ته بیا مفسر(بالفتح)وائی اومتکلم ته ئی مفسر(بالکسر) وائی وحکمه انه یجبُ العَملُ به یقیناً اوحکم ددی مفسّر دادی چه عمل په کولی شي پدی مفسر باندی یقیناً ځکه چه دایقینی دی ځکه متکلم چه کومه صیغه مجمله راوړیده دهغی بیان ئی پخپله وکړو نوبیا خوبلکل یقینی شوه نوپه مفسرکښې هغه جانب محتمل بیخې له سره نشته لکه دمؤوّل پشان، مؤوّل ظنی وي یعنی احتمال دخطاء لري لکن مفسر احتمال دخطاء نلري لکه یوسړی اووائی داکتاب ما خرڅ کړو په شل(۲۰) روپی (من نقودبخارا) دبخارا په روپیوباندی.نواوس بلکل دکانی کرښه ده پدی کښې ظن له سره نشته، مثلاً کیدای شي دامعنی وي اودابله معنی غلطه وي ځکه تفسیر ئی وشو،اوتفسیرسره شي یقینی کیږي اوهغه بل جانب محتمل بلکل رفع شو. اوبل داچه فسر وائی وضاحت ته نودا بلکل واضح شو اوبل جانب ته پکښې هیڅ ضرورت پاتی نشو په س . ف . رکښې دوضاحت معنی پرته ده. دسفراوفسر دواړو معنی یوه ده تفسیردقرآن کریم ته هم ځکه تفسیروائی چه معنی دقرآن پکښې واضح کیږي ، سفرته هم ځکه سفروائی (یُفسِرُبه خُلق الرجل)دسړي سړیتوب(خوئ)پکښې‌معلومیږي یالکه حدیث کښې‌راځي(أسفِروا بالفجرفإنه اعظم للاجر) دسهارلمونځ نبه په رڼا کښې کوی ثواب پکښې ډیردی. نودلته کښې هم داسفرُ نه مراد نبه رڼا اووضاحت دی مِنفردډاکټرانو سره یوه اله ده چه په هغی سره دزخم ژوروالی معلومیږي نودی سره هم وضاحت راځي مثالُه مثال ددی مفسر اذا قال لفلان عليَّ عشرةُ دراهِمَ من نقدبخارا که یوکس اووائی چه دفلانکی پرماباندی دبخارا له روپیو نه لس روپئ دي فقوله من نقدبخارا تفسیرٌله نوقول دبخارا هغه تفسیردی ددی مذکوره دراهمو لپاره فلولاذلك لکان مُنصرفاً إلی غالب نقدالبلد اوکچیرته داسی نوه یعنی ورسره ئی ذکر دنقدبخارا ونکړو نو بیا به غالب نقدالبلد سره فیصله وشی بطریق التاویل په طریقی دتاویل سره یعنی ګمان اوظن سره فیترجّحُ المفسّرُفلایجبُ

Maktaba Tul Ishaat.com

نقدالبلد نوترجیح به ورکولی شی مفسرته په مؤول باندی اونه به واجبیږي نقدالبلد په مفسر کنی په غالبی رائ سره لکه مراد به ترینه نقدالبلد بخارا راخی نوفرق په مابین دمؤول اومفسر کنبی داشو چه مؤول (بالکسر) چه کوم تاویل کوي هغه په خپل اجتهاد سره کوي اومفسر(بالکسر) چه کوم تفسیر کوي هغه په خپل یقین سره کوي نوهمیشه لپاره اجتهادی اورظنی وي او متکلم چه پخپله دیوشی وضاحت کړی وي په هغه کنبی احتمال دجانب اخرمرتفع شی تصنیف رامصنف نیکوکندبیان.

**فصلٌ فی الحقیقة والمجاز** فصل دی په بیان دحقیقت اوپه معنی دمجاز کنبی دی. حقیقةٌ دفعیلةٌ په وزن دی ماخوذ دی د(من حق الشیٔ .إذاثبت الشیٔ) لکه الله پاك فرمائی﴿ وَيُحِقُّ اللّهُ الْحَقَّ بِكَلِمَتِهِ ﴾ یونس/ ۸۲ ) حق په معنی دثبت سره. حقیقت ته حقیقت ځکه وائی چه دئ پخپله معنی کنبی ثابت اوتینگ ولاړدی یولفظ چه واضع دیوی معنی لپاره وضع کړو بیادالفظ په همداغه معنی کنبی مستعمل کیږي دیته حقیقت وائی لکه لفظ داسد واضع وضعه کړیدی دحیوان مفترس لپاره نوچه ته دغه لفظ پدغه معنی کنبی مستعمل کړی او اووائی چه رمیت الاسد اوتا په رښتیا سره زمری ویشتی وي نوداحقیقت دی یعنی (کون اللفظ مستعملاً فی معنی موضوع له) اوکه پخپله معنی موضوع له کنبی استعمال نشی نوبیا دیته حقیقت نه بلکه مجاز وائی ځکه دی لفظ تجاوز اوکړو دخپلی اصلی معنی نه بلی معنی ته. نوکه یوطالب ته تا اسدوویلی مثلاً جاءالاسداومراد ترینه طالب وي نوداسدکلمه په رجل شجاع کنبی دیته مجاز وائی مجاز ورته ځکه وائی تجاوز اللفظ عن المعنی الموضوع له. نوحقیقت اومجاز نی دواړه په یوفصل کنبی ځکه راوړه چه دوی سره متقابلین دي والاشیاء تُعرف باضدادها ، مطلب داچه حقیقت دی وپیژندو نومجاز په خپله پیژندئ شی او مجاز چه وپیژنی نو حقیقت په خپله پیژندئ شی . **کُل لفظٍ وَضَعَهُ واضِعُ اللغة بِإزاء شئٍ فهوحقیقةله** هریولفظ چه هغه لره واضع دلغت وضعه کړی وي په مقابله دیوی معنی(شی)کنبی نوهغه لفظ موضوع له حقیقت دی ددی شی لپاره لکه لفظ داسد واضع وضعه کړیدی دحیوان مفترس لپاره اوحمار نی وضعه کړیدی دحیوان ناهق لپاره اوانسان نی وضعه کړي دحیوان ناطق لپاره نو استعمال داسد په حیوان مفترس کنبی اواستعمال

دحمار په حیوان ناهق کښی . نهق الحمارُ(خراوازوکړو ) یا استعمال دانسان په حیوان ناطق کښی داټول حقائق دي. ولواستُعمِل فی غیره یکونُ مجازاً اوکچیرته استعمال شی دا لفظ په غیردمعنی موضوع له کښی نوشي به مجاز. مجاز دی تجاوز نه دی دغه لفظ دخپلی معنی موضوع له نه تجاوز وکړلو. لاحقیقةَ اوداحقیقت ندی. حقیقت بیا پخپل کور کښی په دوه قسمه دہ، ۱. المرتجلُ : مرتجل دیته وائی چه یولفظ پخپله معنی موضوع له کښی مستعمل وي لکن بغیردمناسبت نه یعنی مرتجل دیته وائی چه یوشي دیوی معنی لپاره وضعه کړی شی اومناسبت په معنی وصفی اومعنی وضعی کښی ونشی. لکه موراوپلار چه خپل زوی ته نوم ږدی نومناسبت په معنی وصفی اومعنی وضعی کښی نکوي ، مرتجل په معنی دارتجال سره ، ارتجال دیته وائی چه یو سړی یوه خبره بغیردسوچ اوسمج نه وکړي لکه وائی چه فلانکی شاعر ارتجالی دی ، شاعرارتجالی هغه ته وائی چه بغیر دسوچ اوفکر نه اشعار وائی اوهغه اشعار صحیح جوړیږي لکه دیوطالب مونږ نوم اینبی دی رشید او بل طالب ته مونوم اینبی صالح اوحالانکه دواړه غټ جوارګر اوبدمعشان دي نو دمعنی وصفی اومعنی وضعی په منځ کښی مناسبت نشته ، پکار خوداوه چه رشید هغه وي چه بس ټول عمر تسبیح ورسره وي اوداللّٰه ذکر کوي اوصالح هغه وي چه بغیر دجومات نه بلکل بل چیرته ونه لیدی شي یعنی نیك عمله وي نومعلومیږي داچه دمعنی وصفی اومعنی وضعی په منځ کښی څه مناسبت نشته. دویم قسم دحقیقة ۲. المنقول : منقول دیته وائی چه دمعنی وصفی اومعنی وضعی په منځ کښی مناسبت وي. داهم حقیقت دی لکن خلك ورته منقول وائی لکه لفظ دصلاة په لغت کښی دعاته وائی لکن شریعت دالفظ ددعارانقل کړو اوارکانو مخصوصه ته نی نوم کیښود چه هغه صلاةخمسة دي چه په هغوی کښی قیام رکوع سجده قاعده اولی قاعده اخری وغیره موجود دي اودی منقول ته منقول شرعی وائی ځکه شریعت رانقل کړیدی.منقول بیا په څلورقسمه دی چه روسته به بیان شی.حقیقت بیاپه څلور قسمه دی ۱. حقیقة لغوي ،۲. حقیقة شرعی ، ۳. حقیقة دعرف عام ، ٤. حقیقة دعرف خاص. ۱. حقیقة لغوي دیته وائی چه واضع داهل لغت یولفظ دکومی معنی لپاره وضعه کړی وي اوپه همغه معنی کښی مستعمل وي لکه معنی دانسان چه حیوان ناطق دی، دلغت

Maktaba Tul Ishaat.com

ډیرغټ غټ کتابونه شته لکه الصحاح ذ جوهري کتاب دی یامنجد،یا لسان العرب ، اویا قاموس وغیره. ۲. حقیقة شرعي دیته وائي چه شریعت یولفظ دیوی‌معنی لپاره وضعه کړي اویا په هغه معنی کښی مستعملیږي. لکه صلاة مطلق دعا ته وائي اوشارع ارکان مخصوصه ته وضعه کړو یالکه صوم مطلق امساك ته وائي لکن شریعت صوم ددی خاصی روژی لپاره نوم کینبودو چه هغی کښی امساك عن المفطرات الثلاثة وي من طلوع الشمس إلی غروبها(لایاکل ولایشرب ولایُجامِعْ زوجته ) دیته صوم ویل کیږي یالکه حج خومطلق قصد ته وائي لکن شارع کلمه دحج استعمال کړه دزیارت د امکنو مخصوصو فی زمان مخصوصٍ چه هغه عبارت دی اتم دذی‌الحجی نه چه حاجیان دمکی نه مِنیٰ ته ځي اوپه نهم به بیا منیٰ نه عرفات ته ځي اوشپه به په مزدلفه کښی کوي په لسم به بیا راځی منیٰ ته اوجمره عقبه به ولي اوقرباني به کوي اوبیا به طواف کوي دیته حج وائي. ۳. حقیقة دعرف عام دیته وائي چه هغه عرف عام مستعمل کړی وي. لکه لفظ ددابی: کل مایدُبُ علی الارضِ ته دابه وائي قران پاك کښی راځي ﴿ وَمَامِنْ دَآبَّةٍ فِی الْاَرْضِ اِلاَّ عَلیَ اللّٰهِ رِزْقُهَا ﴾ ( هود/ ٦ ) معنی داچه په ځمکه کښی خومره متحرك دی الله تعالی هغوی ته رزق ورکوي . نو په عرف عام کښی هرشی چه په ځمکه کښی دي اومتحرك دي دیته دابه وائي نوپدی کښی انسان،مار،حیوانات،وغیره ټول شامل شو. ٤. عرف خاص دیته وائي چه عرف خاص مستعمل کړی وي .لکه دابه، دابی ته په عرف خاص کښی( ذات من له قوائم اربع) وائي یعنی هغه ذات چه څلور ښپې لري لکه غوا ، سنډا، وغیره لکن مار، اوچینجی ته په عرف خاص کښی دابه نه وائي ځکه هغه بلکل ښپی نلري اوانسان ته هم دابه نه وائي په عرف خاص کښی ځکه هغه دوه ښپی لري. ثم الحقیقة مع المجاز لایجتمعان ارادةً من لفظٍ واحدٍفی حالة واحدةٍ بیا حقیقت دمجاز سره نه جمع کیږي په اراده کښی دیولفظ نه په حالت واحدة کښی. که حقیقي معنی ترې واخلي بیا ترې مجازي معنی نشي اخشتی اوکه مجازي معنی دی مراد کړی وي بیا ترې حقیقي معنی نشي اخشتی‌په حالت واحدة کښی په دوه حالتونوکښی ترې مراد کولی شي. لکه یوطالب وائي رایتُ اسدُ فی المفازةِ معنی داچه مازمری ولیدو.په ځنګل کښی نو دِمفازة دی لفظ نه معلومیږي چه دی اسد نه مراد هغه

حقیقی معنی ده چه زمری یعنی حیوان مفترس دی او بل طالب اووانی چه رایتُ اسدً یصلی فی المسجد نو دی لفظ دیصلی نه معلومیږي چه دلفظ داسد نه مراد معنی نی مجازی دِی چه هغه رجل شجاع دی· ولهذاقلنا اوددی وجهی نه چه حقیقت اومجاز په آن واحدة کښی په یو لفظ کښی نشی جمع کیدای لمااُرید مایدخُل فی الصاع هرکله چه تا دیو لفظ نه معنی واخشته او هغه مجازی وي نو بیا تری بله معنی یعنی حقیقی نشی اخشتی ځکه چه جمع ددوارو معانیو په یو لفظ کښی ناجائزه ده، اوکیدای هم نشی چه یولفظ دی پخپله معنی موضوع له کښی هم مستعمل وي اوغیرمعنی موضوع له کښی هم ، که موضوع له کښی نی مستعملوی هغه ته څوك غیرموضوع له نه وائی اوکه غیرموضوع له کښی‌نی مستعملوی هغه ته څوك موضوع له نه وائی نو داضدین شول اواجتماع دضدینو نشی کیدای نوحقیقت اومجاز ځکه ضدین دي چه حقیقت هغه لفظ ته والی چه بغیردقرینی نه په معنی دلالت کوي اومجاز هغه لفظ ته وائی چه بغیر دقرینی نه په معنی دلالت نکوي· لکه سلم العلوم کښی راځی «وعلامة الحقیحة التبادُروالعراء عن القرینة » معنی داچه دحقیقة نښه داده چه یك دم ذهن ته راشی اوقرینه په پکښی موجوده نوي اومجاز بغیردقرینی نه نشی راتلی نو ځنګه کیداشی چه یو ځای کښی قرینه هم وي او هم نوي· نودی‌وجهی نه حقیقة اومجازدواړه په یو لفظ کښی په آن واحدة کښی نشواخشتی لکه لفظ دصاع نه دی چه هرکله مافی الصاع مراد کړل بقوله علیه السلام پدی قول دنبی کریم ﷺ کښی چه لاتبیعُوا الدرهم بالدرهمین یودرهم په دوه درهمو باندی مه خرڅوی ولاالصّاع بالصاعَین اویو اوری(پیمانه) په دوه اورو(پیمانو) باندی مه خرڅوی ځکه چه دا سود دی· نو تمام علماء وائی چه دلته کښی صاع نه مراد حقیقی معنی ندی چه نفس صاع دی بلکه مراد ترینه معنی مجازی دی چه هغه مافی الصاع دی· صاع: خشبٌ منقور یعنی لرګی دی چه مینځ نی خالي وي· یا صاع یولوښی دی چه دلرګی نه جوړوي په هغه کښی دوه نیم سیره یا پاؤ کم دری سیره غنم راځی· مدینه منوره کښی غنم په صاع باندی خرڅیږي هلته غنم په تله نه تلی بلکه دلرګی نه ئی ورته یوه بوقع جوړه کړی وي په هغه باندی خلکوته غنم ورکوي، دلته کښی هم ډیر څیزونه په صاع باندی خرڅیږي لکه دخاورو دتیلو تیم یا دغورو

Maktaba Tul Ishaat.com

تیمونه، نویدی کنبی مختلف څیزونو لپاره مختلفي پیمانی وي: نو په حدیث شریف کنبي چه کوم صاع ذکر شویدی مراد ترینه دلرگی هغه لوښی ندی بلکه مراد ترینه مافی الصاع دی یعنی هغه څه چه په لوښی کنبی وي لکه موږ وایو چه «سال المیزابُ» نومرادترینه نفس پرناله ندی ځکه پرناله خوځپله په دیوال کنبی وي هغه خو نه بهیږی بلکه اوبه پکنبی بهیږي ذکردمیزاب دی مرادترینه مافی المیزاب دی یالکه لفظ دلحیةُ چه د فك اسفل یعنی دلاندینئ ژامی نوم دی اوپه دی باندی چه کوم وښته راختی دي نودیته مجازاً لحیة وائی ځکه ذکردمحل اومراد ترینه حال دی دیته مجازوانی دمجازځلیرشت(۲٤) علاقی دي لکه سلم العلوم وانی: (وحصروه فی اربعة وعشرین نوعاً) هرکله چه موږ دصاع معنی مجازی مراد کړله چه هغه مافی صاع دی نو سقط اعتبارُنفس الصاع نوساقط شو معتبرکول دنفس صاع، نفس صاع نه مراد«خشبةٌمنقورةٌ یُکال به الاشیاء» صاع یولرگی دی چه دهغه منځ خالي کړی شوی وي اوخلك په هغه باندی چیزونه پیمانه کوي ، ترکانړ چه صاع جوړوي نودلرگی نه هغه منځ په سورلی باندی اوباسی نوچاپیره دیوالونه ئی پاتی وي دبوقعی پشان یا دلرگی مرتبان پشان ، وغیره. نوهرکله چه اعتباردنفس صاع ترك شو حتیجاز بیع الواحدمنه بالاثنین تردی پورې چه دلرگی هغه یولوښی په دوه لوښو باندی بدلوی نوجانز دي، ځکه دا ربوٰ(سود) ندی وجه داده چه په لرگو کنبی هم مختلف اقسام دی لکه داکوړو لرگی داډیربهتردی دکاڼو دلرگی نه وغیره ذلك. نودا مسئله تفریع شوه پدی قانون باندی چه هرکله دیولفظ نه حقیقی معنی مراد شوله نوبیا تری په آن واحدة کنبی مجازی معنی نشی مراد کولی ، ځکه علامة دحقیقت دادی چه دهغه نفی جائزه نه وي اودمجازعلامة دادی چه دهغه نفی اواثبات دواړه جائز وي لکه لفظ داسدنه چه حقیقی معنی مرادشی نوبیا دهغه نفی نشی کیدای.ځکه کذب راځی اوکچیرته دلفظ داسدنه مجازی معنی مراد کړی چه رجل شجاع دی نودهغه نفی کیدای شی ځکه حقیقی اسدخوندی. یالکه پلارله هم اب وانی اونیکه ته هم مجازی اب ویلی شی نوکه یوسړی اووالی چه الجدُلیس باب نوصحیح دی ځکه نیکه خوحقیقی پلارنوي، اوددیمسئلی تفریع هم کوي پدی قول باندی چه اجتماع دحقیقت اودمجاز په آن واحدة کنبی په یولفظ

کښې نشي کوئ. ولما اريدالوقاعُ من آيةِ المُلامَسَة هرکله چه اراده کړئ شي جماع له آيت دملامست نه. آيت کريمة کښې راځي ﴿ وَاِنْ كُنْتُمْ جُنُبًافَاطَّهَّرُوْا وَاِنْ كُنْتُمْ مَّرْضىٰٓ اَوْعَلٰى سَفَرٍاَوْجَآءَاَحَدٌمِّنْكُمْ مِّنَ الْغَآئِطِ اَوْلٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ فَلَمْ تَجِدُوْامَآءً فَتَيَمَّمُوْاصَعِيْدًاً طَيِّبًا ﴾ (المائدة/ ٦ ) مطلب داچه کچيرته تاسو جنب وی نوطهارت وکړئ،غسل وکړی ،اوکه تاسو مريضان وئ ،اويا تاسو جواب چائ وکړو، اوياموخپلي ښځی سره لمس کړی وي او اوبه موپيدانکړی نو تيمم ووهئ په پاکه خاوره باندی ، نوابن عباس رضی االله عنه رئيس المفسرين دی اورسول الله مبارك ورته دعاکړيده چه «اللهُمَّ عَلِمْهُ علم كتابك وفَقِهْهُ فی دينه » خدايه ده ته دقرآن علم اوښائي اوپه دين کښې ورته پوهه ورکړی دحضرت عمرفاروق رضی الله عنه غوندی صحابی به کچيرته په کوم آيت کښې څه شك شو نو ده نه به ئی تپوس کولو، نو هغه وائی چه قرآن مجيد کښې چيرته لمس ، مس ، اوياملامسة راغلی وي نوهغه نه مراد جماع وي نوهرکله چه دلامستم نه مونږ جماع واخشتله نومس باليدتری بيا نشو اخستی حٔکه چه مس باليددلامستم لپاره معنی مجازی ده اوجماع ئی معنی حقيقی ده، ياداچه مس باليدورته معنی حقيقی کړه اوجماع ئی معنیٰ مجازی واخله وجه داده چه داباب مفاعلة ده اود باب مفاعلي خاصيت دادی چه پدی کښې مشارکت من الجانبين وي،نو ابن عباس صاحب دقول مطابق هرکله چه دملامسة نه موجماع واخشتله يعنی معنی مجازی موتری مراد کړله نو سَقَطَ اعتبارُ ارادةِ المسِّ باليد نوساقط شو مرادکول دمس باليدنه يعنی معنی حقيقی دملامسی به پرينبودلي شي. نودی نه معلومه شوه چه کچيرته ديوسړي لاس دښځی سره ولګيږي نوداحنافو په نزد ددی سړي اودس نه ماتيږي اوشوافع والي چه اودس ماتيږي ځکه هغوی دملامسة نه مراد مس باليداخلی اومونږدلمس ياملامسة نه مراد جماع اخلو، لهذا زمونږ په نزدپه مس باليد سره اودس نه ماتيږي. په طواف کښې زمونږ په نزد اودس واجب دی اودشوافعو په نزد باندی اودس فرض دی نوهرکله چه شوافع سړي اوښځی دخانه کعبی طواف کوي نوهغوی ته ډير زيات تکليف وي اودهغوی ښځو لاسونو اوپښوته جُرابې وغيره اچولی وي، اوکچيرته بياهم دهغوی لاس اوښپه دسړو سره ولګيږي نودهغوی په نزد اودس ماتيږي. قال محمّدٌ رح اذا أوصی لمواليه امام

Maktaba Tul Ishaat.com

محمدرحمه الله تعالی فرمائی چه هرکله یوسړی وصیت وکړو خپلو غلامانوته دخه شی وله لره نی نورغلامان وي اوهغوی هم خپل غلامان ازادکړیدي کانت الوصیة لموالیه دون موالی موالیه نووي به داوصیت دموالی دُحرسړي لپاره، نه دموالی موالی ته، ددی مثال داسی دی چه یوسړی مرکیدو اووصیت نی وکړو چه زما په مال کښی شل زره (۲۰۰۰۰) روپی زما غلامانو ته ورکړي اوحالانکه ده لره غلامان وه اوازادکړی نی دی اودده غلامانولره هم نورغلامان وه هغوی هم خپل غلامان ازاد کړیدی نواوس. ددی سړي د وصیت نه هغه غلامان مراد دي کوم چه هغه پخپله ازاد کړیدي یعنی دغلامانو هغه غلامان تری ندی مراد کوم چه غلامانو ازاد کړیدي حکه مولی چه کوم غلامان ازادکړیدي هغه ددی موالی دلفظ حقیقی معنی ده اوغلامانو چه کوم غلامان ازادکړیدي هغه ددی لفظ(موالی) مجازی معنی ده هغه تری ندی مراد حکه دکوم لفظ نه چه حقیقی معنی واخستل شی نو مجازی معنی به ترك کولی شی، اوحقیقی معنی خود د لفظ نه معلومیږي اول نه اول دلفظ رجوع حقیقی معنی ته کیږي اوکچیرته قرینه موجوده وي نو بیا به دلفظ نه مجازی معنی اخلی، همدارنگه پدی مذکوره مسئله باندی دامسئلی هم مرتب کیږي وفی السیرالکبیر اوپه سیرکبیر نومی کتاب کښی ذکرشویدی، سیرکبیر هم دامام محمدصاحب داصولو کتاب دی لواستأمن. أهلُ الحرب علی أباءهم کچیرته امن طلب کړو کافرانو دخپلو پلارانولپلره لاتدخلُ الأجدادُ فی الامان نونیکونه په امن کښی ندی داخل حکه اسم داب حقیقت دی به پلار کښی اومجاز دی په نیکه کښی ولواستامنوا علی امهاتهم اوکچیرته نی امن طلب کړو کافرانو میاندو لپاره نو لایثبتُ الامانُ فی حق الجَدات نو نیاگانی پکښی ندی داخلی لفظ دأم داحقیقت دی په هغه مورکښی دکومی له رحم نه چه داسړی پیدا شوی وي او په جدة باندی دام اطلاق مجازا کیږي. نو چه دیولفظ نه حقیقی معنی واخلی نو مجازی معنی به بیا ترك کولی شی، ددی مثال چه حقیقت اومجاز دیولفظ نه په آن واحده کښی نشی مراد کوی داسی دی لکه دیوسړي خپله جامه وي یعنی دده ملکیت وي اودده یوه له جامه عاریة وي، عاریة دیته والی چه یوشی دبل چا وي اوناته نی موقتا درکړی وي.

نوچه هرکله دی سړي خپله جامه چه دده ملکیت دی اغوستی وي نومونږ نشوویلی چه داجامه عاریةً دی ځکه په یوه جامه باندی په یو آن کښی دملکیتاً ، اوعاریتاً اطلاق نه کیږي. نوددی وجهی نه په مذکوره مسئله باندی دابله تفریع هم کوي اووائی چه **وعلی هذا قلنا إذا اوصی** بناء پدی باندی مونږه وایو که یوه سړي وصیت وکړو **لأبکاربنی فلان** چه دپلانکی سړي چه کومی پیغلی لورګانی دي هغوی ته زما دا زر(۱۰۰۰) روپی ورکړی. مطلب داچه یوسړی مرکیږي اودری زره(۳۰۰۰) روپی لري اووصیت ئی وکړو چه پلانکی سړي پیغلو لونوته زر روپی ورکړی ، وصیت په ثلث کښی کولی شی په زیاتو کښی نی نشی کولی ځکه پیغمبرﷺ فرمائی چه «والثلث کثیر» نوداسړی دزرونه په زیاتو روپو کښی وصیت نشی کولی ځکه زر(۱۰۰۰) د دری زرو(۳۰۰۰) ثلث دی نوهرکله چه وصیت پیغلوته وشو **لاتدخلُ المُصَابَةُ بالفجورِ فی حکم الوصیة** پس نه داخلیږي هغه ښځه په حکم دوصیت کښی چه دهغی بِکر دزنا دوجی نه زائله شوی وي ځکه هغه باکره نده نو دباکری لفظ په باکری کښی حقیقت دی اوپه هغه ښځه کښی چه واده ئی ندی کړی لکن بِکرنئی مات دی پدی کښی لفظ دباکری مجازاً استعمالیږي پدی اعتبار سره ورته باکره وایو چه واده ئی ندی شوی اوپدی اعتبار سره چه بِکر ئی مات دی ورته باکره نشی ویلی بلکه صیّبه ورته ویلی شی، ځکه باکره حقیقی خوهغی ښځی ته وائی چه واده ئی نوي کړی اوبِکرنئی هم جوړوي په زنا وغیره سره نوي مات شوی همدارنګه **ولواوصی لبنی فلان وله بَنُوْنٌ وبنُوْبَنِیْه کانت الوصیّة لبَنِیْه دون بنی بنیه** کچیرته وصیت وکړو یوسړي چه زما په مال کښی دپلانکی زامنوته دومره روپی ورکړی اودی پلانکی لره زامن هم شته اولمسی ئی هم شته نومراد ترینه هغه صلبی زامن دي نه لمسی ځکه په لمسی باندی دځوی اطلاق کیږي مجازاً نه حقیقتاً **قال اصحابُنا** وائی زمونږ علماء مرادتری احناف دي **لوحلف لاینکِحُ فلانةً** کچیرته یوسړي قسم وکړو چه زه به نکاح نه کوم دفلانکئ ښځی سره **وهی اجنبیة** اوداپلانکی ښځه اجنبیة وه **کان ذلك علی العقد** نومراد به دقول دده نه عقدوي ځکه نکاح حقیقت دی په عقد کښی اومجاز دی په جماع کښی، اوبعضی علماء وائی چه عکس دی یعنی لفظ دنکاح حقیقت دی په جماع کښی اومجاز دی په عقدکښی، بهرحال دادعلماؤ اختلافی مسئله ده

Maktaba Tul Ishaat.com

لکن دلته به دنکاح نه عقد خکه مراد وي چه داجنبیی ښځی سره خوجماع کیدای نشی خکه دامهجورشرعی دی حتی لوزنا بها لایحنَثُ پس کچیرته دی سړي دی ښځی سره زنا وکړه نودئ به نه حانث کیږي اوکه عقدنی ورسره وکړو نوداسړی حانث شو خکه دلته کښی لفظ دنکاح نه مراد عقددی نه جماع٠ اوبل داچه دلته ئی قیدداجنبیهٔ ولګوه دذی لپاره چه که بوسړی داسی اووائی چه لا انکح زوجتی نودی نه به مراد جماع وي خکه مطلق عقدخو د مخکی نه راغلی دی نوکه دی سړي دخپلی ښځی سره جماع وکړه نوحانث شو اوکفاره به ورکوي٠ هرکله چه مصنف فارغ شو له اصل نه چه هغه جمع په مابین دحقیقت اودمجازکښی محال دی نوشروع ئی وکړه په هغه اعتراضاتو وارده پدی اصل باندی نو اوفرمائیل ولئن قال اذاحلف لایضعُ قدَمَه فی دارفلان کچیرته اوویل شی چه هرکله یوسړي قسم اوکړلو چه دفلانکی کورکښی به قدم نه ږدم٠ دقدم حقیقی معنی ده قدم کیښودل اودقدم مجازی معنی ده داخلیدل یحنَثُ لودخلها حافیا اومُتَنَعِّلاً اوراکِباً نوحانث کیږي به داسړی کچیرته داخل شی دئ کورته ښپی ابلی، ښپی حافی هغه ته وائی چه څپلی ئی نوي اچولی اویا ئی پنی اچولی وي اویا راکب وي په اس موټر وغیره، باندی پدی ټولو صورتونو کښی حانث کیږي اوحالانکه وضع دقدم داحقیقت دی په ښپی ابله ښپه کښی چه یوسړي څپلی وغیره نوي اچولی اوخپل قدم دچا په کور کښی کیږدي خکه قدم دیته وائی چه ګوتی اوتلی هم ښکاری پکښی ،اوچه یوسړی سوروي اویائی پنی اچولی وي نوپدی صورت کښی وضع دقدم لره معنی مجازی ده خکه دلته کښی وضعه دقدم نده راغلی قدم خوپکښی اس اینبی دی یایو سړي پنی اچولی دي نوبیاهم وضع دقدم ندی راغلی بلکه وضع دنحل دی،نوهرکله چه دا سړی په دواړو حالتونو کښی حانث کیږي نوداندی مګر جمع په مابین دحقیقت اودمجاز کښی دی دایواعتراض شو،بل اعتراض داکوي چه وکذلك لوحلَفَ لاَیسکن دارفلان همدارنګه که یوسړي قسم وکړو چه زه به دفلانکی په کورکښی نه اوسیږم یحنَثُ لوکانت الدار ملکاً لفلان نودا قسم کونکی به حانث کیږي که داخل شی دفلانکی کورته اوداکوردفلانکی ملك وي اوکالت باجرةٍ اوعاریةٍ یاداکورپه کرایه باندی وه اویا ورته چا عاریتا ورکړی وه٠ نودفلانکی کورداحقیقت

دی پدی کښی چه ددی سړي خپل کوروي اومجازی پدی کښی چه داکوردکرایه وي اویاعاریتا وي نواحناف وائی چه داسړی پدی دریو واړو صورتونو کښی حانث کیږي کچیرته داخل شی، پکارخوداوه چه دملك په صورت کښی حانث شوی وائی اودی نورو صورتونو کښی نوائی حانث وذلك جمعٌ بين الحقيقة والمجاز داندی‌مگرجمع دی په مابین دحقیقت اودمجاز کښی وكذلك لوقال همدارنگه کچیرته یوسړي اوویل دادریم اعتراض دی په احنافو باندی عبده حرٌ يومَ يَقدمُ فلانٌ چه زماغلام دی ازاد وي په هغه ورځ باندی چه فلانکی راغلو فقَدِم فلانٌ ليلاً اونهاراً يحنَثُ نوفلانکی راغلو دشپی یادورځی نوغلام به ازادولی شی اوحالانکه یوم حقیقت دی په إذاكانت الشمس طالعتاً فالنهار موجود نولفظ دنهارداحقیقت دی په ورځ کښی اومجازاً کله ناکله دنهار اطلاق کیږي په لیل باندی هم ، نو احناف وائی چه که داسړی دورځی راشی چه حقیقت دی اوکه دشپی راشی چه مجاز دی نوپه دواړو صورتونو کښی به غلام ازادولی شی اودانده مگرجمع په مابین دحقیقت اودمجاز کښی دی،نوای احنافو دا تاسو څه کوی یوطرف ته وایئ چه جمع په مابین دحقیقت اودمجازکښی ناجائزه ده اوبل طرف ته پری‌خپله عمل نکوی.؟ **قلنا** قلنا سره ا جواب ذکرکوي دهغه اعتراضاتوواردوه نه، مونږوایو چه یوجمع بین الحقيقة والمجاز ده اویوعموم مجازده کله ناکله دیومجازنه چه داسی معنی واخلی چه هغه معنی حقیقة ته هم شامله وي او مجاز ته هم ،دیته عموم مجازوائی نوپه مابین دجمع دحقیقت اومجازاوپه مابین دعموم مجازکښی فرق دی وضع القدَمِ صارمجازاً عن الدخول کیښودلو دقدم نه مراد دخول دی بحکم العرف په حکم دعُرف سره۰اصل کښی داراومدار دایمانو(قسمونو) په عُرف باندی بناءدی یعنی په عرف کښی چه څه مرادوي په قسم کښی به هم هغه مراد وي په قسم کښی بیا لغوي وغیره معنی‌مرادنوي،نوپه عُرف دخلکوکښی وضع دقدم دامجاز دی ددخول نه مرادترینه دخول دی (كيف ماكان سواءٌ كان حا فياً اومتنعلاً اوراكبا) نوهرکله چه وضع دقدم کناية شوه ددخول نه نوفائدة نی داشوه که یوه سړي دبل سړي دکورنه قسم کړی وه اوهغه ورغلو اوهلته نی صرف قدم کیښود او ورداخل نشو نوداسړی نه حانثیږي څکه داپه عرف کښی مرادندی بلکه دخول مراد دی لکه زنانه وائی قسم دی که

Maktaba Tul Ishaat.com

تاسو کړه می قدم کېښودو نوقدم نه مراد داقدم نوي بلکه عرفی قدم مرادوي چه هغه دخول دی ، نواحناف وائی چه مونږه جمع بین الحقیقة والمجاز ناجائز منو اوخلکو دهغه نه داسی یوه معنی واخښته چه هغه حقیقت اومجاز دواړو ته شامله وي بیازمونږ قصور ندی، دلته کښی جناب شیخ صاحب یوه قصه نقل کوي هغه وائی . یوسړی تللی وه جمص ته جمص یوښاردی په شام کښی هلته چه کله اذان وشو نومؤذن اشهدُاَنَّ مُحمدالرسول الله ونه ویل اوخلکو خان سره اوویل اومؤذن چپ وه اوبیائی وریسی حی الصلاة وویل نوماتوبه اوویسته اوخلکو ته می اوویل چه دا لاځرنګه مؤذن دی، خلکو راته اوویل زمونږ خپل مؤذن مړدی اومونږ یوعیسائی په تنخوا مقرر کړیدی نودی عیسائی مونږ ته اوویل چه زه خو به ټول اذان کوم لکن اشهدان محمدالرسول الله به پکښی نه وائم نومونږ ورته اوویل چه خیردی ته ئی مه وایه مونږ به ئی پخپله له خان سره وایو، نوداسړی وائی چه زه ډیرغوصه شوم چه دی ظالمانو داذان لپاره عیسائی ساتلی نومحتسِب ته لاړم، محتسِب دمؤذن دپاسه وي، چه دمحتسِب تپوس میوکړو نوراته وویل شول چه هغه په بازار کښی شراب خرڅوي نو زه نور هم غوصه شوم چه محتسِب ئی شراب خرڅوي نوچه محتسِب ته ورغلم چه هلکه ته شراب خرڅوی ؟ نوهغه راته وویل چه زمونږ په جومات کښی دانګورو یوه ونه ده اودا انګور نی کړیوه لکن تروش(تراوه) وو چا نه خواړه نوهغه نه می شراب جوړکړل چه خرڅ نی کړم اوجومات ته به پری څه سامان واخلو نوماورته اوویل چه ته لادا قصی کوی، نو هغه سړي وائي چه زه امام پسیلاړم امام بیا دمحتسِب دپاسه وي نوامام ته چه ورغلم امام له کوره راووتو په منډه منډه ځی جومات ته نوماورته وویل چه جی زما یواعتراض دی هغه راته اوویل چه ژر ژر راځه دلمونځ ټیم دی هسی نه چه مقتدیان می چیرته امامتی نه وناباسی نوامام ډیرتیزروان وه چه یوه ګنده نالئ کښی ئی ښپه اوښویده نوښپه لی ټوله پلیته شوه اوونی نه وینځله اوهمداغسی په محراب کښی ودریدو اوښپه ئی داسی لری ونیوله ماورته اوویل چه ولیدی داسی وکړل لمونځ خو دی نه کیږی ښپه دی پلیته وه نو هغه بیاراته اوویل چه ما خو ښپه دمحراب نه بهرنیولی وه. وعلی کل حال والدخولُ لایتفاوتُ فی الفصلَین اودخول نه متفاوت کیږي په فصلینو کښی چه هغه دخول

حافیا وي اوکه راکباً وي وغیره ۰ ودارِفلان صارمجازا عن دارمسکونة له داجواب
ددویم اعتراض نه نووائی چه داردفلان وګرځیدو مجازددارمسکونة دهغه سړي نه که
ملکی وي اوکه په کرایه وي اوکه عاریتاً وي ځکه چه داقسم په وخت دغضب کښی دی
اوپه وخت دغضب کښی دادواړو داروته شامل دی که هغه دارملکی وي اوکه دارمسکونة
وي وذلك لایتفاوَتُ بین ان یکون مِلکاً له اوکانت باجرة له اودا دارنه متفاوت کیږي خوا
که هغه دفلان لره ملکی کوروي اوکه په کرایه باندی وي۰ والیوم فی مَسْألَةِ القدومِ عبارةٌ
عن مطلَق الوقت اودا ددریم اعتراض نه جواب دی،وائی چه یوم په مسئله دقدوم کښی
عبارت دی دمطلق وقت نه ځکه په عرف کښی لان الیومَ اذا أُضیف الی فعل لایُمتَدُّ یکون
عبارةً عن مطلق الوقت کما عُرِف دکلمی دیوم چه کله نسبت وشی داسی فعل ته چه هغه
ممتدنوي نودی نه به مطلق وقت عبارت وي لکه ځنګه چه په عرف کښی هم داخبره ده۰
اوکنه دیوم اضافت فعل ممتده ته وشی نوبیابه تری ورځ مراد وي لکه روژه یوفعل ممتددی
ځکه روژه دطلوع الشمس نه واخله ترغروب الشمس پوری وي نوکه روژی سره دیوم کلمه
راشی نو بیا به مراد تری نهاروي لکن قدوم خو ممتد ندی په توله ورځ کښی خوقدوم نه
راځی بلکه صرف یوآن کښی راتلی شی نوځکه ورته فعل ممتدنشو ویلی۰ اوچه فعل ممتدنه
شو په توله ورځ کښی نودینه به مراد مطلق وقت وي نوځکه مونږ وویل چه که فلانکی
دورځی راغی اوکه دشپی راغی داغلام به ازادوي نودیته وائی عموم المجاز فکان الحنثُ
بهذا الطریق لابطریق الجمع بین الحقیقةِ والمجاز نوشو داحِنث په طریقی دعموم مجاز
سره نه په طریقي دجمع بین الحقیقة والمجاز ثم الحقیقةُ انواعٌ ثلثةٌ معنا حقیقت په دری
قسمه ده متعذرةٌ ومهجورةٌ ومستعملةٌ ۱. متعذرة ۲. مهجورة ۳. مستعملة دی وفی القسمَین
الاولیَین یُصَارُالی المجازبالاتفاق اوپه اولو دوه قسمونو(المتعذرة والمهجورة) کښی به
صیرورت کیږي مجازته په اتفاق دعلماؤسره ونظیرالمتعذرةِ اومثال دحقیقة متعذرة إذاحلف
لایاکُلُ من هذه الشجرة کچیرته یوسړي قسم اوخوړو چه نه به خوري ددی ونی نه اشاره
ورته اوکړي۰ لکن مراد دشجری نه هغه شجرة دی چه هغه ماکول بالذات نوي لکه
دکجوری ونه،دمنی ونه، اویا دتوت ونه دا ځوك نه خوری بلکه میوه ئی خوري ،اوکه

Maktaba Tul Ishaat.com

دگنی ونی ته یو سړی اشاره وکړي نوبیا عینِ دگنی ونه تری مراد ده خکه دگنی ونه خلك چپی یعنی ذات دگنی خوری شی نوگنی ته په اشاری کولو سره قسم کول اوبیا عینِ گنی چپلوباندی سړی حانث کیږي اومن هده القدر یایوسړی اشاره اوکړي یوی کتهوی ته اوبیا قسم اوکړي چه زه به له دی کتهوی نه نخورم نوکتهوی حقیقت دی په هغه دیگ کنبی چه دپیتلو،دکانی اویادخاوری دی نومراد ددینه مافی القدردی، ذکردمحل مراد ترینه حال شو نومعنی داچه ددی کتهوی پخکړی به نخورم اوکه ددی کتهوی پخکړی نی وخوړو حانث کیږي. **فان اَکلَ الشجرة اوالقدرمتعذِرٌ** که چیرته خوړل دذات دونی یاخوړل دذات دقِدر متعذروي متعذردیته وائي چه هغه ته رسیدل مشکل وي. **فینصرف ذلك إلى ثمرة الشجرة وإلى مایحلُ في القدر** نودهغی نه به مراد دونی میوه وي اومرادبه هغه پخکړی وي چه په کتهوی کنبی موجودوي لکن که هغه ونه میوه داره نوي لکه دسروی،یا دولی ونه، نوبیابه مراد دهغی قیمت وي یعنی که داونه په بازار کنبی خرڅه شی نوهغه قیمت به نی نخوري حتی **لواَکلَ من عین الشجرة اومن عین القِدر بنوعِ تکلُفٍ لایحنثُ** تردی کچیرته یوکس عین شجرة وخوړه یانی عین کتهوی وخوړه په تکلیف اومشقت سره نونه به حانث کیږي خکه معنی حقیقی مرادندی اومبنی دایمانو په عرف باندی وي **وعلی هذا قلنا** بناء پردی باندی مونږ وایو که یوځای کنبی حقیقت مهجوروي یامتعذروي نومعنی مجازی به اخستل کیږي **إذاحلَفَ لایشرَبُ من هذه البیر** کچیرته چا قسم اوخوړو چه نه به څکم ددی کوهی نه **ینصرف ذلك إلى الاغتراف** دی نه مراد په لپه باندی څکل دي. څکه چه کوهی ته یوسړی ښکته کیږي اوبیا هلته په اوبو باندی خوله لگوي نودامتعذر دی **حتی لوفرضنا انه کرع بنوع التکلیف لایحنث بالاتفاق**، په اتفاق دعلماؤ سره په دی ډول اوبو څکلو سره نه حانث کیږی، دڅکلو دوه طریقی دي ا-کرع: کرع دا معنی چه دابو دپاسه پڅپله خوله ولگوی لکه شپانه چه اوبه څکي نو څپل ځادرسینی ته کیږدي اوبه اوبو باندی ورڅملی خوله پراوبو ولگوي او اوبه اوڅکي. او بله طریقه داده چه په کندول او په کتهوری یا په لپه اوبه را واخلی او اونی څکی په عرف کنبی دارنګ څکل مراد دی **ونظیرُ المهجورة لوحلفَ لایضَعُ قَدَمَه في دار فلان فان ارادة وضعِ القَدَم مهجورةٌ عادةً** او مثال د حقیقتِ

مهجوره چه یو سړی قسم اوکړی چه زه به د فلانکی په کور کښی قدم نږدم نو ددی نه د قدم کیخودل مراد ندی په عادت او عرف کښ . د قدم کیخودل متعذر ندی بلکښی آسان دی لیکن په عرف د خلقو کښ متروك او مهجور دی ، **وعلیهذاقلنا** که یوځای کښی حقیقت متعذروي یاحقیقة مهجورة وي نومجازی معنی به اخستلی شی نوبناء پدی به مونږ وایو **التوکیل بنفس الخصومة ینصَرِفُ إلی مطلق جواب الخصم** یوسړي دبل سره دعوا ده اومدعی علیه دخپل خان لپاره یوبل سړی وکیل ونیوه چه زما له طرف نه به محکمی یاعدالت ته ځی هرکله چه قاضی ته لاړو نومدعی دخپلی دعوی لپاره بینه(گوهان) پیش کړل نوقانون دادی چه«البینة علی المدعِی والیمین علی من انکر» نو قاضی وکیل ته اوویل چه ته پکښی څه وائی نو هغه ورته اوویل چه ده بینه پیش کړل اودواړه گواهان نیکان دي نوصحیح ده نووکیل دنعم په زریعه باندی جواب ورکولی شی نوهغه سړی چه کوم مؤکِل دی هغه پدی وکیل باندی اعتراض نشی کولی ځکه چه دوکیل عبارت اوتصرفات داسی دي لکه دمؤکل عبارت اوتصرفات نوهغه مؤکل ورته بیا دانشی ویلی چه ته خو ماصرف وکیل کړی وی دخصومت لپاره نوتاولي په نعم سره قاضی ته جواب وکړلو نودخصومت خپله معنی مهجورة ده ځکه الله پاك منعه فرمایلی ده «ولاتنازعوا» نو وځ په وچه خووکیل جګړا نشی کولی اوحال دادی چه مدعی بینه پیش کړیدي اوقاضی دبینه په بنیاد باندی فیصله کوي ځکه چه رسول الله ﷺ فرمایلی دي چه البینة علی المدعی والیمین علی ماانکر نولازما به وکیل فیصله منی ،دخصومت نه مراد لانسلم ندی بلکه دخصومت نه مراد خصومت شرعی دی نوپه شریعت کښی چه ددوه کسانو په یوه خبره باندی جګړا راشی اومدعی پخپله خبره باندی گواهان پیش کړل نوخبره ختمه شوه نولانسلم به ورته هلته ویلی شی چه هغه سره دلیل نوي اوچه هغه سره دلیل شرعی موجود وي بیا به ورته نعم وائی۰ داقول داامام ابوحنیفه صاحب دی لکن صاحبین وائی چه نه دا وکالت نده صحیح هغوی وائی چه دخصومت مقصدانکاردی،اوچه وکیل نعم وائی هغه خومسالمة ده نودمسالمي اومنازعیسنخ کښیخوفرق دی، مسالمة معنی دچاخبره منل نوچه یوسړی دی؛ وکیل بالخصومة کړو،نودخصومت معنی خوعدم مسالمة دی؛ نوداخبره دوی نه

Maktaba Tul Ishaat.com

مني نوامام ابوحنيفه صاحب ورته وائي چه ضرور به ئې مني ځكه دلته كښې نفس منازعة ممنوعه ده اوكچيرته مدعي بينه پيش نكړي اووكيل ورسره نعم وكړي نومؤكل ورسره بحث كولی شي چه ته بغيرگواهانو ورسره څنگه فيصله منې، نوامام ابوحنيفه صاحب فرمائي چه حقيقة مهجورة كښې به عمل په معنى مجازى باندى كوى نوچه دئ ئې وكيل كړو مطلب ئې داده چه ته دهغه سړي سره شرعي فيصله وكړه نوچه څه شرعي فيصله وي هغه به معتبره وي دانه چه وكالت صحيح ندی۰ نودتوكيل دنفس خصومت نه مراد مطلق جواب دخصم دی ځكه چه خصومت سبب دجواب دی دخصومت معنى جواب وركول دی ،ذكردسبب مرادترينه مسبب دی ځكه جواب په لغت كښې پرى كولو ته وائي مطلب داچه وكيل به دبل سړي دسوال جواب وركوي لكه مقامات كښې ابوزيدسروجي وائي ۔

لَجَوبُ البلادِ مع المتربة ۔ اَحبُ اِلیَّ من المرتبة ۔

معنى داچه قطع كول دښارونو سره دفقيرى ۔ داماته محبوب دي دلويو لويو مر تبونه، ابوزيد ډيرسيلانی وه دهرملك په هرښاركښې به گرځيدو نوځكه په مذكوره اشعارو كښې گرځيدل سره دغريبي محبوب گڼي دغتو غتو مرتبونه هم ،يالكه په قرآن مجيدكښې راځي( وجفانٍ كالجواب ) معنى داچه هغه لوى لوى پيالي به ورته جِناتو جوړولي سليمان عليه السلام ته دومره به لوى وي لكه تالاب،جواب هغه تالاب ته وائي چه دغره دسردپاسه وي نوهغه تالاب ته جو اب ځكه وائي چه دباران اوبه پكښې اودريږي نوچه كله تالاب ډك شي نو زياتي اوبه ترې پريكړی شي اوبهيږي نوچه هركله مؤكل دا وكيل دجواب لپاره مقرركړو نوجواب عام ده كه په نعم سره وي اوكه په لاسره وي حتى يسع للوكيل ان يجبَ بنَعَم كما يَسَعُه ان يُجيبَ بلا نردى چه جائز دى وكيل ته چه دئ جواب وكي په نعم سره لكه څرنگه چه ده ته جائز دی جواب په لاسره۰ لان التوكيل بنفس الخصومة مهجوزٌ شرعاً وعادةً ځكه وكالت په نفس خصومت باندى يعنى په جگړه باندى دامهجورشرعاً اوعادتاً دواړه دی،ځكه بوه دعواچه حق وي نوهسى خوځوك انكار اوجگړه نشى كولى ،بل داچه خلك به هم والي چه مدعي گواهان پيش كړل نوبيا څنگه انكاركوي لكه قصيدة البريدة كښې راځي چه ديوعاشق سترگونه اوښكې بهيدى اورنگ ئې زيړ وه نوچا ترې تپوس اوكړو چه ولی

ژاړي نوانکارئی بیا نشوکولی.

شعر فکیف تُنکِرُحبا بعدماشهدت . به علیك عُدول الدمع والسّقم .

ترجمه: ته به څنګه انکارکوی دمحبت نه پس دهغې نه چه ګواهی اوکړه هغه رښتنو اوښکو اوزیړ رنګ ستا،اوښکی خوهسې نه بهیږي.

شعر بی خودي بی سبب نہیں غالب

کچھ توھے جسکی پردہ داری ہے

وهغه بیا پخپله اقرار وکړو چه عاشق یم یالکه بل شاعر وائی.

شعر میتوان داشت نهاں عشق زمردم لکن ـ زردئ رنګ رخ وخشکی لب راچه علاج

مطلب داچه داکیدای شی چه عشق له خلکو نه پټ شی لکن دازیړرنګ اووچوشونډو لپاره به څه علاج کوی لکه وائی چه (وجه نی به وجه کبنی د ،) بهرحال وکیل ددی لپاره وي چه صرف جواب ورکړي نه دجګړی لپاره ، اوس هغه دریم قسم حقیقت بیانوي اوهغه حقیقة مستعملة دی نووائی چه ولوکانت الحقیقةُ مستعملةً فإن لم یکن لها مجازٌ متعارفٌ کچیرته وي حقیقت مستعمل اګرکه هلته دي حقیقة لره مجازمتعارف نوي فالحقیقة اولی بلاخلاف بیا به حقیقی معنی اخستل کیږي اوحقیقی معنی پدیصورت کښی اولی دی دمجازی معنی نه پدی کښی دچاخلاف هم نشته(باتفاق المذاهب الاربعة) چه بوځای کښی مجازمتعارف نوي نوبیا به ضرور لفظ پخپله معنی موضوع له کښی استعمالوی ،وحق به حقدارته ورسیږي لکه فارسی کښی وائی حق به حقدار رسید، نوچه یولفظ په معنی متعارفه کښی مستعمل نشونوخپلی معنی موضوع له کښی خو به خود مستعملیږي ،یولفظ دخپلی معنی نه بلی معنی ته هله عدول کوي چه هلته کښی مانع موجودوي چه هغه قرینة ده اودلته کښی قرینة اومانع نشته نوبس لفظ پخپله معنی کښی مستعمل کړه. وان کان لها مجازمتعارَفٌ اوکه بوحقیقت داسی وه چه دهغه لپاره مجازمتعارف وه. مجازمتعارف دیته وائی چه خلکوکښی دهغه لفظ معنی په مجازی معنی کښی ډیراستعمالیږي، فالحقیقة اولی عندابی حنیفة نوچه بوحقیقت لره مجاز متعارف وه نوامام ابی حنیفه صاحب وائی چه بیا هم حقیقت اولی دی ځکه هغه وائی چه بوځای کښی عمل بالاصل ممکن وي نوفرعے ته ضیرورت کول ضروری

Maktaba Tul Ishaat.com

ندی. وعندهما العَمَلُ بعموم المجازاولی اویدی صورت کښې صاحبین وائی چه مجاز متعارف اولی دی نوګویا حقیقة مستعملة په دوه قسمه شو: ۱. حقیقة مستعملة هغه دی چه دهغه بلکل مجاز متعارف نوي نو پدی صورت کښې حقیقی معنی بالاتفاق ثابته ده ځکه دهغی لپاره مجازی معنی نشته ده نوحقیقت وائی دیته چه واضع یولفظ وضعه کړیدی دیوی معنی لپاره اودهغه لفظ لپاره معنی نی مجازی نشته نوحقیقی معنی به مرادوي لکه مِنه به زه نخورم مرادترینه نفس منه ده ځکه منه دلته په عُرف دخلکو کښې دبل څه لپاره نه مستعملیږي. اودویم ۲. هغه حقیقة مستعملة دی چه دهغه مجاز متعارف هم وي نومجاز به اخلی اوکه دحقیقة خپله معنی به اخلی؟ امام صاحب وائی حقیقة ته به ځی هرکله چه حقیقة قابل استعمال وه نومجاز ته څه ضرورت دی. اوصاحبین اوامام شافعی صاحب وائی چه نه مجازمتعارف به تری اخلی ځکه مبنٰی دایمانو په عُرف سره ده ،اوبل داچه هغوی مقصودمعنی ګنی اومعنی مجازی اشمله ده مثاله لوحلف لایاکُلُ من هٰذه الحِنطة اومثال ئی دادی چه یوسړی اووائی چه زه به ددی غنمونه نخورم ینصرف ذلك الی عینها عنده مراد ترینه دانی دي په نزد دامام ابوحنیفة صاحب باندی حتی لواَکَلَ من الخُبزِ الحاصل منها لایَحنَثُ عنده تردی پوری کچیرته دی سړي ډوډی وخوره چه هغه دغنمو نه جوړه وي نو نه حانثیږي د هغه په نزد باندی وعندهما ینصرف الی ما تَتَضمَّنُه الحنطة بطریق عموم المجاز صاحبین وائی چه دی نه به مراد هغه څه وي چه د غنمو په ضمن کښې موجود وی په طریقی دعموم مجاز سره فیحنَثُ بِاکلها وباکل الخبز الحاصل منها نو حانث کیږی به په خوړلو ددی ماتضمن الحنطة سره او په خوړلو دهغه ډوډئ سره چه ددی غنمونه پخه کړی شوی وي، دحنطة نه اصطلاح داهل بلدو ده لکه پلانی خلق غنم خوری او پلانی خلق جوار خوری یا لکه بنګالیان وریجی خوری نو مراد دوریجونه هغه پخی کړی شوی وریجی دي هغه کچه(خامی) تری ندی مراد نو دی وجهی نه دهغوی په نزد که غنم ئي وخورل ، که دغنمو ډوډی ئي وخوړله، که دغنمو حلوه ئي وخوړله ،یا دغنمو ستوان ئي وخورل نو په ټولو صورتونو کښې حانث دئ. نو په دی مذکوره اختلاف کښې علماء لیکی چه أحتیاط دصاحبینو په مسلك کښې دی وکذالو حلف

لایشرب من الفراتِ همدارنگه که یو سړی قسم اوکړی چه زه به دفرات اوبه نه څکم ، فرات دیو دریاب نوم دیٔ نو ددی عبارت خپله حقیقی معنی داده چه یو سړی په فرات باندی خوله کیږ دي او بالذات دهغه نه اوبه وڅکی لکه څنګه چه حیوانات او به څکی، او مجازِ متعارف ئی دادیٔ چه دفرات اوبه اوڅکی برابره خبره ده چه دا اوبه یا په کټوری او کنډول په ذریعه اوڅکی یا په لپه یا په منګی کښی وي یا بالذات دفرات نه وڅکلیٔ شی. ینصرف الی الشرب منها کرعاً عنده نو د امام ابو حنیفة صاحب په نزد به راجع کیږی څکلو ددی فرات نه په طریقی دکرعی سره، د کرع معنی خوله لګول په اوبو باندی یا د کرع معنی ده (تناول الماء بالفم من موضعه) نوامام صاحب وائی چه دلته حقیقی معنی مراد کیدای شی نو مجازی معنی ته ضرورت نشته که یو سړي په لپه یا په کټوری کښی اوبه اوڅکلی امام صاحب وائي چه نه حانث کیږی، وعندهما الی المجاز المتعارف صاحبین وائي چه ددی رجع به کیږی مجاز متعارف ته وهو شُربُ مائها بایٔ طریق کان او هغه دفرات اوبه څکل دي په هر طریقه چه وی سَواءٌ کان شرب الماء بالکرع او بالاغتراف او بالاناء، په دی مسئله کښی هم احتیاط دصاحبینو په قول کښی دی اوس دا مسئله را روانه ده چه مجاز دحقیقت نه خلف دی په تلفظ او کلام کښی او که خلف دی په خارج اوحکم کښی قَداتفق ابو حنیفة مع صاحبیه بان المجاز فرعٌ للحقیقة ولکن اختلفوا فی ما بینهم فی الجهةِ الفرعیة امام صاحب او صاحبین متفق دي پدی خبره باندی چه مجاز فرعه د حقیقة دی لکن اختلاف په جهة دفرعیت کښی دی چه ایا دا ئی فرعه مِن حیث التَکلُم ده او که فرعه مِن حیث الحکم ده ؟ ثم المجاز عند ابی حنیفة خلفٌ عن الحقیقة فی حق اللفظ نوامام ابوحنیفة صاحب فرمائي چه دا فرعه په تکلم کښی ده نو که یو ځایٔ کښی هغه حقیقة من حیث العربیة درست وه په داسی شان سره چه مبتداء او خبر وه او اعراب ئي هم صحیح وه اګرچه هغه شیٔ په خارج کښی موجود نه وه نو معنی مجازی تری اختسی شی، وعندهما خلفٌ عن الحقیقة فی حق الحکم او صاحبین وائي چه جهة دفرعیت حکم دیٔ که خارج کښی هغه حکم موجود وی نو بیا به مونږ وایو چه مجاز هم صحیح دی او که خارج کښی دهغه معنی محاله وه نو کلام لغوه وګرځیده هرکله چه لغوه شو نو صیرورتِ به

Maktaba Tul Ishaat.com

نې معنی مجازی ته نکوی، حتی لوکانت الحقیقةُ ممکنةً فی نفسها تردی که چیرته حقیقة بالذات ممکن وی الا انه امتنع العمل بها لمانعٍ یصاز الی المجاز مگر که چیرته عمل منع وه پدی حقیقة باندی له وجی دی مانع نه نو صیرورت به مجاز ته کیږی والاصار الکلامُ لغوًا او که چیرته حقیقة ممکن نوی نو کلام به لغوه شی وعنده یُصاز الی المجاز وان لم تکن الحقیقةُ ممکنةً فی نفسها او امام صاحب وائي چه صیرورت به مجاز ته کوئ شی اگرچه بنفسها حقیقة ممکن نوی مثالُه مثال ددی اختلاف مذکور لپاره دا ثمره دخلاف بیانوی ثمرةُ الخلاف بین ابی حنیفة وبین تلامیذه هغه څه ده ؟ اذاقال لعبده یو سړي خپل غلام ته اوویل وهو اکبر سناً منه او حال دادې چه دا غلام زیات وه په عمر کښې د مولی خپل نه هذا ابنی دا څما خوی دی مثلاً مولیٰ د شلو کالو دی او غلام دشپیتو کالو دی لایُصاز إلی المجاز عندهما نو د صاحبینو په نزد به صیرورت مجاز ته نشی کیدائ بلکه کلام به لغوه کیږی او حریت به نه ثابتیږی لاستحالة الحقیقة له وجی د محال والی دحقیقة نه نو چه اصل محال شی نو فرعه خود بخود محاله ده څکه دشپیتو کالو مشرسړی دشلو کالو دکشر سړي خوی نشی کیدائ، وعنده یُصاز إلی المجاز حتی یعتقُ العَبدُ او په نزد دامام ابوحنیفة صاحب به صیرورت مجاز ته کیږی او غلام به ازاد شي بناءً علي صحة المجاز، هغه وائي چه دا مجاز هو العتق بطریق ذکر الملزوم وارادة اللزام ، ملزوم بنوت دئ دبنوت سره لازم عتق دئ څکه حدیث کښی راځی ( مَن مَلَك ذا رحمٍ محرمٍ عُتِقَ علیه) ذکر دملزوم مراد ترینه لازم نو دبنوت سره لازم عتق دی کلام صحیح شو او حکم پری مرتب شو. وعلی هذا او بناء پدی اصل مذکور باندی یُخَرّجُ الحکم فی قوله علیّ الفٌ اوعلی هذا الجدار مونږ به راوباسو بل یوحکم په قول دیو سړي کښی چه دفلانی په ما باندی زر(۱۰۰۰) روپی دي او که پدی دیوال باندی نې زر روپی دي، او د احدالامرین لپاره راځی او دلته کښی تعین هم نشته چه د فلانی په ما باندی زر روپی دي او که په دیوال باندی نې دي دلته کښی حقیقة دکلام لزوم الالف علی احد هذین الشیئین نو تعین را نغلو، نو صاحبین وائي چه دیوال محل ددین نه دی څکه دیوال مطالب بالدین نشی کیدای نو لهذا کلام محال او لغوه وگرځیدو، امام صاحب والي چه کلام لغوه ندی هغه وائي چه دلته کلمة د او مونږه

مجاز وګرځوله دکلمې د واو نه کله نا کله کلمه د او په معنی د واو سره راځي نو ضرور به په دغه سړي باندې زر(۱۰۰۰) روپۍ لازمي وي او دا بل مثال دئ **وقوله** يو سړی ووائي **عبدی او حماري حرٌ** دا عطف دی په مخکنی قول چه وعلی هذا دا قول، چه دا خما غلام یا خما حمار دی ازاد وي دلته کښې هم کلمه د او د احدالامرين لپاره ده او حمار باندې حريت نه راځي ځکه حريت د قِنيت فرعه ده او خر نه غلام دئ او نه ازاد دئ نو صاحبين وائ چه دا کلام من حيث الحقيقة محال دئ نو صيرورت ني مجاز ته نشي کيدائ ،امام ابوحنيفة رحمة الله عليه وائي چه غلام ني ازاد شو ځکه دلته کښې کلمه د او د مجاز ده په معنی د واو سره شوه. دلته کښې اوس په يوه بله مسئله باندې اعتراض دئ دکتاب ملاواني چه دا مسئله د مَا نَحنُ فينا نده معترض اعتراض کوی که يو سړي خپلې ښځې ته اوويلې چه هذه ابنتی او دغه ښځه معروف النسب وه نو پکار ده چه د امام ابو حنيفة صاحب په نزد دا کلام هم صحيح شي، دا خبره صحيح ده چه دا دده لور نده لکن هٰذه ابنتی کناية شوه د طلاقو نه پکار ده چه هذه ابنتی کلمه چه يو سړی خپلې ښځې ته اووائي نو دا دی کناية او مجاز شيِ د طلاقو نه لکه د امام صاحب د قانون مطابق چه يو سړی خپل غلام ته اووائي چه هذا ابنی او هغه ازاد شو نو دلته بايد دا ښځه هم طلاقه شيِ او حالانکه امام صاحب هم وائي چه دا کلام لغوه دئ ددی جواب دادی چه هلته کښې هذا ابنی مجاز دعتق نه ګرځيدی شی ځکه ابنيت او عتق والئ جمعه کيدائ شی لکه يو سړی ابن هم وي او بيا ازاد هم شی لکه د يوه سړي خوی د بل چا غلام وی او بيا دی سړي په بيعه واخستو نو مِلك پری راغی نو دی آزاد شو حديث ورته متوجه شو ( من ملك ذا رحمٍ محرمٍ عُتق عليه ) **ولايلزم علی هذا** او نه لازميږی اعتراض په دی صورة کښې **اذاقال لامرأته هذه ابنتی** چه ووائي يو سړی خپلې ښځې ته چه دا خما لور ده **ولها نسبٌ معروف من غيره** او حال دادئ چه دا ښځه معروف النسب وه بغير ددی زوج نه يعنی پلار او مور لي معلوم وه ځکه که مجهول النسب وي نو بيا ثابتيږی نسب ددی ښځې ددی زوج نه او ښځه پری حراميږی **حيث لا تحرم عليه** پدی شان سره بيا دا ښځه په دی خاوند باندې نه حراميږی ، کله نا کله داسی کيږی چه يو سړی دغلط فهمی دوجهی نه خپلې لور

Maktaba Tul Ishaat.com

سره نکاح وکړي مثلا یو سړی؟ واده وکړي او بیا دې لاړو ورك شو او دده ددي جماع نه لور پیدا شوه او بیا قدرتي څه جنګونه وشوه په هغه ملك باندی چه دده لور پکښی وه نو دده دا لور هم په غلامانو او وینځو کښی راغله او دی سړی ورسره نکاح وتړله او بیا پته ولګیده چه دادپلانی بنځی او دپلانی سړی لور ده او هغه پلار . دا سړی په خپله وه نو دی طریقی سره کیدای شی چه معروف النسب نوي نو هلته امکان ددی خبری وي چه لور سره هم نکاح شوی وي ، ددی مخکښی خبری د تائید لپاره جناب استاذ محترم (المدنی) صاحب دوه قیصی پیش کوي او هغه وائي چه په تبوك کښی یو سړی وه واده ئي وکړو او بیا نوکری ته لاړو پنځلس کاله په تبوك کښی وه هغه خپل عرب(مالك) به ورته پیسی نه ورکولی او ورته به ئي ویل نن به ئي در کوم صبا به ئي درکوم پدی کښی دخپلی بنځی خط ورته راغئ چه لور دی پیغله شویده او خلك ني رانه غواړی ورئی کړم او که نه او دا ډیر افسوس ناك حالت وه څکه یوه پیسه هم ورسره نه وه دا مذکوره قصه دجناب شیخ صاحب دسترګو لیدلئ حالت دئ، همدارنګه جناب شیخ صاحب وائي چه ما سره مدینة منوره کښی یو افغانی وه واده ئي کړی وه بیا دِمشق ته تللئ وه پدی وخت کښی د روس کرغیړنو او بدبختو مذدورانو په افغانستان باندی حمله وکړه او جنګونه شروع شو نو ددی سړی اولاد چه یوه یو کلنه لور وه او یو دوه کلن څوی وه پکښی نادرکه شو نو دی سړي تقریباً شپږ س کاله بهر تیرکړل بیا مدینی منوری ته راغئ جناب شیخ صاحب فرمائي چه ما سره وه بیا څه وخت پس ئی وغوښتل چه پاکستان ته راشي او دخپلو بچیانو معلومات وکړي نوجناب شیخ صاحب فرمائی چه ما ورته اوویل چه د مهاجرو کیمپونه خو ډیر زیات دي خو اول اکوړي ته ورشه او زمونږ خپل خپلوان په اکوړي کښی دي هغوئ به در سره منده ووهی نو چه کله راغئ اول اکوړي ته راغلو او جناب شیخ صاحب زیاتوی چه څما ورور ورله دغرمی ډوډی راووسته پدی کښی واړه واړه افغانان ماشومان راغلل خشاك(لرګی)ئی ټولول نو دی سړی تپوس تری وکړو چه دکوم ځای ئی نو هغوئ ورته اوویل چه مونږ ددیسبز یو دیسبز دکابل ولایت یوه ولسوالی ده او دغه سړی هم ددیسبز وه نو پوښتنه ئی وکړه چه یو هلك دی او یوه جنی ده دا نومونه ئي دی هغه به چیرته وي نو ماشومانو

ورته اوويل چه هغوی هم موټر سره دي نو ورور مې ورته اوويل چه روټی خوره او هغه سرې روټی بس کړه او هغه هلکانو ته ني وويل چه خشاك مه ټولوی زه به درته څه پيسې درکړم ما سره لاړشي نو دغه سړی او ماشومان په موټر کښې سواره شول او خپلو بچيانو سره ملاؤ شو نو ديته حسن اتفاق وائی ګنی تول پاکستان کښې مهاجر دي خو هغه سړی دمدينې منوری اوسيدونکی وه څکه ورته الله ج اسانه کړه بعض اوقات کله نا کله داسې حالت راځي چه سړی خپل اولاد هم نه پيژنی نو څکه وائي چه دا ښځه به معروف النسب وی، **ولايجعل ذلك مجازا عن الطلاق** او دا کلام مجاز نه ګرځي د طلاق نه لکه هلته کښې مو چه هٰذا ابنی مجاز ګرځولی وه دځريت نه **سواء كانت المرأة صغرى سِناً منه او كبرٰی** برابره خبره ده چه دده دا ښځه دده نه وړه وي په عمر کښې او که لويه وي، دلته کښې دا کلام مجاز ولې نه ګرځوه **لان هذا اللفظ لو صح معناه** که دهذه ابنتی معنی صحيح هم شی **لكان منافيا للنكاح** نو دا منافی ده له نکاح سره **فيكون منافياً لحكمه** نو شي به دا لفظ منافی له حکم د نکاح سره **وهو الطلاقُ** او دا حکم د نکاح هغه طلاق دئ **ولااستعارة مع وجود التنافی** او استعاره په مابين ددوه الفاظو کښې نشی کيدائ چه منافی چه هغه بنتية او طلاق دئ استعاره به هلته کيدائ شی چه ددواړو الفاظو منځ کښې منافات او تباين نوی **بخلاف قوله هذا ابنی** په خلاف ددی قول د قائل کښې چه هٰذا ابنی **فانّ البُنُوّةَ لاتنافی ثبوت الملك للاب** څکه بنوة منافی ندی دعتق سره نو استعاره ددوئ په منځ کښې صحيح شوه او بنوة منافی هم ندی دملك سره په ابن کښې دپلار لپاره **ثُمَّ يعتَقُ عليه** نو پس ازادولی به شي دا څویچه غلام دی په پلار باندی . **فصلٌ فی تعريف طريق الاستعارة**

**فصل** دی په بيان دتعريف دهغه طريقه کښې چه هغه موصله ده صحة داستعاری ته. دلته کښې داستعاری تکی راغی نو اوس دمصنف رح تفصيلات متوجه شو چه مجاز اوحقيقت کښې لابدی وي دعلاقی نه څکه که دحقيقت اومجاز په منځ کښې علاقه ضروري نشی بيا خو د هرچا خوخه ده چه دهرلفظ نه هره معنی واخلي لکه يوطالب اووائی اکلتُ الحجرة نونور طالبان به ورته خاندی اوهغه طالب به وائی چه زما خوترې ډوډی مراد وه حالانکه ددی دواړو په منځ کښې خوڅه علاقه نشته خوطالب وائی چه زما مراد ترې داوه نودېته

Maktaba Tul Ishaat.com

عرب وائي في بطن الشاعر، نودغي وجهي نه دېولفظ نه به يوه معنى هلته اخلى چه په مابين ددی دواړو کښی څه علاقه اوقرينه موجوده وي ، ورنه بيا خوبه ددنيا ټول نظام خراب شي. مجازپه دوه قسمه دی . يو : مجازمرسل دی ، مجازمرسل استعمال اللفظ في غيرالموضوع له لعلاقة وهيتنقسم الىأربعة وعشرين نوعاً. مجازمرسل کښی لازمه ده چه دڅليريشتو(٢٤) علاقو نه به يوه علاقه موجوده وي لکه سُلم کښی راځی "وحصروه في اربعة وعشرين نوعاً" علماؤ دعلاقی حصرپه څليريشتو کښی کړيدی .دويم مجازمستعاردی ، مجازمستعاراستعمال اللفظ في غيرما وُضع له لعلاقة التشبيه، مجازمستعار کښی وجه دتشبيه ضروري وي هغی نه بيا استعاره وائی ، لکه يوسړی اووائی رايتُ اسداً في درس اصول الشاشي نومراد به ترې رجل شجاع وي، نوپه مابين داسد اودرجل شجاع کښی علاقه موجوده ده چه هغه شجاعت اوزورتيا ده، کله ذکردحال مراد ترې محل وي اوکله ذکر دمحل مراد ترې حال وي لکه سَالَ الميزابُ پرناله وبهيده نوپرناله خوداوسپنې ده هغه خونه بهيږي لکن مراد ترې مافي الميزاب دیچه هغه اوبه دي، يالکه دفقه کتابونو کښی راځی ويُنزحُ البيرُ نوبل کوهي خوبه نه اوباسی بلکه مرادترينه مافي البير دی چه دکوهي اوبه دي. اوکله کله به حذف دمضاف وي يعنیذکردمضاف مرادتریمضاف اليه اوکله به عکس وي يعنی ذکردمضاف اليه اومراد ترينه مضاف لکه وسئل القرية دلته کښی القرية مضاف اليه ذکرشويدی اوحالانکه مراد مضاف دی چه هغه اهل دی نوداسی شو چه وسئل اهل القرية . استعاره بيا په څلورقسمه ده ، ١. استعارة مصرحة: وهی ذکرالمشبه بِهِ وارادة المشبه نحواسدفي الحمام. ٢. استعارة بالکناية اوديته مکنية هم وائی: وهی ذکرالمشبه والمرادبه المشبه بِهِ ای عکس المصرحة. ٣. استعارة تخيلية: وهی اثبات لازم المشبه بِهِ المتروك للمشبه المذکور. ٤. استعارة ترشيحية: وهی ذکرملائم المستعارمنه. اوددی دری واړو مثالونه پدی قول دشاعر کښی ذکرشويدي.

الشعر: — واذا المنية انشبت اظفارها ـ الفيتَ كل تميمةٍ لا تنفع.

فذکر المنية وارادة السبع مثال الکناية وذکر اللوازم وهی الأظفار مثال التخيلية وذکرالنشب وهو الملائم مثال الترشيحية. إعلَمْ أنّ الاستعارةَ في احکام الشرعِ مُطّرِدةٌ بطريقين زده کړه

داخبره چه استعارة په احکامو دشرع کښې مستعمله او وارده ده په دوه طريقوسره. فی احکام الشرع نی اوويل فی احکام اللغة نی ونه ويل ځکه چه په احکامو دلغة کښې شي نوبياخليږيشت(۲٤) علاقې دي احدهما لوجودالاتصال بين العلة والحکم يوه طريقه له وجې دوجود دی اتصال نه په مابين دعلة اودحکم کښې. دعلت اودحکم اتصال به وي، ذکردعلت به وي مراد به تری حکم وي يا ذکر دحکم وي مراد به تری علة وي. علت هغه ته وائی چه مَايُوجِبُ الحُکْمَ بنفسه چه هغه حکم بنفسه راولی په يوځای کښې چه علت موجودوي نوحکم به نی هم موجودوي لکه شراء علت دی اوملك نی حکم دی يا لکه نکاح علت دی اوحکم نی مِلك دبضعي دی ، علت اوحکم ته په بل عبارت سره علت اومعلول هم وائی ، حکم علت ته محتاج دی په ثبوت کښې اوعلت محتاج دی حکم ته په شرعيت کښې لکه شراء ددی لپاره شويده چه ملك راشی اوشراء الله پاك ددی لپاره جائز کړيده چه ملکيت راشی. اوسبب وائی مايُفضي الی الحُکم بواسطة العلة ، لکه وقت دظهر داسبب دی لپاره دماسپخين دلمونځ ، يا خانه کعبه داسبب دی لپاره دحج ، يا لکه درمضان مياشت سبب دی لپاره دروژو نوعلت يووصف دی چه دهغه نه مونږ ته حُکم معلوميږي لکه احناف دربا لپاره قدر اوجنس علة منی چه دوه څيزونو کښې قدر اوجنس وي نو هغه به يو په بل باندی مساوي خرڅولی شی اوزياتی به پکښې نشي کيدای ځکه پدی باره کښې حديث مطلق راغلی دی ( الحنطة بالحنطة والشعير بالشعير... الخ يداً بيدٍ والفضل الربوا... الخ ) نودعلماؤ په علت دربا کښې اختلاف دی چه علت دربا څه دی ؟ نو زمونږه امام صاحب علت دربا قدراوجنس گڼی اوڅوك وائی چه اقتيات او ادخار دی اوڅوك وائی چه طعم اوثمنيت دی والثانی لوجودالاتصال بين السبب المَحْض وَالحکمِ اودويمه طريقه وجودداتصال دی په مابين دسبب محض کښې اوپه مابين دحکم کښې فالاول منهما يوجبُ صحّةَ الاستعارة من الطرفَيْن هغه اول قسم ددی دواړونه چه په مابين ددی دواړو کښې علاقه دعلتيت اودحکم وي داواجب وي صحة داستعاری له دواړو جانبونه ذکردعلت مرادترينه حکم اوذکردحکم مرادترينه علت داجانزده والثانی يوجِبُ صحّتَها من احدالطرفين اودويم قسم چه هغه اتصال په مابين دسبب اودحکم کښې ده

Maktaba Tul Ishaat.com

داواجبوي صحت داستعاری یودطرفینو نه٠ ذکر دسبب مرادترینه حکم دون العکس عکس ددی ناجائز دی وهواستعارةُ الآصل دا استعاره داصل دی چه هغه سبب دی للفرع لپاره دفرع چه هغه حکم دی مثال الاول مثال لپاره داول چه هغه اتصال په مابین دعلت اودمعلول کښی وي یعنی اتصال په مابین دعلت اودحکم کښی وي فیما اذا قال ان ملکتُ عبدًا فهوحرٌ پدی قول دیوسړي کښی چه اووائی کچیرته زه مالك شوم دغلام نوهغه به ازاد وي فملَكَ نصفَ العبدفباعه پس داسړی مالك شو دنیم غلام اوهغه ئی خرڅ کړو ثم ملك النصف الأخرَ اوبیا دهغه نه پس ددی نورنیم غلام مالك شو لم یُعتقْ داغلام به نه ازادیږي اذلم یجتمع فی ملکه کلُ العبد ځکه چه ټول غلام دده په مِلك کښی ندی راغلی مِلك تقاضه ددی خبری کوي چه تمام غلام دده په مِلك اوتصرف راغلی وي نوپدی صورت کښی خودده په تصرف کښی ټول غلام ندی راغلی بلکه نیم غلام راغلی نوځکه غلام نه ازادیږي ولوقال ان اشتریت عبداً فهو حرٌ اوکه یوسړي اوویل چه کچیرته ماواخشتو غلام نوهغه دی ازاد وي فاشتری نصف العبد فباعه نونیم غلام ئی واخشتو اوهغه ئی بیا خرڅ کړوُ ثم اشتری النصف الأخرَ اوبیا ئی هغه نورنیم غلام واخشتوعتق النصف الثانی نوهغه نصف الثانی غلام ازاد شو کوم ئی چه روستو واخشتوځکه دلته کښی شراء متحققه ده ، شراء تقاضه دکل ځیز نه کوي اوملك تقاضه دکل ځیز کوي ځکه مِلك وائی هغه ته چه انسان په هغه کښی پوره تصرف کولی شی ، په مملوك کښی سړی پوره تصرف کولی شی اوپه نیم غلام کښی سړی تصرف نشی کولی لکن په اَشتراء کښی اجتماع ضروري نده ځکه داتقاضه دکل شراء نکوي که یوسړی بازار کښی دیوی روپی ځیزهم واخلی نودئ مشتري دی اوکه دلسو روپو ځیز هم واخلی نودئ مشتري دی،داپه هغه صورت کښی چه دا الفاظ پخپلو معانی موضوع له کښی استعمال شی اوکه یوسړی اووائی چه زه استعاره کوم نو استعاره خودیته وائی چه یولفظ په غیرمعنی موضوع له کښی استعمال شی نوبیا به استعاره کوم کوم ځای کښی صحیح کیږي اوس داستعاری بیان شروع شو ولو عنی بالملك الشراء کچیرته یوسړی اوولی چه زما مراد مِلك نه شراء وه نوبیا په ړومبنی صورت کښی کچیرته دنیم غلام مالك شو یعنی والی خشتو بیا ئی هغه خرڅ کړو اوبیا ئی هغه نورنیم غلام

واخشتو نوداغلام به ازادیږي ځکه چه مراد دمِلك نه شراء ده اواستعاره صحیح ده ځکه
چه شراء علت دی دمِلك لپاره اوملك ئی حکم دی. نوپه اولنی صورت کښی دعلت
اودمعلول په منځ کښی استعاره ددواړو جانبو نه صحیح ده. اوبشراءِ الملك یاپه دونمه
مسئله کښی یوسړی اووائی چه زما مراد په شراء سره ملك دی نوغلام به نه ازادیږي اگرچه
په اول صورت کښی خوازادیدو یعنی که په شراء سره خپله معنی مراد شوی وائی لکن
داهلته چه قاضی ئی ومنی اگرچه دده خبره بینه وبین الله مونږ منوځکه ددی علم الله ته
دی لکن بینه وبین القاضی به دقاضی خبره معتبره وي قاضی پکښی ځکه شرط دی چه
بعضی وخت سړی راگیرشی اودغلام دازادی نه دبچ کولو لپاره داخبره کوي نوداسړی
عندالقاضی متهم بالکذب دی نوچه قاضی ته خبره لاړه شی اوهغه فیصله وکړي په حق
دغلام یاپه حق دمولی کښی نوصحیح ده. صحّتْ نیته بطریق المجاز صحیح کیږي نیت
ددی سړي په طریقی دمجاز سره ځکه دلته کښی ددی دواړو په منځ کښی علاقه دعلت
اودحکم ده اودعلت اوحکم په منځ کښی استعاره من الجانبین ده ، طرفینونه استعاره
صحیح کیږي ، ذکردعلت مراد ترینه حکم ذکردحکم مراد ترینه علت. لان الشراء علةُ
الملك والملك حکمه ځکه شراء علت دی دملك لپاره اوملك ئی حکم دی . فعمّت
الاستعارة بین العلة والمعلول من الطرفین نوعامه ده استعاره په مابین دعلت اودمعلول
کښی له دواړو طرفونونه الا انه فیما یکون تخفیفاً فی حقّه مگر په هغه صورت کښی به
استعاره عامه نوي چه په هغه کښی تخفیف وي دی‌قائل لره. لکه پدی دونم صورت کښی
چه ویلی لفظ داشتریت دی لکن اوس چه کله هغه نیم غلام ازادیږي اودی وائی چه زما
مراد داشتریت نه مِلك وه لا یُصدّقُ فی حق القضاءِ خاصّةً دده خبره به رښتینی نشی گڼلی
په حق دقضاء کښی صرف لمعنی التهمة لالعدم صحة الاستعارة له وجهی دی تهمت نه اونه
له وجهی دعدم صحت داستعاری نه. یعنی دده خبره به نشی منلی عندالقاضی په ترك
دحقیقت کښی لوجهی دی تهمت نه ځکه پدی کښی ده لره تخفیف دی نه له دی وجهی
نه چه استعاره نده صحیح بلکه استعاره صحیح ده ، دخاصةً قید ئی ځکه راوړو . دده
خبره به صرف عندالقاضی نوی معتبره که خبره قاضی ته لاړه نشی نوبیابه ددے خبره دیانةً

اوعندالله صحیح وي. ومثالُ الثانی اذاقال لامرأته حررتُكِ اومثال لپاره ددوئم قسم چه هغه استعاره بین السبب والحکم دی، هرکله چه یوسړی اووائی خپلی ښځی ته حررتُكِ ولوی به الطلاقَ یصحُّ اوپدی لفظ دحررتُكِ سره ددی سړي(زوج) نیت دطلاقووي نوطلاق واقع کیږي. لان التحریر بحقیقة یوجب زوالَ ملكِ البُضع ځکه تحریر په حقیقت کښی واجبوي زائل کیدل دملك بُضعِی بواسطة زوالِ مِلك الرقبة په واسطی د زوال دمِلك رقبی سره ځکه هغه قائل پدی لفظ سره کل اراده کړیدی چه هغه رقبه دی نو بُضعه خوجزء دی اوجزء په کل کښی داخل وي. فکان سبباً محضاً لِزوال الملك المتعة نوشی به دا زوال د رقبی سبب محض لپاره دزوال دمتعی چه هغه نکاح دی. فجازأن یستعارَ عن الطلاق الذی هو مزیلٌ لملك المتعة جائز دی چه ته استعاره کړی لفظ دحررتُكِ دهغه طلاق نه چه هغه زائل کونکی دی لپاره دملك دمتعی په طریقی دذکر دسبب اومرادترینه مسبب سره. که یوسړی دیوی ښځی سره نکاح وکړي نوپه نکاح سره ملك دبضعی راځی نودغه سړی ددغی ښځی نه دمتعی فائدة اخشتی شی (جماع ورسره کوی شی) ، نوکه یوسړی خپلی ښځی ته انتِ طالقٌ اووائی نودمتعی حکم ختم شو(یعنی جماع ورسره نشی کولی) نودلته کښی دحررتُكِ تکی علت دی اوحکم ئی زوال دمِلك دی اوپه امة کښی زوال دملك سره زوال دمِلك دمتعی لازم دی نوگویا دحررتُكِ دا لفظ سبب شو دطلاقو لپاره اودطلاقو مقصد زوال دمِلك دمتعی دی همدارنگه دلته کښی ئی هم تری دا مراد اخشتی دی نودلته کښی ذکرداصل چه هغه سبب دی اومراد ترینه فرعه چه هغه طلاق دی نواستعاره دیوجانب نه صحیح شوه، نوحررتُ تکی کنایة شو دطلاق نه ځکه ذکر داصل مرادترینه فرعه دی ولایُقال لوجعل مجازاً عن الطلاق لوَجبَ ان یکون الطلاقُ الواقع به رجعیاً کصریح الطلاق اوخوك دی اعتراض ونکړي که چیرته وگرځول شی دا لفظ دحررتُكِ مجاز دطلاقو نه نو واجب به وي پدی لفظ دحررتُكِ سره طلاق رجعی لکه ځنگه چه هغه صریح طلاق رجعی رجعی دی. پدیمذکوره سره اشاره ده اعتراض ته چه واردیږي دامام شافعی صاحب له طرف نه په احنافو باندی، امام شافعی صاحب وائی چه هرکله تاسو لفظ دحررتُكِ کنایه وگرځوله دطلاقو نه نو. ط . ل . ق . سره چه کوم طلاق واقع کیږي هغه

طلاق رجعی وي نوپکارده چه پدی سره طلاق رجعی واقع شی ځکه امام شافعی صاحب وائی چه که یو سړي خپلی ښځی ته اوویلی چه حررتُكِ نوداطلاق رجعی شو ، دطلاق رجعی فائده داده چه که داسړی خپلی ښځی ته په عِدت کښی دننه دننه رجوع کول غواړي نوکولی شی. اوحالانکه داحنافو په نزد.که یوسړي خپلی ښځی ته حررتُكِ اوویلی نودا سړی خپلی ښځی ته رجوع نشی کولی بلکه تجدید دَ نکاح به کوي ځکه داحنافو په نزد طلاقِ بائن واقع کیږي. دطلاق بائن اوطلاق رجعی په منځ کښی فرق دادی چه په طلاق رجعی سره په عِدت کښی دننه دننه خپلی ښځی ته رجوع کیږي اوپه طلاق بائن کښی په عدت کښی دننه دننه ورته بغیردتجدید دنکاح نه رجوع نشی کولی ، نوشوافع وائی چه څنګه تاسو دحررتُكِ نه طلاق بائن واخشتو حالانکه پدی‌سره خو چه کوم طلاق راځی هغه طلاق رجعی دی ؟ نومصنف ورته جواب کوي چه هسی موتعبیر ترینه په طلاقو سره وکړو اصل کښی ازاله دمِلك دمتعی ده او ازاله دمِلك دمتعی په طلاق بائن سره کیده په طلاق رجعی کښی خو ازاله دمِلك دمتعی نده راغلی، نوامام شافعی صاحب ته دا اعتراض مه کوه ځکه زه وایم چه دحررتُكِ تکی استعاره ده لپاره دزوال دمِلك دمُتعی اوزوال دمِلك دمُتعی په طلاقو رجعی کښی ندی موجود نودا مونږ کنایه ونه ګرځوله دطلاقو رجعی نه بلکه دامونږ کنایه وګرځوله دطلاقو بائنو نه ځکه چه په طلاقو بائنو کښی ازاله دمِلك دمتعی راځی **لانا نقولُ لا نجعَلُه مجازاً عن الطلاق بل عن المُزیل لملك المتعة** ځکه مونږه وایو چه دالفظ دحررتُكِ مونږ مجاز نه ګرځوه دطلاقونه بلکه دا مونږ مجاز ګرځوه دهغه لفظ نه چه کوم مزیل دی دمِلك دمتعی لپاره **وذلك فی البائن** اوزوال دمِلك دمتعی په طلاق بائن کښی راځی **اذ الرجعیُ لایزیل ملك المتعة عندنا** ځکه طلاق رجعی نه زائله کوي مِلك دمتعی زمونږ په نزد خلافا للشافعی! **ولوقال لاَمَتِهِ طلقتُكِ** اوچه چیرته یوسړي خپلی وینځی ته اوویلی طلقتُكِ ، دا استعاره دحکم ده لپاره دسبب دمخکنی مسئلی عکس ده ځکه هلته کښی استعاره دسبب وه لپاره دحکم اودلته کښی استعاره دحکم ده دسبب لپاره ونوی به **التحریرَ لایصح** اونیت ددی‌مولی پدی لفظ دطلقتُكِ سره تحریر دی نودا استعاره نه صحیح کیږي. **لان الاصل جاز ان یثبتَ به الفرعُ** ځکه جائز دي

ثابتول دفرع په اصل سره ، دلته کنبی سبب اصل دی اوحکم ئی فرعه دی ذکرداصل مرادترینه فرعه داکیدای شی واما الفرعُ فلا یجوزان یثبتَ به الاصلُ اوندی جائز ثابتول داصل په فرعی سره ، خکه کمزوری ده نودفرع له وجهی نه اصل نشی ثابتیدی وعلی هذا اوبناء پدی قانون چه استعاره دسبب دحکم لپاره جائز ده لکن عکس(استعاره دحکم لپاره دسبب) ناجائزده یعنی استعاره په مابین دسبب اودحکم من جانبِ واحدِ ده اواستعاره په مابین دعلت اودحکم کنبی من جانبین دی خکه یوبل ته محتاج دي لکن استعاره بین السبب والحکم خکه من جانب واحدِ ده چه سبب حکم ته نده محتاج بلکه حکم سبب ته محتاج دی نقول ینعقِدُ النکاحُ بلفظِ الهبة نودمذکوره وجهی نه مونږه وایو نکاح منعقده کیږي په لفظ دهبی سره، لکه یوی ښځی یوسړي ته اوویلی «وهبتُ نفسی لك یافلان «نوددمعنی نکاح ده چه تاسره ما نکاح وکړه خکه وهبتُ معنی داچه ته زما درقبی مالك شوی خکه کله چه یو سړی بل چاته یوشی اوبښي نودا موهوب له دهغه موهوبی درقبی مالِك وي نوپه هبی سره مِلك درقبی راخی نوچه مِلك درقبی راشی نوپه ښځه کنبی بیا مِلك دمتعی خود بخُود راخی خکه مِلك درقبی قوي دی نوچه هرکله دیوسړي مِلك رقبی په یوه ښځه باندی راشی نودا سړی دهغی ښځی دبضعی مالِك هم شو نونکاح هم دیته وائی چه یوناکح دمنکوحی دبضعی مالك شی نوپدی صورت کښی له دی جانب نه نکاح صحیح شوه. والتملیك همدارنګه دتملیك لفظ هم صحیح کیږي ، لکه یوی ښځی یوسړي ته اوویلی چه ملکتُك علی‌نفسی یاجعلتُ نفسی مملوکة لَكَ معنی داچه ته مادخپل نفس مالك وګرځولی نوچه دنفس اورقبی مالك شو نومعلومیږي داچه دبضعی خودبخود مالك دی والبیع همدارنګه دبیع لفظ هم صحیح ده، لکه یوی ښځی یو سړي ته اوویلی چه بعتُ نفسی منك یعنی ماخان پرتاخرڅ کړو نومبیعه کنبی چه مالك څنګه تصرُف کوي کولی شی نوپدی صورت کنبی مبیعه دمشتری شوه نو مشتری په مبیعه کنبی هرڅنګه تصرُف کولی شی نوچه مِلك رقبی راغی نومِلك نکاحی‌هم ورسره راغی لان الهبة بحقیقتها توجبُ مِلكَ الرّقبةِ خکه هبة په اعتبار دذات سره واجبوي مِلك درقبی ومِلك الرقبةِ یُوجبُ ملك المتعةِ فی الاماءِ اومِلك درقبی واجبوي مِلك دمتعی په صورت دوینخوکبنی ، داماء قید ئی خکه

ولګاوه چه که یوسړي ته غلام ځان وبنلو نوغلام کښی خوملك رقبی راځی لکن ملك متعی خو یکښی نشی راتلی ځکه غلام سره خووطی حرامه ده **فکانت الهبة سبباً مَخضاً کثبوت مِلك المتعة** نوشو دا هبة سبب محضه لکه ثبوت دملك دمتعی **فجاز ان یستعاز عن النکاح** نو جائز ده چه شي دا لفظ دهبی مستعار دنکاح نه یعنی چه مراد دهِبی نه نکاح شي ذکر دسبب مراد ترینه حکم۰ **وکذلك لفظ التملیك والبیع** همدارنګه لفظ دتملیك اولفظ دبیعی هم مِلك رقبی راولی نوچه ملك رقبی راغی نوپه امة کښی مِلك نکاحی خودبخود ثابت شو **ولاینعکِس** اوعکس ناروا دی ځکه بل طرف نه استعاره نشی کیدای ، فائده نی دا راووته چه **حتی لاینعقد البیعُ والهبةُ بلفظِ النکاح** تردی چه په لفظ دنکاح سره بیعه اوهبة نه ثابتیږي ځکه چه دا استعاره دفرعی ده داصل لپاره اوداناجائزه ده اوحکم فرعه ده اوسبب نی اصل ده **ثم فی کل موضعِ** بیا په هرځای کښی دامخکښی خایونه چه کوم تیر شو **یکونُ المحلُ متعیَّناً لنوع من المجاز** چه هغه ځای متعین وي دمجاز لپاره **لایحتاج الی النیة** بیا نیت ته ضرورت نشته پخپله باندی هغه ځای ددی مقتضی دی چه دلته کښی معنی مجازی مراد ده خودبخود به دهغی نه همداغه معنی مرادوي **لایقال** څوك دی دا اعتراض نکوي **ولما کان إمکانُ الحقیقةِ شرطاً لصِحة المجاز عندهما** هرکله چه وه امکان دحقیقة شرط لپاره دصحت دمجاز په نزد دی صاحبینو باندی **کیف یُصارُ الی المجاز فی صورة النکاح بلفظ الهبة** څرنګه ګرځی مجاز ته په صورت دی نکاح کښی په لفظ دهبی سره **مع ان تملیكَ الحرة بالبیع والهبةِ محال** سره ددی چه ملکیت دحری په بیعی اوهبی سره محال دی۰ ځکه چه حُز خومال ندی نوڅرنګه دلته کښی ستا دا مسئله ثابته شوه یعنی څرنګه تاسو په لفظ دتملیك اوهبة اوبیع سره نکاح مرادکړه؟ نوداسوال دی څوك نه کوي **لانانقولُ ممکنٌ فی الجملة** ځکه مونږه په جواب کښی وایو چه تملیك دحری په بیعی اوهبی سره ممکن ده، کیدای شی چه یوه حرة مال وګرځی پداسی طریقی سره **بان ارتدَّتْ ولحقتْ بدارالحرب** چه یوه حرة مرتده شوه اوبیا دا حرة دارحرب ته لاړه **ثم سُبیتْ** اوبیا دا حرة قیدي شوه، یعنی دمسلمانانو اودکافرانو جنګ شروع شو اوهمدغه حرة چه مرتده شوی وه دمسلمانانو په قید کښی راغله نووبنځه شوله بیا په مِلك کښی راځی نو دحری په ملك کښی

راتلل ممکن دي اودادمجازلپاره کافی ده. وصارهذا نظیرُ مس السماء وأخَواته او وگرځیده دا مثال نظیر لپاره دمس داسمان اودهغه دنورو امثالو لکه تلل په هوا کنبې، اوگرځول دکانی سره زر ، یوسړي قسم اوخوړو والله لأ مسَّنَّ السماء والله زه به اسمان ته لاس لګوم نو امکان شته چه لاس ولګوي ځکه پیغمبرﷺ داسمان نه بره عرش معلیٰ ته ختلی وه ، یا لکه سلیمان علیه السلام به هم په تخت سلیمانی باندی په هوا کنبې تلو، یالکه یوسړی اسمان ته په کرامة سره وخیژي نوایصال الی السماء ممکن دی نودلته کنبې هم ددغې بنځې امکان ددی خبری شته چه دادی مملوکه وګرځي اګرکه حرة ده لکه مخکنبې مونږ طریقه ذکرکړله. فصلٌ فی الصریح والکنایة فصل دی په بیان دصریح اودکنایة کنبې. صریح په وزن دفعیل په معنی دفاعل باندی دی‌یعنی صارِح په معنیٰ‌دظاهر، صَرْحٌ لوی مانی ته وانی ځکه هغه دلری ځای نه بنکاري ، انه صَرْحٌ مُمَرَّدٌ مِّنْ قَوَارِيْرَ معنی دا چه دا خویوه لویه مانی ده اوجوړه ده دشیشونه، صَرَحٌ خالص ته وائی لکه هذا عسلٌ صَرَحٌ معنی داچه داخالص(سوچه) ګبین دي یعنی دچینی وغیره ملاوټ پکنبې نشته یا رجل الصریح النسب هغه سړی چه دهغه نسب پاك وي ګډوډ کسان پکنبې نوي راغلی، التصریحُ خلاف التعریضِ ، یوتصریح ده چه یوه خبره څرګنده وشی اوبل تعریض دی چه خبره غیرظاهره وشی نوصریح ته ځکه صریح وائی چه دی پخپله معنی کنبې څرګنددی الصریحُ لفظٌ یکونُ المرادبه ظاهراً صریح یولفظ دی چه مراد په هغه سره ظاهروي بدون احتیاج إلی‌النیة بلکه په ذکر دلفظ سره به دهغه معنی معلومیږي ، لکن داسی ظاهر چه هیڅ قسم خفاء پکنبې نوي اوبرابره خبره ده چه دغه معنی چه کومه ظاهره ده دهغه لفظ حقیقی‌معنی وي اوکه مجازی معنی وي کقوله بعتُ واشتریتُ وامثاله لکه دا قول دقائل چه بعتُ دی اواشتریتُ دی اویه مثل ددی دواړو باندی، لکه یوسړی اووائی بعتُ نوهرچاته معلومه ده چه خه لی خرڅ کړیدي یا اشتریتُ یا تزوجتُ دا دی حقیقی معنی مثال ده او دمجازی معنی مثال لکه یوسړی والی اکلتُ من هذه الشجرة نوټولو خلکوته معلومه ده چه ددینه مراد میوه ده ځکه ونه خوك نه خوري یا اکلتُ من هذه النخلة نومعلومیږي چه مراد ترینه دنخلی ونه نده بلکه مراد ترینه دنخلی میوه ده ځکه دنخلی ونه خوك نخوری یا

يوسري وائي لا اشرب من هذا الحوض نومرادترينه حوض نده څكه حوض خوتالاب ته
وائي بلكه مراد ترينه مافي الحوض ده چه اوبه دي ذكردمحل مرادترينه حال دى
نودصريح معنى داده چه سامع ته پكښې دتامُل ضرورت نوي بلكه فوراً معنى ترې
حاصليږي. وحكمه انه يوجبُ ثبوت معناه اوحكم دصريح دادى چه واجبوي ثبوت دمعنى
بلاتوقفِ الى النية نيت ته به محتاجه نوي نودثبوت مطلب شو ثبوت حكمه الشرعى يعنى
دهغه لفظ چه كوم حكم شرعي وي هغه به خامخا ثابت وي لكه يوطالب ښځې ته انتِ
طالِقٌ اووائى نوحكم شرعى ئې طلاق دى چه طلاقه شوه پدې باندى نوكه دئ بيا
هرڅومره اووائى چه زما مراد خو دانتِ طالِقٌ نه طلاق نوه بلكه دامى مراد وه چه ته ازاده
ئې كه دپلار كورته ځې نودده خبره قابل دقبول نده بلكه طلاق واقع شو. بايِّ طريقٍ كان
من اخبارٍ دادى صريح تكى دى چه په كومه طريقه دى استعمال كړى وي كه دجملې
خبريه په شكل وي لكه يوسړي ښځې ته اوويلې طلقتُكِ معنى داچه ما خوتاته طلاق
دركړيدى دا جمله خبريه ده ياغلام ته اووائى چه حررتُك معنى داچه ته ما ازاد كړى
داهم جمله خبريه ده اونعتٍ اويا ئې دنعت په شكل كښې ئې اوويلې چه انتِ طالِقٌ يعنى
انتِ ذو طلاقٍ څكه طلاقٌ دا فاعل دى كذا دى يعنى انتِ ذوطلاقٍ لكه تامِر وائى ذوتمرته
كوم سړى چه كجورى خرڅوي څكه فاعل خوهغه ته وائى چه دهغه نه صدور دفعل شوى
وي لكه آكِل هغه كس ته وائى چه روټى خوري همدارنگه شارِب وغيره اودَ لابِن معنى ده
ذولبن كوم سړى چه پئ خرڅوي. اونِداءِ اويا نداء وي، لكه يوسړي خپلى ښځې ته
اوويلې ياطالِقُ نوپدى سره هم ښځه طلاقه كيږي طالِقُ خوڅكه ورته وائى چه دِ سړي به
ورته طلاق ورکړی وي ، يا لكه يوسړی خپل غلام ته اووائي يا حُرُ نو دا هم ازاد شو. ومن
حكمه انه يستغني عن النية اوحكم دصريح دادى چه دى به مستغنى وي دنيت نه وعلى
هذا قلنا اوبناء پردى باندى چه لفظ صريح نيت ته محتاج نوي موږه وايو اذا قال لامرأته
انتِ طالِقٌ اوطلقتُكِ اويا طالِقٌ هركله چه يوسړي خپلى ښځې ته اوويلى انتِ طالِقٌ ،
اوطلقتُكِ ، اويا طالِقُ دامثالونه دي دهريوى مذكورى طريقى لپاره چه مخكښې ذكرشوى
لكن على سبيل لُف نشرغيرمرتب څكه مخكښې ئې وويل چه « بايِّ طريقٍ كان من اخبارٍ »

Maktaba Tul Ishaat.com

نود اخبارمثال دی طلقتك دائی پکار ده مخکښې راوړی وائی او ویلی ئی وائی چه "اذا
"لامرأته طلقتك" اودنعت مثال دی انتِ طالقٌ پکاروه دائی په دویم نمبر کښې راوړی
وائی اودنداء مثال دی یاطالقُ نوپکار وه چه دائی په دریم نمبرکښې راوړی وائی نوبیا به
لُف نشر مرتب وائی، بیا به ترتیب سره ذکرشوی وائی مصنف وائی یقع الطلاق پدی دری
واړو تکو باندی طلاق واقع کیږي نوی به الطلاق اولم ینو که نیت دطلاقو ئی کړی وي
پدی صریح سره اوکه نوې نی کړی. وکذا لوقال لعبده انت حرٌ اوحررتُك اویاحُرُّ
همدارنگه که یوسړي خپل غلام ته اوویلی انت حرٌ ته ازاد ئی دامثال لپاره دنعت دی، اویا
نی ورته اوویلی حررتُك دامثال لپاره دجملی خبریه دی، اویا نی ورته اوویلی یا حُرُّ دامثال
دنداء دی پدی ټولو الفاظو سره غلام ازادیږي ، دلته کښې لف نشر غیرمرتب دی وعلی
هذا قلنا اوبناء پدی باندی چه صریح ظاهرالمراد دی اوثابتیږي په کومهٔ طریقه چه وي
مونږه وایو انَّ التیمُّمَ یفیدُ الطهارة په تیمم سره طهارة حاصلیږي. اصل کښې پدی مسئله
کښې چه تیمم سره طهارة راځی اوکنه اوهمدارنگه پدیمسئله کښې چه په تیمم سره دوه
فرضه کولی شی اوکنه ؟ زمونږ(احناف) وایوچه په تیمم سره طهارةراځی لان قوله تعالی
ولٰکِن یُرِیْدُ لِیُطَهِّرَکُمْ صریح فیحصول الطهارة ځکه چه قول دالله تعالی ولکن یریدلیطهرکم
داصریح دی په حصول دطهارة کښې په تیمم سره. نوزمونږه په نزد باندی تیمم طهارة
مطلقه دی نوچه اوبه نوي تیمم له وخت نه مخکښې هم کولی شیهمدارنگه په یوتیمم
سره دوه یا زیات لمنځونه هم کولی شی ، لکه څنگه چه یوسړی اودس قبل الدخول وقت
الصلاة جائز دی همدارنگه تیمم هم دی اولکه څنگه چه په اودس سره سړی دیونه زیات
لمنځونه اداء کولی شی همدارنگه تیمم هم دی ځکه الله پاك چه په آیت دتیمم کښې کوم
لفظ راوړیدی چه لیطهرکم دی نوددی معنی دادی چه الله تعالی ستاسو طهارة اراده کوي
اوطهارة دیته والی چه حدث اوبی اودسی پورته شی وللشافعی رح فیه قولان اودامام
شافعی صاحب په باره دلیمم کښې دوه قوله دي احدهما انه طهارةٌ ضروریةٌ یوقول داچه
تیمم طهارت ضروري دی،لو " الضروریُ یتقدرُ بقدرالضرورة " نوامام شافعی صاحب وائی
چه ضرورت به تیمم له هله راځی چه وخت دلمانځه داخل شی او اوبه لوي نوتیمم

صحیح کیږي او ولا ضرورة للتیمم قبل دخول الوقت عنده همدارنګه هغه والي که چیرته دیولمونځ لپاره دی تیمم وکړو نودبل لمونځ لپاره به بیا بل تیمم کوي ځکه ضرورت صرف دومره پکاروي چه څومره ضرورت وي لکه دخنزیر غوخه خوحرامه ده لکن یوسړي سره نورڅه نشته اودلوګی نه مرکیږي نوالله تعالی وائی ﴿ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ *﴾ سورة البقرة، الاية: ۱۷۳ ۰ نودلته کښی هم دومره خوړل پکاردي چه صرف دمرګ نه پری بچ شی ځکه الضروریُ یتقدرُ بقدرالضرورة۰ والآخرُ انه لیس بطهارة بل هو ساترللحدَثِ اودویم قول دامام شافعی صاحب دادی چه تیمم طهارة ندی بلکه پټونکی دی لپاره نجاست، نودغې وجهی نه چه یوسړی اوبه بیاموسی نوتیمم ئی مات شوځکه هغه حدث بیا ظاهرشو کوم چه مستور وه نومونږ(احناف) وایو چه تیمم مزیل للحدث دی نه ساتِر للحدث وعلی هذا اوبناء پردی اختلاف چه داحنافو په نزد تیمم طهارة مطلقه دی اودشوافعو په نزد باندی طهارة ضروري دی یُخرّج المسائل علی المذهبَین نوری ډیرےمسئلی به راوباسو ددواړو مذهبونو په نزد، هغه مسائل مخرجه دادي من جوازه قبل الوقت جائز دی‌تیمم قبل الوقت عندنا لاعنده ځکه چه تیمم طهارة مطلقه شونوچه یوسړی خرنګه به اوبو باندی اودس قبل الوقت کولی شی همدارنګه تیمم هم کولی شی واداء الفرضین بتیمُمٍ واحدٍ همدارنګه په یوتیمم باندی سړی دوه فرضه هم کولی شی عندنا لاعنده لکه په یواودس چه سړی ډیرفرائض کولی شی همدارنګه په یوتیمم هم سړی دیونه زیات فرض لمنځ نه کولی شی وامامت المتیمّم للمتوضئین همدارنګه صحیح ده امامت دمتیمم اودس کوونکوته، لکه اودس کونکی امام چه اودس کونکومقتدیانوته امامتی کولی شی همدارنګه یوامام ته تکلیف وه یا اوبه ورته ضرر رسوي نوامام متوضئنوته امامتی کولی شی عندنا لا عنده ځکه تیمم طهارة مطلقه دی عندنا۰وجوازه بدون خوف تلَف النفس اوالعضو بالوضوء همدارنګه جائز دی تیمم بغیر دویری دمرګ نه اوله وچیدو دعضوی له په اودس سره عندنا لاعنده ، شوافع وائی چه یوسړی به تیمم هله کوي چه ده سره دمرګ یا دعضوی دوچیدو خطر وي ورنه لیمم جائز ندی ، اواحناف وائی چه که یوسړي سره دمرګ یادعضوی دوچیدو خطره نوي اوصرف دمرض له دویریدو له وجهی نه اودس له

کوي اوتیمم وکړي جائزده· وجوازه للعيد زمونږ په نزد داختردلمونځ لپاره هم تيمم کولی شي، خکه داحنافو په نزد داختردلمونځ لپاره بدل نشته نودی وجی نه تيمم کول جائز دي ورنه لمونځ به فوت شي والجنازة همدارنګه زمونږ په نزد دجنازی لپاره هم تیمم کولی شي· وجوازه بنية الطهارة همدارنګه جائزدی تيمم په نيت دطهارة سره عندنا لاعنده، نوچه کله مونږ تيمم کوه نونيت به داسي کوه چه « نويتُ ان اتيمم للطهارة يعنى لرفع الحدث » اوداماِم شافعي صاحب وائي چه نيت به پکښي دفرضو کوی چه زه پدی تیمم سره فرض اداء کوم نويتُ ان اتيمم لاداء الفرض خکه چه تيمم طهارة ضروري دی اوضرورت صرف دفرضو لپاره وي· والكنايةُ اودويم قسم کناية ده، دا يا دباب د ضَرَبَ يَضْرِبُ نه دی کَنَآ يَکْنِيْ اويا داباب د نَصَرَ يَنْصَرُ نه کَنَآ يَکْنُوْ راځی دا دواړه صيغی مستعمليږي بغضی صيغی دوه بابونو نه هم راځی نوکه دضرب يضرب نه شي بيابه دمتکلم صيغه کنيتُ شی اوکه دنصرينصر نه شي بيا به ئی دمتکلم صيغه کَنَوْتُ په مثل دِ دَعَوْتُ شی لکه شاعر دخپلی قضورة نومی معشوقی باره کښی وائی . الشعر:

وإني لاكْنُو عن قذور بغيرها وأعرِبُ احياناً بها فأُصارِحُ .

معنی داچه کله ناکله زه دخپلی معشوقی نه کنایه کوم نوم ئی نه اخلم بل خه اووائم. اوکله ئی نوم اخلم نوخبره بنه خرګنده اوښکاره کړم ، لکه يوسړی وائی چه ډيربنه ګل می ليدلی دی نوخلك وائی چه ګنی دګلابو يا دبل خه ګل به ئی ليدلی وي لکن حقيقت کښی هغه خپله معشوقه ليدلی وي اوهغه ئی تری مراد وي نوداکنايه شوه لکن کله بيا دخپلی معشوقی نوم ذکرکړي نوخبره بلکل ښکاره شي، نوپدی شعر مذکوره کښی کنايه دنصرينصرُ نه مستعمله ده خکه ی اکنو وويل لکه دوه کسان په لاره روان وه اويوه ډيره حسينه ښخه لی وليده نويوبل نه لی ويل چه ياره ډيرښالسته ونه ده نوخلکو ونی ته کتل لکن ددوئ مرادلرينه هغه ښخه وه ديته والی خيانت دسترګونودی باره کښی الله تعالی فرمالی ﴿ يَعْلَمُ خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ ﴾ سورة المؤمن ، الاية: ١٩ · يعنى الله پاك ته معلوم دی خيانت دسترګو· دکنايه معنی ده لتعبيرعن الشئ بلفظ غيرصريح لوکنايه په لغت کښی استتاراوپتوالی ته والی اوپه اصطلاح کښی هی مااستترمعناه کنابة هغه ده چه پته ...

شوی وي معنی دهغی. پدی طریقی سره چه مراددهغی بغیردقرینی اویابغیردمتکلم داظهارنه له معلومیږي برابره خبره ده چه هغه معنی معنی ئی حقیقی وي اوکه معنی ئی مجازی وي لکه یوسړي خپلی ښځی ته اوویی اعتدی نودا لفظ کنائی ده دعدت نه دامعنی هم کیدای شی چه زما احسنات وشماره اودامعنی ئی هم کیدای شی چه بی بی خپل عدت دی‌وشماره طلاق می درکړیدی نوپدی صورت کښی به مونږ ددی سړي نه تپوس(پوښتنه) کوو چه داعتدی نه دی څه مراد دی اویابه قرینی ته گورو چه ایا مذاکرة دطلاق خونه وه یا داسړی خوغوصه نوه وغیرذالك. والمجازقبل ان یصیرمتعارفاً بمنزلة الکنایة اومجاز چه ترڅو پوری مشهورنوي گرځیدلی دخلکوپه منځ کښی نوهغه هم په منزلة دکنایة سره ده. لکه یوسړی خپلی ښځی ته اوواِلی انتِ بائنٌ نوتپوس به کولی شی دمتکلم نه چه ایا ستا د انتِ بائنٌ نه څه مراد دي ځکه ددی هم مختلفی معانی کیږي یوه داچه ته دنورو ښځونه جدائی په حُسن اواخلاقوونحیره کښی اودامعنی ئی هم کیدای شی چه ته جدای له مانه، طلاقو سره جدائی راځی دزوج اودزوجی په مابین کښی نوبیا طلاق بائن شو. اوچه کله مجاز متعارف شو خلکوته معلوم وي لکه د رأس تکی هغه خلکوته معلوم دی چه سرنه مراد دغوائی سردی لکه یوسړی اووائی چه ورشه دهوټل نه سرراوړه نو بعضی ښاریوکښی ثابت سرپوخ شوی وي بعضی‌ځایونوکښی دغوائی سرثابت پوخ وي بعضی‌ځایونو کښی دچلیو(بزو) سرونه پخیږي بعضی ځایونوکښی دچرچنوسرونه پخیږي نوعُرف کښی چه کوم رأس مراد وي هغه به تری مراد وي نوچه کله عرف ته ورسیدو نوکنایة شوه. وحکم الکنایة اوحکم دکنائی ثبوتُ الحکم بها عند وجودالنیّة اوبدلالة الحال ثابتیدل دحکم دي پدی کنایة سره په وجود دنیت اویاقرینی حالیة کښی اذلابدمن دلیل یزولُ به التردُّد کنایة کښی ضروري وي دلیل چه زائله شی پدی دلیل سره شك اوترډُد ویترجحُ به بعض الوجوه اوترجیح ورکړی شی پدی دلیل سره بعضی وجوه ته په بعضونورو سره باندی. ولهذا المعنی سُمّی لفظُ البینُونة والتحریم کنایة فی باب الطلاق اوددی وجهی نه چه کنایة مسترالمرادوي مسمی شو لفظ دبینونت لکه انتِ بائنٌ اولفظ دتحریم لکه انتِ حرام داکنایة ده په باب دطلاقوکښی، همدارنگه تحریم لکه یوسړي خپلی ښځی

Maktaba Tul Ishaat.com

ته اوویلی انتِ عليَّ حرام ددی دوه معانی دي یوه داچه زه به تاته نه نږدی کیږم ته په مابانْدی حرامه نی څکه مطلقه په سړي باندی حراميوي اودويمه معنی داچه ته په مابانْدی داسی حرامه ئی لکه په ماباندی زما مور ، مورته خوهیخوك څه نه وائی نوزه به هم تاته بلكل گداردرنكړم یعنی ستا وهل په ماباندی حرام دي لکه شاعر وائی ،

الشعر: رایتُ رجالاً یضرِبون نسَاءَهم - فَشلّت یمینی یوم اضرِبُ زینبا۰

معنی داچه زه گورم سړي چه وهی خپلی ښځی زما ښی لاس دی وچ شی په هغه ورځ که ما زینب ووهله، زینب ئی ښځه وه اوزياته پرَی گرانه وه څكه ئی داشعر اوویلی نوتحریم به هم یادقرینی اویاهم متکلم دبیان نه معلومیږي۰ **لا انه یَعْمل عَمَلَ الطلاق** اوندي دالفاظ چه عمل کوي دطلاق ، دالجواب دی دسوال مقدره نه اعتراض داسی واردیږي چه هرکله دا الفاظ کنایات شو دطلاقو نه نودابه هم عمل کوي پشان دطلاقونوجواب دادی چه دا الفاظ حقائق دي دبینونة اوحرمة نه نوعمل کوي دا الفاظ په موجباتو دطلاقوسره اومسمی نی کړه په کنایاتو دطلاقو سره له وجهی دِ احتمال دطلاق نه لکه ټول الفاظ مشترکه چه مستترالمراد دي همدارنګه کنایات هم مستترالمراددي۰ **ویتفرّع منه حکمُ الکنایات فی حق عدمِ ولایة الرجعة** اوپدی مذکور سره متفرع کیږي حکم دکنایاتو په حق دعدم ولایت رجعی کښی یعنی په رجعی طلاقو کښی سړی رجوع کولی شی لکن په انتِ بائنٌ کښی که مراد جداوالی وي نوحق درجوع ختم شو۰ **ولوجودمعنی التردّدِ فی الکنایة** اوله وجهی دوجود تردُد نه په کنایاتو کښی **لایُقَامُ بها العقوبات** نوپه کنائی الفاظو باندی حدنه قایمیږي ، څکه رسول الله مبارك فرمائی « ادرءوا الحدود مااستطعتم » او«الحُدود تندِرئُ بالشبهات » په بوشی کښی چه شبه راغله حدبیانه قایمیږي نوپه الفاظو کنایة کښی تردد اوشبه دی نوپدی سره حدنه قایمیږي ، لکه حضرت ماعزرضی الله عنه صحابی دی اوده نه دزنا گناه شوی وه نورسول الله مبارك ته راغی چه یارسول الله ﷺ ما باندی حدقایم کړه ما زنا کړیده نوپیغمبر علیه السلام تری مخ مبارك واړولو بیا ورته دبل طرف نه راغی اوهمدغشان بیان ئی وکړو تردی چه رسول الله ﷺ تری څلورځله مخ واړولو، مخ مبارك به ئی تری څکه اړولو چه زنا خودسترگو لیدوته هم ویل کیږي لکه په حدیث کښی رځی «العَیْنَانِ تَزْنِیَانِ »

نورسول الله ﷺ ورته اوفرمائل چه آیا تا کومی اجنبیه ښځی ته کتلي دي ځکه وائی چه مازنا کړیده؟ لکن هغه بار بار اقرار وکړو چه ما هغه حقیقی زنا کړیده بیا رسول الله ﷺ ورته اوفرمائل چه مجنون خوهم نه ئی نوجواب ئی وکړو چه نه بلکل تیهك یم نوبیا دهغی نه پس رسول الله ﷺ په هغه باندی حد قایم کړو ؛ نوځوپوری چه متکلم دخپل لفظ معنی نوي بیان کړی نوپه کنایاتو به حد نه قایموی،نودغیوجی نه علماء وائی **حتی لواقرّ علی نفسه فی باب الزنا والسّرقة لایقام علیه الحد** تردی چه دا سړی پخپل ځان باندی اقرار ونکړي په باب دزنا اودسرقه(غلا) کښی پدی باندی به حدنه قایمیږي ، لکه یوسړي ووېل چه اخذتُ مال فلانٍ نوپه ده باندی قطع دیدنشته ځکه اخذت صریح ندی په سرقه کښی اودوه احتماله لري یا داچه کیدای شی په غصب سره ئی وي اویا داچه کیدائی شی په سرقی سره ئی اخشتی وي نودغصب په صورت کښی قطع دید بالاتفاق نشته دهغه نه به بیا تیوس کولی شی چه دی اخذتُ نه ستا مراد څه دی که هغه وائی چه دینه زما مراد سرقه ده نوبیا به قطع دید کیدای شی ورنه نشته۰ **مالم یذکراللفظ الصریح** ترڅو چه لفظ صریح نی نوي ذکرکړی یعنی ترڅو چه متکلم لفظ صریح نوی استعمال کړی نوحدبه نه جاری کیږيورباندی **ولهذا المعنی لایقامُ الحدّ علی الاخرس بالاشارة** اوددی تردده وجهی نه به په گونگی باندی حدنه جاري کیږي داشاری له وجهی نه ، ځکه چه اشاره مفیده دمعنی حقیقی نوي لکه مرقات کښی راځی چه دلالت لفظی وضعی نه بحث ځکه کوي چه دامفیددی په مخاطبه کښی ، اواشارات مفیدندي **ولوقذف رَجُلاً بالزنا فقال الأخرُ صدقت لایجب الحد علیه** کچیرته یوسړي په بل سړي باندی دزنا تهمت ولگاوه اودریم سړي ووېل چه رښتیا وائی نودادریم سړي باندی به حدنه لازمیږي ، اوداعطف دی په لایقام الحد الخ باندی **لاحتمال التصدیق له فی غیره** له وجهی ددی احتمال نه چه دا قاذف کیدائی شی دی دریم سړی ته بله خبره کښی رښتونی وي۰ داشاراتو په بحث کښی جناب شیخ صاحب یوه قیصه ذکرکړیده هغه دا چه . یوملا دیوکلی خلکو ته وویل چه زه به دجمعی په ورځ ستاسوډکلی دملاسره مناظره کوم ، نوهغوکلیوالو سره ملاامام نوه نوپخوا به چه دکوم کلی امام نوه هغه کلی به ډیربیکاره بلل کیده نوهغه کلیوال ډیرزیات وگرځیده په ملا پسی لکن

Maktaba Tul Ishaat.com

ملاورته پیدانشو قدرتی دجمعی په شپه یوسړی راغی ددوی کلی ته اودبدقسمتی نه هغه سړی چشمې اوسپینې جامې اچولې وی سپین پټکی ئې هم وهلی وه اوکوټی هم ورسره وه ، نوکلیوالو ورته اوویل چه نن خوزمونږ دکلی ملا ته دفلانکی کلی ملا مناظری ته راغی مونږ خوډیروګرخیدو لکن ملا پیدانشو اوخدای پاك ته راوستی ، هغه سړي ورته اوویلی چه زه ملانه یم نوهغوی ورته اوویل چه ملا ئې اوډیرغټ شیخ الحدیث ئې لکن هسې عاجزی کوی څکه علماء عاجزی کوي نوغریب مجبورشو څکه «حکم حاکم مرگ مفاجات است» نوملاراغی اومناظره شروع شوه ، نوهغه دبل کلی ملا ورته اوویل چه په اشاره به درنه تپوس کوم، نوهغه ورته یوه گوته اوچته کړه امی ورته دوه گوتی اوچتی کړی هغه ورته بیا خلورگوتی اوچتی کړی اوامی ورته پنځه گوتی اوچتی کړی ، بیا هغه ملا ورته پنځه گوتی اوچتی کړی نودی امی ورته پنځه واړه گوتی دسوك په شکل کښی اوښودی ،نوبیا هغه ملاکلیوالوته اوویلی چه ډیرکلك ملادی‌نوخلکوورته ډیرانعامونه،دعوتونه،اوتحفی ورکړی چه ناخونږ زمونږ سترگی اوچتی کړی ، نوبیا چا دهغه مناظرنه تپوس وکړو چه سوال دی څه کړی وه نوهغه ورته اوویلی چه ماورته یوه گوته اوچته کړه چه دالله پاك وحدانیت منی نوهغه راته دوه گوتی اوچتی کړی چه او درسول الله ﷺ رسالت هم ورسره منم ، بیا ورته ما خلورگوتی اوچتی کړی چه آیا څلوراسمانی کتابونه منی نو هغه راته اوویل چه داسلام پنځه بناوی هم ورسره منم ، نوبیا ماتری دپنځولمنځونو تپوس‌اوکړونوراته ئې وویل چه‌کلك می نیولی دي. نوبیا دهغه امی نه چا تپوس وکړو چه تاورته څنگه جوابونه ورکړل نوده ورته اوویل چه هغه راته یوه گوته اوچته کړه چه پدی به دی سم کړم نوماورته دوه گوتی اوچتی کړی چه پدی به دی غانبی کړم بیا هغه راته پنځه گوتی اوچتی کړی چه څپیړه به درکړم نو ما ورته اوویل چه په سوك به دی سم کړم -

من چه میگویم وتنبور من چه میگو ید

**فصل فی المتقابلات** فصل دی په بیان دمتقابلاتوکښی ، پدی باندی اعتراض دی چه ولی هغه مخکښي خوهم متقابلات وه لکه خاص په مقابله دعام کښی وه ، مشترك په مقابله دمؤول کښی وه ، حقیقت په مقابله دمجازکښی وه، نوهغوی ته لی متقابلات ونه ویلی اودیته

متقابلات وائي؟ نوجواب ‌دادی چه اصل کښې د دوی(ظاهر، نص، مفسر، محکم، خفي، مشکل، مجمل، متشابه) وجود په عربي ژبه کښې کثیر الوقوع دی ځکه نی خانته فصل کښې ذکرکړل اومتقابلات نی ورته اوویلی. نعني بها الظاهروالنصّ والمفسّروالمحكَمَ مع يقابلُها من الخفي والمشكل والمجمل والمتشابهِ مراد دهٔ نومتقابلاتونه ظاهر،نص،مفسر،اومحکم دی سره ددی په مقابل کښې چه راځي چه هغه خفي ،مشکل، مجمل، اومتشابه دي. دظاهرپه مقابل کښې خفي راځي دنص په مقابل کښې مشکل راځي دمفسرپه مقابل کښې مجمل راځي اودمحکم په مقابل کښې متشابه راځي،اودس دهريوتفصيل اوبيل بيل تعريف بيانوي فالظاهراسمٌ لکل کلام ظهرالمرادُبه للسّامِعِ بنفسِ السماع من غيرتأمُّلٍ پس ظاهراسم دی دهرکلام لپاره چه ظاهروي مراد په هغه سره سامِع ته په نفس اوريدوسره بغيرد فکراوسوچ نه ،يعني هغه قريني ته محتاج نوي لکه الله ان يوجمله واوري اومطلب ته نی ورسيږي بغيردفکرنه نوداظاهردی لکه الله پاك فرمائي﴿ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ ﴾يا﴿ ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَارَيْبَ فِيْهِ ﴾ نوداظاهرشول والنصُّ ماسيق الكلامُ لاجله اونص هغه ته وائي چه دهغه لپاره کلام راوړل شوی وي، کلام چه دکوم غرض لپاره راوړل شوی وي هغه ته نص وائي، سيق په وزن دقِيْلَ ساق يَسُوْقُ نه دی په معنی دشړلو راځي ، بازارته هم سوق وائي ځکه بازارته هرڅلي شړلي شي اوخرڅيږي ، پندی ته هم سواق وائي ځکه پدی سره سړی چليږي اوځي، سانق يا سواق ډريورته وائي ځکه موټر(گاډی) چلوي اوديوځای نه لی بل ځای ته شړي. ومثاله فی قوله تعالی مثال دهريودظاهراونص نه پدی قول دالله تعالی کښې دی ، په مثاله کښې دٔ ه ضميرمفرد دی راجع دی هريوظاهراونص ته يعني مصنف پدی يومثال کښې دواړو لره مثالونه ذکرکوي وَاَحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ وحرّمَ الرِّبٰوا الله تعالی بيع حلاله کړيده اوالله تعالی ربا حرامه کړيده. کافرانوبه ويل چه « إنما البيعُ مثل الربوا» يعني بيعه پشان دربا ده، هميشه لپاره وجه دشبه په مشبه به کښې قوي وي دمشبه نه لکه موټر وايو زيډکلاسد نوشجاعت اوبهادري په زمری کښې ، زياته ده نسبتاً زيدته اوزيدورسره په شجاعت کښې موټر برابرکړيدی، نوکافران اوسود خواره دومره ظالمان وه چه هغوی به داسې نه ويل چه الربوا مثل البيع يعني لکه بيعه چه ځنګه جائزده نوربا هم

Maktaba Tul Ishaat.com

دغشان جائزه ده لکن هغوی ظالمانوبه دومره زیاتی کاوه چه ویل به ئی انماالبیع مثل الربوا یعنی ربا خوسوچه حلاله ده اوبیعه هم ځکه حلاله ده چه دربا سره مشابه ده (چوری اوسینه زوری)یوسړی غلاهم کوي او وائی بنه کوم، نوهغوی داسی پڅپلوبدو اقرارکاوه چه سودخوری خودحلال گانه بلکه بیعه لی هم دسودمشابهت له وجهی نه حلاله گڼله فالآیة سِیقَتْ لبیان التفرقة بین البیع والربوا پس ایت راورل شوی دی لپازه دبیان دفرق په مابین دبیعی اودرباکښی ، اوپدی کښی په هغوکفاروباندی رد دی چه ویل به ئی چه بیعه اوربا سره برابردي اویا به ئی ویل چه بیعه پشان دربا(سود) ده وقدعُلم حلّ البیع وحرمةُ الربوا اوپه تحقیق سره معلومیږي ددی ایت نه حلال والی دبیع اوحرمة دربا، نوبیعه حلاله ده ځکه پدی کښی خومبادلة المال بالمال دی اوربا حرامه ده ځکه پدی کښی مبادلة المال بالمال نشته ځکه که ته یوسړي ته سل(١٠٠) روپی ورکړی اومیاشت پس درته یوسل اوشل(١٢٠) روپی درکوي نودا سل خوراًس المال شواودا شل دڅه په بدل کښی دي بنفس السماع فصارذلك نصّاً فی التفرقة هرکله چه مونږ ته تحلیل دبیع اوتحریم دربا په نفس سماع سره معلوم شو، نووگرځیده دا آیت نص لپاره دفرق بین البیع والربوا ظاهراً فی حلّ البیع وحرمة الربوا او وگرځیده دا آیت ظاهرپه حلال والی دبیع اوحرام والی دربا(سود) کښی وکذلك قوله تعالیٰ همدارنگه په نص اوپه ظاهر کښی دا قول دالله تعالی دی، دابل مثال دی لپاره دنص اود ظاهر فانکِحُوا ماطَابَ لکُمْ مِّنَ النِّساءِ مثنیٰ وثُلٰثَ ورُبٰعَ تاسو نکاح وکړی دهغوښځوسره چه تاسوته جائزی وي دوه ،دری، اویاځلور سِیْقَ الکلامُ لبیان العدد راورل شویدی ایت لپاره دی تعدُّد دزوجاتو ، یعنی چه یوسړی له څلورو ښځوسره په یووخت کښی واده کولی شی وقدعُلِمَ الاطلاق والاجازة بنفس السماع اوپه تحقیق سره مونږ ته معلوم شواباحة اوجوازدنکاح په نفس اوریدوسره فصارذلك ظاهراً فی حق الاطلاق نصًا فی بیان العدد نووگرځیدو آیت ظاهرپه حق داباحة کښی ، اوگرځیدو نص په بیان دلعدد دنکاح کښی ترڅلورو ښځوپوری جائزی دي اودهغی نه زیاتی نشی کولی ، دجاهلیت په زمانه کښی به دیوسړي له څلورونه هم زیاتی ښځی وی لکه شریعت دهغی نه منعه وکړه چه څلورو نه زیاتی په یووخت کښی نشی کولی، نوله دی وجهی نه

بعضی خلکوبه چه اسلام راورو نوچه دخلورونه به زیاتی ښځی ورسره وی نورسول الله مبارك به ورته اوفرمائل چه څلوراوساته اونوری پریږده لکه ابوغال دطائف لوی ملك وه کله چه طائف فتحه شو اوابورغال مسلمان شو نوهغه سره نهه(۹) ښځې وی نوزسول الله ﷺ ورته اوویل چه څلور پکښې اوساته اودا پنځه تری لری کړه٠/وکذلك قوله تعالیٰ همدارنګه دظاهر اودنص په مثال کښی داقول دالله تعالیٰ دی لاجُناحَ عَلَيْكُمْ اِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ مالم تَمَسُّوهُنَّ اوتَفْرِضُوْا لَهُنَّ فَرِيْضَةً نشته پرتاسوباندی ګناه که چیرته تاسو طلاق ورکړو خپلوښځوته چه تاسوجماع نوي کړی له هغوی سره اویامولاس نوي ورته لګولی یامودوئ ته مهرتاکلی نه وي٠ یوسړی چه ښځی سره نکاح وکړي نودډی څلورصورته دي اول داچه یوسړي دیوی ښځی سره واده وکړو اومهرهم متعین وي اوداسړی دی ښځی سره جماع هم وکړي اووخت ورسره تیرکړي اوبیائی طلاقه کړي نوپدی صورت کښی مهرمسمی شویدی نوپوره مهربه ورکوي/اودویم صورت دادی چه نکاح شوی وي لکن مهرنوي مسمی شوی اوجماع هم شوی وي اوبیا طلاق واقع شی نوپدی صورت کښی به مهرمثل ورکوي ځکه دنکاح په وخت کښی مهرندی مسمی شوی ، مهرمثل دیته وائی چه ددی ښځی دتره لور یادماما لور واده شوی وي اودهغی چه څومره مهروي نوددی به هم دومره مهرتاکل کیدای شی٠ اودریم صورت دادی چه یوسړی دیوی ښځی سره واده وکړي اومهرمتعین کړي اوبیا داسړی دجماع اودلمس نه مخکښی ورته طلاق ورکړي نوپدی صورت کښی خومهرمعلوم دی نونیم مهربه ورکوي٠ اوڅلورم صورت دادی چه نکاح وشوه لکن مهرنوه معلوم اوسړی ورته قبل الجماع طلاق ورکړي نوپدی صورت کښی بیا متعه ده :متعه یوجوړ لباس ته وائی مثلاً یوقمیص ، یوپرتوګ ، یوه لوپټه، یوجوړ پائی زار وغیره لکن مالداربه دخپل وس(طاقت) مطابق متعه ورکوي اوغریب به دخپل وس(طاقت) مطابق متعه ورکوي، متعه پدی صورت کښی واجبه ده اوپه هغه نورو دری صورتونوکښی واجبه نده نصٌ فی حکمِ مَن لَمْ یُسَمِّ لهاالمهرُ نوایت نص دی په حکم دهغه ښځه کښی چه دهغی لپاره مهرنوي مسمی شوی اوخاوندورسره لاس هم نوي لګولی٠ وظاهِرٌ فی اِسْتِبْدَادِ الزوج بالطلاق اودا آیت ظاهردی په استقلال دزوج کښی، یعنی صرف زوج دطلاقو حق

خاوندانو لري پدې کښې قاضي، بادشاه وغيره لره دخل نشته خکه چه طلقتم کښې خطاب خاوندانو ته دې. واشارةُ إلى ان النكاح بدون ذكرالمهريصحّ اوپه اشارة النص سره داخبره هم معلومه شوه چه صحيح کيږي نکاح بغيرد تسميه دمهرنه، دائي هسې دمزيدې فايدې لپاره ذکرکړل ورله بيان داشارة النص ،دلالة النص ، عبارة النص، اواقتضاء النص روستوبيانيږي نودلته کښې خبره راغله اوبيان لې کړو چلتې چلتې په بهې بتادين. وكذلك قولُه عليه السلام همدارنګه دې داقول دنبي ﷺ من ملك ذارحِمٍ محرم منه عُتِقَ عليه که يوسړی مالك شو ددارحم محرم نودابه ازادوي پدې مشتري باندې. ذارحم محرم هغه ته وائي چه ديوبل سره ئې نکاح نه کيږي لکه مثلاً ديوسړي پلارغلام وه اوخوی ئې حُر وه اوپلارواخستو باديوسړي ورورغلام وه اووائي خشتو ياديوسړي خوروينځه وه اووائي خشته نوپه نفس اخستو سره دا ازاد دي. نصٌ في استحقاق العتق القريب نودا حديث نص دی په حق دازادوالی دقريب کښې داسې قريب(خپل) چه ددې دواړو په منځ کښې رشته دازدواج نه قايميږي ،اوداځکه نص دی پدې کښې خکه چه کلام له همدې وجهې نه چلول شويدی اوهمدغه يوحکم ترې معلوميږي اودې نه علاوه بل حکم ترې نه معلوميږي. وظاهرٌ في ثبوت الملك له اوداظاهردی په ثبوت دملك ددې مشتري کښې خکه چه ملك رانشي نوعتق هم نشي راتلی. وحكمُ الظاهرِ والنصِ وجوبُ العَمَل بهما عامَّين كانا اوخاصَّين مَعَ احتمال إرادةِ الغير حکم دظاهراوحکم دنص وجوب دعمل دی پدې دواړو باندې برابره خبره ده چه دادواړه عام وې اوکه خاص وي سره داحتمال دغيرنه، يعنې احتمال به ددې خبرې وي چه په خاص کښې تعميم وکړی اوپه عام کښې تخصيص وکړی. وذلك بمنزلة المجازمَعَ الحقيقة اودا داسې احتمال وي لکه مجازدحقيقت سره، لکه يوسړی اووائي رايتُ اسداً نواسد خوحقيقت دی په حيوان مفترس کښې لکن اوس چه سړی والي چه ما اوليدو نوممکنه دِه چه مجازی معنی ئې مراد وي اورجل شجاع ئې ليدلی وي ، نولکه څنګه چه احتمال دمجاز دحقيقت سره ترلی وي همدارنګه دخاص سره دتعميم اودعام سره دتخصيص احتمال ترلی دی نوعمل کول ورباندې واجب شولکن احتمال دتاويل پکښې باقي دی وعلی هذاقلنا اوبناء پردې باندې

مونږوایو اذا اشتری قریبهٔ حتّٰی عُتِقَ علیه که یوسړي یوخپل(رشتدار) واخستو نردی چه په ده باندی ازاد شو ځکه حدیث کښی راځی من ملك دارحمٍ الخ یکون هومُعْتِقاً نودامشتري معتِق شونوچه دی مُعتِق شو ویکون الولاءُ له نوولاء هم دده لپاره ثابته شوه یعني که دا مُعتِقْ مړشو نومال به نی دمُعتِق وي وإنما یظهَرُ التفاوُتُ بینهما عندالمقابَلَة ظاهرېږي فرق په مابین دنص اودظاهرکښی په وخت دمقابله کښی، که ددواړو مقابله راغله نوبیابه ترجیح نص ته ورکولی شی اوظاهربه پرینبودلی شی لکه قرآن کښی راځی ﴿ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهٰتُكُمْ وَبَنٰتُكُمْ وَاَخَوٰتُكُمْ ۰۰۰الآیة اوپه اخرکښی راځی وَاُحِلَّ لَكُمْ مَّاوَرَآءَ ذٰلِكُمْ ۰۰ الآیة ﴾ سورة النسآء، الایتان: ۲۳ ۲٤ ۰ مطلب داچه پدی ایت کښی کومی ښځی ذکرشویدي هغونه بغیرنوری ټولی درته جائزی دي چه نکاح ورسره وکړی، هرچیرته چه واده کوی کولی شی(ملك خدا تنگ نیست پایٔ گدالنگ نیست)، نوددی احل لکم ماوراء ذلکم نه خومعلومیږي چه ددیښځلسومحرماتونه بغیر نوری چه څومره ښځی کوی درته روا دي که شل ولی نوي لکه بل ځای کښی قرآن مجید کښی راځی ﴿ فَانْكِحُوْا مَاطَابَ لَكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ مَثْنٰی وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ ﴾ سورة النسآء،الایة: ۳ ۰ دانص دی په عددکښی ، جائزی دي تاسو ته نکاح کول یوه ، دوه ، دری ، څلور دجاهلیت په زمانه کښی به خلکو نهه نهه لس لس ښځی کولی نوقرآن راغی چه څلورونه زیاتی نشی کولی نودا اول آیت ظاهردی په منکوحاتوکښی چه څومره ښځی کوی ځکه عدد هلته ندی ذکر اودا دویم آیت نص دی په عدد دزوجاتوکښی اورد دی په رسم دجاهلیت باندی نومونږ به ترجیح نص ته ورکوه یعنی دڅلورو ښځوڅخه به زیاتی نه کوه نودیته وائی مقابله دنص اودظاهر ولهذا لوقال طَلِّقِی نفسَكِ اودی وجهی نه چه ترجیح به نص ته ورکولی شی که یوسړي خپلی ښځی ته اوویلی ځان طلاق کړه فقالت اَبَنْت نفسِي: اودی ښځی اوویلی چه ما ځان له تانه جداکړو یقع الطلاق رجعیاً نوطلاق رجعی واقع کیږي ځکه چه طلّقِی: نفسَكِ نص دی په طلاقوکښی اوپه ط ، ل ، ق سره چه کوم طلاق واقع شی هغه طلاق رجعی وي اوښځی چه ورته جواب ورکړو چه ابنتُ نفسی داظاهردی په طلاق بائن کښی لان هذانصٌ فی الطلاق ځکه داقول دی ښځی چه اَبنْتُ نفسی دی دانص دي په طلاقوکښی ظاهرٌ فی البینونَة اوظاهردی په

Maktaba Tul Ishaat.com

وقوع دطلاق پاڼ کښې فیترجّحُ العملُ بالنصّ نوترجیح به ورکولی شی نص ته اوعمل به کولی شی په نص بالدی،څکه چه طلقی نفسكِ دا سوال دی اوابنتُ نفسی دا دهغی جواب دی نومذکور فی السوال کالمعادفی الجواب وي نود ابنت نفسی معنی دی ابنتُ نفسی بالطلاق وکذلك قولُه علیه السلام لاهل عُرَیْنَة همدارنگه داقول دنبی علیه السلام اهل عرینه ته دابل مثال دی لپاره دمقابلی دنص اودظاهر . اهل عُرینة اته(۸) کسان وه څلوردعرینی قبیلی وه اوڅلوردعُقل قبیلی وه لکن تغلیباً ورته عرینة وائی اومؤلفة القلوب یعنی داسلام راوړلوشوق نی وه نومدینی منوری ته راغلل لکن دمدینی منوری اب اوهوا پری موافقه رانغله(روتی به ئی نه هضمیده، اوبدن باندی نی خارش ولګیدو) نورسول الله ﷺ ورته اوویل چه ورشی په صحرا کښې دصدقی اوښان دي اشربوامن آبوالِها وآلبانها اوڅکئ تاسوداوښانودپیواودمتیازونه ، اصل کښې دامسئله اختلافی ده چه دمایؤکل لحمه متیازی طاهری دي اوکنه اوڅکل نی جائزدي اوکنه نودی‌حدیث نه معلومیږي چه څکل نی جائز دي نصٌ فی بیان سَبَبِ الشفاءِ نوداحدیث نص دی په بیان دسبب دشفاء کښې وظاهرٌ فی اجازة شرب البَوْل اوداحدیث ظاهردی په جوازدشرب دمتیازوکښې وقولُه علیه السلام لکن بل حدیث کښې راځی استنزِهُوا من البول فان عامّةَ عذاب القبرمنه دمتیازو نه خان وساتی څکه عام عذاب دقبردی وجهی نه وي نصٌ فی وجوب الاحتراز عن البوَل نودا حدیث نص دی مطلقاً پدی خبره کښې چه خان به ساتی دبولو نه څکه داپلیتی دي فیترجحُ النصُّ علی الظاهِر نوموږ به ترجیح ورکوو نص ته په ظاهرباندی ،اوپه حدیث داشربوا من ابوالها والبانها کښې به تأویل کوو. تأویل یاپه داسی طریقی سره کوه چه دلته کښې حذف والایصال دی یعنی عبارت کښې یوبل تکی مقدردی اصل کښې داسی دی اشربوا من البانها واستنشقواابوالها معنی داچه داوښانو پی څکی اومتیازی نی بوبوی ، دمتیازو بوی هم بیماري ختموي اوعلاج دی لکه کوم کورکښې چه خلك حیوانات(غوا سنډا ګډ وغیره) ساتی نوپه هغه کورکښې دلی‌بی بیماري نوي ، یاسمندرکښې علاج دکورت بوبه ول یالګ لګ خوړل دي یا دلمبو بوی اودپیازو بوی هم ددی علاج نود ت

دی ، اوبالتقدیردعبارت داسې دی چه اشربوا من البانها وعتلو بابوالها داوبنانو پی څکی او په متیازو ځان غوړوی ، اودا دقبیلې دعلفتها تبناً وماءً بارداً نه دی یعنی ما اوبنی ته دبوسواوداوبو ګیا ورکړی وه لواوبه څوګیانده تقدیردعبارت داسې دی علفتهاتبناً واشربت ها ماءً بارداً څکه دبوسو دپاسه څاروی تګی شی نواوبه څکی ، یادقبیلې دقول دشاعر نه دی لکه یوسړي بل سړی ملګری وه اوهغه درزی هم وه نودی ملګري ورته داخترجامې یوړي چه ماته داجامی وګنډه نوهغه درزی ورته اوویل چه څه درته پاخه کړم: وقالوا اُقترح شیأ نجذلك طبخهٔ هغه دکورخلکوورته اوویل څه یوشی راته اوښایه چه درته پاخه ئی کړو فقلتُ اطبخوا لی جُبهٔ وقمیصا یعنی ماته جبه اوقمیص پاخه کړی لکن جبه اوقمیص خونه پخیږي اصل کښی داسی دی فقلتُ اطبخوا لی ما تشاؤن وخیطوا لی جبة وقمیصا یعنی پاخه کړی ماته چه څه موخوخه وي چه څه تیاروي هغه زه خورم چه څه تیاروي هغه دَ یاروي الجُودُ بالموجودِ لکن داجبه اوقمیص راته وګنډی نوپدی حدیث کښی هم دارنګه حذف دی نودی وجهی نه دینه دا نه ثابتیږي چه بولی پاکی دي لکن مسئله بیاهم اختلافی ده شوافع،ظواهر، حنابله، بولی دمایؤکلُ لحمه پاکی ګنی اومونږ(احناف) ئی نجسی اوپلیتی ګنولکن امام ابویوسف صاحب والی چه دتداوي لپاره څکل دبولو داوښی جائزی دي اوامام محمدصاحب اوامام احمد صاحب هم دشوافعواوحنابلوسره دمطلق مایؤکل لحمه بولی پاکی ګنی· اوبل داچه څکه به دظاهرنه نص ته ترجیح ورکوه چه دامذکوره حدیث(اشربوامن ابوالها والبانها ) خورسول الله ﷺ صرف دعرنینوته ویلی وه داخوبه هغوی پوری خاص دی څکه هغوی خومسلمانان نوه لکه بل حدیث کښی راځی " الخمرلهم کالخلّ لنا والخنزیر لهم کالشاةلنا " دکافرانولپاره شراب داسی دي لکه سرکه چه مونږله ده اوخنزیرهغوی ته داسی دی لکه شهدچه مونږته دي دپلیتوپه پلیتوڅه ﴿ اَلْخَبِيْثٰتُ لِلْخَبِيْثِيْنَ وَالْخَبِيْثُوْنَ لِلْخَبِيْثٰتِ ﴾سورة النور، الاية: ٢٦ · نوداحکم دڅکلودهغوی لپاره دی اوزمونږ لپاره خوحکم دی استنزهوا من البول فانّ عامّة عذاب القبرمنه فلایحِلُ شربُ البول اصلا لوجائزندي څکل دمتیازو بلکل· دامذهب دامام ابوحنیفة صاحب دی هغه وائی چه څکل دمتیازو نه دتداوي لپاره جائزدي اونه دغیرتداوي لپاره څکه حدیث کښی راځی" انّ

Maktaba Tul Ishaat.com

وقوله علیه السلام همدارنګه داقول دپیغمبرعلیه

الله لم یجعلْ شِفاءَ کُمْ فی ماحَرَّمَ علیکم » په اوبو زرغونه کیږي نوپه هغه کښی

السلام ماسقتْهُ السماءُ ففیه العُشرُ هغه خمکه چه داسمان، په اوبو زرغونه کیږي نوپه هغه کښی

عُشردی کلمه دما عامه ده نصٌ فی بیان العُشردا حدیث نص دی په بیان دعُشرکښی ، مثلاً

دبوسړي خمکه دی لکن په باران سره اوبه کیږي او:نم پکښی اوشو نوداسړی به لسم من

عشرکښی ورکوي قوله علیه السلام اوداقول دپیغمرعلیه السلام چه لیس فی الخضروات صدقةٌ

نشته دی په سبزی جاتو کښی صدقه ، دی حدیث سره ئی تعارض راغی نواوس چه اول

حدیث نص دی مونږبه په هغه عمل کوه هرشی چه د:اسمان په اوبو باندی اوبه کیږي په

هغه کښی به عُشروي اوکه دباران نه علاوه په ماشین و:میره سره اوبه کیږي نوپدی کښی به

بیا شلم(۲۰) من وي، په کوم کښی چه تکلیف اومحنت، وي په هغه شلم من دی اوپه کوم

کښی چه محنت اوتکلیف نوي په هغه کښی لسم من دی دی وجهی نه دامام ابوحنیفة

صاحب دامسلك دی که دخمکی نه لس ملئ هم راووتی نوبوه ملئ به په عُشرکښی ورکوی

خکه کلمه دما فی ما سقته السماء کښی عامه ده، اوهمدارنګه الله پاك فرمانی ﴿ وَاٰتُوْحَقَّهُ

یَوْمَ حَصَادِهٖ ﴾ سورة الانعام، الایة: ۱٤۲ ٠یعنی کله چه فصل ریبی نوددی حق ورکوی پدی

کښی دقلیل اوکثیرذکرنشته نودوجهی نه به مونږ په دویم حدیث کښی تأویل کوه مؤوّلٌ فی

نفی العُشر داحدیث ثانی ظاهراومؤول دی په نفی دعُشرکښی لان الصَدَقَةَ تحتَمِلُ وجوهاً

خکه چه صدقی کښی معنی مراددي ممکنه ده چه دینه مراد زکاة وي ، په خضراوتوکښی

زکاة نشته زکاة دیته والی چه په یوځیزباندی یوکال تیرشي اوپه هغی کښی بیا څلویښتم

شی ورکړی نوپه سبزوخوکال نه تیرېږي لکن سبزو کښی خیرات ورکوی شی فیترجّحُ الاولُ

علی الثانی نوترجیح به ورکولی شی اول ته چه نص دی په ثانی باندی چه مؤوّل دی ،

خمکی نه چه هرڅه راوځی نوعشربه پکښی ورکوی ، همدارنګه حدیث کښی هم راځی"

فیماسقتِ السماءُ ففیه العُشرُ" وأماالمفسّر فهوماظَهَرالمرادُ به من اللفظ ببیانٍ من قِبَلِ المتکلم

مفسرهغه دی چه ظاهرېږي مرادپدی مفسرسره دلفظ نه په بیان دمتکلم سره بحیث لایبقی

معه احتمالُ التأویل والتخصیص پداسی طریقی سره چه په هغه کښی بیا احتمال دتاویل

اودتخصیص نوي ، لکن احتمال دنسخی پکښی شته درسول اللهﷺ په مبارکه زمانه کښی

خکه رسول الله ﷺ زمانه دخیراوبرکت ده اونزول دوحی پکښې کیږي احتمال لري چه یوحکم پکښې منسوخ شي ، لکن پدی زمانه کښې احتمال دنسخې پکښې نشته خکه وحی ختمه ده نواحتمال دنسخې هم ختم شو ، بعضې احکام داسې دي چه درسول الله ﷺ په زمانه کښې منسوخ شویدي یابدل شویدي لکه رسول الله ﷺ فرمائي « کنتُ نهیتُکم عن زيارة القبورِ الآ فزوروها» يعني مخکښې ماتاسو دقبرونودزيارتونونه منعه کړي وائي لکن اوس حکم بدل شو فزوروها دقبرونوزيارتونه ته تلی شي مثاله في قوله تعالى مثال دمفسرېدی قول دالله تعالى کښې دادی فَسَجَدَالمَلٰئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ نوټولوملائکوسجده وکړه ادم علیه السلام ته،اصل کښې مسجودله الله جل جلاله دی لکن طرف دادم علیه السلام ته سجده وه خکه پدی کښې تعظیم دادم علیه السلام وه لکه مونږ چه سجده کوو نوالله جل جلاله ته نی کوو لکن مخ مودکعبې شریفې په طرف وي فاسمُ الملٰئكة ظاهرٌ في العموم پس اسم دملائکوظاهردی په عموم کښې چه ټولوملایکوسجده وکړه الاّ ان احتمال التخصيص قايمٌ لکن احتمال دتخصیص قائم وي چه کیدای شي هغه ملایکوسجده نوي کړی کومې چه ادم علیه السلام سره ولاړی وی فانسدّ بابُ التخصیص بقوله كُلُّهُمْ پس بندشوباب دتخصیص پدی قول سره چه کلهم دی یعنی یوخوفرشتےنوی بلکه ټولی وی ثُمَّ بقي احتمالُ التَّفرِقَةِ في السجود بيا باقي شو احتمال دتفرقې په سجده کښې چه بعضې ملائکوبه ماسپخین کښې سجده کړی وي بعضې په سهارکښې اوبعضې په مازیګرکښې ؞ سدَّ بابُ التاويل بقوله اَجْمَعُوْنَ پس بندشو باب دتأویل په قول داجمعون سره، هغه تمام احتمالات دتفریقې دوخت ختم شو وفي الشرعيات اومثال دمفسرپه احـ ـ ـلشرعية کښې اداقال تزوّجتُ فُلانةَ شهراً بكذا یوسړي اوویلی مادېلانکې ښځې سره واده وکړو یوه میاشت په دومره مهرسره فقوله تزوّجت ظاهرٌ في النكاح نوقول ددی سړي(تزوّجتُ) ظاهردی په نکاح کښې الاانّ احتمال المُتْعة قايمٌ مګراحتمال دمتعې پکښې باقي دی چه کیدای شي متعه نی کړی وي واده تری نوي مراد، یوه نکاح ده اوبوه متعه ده نکاح دیته والی چه یوسړی دیوی ښځې سره دهمیشه لپاره نکاح وکړي ، متعه دیته وائي چه یوسړی دیوی ښځې سره دیووخت مقدر(میاشت هفته دوه ورځې) لپاره واده وکړي یالکه شیعګان

Maktaba Tul Ishaat.com

نې متعه كوي ، إبتداء داسلام كښې متعه جائزه وه لکن دخيبرپه جنګ نې رسول الله ﷺ متعه کړه بيا داوطاس په جنګ کښې دلګ ساعت لپاره جائزه شوه اوبيا دهغې نه وروسته ترقيامت پورې حرامه شوه. فبقوله شهراً فتزالمرادُبه پس په قول دشهراً سره ده خپل مرادځرګندکړو چه متعه ترې مراد ده فقلنا هذا مُتعةٌ وليس بنكاح نومونږ وايو چه دامتعه ده اونكاح حقيقي نده ځکه زمونږ په نزدداتوله جمله لغوه شوه اودامام زفررحمه الله تعالى په نزد داشهرا قيدلغوه شو نونكاح حقيقي شوه دابنځه به دې سړي سره دهميشه لپاره وي ځکه دهغه په نزدنکاح په شروط فاسده سره نه ماتيږي اومونږ وايو چه داټوله جمله(تزوجت فلانة شهراً بكذا) لغوه شوه اونكاح باطله شوه. بل مثال دمفسرلپاره بيانوي ولوقال لفلان عليّ الفٌ من ثمن هذا العبداومن ثمن هذا المتاعِ كه يوسړي اوويلې چه دفلانکي په ماباندې زر روپۍ دي ددې غلام دقيمت نه يادې سامان دقيمت نه نصٌ في لزوم الالف نودانص دی په لزوم دزرو(١٠٠٠) روپوکښې ځکه چه کلمه دَعلى وضعه شوي لپاره دالزام ده إلاانّ احتمالَ التفسيرباقٍ مګراحتمال دتفسيرباقي دی چه دځه شي په مقابل کښې وباندې دي ، کيداې شي قرض ورنه اخستې وي فبقوله من ثمن هذا العبداومن ثمن هذا المتاع نوپه قول دی ثمن هذا العبد اومن ثمن هذا المتاع سره هغه نورټول احتمالات مرتفع شو. بيّن المرادبه بيان نې کړو مراد خپل داحدالمحتملاتونه فيترجحُ المفسَّرعلى النص نوترجيح به ورکولې شي مفسرته په نص باندې ،نوعمل به نشي کولې په نص باندې چه فلانې روپۍ ورباندې لازيمې شي، اوفائده دَترجيح دمفسرپه نص باندې دادې حتى لايلزمه المالُ الاعندقبض العبداوالمتاع تردې چه نه لازميږي مال ددې مقَرله پَدې مقرباندې ترڅولې چه هغه غلام اوسامان ترې نوي قبض کړې ځکه دمبيعې دتسليم نه پس مال ورکول کيږي همدارنګه دابل مثال دی وقوله لفلان عليّ الفٌ دپلانکي په ماززدي ، دکوم ملك زر روپۍ مراد دي ؟ ځکه دهرملك روپۍ بدلې وي ظاهِرٌ في الاقرار داظاهردی په اقرار ددې قائل کښې نصٌ في نقدالبَلَدِ اونص دی په نقود دهغه بلدکښې په ،کوم کښې چه دوی اوسيږي فاذاقال من نقدبلدكذا ن اوكه وويل چه دپلانکي بلد روپۍ دي، يعنې دبلدتعين ئې وکړو يترجحُ المفسَّرُ على النصِّ ترجيح به ورکولی شي مفسرته په نص باندې

پدی صورت کښې فلا یلزمهٔ نقدُ البلَدِ نونه به لازميږي پدی قائل باندی نقدالبلد يعني دهغه بلد نقودپه کوم کښې چه اوسيږي بل نقدُ بلدکذا بلکه لازميږي به پدی قائل باندی نقدد دبلد معين کوم چه متکلم ذکرکړيدی. وعلى هذا نظائره اونوری مسئلې دمفسرقياس کړه پدی امثالومذکوره باندی واما المحکَم اوهرچه محکم دی فهوما ازدادقوةً على المفسّر محکم هغه دی چه زيات شوی وي په قوت کښې په مفسّر باندی، تردی چه رسول الله ﷺ په مبارکه زمانه کښې هم دنسخې احتمال نلري په مفسرکښې ددی احتمال شته چه رسول الله ﷺ يوحکم بيان کړی کيدانیشی چه وحی راشي اوهغه حکم منسوخ شي لکن محکم کښې دا احتمال نشته بحيث لايجوزخلافهُ اصلا پداسی طريقي سره چه دمحکم خلاف اصلاً ناجائزدی . اودا دعامواصوليينومذهب دی لکه په قرآن مجيدکښې چه کوم آياتونه راغلی اودالله جل جلاله په صفاتوباندی دلالت کوي نوهغه تمام اياتونه محکم دي خکه دالله جل جلاله په صفاتوکښې تغيُراوتبدُل نه راځي ، همدارنگه په قرآن مجيدکښې چه کوم آياتونه راغلی دي اوپه هغوی کښې دالله جل جلاله دوحدانيت ذکروي ياپکښې دملائکوباندی دايمان ذکروي اوياپکښې په پيغمبرانوباندی دايمان ياپه اخرت باندی دايمان ذکروي نوداهم ټول محکم دي اوپدی کښې چيری هم زره تغيراوتبدل نه راځي لکه قران پاك کښې راځي ﴿ وَلَآ اَنْ تَنْكِحُوْٓا اَزْوَاجَهُ مِنْۢ بَعْدِهٖٓ اَبَدًا ﴾ سورة الاحزاب، الاية: ۵۳ . يعنی دپيغمبرﷺ دمرگ نه پس دهغه بيبيانی درته جائزی ندي چه په نکاح ئې واخلې . نودپيغمبرعليه السلام دبيبيانوسره نکاح کول ترقيامته حرامه ده خکه دايت محکم دی مثاله في الكتاب اومثال ددی محکم په کتاب الله کښې، اوس مصنف خپله دمحکم مثالونه ذکرکوي اووائی چه اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ الله تعالى په هرشی باندی محيط دی له جهت دی علم نه يا وانَّ اللّٰهَ لايَظلِمُ النَّاسَ شيأً يعنی الله تعالى چاه باندی هم زره ظلم نکوي وفي الحكميات ماقلنا اوپه حکمياتودمحکم مثال هغه دی چه مونږ وايو في الاقراراله لفلانٍ علَيَّ الفٌ من ثمن هذاالعبد دپلانکی په مابالدی زر(۱۰۰۰) روپی دي ددی غلام دقيمت نه فإنَّ هذا اللفظ محكمٌ في لزومه بدلاً عنه نودالفظ مذکوره(عليَّ الف مِن ثمن الخ) محکم دی په لزوم ددی زروکښې په عوض ددی غلام کښې خکه دالفظ محکم دی

Maktaba Tul Ishaat.com

اودئ ددی؛انکارهم نشی کولی وعلی هذا نظائرهٔ اونورمثالونه هم پدی مذکوره مثالونو باندی قیاس کړه۰ نوکه چیرته دظاهراودنص مقابله راغله نوترجیح به نص ته ورکولی شی اوکه دنص اودمفسرمقابله راغله نوترجیح به مفسرته ورکولی شی اوکه دمفسراومحکم مقابله راغله نوترجیح به محکم ته ورکولی شی، بعضی علماؤ دمفسراومحکم دتعارض لپاره مثال ندی راوړی اوبعضو علماؤ ذکرکړیدی اوهغه داچه الله تعالی فرمائی ﴿ وَاَشْهِدُوْا ذَوَیْ عَدْلٍ مِّنْکُمْ ﴾ سورة الطلا، الایة:۰۲ یعنی تاسوپه یوه دعوا باندی دوه گوهان پیش کړی دامفسر دی ذدی نه معلومیږي چه دعادِل گواهی به قبلوی اودغیرعادِل گواهی به نه قبلیږي لکن بل ځای کښی الله تعالی فرمائی ﴿ وَالَّذِیْنَ یَرْمُوْنَ الْمُحْصَنٰتِ ثُمَّ لَمْ یَاْتُوْا بِاَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ فَاجْلِدُوْهُمْ ثَمٰنِیْنَ جَلْدَةً وَّلَا تَقْبَلُوْا لَهُمْ شَهَادَةً اَبَدًا ﴾ سورة النور، الایة: ٤ ۰ چه کوم سړی محدود فی القذف وي یعنی یوسړی په بل سړي باندی گواهی ورکړي چه ده غلاکړیده اوبانی زناکړیده اوبیا څلورشهدا حاضرنکړي نواتیا(۸۰) دوری ئی ووهی اوچه یوسړي باندی چه حدقذف جاري شی نوبیا به دهغه گواهی نه قبلیږي ، نوبعضی علماء وائی کچیرته ئی توبه اوویسته نوبیاگواهی ورکوی شی ځکه « التائب من ذنب کمن لاذنب له » امام ابوحنیفه صاحب وائی چه محدودفی القذف که توبه هم اوباسی نوگواهی به ئی نشی قبلولی ځکه دالله جل جلاله حکم دی چه «ولاتقبلوالهم شهادة ابدا » دابدا لفظ محکم دی اگرچه د« واشهدوا ذوی عدل منکم » نه خومعلومیږي چه دهرخاونددعدل گواهی به قبلوی لکن دی ایت سره دهغه تعارض راغی اودایت چه محکم دی اودابدا لفظ هم پکښی راغلی نودیته به ترجیح ورکولی شی اودمحدودفی القذف گواهی به نشی قبلولی، دلته په احنافو باندی اعتراض دی کچیرته یونوی کافراومشرك مسلمان شی نودهغه گواهی قبلولی شی نوبکارده چه محدودفی القذف توبه اوباسی دهغه گواهی هم قبوله شی ځکه لکه مشرك چه دلوبی نه پس گواهی قبلولی شی نودده به هم توبی نه پس گواهی قبلولی شی ؟ نوامام صاحب جواب کوي چه دی سره خودابدأ تکی راغلی چه چیری هم دهغه گواهی مه قبلوی نونشی به قبلولی ، نوداشو دمفسراودمحکم مثال۰ وحکم المفسّرِوالمحکَم اوحکم دمفسراودمحکم دادی لزومُ العمل بهما لامحالة چه پدی دواړو(مفسراومحکم)

باندی به عمل کوی خامخا بدون ترڈدِ بغیردشك اودترڈدنه، حکم دمفسراوحکم دمحکم نی دواړه جمعه کړه خکه چه په لزوم دعمل اوپه لزوم داعتقادکښی دواړه سره برابردي ثم لهذه الاربعة اربعة اخری تُقابلُها پس بیاددی څلوروپه مقابله کښی څلورنورهم دي فضدُالظاهرالخفیُ نوضددظاهرخفی دی اودانی بیادوباره ذکرکړل خکه چه هغه مخکښی ذکربعیدشو اوکوم شی چه بعیدشی نوعرب هغه دوباره ذکرکوي چه طالب ته په ذهن کښی به کښینی، اذاتکررتقرر. وضدُالنص المشکل وضدُالمفسّرالمُجمل وضدُالمحکم المتشابهُ نوضددنص مشکل دی اوضددمفسرمجمل دی اوضددمحکم متشابه دی ، اوس دهریو دروستنوخلورونه تعریف ذکرکوي فالخفیُ ماخفی المُرادُبه بعارضٍ پس خفی هغه دی چه دهغی معنی خفي وي دخه عارِض له وجهی نه لامن حیث الصیغة نه له حیثته دصیغی نه ، لامن حیث الصیغة سره کنایة خارجه شوه خکه کنایة کښی خفاء دصیغی له وجهی وي اوخفي کښی خفاء دصیغی له وجهی نوي بلکه دیوعارِض خارجی له وجهی به وي. مثاله فی قوله تعالی مثال دخفی پدی قول دالله تعالی کښی دی والسّارِقُ والسّارِقَةُ فَاقْطَعُوْا اَیْدِیَهُمَا په غل سړي اوپه غلی ښځی که غلاثابته شوه نولاسونه ني پریکړی ددی دواړو دغلاپه جرم کښی به ښی لاس دمروند نه پرے کیږي فانّهُ ظاهِرٌ فی حق السارق داقول دباري تعالی ظاهردی په حق دسارِق کښی خفیٌ فی حق الطراروالنبّاش لکن خفی دی په حق دطرار اودنباش کښی ، خکه اگرکه دادواړه په صفت دسرقی کښی دي لکن په سرقه کښی اخذدمال خفیتاً وي اوپه طراراونباش کښی داخبره کمه موجوده ده ، طرار: جیب تراش ته وانی چه یوسړی ذبل سړي نه په وینه باندی جیب اووهی. نباش: کفن چورته وانی څوك چه دمړي نه کفن اوباسی ، نوپدی مسئله کښی اختلاف دی چه آیا دطراراودنباش لاس به پری کیږي اوکنه؟ نوبعضی علماء وانی چه لاس به نی پری کیږي خکه دوی په حکم دسارِق کښی دي اوبعضی علماء وانی چه لاس به نی نه پری کیږي خکه دوی باندی دسارِق اطلاق نه کیږي اوحدیث کښی راخی " ادرءوا الحدودمااستطعتم " یا" الحدود تندرئ بالشبهات " . وکذلك قوله تعالی همدارنگه په مثل ددی ایت چه والسارق والسارقة الخ داقول دالله تعالی دی الزّانِیَةُ والزّانیْ ظاهرٌ فی حق الزانی

Maktaba Tul Ishaat.com

خفيٌ في حق اللوطيِّ اوخفی دی په لوطي کښی ، لوطی ظاهردي په حق دزانی کښی ، آیا لواطت ته زنا ویل کیږي اوکنه؟ هغه چاته والی چه څوك دسرو سره بدفعلي کوي ، آیا لواطت ته زنا ویل کیږي اوکنه نودی وجهی نه په یوه معنی کښی ظاهراوپه بله معنی کښی خفی دی نودی وجهی نه دلواطت په حق کښی هم اختلاف دی بعضی علماء وانی چه دلوطی هم دغسی سزاده لکه دزانی نوکه لوطي ناواده کړی وي نوسل(۱۰۰) دوری به ئی وهی اوکه واده کړی وه نورجم کوی به ئی. اودامام صاحب نه پدی کښی متعدد اقوال نقل دي، یوداچه دکمرنه به ئی راوغورځوی څکه قوم لوط باندی الله تعالی څمکه اړولی وه. اوبل داچه حاکم دوخت چه څه سزا ورته مقرره کړه هغه صحیح ده ولوحلَفَ لایأکُلُ فاکهةً که یوسړي قسم اوکړو چه میوه به نه خورم کان ظاهراً فیما یَتَفَکَّهُ به نودا لفظ ظاهردی په تَفَکُّهْ کښی پدی میوی سره، میوه دروتی دهضم کولو لپاره خورلی شی ، تَفَکُّهْ معنی هضم کول خفیاً فی حق العنَب والرُّمان اوخفی دی په حق دانگورو اوپه حق دانارو کښی ، دی کښی هم اختلاف دی چه عنب اورمان فاکهة دی اوکنه ؟ نوبعضی وانی دا فاکهة نده څکه دی کښی غذایت موجود دی څکه فاکهة خوچه څومره خوری نوخوړی شی لکن انگورزیات بلکل نه خوړل کیږي څکه زیات په معده باندی بوج وي اودسړي سترگی هم سری شي نوپدی کښی فاکهیت نشته اوغذایت دی ، انارهم پشان دانگورو دي نوهغه څوك چه انگور اوانارو ته فاکهة وانی نوکه هغوی قسم اوکړي چه میوه به نه خوري نوکه انگوراوانارنی اوخوړلو نوحانث کیږي لکن امام ابوحنیفة صاحب وانی چه ندی حانث څکه چه دی کښی دتفکه یعنی د هضمیدومعنی نده پرته بلکه دی کښی ډیرلوی ثقل دی اوپدی کښی غذایت موجود دی هغه طعام چه هغه کښی ثقل نوی لکه مالته ، منه(سیب) ، امرود وغیره دی کښی تفکه شته نوپدی سره سړیٔ نه حانث کیږي ، فیصله دادی چه کوم کلی کښی عنب(انگور) اورمان(انار) ته فواکه وانی نودقسم نه وروسته ددی په اکل سره حانث کیږي اوپه کوم کلی کښی چه ورته فواکه نه وانی نوهلته به ددی په اکل سره نه حانث کیږي څکه عُرف کښی ورته فاکهة نه والی. وحکم الخفی وجوبُ الطلب اوحکم دخفی وجوب دطلب دی، چه آیا دی کښی معنی دظاهرپرته ده اوکنه؟ حتی یزولُ عنه الخفاءُ تردی چه

دهغې نه خفاء لږ شي ، نوچه طرار ته وګوري واقعي دې کښې دسرقي معنی نده. پرته سرقه خواخذدمال دغیردی چه هغه مال محفوظ وي پدې طریقې سره چه صاحب دمال یا موجودنوي اویا اوده وي ، اودجیب نه پیسې ویستل داسرقه ندی ځکه ددې مالك خوموجود اووین وي لکن پداسې طریقې سره ئې دهغه دجیب نه پیسې راوویستی چه هغه پرې بلکل پوه نشو نودیته سرقه نشي ویل کیدای ځکه په سرقه کښې لازمې وي چه هغه مال مسروقه به محفوظ وي یعنې په بکس کښې وه یاپه کورکښې دننه وه اوغل راغی اوپټ ئې کړو نودې وجهي‌نه کفن پټول هم غلاندی اګرچه اخذدمال دغیردی لکن محفوظ ندی ځکه مال محفوظ هغه دی چه چوکیدار ولري اودا هم چوکیدارنلری لهذا سرقه ندی. وامّا المشكِلُ هرچه مشکل دی فهومازْدَادخفاءعلیالخفيّ چه دهغه خفاء دخفی نه هم زیاته وي کانّه بعدماخفِيَ علی السامعِ حقیقتهُ ګویادامشکل چه حقیقت ددی خفي شوېه سامع باندي‌نو دَخَلَ فی اَشکَالِهِ وامثالِهِ دا مشکل داخل شوېه خپلوهم شکلواوهم مثلوکښې حتی لایُنالُ المرادُ إلابالطلب ثمّ بالتامُّلِ حتّٰی یتمیَّزَعن اَمثَالِهِ تردی چه نه فهم کیږي مراددی مشکل مګرپه طلب اوپه تأمل اوفکرسره ترخوتمیزوشي ددی مشکل دنوروهم مثلونه ونظیرهُ فی الاحکام اومثال دمشکل په احکاموکښې حَلَفَ لایأتدِمُ لکه یوسړي قسم اوکړو چه زه به پخکړي( لندبل) نخورم نودپخکړي(لندبل) په معنی کښې اختلاف دی فانه ظاهرٌ فی الخلِّ اوداظاهردی په سرکه کښې، سرکې ته هم پخکړي اولندبل وائي پیغمبرعلیه السلام فرمائي « نِعْمَ الإدامُ الخَلُ » ښه پخکړي(تارکاري) سرکه دی، نن سبا سرکه په بوتلوکښې خرڅیږي والدِّبسُ همدارنګه داظاهردی په دبس کښې، دِبس دکجوروعصیرته وائي یادکجوروشیرې ته دِبس وائي فانماهومشکلٌ فی اللحم والبیضِ والجُبنِ اودامشکل دی په غوښه، اګۍ، اوپنیرکښې حتی یطلب فی معنی الایتدام تردی چه مونږ به طلب کوو په معنی دایتدام کښې چه آیا ایتدام څه ته وائي؟ ثم یتامّلُ ان ذلك المعنی هل یوجَدُ فی اللحم والبیض والجُبنِ ام لا اوبیا به مونږفکرکوو چه آیا دامعنی دایتدام په غوښه ،اګۍ، اوپنیرکښې موجوده ده اوکنه؟ ایتدام دیته وائي چه هغه ددوډۍ سره یوځای کیږي اوخوړلی شي لکه شوربا ، پیتی ، ساګ لکن غوښه خوتابع ددوډۍ نده

Maktaba Tul Ishaat.com

ډیرخلك غوښه دغسی بغیردروټی نه خوري همدارنګه اګئ اوپنیرهم خلك بغیردډوډی نه خوري ثم فوقَ المشکل المجملُ بیادمشکل نه بره مجمل دی وهومااحتَمَلَ وُجوهاً اومجمل هغه دی چه احتمال دډیرو معانیولري فصاربحالٍ لایوقَفُ علی‌المرادبه الاببیان من قبل المتکلم نواوګرځیدودامجمل داسی حال ته چه دهغه مرادنه واضح کیږي مګربه بیان دمتکلم سرهٔ ونظیره فی الشرعیات قوله تعالی اودمجمل مثال په شرعیاتوکښی داقول دالله تعالی دی وَحَرَّم الربوا رباحرامه ده۰ فان المفهومُ من الربوا هوالزیادة المطلقة ځکه راد دربا نه مطلق زیادت دی، رَبَا یَرْبُو معنی سواکیدل قران پاك کښی راځی﴿ وَجَعَلْنَا ابْنَ مَرْیَمَ وَاُمَّهٗ اٰیَةً وَّاٰوَیْنٰهُمَاۤ اِلٰی رَبْوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ وَّمَعِیْنٍ *﴾ سورة المؤمنون، الایة: ۵۰ ۰ نودربا خپله معنی ده مطلق زیادت اوحالانکه دامعنی مراد هم ندی ځکه که یوسړي یوکتاب په لس روپی اخښتی اوبیا ئی په دولس روپی خرڅوي نوجائز دی نودی کښی خوزیادت راغلی دی نومعلومه شوه چه مطلق زیادت مراد ندی بل المرادُ الزیادةُ الخالیةُ عن العوضِ بلکه مراد دزیادت نه هغه دی چه هغه دعوض نه خالی وي فی بیع المقدرات المتجانسة په بیعه دمقدراتو کښی چه هغه همجنس وي ، لکه یوسړي بل سړي ته سل روپی ورکړی اومیاشت پس تری یوسل اولس روپی اخلی نودا لس روپی دچاپه بدل کښی دي نودیته خالی عن العوض وائی۰ واللفظ لادلالة له علی هذا اولفظ دربا خو پدی معنی دلالة نکوي چه المرادالمذکورمن الزیادة الخالیة عن العوارض فلایُنالُ المرادبالتأمل نونه معلومیږي مراددمجمل په فکرسره، ترڅوپوری چه رسول الله ﷺ دهغه بیان نوي کړی ثم فوق المجمل فی‌الخفاء المتشابه بیا دمجمل نه بره په خفاء کښی متشابه دی مثال المتشابه الحروف المقطعات فی اوائل السُوَر اومثال دمتشابه حروف مقطعات دي په اواللودسورتونوکښی لکه الٓمٓ ، الٓرٰ ، کٓهٰیٰعٓصٓ ، یٰسٓ ، طٰهٰ ، وغیرذلك جمهورصحابه ، جمهورعلماء ، جمهورمفسرین ، جمهورمحققین ، اوجمهورمجتهدین وائی چه الله اعلم بمراده۰ اصل کښی متشابه په دوه قسمه دي اول قسم هغه دي چه دهغوی معنی قطعاً نوي معلومه لکه فواتح دسورو لکه الٓمٓ ، الٓرٰ اوداسی نور دیته فواتح دسورو اوحروف مقطعات هم وائی نوموږ پدی باندی ایمان لرو اومعنی ئی راته نده معلومه لکه صحابؤ به چه وبل الله

اعلم بمراده ۰ اودویم قسم هغه دي چه دلغة له وجهي نه خوئي معنى معلومه وي لكن مصداق نی نوي معلوم لکه ﴿ یدُاللهِ فَوْقَ اَیدِیهِمْ ﴾ یا ﴿ اَلرَّحْمٰنُ عَلَی الْعَرْشِ اسْتَوٰی ﴾ داستوٰی معنی خوبرابریدل دی دلته کښی داستوٰی څه معنی ده ؟ نوپدی کښی علماؤ دوه قوله کړیدي سلفوبه پدی کښی اِمرارکولو هغوی به ویل « استوی استواءً یلیقُ بجلالهِ » امام مالك رحمه الله نه چاتپوس وکړو چه مامعنی الاستواء ؟ هغه ورته په جواب کښی وویل « الاستواء معلومٌ والکیف مجهولٌ والایمان به واجبٌ والسوالُ عنه بدعةٌ » نودخدای جل جلاله په صفاتوکښی به ګوتی نه وهی څکه دالله جل جلاله ډیرلوی اوعظیم الشان صفتونه دي لکه سعدي صاحب وائی ؎

ای برتر از خیال وقیاس گمان ووهم - وزهرچه گفته اند وشنیدیم وخوانده ایم
دفتر تمام گشت وبپایان رسید عمر - ماهم چنان دراوّل وصف تومانده ایم۰

معتزله پکښی تأویل کوي اووائی چه دید لفظ چه چیرته راشی نومرادترینه قدرت وي ، اومحققین وائی چه « نثبت لله ما اثبت الله لنفسه لکن لانعرف کیفیته » بل داچه الله پاك فرمائی ﴿ هُوَالَّذِیْ اَنْزَلَ عَلَیْكَ الْكِتٰبَ مِنْهُ اٰیٰتٌ مُّحْكَمٰتٌ هُنَّ اُمُّ الْكِتٰبِ وَاُخَرُمُتَشٰبِهٰتٌ .. ۰الآیة وَمَایَعْلَمُ تَاْوِیْلَهٗٓ اِلاَّ اللهُ وَالرّٰسِخُوْنَ فِی الْعِلْمِ یَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا بِهٖ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِرَبِّنَا۰۰ ۰الآیة ﴾ سورة ال عمران، الایة: ٧ ۰ یعنی بعضی ایات ددی قران نه متشبهات دي چه دهغوی په معنی هیڅوك نه پوهیږي مګریوالله جل جلاله ومایعلم تأویله الا الله باندی محققین وقف کوي چه دمشبهاتو په معنی څوك نه پوهیږي بغیردالله جل جلاله نه، اودا بله جمله مستانفه ده یعنی راسخین فی العلم فقط ایمان پری راوړي اومعنی باندی ئی نه پوهیږي۰ اوبعضی وائی چه دا واوعاطفه دی والراسخون فی العلم ۰الآیة داجمله عاطفه شوه نومعنی داشوه چه ددی مشتبهاتو په معنی باندی الله جل جلاله پوهیږي اوراسخون فی العلم هم پری پوهیږي لکن محققین وائی چه دا واو عاطفة نه دی بلکه مستأنفة اوابتدایة دی هغوی یؤمنون بالغیب والا دي اوګوتی پکښی نه وهی دی کښی ګوتی وهل ندي پکارڅکه دانسان عقل دومره ندی چه دالله جل جلاله په صفاتوکښی کاروکړي۰ وحکمُ المجمل والمتشابه اوحکم دمجمل اودمتشابه اعتقادُ حقیقةِ المراد به ایمان راوړل په حقیت

Maktaba Tul Ishaat.com

دمرادباندی. لکه جمهور علماء وائی موږه دا حق منو لکن مونږ ته ئی معنی ندی معلومه حتی یاتی البیانُ تردی چه بیان ددی راشی یاپه دنیاکښی لکه مجمل اویاپه اخرت کښی لکه متشابه. **فصلٌ فیما یترك به حقائق الالفاظ** فصل دی په بیان دهغوامورو کښی چه په هغوی کښی معنی حقیقی دلفظ پریښودل شی، اوپه معنی مجازی باندی به عمل کیږي **ومایترك به حقیقة اللفظ خمسَةُ أنْواعٍ** اوهغه څیزونه چه په هغوی سره حقیقت دلفظ پریښودلی شی پنځه قسمه دي، داپنځه قسمه په شرعیاتو کښی دي لکن په محاوراتوکښی دوه قسمونه نورهم دي چه په هغوی سره هم معنی حقیقی متروك شی یوه اشاره حسیه ده په اشاره حسی سره هم کله ناکله معنی حقیقی متروك شی لکه یوطالب وائی (جاء هذا الاسد) نومعلومیږي چه اسد نه مراد زمری ندی بلکه رجل شجاع تری مراد دی. اودویم قسم هغه دسترګورمض دی دسترګوپه رمض باندی هم معنی حقیقی بدله شی مثلاً یووړوکی ماشوم ته وایو چه ته خوږیرتکړه ني اوډیربنه سړیٰ ني اوبل لوی ماشوم ته اشاره وکړو چه توکه ورسره کوم نودلته هم حقیقی معنی متروکه شوه اووړوکیٰ ماشوم ډیرخوشحاله شی. اوس دهغوپنځه اقساموتفصیل ذکرکوي **احدهما دلالَةُ العرف** یوقسم ددی پنځونه دلالة دعُرف دی برابره خبره ده چه عُرف عام وي اوکه عُرف خاص وي. کله ناکله یوسړی دعرف عام دوجهی نه حقیقی معنی پریږدي لکه یوسړی بل سړي ته اووائی چه ماته دبازارنه یوپوخ شوی سرراوړه نوګوری به چه هغه کلی کښی کوم سرونه پخیږي نوبعضی ښاریوکښی دګډانواودبزو ثابت سرونه خرڅیږي اوبعضی ښاریوکښی دغویانو سرونه ثابت پاخه کړی شوی وي اوخرڅیږي ، یالکه بعضی ښاریوکښی مرغی ډیری وي نوهلته دمرغیوسرونه خرڅیږي نوپدی کلی کښی هم چه څه عُرف وي هغه سر به راوړي لکه وائی چه دکلی ووخه اودنرخه مه اووخه نوخای خای ته به ګوری چه په کوم خای کښی هغه لفظ دخه لپاره استعمالیږي هم هغه شی به راوړي ورنه دراْس(سر) اطلاق خوپه هرسرباندی کیږي خوا هغه دماهي سروي یا دغوالی سروي اویادبزی اودګډوغیره سروي **وذلك لان ثبوت الاحکامِ بالالفاظ** اوداحقیقت به په دلالة العُرف سره ځکه پریښودلی شی چه ثبوت داحکاموپه الفاظوسره راځي **إنما کان لدلالة اللفظ علی المعنی المراد للمتکلم** ځکه هغه

لفظ دلالت کوي په معنی مراده دمتکلم باندی فإذاكان المعنى متعارفاً بين الناس که دهغه لفظ معنی خلکوته معلومه اومتعارفه وي كان ذلك المعنى المتعارَفُ دليلاً على انه هوالمُرادُ به ظاهراً نووي به دامعنی متعارفه دلیل پدی خبره باندی چه دامعنی متعارفه مراددہ پدی لفظ سره په ظاهرکښی فيترتّبُ عليه الحكمُ نوحکم به بيا پدی معنی مرادباندی مرتب کیږي ځکه متکلم هم ددی قوم نه دی نوپه کوم عُرف کښی چه یولفظ دکومی معنی لپاره مرادوي نومتکلم به هم تری همدغه معنی مرادکړی وي مثالُهُ لَوْحلَفَ لايشترى رأساً مثال دادی که یوسړی قسم اوکړو چه زه به سرنه اخلم فهوعلى ما تعارفه الناس پس دا رأس به محمول وي په هغه باندی کوم چه په خلکوکښی معروف اومعلوم وي، نوهمیشه لپاره چه خلك هلته کوم سراستعمالوي همغه سربه تری مراد وي فلايحنثُ برأس العُصفور والحمامة نونه به حانثیږي داسړی په اختنو دسردچرچنی اوپه اختشودسر دکونترې باندی ځکه هغه غیرمتعارف دي لپاره دشراء ، امام ابوحنيفة صاحب اول کښی ویلی وه چه پدی کښی رأس الابل والبقرة والغنم ندي داخل ځکه هغه به اهل کوفة کتل په کوفه کښی اول سرکښی داسرونه نه خرڅیدل لکن بیائی چه وکتل چه خلك دګډو اودبزو ثابت سرونه خرڅوي نوبیائی دخپل قول نه رجوع وکړه او وویل چه دینه مراد دګډی اودبزی غوا او وغیره سرونه دي ځکه عرف کښی مراد شول وكذلك لوحَلَفَ لاياكُلُ بيضاً همدارنګه که یوسړي قسم اوکړلو چه زه به اګئ نه خورم كان ذلك على المُتَعَارفِ نوهغه اګئ به تری مراد وي کومه چه په عُرف کښی مرادوي فلايحنثُ بتناوُل بيض العُصْفُورِوالحمامة نونه به حانثیږي داسړی په خوړلو داګئ دچرچنی یاپه اګئ دکبوتری سره ، ځکه مونږ ته معلومه ده چه دمتکلم مرادداګئ نه مطلق اګئ نده ځکه که مطلق اګئ مراد شي نوبيا خوداشامل دی دچینجی اودکربوري اودمار اودماهیانواګئ ته هم اوحالانکه هغه خوخلك نه خوري نودی وجهی نه مطلق اګئ ندی تری مراد بلکه په عُرف کښی چه کومه اګئ مشهوره ده چه هغه دچرګی اګئ ده نولهذا دچرګی اګئ تری مرادده وبهذا ظهراوپدی مذکوره دوه مسئلوکښی دا معلومیږي چه ان ترك الحقيقة لا يوجبُ المصيرَ إلى المجاز چه پریښودل دحقیقت دانه واجبوي صیرورت مجازته بل جاز ان تثبُتَ

Maktaba Tul Ishaat.com

به الحقیقة القاصره بلکه جائزده چه ثابت شي پدی سره حقیقت قاصره نومراد ترینه حقیقة قاصره شو نودبیض حقیقت دی په تولو اُگیو کښي لکن دچرگی په اُگیٔ کښي حقیقت قاصره دیٔ ځکه یوفرد دی تری واخستل شو هره اُگیٔ تری وانه اخستل شوه· ومثاله تقیدالعلم بالبعض اومثال ددی حقیقة قاصره مقیدکول دعام په بعضوسره ، ذکردعام وي اومراد ترینه بعضی افرادواخلی لکه ذکرداُگیٔ مرادترینه دچرگی اُگیٔ ده وکذلك لونذرحجاً همدارنگه که یوسړی په ځان باندی حج لازم کړو اومشیاً إلی بیت الله تعالٰی یائی اوویلی چه زه به خانه کعبی ته پیاده ځم وأنْ یضرِبَ بثوبه حطیم الکعبة اویائی اوویلی چه زه به خپله جامه په حطیم دخانه کعبی باندی لگوم ، دخانه کعبی شمال طرف ته دیوال چه دسینی برابردی دیته حطیم وائی اودخانه کعبی پرناله (میزاب الرحمة) همدی طرف ته ده· یلزَمُ الحجُّ بأفعالٍ معلومةٍ لوجودالعرف لازمیږي به په ده باندی حج په افعال معلومة سره (احرام،طواف، سعی، منی، مزدلفه، وقوف په عرفات کښي ) لوجهی دعرف نه ځکه عرف کښي حج پخپله حقیقی معنی کښي ندی مستعمل چه هغه حقیقی معنی دحج قصد دی بلکه دحج نه مراد اداء دمناسکومعهوده وو ده په ایامومعلومه کښي ځکه حج هروخت کښي نه کیږي بلکه خپل خاص ایام ئی دي ، نودا اوّل قسم شو والثانی قدتُترکُ الحقیقةُ بدلالةٍ فی نفس الکلام اودویم ځای کله ناکله به معنی حقیقی پریښودلی شي له وجهی دقرینی اوله وجهی دی دلالة نه چه هغه دلالة به په نفس کلام کښي موجودوي نفس کلام نه مراد داده چه هغه لفظ کښي انباء اواخباروي اودهغه نه مونږ ته پته لگی یعنی هغه لفظ به مُنبأ وي چه دلته کښي دا معنی مرادده اودامعنی مرادنده مثالُه اذا قال کل مملوكٍ لی فهوحرٌ مثال ددی دویم قسم لپاره که یوسړی اوویلی چه زما به هرمملوك ازادوي ، نواوس کلمه دمملوك خوټولو غلامانوته شامله ده برابره خبره ده چه هغه قِن وي قِن هغه غلام ته والی چه هغه سل په سلو کښي غلام وي یا مکاتب وي مکاتب هغه غلام ته وائی چه مولی ورسره کتابت کړی وي چه ته ماته لس(۱۰۰۰۰) زره روپی پیدا کړه نوته ازادئی نوهغه مکالب په بازارکښي ځان ته لگیا وي اوپیسی به گټی لردی چه لس زره روپی ئی پیداکړی اومولی ته ئی ورکړی نوداغلام ازاد شو ، اویا مدبروي مدبرهغه ته والی چه مولی ورته

ویلی وي چه ته زما دمرګ نه پس ازادئی ، یا اُمْ ولده وي ام ولده دیته وائی چه یوسړی دوینځی سره جماع وکړي اوله هغه نه ئی اولاد پیداشی نودیته ام ولده وائی نودکل مملوکٍ ټکی ټن ، مکاتب، مدبر، اوام ولده دی ټولوته شامل دی لکن دمملوکٍ ټکی منبأ دی چه مملوك نه مراد هغه غلام دی چه هغه سل په سلو کښی غلام وي اودی په هغه کښی تصرف کولی شی نومکاتب تری اووتو ځکه چه مکاتب مملوك من وجهٍ دی اوغیرمملوك من وجهٍ دی ځکه چه تصرف دمکاتب دځان لپاره وي اومولی پری تصرف نشی کولی ، اوکه یوسړي اوویلی چه ماکله داویل چه کل مملوكٍ فهوحرٌ نوزمامراد پکښی مکاتب هم وه نوډیره ښه ده مکاتب دی هم پکښی ازادشی میانبیوی راضي توکیاکرے قاضي نودنیت دوجهی نه دکل مملوكٍ کلمه مکاتب ته هم شامله شوه لم یعتقْ مکا تبُوه نونه به ازادیږي هغه مکاتبین ځکه هغوی پکښی داخل ندي ولا مَنْ اعتق بعضُه اوندی شامل هغوغلامانوته دکوم چه بعضی حیصه ازاده شوی وي اوبعضی باقی وي ، لکه یوسړي خپل غلام ته اوویل چه بعضی حیصه می دی ازاده کړه نودیته مُعتقُ البعض وائی نوداهم مملوك من کل الوجه ندی ځکه یوه ورځ به دمولی خدمت اوبله ورځ به دځان لپاره کارکوي الا اذا نوی دخولهم مګر ازادبه وي په هغه صورت کښی چه نیت ئی کړی وي په کل مملوكٍ کښی۰ لان لفظ المملوك مطلقٌ ځکه لفظ دمملوكٍ مطلق دی پدی کښی چه کل مملوكٍ لی فهوحرٌ یَتَنَاولُ المملوك من کل وجهٍ شاملیږي مملوك دهری وجهی نه والمکاتبُ لیس بمملوكٍ من کل وجهٍ اومکاتب خو مملوك من کل وجه ندی بل مملوكٌ من وجهٍ وغیرمملوكٍ من وجهٍ ، مملوك من وجه معنی داچه که مکاتب باندی یوه روپی هم پاتی وي نومکاتب دی اوغیرمملوك ځکه دی چه تصرفات ئی دځان لپاره دي ولهذا لم یجز تصرُّفه فیه نوله دی وجهی نه چه ندی مملوك من کل وجه ندی جائز تصرف دمولی په مکاتب کښی ولا یحِلُّ له وطئ المکاتبةِ همدارنګه که یوسړي له وینځی سره کتابت وکړو نوامولی دخپلی مکاتبی سره جماع نشی کولی ځکه چه مِلك ناقص دی اووطی هلته کیږي چه مِلك کامل وي ، دا راروانه بله مسئله ده ولوتزوّجَ المکاتبُ بنت مولاه که یومکاتب دخپل مولا د لور سره نکاح وکړه ثم مات المولی اودینه پس مولی مړشو اودمولی

نوراولادهم نوه وَوَرَثَةُ البنت اوددی مولی لورددی مکاتب وارثه شوه ، خکه دپلارمیراث لورته پاتی شو اوغلام دپلارمیراث وه اوس پلارمړشو نوجینی دغلام مالکه شوه لم یفسد النکاحُ نکاح فاسده نده ، دغلام نکاح دخپلی مولاتی سره نه کیږي لکن پدی صورت کښی غلام من وجه غلام دی اومن وجهٍ حُر دی خکه نکاح نی وشوله واذالم یکن مملوکاً من کلّ وجهٍ لا یدخلُ تحتَ لفظ المملوك المطلق هرکله چه نوي مملوك من کل وجهٍ نونه داخلیږي لاندی دلفظ دمملوك مطلق نه وهذا بخلاف المدبَّرِ واُمِّ الولد اوعدم دخول دمکاتب اومعتق البعض لاندی دلفظ دمملوك نه نودا په خلاف دمدبراوپه خلاف دام الولد دی خکه مدبراوام الولد مملوك من کل وجهٍ دی فإن المِلْكَ فیهما کاملٌ خکه ملك پدی مدبر ام الولد کښی کامل دی، ترخوچه مولی ژوندی دی نومدبرئی تول غلام دی ولذاحلَّ وطیُ المدبَّرةِ واُمِّ الولد اوله وجهی دکمال دملك نه په مدبراوام ولد کښی جانزده، وطی دمدبری اودأم ولدی ۰اوس معترض اعتراض کوي چه هرکله مُدبرة اواُمّ ولده کښی ملك کامل دی نوبیاپکارداده چه په کفاره کښی سړی مدبره اوأم ولد ورکولی شی اوحالانکه دادواړه په کفاره کښی نشی ورکولی خکه په کفاره کښی به هغه غلام ورکولی شی چه کامل وي ؟ نودوی ورته جواب کوي چه وانما النقصانُ فی الرّق من حیث انه یزولُ بالموتِ لامحالة اوهرچه نقصان چه ده په رِقت کښی هغه ددی حیثیت نه ده چه هغه زانله کیږي په مرگ دمولی سره خامخا۰ مثلاً چه دا مولی لا داغلام مدبرکړی نوه نوبوړمن رقة پکښی ود نوچه کله ئی مدبرکړو اومولی ورځ په ورځ ضعیفه کیږي اومرگ ته نږدی کیږي تقریبا چیناکی چیناکی رقة تری کمیږي تردی چه مولی مړشو نوغلام ازادشو۰ نودی وجهی نه پکښی مونږ وایوچه رقة کامل دی یعنی ختم ندی ترخوچه مولی ژوندی وي۰ وعلی هذاقلنا اوبناء پدی فرق دمدبراومکاتب باندی مونږ وایو اذا اعتق المکاتبَ عن کفارة یمینه اوظهارهٖ جاز جانزده چه ازادکړي مکاتب لره دکفاری دیمین دظهارنه۰ ولایجوزُ فیهما اعتاقُ المدبَرواُمِّ الولد اوجالزنده په کفاره یمین اوپه کفاره دظهارکښی‌ازادول دمدبراوازادول دأم ولد لان الواجب هو التحریرُ خکه تحریر واجب دی ،نوتحریرځه ته وایی ؟ وهوالباتُ الحرّیة بازالة الرقّ ثابتول دحریت دی ازالی درق

سره فاذا كان الرقّ فی المكاتب كاملاً كان تحريره تحريراً من جميع الوُجُوه خكه هركله
كامل وه رقيت په مكاتب كښې نوازاديدل دمكاتب ازاديدل دټولو وجوهو نه دي وفی
المدبروامِ الولدلما كان الرِّقُ ناقصاً لا يكون التحريرُ تحريراً من كل الوجوه اوپه مدبراوام
ولدكښې چه رقيت ناقص وه نوتحريرددى دوارو تحريردټولونوجوهو نه نوه يعنى
تحريركامل نوه· نوګويا تحريرمبنى شو په ازالې درق باندى كچيرته رق كامل وي
نوتحريربه هم كامل وي اوكه رق ناقص وي نوتحريربه هم ناقص وي نوپه مكاتب كښې رق
كامل وه نوتحريردمكاتب صحيح شو دكفارى نه اوپه مدبراوام ولدكښې رق كامل نه
وونوتحريردمدبراودام ولد صحيح نشو دكفارى نه والثالث اودريمه نوعه دانواع خمسة نه
داده قدتُترك الحقيقة بدلالة سياق الكلام كله حقيقت پريښودلى شي په دلالت اوقرينى
دسياق دكلام سره سياق الكلام معنى چه يوسړى ني په كوم خاى كښې بيانوى ، اوبل
سباق دى سباق هغه قرينى ته وائى چه مخكښې تيره شوي وي· اوسياق هغه قرينى ته
وائى چه روسته راروانه وي ، سوق معنى شړل لكه وائى چه سياق اوسباق نه دامعلوميږي
قال فی السيرالكبير امام محمد رحمه الله وائى په سيركبيركښې، دامام محمد زيات كتابونه
دي لكن دوه پكښې سيرصغيراوسيركبيرهم دي ددى تفصيل مخكښې په مقدمة كښې
ذكرشويدى اذاقال المسلم للحربيِ كه يومسلمان يوحربى(محصور)ته اووائى انزِلْ فنزل
كان اٰمِناً راشه اوراغلو نودغه حربى به په امن كښې وي اودا مسلمان به ورته څه نه وائى ،
خكه چه ددى مطلب دادى چه ته به په امن كښې وى· اوكه داسى ئې ورته اوويل انزِلْ
اِنْ كنت رجلاً راشه كه سړى ئې فنزل لايكونُ آمِناً اوداحربى راغلو نوپه امن كښې نه نوى
،خكه ذمكښي ئې ورته وركړه دلته كښې امربنزول ندى بلكه مراد ددى نه منع دنزول دى
يوامردنزول وي اوبل تنبيه وركول وي، لكه يوسړى يوبزدله سړي ته اووائى چه ياسے نوپه
رښتيا خوهغه زمرى ندى بلكه توبيخاً ورته زمرى وائى، يا لكه دسوډان بعضى قومونه تك
توردي اوهغوى ته اوويلى شي چه يا شمسُ اويا قمرُ نوددبه خومقصودتوروالى وي لكن
هسې ورله شمس اوقمروويل شول پدى صورت كښې هم كه داكافرراكوز شو نوپه امن كښې
به نه وي خكه دكلام نه معلوميږي چه مقصود معنى حقيقى نده ډاېرل نه معنى راكوزيدل

Maktaba Tul Ishaat.com

ندي بلکه مقصودترینه تنبیه اویره ول دي **ولو قال الحربيُ الامان الامان** که یوحربی اوویل امان طلب کوم امان طلب کوم **فقال المسلمُ الامان الامان** اومسلم ورته اوویل ما امان درکړیدی **کان اٰمِناً** نوداکافربه په امان کښی وي ورته به څه نشی ویلی **ولوقال الامان ستعلم ما تلقی غداً** اوکه چیرته مسلم ورته اوویلی چه ته به امان وپیژنی چه ته سبا ماسره ملاقی شی ، یعنی زه به تاته امان ونبایم خو ته راکوز شه نودینه مراد ویرول دي چه مه راکوزیږه **ولا تعجَلْ حتی تری** اوته عجله مه کوه تردی چه ته به اووینی **فنزل لایکون اٰمِناً** اودا کافرراغی نو په امن کښی به نوي دلته کښی دکلام خپله حقیقی معنی پریښودل شوه څکه دسیاق اوسباق دکلام نه معلومیږي چه امن ورته نه ورکوي بلکه تنبیه ورکوي په مرګ باندی· **ولوقال اشترليْ جاريةً لتخدمنی** یوسړيْ بل سړي ته اوویلی چه ما ته وینځه واخله دخدمت لپاره **فاشتری العمیاء اوالشلاء لایجوزنوهذه** وکیل ورته ړنده وینځه واخشته اویا نی شله وینځه ورته واخشته نوداتوکیل ناجائزدی څکه ړنده اوشله وینځه دچاخدمت نشی کولی، نولفظ دامهٔ اګرچه شامل دی هری وینځی ته لکن دسیاق دکلام نه معلومیږي چه داسی وینځه تری مراد ده چه خدمت کولی شی څکه ده ورته وویلی لتخدمنی نوحقیقة دکلام پریښودل شو، اوکچیرته نی ورته ویلی وه چه ماته وینځه واخله لپاره دجماع اووکیل ورته ړنده وینځه واخشته نووکالت صحیح دی څکه ړندی سره وطی کیدای شی· **ولوقال اشترليْ جاريةً حتی اَطَأَهَا** اوکه یوسړي بل سړيْ ته اوویلیْ چه ماته وینځه واخله لپاره ددی چه زه وطی ورسره کوم **فاشتری اختَه من الرضاع** اوهغه وکیل ورته رضاعی خورواخشته نووکالت صحیح نشو، څکه رضاعی خورسره خووطی نه کیږي لکه نسبی خورچه په سړي باندی حرامه وي دغسی رضاعی خورهم په سړي حرامه وي· **لایکون عن الموکِّل** نوداوینځه به دموکِل نوي، څکه داسی وینځه نی ورته وانه اخشته چه وطی ورسره کولی شی نووکالت صحیح نشو، نوداوینځه به په وکیل باندی تاوان وي، نوجاریة خوعامه وه اولولو وینځوته شامله وه لکن دلته کښی حقیقت متروك دی داسی وینځه تری مراد وه چه وطی ورسره کیدای شی څکه له سیاق دکلام نه دامعلومیږي چه داسی وینځه نی غوښته چه وطی ورسره کولی شی· **وعلی هذا قلنا فی قوله علیه السلام** اوبناء په ترك

دحقیقت په دلالة دسیاق دکلام سره مونږ وایو پدی قول دنبی ﷺ کښی اذا وقعَ الذُبَابُ فی طَعَامِ اَحدکم کله چه پریوځی مچ په طعام دیوستاسوکښی فامقُلوه ثم القُلوه بیا هغه مچ نه په لوښی کښی غوپه ورکړه اوبیا نی دلوښی نه اوباسه فانّ فی احدی جناحیه داءً وفی الاخری دواءً ځکه په یووزر ددی مچ کښی مرض دی اوپه بل وزر کښی نی دواء دی واله یُقدِمُ الدّاءَ علی الدواء ځکه دامچ وراندی کوي دبیماری وزر په وزردوالی باندی یعنی دمرض واله وزرنی ښکته نیولی وي اوددواء واله وزرلی بره نیولی وي، نودی لپاره چه په لوښی کښی غوپه ورکړی نوددواء واله وزرهم په طعام کښی راشی نوبیاهغه دواء دهغه داء لپاره کافی ده نودواء اوداء برابرشی نوبیا صحت ته نقصان نه کوي. دلّ سِیاقُ الکلام علی ان المقلَ لدفع الاذی عنّا دلالت کوي سیاق دکلام چه دامچ ته غوپه ورکول ددی لپاره دي چه زمونږ نه نی اذیت دفعه شی لالامرتعَبُّدیِّ حقاً للشرع داامرلپاره دحقِ شریعت ندی یعنی دا شرعی حکم ندی بلکه علاجی حکم دی که چا غوپه ورنکړه نونه گنهگارېږي لکن صحت ته نی نقصان دی ځکه هغه طعام کښی لگ دزهرو اثرپیداشی فلایکون للایجاب نوداحکم دایجاب لپاره ندی. دلته کښی جناب شیخ صاحب یوه قیصه ذکرکړیده هغه داچه : دیوسړي دچای په پیاله کښی مچ پریوتو نوهغه سړی ډیرغوصه ناك وه نومچ نی پکښی ښه چښنی کړو نوملگری ورته اوویل چه داولی؟ هغه سړی ورته په جواب کښی وویل چه حدیث کښی راغلی چه فامقلوه نوهغه ملگری ورته اوویل چه ظالمه فامقلوه راغلی فامچکوه خوندي راغلی چه دچښنی کولی حکم پکښی راغلی وي لکه تاچه پکښی دمچ کولمی اوویستی. وقوله تعالی همدارنگه داقول دالله تعالی، اصل کښی منافقانواوکافرانوپه پیغمبرعلیه السلام باندی عیب لگولی وه چه پیغمبرﷺ زکاة یامال غنیمت هغوکسانونه ورکوي چاته نی چه خوخه وي نودا ایت راغی چه پیغمبرﷺ ته خوالله جل جلالُه فهرست رالیږلی دی چه زکاة دمصارفو لپاره دادا کسان دي. انما الصّدقات للفُقرَآءِ په تحقیق سره صدقات دفقراوُ لپاره دی عقیب قوله تعالی ومِنهُمْ مَّنْ یَلمِزُکَ فِی الصَّدقَاتِ دامخکښی ایت راغلو روسته له دی قول دالله تعالی نه بعضی دمنافقانونه هغه دي چه هغوی عیب لگوي په تاباندی په صدقاتوکښی چه داپیغمبرﷺ چاته کم ورکوي اوچاته زیات یدلُ علی ان

Maktaba Tul Ishaat.com

ذکرالاصناف داایت دلالت کوي پدی باندی چه ذکرداصنافو لقطع طمعهم من الصدقات لپاره دقطع دطمع دمنافقانودصدقاتونه چه منافقانوتاسوخودهغه ایت مصداق نه نی تاسوخومالداریې الله جل جلالُه اته(۸) صنفه دزکاة لپاره بیان کړل نوامام ابوحنیفة صاحب وائی چه که صرف فقیرانوته هم ورکړی شی نوزکاة وشو لکن امام شافعی صاحب وائی چه دهرصنف نه به کم ازکم دری دری کسان ضروري دي چه هغوی ته بایدزکاة ورکړی شی ببیان المصارف لها په بیان ددی مصارفو دزکاة کنبی، منافقانو ته نی اوویلی چه زکاة دغریبانوحق دی فلا یتوقف الخروج عن العُهدة علی الاداء إلی الکل پس موقوف به نوي وتل دذمې نه په اداء دزکاة ټولو اصنافوته بلکه که یوصف ته ئی هم ورکړي صحیح دی، امام شافعی صاحب وائی چه ددی مالداره ذمه به هله فارغیږي چه دی اته(۸) واړو اقساموکښی زکاة خپل تقسیم کړي لکن دکتاب ملا وائی چه که یوصنف ته ئی هم ورکړي نوصحیح دی ځکه دسیاق نه معلومیږي: سیاق دادی چه پدی ایت کښی به منافقانوباندی رددی نوهغوی ته وائی چه زکاة ستاسو لپاره ندی تاسوخوغریبان نه یئ نولهذا مقصودحصرندی چه اتو(۸) واړو ته به نی لازماً ورکوی بلکه یوصنف ته ئی چه هم ورکړی صحیح دی. والرابع اوځلورمه نوعه دا انواع خمسة نه قدتترکُ الحقیقة کله حقیقة پرېښودلی شی بدلالةٍ من قبَل المتکلم په دلالة دمتکلم سره مثاله قوله تعالی مثال ددی نوعی مذکوره داقول دالله تعالی دی فَمَنْ شَآءَ فَلْيُؤْمِنْ وَّمَنْ شَآءَ فَلْيَكْفُرْ که دچا خوخه وي نوایمان دی راوړي اوکه دچاخوخه وي نوانکاردی وکړي، دلته کښی ومن شاء فلیکفرپخپله حقیقی معنی باندی ندی مستعمل(چه الله تعالی وائی چه دچا خوخه وي نوکافر دی شی) دلته کښی مقصودامرندی ځکه الله تعالی حکیم دی اوحکیم په قبیح باندی امرنه کوي ، چیرته یومعمولی غوندی حکیم اوهوښیارسړی چاته په بدی باندی امرنکوي اوبیا رب العٰلمین خواحکم الحاکمین دی نوهغه کله چاته په بدوامرکوي. اصلاً دلته کښی مراد تنبیه اوتوبیخ ده الله تعالی زجراً وائی چه کافرشه چه درته پته ولګی لکه کله ناکله پلارهم خپل زوی ته زجراً وائی چه خه کنه لوبی وکړه یعنی لوبی مه کوه ګنی سم به دی کړم وذلك لان الله تعالی حکیمٌ اوداچه ترك دحقیقة په دلالة دمتکلم سره ثابت

دی په آیت کښې خکه الله تعالی حکیم دی والکفرقبیحٌ والحکیمُ لایامرُ به اوکفرقبیح دی اوحکیم په قبیح باندی امرنه کوي. فیُترك دلالة اللفظ علی الامربحکم الأمِر نوپرینبودلی به شي دلالة دلفظ(حقیقة) په امرسره په حکم دامِرباندی، دینه مراد دانده چه واقعي کُفروکړه لکه یوکافروائی چه زه خوخکه کُفرکوم چه خدای جل جلالُه راته واني نودلته کښې دالله تعالی دامرنه مراد امرنده بلکه داخبره زجراً اوتوبیخاً ده وعلی هذا قلنا اوبناء پردی باندی چه کله به دمتکلم دوجهی نه مونږ حقیقی معنی پریږدو. دابل مثال هم دی وَکّل بشراءِ اللحمِ کچیرته یوسړي بل لره وکیل کړو په اخشتو دغوښې سره فإن کان المؤکِل مسافراً کچیرته دامؤاکِل(متکلم) مسافروه نزل علی الطریق لکن په لاره کښې ددمې لپاره کوزشوی وه فهوعلی المطبوخ اوعلی المشوِیّ نودغوښې نه مراد پخه غوښه ده اویا تری مراد ریته غوښه ده وان کان صاحب منزل اوکه دامتکلم(مؤکِل) خاونددکوروه فهوعلی النیِّ بیا تری کچه(خامه) غوښه مرادده ومن هذا النوع یمینُ الفور اوددی نوعی مذکوره پشان یمین فور هم دغسی دی، یمین فوردیته وائی چه یو سړی دغوصی له وجهی نه یوه خبره وکړي لکه قران مجیدکښې﴿ وَفَارَالتَّنُّورُ﴾ راخې تنورپه جوش کښې راغی دنوح علیه السلام زمانه کښې چه سیلاب راتلو، فَارَ یَفُورُ معنی جوش فی الفورمعنی یك دم دمثال په طور لکه دیوسړي ښخه دپلاراوموركورته تله اوخاوند ورته اوویل چه اوس مه خه زما میلمانه راخې اوروتې پخه کړه لکن ښځي ورته اوویل چه زه به خُم نوخاوندورته اووائی إن خرجتِ فانت طالقٌ نودغه ښخه پدی وخت کښې طلاقه کیږي که ذکورځخه اووځی اوکه روتې پاخه کړي اوبیا اووځی دکورځخه نوبیا نه طلاقه کیږي ځکه دلته کښې دمتکلم دحالت نه دامعلومیږي چه إن خرجتِ نه اوس مراد دی ځکه دخاوندورته اوس ضرورت دی که دضرورت نه پس لاره شی نوبیا نه طلاقه کیږي. مثالُه اذاقال تعال تغدَّمَعِیَ مثال ددی لکه یوکس ته سړی اووائی چه راخه ماسره دسبا ډوډی وخوره فقال واللهِ لاانغدّی هغه کس ورته اوویل قسم دی زه خوبه ډوډی نخورم ینصرِفُ ذلك إلی النّداء ننسنسِوَ الیه دینه به مراد هغه دعوت(ډوډی) وی کوم ته چه داکس بلل شوی وي حتی لو تغدی بعدذلك فی منزله معه اومَعَ غیره فی ذلك الیوم لایحنث تردی که داسړی ډوډی وخوری په کورکښې له هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

سړي سره کوم چه دعوت ورته کړی وه اوکه له بل سړي سره وي په همدی ورځ کنبی نونه حانث کیږي. وکذا اذا قامتِ المرأة تریدالخروج همدارنگه(ددی مثال مذکوره پشان ) که یوه ښځه غواړي چه لاړه شي بهرته فقال الزوجُ ان خرجتِ فانتِ کذا نوخاوندورته اووائی که ته اووتی نوته دی طلاقه وی کان الحکمُ مقصوراً علی الحال نوحکم به فی الحال واقع کیږي که اوس فی الحال اووته نوطلاقه شوه اوکه دخاوند دکارداجراء نه پس خارجه شوه نونه طلاقه کیږي حتی لوخرجت ذلك لا یحنثُ تردی که داښځه ددی وخت نه پس ووته نونه حانثیږي والخامس اوپنځم قسم داقسامو مذکوره څخه قدتُترك الحقیقةُ بدلالة مَحَلِّ الکلامِ کله حقیقت متروك شوی وي له وجهی ددلالة دمحل دکلام نه کوم ځای کښې چه دکلام مستعمل شویدی هغی ته به گوری چه ایا دلته معنی حقیقی مراد کیدای شی اوکنه؟ نوکه محل دکلام داسی وه چه هلته حقیقی معنی نشی مراد کیدای نوفتعین البتك للبازگل، نومجازی معنی خودبخودمتعینه وه. دلته کښې جناب شیخ صاحب دبازگل دمقولی مصدربیانوی هغه داچه یواستادوه اودهغه سره ځیل طالبان هم وه اوزیات سامان نی هم لرلو نواستاد به په گرمی کښې تیراه ته تلو نویوځل دگرمی په موسم کښې تیراه ته تلو نو شاگردانو ته نی سامان ورکولو چه تیراه ته نی یوسی نویو طالب برستن واخشته اوبل طالب منگی واخشتو اوبل طالب کتابونه واخشته اوداسی نورسامان نی نوروطالبانوته ورکړو نوصرف دده سامان څخه بتك پاتی شوه اودده دطالبانو له جملی څخه صرف بازگل نومی طالب پاتی شو نواستاد ته طالبانواوویل چه بتك به څوك وړي نوهغه ورته اوویل فتعین البتك للبازگل خکه بازگل هم پاتی دی اوبتك هم پاتی شو. بان کان المحل لایقبل حقیقة اللفظ چه هغه محل حقیقة دلفظ نه قبلوي ومثاله اوددی مثال انعقادُنکاح الحرة بلفظ البیع لکه انعقاد دنکاح دحری په لفظ دبیعی سره، مثلاً یوی ښځی یوسړي ته اوویل بعتُ نفسی منك(ماځیل خان دربادی خرڅ کړو) نوحره خونه خرڅیږي لکن دلته کښی معنی حقیقی متعذره ده نومجازی معنی تری مرادده نومطلب نی داشو چه په نکاح باندی می‌واخشتی اوهغه سړي ورته اوویل قبلتُكِ نونکاح وشوه. والهبة همدارنگه انعقادنکاح دحری په لفظ دهبی سره ، هبة خودهغه څیزکیږي چه مملوك وي لکن که یوی

بنځي يوسړي ته اوويل وهبتُ لك نفسي(ما تاته ځپل ځان اوبښلو)
حالانکه نکاح خوبدون المهرنه کيږي نوپدی لفظ مذکوره سره هم په خاوندی باندی مهرلازم شو، صرف پيغمبرﷺ بدون مهرنکاح کولی شی نورچاته بدون مهرنکاح ناجائزه ده لازماً به

مهرورکوی لکن که ښځه نی ورته وروستوبيا بښی نوبښلی لی شی. والتمليك همدارنګه لفظ دملکيت که ښځه يوسړی ته اووائی ملکتُ لك نفسي(ماته دځپل ځان مالك وګرځولی) نوحره خوملك رقبی نه قبلوی لکن مرادترينه نکاح ده والصَّدقة همدارنګه لفظ دصدقی لکه يوه ښځه يوسړي ته اووائی تصدقتُ لك نفسي(ماځپل ځان تاته صدقه کړو) نوحره خونه صدقه کيږي مرادترينه نکاح ده وقوله لعبده وهو معروف النسب من غيره هذا ابنى يايوسړی خپل غلام ته اووائی چه دازما خوی دی اوحالانکه هغه غلام معروف النسب وي چه دده نه بلکه دبل چا خوی وي وكذا اذاقال لعبده وهو اكبرُ سناً من المولى هذا ابنى همدارنګه که يوسړی خپل غلام ته اووائی چه دازماخوی دی حالانکه هغه غلام ددی مولی نه مشروي يعنی مولی مثلاً ددیرشو(۳۰) کالووي اوغلام دځلويښتو(٤٠) کالووي كان مجازاً عن العتق عندابی حنيفة رضی الله عنه دامجازدی دحريت نه په نزدامام ابوحنيفه صاحب خلافاً لهما بناءً على ماذكرنا ان المجازخلَفٌ عن الحقيقة فى حق اللفظ عنده وفى حق الحكم عندهما په خلاف دصاحبينوباندی بناء پردی چه امام صاحب وائی چه دامجازخلف دی دحقيقة نه په حق دلفظ(تکلُّم) کښی اوصاحبين وائی چه مجازخلف دی دحقيقة نه په حکم(معنی)کښی. نوامام محمدصاحب اوامام ابويوسف صاحب وائی چه داکلام لغوه شو لکه داخلاف مخکښی هم ذکرشو چه ايادامجازخلف دی حقيقة نه په تکلُم کښی اوکه په معنی کښی نوامام ابوحنيفه صاحب وائی چه په تکلُم کښی دحقيقة نه خلف دی نوهذا ابنى مبتداء اوخبردي نوکلام صحيح شو اوصاحبين وائی چه مجازخلف دی دحقيقة نه په معنی کښی نومعنی ئی دروسته اوصحيحه نده ځکه يوبودا دځوان خوی کيدای نشی نوکلام لغوه شولکه دا اختلاف په بيان دحقيقة اومجازکښی ذکرشويدی.

فصلٌ فى متعلقات النصوص فصل دی په بيان دمتعلقاتودنصوصو(اياتو) کښی، هرکله چه



Maktaba Tul Ishaat.com

مصنف فارغ شو دوجوهودبیان نه نوشروع ئی وکړه په وجوه داستدلال کښې چه دادلیل به یا په عبارت النص سره نیسی یابه ئی په اشارة النص سره نیسی یابه ئی په دلالة النص سره نیسی اویابه ئی په اقتضاء النص سره نیسی نعنی بها عبارة النص مونږه قصدکوه پدی سره عبارت النص، نص هغه لفظ ته وائی چه دهغه نه هغه معنی معلومیږي برابره خبره ده که داپه حقیقة کښې ظاهروي که نص وي که مفسروي اوکه محکم وي، اودعبارت نه مرادهغه صیغه دلفظ ده چه هغه مکونه وي دمفرداتونه یادجملونه یا داچه صیغی نه مرادهغه ټول عبارت دی اودنص مرادهغه لفظ دی چه په معنی دلالت کوي برابره خبره ده چه دلالت دلفظ پدغه معنی باندی دظاهرپه شکل کښې وي که دنص مفسروغیره په شکل وي نوټولو ته شامل شو۰ واشارته ودلالته واقتضاءه همدارنگه اشارة النص اودلالة النص اوقتضاءالنص ، اوس دینه پس ددی خلورواړومذکوره وو بیل بیل تعریف ذکرکوي **فامّا عبارةُ النصّ** هرچه عبارت النص دی **فهوماسیق الکلامُ لاجله واُریدبه قصداً** عبارت النص دیته وائی چه دهغه لپاره کلام راوړل شوی وي برابره خبره ده چه اصالةً وي اوکه تبعاً وي اودهغه معنی به دهغه کلام نه قصداً اراده شوی وي، لکه ﴿ وَاَحَلَّ اللّٰهُ الْبَیْعَ وَحَرَّمَ الرِّبٰوا ﴾سورة البقرة، الایة:۲۷۵ ۰ الله تعالی داکلام ددی لپاره راوړیدی چه بیع اوربا کښې فرق دی څکه بیع حلاله ده اوربا حرامه ده، نوددی ایت عبارة النص په دوه خبرودلالت وکړو یوه داچه ربا اوبیع کښې فرق دی اوبله داچه دینه جواز دبیعی معلوم شو اوحرمة دربا ترې معلوم شو، بل داچه عبارة النص به مفیدحکم وي قطعاً یعنی حکم به ترې لازماً ثابتیږي کچیرته عوارض اوقرائن موجودنوه مثلاً کچیرته یوعام وه نودئ به په عموم باندی محمولیږي اوکه چیرته ددینه یوځای کښې خصوص په قرینی سره راغلی وي نوبیا به خصوص هم پکښې کولی شی۰ **واَمّا اشارة النصّ** اوهرچه اشارة النص دی **هی ماثبت بنظمِ النصِّ من غیر زیادة وهو غیرظاهرٍ من کل وجهٍ ولا سیق الکلامُ لاجلِه** اشارة النص هغه دی چه ثابت شوی وي په نظم دنص سره(په تکلُم سره نه بلکه دنص دنظم نه به دامعلومیږي) بغیردزیادت نه اودا به ظاهرنوی من کل وجه اونه به کلام ددی معنی لپاره راوړلی شوی وي بلکه اشاری نه به معلومیږي ، لکه قران مجیدکښې راځی ﴿ وَعَلَی الْمَوْلُوْدِلَهٗ رِزْقُهُنَّ

وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ ﴾ سورة البقرة، الاية: ۲۳۳ ۰اوپه پلارباندی داولاددمورلپاره نان اونفقه لازمه ده په مناسبې طریقی سره، پلارته مولوده وائی ځکه دا اولاد دی ښځې دخاوند لپاره راوریدی نوپلار مولودله شو۰ نوپلاربه ورته باقاعده ډوډئ اونفقه ورکوي ځکه چه نسب دپلارنه ثابتیږي( العطايا علی متن البلايا ) چه اولادنی ورته راوړو نوډوډی به ورکوي نوکه یوسړی نواب وي نودنوابی خوراك اوجامی به ورکوي اوکه متوسط وي نومتوسطه ډوډی اوجامی به ورکوي اوکه غریب نودغریبی ډوډی اوجامی به ورکوي نودلته کښی دعبارة النص نه خودامعلومیږي چه په خاوندانوباندی دبچواودښځو نفقه لازم ده لکن په اشارة النص سره تری داهم ثابتیږي چه ولد تابع دوالِد وي نوبچی دپلارحق جوړشو لکن په اشاری سره داخبره هم معلومه شوه چه بچی تابع دپلاروي لکن خبروکښی نه یوحریت اوبل رقیت حریت اورقیت کښی بچی دمورتابع وي که مورئی حرة وي نودی به هم حروي اوکه مورئی وینځه وي نودی به هم غلام وي۰ اوس مصنف بل مثال بیانوي مثاله فی قوله تعالی مثال داشارة النص پدی قول دالله تعالی کښی لِلْفُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِمْ یعنی صدقات به دهغوفقراؤ اومهاجرینولپاره وي کوم چه دخپلوکورونونه اوباسل شویدي الآيةالآيةمعنیدی اقراء الآيةإلی اخرها فإنه سيق لبيان استحقاق الغنيمة نودا ایت روړل شویدی لپاره دبیان داستحقاق دغنیمت، هرکله چه پیغمبرﷺ بنونظیردمدینی منوری نه وشړل نودهغوی باغونه پیغمبرﷺ مهاجرینوته ورکړل فصارنصًا فی ذلك نودا ایت نص شو په بیان داستحقاق دغنیمت کښی۰ وقدثَبَتَ فقرُهم بنظم النصِ اودینه دمهاجرینوفقیري ثابته شوه په نظم دنص سره۰ دلته کښی داسی ټکی راځی(للفقراء المهاجرين ) نوایت خوددی لپاره راغلی دی چه دوی خومستحق دغنیمت دي لکن قرآن هغوی ته فقراء اوویل نودینه دمهاجرینوفقیري ثابته شوه نوچه هرکله ددوئ فقیري ثابته شوه نومعلومیږي چه کافرانوپه مکه کښی دمهاجرینوپه کورونوکښی چه کومه قبضه کړیده دهغی قبضی دوجهی نه دمهاجرینوهغه کورونه دمهاجرینودِملك نه ختم شو ځکه که هغه کورونه چه په مکه کښی دي که اوس هم دمهاجرینو وای نوبیا ورته قران ولی فقراء وبل نودامسئله هم ثابته شوه چه رسول اللهﷺ اودهغه صحابه کرام چه مدینی منوری ته لاړ

مِلك ندی ددوئ پس نه دهجرت کورونه هغه شو پاتی کنبی مکرمه مکه په کورونه اوددوی چه اوځوك ویل نه فقراء قران ورته نوبیا . وای ملك ددوئ که خکه ان إلی اشارةً فکان کیدای ویل نشي فقراء ته هغوی وي دخپلوکورونواومالونومالکان داهم تری سره النص اشارة نوپه للکافر الملك لثبوت سببٌ المسلم مال علی الکافرِ استیلاء دملك دثبوت لپاره دی داسبب باندی دمسلمان مال دکافرپه غلبه چه شوه معلومه دخپلو به نومهاجرین شوي داخل وانی نه کنبی دکافرانوملك داکورونه که دکافرخکه اذلوکانتِ ، والی فقیرنه ځوك ته هغه وي کورمالك دخپل یوسری نوچه ، وه کورونومالکانٌ دمسلمانانوپه دمسلمانانومهاجرینومالونه که خکه فقرُهم لایثبُتُ ملکهم علی بالیةً الأموال راوخي مسئلی ډیری نه اوبیاخوددی ثابتیدو، فقرنه خوددوی نوبیا وانی پاتی کنبی ملك گویا ، کنبی داستیلاء مسئله په حکم اوراوخی الاستیلاء مسالة فی الحکمُ منه ویُخرجُ شو دمسلمانانومالکان مال دهغه (کافران گرځی دملك داسبب دمسلم مال استیلاءدکافرپه کوم کورونه دغه که همدارنگه منهم بالشراء للتاجر الملك ثبوت وحکم ده مسئله نودایوه کافردغه اوبیا شویدي داخل کنبی ملك په اودکافرانوپه وه پاتی کنبی مکه دمسلمانانوپه چه کافرخپل خکه راخی کنبی ملك په نوداکوردتاجر کړو خرخ یوتاجرباندی کورپه گرځیدلی خپل مال دمسلمان نه دوجهی داستیلاء دکافر چه خکه کړیدی خرخ کورورباندی لپاره نومشتري شی خرځولی مملوك خپل ځوك نوچه شي خرځولی مملوك خپل نوکافر ده من وتصرفاته شو. داخل کنبی ملك په دتاجر کورهم نوهغه اخلی وانی چه جائزده هم ، دهبی ،دخرځیدو کورکنبی پدی شی کولی تصرفات داتاجر نوبیا والاعتاق والهبة البیع تری هم حکم دغنیمت همدارنگه الاستغنام الثبوتِ وحکمُ . وي غلام چیرته که اودازادیدو سامانونه نوهغه کړي فتحه (ملك)بلاد هغه لپاره خل دویم بیا دامسلمان چیرته که شو، ثابت الملك ولبوت دی غنیمت لپاره دمسلمانانو نودا شویدي پاتی کورونوکنبی دکافرانویدی چه هغه ده پاتی دکافرانوخخه مال کوم چه شو ثابت تری داهم همدارنگه للغازی همدارنگه ولفریعاله یده من التزاعه عن المالك وعجز دی ملك لپاره دغازیانومجاهدینو نه دغازیانولاس ددی یعنی دی دازما کورچه ددی کولی نشی هم دعوا کور ددی بیامالك

نی نشی خلاصولی اوهمدارنګه ددی دمتعلقاتو هم دعوانشی کولی لکه وطی دوینځی په
صورت کښی یالکه ازادیدل دغلام په صورت کښی وغیرذالك. ددی صورت مثال داسی
دی لکه مثلاً یوکوردزیددی اوزیدهجرت وکړو نودزیدددی کورمالك خوبوکافرشولوهغه
کافرنی بیا په یوتاجرباندی خرخوی شی اوکچیرته مسلمانانووطن بیا فتحه
کړواونوروغازیانوهغه کورپه غنیمت ونیولو نوبیا پکښی ددی اصل مالك حق نشته اوداکوربیا
دهغه چاشوچه چا په غنیمت نیولی‌دی. وکذلك قوله تعالی همدارنګه په اشارة النص کښی
داقول دالله تعالی دی أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ دروژوپه شپوکښی تاسوته جماع حلال
کړی شوه، دا الرفثُ دأُحِلَّ لپاره نائب فاعل دی ، ابتداء داسلام کښی درمضان په
شپوکښی جماع ناجائزه وه نوبعضی صحابوٌ نه اجتهادی غلطی وشوه دروژوپه شپوکښی ئی
جماع وکړه اوحالانکه دامنعه وه نودا ایت راغی چه داستاسولپاره جائزه شوه نودی نه پس
دروژوپه شپوکښی جماع حلاله شوه ، اصلاً مکمل آیت داسی دی ﴿ أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ
الرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَآئِكُمْ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَخْتَانُونَ أَنفُسَكُمْ فَتَابَ
عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنكُمْ فَالْـَٔنَ بَاشِرُوهُنَّ وَابْتَغُوا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَكُمْ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكُمُ
الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى الَّيْلِ.. الآية ﴾ سورة
البقرة ، الآية۱۸۷ . معنی داچه جائز دی تاسولره درمضان په شپوکښی دخپلی ښځی سره
جماع ځکه هغوی تاسولره لباس دی اوتاسوهغوئ لره لباس اوجامه یئ نودخپلی جامی نه
بغیرخوګذاره ګرانه وي نوانسان ښځی ته محتاج دی ځکه ورته الله تعالی په رمضان کښی
دشپی جماع جائزه کړه اوالله جل جلاله ښه پوهیږي په تاسوباندی چه تاسوبه ځانونه په
خیانت کښی واچوئ نواوس تاسوخپلوبیبیانوسره مباشرت(جماع) کوی لکن درمضان په
شپوکښی هغه شی طلب کوی چه الله جل جلاله تاسوته فرمائلی دي یعنی درمضان په
شپوکښی عبادت کول پکار دی دانه چه صرف خپلی زوجی سره ټوله شپه تیره کړی شی
نولفناء فی الزوجه کیدل ندي پکار بلکه تهجد، تلاوت قران پاك پکاردی ځکه درمضان شپی
دخیراوبرکت شپی وي، یاداچه دجماع نه مطلب نیك اولادوي ځکه پیغمبرﷺ فرمائی ﴿
تناکحوا وتوالدوا فانی أباهی بکم الامم ﴾ معنی داچه واده وکړی اوبچی راوړی ځکه زه به

Maktaba Tul Ishaat.com

په نوروامتونوباندې فخرکوم چه زما امت زيات دی، همدارنګه په مذکوره آيت کښې الله تعالی فرمائی خوری اوڅکی يعنی دشپی له طرف نه تردې چه سپين مزی دتورمزی نه ځرګندشی مطلب داچه صبح صادق راوخيږي نودی وخت کښې بيا خوراك مه کوی بيا صبح صادق نه ترشپی پوره روژه مکمله کړئ إلیٰ قوله تعالیٰ ثُمَّ اتِمُّوا الصِّيامَ إلی اللیل فالامساك فی اول الصُبح يتحقُقُ مع الجنابة پس امساك په اول دصباح کښې جائز ده دجنابة سره، يعنی که واده کړی سړی په اول دصباح کښې خوراك اوڅکاك بندکړل لکن دئ جنب دی نوجنابت بقاء دروژې سره منافی ندی څکه حديث کښې راځی رسول الله ﷺ جنب ر په روژه کښې اوسهراذان وشو اورسول الله ﷺ دهغه نه وروسته غسل وکړو. نوددی ايت مذکوره نه هم په اشارة النص سره معلومه شوه چه جنابت دصوم سره بقاء منافی نه دی لکن ابتداء ورسره منافی ده څکه که يوسړی دروژې په ورځ قصداً ځان جنب کړی نوپرده باندی کفاره واجب ده ،اصل کښې په افطارکښې تعجيل پکاروي اوپه پيشمنی کښې تأخيرپکاروي لکه ام المؤمنين ته چا اوويل چه دلته په مدينه منوره کښې يوسړی تأخيرکوي په افطارکښې اوبل سړی تعجيل کوي په افطارکښې نوهغی مبارکی ورته اوفرمائل چه هغه کس چه تعجيل کوي په افطارکښې دا درسول الله ﷺ په سنتو عمل کوي لان من ضروة حلِّ المباشرة إلی الصبح څکه چه ضرورت دحلاليدو دجماع ترصباح پورې ، ددی نه داثابته شوه ان يکون الجزءُ الاوّل من النهار چه هغه جزء اول دنهارچه صباح راوختومع وجودالجنابة اوسړی تراوسه جنب دی والامساك فی ذلك الجزء صومٌ نه خوراك اونه څکاك پدی جزء دنهارکښې(صباح) داروژه ده يعنی روژه موجوده ده لکن سړی جنب دی أمرالعبدُباتمامه نوداسړی به روژه مکمله کوي ترمابنام پورې فکان هذا اشارة إلی ان الجنابة لا تُنافی الصومَ (بقاء) نودينه معلومه شوه چه جنابت دصوم سره منافی نده (بقاء) بقاء قيدموڅکه ورسره کيښود چه جنابت په صوم کښې ابتداء حرام دی ، بقاء ديته وائی چه په روژه کښې سړي باندی صباح راوختولکن دی لا جنب دی، اوابتداء ديته وائی چه دی په ورځ کښې دننه ځان جنب کړي ولَزِم من ذلك اودی مسئلی نه يوه بله مسئله هم معلومه شوه ان المضمضة والاستنشاق لايُنافِی الصوم چه مضمضة اواستنشاق هم بقاء دصوم

سره منافي نده، لکه یوسړی روژه داردی نودی به مضمضة اواستنشاق کوي څکه مضمضة

اواستنشاق په غُسل کښی فرض دي. یوه مضمضة ده اوبله غرغره ده غرغره ناجائزدی په روژه کښی اوبه مضمضه باندی روژه نه ماتیږي څکه چه په روژه کښی اودس کوی نوخامخا به په خوله کښی اوبه اچولی شي، مَضمَضَ یُمضمِضُ معنی تحریك الشی ، لکه عرب والی مضمض النومُ فی عینی فلانٍ. یعنی دفلانی په سترگوکښی خوب گرځی راگرځی نوتحریك الماء فی الفم والانف جائزٌ. همدارنگه داستنشاق حکم دی څکه پوزه کښی ویښته دي اوتحت کل شعرةٍ جنابةٍ نوپه پوزه کښی هم اوبه اچول فرض دي اوروژه وربانډی نه خرابیږي ، همدارنگه قران وائی ﴿ وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا ﴾ سورة المائدة، الاية: ٦ . پدی ایت کښی هم مبالغه ده نوټول بدن به ښه پاکول غواړي چه یوځای هم اوچ پاتی نشی.

**ویتفرّعُ منهُ** اووډی عدم منافات دمضمضی اواستنشاق نه بله مسئله هم ثابته شوه اذا ثبت الشئ ثبت بجمیع لوازمه. **انّ من ذاق شیئاً بفمه لم یُفسدصومُه** که چیرته یوه ښځه روژه داره دخپلی کتوئ مالگه وڅکي نوروژه ئی نه ماتیږي، څکه کیدای شی چه خاوند ئی ډیرغوصه ناك وي اوپه کمه یازیاته مالگه دکتوئ سره ئی وهي. **فإنه لوکان الماء مالِحاً** څکه که دا اوبه تروشی(مالگی جنی) وي، لکه دکوهاټ دبهادرخیلواوبه یا دجته اسماعیل خیلواوبه، پدی علاقوکښی دمالگوغرونه دي نوډچیناواوکوهانواوبه ئی هم تروشی اومالگی جنی دي **یجدُ طعمه عندالمضمضة لایُفسِدُبه الصوم** نوکه دکومی علاقی اوبه مالگی‌جنی وي اوپدی اوبوباندی په روژه کښی اودس کوي نوپه وخت دمضمضة کښی به دی سړي ته دمالگی خوندمحسوس کیږي نوروژه ئی پری نه ماتیږي. **وعُلِم منه** اویوه بله مسئله هم تری معلومه شوله، دیوی مسئلی نه خومره مسئلی راپیداشوی، په علماؤ کښی هم تکړه عالم هغه دی چه دیوی مسئلی نه ډیری مسئلی راوباسي. **حکم الاحتلامِ والاحتِجامِ والادِهانِ** چه په احتلام اوپه(رگ وهلو) اوپه تیلولگه ولو باندی هم روژه نه ماتیږي. **لان الکتاب لما سمیّ الامساكَ اللازِم** څکه قران هغه امساك چه هغه لازم اوموجود دی **بواسطة الانتهاء عن الاشیاء الثلثة فی اول الصبح صوماً** په واسطی دامتناع داشیاءثلاثه وونه دَصوم په نوم ئی

Maktaba Tul Ishaat.com

مسمی کړو روژه داربه امساك کوي عن المفطرات الثلاث( اکل شرب جماع ) نومعلومیږي داچه دمفطرات ثلاثة نه خان ساتل دیته صوم وائی نودینه معلومیږي چه په احتلام احتجام اوادهان سره روژه نه ماتیږي، په احتلام باندی خکه روژه نه ماتیږي چه هرکله جنابت بقاءً دروژی سره جمع کیږي اوحالانکه داسې چه خپلی ښځی سره په شپه کښی جماع کړیده هغه خواختیاري وه نوهغه جنابت چه په شپه کښی سرې ته منسوب شویده هغه هم اختیاري ده اوصوم سره بقاءً منافی نده، نواحتلام کښی خوجنابت غیراختیاري دی هغه کښی خودبنده بلکل دخل نشته نواحتلام سره به هم روژه نه ماتیږي. احتجام سره خکه روژه نه ماتیږي چه اصلاً خوروژه امساك من المفطرات الثلاثة ته وائی چه هغه اکل، شرب، جماع، دي نواحتجام رګ وهلو ته وائی اوداخودامساك سره منافی ندی لکن دلته په حاشیة کښی پدی باندی اعتراض واردیږي، چه حدیث کښی راځي( افطرالحاجمُ والمحجومُ ) روژه ماته کړه حاجم اومحجوم. حاجم هغه سړي ته وائی چه هغه ښکر لګوي اومحجوم هغه کس ته وائی چه دخپل رګ وینه اوباسي، په مدینه منوره کښی درګ دوینی ویستولپاره خاص خلك دي اوخپل مخصوص ځای دی اکثره عرب دځان وینه اوباسی خکه دوینی په ویستو دبدن ډیری بیماري لری کیږي. پدی مکان کښی جناب شیخ صاحب یوه قیصه ذکرکوي هغه محترم فرمائي چه مدینه منوره کښی دمولنا اسلم په نوم زمونږ بوملګری وه هغه به ویل چه زما یوځل په طالب علمی کښی سرخوګیدونویوطبیب ته لاړم هغه طبیب په نشترباندی زماډتندی یورګ ووهلو اوپیاله ئی ورته کینبوده نودهغه درګ نه توره وینه وبهیده چه کله توره وینه ختمه شوه اوسره وینه شروع شوه نوبیائی رګ بندکړو نومولنا زیاتوي چه دهغی ورځی نه تراوسه پوری څلویښت کاله اوشو چه زما په سرباندی بیا درد ندی راغلی. نوداصول الشاشی ملاوائی چه احتجام سره روژه نه ماتیږي اوپورتنی حدیث کښی خوراځي چه دحاجم اودمحجوم ددواړو روژه ماته شوه نوتعارض راغی؟ نوعلماء ددینه ګڼ جوابونه کوي اول: دحدیث مطلب دادی چه په روژه کښی حجامت لدی نه قریبه ده چه دحاجم اودمحجوم چیرته روژه ماته نشی دانه چه روژه ئی ماته شوه خکه چه یوسړی رګ په نشترباندی ووهی نوهغه پری بیا ښکرلګوي اوبیا وینه دځان طرف

نه راکش کوي په ښکرکښی نوکله دبعضی سړي وینه زیاته وي او داره وکړي نوچه دی راکش کړي اوتیره به لی شی نوروژه لی ماته شوه ، اوکله ناکله به دمحجوم نه ډیره وینه ووځی نوبیا سړی بیهوشه کیږي نوبیا ورله خلك دخوراك اوڅکاك څیزونه ورکوي نوپدی صورت کښی هم روژه ماته شوه، کله ناکله چه سړی بیهوشه شی نوسترګی نی بلکل توری شي اورنګ لی زیړشي لوډاکتران والی چه روژه ورته ماته کړئ اودخوراك څه شی ورکړی نوکه داسی وشی بیا لی روژه ماته ده ورنه روژه حقیقت کښی نه ماتیږي. دویم جواب: چه رسول الله ﷺ په یوحاجم اومحجوم باندی تیریدو اوهغوئ غیبت کولو نورسول الله ﷺ وفرمائل چه افطرالحاجم والمحجوم یعنی غیبت کوي نودغیبت دوجهی نه ئی روژه ماته شوله نودینه معلومیږي چه داحدیث دخاص سړي باره کښی ویل شویدی اوهغه تری مراد دی څکه روژه داردغیبت نه هم منع دی، حالانکه رسول الله ﷺ په حالت دروژه کښی پخپله هم رګ وهلی دی، یاداچه په رګ وهلو سره روژه نه ماتیږي څکه روژه ماتیږي په مِمَّا دخل سره نه په مِمَّاخرج سره یعنی روژه په هغه څیزسره ماتیږي چه یوشی خیتی ته داخل شی اوهغه شی چه هغه خارجیږي په هغه سره روژه نه ماتیږي ورنه بیاخوبه غتواووړو بولو سره هم روژه ماتیږي څکه پدی صورت کښی هم خروج راځی دپلیتی. دلته کښی جناب شیخ صاحب یوه لطیفه ذکرکوي،لطیفه: یووړوکي هلك روژه نیولی وه اوبیا ترینه بادوتلی وه اوزړل یی چه روژه می ماته شوه څکه هغه فکرکولو چه دباد په وتوسره داودس پشان روژه هم ماتیږي بیاورته چاویل چه دبادسره روژه نه ماتیږي نوخوشحاله شو. همدارنګه ادهان یعنی تیلو لګولو سره هم روژه نه ماتیږي لکه یوسړی سرغوړکړو یایوسړي بدن غوړکړو څکه پردی کښی بدن ته څه شی نه داخلیږي بلکه ظاهردبدن غوړیږي اوپدی باندی روژه نه ماتیږي. عُلِمَ انَّ رکن الصّوم یتِمُّ بالانتهاء عن الاشیاء الثلثة څکه معلومیږي چه رکن دروژی چه پوره کیږي په ترك داشیاء الثلاثة باندی(اکل،شرب،جماع) دي اوپه مذکوره دری واړوصورتونوکښی(احتجام،ادهان،احتلام) کښی امساك عن المفطرات الثلاثة موجوددی لهذا روژه هم نه ماتیږي وعلی هذا اوبناء پردی باندی. بله مسئله هم راووته یُخرّج الحکم فی مسالة التّبییت خارج شو تری حکم په مسئله دتبییت کښی، تبییت معنی

Maktaba Tul Ishaat.com

نیت کول دشپی نه ، امام شافعي صاحب وائي چه درمضان دروژی لپاره به دشپی نه نیت کوی اوکه دشپی نه دی نیت ونکړو نوروژه نه کیږي اومونږ(احناف) وایوچه که یوسړی په سهرکښی هم نیت وکړو نونیت نی صحیح دی اوروژه نی کیږي. فإن قصدالاتیان بالماموربه انما یلزمه عندتوجه الأمر خکه زاتلل دماموربه چه هغه روژه دا خوپه سړي هله لازمیږي کله چه سړي ته امرمتوجه شي، والامر انما یتوجه بعدالجزء الاول لقوله تعالی اوامردالله تعالی به هله راځی چه ورځ راشی دشپی خواجازت دی ځکه الله تعالی وائی ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ نوبیا پوره کړی روژه ترشپی پوری، نوچه ورځ راغله بیا به نیت کوی نومعلومیږي چه دشپی نه نیت ضروري ندی، نیت عبارت دی دقصدقلبی نه نوکه په ژبه نیت ونښی بیاهم روژه کیږي ځکه دشپی نه چه تراویح کیږي دخه لپاره؟ یاپشمنی کیږي دخه لپاره؟ نوکه په ژبه اووائی چه ( وبصوم غدٍنویتُ من شهررمضان ) بیاهم صحیح دی لکن لازمي ندی نودامعلومه شوه چه تبییت من اللیل ضروري ندی بلکه که دِصباح نه هم نیت وکړی نوصحیح کیږي واما دلالة النص هرچه دلالة النص دی، دادلالت دلفظ دی په ثبوت دحکم دمنطوق باندی، یوکس چه په یوه خبره باندی نُطق وکړو هغه ته منطوق وائی، نودغه حکم به دَمنطوق له وجهی نه ثابت وي اویوحکم داسی دی چه هغه مسکوت عنه وي اودهغه حکم ندی ذکرلکن دمنطوق اودمسکوت عنه عِلة یودی نوکوم حکم چه دمنطوق وي هغه به دمسکوت عنه هم وي لکه قرآن مجیدکښی راځی الله تعالی دموراوپلاراحترام باره کښی فرمائی ﴿ وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا * وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُلْ رَبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا * ﴾ سورة الإسراء، الایتان:۲۳،۲٤ ۰ یعنی ستاپروردگارحکم کوي چه دالله تعالی نه ماسوا دبل هیچا عبادت مه کوی اوموراوپلارسره به احسان کوی، احسانًا مفعول مطلق دی دفعل محذوف لپاره(واحسنوا بالوالدین احسانا) کچیرته ورسیږي ای‌مؤمنه ستاسره یو دمور او پلارنه بوډوالی ته یا دواړه بوډګان شي بیا مور او پلارته دأف تکی مه استعمالوه، اُف تکی په عربی کښی دمنع کولو لپاره راځي، عرب چه یوسړی دیوکارنه منع کوي نووائی چه اُف

لکه مونږه چه ماشوم دیوکارنه منع کوه . نا، ما، وایو، اومورپلاربه رټی هم نه بلکه مورپلارته به دادب اواحترام خبری کوی لکه بعضی بچیان موراوپلارته وائی(ته) داد ادب کلمه نده بلکه(تاسو) به ورته وایی۰ همدارنګه بنکته کړه موراوپلارته هغه وزری دذلت اودرحمت لکه مرغی چه خپل بچی ته دانه ورکوي نووزری نی.ورته بنکته کړي وي ددیرمحبت دوجهی نه۰ همدارنګه بیادادعاهم کوه خدایه زماموراپلارباندی ډیررحم وکړی لکه څنګه چه زه دوئ وروکی لوی کړی یم په ماباندی نی شفقت اومهربانئ دی نوخدایه ته هم پری شفقت اومهربانی وکړی، خدایه زه خو ددوئ داحساناتو بدله نشم ورکولی خدایه ته نی ورته ورکړی۰ دلته کښی اصلاً خبره په اُفِ کښی ده نومنطوق کلمه دأف ده اوهغه دعربی په لغت کښی دمنع لپاره راځی او مونږ څکه ددی نه منع یوځکه چه پدی سره مور او پلارته اذیت اوتکلیف رسیږي نوهرکله چه اف کلمه ویل موراوپلارته ناجائزده نوتکلیف ورکول یا ورته کنځل کول خوبدرجه اولی حرام دي اګرچه دضرب تکي یاشتم تکی مسکوت عنه دی لکن کوم علة چه دمنع دأف دی هغه زیات موجوددی په ضرب، شتم ، کښی نوهغه په دلالة النص سره مونږته معلومه شوه چه کنځل وهل وغیره هم حرام دي نص صرف اُف دی لکن هغه دلالة نه مونږ ته معلومه شوه چه کنځل اوضرب خوبیاډیرلوی جرم دی۰ نومصنف وائی فهی ما عُلِمَ علةً للحکم المنصوص علیه لغةً دلالة النص هغه دی چه معلوم شوی وي علت لپاره دیوحکم منصوص علیه دلغة له وجهی نه لااجتهاداً ولااستنباطاً نه داجتهاد اونه دی استنباط له وجهی نه، دی کښی تأمُل اوفکرته بلکلْ ضرورت نشته بلکه دلغة نه معلومیږي لکه مثال په طورکله چه مونږ په لغة دعربی کښی وکتلونودهغه معنی وه منع کول مثاله فی قوله تعالی مثال ددلالة النص پدی قول دالله تعالی کښی وَلاَ تَقُل لَهُمَا اُفٍّ وَّلاَ تَنۡهَرۡهُمَا مه وایه موراوپلارته دأف کلمه اورټه نی هم مه لکه قران کښی راځی ﴿ وَاَمَّا السَّآئِلَ فَلاَ تَنۡهَرۡ ﴾ سورة الضحی، الایة: ۱۰ ۰ څکه په لغت کښی علماء یولفظ دیوی معنی لپاره وضعه کوي۰ فَالۡعَالِمُ باوضاع اللغة پس عالم په وضعه دلغة، لکه مثلا اف کلمه په عربی کښی دڅه لپاره وضعه شویده اودی لپاره کوم کتاب کتل پکاردي۰الحمدلله جناب شیخ صاحب هم دهمدی عالمانوڅخه دی نوجاب شیخ صاحب زیاتوي چه ددی لپاره به دجوهری

Maktaba Tul Ishaat.com

دلغة كتاب دی الصحاح په شپږو(٦)جلدو كښې دی، یاورته دفیروزآبادی كتاب قاموس، یاورته لسان العرب كتل پكاردي. یفهمُ بأول السماع هغه عالم چه په وضعه دلغة خبروي نوهغه به پوه شي په اولی سمعی سره ان تحریم التأفیف لدفع الأذی عنها چه منع كول داف لپاره ددفعی دتكلیف دموراوپلارنه، اَفَّفَ یُؤَفِّفُ تأفیفاً دباب تفعیل نه دی معنی موراوپلارته اُف وبل. وحكمُ هذا النوعِ عمومُ الحُكمِ المنصوصِ علیه كوم حكم چه منصوص علیه چه هغه داُف حرمة دی نودا مونږه عام كړو لعموم عِلتّه خُكه چه علة ئی عام دی ولهذا المعنی قلنا اوددغی وجهی نه مونږه وایو بتحریم الضربِ والشتمِ والاستخدامِ عن الاب چه حرام دی دپلاروهل یاهغویٰ ته كنځل كول یادپلارنه خدمت اخستل بسبب الاجارة په مزدوری سره، یعنی پلاربه نه مزدوركوی. والحبس بسبب الدین اوپلاربه جیل كښی هم نشی غورځولی په سبب دقرض دخوی سره، ددی مطلب دادی چه خوی به ربوټ(حكومت ته اطلاع) نكوي حاكم ته خكه حاكِم ته خومعلومات نشته چه دا ستا پلاردی نوكیدای شی حاكِم ستاپلارستادقرضی له وجهی نه په جیل كښی وغورځوي اوداناجائزدي حالنكه( انت ومالُك لابیك ) اوالقتلِ قصاصاً همدارنګه قتل به هم قصاصاً نه كیږي مثلاً كه پلارولګیدواوخوی لیٖ‌ووژلو نوداپلاربه دخوی په بدل كښی نشی قصاص كولی خُكه پلارهسی خپل خوی نه وژنی معلومیږي داچه دی خوی ظالم به دومره ظلم كړی وي چه هغه به واجب القتل وي. ثم دلالة النصِ بمنزلةِ النصِ بیادلالة النص په منزلة دنص دی یعنی ددلالة النص چه كوم حكم ثابتیږي دابه داسی وي لكه دنص نه چه ثابتیږي یعنی دنص دوجهی نه چه حكم قطعاً اویقیناً ثابتیږي همدارنګه به دلالة النص دوجهی نه هم حكم قطعاً اویقیناً وي حتی صح اثبات العقوبة بدلالة النص تردی چه صحیح كیږي ثبوت دعقوبة په دلالة النص سره، یوحاكم ددلالة النص دوجهی نه یومجرم ته سزاوركولی شی قال اصحابنارح زمونږ علماء والی(احناف) وجبت الكفارة بالوقاعِ بالنص كفاره واجبه ده جماع باندی په نص سره هغه نص داچه یوسړی راغی رسول الله ﷺ ته درمضان مباشت وه اورسول الله مبارك ته لی اوویل ( هلكتُ واهلكتُ )یعنی هلاك شوم اوبنځه می هم خان سره هلاكه كړه . رسول الله ﷺ ورته وفرمائل چه ولی څه دی كړي؟

هغه صحابي ورته اوويل ( واقعتُ في نهاررمضان علی امرأتی ) يعني درمضان دورځې ما دخپلې زوجې سره جماع وکړه، نوپه نص کښې دجماع ذکرراغلی دی ، پیغمبرﷺ ورته اوفرمائل چه کفاره به ئې ورکوی ، یا یوغلام ازادکړه، یا شپیتو(٦٠) مسکینانوته دوه وخته ډوډۍ ورکړه، اویا به دوه میاشتې روژې نیسې، نوهغه صحابي ورته په جواب کښې اوویل چه یارسول الله ﷺ دیوی روژی له وجهې دومره مصیبت کښې راغلم نوچه لا دوه میاشتې روژې به څنګه ونیسم، اوماسره څوغلام هم نشته، اودروټي ورکولو طاقت مې هم نشته، پدې کښې یوسړی راغی اورسول الله مبارك ته ئې دکجوروبوه ډکه ټوکرۍ(لوښي) راوړوچه په هغې کښې پنځلس صاع کجوری وی رسول الله ﷺ ورته اوویل چه داواخله اوورشه په شپیتو مسکینانوئې تقسیم کړه نووائې چه آیا زما نه به هم څوك غریب وي؟ اوقسم ئې اوکړلو چه یارسول الله والله دمدینې‌منورې په ښارکښې زمانه بل څوك غریب نشته، نورسول اللهﷺ ورته اوفرمائل چه ورشه خپلوبچیانوته ئې ورکړه، لکن دادی هغه صحابي خصوصیت وه بل څوك کِفاره پخپلوبچیانوتشی تقسیموی. دا پورتنۍ حدیث په بخاري شریف کښې پداسې الفاظوسره ذکرشویدی . ﴿ حدثنا ابواليمَان اناشُعَيب عن الزُّهرى أخبرني حُمَيدُ بنُ عبدالرحمن أنَّ ابا هُرَيرة قال بَينما نحن جُلوسٌ عند النبي ﷺ إذجآءه رجل فقال يا رسول الله هلَكتُ قال مَا لكَ قال وقعتُ على امرأتي وانا صآئِم فقال رسول الله ﷺ هل تَجِدُ رَقَبَةً تُعتِقها قال لا قال فَهل تَستَطِيع ان تَصُومَ شهرَين مُتتابِعَين قال لا قال فهَل تَجِد إطعَامَ سِتينَ مِسكِينا قال لا قال فمَكَثَ النبيﷺ فبَينا نحنُ علیٰ ذٰلك أُتِي النبيُّ ﷺ بعَرَق فيها تمروالعَرَق المِكْتَل قال اينَ السائِلُ فقال انا قال خذ هٰذا فتَصَدَّق به فقال الرجُل اعلى افقَر منّي يَا رسُوْل الله فَوالله ما بينَ لا بَتيها يُريد الحَرَّتَين اهلُ بيتِ افقَرُ مِن اهل بيتِي فضحِكَ رَسُوْل اللهِ ﷺ حتّی بَدَتْ اَنيابُهُ ثم قال اَطْعِمهُ اَهلك ﴾ رواه البخاري، جلداول، صفحه: ٢٥٩ . نومطلب داچه داثابته شوه که یوسړي عمداً روژه په جماع سره ماته کړه نوپه ده باندې به کفاره وي، اصل کښې روژه څوامساك عن المفطرات الثلاثة ته وائی چه جماع، اکل، اوشرب، دی نوچه رسول الله ﷺ دجماع له وجهې نه په هغه صحابي باندې کفاره لازمه کړه اوحالانکه جماع دمفطراتوثلاثة څخه یومفطردی نوکچیرته یوکس درمضان په ورځ

کنبی خوراك اوياڅکاك وکړي عمداً نوېه ده باندی به هم کفاره وي ځکه چه داموړ ته په دلالة النص سره ثابته شوه اونص خوصرف په باره دجماع کنبی راغلی چه قول دصحابی دی چه هلکتُ واهلکتُ الفاظ دي هغه خوصرف جماع کړی وه اکل ، اوشرب خوئی نوه کړئ. وبالاکل والشرب بدلالة النص اوداکل اوشرب سره روژه خوړلو باندی کفاره ددلالة النص نه معلومه شوه اگرکه صحابی روژه عمداً په جماع سره ماته کړی وه وجماع هم یوصفت ده نوکه دجماع نه علاوه اکل اودشرب مفطرموجودشوهمغه حکم ئی دی ځکه افطارعمداً علة دی دکفاری لپاره. وعلی اعتبارهذاالمعنی اوپه اعتباردغی معنیسره قیل یُدارالحکم علیتلك العلة ویلی شویدی داراومداربه دحکم هم پدغه علت وي، دنص حکم چه دکوم علت له وجهی نه لگیدلی دی همدغه علت که بل ځائی کنبی هم موجودشی نوهغه مسکوت عنه به هم دمنطوق په حکم کنبی داخل وي لکه افطاربالأکل اوبالشرب، دی باره کنبی خوحدیث ندی راغلی لکن هغه هم موږ دافطاربالجماع لاندی داخل کړو کوم چه منطوق دی. قال الامام القاضی ابوزیدرح ویلی دي امام ابوزیدالدبوسي، ډیرلوی اصولی دی هغه وائی لوان قوماً یعدون التافیفَ کرامةً که چیرته یوقوم دتافیف ټکی دکرامت لپاره استعمالوي مثلاً یوځای کنبی دأف ټکی دجی(بالفارسی بلی.) یادقربان په ځای استعمالیږي نوبیابه نشی منع کیدای،مثلاً پلاراومورخپل اولادته او زویه یا اوبچیه اوازکوي اوبچی ورته وائی اُف(جی)یا(قربان)نودابچی نه گنهگاریږي ځکه علت ندی موجود، علت دحرمت تافیف اذیت دابوینودی‌نوکه یوځای کنبی پدی لفظ کنبی کرامت دابوینووي نوبیاهغه معنی دعلت موجوده نشوه. بل داچه په هغه ژبه کنبی دأف ټکی دموراوپلارادباً استعمالیږي. قدرتی کله کله یوټکی په یولغة کنبی په یوه معنی باندی راځی اوپه بل لغة کنبی په بله معنی باندی راځي، لکه دډنگرټکی بعضی خلك لاغرته وائی چه یوسری دبدن څخه خواراوکمزوری وي داکوره ختك اونوروعلاقو خلك دډنگرخناوراوغوائی ته وائی لکه پخوادلته کنبی دیوکلي نوم ډنگرزی وه نوبیا په هغه کلی کنبی ملایان پیداشواودهغه کلی نوم ئی بدل کړو اوادم زی ئی ورته غوره کړو وجه داوه چه عواموته خوپته نه لگیده چه ددی څه مطلب دی، نودمختلفو علاقو مختلف الفاظ وي

لکه یوځل دمروتویوطالب راغی اوشیخ الحدیث حضرت مولنا صاحب عبدالحق رحمه الله
ډیرزیات ضعیف وه نوهغه طالب مولنا صاحب ته وائی چه جی ډیرزیات ډنګرشوی نوهلته
کښې نورزیات خلك ناست وه هغوی غوصه شو چه دا لاځوك لیونی دی چه مولناصاحب ته
داسی وائی نومولنا صاحب ته خوالله پاك ډیرذکاوت ورکړی وه نوهغه پوه شو چه خلك
غوصه دي اوطالب غریب مطلب بل څه دی نومولناصاحب ورته وفرمائل اوبچیه ستاسوپه
اصطلاح کښې څکه تاسوډنګرلاغرته وایئ اوزموږ په اصطلاح کښې نه څکه موږډنګرغوائی
ته وایو. لایُحرم علیهم تافیفُ الابوین بیابه ابوینوته اُف کلمه ویل حرام نوي څکه داکلمه
دعزت ده په هغه لغة کښې. وكذلك قلنا في قوله تعالى همدارنګه موږوایوپدی قول دالله
تعالى کښې یایهالذین امنوا إذا نودِیَ ای مؤمنانوهرکله چه تاسوته اوازوشي دلمانځه الآیة
ای اقرأ الآیةإلى اخره ﴿ يَاَيُّهَاالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اِذَا نُوْدِىَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْ اِلٰى
ذِكْرِاللهِ وَذَرُواالْبَيْعَ۰۰۰الآية﴾سورة الجمعة، الاية:۹ ۰ یعنی ای مؤمنانوهرکله چه دجمعې
دورځې اذان وشي نوبیا دخدای جل جلاله ذکرته منډه وهي مسجدته ځي
اوخریدفروخت پریږدی، ولوفرضنا بیعاً لایمنعُ العاقِدینِ عن السّعی إلی الجمعة که چیرته
موږفرض کړو داسې یوه بیعه چه نه منع کوي هغه مشتري اوبائع دسعی دجمعې نه بأن
كان في سفينةٍ تجرى الى الجامع لايكرهُ البيع پداسې طريقې سره چه دامشتری اوبائع
دواړه په کشتی کښې سواره وي اوجامع مسجدته روان وي نودابیعه مکروه نده څکه موږته
دلالة النص سره دامعلومه شوه چه بیعه څکه منهی عنه ده چه دهغی علت اخلال في السعی.
دی نوپدی صورت کښې علت موجودنشو. اصلاً خودجمعې په ورځ دجمعې داذان نه پس
بیعه مکروه ده څکه کیدای شي ددی بیعې دوجهې نه ده نه دجمعې لمونځ لاړشي، یا لکه
دوه سړي دجمعې لمونځ ته راځي یوسره ګهړی(ساعت) دی اوبل ورته وائی چه داپه
ماخرڅه کړه نوپری خرڅه نی کړه حالانکه دجمعې اذان شویده لکن دوئ دواړه بس کښې
سپاره دي اومسجدته ځي لکن سوداوشوله نودابیعه جائزه ده څکه سعی کښې هیڅ نقصان
نه راځي که دوئ دواړه بیعه کوي لکن بس بیا هم روان دی اوودریږي نه، اصلاً
خودجمعې داذان نه پس بیعه څکه مکروه کړل شوی وه چه کیدای شي دسعی الی الجمعة

Maktaba Tul Ishaat.com

نه هغه پاتې شي اومذکوره صورت کښې داسړی له سعي الی الجمعة نه نه پاتې کيږي، بل داچه علة ندی موجود چه هغه منع دبيعې ده نوحرمة هم موجودنشوچه هغه اِکراه دبيعې ده . وعلی هذا قلنا اوبناء پردې باندې چه حکم دائر دی پخپله معنی باندې وجوداً اوعدماً اذا حَلَفَ لا يضرب امرأتَهُ که چيرته يوسړی قسم اوخوړوچه زه به خپله ښځه نه وهم فمَدّشعرها اوعضّها اوخنَقها نوويخته نی ورته راښکل يا نی چك وربا ندې ولګولو اوياني ورته پانسې ورکړه يحنثُ اذاکان بوجه الايلام نودا سړی به حانث کيږي که چيرته په طريقې د دردورکولوسره وي خکه ضرب موجودشو دضرب معنی چاته تکليف اودردورکول اودلته کښې درد موجوددی . آلمَ يُولِم ايلامًا معنی چاته درد رسول نوپه ويښتوکشکولوياپه چك لګولوياپه پانسې ورکولوسره خکه سړی حانث کيږي چه پدې کښې درد زيات موجوددی دضرب نه. ولووُجدصورةُ الضرب ومدُّالشّعرعندالملاعبة دونَ الايلام لايحنثُ که چيرته صورت دوهلو اويا دويښتوکشکولوموجودشوپه وخت دلوبوکښې بغيرد درد نه نوداسړی نه حانث کيږي خکه مقصودايلام ندی. ومن حَلَفَ لا يضربُ فُلاناً يوسړی قسم خوړلی دی چه زه به فلانکی نه وهم فضرَبَه بعدموته لا يحنثُ اوبيانې داسړی دمرګ نه پس ووهلو نونه حانث کيږي لانعدام معنی الضرب وهوالايلامُ له وجهې دنشتوالي دمعنی دوهلو چه هغه درد اوتکليف دی، خکه سړي نه خوروح وتې دی هغه خوبه درد اوتکليف نه پوهيږي. وکذا لوحَلَفَ لايتكلم فلاناً يوسړي اوويل قسم دی فلانکی سره به خبری نه کوم بيا هغه سړی مړشوفکلمه بعدموته لا يحنثُ اوبيادمرګ نه پس نې خبری ورسره وکړی نونه حانث کيږي لعدم الافهام خکه دلته کښې افهام اوتفهيم نشته ده، بل داچه مړوسره خبروکولو ته څوك کلام نه وائی وباعتبارهذا المعنی يقال اوپدی اعتبارسره چه وجوددعلة سره وجوددحکم راځی اوپه انعدام دعلة سره انعدام دحکم راځي ويل کيږي اذا حَلَفَ لا يا كُلُ لحماً يوسړی قسم اوکړلو چه زه به غوښه نه خورم فأكَلَ لحم السَّمَكِ أوالجراد لا يحنثُ نودماهي غوښه لی اوخوره اويا نی دملخ غوښه وخوره نه حانث کيږي خکه داغوښه نده ددی دواړو غوښه کښې التحام اولحميت نشته اوغوښه هغې ته وائی چه التحام(کلکوالی) پکښې موجودوي اوالتحام په هغه غوښه کښې موجودوي کومهٔ غوښه چې

دَمَوِيْ وي يعنى وينه په کښې وي اوپه ماهي ، اوملخ کښې وينه نده موجوده .ځکه وينه هغې ته وائي چه لمرته ئي کيږدي نوتوره شي اود دوى دوارو وينه په لمرکښې سپينه شي، دماهي اوملخ غوخې مثال داګئ پشان دی اګئ ته خوخوك غوخه نه وائي، اوبل داچه بناء دايمانوپه عُرف باندي وي ماهي اوملخ ته خوخوك په عرف کښې غوخه نه وائي لکه مونږ په ملك کښې دمنګل اوبده په.ورځ په غوخه باندي بنديز ده لکن دماهي غوخه بيا هم په هوټلو کښې موجوده وي ځکه پرې باندي دغوخې اطلاق نه کيږي يابوسرى چه دغوخې شوقي وي که هغه ته لس(۱۰) سيره ماهيان ورکړى بيا هم درباندي دغوخې مينه نه ماتيږي ولواکل لحم الخنزير اوالانسان يحنثُ اوکه دخنزيراويادانسان غوخه ئي اوخوړله نوبيا حانث کيږي ځکه هغې باندي دغوخې اطلاق کيږي لان العالِم باوّلِ السّماع يعلمُ ځکه عالِم په اوضاعو دَ لغة پوهيږي ان الحامل على هذا اليمين انماهوالإحترازعمّا ينشأ من الدم چه هغه څوك چه دا قسم ئي کړى وي چه غوخه به نه خوري مرادترى هغه غوخه ده چه په هغه کښې وينه وي فيکون الاحترازعن تناوُل الدمويّاتِ نوقسم ئي داکل ددمولاتونه دى يعنى چه زه به دمويات نخورم فيُدارُالحكمُ علىذلك نوداراومدار دحکم به پدغه لحميت باندي وي په کوم څيزکښې چه لحميت وي دهغه شي په خوړاك باندي به حانث کيږي وامّا المقتضى هرچه مقتضى النص دى، المقتضى په صيغى داسم مفعول سره، يومقتضِي دى په صيغى داسم فاعِل سره هغه نه مراد کلام دى اوبل په صيغى داسم مفعول سره دى اوهغه نه مراد مقتضى دى اواوس دمقتضى تعريف ذکرکوي فهوزيادةٌ على النصِّ دازيات دى په نص باندي، دنص نه مراد منطوق دى لايتحقق معنے النصّ الا به چه دنص معنى نه موجوديږي مګرپه دغه مقتضى سره، يعنى دامقتضى به ورته را اوباسى نوبيا به دنص معنى صحيح کيږي نوګويا مقتضى وائي دلالة الكلام على المسكوت يعنى دا دلالت دکلام په يوڅکى باندي چه هغه مسکوت دى په هغه چا تلفظ ندى کړى لکن پدغه مسکوت باندي دکلام صدق موقوف دى. لکه پيغمبرعليه السلام فرمائي ﴿ رُفِع عن امتى الخطاءُ والنسيانُ ومااُستُکرِهوا عليهِ ﴾ پورته کړى شويدى زما دامت نه خطاء اوهيره اوهغه څيزونه چه دئ په هغه باندي مجبوره کړى شي. لکه يوسړى بل سړي ته اووائي چه دکفرکلمه

اووایه ورنه وژنم دی نوهغه سړی دخان دبچ کولولپاره دکفرکلمه اووائی لکن په زړه کښی نی ایمان دی نوالله پاك به پدی باندی داسړی نه نیسی ځکه دئ په دی باندی مُکْرَه دی٠ لکه رسول الله ﷺ په زمانه کښی کافرانغلل اوحضرت یاسررضی الله عنه صحابی ته نی اوویل چه دکفرکلمه اووایه کنه وژنم دی هغه ورته په جواب کښی اوویل نی وایم بلکه زه به دی لااله إلا الله کلمه وایم نوشهیدنی کړو، بیا نی دهغه ښځی سمیّه رضی الله عنها ته اوویل چه ته دکفرکلمه اوویه نوهغی هم ورته انکاروکړو او وویل زما خاوند چه شهادت حاصل کړو نوزه هم شهادت غواړم هغه ئی هم شهیده کړله، بیاددوی ځوان ځوی وه عمار رضی الله عنه هغه ته نی اوویل چه دکفرکلمه اووایه هغه دکفرکلمه اوویله لکن زړه کښی نی ایمان وه، کافران تری لاړل دی نی پریښود لګ وخت پس دی په چیغواوژړا رسول الله ﷺ ته راغی او ورته نی اوویل چه یارسول الله زما موراوپلارخوپداسی طریقی سره دشهادت مقام حاصل کړو لکن مادځان دبچ کولو لپاره دکفرکلمه په ژبه اوویله لکن په زړه کښی می ایمان وه نوایت راغی ﴿ إلاَّ مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌ بِالْإِيْمَانِ٠٠٠الآية ﴾ سورة النحل،الاية:١٠٦ ٠ الله پاك هغه سړی نه نیسی چه دی مکره اومجبورشو په ژبه ئی دکفرکلمه اوویله لکن په زړه کښی نی ایمان وه٠ نوپدی حدیث دپیغمبرعلیه السلام کښی( الخطاء والنسیان ) به یوتکی مقدر راوباسی ورنه معنی نه جوړیږي ځکه که مونږ په دی حدیث کښی دړفع معنی داسی وکړو چه زما په امت باندی به خطاء اونسیاڼ اواکراه نه راځی نویقیناً دامعنی خوصحیح نده ځکه پدی امت کښی ډیرخلك خطاء کیږي اوډیروخلکونه خبره هیره شی اوډیرظالمان بعضی‌خلك په یوه خبره باندی مجبورکړي نودرُفع نه حقیقی معنی نده مراد نودلته به څه تکی مقدر ږدی نوبیا به صحیح کیږي هغه داچه( رُفع عن امتی إثم الخطاء والنسیان ) یعنی زما دامت نه الله تعالی دخطاء اودنسیان گناه پورته کړی ده، یعنی الله تعالی به نی نه نیسی که یوانسان نه په غلطی باندی یوکاروشو،یادیومسلمان نه لمونځ هیرشو، یایومسلمان په کفرمجبورشو لکه عماررضی الله عنه٠ نوهرکله چه مقتضی دلالة الکلام شو په مسکوت باندی داسی مسکوت چه دهغه نه بغیرکلام په خارج کښی نه صحیح کیږي نودرُفع امتی الخ نه مراد رُفع إثم الخطاء الخ دی

نوکلمه داثم مسکوت عنه دی خکه دامنطوق ندی اوپه حدیث کنبی ورباندی تلفظ ندی شوی، یاهمدارنگه بل حدیث کنبی راخی ﴿ انماالاعمال بالنیات وانما لکل امرئ مانوی الخ ﴾ رواه البخاري،صفحه:۱۳ ۰ معنی داچه هیڅ عمل بغیردنیت نه نه کیږي حالانکه مونږګورو چه ډیرکارونه بغیردنیت نه وشی لکه یوطالب روان دی لکن ناڅاپه راپریوځی نودده نیت خو دراپریوتونه وي، یالکه یوطالب کتاب مطالعه کولو لکن خوب ورته راغی او ویده شو نوخوب خوطالب ته بغیردنیت نه راغلی دی ، نوډیرکارونه کیږي لکن دانسان په اراده نوی، نوځنګه د(انما الاعمال بالنیات) معنی صحیح شوه۰ نودلته به هم مونږ یوټکی مقدر ږدو (انماثواب الاعمال بالنیات) دعملونوثواب په نیت سره دی یعنی که انسان یوکارکوي نیت ئی پکښی دثواب وه نوالله تعالی ورته ثواب ورکوي اوکه نیت ئی دګناه وي نوالله پاك ورته دګناه عذاب ورکوي، اوشوافع ورته لفظ دصحت مقدرکوي هغوی وائی(صحة الاعمال بالنیات) یعنی صحت داعمالوپه نیت سره دی کَاَنَّ النصُّ اقتضاه ګویا نص دهغی تقاضا کوي۰ اقتضاه سره وجهی دتسمی ته اشاره وشوه چه دی ته مقتضی ځکه وائی چه نص ئی غواړي۰ یوه دتبلیغیانوتقاضه ده، تبلیغیان هرڅه ته تقاضا وائی چه بازارته ځی سهراګشت ته ځی نوټولوته تقاضا وائی دغی وجهی نه شاعرمصرع جوړه کړیده

مصرع :     تبلیغ ټولې مزی مزی دي – شیرینی دي نمبری نوری ټولی تقاضی دي۰

لیصحّ فی نفسه معناه دی لپاره نص دهغی تقاضه کوي چه دنص معنی صحیح شی، ځکه دنص معنی بغیرددی نه نه صحیح کیږي لکه کله چه دموسی علیه السلام قوم ته داسمان نه تیارمَن اوسلوی راتلل، نوګرم بتیران اوسکنجبین نی خورلی وه نوتږي شول اوداوبومطالبه ئی وکړله نوقران کنبی راخی ﴿ وَاِذِ اسْتَسْقیٰ مُوْسی لِقَوْمِہٖ فَقُلْنَا اضْرِبْ بِّعَصَاكَ الْحَجَرَفَانْفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَیْنًا۰۰ الآیة ﴾سورة البقرة،الایة:٦٠ ۰ هرکله چه موسی علیه السلام دقوم لپاره داوبومطالبه وکړه نوالله تعالی ورته اوفرمائل چه په امسا باندی داکانی ووهه نودینه دولس(۱۲) ویالی جاری شوی، نودلته پدی آیت کنبی دفانفجرت نه مخکنبی کلام مقدردی اصل کنبی داسی دی(فضرب موسیٰ الحجر) دالله تعالی په حکم باندی موسی علیه السلام کانی وواهه ﴿ فانفجرت منه اثنتاعشرة عینا۰۰۰ الآیة﴾ بیادهغی نه دولس چینی جاری

Maktaba Tul Ishaat.com

شوی. دیته اندماج وانی، اواقتضاء النص هم ورته وانی. **مثاله فی الشرعیات** مثال دمقتضی په شرعیاتو کښی، اوس مصنف دمقتضی لپاره مثال بیانوي **قوله انتِ طالِقٌ** داقول دسړی دی خپلی ښځی ته انتِ طالِقٌ. طالِقٌ هغه سړی ته وانی چه هغه طلاق ورکونکی وي، مطلقه هغه ښځی ته وانی چه طلاق ورکړی شوی وي. **فان هذا نعت المرأة** ځکه دالفظ دطالِقٌ دښځی صفت دی **الاان النعت یقتضی المصدر** مگرنعت تقاضه دمصدرکوي ځکه چه هغه نی مأخذدی اوپه هرمشتقی کښی مبداءداشتقاق پرته وي نوپه طالِقٌ کښی طلاق پروت دی ، لکه اعْدِلوا هواقربُ للتقوی دهوضمیرعدل ته راجع دی ځکه په اعدلوا کښی عدل شته دی. **فکاَنّ المصدَرموجودٌ بطریق الاقتضاء** داداسی شولکه مصدرچه موجودوي په طریقی داقتضاء سره، نوانتِ طالِقٌ معنی شوه انتِ ذوطلاقٍ یعنی تاته طلاق درکړی شوی دی، دیته فاعل دی کذا وانی‌لکه تامرٌ په معنی دَ ذوتمرٍ اولابنٌ په معنی دَذولبنٍ ، بل مثال بیانوي دمقتضی النص **واذا قال اَعتِقْ عبدك عنّی بالف درهمٍ** یوسړی بل سړي ته اووانی چه ستا داغلام زما نه ازادکړه په زر(١٠٠٠) روپی **فقال اعتقتُ** نوهغه سړی وویل چه ازادمی کړو **یقعُ العِتقُ عن الاٰمِرِ** نوواقع کیږي عتق دآمِرله طرف نه **فیجِبُ علیه الالف** اوپدی آمرباندی زر(١٠٠٠) روپی هم واجبی دي په بدل دعتق کښی چه دغلام مالك ته به نی ورکوي **ولوکان الاٰمِرُ نوی به الکفارة** اوکه آمِرددی نه کفاره مراد وه، مثلاً دی آمِر روژه خوړلی وه نودروژی دخوړلوکفاره خوغلام ازادول دي نوکفاره نی صحیح ده **یقعُ عما نوی** دادغلام ازادیدل به دکفاری نه صحیح شي **وذلك لان قوله** اودا وقوع دعتق دآمِرنه صحیح کیږي ځکه قول دآمِرچه **اَعتِقهُ عنی بالف درهمٍ** ازاد کړه داغلام خپل زمادطرف نه په زر(١٠٠٠) روپی **یقتضی معنی قوله** غواړی دامعنی دقائل لره **بِعْهُ عنی بالفِ ثم کن وکیلی بالاعتاق** داپه ماخرخ کړه په زر(١٠٠٠) روپی بیا ته زما دطرف نه وکیل شه په آزاده ولو ددی غلام باندی **فاعتقهُ عنی** بیانی زما دطرف نه ازاد کړه **فیثبت البیع بطریق الاقتضاء** نوثابته شوه بیعه په طریقی داقتضاء سره **فیثبُتُ القبولُ کذلك** همدارنگه قبول هم پکښی ضمناً راغی داځکه چه بیعه په ایجاب اقبول سره منعقده کیږي. ( **البیع مبادلة المال بالمال بالتراضی وینعقِدُ بایجابٍ وقبولٍ** ) ایجاب رومبنی قول ته وانی اوقبول دویم قول ته

وائی، ایجاب ته خکه ایجاب وائی چه په مخاطب جواب واجبوي لکه یوطالب وائی داکتاب خرخوم دا ایجاب دی اوبل طالب اووائی وامی اخشتو نوداقبول دی یا لکه په نکاح کښې هم ایجاب اوقبول شته ملاصاحب وائی خاوند یا دهغه وکیل ته داجینئ چه دفلانی لورده ددومره مهرپه مقابل کښې تاپه نکاح شرعی محمدی سره قبوله کړیده، دا ایجاب دی ، خاوند یا دهغه وکیل ورته وائی اوقبوله کړی می ده ، داقبول شو. نوقبول هم ضمناً په بیع کښې راغی **لانه رکنٌ فی باب البیع** خکه چه قبول رکن دی په باب دبیع کښې، دبیعې دوه رکنه دي یوایجاب اوبل قبول . **ولهذا قال ابویوسُف** رح اوددغې وجهې نه امام ابویوسف رحمة الله علیه وائی **اذا قال أعتِقْ عبدَك عنِّی بغیرشیٔ** یوسړي بل سړي ته اوویل چه ستا دا غلام زما له طرف نه مفت ازادکړه **فقال اعتقتُ** نوهغه سړی اووائی چه ما ازادکړو **یقعُ العتقُ عن الأمِرِ** نوعتق دآمِرله طرف نه راغی گویا داکلام مقتضِی شو اوهبه مقتضٰی شوه نوهبه په مقتضی النص سره ثابته شوله . **ویکونُ هذا مقتضیاً للهبةِ والتوکیل** نویدی صورت کښې هبة اووکالت دواړه ثابت شول، مطلب داچه (هب عبدك علیّ ثم کُن وکیلی بالاعتاق )یعنی غلام ماته راوبښه اوبیائې زماله طرف نه ازادکړه. نویدی صورت کښې به په آمِرباندی ثمن نوي لازم **ولایحتاج فیه إلی القبض** پدی صورت کښې قبض ته ضرورت نشته **لانه بمنزلة القبول فی باب البیع** خکه داپه منزلة دقبول سره دی په باب دبیع کښې، یعنی داسې دی لکه یوسړی په باب دبیع کښې چه (قَبِلتُ)اووائی، اصلیت کښې داجواب دی داعتراض مقدره نه . اعتراض: چه هبة کښې خوقبض ضروري وي، واهِب چه یوه مؤهوبة موهوب له ته وبښي نوپکارده چه موهوب له دی هغه خپله موهوبه قبض کړي اودلته کښې خوقبض ندی راغلی؟ نوپه لایحتاج الخ عبارت سره مصنف جواب ذکرکوي . جواب دادی : چه دلته کښې هم دهغې قبض ضمناً راغلولکه په بیعه کښې چه کله بائع په مشتری باندی یوشی خرخ کړي نوپکارده چه مشتري هغه شی پخپله قبضه کښې راولی نولکه خنګه چه په باب دبیع کښې هم قبض ضمناً راغی اوحالانکه چه قبض په باب دبیع کښې رکن دی نودلته په هبة کښې هم ضمناً راغلو. یعنی قبض په بیع کښې رکن دی اوپه هبة کښې شرط دی نوهرکله چه اقتضاء کښې رکُن ساقط شونوشرط بدرجه اولی ساقط

Maktaba Tul Ishaat.com

شو. ولكن القبول ركنٌ فی باب البيع لکن مونږوایوچه قبول رکن دی په بیعه کښی فإذا البتنا البيع اقتضاءً هرکله چه مونږه بیعه اقتضاءً ثابته کړه نو البتنا القبول ضرورةً نوقبول موضرورتاً ثابت کړو بخلاف القبض فی باب الهبة په خلاف دقبض په باب دهبی کښی فانه ليس برُکنٍ فی الهبة ځکه قبض رکن ندی په هبة کښی ليكون الحكمُ بالهبة بطريق الاقتضاءِ حكماً بالقبض وحكم المقتضیٰ انه يثبت بطريق الضرورة نودی وجهی نه چه قبول په باب دبیعی کښی رکن وه اوهغه په اقتضاء کښی ساقط شونوپه باب دهبی کښی خوقبض شرط دی نوچه رکن داخل د شی وي اوهغه ساقطیږي نوشرط خوخارج عن الشئ وي هغه په درجة اولی سره ساقطیږي فيقدرُبقدرالضرورة نوپه اندازه دضرورة به مقدرکیږي ځکه مقتضیٰ خومونږه ددی لپاره راوباسوچه دهغه نه بغیرکلام نه صحیح کیږي، ضرورت باشد روا باشد، هرکله چه کلام مقدردضرورت دوجهی نه منځ ته راغلو نودا امرضروري شو، اوضروریاتوکښی داقانون دی چه الضروریُ یتقدرُ بقدرالضرورة، لکه دخنزیرغوخه په حالت داضطرار کښی جائز دی لکه الله پاك په قرآن مجیدکښی فرمائی ﴿ قُلْ لآَّ اَجِدُفِیۡ مَآاُوۡحِیَ اِلَیَّ مُحَرَّمًا عَلٰى طَاعِمٍ يَّطۡعَمُهٗۤ اِلاَّۤ اَنۡ يَّكُوۡنَ مَيۡتَةً اَوۡدَمًا مَّسۡفُوۡحًا اَوۡلَحۡمَ خِنۡزِيۡرٍ فَاِنَّهٗ رِجۡسٌ اَوۡ فِسۡقًا اُهِلَّ لِغَيۡرِاللّٰهِ بِهٖ فَمَنِ اضۡطُرَّ غَيۡرَبَاغٍ وَّلاَ عَادٍ فَاِنَّ رَبَّكَ غَفُوۡرٌرَّحِيۡمٌ *﴾ سورة الانعام،الاية:١٤٦.

نودلته کښی به هم دومره غوخه خوری شی چه دا انسان ژوند باقی پری پاتی کیدای شی ددی اندازه بیاهغه مبتلیٰ به ته پخپله معلومیږي چه څومره کافی دی. ولهذا قلنا اوددی وجهی نه مونږوایواذا قال اَنتِ طالِقٌ یوسړي خپلی ښځی ته اوویل انت طالِقٌ ونوی به الثلث لايصحُّ اوپدی سره ددی سړي دری طلاقه اراده کړی وي نونه صحیح کیږي ځکه په انت طالقٌ کښی به مونږ خامخا انتِ ذوطلاقٍ مقدر راوباسو، ځکه صفت نه صحیح کیږي بغیرددی نه نوذوطلاقٍ مونږه په اقتضاء النص سره ثابته وو، نو الضروری یتقدربقدرالضروة، نوپه ذوطلاقٍ کښی چه یوطلاق هم ورکړي نوښځه پری طلاقه شوه نوصرف یوطلاق کافی دی لان الطلاقَ يُقدَّرُ مذكوراً بطريق الاقتضاء ځکه دلته به طلاق مقدرکیږي په طریقی داقتضاء سره. فيقدرُ بقدرالضرورة نومقدرکیږي به په اندازه دضرورت سره والضرورةُ ترتفِعُ بالواحد اوضرورت په یوطلاق سره مرتفع کیږي فيُقدَّرُ مذكوراً فی حقِّ الواحد نوپه دی

صورت کښې هم يوطلاق مقدرکول پکاردي **وعلى هذا يُخرجُ الحکم فی قوله اوبناءپردی** باندې چه مقتضی مونږ دضرورت له وجهې نه راوباسو يوبل حکم ثابتيږي پدې **قول** ديوسړي کښې چه خپلې ښځې ته اووائی **ان اکلتِ** يعنی خاوندخپلې ښځې ته اووائی **ان اکلتِ فانتِ طالقٌ** ياوعبدي‌حرٌ يعنی که تاخوراك وکړونوته دی طلاقه وی **ونوی به طعاماً دون طعامٍ لايصحُّ** اوداسړی اووائی چه دينه خوزما ءراد دا معين شی وه نودده دانيت به نه صحيح کيږي خکه اکل، کُلُ مايُؤکلُ، ته وائی نوچه يوه نوړی(روټی) وخوري هم ښخه به طلاقه وي **لان الاکل يقتضی طعاماً** خکه اکل تقاضه دطعام کوي هرخنګه طعام چه وي **فکان ذلك ثابتاً بطريق الاقتضاء** نوداخوړل دمطلق طعام مونږ ته ثابت شوپه طريقې داقتضاء النص سره **فيقدّرُ بقدرالضرورة** نودابه مقدرکولی شی په اندازه دضرورت سره **والضّرورة ترتفعُ بالفردالمطلق** اوضرورت په مطلق فردسره هم پورته کيږي يعنی مطلق خوراك چه راغی خواه منه(سيب) نی وخوره، روټی، بيسکټ، وغيره ټولوته شامل دی خکه دينه اکل وائی **ولاتخصيص فی الفردالمطلق** اوپه فردمطلق کښې تخصيص نشی کيدای چه زما مرادترينه چرک، وه ياکډوغيره **لان التخصيص يعتمِد العموم** خکه دتخصيص اعتمادپه عموم وي، اودلته کښې عموم ندی بلکه مطلق دی هرفردتری مراددی· **ولوقال بعد الدخول اعتدّی** يوسړی خپلې ښځې سره دخول وکړو اوبيا ورته وائی عدت تيرکړه، نوعدت خوفرعه دطلاق ده خکه ښخه هله عدت تيره وي چه طلاق ورکړی شی نودينه معلومه شوه چه طلاق ورکړی شويدی نوطلاق نه به مرادطلاق رجعی‌وي، اودابعدالدخول نی خکه ووبل چه يوی ښځې سره دخول نوی شوی اوطلاق ورکړی شی نوبيا خوعدت نشته لکه قرآن مجيدکښې راخی﴿ يٰٓاَيُّهَاالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَانَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّوْنَهَا فَمَتِّعُوْهُنَّ وَسَرِّحُوْهُنَّ سَرَاحًا جَمِيْلاً * ﴾ سورة الاحزاب،الاية: ٤٩ · ای مؤمنانوهرکله چه تاسو دمؤمنانوښخوسره نکاح وکړه اوبيا دهغې نه روسته تاسوهغوښخوته طلاق ورکړو چه لاسونه موندی ورنژدی کړي نوتاسولره پدې ښخوباندې عدت نشته اوورکړی ددوئ متاع(سامان) اوجدائی کړی په ښه جداکيدوسره· **ونوی به الطلاق** اوکه نيت نی دطلاقووي، نيت پکښې خکه معتبردی چه

دا دَالفاظوکنایة څخه دي اوپه الفاظ کنایة کښې دارمدارپه نیت سره وي څکه کیدای شي نعمتونه نی ترې مراد وي چه ښځی ته وانی چه زما نعمتونه وشماره څومره نعمتونه می درته راوړیدی نوځکه نی اوویل چه ونوی به الطلاق چه غیرتری خارج شی. **فیقعُ الطلاقُ اقتضاءً** نوطلاق واقع شوپه اقتضاء النص سره. **لان الاعتداد یقتضی وجودالطلاق** څکه اعتداداوعدت تیرول داتقاضه دوجود دطلاقوکوي سابقاً اویا دافرعه دطلاقوده **فیُقدّرُ الطلاق موجوداً ضرورةً** نوطلاق به ضرور مقدرکوئ شی چه داموجوددی **ولهذا کان الواقِعُ به رجعیاً** نوچه طلاق په طریقی داقتضاء سره واقع شونوطلاق به طلاق رجعی وي **لان صفة البینُونةِ زائدةٌ علی قدرالضرورة** څکه صفت دبینونت زائددی په قدردضرورة باندی، څکه ضرورة خوپه رجعی سره مرتفع کیږي نوبینونة ته هیڅ ضرورت نشته **فلایثبُتُ بطریق الاقتضاء** نوطلاق بائن په طریقی داقتضاء النص سره نه ثابتیږي **ولایقع الاواحدلما ذکرنا** نونه واقع کیږي مګریوطلاق څکه یوطلاق رجعی نه پس هم ښځه عدت تیروي لکه څنګه مخکښې داخبره مونږ ذکرکړه. عبارة النص، اشارة النص، دلالة النص اواقتضاء النص کښې دټولونه اوچته درجه دعبارة النص دی بیا وروسې درجه داشارة النص دی اوبیاوروسې ددلالة النص درجه دی اوترټولونه لاندې درجه داقتضاء النص دی، اوکه ددی ټولو په مابین کښې تعارُض راغی نوترجیح به عبارة النص ته ورکولی شی اوکه داشارة النص اودلالة النص په منځ کښې تعارُض راغی نوترجیح به اشارة النص ته ورکولی شی، اوکه ددلالة النص اواقتضاء النص په مابین کښې تعارض راغلی وي نوترجیح به دلالة النص ته ورکولی شي.

**فصلٌ فی الامرِ** فصل دی په بیان دامرکښې، امرداقسامودخاص نه یوخاص دی، لکن شریعت کښې دامرډیرلوی مقام دی څکه یې په مستقل فصل کښې ذکرکړو. **الامرُ فی اللغة قولُ القائل لغیره افعل** امرپه لغة کښې ویل دیوقائل دي بل سړي ته « افعل» لکن علی سبیل الاستعلاء یعنی کوم سړئ چه امرکوي هغه به عالی وي اوسافِل ته به امرکوي لکه پلارچه خوی ته والی داکاروکړه نوداهم امردی، داستعلاء داقیدځکه ضروري دی چه التماس اوذعا ترې خارج شي، التماس: طلب دمساوي دی دمساوي نه لکه یوملګری بل خپل ملګری ته اووالی داکاروکړه نودا التماس دی اوامرندی، یایوبنده الله جل جلاله ته

سوال کوي ﴿ رَبَّنَآ اَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَّثَبِّتْ اَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴾سورة البقرة،الاية:۲۵۰ ۰ دادعا ده اوديته موږ امرنشوويلی اګرچه صيغه دامرده لکن بنده چه الله پاك نه خه غواړي ديته دعا ويلی شي۰ اودافعلْ نه مراد صرف دا افعل ندی بلکه كُلُ مايدُلُ على الطلب ترې مراد دی اسم فعل وي لکه نزالِ په معنی د اِنزِلْ ، يالکه تراكِ په معنی دأترك نوهرهغه شي چه هغه صيغه صيغه دامروي خوا که هغه داِفعلْ په وزن باندی وي اوکه دنزالِ اود تراكِ په وزن باندیوي، اوبرابره خبره ده چه هغه امرحاضروي لکه اضرِبْ يادمتکلم يادغائب صيغي وي، اوبرابره خبره ده چه امرمعلوم وي اوکه مجهول وي داټول په امرکښی داخل شو، افعل خو ئی صرف ددی لپاره راوړو چه مطلب ئی داموي، ﴿ اَقِيْمُواالصَّلٰوةَ وَاٰتُواالزَّكٰوةَ ﴾ سورة البقرة،الاية:۴۳ ۰دادواړه دمعلوم صيغي دي اوامردی ﴿ لِيُنْفِقْ ذُوْسَعَةٍ مِّنْ سَعَتِهٖ ﴾ سورة الطلاق، الاية:۷ ۰دادغائب صيغه ده اوامردی، نومراد دافعل نه كلُ صيغهٍ تدلُ على الطلبِ سواءُ كانت صيغةُ حاضرٍ اوغائبٍ اومتكلمٍ اومعروفٍ اومجهولٍ ۰ **وفی الشرع** اوامربه شريعت کښی **تصرف الزام الفعل على الغير** داتصرف دلازم کولو دفعل دی په غيرباندی، چه يوسړی په بل سړي باندی لازم کړي چه داکاربه کوی لکه قران مجيد کښی راځی ﴿ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ ۰۰۰الآية ﴾ سورة البقرة، الاية۱۸۳ ۰دا صيغه دامرندی لکن الله جل جلاله ددی ايت په واسطی سره روژه فرض کړی يالکه ﴿ وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيْلا ﴾ سورة العمران،الاية:۹۷ ۰ يعنی په خلکوباندی حج فرض دی چه څوك دلاری دمصرف طاقت لري، نودلته کښی هم الله جل جلاله الزام وکړو چه داکاربه کوئ، دعلی قيد سره ترې نذر خارج شوځکه نذر کښی الزام دشی په خپل نفس باندی وي۰ وذكربعضُ الائمة اوبعض ائمة ذکرکړيدی ان المراد يختصُ بهذه الصيغة چه امرنه مراد همدغه صيغه دافعل ده، دی نه مراد دمصنف اعتراض کول دي په هغوعلماؤ باندی چه امرئی په صيغه دافعل پوری خاص کړيدی ځکه دالله جل جلاله کلام خوازلی دی نوالله پاك خوخپلوپيغمبرانوته په مختلفوژبواوامرذکرکړيدي هلته کښی خوصرف دافعل صيغه نوه، اوبل داچه بعضی خلك وائی چه درسول الله ﷺ اقوال موجب دي اوافعال ئی موجب ندي ځکه يوځل رسول الله ﷺ پنړے مبارکي وويستي نوصحابه

Maktaba Tul Ishaat.com

کرامو هم خپلی پیړۍ وویستی نورسول الله مبارك منع کړل او ورته ئی وفرمائل چه زما پیروکښی خوپلیتی وه خکه می وویستی، نودینه معلومیږي چه رسول الله ﷺ فعل موجِب ندی، همدارنګه رسول الله ﷺ به مسلسل روژی نیولی نوصحابه کرامو هم مسلسل روژی نیول شروع کړل نوهغوی ئی هم منع کړل نومصنف اعتراض ذکرکوي اووائی **واستحال ان یکون معناه** داخبره محاله ده چه خلك ددی خبری نه دامطلب واخلی **ان حقیقة الامریختص بهذه الصیغة** چه حقیقی امرمختص دی په صیغی دافعل پوری **فان الله تعالی متکلمٌ فی الازل عندنا** بلکه الله تعالی خوپه ازل کښی کلام کړیدی زمونږ په نزد باندی **وکلامه امرٌ ونهیٌ واخبارٌ واستخبارٌ** اودالله پاك کلام کښی خوامر، نهی، اخبار، اواستخبار ټول موجود دي **واستحال وجودهذه الصیغة فی الازل** اومحاله ده چه داصیغه دی په ازل کښی هم موجوده وه، نودی وجهی نه هره صیغه به چه وه نودهغی زمانی مطابق به وه اودوحی الفاظ هم نوه بلکه کسلسلة الجرس غوندی به راتله نوپه هغی کښی داصیغه وه اویانوه لکن پیغمبران به پوه شو چه الله پاك مونږ نه دامطالبه کوي، **واستحال ایضاً** همدارنګه داهم محاله ده **ان یکون معناه ان المراد بالامرللاٰمِر یختَصُ بهذه الصیغة** چه مطلب ددوئ به داوي چه مراد په امرداِمرسره به صرف صیغه دافعل وي **فان المراد للشارع** مراددشارع دامرنه **وُجوب الفعل علی العبد** وجوب دفعل وي په بنده باندی خکه کتِب علیکم الخ کښی خوداصیغه نشته همدارنګه ولله حج البیت علی الناس الخ کښی. **وهومعنی الابتلاء عندنا** دامرمعنی ابتلاء ده زمونږ په نزدچه الله تعالی یوبنده مبتلا کیږي چه داکاربه کوی **وقدثَبَتَ الوجوبُ بدون هذه الصیغة** اوپه تحقیق سره وجوب ثابتیږي بغیرددی صیغی نه کله کله به وجوب وي اوداصیغه به نوي، **الیس انه وجب الایمانُ** آیانده داسی چه واجب دی ایمان **علی من لم تبلُغْه الدعوةُ بدون ورود السمع** په هغه چا باندی چه هغه ته دعوة دایمان نوی رسیدلی بغیرددراتلودسمعی نه، امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی که یوسړی دغره په خوکه کښی وي اوده ته پیغمبرعلیه السلام ندی راغلی لکن الله جل جلاله دی سړي ته عقل ورکړیدی نوبیدی سړي باندی واجبه ده چه ذالله تعالی دوجوداودالله تعالی دوحدانیت قائله شی خکه داعَقل هم یوُرَسُول دیٔ لکه

قرآن مجيد كښې راځي ﴿ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيْنَ حَتّٰى نَبْعَثَ رَسُوْلاً ﴾سورة الإسراء، الآية:١٥ ۰
يعني مونږ هيڅ يوقوم ته عذاب نه ورکوه ترڅوچه پيغمبرورته ورونه ليږو، نورسول عام دی
که انسان وي اوکه عقل وي نوکه يوسړی دغره په څوکه کښې هم اوسيږي اوپيغمبرعليه
السلام اويادهغه نائب چه عالم دی نوي راغلی لکن عقل ورسره وي بيابه هم الله پاك دده
نه تپوس کوي چه زما دذات په وجوداووحدانيت باندی دی ايمان ولی نوه راوړی څکه
دادومره کائنات بغيرد موجِداوبغيردخلّاق العليم نه نه پيداکيږي ، يواعرابی نه چاتپوس وکړو
چه تاسره دخدای جل جلاله دَوحدانيت اوخلاقيّت څه دليل دی ؟ نوهغه ورته اوويل چه
دقدمونودانښې چه په لاره باندی لګيدلی دي داپه ماشی دلالت کوي يعنی چه په لاره
څوك تيرشويدی يابه لاره باندی داوښ پچه وه نوپته لګی چه په لاره باندی اوښ
تيرشويدی نوهرکله چه يوه بعره په بعيردلالت کوي اودقدمونونښې په ماشی اومسيردلالة
کوي فکيف لاتدل السموات السبعُ والارضون والجبال علی الخلاق العليم الخبير·
نودادومره اسمانونه اوځمکی غرونه وغيره به دالله تعالی په خلاقيت دلالة نکوي چه ددی
لپاره يوخالِق موجوددی، داخبره اعرابی دعقل نه وکړه دی وجهی نه عقل هم په انسان
باندی معرفت دالله تعالی واجبوي يالکه قران مجيدکښې راځي ﴿ لَوْكَانَ فِيْهِمَآ اٰلِهَةٌ اِلاَّ اللّٰهُ
لَفَسَدَتَا ﴾سورة الانبياء، الاية: ٢٢ ۰ نوداهم دعقل نه معلوميږي که چيرته پدی ځمکه کښې
نورخدايان موجود وې نونظام دعالم به درهم برهم وه اوباقی به نوه پاتی شوی مثلاً که
ددوه چرګانوجنګ وي اوددوئ منځ کښې ميګی راشی نوڅه حال به ئی وي؟ همدارنګه
که ددوه اوښانويادوه هاتيانوجنګ وي اومنځ کښې ئی دګډی يابزی بچی راشی نوڅه
حال به ئی وي؟ نوکه دوه خدايان شی اويووائی باران کوم بل وائی نی کوم، يايوخدای
زلزله کوي اوبل ئی نه کوي اودواړه په جنګ شی نومونږ به چيرته وه څکه يوبه اسمان
اوچتولو اوبل به ځمکه اوچتوله، نوعقل هم حاکم دی کم ازکم مونږته داوائی چه الله
تعالی وحدهٗ لاشريك ذات دی۰ قال ابوحنيفة رح امام ابوحنيفة صاحب وائی لولم يبعث
الله تعالی رسولاً که الله تعالی يورسول نوی راليږلی يوقوم ته لوجب علی العقلاء معرفته
بعقولهم نويه هغوئ باندی دخدای جل جلاله معرفت واجب دی په واسطی

Maktaba Tul Ishaat.com

دعقلونوددوئ فیحمل ذلك نوهغه علماء چه وائی چه امرنه بغیروجوب نه راځی دهغوی مطلب دادی اودهغوی داخبره به حمل کولےشی پدی باندی علی انّ المراد بالامریختص بهذه الصیغة چه مرادپه امرسره مختص دی پدی صیغی سره فی حق العبد فی الشرعیات په حق دعبدکښی په شرعیاتوکښی یعنی په حق دعبدسره شارع خارج شونوپه شرعیاتوکښی پکارده چه صیغه دامرراغلی وي حتی لایکون فعل الرسول بمنزلة قوله افعلوا تردی چه ندی فعل درسول په منزلة دقول درسول چه افعلوا ، رسول چه خلکوته وائی افعلوا یعنی داکاروکړی نوصراحتاً ددی نه وُجوب معلومیږي، اوچه یوکاررسول الله ﷺ پخپله کوي دهغه نه وجوب نه معلومیږي کیدائی شی هغه درسول الله ﷺ خصوصیت وي ځکه ډیرکارونه داسی دي چه هغه درسول الله ﷺ سره خاص وه دی وجهی نه دعلماؤ مطلب دادی چه هغه امرکوم چه دوجوب لپاره دی هغه هغه دی چه درسول الله ﷺ دمبارکی ژبی نه وتی وي اوپاتی شودرسول الله افعال هغه وجوب نه ثابتوي کیدای شی هغه فعل دهغه خصوصیت وي ورنه که رسول الله مبارك دهغه فعل سره داسی ویلی وي چه داسی کوی نوبیا هغه موجب دی ځکه قول ورسره راغی، لکه په حجة الوداع کښی ټول صحابه درسول الله مبارك سره موجودوه اوده مبارك په قدم په قدم فرمائل (خذوا عنی مناسِکَکُمْ لعلی لااراکم بعدعامِ هذا ) یعنی زما نه دحج طریقی زده کړی بیابه موزه نه وینم اوتاسوبه مانه وینئ، درسول الله ﷺ دا آخرنی حج وه، دی نه اتیا(۸۰) ورځی پس رسول الله مبارك ددی دنیانه تشریف یوړو۰ نودلته به صحابوُدرسول الله ﷺ فعل ته کتل ځکه چه رسول الله ﷺ ورته په ژبه ویلی وه چه مانه دحج طریقی زده کړی نودافعل موجب دی ولایلزمُ اعتقادُ الوجوب به اودرسول الله ﷺ په فعل به دوجوب عقیده نه لازمیږي، ځکه درسول الله ﷺ افعال احتمال دخصوصیت لري۰ والمتابعةُ فی افعاله علیه السلام اومتابعت درسول الله ﷺ په افعالوکښی انما تجبُ عندالمواظبة واجبیږي په وخت دهمیشوالی کښی،چه رسول الله ﷺ په کوم فعل همیشوالی کړی وي نوداددی دلیل دی چه دا فعل واجب دی۰ وانتفاء دلیل الاختصاص اوبل په هغه صورت کښی واجبیږي چه هلته دلیل داختصاص نوي اوکه نه هلته دلیل دخاصیت موجودوي نوبیا وجوب پری نشته لکه قران مجید کښی راځی ﴿

خَالِصَةً لَّكَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾سورةالاحزاب، الاية:٥٠ · پيغمبرعليه السلام ته كه يوه ښځه ځان وبښي نوجائزه دى لكن دبل چانكاح بدون مهرنشي كيداى لكن دپيغمبرعليه السلام نكاح بدون مهرهم كيداى شي ځكه قران پاك ذكركړل نومقصددادى چه صيغه دامردرسول الله ﷺ موجب ده اوافعال درسول الله ﷺ موجب ندي ځكه هغه احتمال دخصوصيت لري چه دافعل به درسول الله ﷺ سره خاص وي دغي وجهى نه علماء وائى كه درسول الله ﷺ دقول اودفعل په مابين كښي تعارُض راشي نوترجيح به قول ته وركولى شي ځكه رسول الله ﷺ فرمائى ( لاتستقبلوا القِبلة ببولٍ ولا تستدبروها ) يعنى په وړكى اودس ماتى او لوى اودس ماتى كښي به قبلى ته مخ اوشا نه كوي نودادرسول الله مبارك قول دى، اوبل درسول الله مبارك فعل دى لكه ابن عمروائى زه يوځل په كوټه وختم نورسول الله ﷺ اودس ماتولو اوقبلى طرف ته ئى مخ وه نوچه درسول الله ﷺ فعل قانون كُلي دى اودهغه فعل خصوصيت لري نودقبلى احترام په مونږاوتاسوباندى لازم دى په پيغمبرعليه السلام ندى لازم ځكه چه پيغمبرعليه السلام دخانه كعبى نه افضل دى نواحترام مفضول دافضل كوي لكه شاګرد به داستاد احترام كوي استادباندى دشاګرداحترام لازم نه دى ، نورسول الله ﷺ افضل خلق الله دى حتى من العرش والكرسى واللوح والقلم، نواول خوهغه ﷺ قبلى ته مخ كړى هم نه وو پيغمبرعليه السلام اودس ماتى ته ناست وه نوپه زينه (اندرپايه) باندى ځوك وختونوپيغمبرعليه السلام ترى بل طرف ته مخ واړولو نوقبلى ته ئى مخ مبارك برابرشو نوهغه صحابى ګمان وكړو چه ګويا قبلى ته ئى مخ دى، بل داچه رسول الله مبارك باندى عين كعبى ته كتل لازم وه اودادهغه معجزه وه، نوچه يوسړى خانه كعبه كښي وي اودى عين كعبى ته لمونځ نه كوي نومونځ ئى نه كيږي نوكه بيت الخلاء كښي ناست وي نوعين كعبى ته به مخ نكوي كه دهغى اطرفو ته مخ كړي نوجائزه ده· نودلته كښي هم ترجيح قول ته دى عندالتعارض بين قول النبيﷺ وفعله ، نوفعل به بغيردقرينى نه نشي موجب كيدالى چه هغه قرينه د مواظبة ده ياقرينه دقول ده مع الفعل وغيرذالك· فصل دافصل دى په بيان دامرمطلق كښي يعنى يوامرراغلى خومطلق دى اوځه قرينه هم پكښي لده موجوده نوآيا دا امربه دلالة په وجوب باندى كوي اوكنه؟ بعضي اواموركښي خوقرينه

Maktaba Tul Ishaat.com

موجوده وي نودقرینی له وجهی نه وجوب مقصودوي اختلف الناس فی الامرالمطلق دعلماؤ اختلاف دی په امرمطلق کنبی ای المجردعن القرینة داسی امرچه په هغه کنبی قرینه نوي موجوده داسی قرینه الدالة علی اللزوم وعدم اللزوم چه هغه دلالت کوي په لزوم اوعدم لزوم باندی، اوکوم امرکنبی قرینه موجوده وه اوهغه قرینه دوجوب وه نوهلته به بیا امردفرضیت په معنی باندی مستعملیږي لکه قران مجیدکنبی راځی ﴿ أَقِيمُواالصَّلٰوةَ وَاٰتُواالزَّكٰوةَ ﴾الله تعالی فرمالی منځونه قائم کړی اوزکاتونه ورکړی لودلته کنبی قرینه موجوده ده ځکه بل ځای په قران مجیدکنبی راځی ﴿ إِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا *﴾سورةالنساء،الاية:۱۰۳ ۰ یعنی مونځ په مسلمانانوباندی فرض دی کتابا په معنی دفرض سره لکه ﴿ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ ﴾ ای فُرِض علیکم الصیامُ نومعلومه شوه چه اقیمواالصلوة امردوجوب او فرضیت لپاره دی ځکه دکتاباً موقوتاً قرینه دی او دلالة کوي پدی باندی چه اقیموا الصلوة۰۰۰الآیة دا امردوجوب اوفرضیت لپاره دی، همدارنګه داقول دالله تعالی ﴿ واتوالزکاة ﴾دلته کنبی هم قرینه موجوده ده هغه داچه بل ځای په قران مجید کنبی راځی ﴿ وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَايُنْفِقُوْنَهَا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيْمٍ يَوْمَ يُحْمٰى عَلَيْهَا فِيْ نَارِجَهَنَّمَ فَتُكْوىٰ بِهَاجِبَاهُهُمْ وَجُنُوْبُهُمْ وَظُهُوْرُهُمْ هٰذَا مَاكَنَزْتُمْ لِأَنْفُسِكُمْ فَذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَكْنِزُوْنَ * ﴾سورة التوبة ، الاية: ۳٤ ۰ الله تعالی فرمالی هغه کسان چه خزانه کوي سره زر اوسپین زر( كَنَزَ يَكْنِزُ ) په معنی دخزانه کولوسره ، کنزته هم ځکه کنزوالی چه سرې جمع کړې وي۰) اودهغوئ له زکات نه ورکوي نودوی ته دعذاب زیرئ ورکړه یعنی دوئ باندی به عذاب راځی( زیری خودهغی خبری وي چه سری خوشحاله کوي، البشارة: الخبرُ السار، بشارة هغه خبری ته والی‌چه سری لی واوري اوپه بشره باندی لی خوشحالی خوره شي لکن دلته کنبی فبشرهُم تکی دلهکم لپاره دی، تهکم: دینه والی چه پوسری ذلیله کوی۰) اودغه سره زراوسپین زرپه کوموکنبی چه سری زکات نه ورکولو دابه دجهنم په اورګرم شي( حمیَ یحْمی په معنی دګرمیدوسره، حُمْی لبی له والی هغی کنبی هم سرئ ګرم شي ) اوبیابه پدغوسروزرو سپینوزرو دهغوکسانوچه زکاة لی له ورکولو لندي ،ارځونه ، شاګانی داغلی شي( کَوٰاً یکوي معنی داغل ، مکوات په عربی

الا دلرضودی حکه
کښی ایستري ته والی نوبه ایستري سره هم جامه داغلی شي) ولی چه
ویلی شي هذا ماکنزتم نوداهم معلومه شوه چه داتوالزکاة امر ده مهربن والی چه
لوی وعید په ترك دفرضوسره الله تعالی خپل مخلوق ته ورکوي، کیدوسبب دا
آیت کښی دانسان په بدن کښی ددی دری( تندی، اړخ، شا ) خایونوذکر په تندی باندی
چه هرکله سوال کونکی زکاة غواړي اومالداره سړي ته ورشی نودبخیل په تندی باندی
دولس بجاؤ شی اوپه تندي کښی نی گورنجی پیداشی اوبعضی سالل وي چه دسړي نه نه
خي نودا مالداره تری مخ واړوي اوچه بیاهم نه خي نوشاورته واړوي نوخکه الله تعالی به
ورته په دی دری خایونوعذاب ورکوي. نحوقوله تعالی لکه داقول دالله تعالی وَإِذَا قُرِئَ
الْقُرانُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَاَنصِتوا لَعَلَّكُم تُرْحَمُونَ هرکله چه دقران تلاوت کیږي نوتاسوغوږورته
کیږدی اوبیاچپ شی‌دی لپاره چه تاسوباندی رحم وکړی شی، دلته کښی دفاستمعواله نه
پوره وجوب نه معلومیدو وانصِتوا سره نی وضاحت وشواوداقرینه ده پدی باندی چه
فاستمعوا امردوجوب دی، نوځکه نی روسته انصِتوا راغلونومعلومیږي چه پدی صورت کښی
سکوت لازم دی ځکه دالله تعالی لخوا رحمة هله نازلیږي چه دالله تعالی
دواجبواوفرضوتعبداري وشی نوانصِتوا سره وجوب لازم شواودا امردوجوب دی وقوله تعالی
همدارنگه پدی قول دالله تعالی کښی وَلَاتَقْرَبَا هذه الشَّجرة فَتكُونَ من الظّٰلمين مه
نزدوکیږئ دی ونی ته ای ادم علیه السلام اوبی‌بی هوا ورنه دظالمانوله جملی به شی،
نومعلومیږي چه نهی هم دوجوب لپاره ده، نودوعیدپدی خبره باندی دال دی چه گویا
دلاتقربا نهی دوجوب لپاره ده اوپه نهی کښی امرضمناً موجوددی ځکه دلاتقربا معنی ده (
اجتنبا ) ځکه امراونهی پخپل منځ کښی ضدین دي نونهی عن الشئ دا امروي بضدالشئ
نودلاتقربا ضددی (اجتنبا ) والصحيح من المذهب ...تيح مذهب دادی ان موجبَه
الوجوبُ چه ددی موجب هغه وجوب دی چه گویاداشی واجب دی امردباری تعالی تقاضه
کوي پدی باندی چه داشی لپاره دوجوب دی ځکه قران مجید کښی راځی ﴿
فَلْيَحْذَرِالَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ اَمْرِهٖ اَنْ تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ اَوْيُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ * ﴾سورة النور، الاية:
٦٣ . ودویریږي هغه کسان چه هغوی مخالفت کوي دامرالله تعالی نه چه هغوی ته ...

Maktaba Tul Ishaat.com

کنبی وغورځول شی اویابه ورته دردناك عذاب ورکړی شی ، نومعلومیږي چه دالله تعالی دامرمخالفت په سړي باندی عذاب راولی نومعلومه شوه چه امردالله تعالی مطلقًا لپاره دوجوب دی همدارنګه پیغمبرعلیه السلام فرمائی ( لولا أن اشُقَ علی امتی لامرتُهم بالسواكِ عندکلِ الصلاةِ ) که چیرته زما په امت باندی داخبره دمشقت نه ګڼلی نومابه دوئ ته امرکړی وه چه دهرمونځ سره مسواك کوئ، لکن ماورته امرونکړونوچه امرونشونوځکه مسواك وهل سنت دي فرض اوواجب ندي، نودینه هم معلومه شوه چه په امرکښی قرینه نوي دهغه معنی دوجوب ده ځکه پیغمبرعلیه السلام فرمائی لامرتهم ای امرالوجوبِ نومسواك سنت اومستحب وګرځیدو. الااذاقام الدلیلُ علی خلافهِ اوکه دلیل موجودوي چه دلته کښی وجوب مرادندی نوبیابه هلته کښی دنُدب لپاره مستعمل کیږي ؛ اصل کښی دامر ډیری معانی راځی علماء تقریباً شپاړس(١٦) معانی بیانوي، امرکله دنُدب لپاره وي کقوله تعالی فکاتبوا هم ، که یوغلام دمولی مکاتبت غواړي نووردی کړي، کله دفرضیت لپاره وي لکه واقیموا الصلاة، کله دتوبیخ په معنی وي کقوله تعالی اعملوا ماشئتُمْ ، الله پاك کافرانوته وائی کوی څه موچه خوخه وي، لکه یوماشوم ته پلاروائی څه کنه لوبی کوه یعنی مه ئی کوه ورنه وهم دی، نودلته توبیخ دی، اوکله دتعجیزلپاره وي کقوله تعالی فاتوبسورةٍ من مثله ، یعنی ای کافرانودقران مجید پشان نظیراومثل راوړئ خونشی راوړی بلکه یوسورة په مثل راوړونه هم عاجزه یئ، اوکله امرلپاره دارشاد وي الله تعالی رهنمائی کوي واستشهدوا شهدین من رجالکُمْ، نبه ده داخبره چه تاسو په څه خبره باندی دوه سړي ګواهان ونیسی، اوکله دامتنان لپاره وي نحو﴿ کلوا مما رزقکمُ الله ﴾، اوکله داکرام لپاره وي لکه ﴿ادخلوهابسلام﴾، اوکله دتأدیب لپاره وي لکه (کل ممّایلیك) ، اوکله امردتسخیرلپاره وي نحو﴿کونواقردةً ﴾، اوکله داهانة لپاره وي مثل﴿ ذق انك انت العزیزالکریم ﴾، اوکله ددعا لپاره وي لکه ﴿ربنا اغفرلی ﴾، اوکله داحتقارلپاره وي مثل ﴿القوامااانتم ملقون ﴾، وغیرذالك من المعانی . لان ترك الامرمعصيةٌ ځکه ترك دامرمعصیت دی اومعصیت نوي مګرپه ترك دفرضواودواجبوباندی وي نوداهم ددی دلیل دی چه امربه دوجوب لپاره وي الله جل جلاله فرمائی ﴿ وَمَنْ يَّعْصِ اللهَ وَرَسُولَهُ وَيَتَعَدَّحُدُوْدَهُ يُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا فِيْهَا وَلَهُ عَذٰبٌ مُّهِيْنٌ

*﴾ سورة النساء، الاية: ١٤ خوك چه دالله تعالى اودهغه درسول ﷺ نافرمانی کوي اوگناهونه کوي نوجهنم ته به دَهميش لپاره داخل شی ځکه چه نافرمانی معصيت دی، دلته کښی هم وعيدراغلی دی اووعيدنوي مگربه ترك دفرضواوواجبوسره وي نومعلومه شوه چه امربرای وجوب است کما ان الايتمارطاعةٌ لکه امرمنل چه تعبداري دی،ايتمارمعنی امرمنل لکه امرتُهُ فأتَمَرَ ، ماهغه ته امرکړی وه نوهغه امرومنلوباب افتِعال کښی قبول دماخذ دی لکه نهيته فانتهٰى يعنی ماهغه منع کړی وه نوهغه منع شو. قال الحماسیُ ويلی دي حماسي، حماسي دديوان حماسی مصنف ابوتمام ته ويل کيږي دیٔ يوځل دچا ميلمه شوی وه نوواوره شروع شوه واپس ئی بيا سفرنشوکولی نودهغه چاچه ميلمه وه دهغه سړي ډيره لويه کتب خانه هم وه نوپه هغی کتب خانه کښی ئی مطالعه شروع کړه اواعلی اعلی اشعارئیدَمختلفوشاعرانو راجمع کړل اوديوان حماسة ئی ترجوړکړو، حماسه په لسو(۱۰) بابونومشتمله ده اولنئی باب پکښی حماسی دی ځکه ئی ورته نوم حماسه کيښود حماست شجاعت اوبهادریٔ ته وائی، دويم باب په ادبوکښیٰ دی ، دريم باب کښی مراثی دي اوځلورم باب کښی ئی نسيب ذکرکړيدی، همدارنگه نوربابونه هم په مختلفوموضوعاتوکښی ليکل شويدي. داشعارهم دحماسی دمصنف دي اودزليخی په وزن جوړشويدي په علم عروض کښی دمفاعيلنْ مفاعيلنْ فعولنْ وزن دی علم عروض هغه علم ته وائی چه په هغه کښی دشعروزن معلوميږي دزليخے رومبنی شعردی.

شعر: زليخا گرچه محبوبِ جهاں بود ولی يوسف به خوبی بيش ازاں بود

الٰهی غُنچهء اُميدبکشائے گلِ ازروضهء جاويدبنمائے .

نوداشعرهم په همدی وزن مذکورسره دی حماسی خپلی معشوقی ته وائی ، شعر

أَطعتِ لِأ مِرِيْكِ بِصَرْمِ حَبْلِي مُرِيْهِمْ فِيْ اَحِبَّتِهِمْ بذَ اكِ

ترجمة : ای معشوقی ته دهغوخلکواطاعت کوی چه تاته حکم کوي چه ماسره دمحبت پړی پريکړه اوهغوی درته وائی چه ماسره مينه مه کوه، دَصَرْم معنی پريکول، ته هغوی ته امروکړه چه هغوی دخپلی معشوقی داسی پريږدي لکه چه تاته امرکوي لکن هغوی خپلی معشوقی نه پريږدي

Maktaba Tul Ishaat.com

فَهُمْ إِنْ طاوَعوكَ فطاوِعْهُمْ وإنْ عاصوكَ فاعْصِ مَنْ عَصاكَ

که هغوئ ستاخبره منی لوله هم دهغوی خبره ومنه ، اوکه هغوی ستا نافرمانی کوي نوله هم دهغوی نافرمانی وکړه. دامرمنلوته اطاعت والی اودامرنه منلوته معصیت وانی، نوشاعرددی ایت په ترجمه کښی چه ومن یعص الله ورسوله ۰۰۰الآیة شعرپیش کړو، اومذکوره شاعردمذکوره شعرپاتی توکړه داسی ده.

لقدأضمرتُ حُبُّكِ فی فؤادی وماأضمرتُ حُبًّا من سِواكِ .

معشوقی ماستامینه په زړه کښی پټه ساتلی ده اوپه زړه کښی می له تانه بل دهیچامینه نشته . والعصیانُ فیما تَرْجِعُ الی حق صاحب الشرع سببٌ للعقاب اوعصیان(نافرمانی) په هغې کښی چه هغه راجع کیږي حق دصاحب دشرعی ته هغه سبب دعذاب گرځی( ومن یعص الله ورسوله یدخله نارًا ) ولتحقیقهٔ ان لزوم الایتمار ددی مسئلی تحقیق دادی چه لازمیدل دحکم منلو انما یکون بقدرولایهٔ الأمرعلی المخاطب په اندازه دقوت دآمِردی په ماموربان‌دی ، یعنی څومره چه اٰمِرقوي وي هومره به دهغه امرکښی فرضیت وي، مثلاً عام ملګری که ملګري ته اووائی چه داکاروکړه نوخوښه نی ده چه کوي ئی اوکه نه ئی‌کوي او که مولی خپل غلام ته اووائی چه داکاروکړه او ونی نه کړي نوپکارده چه سزا ورکړي څکه غلام ټول دمولی وي مِلك رقبی ډیرقوي مِلك وي نوموږ هم درب العلمین جل جلاله مملوك یو، الله تعالی مالك الملك دی ، مالِك یوم الدین دی نوالله تعالی چه یوحکم وکړي په ټولوباندی دهغه وضاحت اوتعبداري فرض دی ولهذا اذا وجهت صیغهٔ الامرالی من لایلزَمُه طاعتُك اصلاً اوددی‌وجهی هرکله چه ته صیغه دامرمتوجه کړی هغه چاته چه په هغه باندی لازم نه وی طاعت ستاچیری هم لایکونُ ذلك موجباً لایتمارٍ نونه به وی دا آمرلپاره دوجوب چیرله هم، دمثال په طور که چیرته یواستاد غیرکس ته اووائی چه داکاروکړه نوهغه به والی (له میتوانم)له شم کولی اوکه استاذخپل شاګردته اووائی چه داکاروکړه نوفوراً به منډه کړي اوهغه عمل به اجراء کړي. دلته کښی جناب شیخ صاحب یودوه قصی ذکرکړیدي ، قصه: یوځل په دارالعلوم دیوبند کښی جلسه وه نوډیرملایان به ورتلل نودکراچی دیوی مدرسی شیخ الحدیث هم ورتلو ربل ګاډی ته وختواوپه سیټ

سملاستولاره کښی یوه بله سورلی راوخته نو شیخ الحدیث صاحب ته لی اوویل پاخه ماله هم ذکیناستوخای پریږده نوهغه ورته اوویل چه زه شیخ الحدیث یم لوهغه جاهل وه هغه شیخ الحدیث څه پیژوندو نودهغه شیخ الحدیث بی عزتی لی وکړه نوبیا دهغه شاګردان راپاخېدل اوهغه سړے لی سم ووهلو اوشیخ الدیث لی پری سم وپیژندلو. لکه والی چه ناشناسړئ دسړي هیڅ حیثیت نه پیژنی. واذا وجهتها إلى من يلزمهُ طاعتُك من العبيد اوکه چیرته داصیغه متوجه کړي هغه چاته چه په هغه لازم وي ستاخبره منل چه هغه ستاغلام وي لزمه الايتمارُ لامحالة نولازم دی په هغه باندی حکم منل ستاخامخا. حتى لوترکه اختيارًا يستحق العقاب عرفًا وشرعًا تردی که هغه ستاخبره قصداً نده منلی نوعذاب ورکوی هم عرفًا یعنی دخلکوپه نزد اوهم دشریعت داحکم دی. فعلى هذا عرفنا بناء پردی مونږه وپیژندو ان لزوم الايتماربقدرولاية الآمرِ چه لزوم دامربه په اندازه دقدرت دامِربالدی وي اذا ثبت هذا فنقولُ ان لِلّٰهِ تعالى مِلكًا كاملاً هرکله چه داثابت شول یعنی لزوم دایتمارپه قدردقدرة دآمِرباندی وي نوموږ وایوچه الله تعالى لره مِلك کامل دی في كل جزءٍ من اجزاء العالَم په هرجزء کښی دتمامواجزاءو دعالم نه یعنی ټول عالم دالله تعالى مملوك دی. وله التصرفُ كيف ماشاء واراد. اوالله تعالى تصرف کوي څرنګه لی چه خوخه وي اوڅرنګه لی چه اراده وي،﴿ وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَايَشَآءُ وَيَخْتَارُ ﴾ واذاثبَتَ ان من له الملكُ القاصِرُ في العبد اوهرکله چه داهم ثابت شوچه دمولی په خپل غلام باندی مِلك قاصِروي. كان ترك الايتمارِ سببًا للعقاب اوبیاهم ترك دامردمولی سبب لپاره دعقاب وي فماظنُّك في ترك امرمَنْ اوجدك من العدم نوڅه ګمان دی ستا په پرینبوذودامردهغه رب العلمين کښی چه پیدا کړی دی تالره ای انسانه دعدم نه وجودته، وأدرّعليك شابيب النعَمْ اوهغه الله تعالى چه وره ولی لی دي په تاباندی شیبی دنعمتونو، ادرّ يُدِرُ إدْرَارٌ معنی ورول ، مدرار هغه باران ته والی چه کوم ډیرزیات وریږي لکه ع حيث تجهت وريمةٌ مِذرارُ. نالة دژوره: هغی اوښی ته وانی چه ډیری پئ کوي ، لوداالله تعالى ډیرزیات نعمتونه دي مثلاً دبدن اندامونه، صحت، میوی، اوبه، اوداسی نوربیشمیره نعمتونه ﴿ وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَتَ اللهِ لاَتُحْصُوْهَا ﴾سورة ابراهيم ، الاية: ٣٤ . یعنی که دالله تعالى نعمتونه شمارئ نوئشی تی

شمیرلی، نودی وجهی نه دالله تعالی دامرایتمارپه تماموبندگانوباندی فرض عین دي.
فصل: فصل دی په بیان دامرکښی الامربالفعل لایقتضی التکرار امربالفعل تقاضه دتکرارنه کوي، یوه خبره چه دامرپه شکل کښی وي نوهغی کښی تکرارنوي بلکه چه یوځل دی هغه کاروکړو نوغاړه دی خلاصه کړه، دلته کښی امرنه مراد امرمطلق دی هغه امرچه هغه معلق بالشرط نوي، اوکه هغه امرچه هغه معلق بالشرط وي یامعلق بالعلة وي یامعلق بالسبب وي بیاهغه دتکرارشرط یاتکرارعلة یاتکرارسبب له وجهی‌نه مکررکیدای شی، لکه قران مجید کښی راځی ﴿ وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُبًافَاطَّهَّرُوْا ﴾ که چیرته تاسوجنب وئ نوغُسل وکړی، نودلته کښی فاطهروا صیغه دامردی لکن معلق دی په ان کنتم جنباً سره نوچه کله هم سړی جنب کیږي دفاطهروا حکم به ورته متوجه کیږي اگرکه فاطهروا امردی لکن معلق بالشرط دی نوکله چه شرط مکررکیږي نومشروط به هم مکررکیږي نولازماً به پدی امرکښی تکرار راځی اوداسړی به باربارلامبی چه.کله جنب وي، همدارنگه بل قول دالله تعالی کښی راځی ﴿ إِذَاقُمْتُمْ إِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ ۰۰۰الآية ﴾ هرکله چه تاسو مونځ ته پاڅیری نووینځی مخونه خپل اولاسونه خپل ترڅنګلوپوری ، نودلته کښی هم دفاغسلوا صیغه دامرده لکن معلق ده په اذاقمتم الی الصلوة پوری نوامرمعلق بشرط به مکررکیږي نو هرکله چه قیام الی الصلاة راځی نودفاغسلوا حکم به متوجه کیږي، نوداچه امرمطلق به نه مکررکیږي دامذهب داحنافودی ، امام شافعی صاحب نه دوه قوله نقل شویدي په یوقول کښی زمونږ سره شامل دی اوبل داچه محتمل دتکراربه وي. ولهذا قلنا اودغی وجهی نه مونږه وایو،اوس داحنافودلیل ذکرکوي پخپله مدعی باندی چه امرمطلق تقاضه دتکرارنکوي. لوقال طلّق امرأتی که چیرته یوسړي بل سړي ته اوویل چه زمابنځی ته طلاق ورکړه، مثلاً یوسړی له خپلی ښځی نه ویریدو بل سړي ته نی اوویل ورشه زما ښځی له اووایه انتِ طالقٌ نودا سړی ددی خاوند لخواوکیل وگرځیدو اوتصرفات دوکیل داسی وي لکه تصرفات دمؤکل. نوپدی صورت کښی وکیل دی ښځی له یوطلاق ورکولی شی دویم طلاق نشی ورکولی ځکه هغه وکالت په یوطلاق سره پوره کیږي فطلّقها الوکیلُ ثم تزوجها المؤکل نووکیل یوطلاق ورکړوبیاهغه مؤکل په نکاح کړه داپه هغه صورت کښی

کېدای شي چه وکیل طلاق ورکړوبیاعدت(دري حیض) تیرشونوبنځه دخاوند له نکاح له ووته، نوکه بیانې اولنۍ سړی په نکاح کول غواړي نوتجدید دنکاح به کوي **لیس للوکیل ان يُطلقها بالامرالاوّل ثانياً** نودوکیل له طرف نه دوباره طلاق ورکول ندی جائز په اولنی امرسره، ځکه چه وکیل خپل وکالت يوځل کړيدی. **ولوقال زوجنی امراةً** اوکه يوسړي بل سړي ته اوويل چه ماته واده اوکړه، هغه ورته واده وکړو نوخبره ختمه شوه **لايتناوَلُ هذا تزويجاً مرّةً بعدأُخرى** دابه نه شامليږي بل واده لره ددی اول واده نه پس ، نودویم واده ځکه ناجائز دی چه وکالت په هغه يو واده سره پوره شو. **ولو قال لعبده تزوج لايتناول ذالک الامرة واحدة** کچیرته خپل غلام ته ئې اوويل چه ته واده اوکړه نه شامليږی دا آمر مکرريوځل لره **لان الامربالفعل طلبُ تحقيق الفعل على سبيل الأختصار** ځکه امربه فعل سره طلب دمحقق والی اوموجودوالی دفعل ده په مختصری طريقی سره، اواختصارصرف په يوواده کولوسره پوره کيږي نودويم ته ضرورت نشته. لکه (اِشرب) مختصردی د( اطلبُ منكَ فعلَ الشربِ )نه یا(افعل فعل الشرب)نه ، همدارنګه ( کُلْ ) (اطلب منك فعل الاكل ) یا(افعل فعل الاكل) نوچه يوځل سړي خوراك باځکاك وکړو نوبیاهم پری دخوراك اوځکاك اطلاق کيږي، همدارنګه (اُكتبْ) مختصردی د( اطلب منك فعل الكتابة ) نه يا مختصردی د( افعل فعل الكتابة). **قوله: اضرب مختصرٌ من قوله** داقول داضرِبْ مختصردی ددی قول نه **افعلْ فعل الضرب** فعل وکړه فعل دوهلو **والمختصرمن الكلام والمطول سواءٌ فی الحكم** دمختصراودمطول کلام حکم يودی **ثمّ الامرُ بالضرب امرٌ بجنسِ تصرُّفٍ معلومٍ** پس امرکول په وهلو سره دا امردی په جنس تصرف دضرب باندی ، يعني ددی مطلب دادی چه جنس تصرُّف چه هغه باندی اطلاق دضرب کيږي هغه وکړو برابره خبره ده چه هغه ضرب باليدوي اوکه ضرب بالخشب وي اوبرابره خبره ده چه ضرب على رأس وي اوکه په على رِجل وي خومطلب تری اذيت اوزورنه وركول دي لکه وانی چه چيرته دب وي هلته ادب وي. **وحكم اسم الجنس ان يتناوَلُ الادنى عندالاطلاق** داسم جنس حکم دادی چه دابه يوفرديعنی ادنی فردته به هم شامل اي: جنس ادنی يودی کم ازکم ديوځل وهلوسره هم دهغه آمردامراطاعت وشو. **ويحتمل كلَّ الجنسِ** او احتمال دټول جنس هم لري يعني دجنس نه ټول جنس هم اخشتي شي، دجنس دوه فرده دي يوفردادنی دی چه هغه ټولوکښی يووي ، اودويم فردهغه تمام افراد

Maktaba Tul Ishaat.com

وعلی هذا قلنا اوبناء کیږي· چه مراد کړی نودجنس اطلاق په قلیل اوکثیردواړوباندی کیږي اواحتمال دکل هم پردی باندی چه دجنس اطلاق په قلیل یعنی ادنی فردباندی کیږي اوبه نه حُکم یحنثُ بشرب ادنی لري اذا حلف لایشرَبُ الماءَ یوسړي قسم اوخوړو چه زه به اوبه نه خکم، خکه اطلاق دشرب پری قطرة منه نوکه یوڅاڅکئ اوبه لی هم اوخکلی حانث کیږي، وکلی حانث کیږي، خکه اطلاق دشرب پری کیږي نوکفاره دیمین به ورکوي ولونوی به جمیع میاه العالَم صحّتْ نیتُهُ اوکه دی سړي دټولی دنیااوبه قصد کړی وي نونیت لی صحیح دی، اونه حانث کیږي خکه دتمام عالم اوبه خوك نشی خکئ اودا احتمال پکښی خکه شته چه د« الماء » دا لفظ اسم جنس دی یوڅاڅکی ته هم شاملیږي اودتمامی دنیااوبوته هم شاملیږي، لکه انسان اسم جنس دی نوزید ته هم انسان والی چه یوفرد دی اودتمامی دنیا انسانانوته هم انسان ویل کیږي ولهذا قلنا اوبناء پردی چه جنس اطلاق په یوفرد اوزیاتوافرادو باندی کیږي اذاقال لها طلِّقی نفسَكِ فقالت طلّقتُ یقعُ الواحدُ که چیرته یوسړی خپلی ښځی ته اووالی چه خان طلاقه کړه ښخی اوویلی ما خان طلاق کړو نویوطلاق واقع شو ولونوی الثلٰث صحّت نیتُه اوکه دخاوند نیت ددری طلاقووي نونیت لی صحیح کیږي ، اودری طلاق واقع شو خکه چه دطلاقو دوه جانبه دي یوفردادنی چه یودئ اوبل فرد اعلی چه مجموعه(دری) طلاقه دي نو ادنی‌ته هم شامل دی اواعلی ته هم شامل دئ· وکذلك لوقال الآخرطلِّقها که چیرته یوسړي بل ته اوویل چه زما ښځه طلاق کړه نوهغه وکیل هغه ښځه طلاق کړه یتناول الواحدةَ عندالاطلاق نوبه مطلق طلاقوکښی یوطلاق ته هم شامل ده ولونوی الثلٰث صحّتْ نیتُه اوکه دی سړي پدی قول سره چه طلِّقها دری طلاقه اراده کړي وي نونیت لی صحیح دی/ولونوی الثِّنتَین لایصح اوکهٔ دوه طلاقه لی تری مراد وي نونیت لی ندی صحیح خکه چه جنس په اقل اواکثرباندی دلالة کوي اوپه عدد باندی دلالة نه کوي اودوه( الثنین) خوعدددی خکه دطلاقو اقل الافراد یودی اواکثرافراد دری دي الااذاکانت المنکوحة امة مګرکه دیوسړي منکوحه وینځه وه، اوبیالی چاته اوویل چه زمانښځی ته طلاق ورکړه اوده دوه طلاقه اراد ه کړي وي نوبیاصحیح کیږي خکه دا دوه طلاقه بیاپه وینځه کښی فرد اکثردی اودوه طلاقه دامی لپاره طلاق مغلظ دی· فان نیة الثنتَین حقِّها نیّةٌ بکل

الجنس څکه دوبنځی لپاره کل جنس دطلاقو دوه طلاقه دي ولوقال لعبده تزوّج تقعُ على تزوّجِ امراةٍ واحدةٍ يوسري څېل غلام ته اوويل واده وکړه نوبه واده کولو ديوی بنځی سره واده قالم شو لولوی الثنتين صخت نيتهٔ اوکه مولی ورله ددوه بنځوبنيت کړئ وي لويدی مورت کښی لی هم نيت صحيح دی څکه دغلام لپاره ددوه بنځولپاره زيالی بنځی لشته، عبدنصف دځروي لوکه يوسړي يوځرسړي ته اوويلی چه واده وکړه مهربه زه ورکوم نوبوواده تری مراد ده اوکه دی قائل دځلوروبنځونيت وکړو نونيت لی صحيح کيږي څکه دځرلپاره عدد داقل منکوحانويودی اواکثرعددلی څلوردی. لان ذلك كلُّ الجنس في حق العبد څکه دا دوه مجموعه دجنس دی په حق دغلام کښی ، دلته معترض اعتراض کوي تاسووائي چه امرمطلق عن القرينه يااامرمطلق چه غيرمقيدبشرط والعلة وي هغه موجب دتکرار نوي نوبيا تاسودعبادات ولی مکرر کوئ څکه الله تعالی خوامرصرف يوځل کړيدی﴿ أَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوْكِ الشَّمْسِ ﴾سورة الإسراء، الآية:۷۸ ۰ نوصرف ذيوماسپخين لمونځ کالی دی بيا بيا کولوته څه ضروت دی؟ لوبه راتلونکی عبارت سره مصنف جواب ورکوي چه دلمنځونواوعبادتونوتکراردااسبابودتکرارله وجهی دی هرکله چه سبب راځي نوحکم هم منوجه شي، زمونږ(احناف) په نزد امرموجب دتکرار ندی، داامام شافعی صاحب يوقول دادی امرکه مقيدبشرط اومقيدبالعلة نوي نومحتمل دتکراردی اودليل پيش کوي چه کله رسول الله مبارك اوفرمائل ( يايهاالذين امنوقدفرض الله عليکم الحج فحجوا ) په تاسوالله تعالی حج فرض کړو نوحج کوی نودلته کښی هم درسول الله ﷺ امر راغی( حجوا بيت الله ) نواقرع ابن حابس صحابیدی اواهل لغة هم دی نوهغه تپوس وکړو ( العامنا هذا يارسول الله ام للابد؟ ) يعنی داحکم ددی کال لپاره دی يارسول الله که دهميش لپاره به حج کوو نورسول الله مبارك وفرمائل ( لعامکم ) يوځل حج په مسلمان باندی فرض دی ، نومعلوميږي داچه امرتقاضه دتکرار کوي څکه اقرع ابن حابس تپوس وکړو اوکه امرتقاضه دتکرارنکولی نودصحابی رضی الله عنه سوال خولغوه شو؟ نواحناف جواب ورکوي، چه ستاسو دليل صحيح ندی څکه امرتقاضه دتکرار نه کوي څکه اقرع ابن حابس تپوس وکړو چه آيا دلته کښی امرتقاضه دتکرار کوي اوکنه که امرتقاضه دتکرار کولی نواقرع ابن حابس

Maktaba Tul Ishaat.com

خوأهل لغة وه نوهغه تپوس نه کولوځکه هغه ته به خپله هم پته وه چه امرتقاضه دتکرار کوي نوچې به پاتې شوئ وه، نودادلیل په حقیقت کښې زمونږ لپاره دلیل شونه دشوافعولپاره ولا يتأتی علی هذا فصل تکرارالعبادات اوپه مونږ دی څوك اعتراض نه کوي په فصل دتکرار دعباداتوکښې، دعباداتوپوره فصل دی لکه روژه هره میاشت درمضان چه راځي نومونږ بیا بیا روژه نیسو، یالکه لمونځ دهرلمونځ وخت چه راځي نوبیابیا لمونځ کوه، همدارنګه زکاة هرکله چه په مال کال تیریږي نوبیا بیا زکاة ورکوه . فان ذلك لم يثبتْ بالامرځکه تکرار دامرله وجهې نه ندی بل بتکراراسبابها بلکه داسبابودتکرار له وجهې نه دی التی يثبتُ بها الوجوب هغه اسباب چه ثابتیږي په هغوی سره وجوب دعباداتو، ځکه که تکرار په امرسره وای نوبیاخواستغراق په جمیع اوقاتوکښې پکاروه لیلاً اونهاراً بایدمشغول بالصلوة وائی بلکل هیڅ وخت بایدچه خالي نه وائی چه په هغه کښې عبادت نه کیدای نوتکرار دامرله وجهې ندی نوهرکله چه سبب متکرر کیږي نوعبادت به هم متکرر کیږي لکه لمونځ چه هرکله دلمونځ وخت راځي چه سبب دی نود﴿ أَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوْكِ الشَّمْسِ ﴾ امربه متوجه کیږي نوچه سبب یووي نوعبادت به هم یووي لکه خانه کعبه سبب دی لپاره دحج نوچه خانه کعبه یوه ده نوحج هم په عمرکښې یوځل فرض شواوتکرار نشته. نواوس یوبل اعتراض کوي چه هرکله سبب دوجهې نه تکرار راځي اودامردوجهې نه راځي نوبیا خوموجب سبب دی امرندی یعنی سبب لپاره دوجوب شو اوامردوجوب لپاره نشو؟ دینه هم جواب کوي چه دوه خبرې دي یودی نفس وجوب اوبل وجوب الاداء دی ، نفس وجوب دامردوجهې راغلی دی اووجوب الاداء دسبب دوجهې نه راغلی دی لکه مثلاً یوسړی یوی ښځې سره واده وکړي نومهرددی نکاح دوجهې نه په هغه سړي لازم شو یعنی وجوب دمهرمطلق نکاح سره راغلونوکله چه ښځې ترینه دمهرمطالبه وکړه نوطلب دښځې سبب دوجوب الاداء دی چه مهربه اداء کوي، یالکه یوسړي یوشی خرڅ کړو په بل سړي باندی نوبیعه سبب دوجوب دثمن دی یعنی دبیعې له وجهې نه په مشتري دثمن وجوب راغللونوچه هرکله بائع مطالبه دثمن وکړه نوطلب دبائع سره وجوب داداء راغله نواوس به لی مشتري اداء کوي. والامرُ لطلب اداء ماوجَبَ فی الذمّة بسببٍ سابقٍ امرلپاره دطلب

داداء هغه دی کوم چه واجب دی په ذمه باندی سبب سابق سره چه هغه امرندی لالاثبات اصل الوجوب ندی امرلپاره دثبوت داصل واجب ، ځکه هغه خوپه اول امرسره ثابت شویدی وهذا بمنزلة قول الرجل اوامرلپاره دطلب داداء دماوجب فی الذمة داپه منزلة ددی قول دسړي دی ادِّ ثمن المبیع بائع مشتري ته اوویل دمبیعی ثمن(قیمت) راکړه ، یاداپه منزله ددی قول دی وادِّنفقة الزوجة چه یوسړي ته چا اوویل دخپلی ښځی نفقه ورکړه فاذاوجبَت العبادةُ بسببها هرکله چه عبادت دسبب دوجهی نه راغی فتوجّه الامرُ لاداء ماوجب عنها علیه نومتوجه شوامرلپاره دَ اداء دهغه عبادت نه چه واجب دی ددی عباداتونه په ماموربااندی، نوګویا وخت سبب دوجوب دی اوامرمطلق مطالبه داداء کوي یعنی چه زرترزره داکاروکړئ. ثم الامرلماکان یتناول الجنس بیاهرکله چه امرشامل دی جنس ته یتناولُ جنس ماوَجب علیه نوشامل دی جنس دهغه څه ته چه کوم واجب دی، لکه امرپه عباداتوشامل دی ټول عبادت لکه لمونځ زکاة روژه وغیره. ومثاله مایقال اومثال ددی چه امرلپاره دطلب داداء دماوجب دی هغه چه وائی اِنَّ الواجب فی وقت الظهرهوالظهر دماسپخین لمونځ دماسپخین وختِ کښی فتوجّه الاَمرُ لاداء ذلك الواجِب نومتوجه شوحکم مکلف ته یعنی امرمتوجه شو دماسپخین دلمونځ دماسپخین دوخت له وجهی نه، یعنی هرکله چه دماسپخین وخت داخل شو نود( اَقِمِ الصَّلوةَ لِدُلُوْكِ الشَّمسِ ) قول متوجه شو ثم اذا تکرّرالوقت تکررالواجِبُ هرکله چه وخت متکرر شونوواجب هم متکررکیږي فیتناولُ الامرالواجِبُ ذلك الواجب الأخر نوشامل شوامرواجب هغه بل واجب له، یعنی هغه امرچه فرضیت دلمونځ باندی وه دماسپخین دوخت له وجهی نه بیامتوجه شو دسبا دماسپخین دلمونځ لپاره هم، یالکه روژه موبه یورمضان کښی نیولی وه که بل رمضان رالمی نوبیا امردصوم متوجه شونوروژه به نیسو. ضرروة تناوُله کل الجنس الواجب علیه لوضرور به ټول جنس دواجب علیه ته شامل وي صوماً کان اوصلوةً برابره خبره ده که هغه ماوجب لمونځ وي اوکه روژه وي، وغیرذلك، فکان تکرارالعبادات المتکرّرة بهذا الطریق لابطریق ان الامریقتضی التکرار نوتکراردعباداتومتکرره وو پدی طریقه لی مذکوره سره ده له په دی طریقی سره چه امرتقاضه دتکرارکوي، یعنی دسبب اودعلة دوجهی نه متکرر دي

Maktaba Tul Ishaat.com

له دامردوجهی نه. فصلٌ فصل دی په ماموربه کښی المامورُ به نوعان ماموربه دوه قسمه دی مطلقٌ عن الوقتِ یوهغه ماموربه دی چه په هغه کښی دَوخت تعین نوي مطلقاً امراغلی وي ومقیّدٌبه اوبل ماموربه مقیدبالوقت دی وحکم المطلقِ اوحکم دهغه ماموربه چه مطلق وي، یعنی دوخت ذکرپکښی نوي. ان یکون الاداءُ واجباً علی التراخی چه اداءکول دهغه عبادت به واجب وي په تراخی سره ، دادجمهورو علماؤ مذهب دی اوهغوی دلیل پیش کوي چه مطلق عن الوقت معنیٰ داده چه مکلف ته په هغه کښی اختیاروي، اوکه واجب علی الفورشي نوبیادمطلق مطلب څه شو؟ یا دمطلق معنی داده چه دا واجب به په سرې باندی واجب مُوسع وي که اوس ئی اداء کوي اوکه څوورځی پس ئی اداء کوي لکه حج شو الله تعالی دحج باره کښی حکم فرمائی ﴿ وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا﴾نوداهم مطلق دی اوالله پاك داسی ندی ویلی چه سړی مالداره شی نوفوراً به حج کوي، بلکه حج پرې لازم دی که دی کال کښی ئی اداء کوي که کال پس ئی اداء کوي بنده ته اختیاردی څکه دامطلق الله پاكَ ددی لپاره مطلق ذکرکړو چه پدی کښی بنده ته اسانتیا وي لکه قرآن کښی راځی ﴿ يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ﴾سورة البقرة، الآیة: ۱۸۵ .نودا مطلق عن الوقت چه مقید بالوقت نوي اوتاسولی مقیدبالوقت کړئ نوعکس دموضوع راغله اومطلق مطلق پاتی نشو. نوفائده ئی داراووله مثلاً که چیرته یوسړئ مالداره شی اودحج دلاری طاقت ئی وي قران کښی من استطاع الیه السبیلا ذکر شو اونبی کریم ﷺ ددی تعبیربه ( الزاد والراحلة ) سره کوي یعنی چه توښه اوسورلئ ورسره وي چه مراد ترینه اس وغیره که چیرته داسونواو اوښانولاره وي پخوازمانه کښی به بعضی خلك حج ته په اوښانو، او اسونوباندی تلل لکه نن سباهم بعضی خلك حج ته په بس ، لاری ، اوموټرو کښی راځی لکه دټرکو، عراق، شام، یمن، ریاض وغیره ئه څکه ددوئ لار وچه ده، همدارنگه ډیرخلك په سمندرونوکښی راځی لکه پخوا پاکستان، هندوستان وغیره نه به خلك په سمندري جهازونوکښی راتلل اوبعضی خلك په هوائی جهازونوکښی اوس اکثره اسلامی ملکونونه خلك په هوائی جهازونوکښی راځی لوکه یوطالب سره دومره پیسی وي چه دئ دلاری خرج وکړي اوڅه پیسی اولاد ته

پرېږدي چه دده دحج په مده کښې لی نفقه پری وشی نویدی سري باندی حج واجب دی اوکه دیٔ بیاهم اراده دحج کښی تاخیرراولي نوگنهگاردی اوکه بل کال ته لی اداکړي نودده داحج قضالدی بلکه اداء دی ځکه په ده باندی اداء علی التراخی واجبه ده ۰ اوامام کرخی صاحب والی چه دامرمطلق تقاضه واجب علی الفورده نوفوراً به اداء کولی شی، هغه دلیل پیش کوي اووالی چه که عُرف کښی یومولی دخپل غلام نه دځکلواوبه طلب کړي اورته اووالی ( اسقنی ماءً) اوهغه غلام اوبه رانوړي اولاړو اوده شو بیا چه هرکله راپاځیدونواوبه لی ورله راوړی، نوچه یوغلام دخپل مولی په حکم کښی تاخیروکړي نودعقلاؤپه نزدهغه غلام بی‌ادبه اونمك حرام ښکاري نوداسقنی ماءً هم یوامردی اوداالآن قیدهم ورسره ندی لگیدلی لکن دغلام دتاخیردوجهی نه عقلاء غلام ته بی‌ادبیٔ اوگوستخالی نسبت کوي نوتاخیرفی امرالله خوبه طریقه اولی سره ناجائزدی ځکه هغه خومالِك، خالِق، رازق حقیقی دی نوانسان باید دخدای جل جلاله په امرکښی تاخیرونکړي ځکه چه یوسړي ته امرمطلق متوجه شو اودیٔ بیاهم هغه ماموربه نه اداء کوي نودیته خوتفویت والی ولی چه هغه عبادت داسړی قصداً فوت کوي، کیدای شی سباته مړشی دمرگ او ژوند خو هیڅ پته نه لگیږي ( الموتُ غادٍ و راحٍ ) مرگ چاته سهارکښی راشی اوچاته مابنام کښی، وقال الشاعر:

شعر الموت یأتی بغتتاً – والقبرصندوق العمل ۰

نوامام کرخی صاحب والی چه په تاخیرسره دالله تعالی حکم کښی کوتاهی راځی بشرطِ ان لایفوته فی العمرلکن پدی شرط چه عمرکښی دده نه داواجب فوت نشی، ځکه چه صیغه دامروضعه شویده دطلب دفعل لپاره مطلقاً اوزیاتوالی دفور زیادت دی په صیغی باندی ځکه په صیغه دامرکښی دفورقیدنشته نوپه مطلق امرسره اداءبالفورنه واجبه کیږي وعلی هذا اوبناء پدغه قانون چه امرمطلق دی عن الوقت دجمهوروپه نزدباندی واجب علی الفورلدی بلکه واجب علی التراخی دی قال محمد فی الجامع امام محمدرحمه الله تعالی په جامع کبیرکښی دامسئله ذکرکړیده لولدران یعتکفَ شهراً یوسړي ندرومنلوچه یوه میاشت اعتکاف به کوم ، مثلاً اووالی که خدایٔ پاك جل جلاله زماپلانی کاروکړو زه به یوه

﴿ وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ ﴾سورة الحج،الاية:۲۹ ،
مياشت اعتكاف كوم نوقران مجيد كنبى راخى
يعني په خپلوندرونوبه وفاكوئ له ان يعتكف ایّ شهرٍ شاء نوپه كومه مياشت كنبى ئى چه
اعتكاف وكړوصحيح ده ولوندران يصوم شهراً اوكه چاندرومنلوچه كه فلانى كارمى الله
تعالى وكړو نوبوه مياشت روژى به نيسم له ان يصوم آیّ شهرشاء نودئ دى روژى ونيسى
كومه مياشت لى چه خوخه وي ، مثلاً يوطالب وويل كچيرتهٔ زه په امتحان كنبى كامياب
شوم نوزه به يوه مياشت روژى نيسم اوامتحان دصفرپه اول تاريخ باندى وه اونتيجه ئى
دصفرپه اتم تاريخ راغله چه داطالب اول نمبرپاس دى نودده خوخه ده چه په ربيع الاول
كنبى روژى نيسى كه په ربيع الثانى كنبى ئى نيسى اوكه په نورومياشتوكنبى ئى نيسى په
ټولومياشتوكنبى دئه جائزدي اوديته به قضاء نشى ويلى بلكه دا اداء ده نومعلوميږي چه
امرمطلق تقاضه دفوريت نه كوي بلكه على التراخي واجب دی٠ دلته كنبى جناب شيخ
صاحب دطالبانونه داسلامى مياشتوباره كنبى تپوس وكړو اوبيائى داسلامى
مياشتودنومونوزده كولوباره كنبى ډيرتاكيدوكړواووفرمائل چه انگريزئ طالبانوته دانگريزئ
مياشتونومونه زده دي او مونږ خو الحمدلله مسلمانان يواوعربى ژبى سره موتعلق دى لهذا
داسلامى مياشتونومونه يادول پكاردي، اوبيائى يوه قيصه ذكركړه چه دوه مسلمانانويوهندو
رانيولى وه اوورته لى اوويل چه كلمه اووايه هغه ورته اوويل چه بنه ده تاسونى راته
اوښايئ چه څنگه لى اووايم نويومسلمان بل ته وائى ته ئى ورته اوښايه اوبل ورته وائى ته
لى ورته اوښايه همداغسى يوبل ته اړم شواوهندوترى وتښتيدو اومسلمانان پاتى شول٠
داسلامى مياشتونومونه پدى ډول دي . ۱. محرم ۲. صفر۳. ربيع الاول ٤. ربيع الثانى۵.
جمادى الأولى ٦. جمادى الآخرة ۷. رجب ۸. شعبان۹. رمضان المبارك ۱۰. شوال ۱۱. ذى
القعدة ۱۲. ذى الحجة٠ وفي الزكاة وصدقة الفطروالعُشرِ همدارنگه په زكاة، صدقة
الفطر،اوعُشركنبى هم دغسى مسئله ده، دزكاة لپاره سبب نصاب دملك دى چه يوسرې سره
دزكاة دوركولو نصاب پوره وي، اوشرط حولان الحول دى چه يوسرې سره نصاب
موجودوي اوكال پرى تېرشو مثلاً يوى ښځى سره دوه پنځوس نيمى تولى سپين زرديٖ
پدى كنبى زكاة شته يايوى ښځى سره اوه(۷) نيمى تولى سره زردي پدى كنبى زكاة شته

نودااوه نیمی تولی سره زرچه بنخه دهغوئ مالکه ده داسبب دزکاة دی اوبه اوه نیموتولوسروزروباندی چه کال تیرشوداشرط دزکاة دی نوچه یوی بنځی سره اوه نیمی تولی سره زروي اوکال پری تیرشومثلاً درمضان په میاشت کښی پری کال پوره شو اودابنځه دازکاة په شوال یاذی الحجه یابله میاشت کښی ورکوي نونه گنهګاربږي اودیته مونږ قضاء نه وایوبلکه اداء ورته وایو، همدارنګه یوسړي سره پنځه(۵) اوښان وي اوکال پری تیرشونوبواوښ به په زکاة کښی ورکوي ، همدارنګه صدقه دفطر: دصدقی دفطرسبب رأس دی اوشرط ئی دشوال اولنئ ورځ ده ، نوچه یوسړي باندی دشوال یعنی دوړوکی اخترورمبئ ورځ راغله نودئ به سرسایه ورکوي سرسایه معنی دسرسورئ یعنی چه دادیرش ورځی ئی روژی ونیولی‌اوبه دغه ورځ ئی روژه ماته کړه نودسرسورئ به ضرورځکه ورکوی چه الله پاك دئ دغی ورځی پوری په خیراوصحت سره راورسولو ، نویوسړي دا سرسایه مخکښی ورکړه یائی یوخووروځی وروسته ورکړه نودیته مونږ قضاء نه وایوبلکه اداء دی لکه حدیث کښی راځی ( که چا داخترډمونځ نه مخکښی سرسایه ورکړه ( فهي‌الصدقة المقبولة ) اوکه چا داخترمونځ نه پس سرسایه ورکړه ( فهي الصدقة من الصدقات ) همدارنګه عُشرشو: دعشرلپاره سبب ماخرج من الارض دی دځمکی نه چه کوم شئ را اووتو نوعُشرپکښی شته الله تعالی فرمانی ﴿ وَاٰتُوا حَقَّهُ يَوْمَ حَصَادِهِ ﴾ سورة الانعام، الاية: ۱۴۲ . یعنی دځمکی نه مو چه څه واخشتل دهغوی حق ورکړی کله چه دافصل ریبی ، نوکه یوسړي خوورځی پس عُشرورکړو نوصحیح دی المذهبُ المعلوم انه لایصیربالتأخیرمُفرِطاً معلوم مذهب دادی‌چه داسړی دورستووالی دوجهی نه مُفرِط(ګنهګار) ندی فإنه لوهلك النصابُ سَقط الواجِبُ ځکه که دانصاب هلاك شو نوواجب ساقط شو، مثلاً دیوسړي په نصاب باندی کال تیرشوئ وه اوده ویل چه زکاة ورکوم پدی دی کښی تأخیرراغئ اومال ئی هلاك شو نوزکاة هم لری ساقط شو، نومعلومیږي داچه دا واجب علی الفورنوه ځکه که واجب علی الفوروے پکار دی چه دئ دهغه قضاء ورکړي والحانث اذاذهب ماله همدارنګه یوسړي قسم خوړلئ وه اوحانث دی اوهغه مال ئی ټول هلاك شو اولسوکسانوته دډوډئ ورکولو طاقت نه لري وصارفقيراً كفّربالصوم اودی غریب شونوکفاره به په صوم سره اداء کولئ شي‌اودري(۳)

اوبناء پردی جائزندی روژی په نیسی وعلی هذا لایجوز قضاء الصلوة فی الآوقات المکروهة مطلق واجب علی الفورندی ولی که قضاء دمونځ په اوقات مکروه وو کنبی، معلومیږي داچه هم مونځ کیدای شوای اوبه داواجب علی الفوروالی نوپکار وه چه اوقات مکروه کنبی کامل نواداء به هم اوقات مکروه کنبی خومونځ ندی جائز ځکه دامونځ واجب شویدی څکه چه دامونځ مطلق واجب بمثل دماؤجبَ وي لانه لما وَجبَ مطلقاً وجب کاملاً انسان ددمے نه له وځي په شویدی لوکامل واجب دی فلا یخرج عن العهدة باداء الناقص فیجوزالعصرعندالاصفرار اداء دناقص عمل سره ځکه په اوقات مکروه کنبی مونځ ناقص دی اداءً اودیته قضاء نشی اداءً ولایجوزقضاءً نودمازیگرمونځ په وخت دزیړی کنبی جائز دی چه لمرپه زیړی توب ویلی، ځکه چه د اوقالوهرمنت حکم کوي، چه مونځ اداء کړه لردی نوبه ده کنبی هم روان وي اوچه کله لمرزیړی ته پوره ورسی نواوس وخت ناقص دی داده ناقصه راغله نواداء باندی وجوب ناقص شونوچه دی پدی وخت کنبی اداء کوي نوداهم ناقص شونواداء هم بمثل ماوجب شوه، (جیسے مالی ویسے پرجالی) لوبه ده باندی وجوب په اخر وخت کنبی ناقصه شوه نودی مونځ ته مونږاداء وایو، لوکه یوسړئ دمازیگرمونځ لمرپری راوختونومونځ لی مات کوي نومونځ لی اداء شواوکه یوسړئ دسهارمونځ کوي اوله بسړي باندی دی ځکه داوخت فاسد دی اودلمرختوله مخکنبی وخت صحیح وه نوپه وجوب دصلوة کاملاً راغلی وه نوچه لمرراوختونووخت ناقص نه بلکه فاسد شو نوکله چه لمربه اوچت شی نوبیا به قضاء راوړي ۰ وعن الکرخی اودامام کرخی نه روایت دی، دینه مراد حسن کرخی دی کرخی ورته ځکه والی چه دئ دکرخ دمحلی اوسیدونکی وه اوقبرلی په بغداد کنبی دی اودیرلوئ حنفی عالم دی، اوجناب شیخ صاحب فرمالی چه زه دده قبرله تللی یم ، الحمدلله چه مومونږ استاد محترم دډیرواسلافوعلماؤ زیارتونوله تللی دی، اودالول صرف دامام کرخی صاحب ندی بلکه اهل حدیث اومعتزله هم ورسره پدی قول کنبی ملګري دي اووالی ان موجب الامر المطلق الوجوبُ علی الفورموجب دامرمطلق داواجبدل دي فوراً والخلاف معه فی الوجوب اوزمونږه داخلاف دامام کرخی سره په وجوب علی الفورکنبی دی، مونږ وایوچه امرمطلق واجب علی الفورلدی اوامام

کرځي والي چه واجب علی الفوردی ولاخلاف فی انّ المسارعة إلی الایتمار مندوبٌ الیها اولنئه خلاف په دی کنبی چه تلوار اوجلدی په تعمیل دٖامرکنبی مستحب ده واما الموقّتُ فنوعان اودویم قسم دامرنه امرمقیدبالوقت دی، اوهغه بیاپه خپل کورکنبی په دوه قسمه دی نوع یکون الوقت ظرفاً للفعل یوه نوعه ددی امرمقیدله هغه دی چه وخت ظرف وي لپاره دفعل حتی لایشترط استیعابُ کل الوقت بالفعل تردی چه نه به وي شرط دگیره ولودتول وخت په فعل سره، ظرف هغه ته والي چه هغه کنبی مظروف موجودوي لکه جیب داظرف دی اودی کنبی چه څه موجود دي هغه ته مظروف والي، اوداهم ضرور نده چه په ظرف کنبی دی صرف یوشی موجود وي بلکه دیرځیزونه هم پکنبی راللی شی لکه کمره ظرف دی لکن زیات طالبان پکنبی موجود دي اوداهم ضرورلده چه ظرف دی خامخا ترسره پوری مکمل طور سره پوره دك وي بلکه خالی‌خای هم پکنبی وي لکه کلاس کنبی چه نیم دطالبانوله دك وي ۰ اودیم قسم معیاردی : معیارهغه ته والي چه تول وخت په فعل سره مشغول وي لکه روژه ددی لپاره ورځ معیارده څکه ترطلوع فجرنه واخله ان ترغروب الشمس پوری پدی تبوله ورځ کنبی به روژه وي، اوپدی معیارکنبی دیوشی نه بغیربل شی نه راځي لکه په یوه ورځ کنبی دوه روژی نشي نیولی بس صرف یوه ورځ دیوی روژی لپاره معیاردی ، همدارنگه دخښتوکالب دی په یوکالب کنبی صرف یوه خښته راځي اوبله خښته پکنبی نه راځي نوکالب دیوی خښتي لپاره معیاردی۰ دمونځ لپاره وقت ظرف دی ددی مطلب دادی چه کله دمونځ وخت راشي نوه په هغه وخت کنبی مونځ وکړه اوداوخت دمونځ لپاره معیار ندی څکه که معیارشی نوبیا خودامطلب شو چه داول وخت نه تراخره وخته پوری په مونځ همدغسی جریان لري لکن داسی خونشي کیدای څکه دسهارمونځ به دطلوع فجرنه ترلمرختوپوری کولی شی اوبیا ماسپخین مولخ به ترزوال نه واخله ترمازیگرپوری اودمازیگرمونځ به دمازیگرله واخله ترمانبام پوری کولی شی نوبیاخوبه نورکارلشی کولی نودی وجهی نه وخت معیارندی دمونځ لپاره بلکه داظرف دی نودوخت په څه حصه کنبی مونځ اداء شي نوبس صحیح دی اودی سره به نورکاروله هم کولی شی لوکله چه نورکاروله هم کولی شي نوبیاچه کوم شی اداء کوی لوهغه لپاره لیت نه هم

Maktaba Tul Ishaat.com

ضرورت دی چه دفرضودنفلونه امتیاز راشی، آوکوم خای کښې چه وخت معیاروي نوبیاخوخودبخود هغه ورځ الله پاك ورته معیارگرځولی ده نوکه ابتداء کښې نیت ونشو نوسهرکښې هم نیت صحیح دی ځکه الله پاك هغه شی دهغی ورځې لپاره متعین کړیدی نوکه درمضان په میاشت کښې سړی نیت دنفلویادقضاء روژو وکړي واقع کیږي به درمضان نه لکه واني ( چیں کرے که پیں کرے داپتے به شین کرے ) رمضان کښې به خامخا روژه درمضان نیسی بله روژه نشی نیوی ځکه الله پاك داوخت درمضان لپاره معین کړیدی دانسان کړت پړت پکښې نه چلیږي کالصّلوة لکه مونځ شو، ځکه الله تعالی فرمائی ﴿ اِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا ﴾سورةالنساء،الاية:۱۰۳ ۰ یعنی مونځ فرض کړی شویدی په مؤمنانوباندی په اوقات مخصوصه وو کښې ، نو( الصلوة عبادةٌ معلومةٌ بأركان مخصوصةٍ ) نومونځ خوهرخوك پیژنی چه ځنګه کیږي لکه په رسول الله مبارك باندی مونځونه په لیلة المعراج کښې فرض شو، دمعراج داوړدی واقعی نه پس ماسپخین په وخت حضرت جبرائیل امین راغی اورسول الله مبارك ته ئی دوه ورځې مونځونه وکړل اووختونه ئی ورته وښودل په ړومبئ ورځ ئی دماسپخین مونځ په اول وخت کښې وکړو دزوال نه پس همدارنګه ئی دمازیګرمونځ ئی‌په اوله ورځ وکړو بیاورپسی دماښام ماختستن اوسهارمونځونه په ړومبی ورځ کښې په اول وخت کښې اداء کړل اوپه‌دوئمه ورځ ئی ټول مونځونه په اخروخت کښې اداء کړل اوبیانی رسول الله ﷺ ته وفرمائل چه ستا وختونه ددی دواړووختونو په منځ کښې دی یعنی اولنی وختونه ئی هم ورته ذکر کړل اوخرنی وختونه ئی هم ورله ذکرکړل او( خیرالاموراوسطها ) نورسول الله‌ﷺ ته ئی ددی دواړو وختونومنځ منځ کښې متعین کړو، نوجبرئل علیه السلام هم په اوله ورځ ړومبنی وختونوکښې مونځونه اداء کړل اوپه دویمه ورځ ئی په روستنی وختونوکښې مونځونه اداء کړل نوټول وخت خولی په مونځ کښې لدی راګیرکړی بلکه بعضی اوقات ئی اول دوخت اوبعضی اوقات ئی کښې ئی وکړی اوتمام وخت پری راګیرله کړی نوغاړه پری خلاصیږي، نووخت ظرف للاداء هم دی اوشرط هم دی اوسبب دوجوب هم دی۰ ومن حکم هذا النوع ان وجوب

الفعل فيه لاينافي وجوبَ فعل اخرفيه من جنسه اوحکم ددی نوعی واجبیدل دي دفعل
پدی وخت کښی دامنافی ندی دوجوب دبل فعل پدی وخت کښی دجنس دمأموربه هغه
چه وخت گرځیدلے ده ظرف لپاره دهغه، نوکه یوسړی دماسپخین مونځ کوي اودی مالداره
شو اودحج تیکټ ئی هم تیارشو نودئ په من استطاع الیه السبیلا کښی داخل شونوپدغه
وخت کښی په ده باندی حج هم واجب دی، یادیوسړي په مال باندی پدغه وخت کښی
حولان حول پوره شو نوزکاة هم پری واجب شو نوداوخت ظرف دی دعبادة لپاره نوپه
یووخت کښی متعدد عبادات کولی شي ځکه ظرف کښی مظروف مقدروي یا دماسپخین
مونځ نه پس نورقضاء شوي مونځونه کوي نوکولی شی، همدارنگه په یووخت کښی فرض
مونځ نفل مونځ وغیره کولی شی ځکه ظرف وائی هغه ته چه په هغه کښی مظروف نه علاوه
نورخبری هم اداءکولے شی حتی لونذران یصلی کذا وکذا رکعةً فی وقت الظهرلَزِمَهُ
تردی که یوسړي ندرومنلوچه خدای پاك ځما فلانی کاروکړي زه به دماسپخین مونځ سره
دومره رکعته مونځ کوم نوپده باندی دا نذرلازم دی لکه قران مجید کښی راځی ﴿ وَلْيُوفُوا
نُذُورَهُمْ ﴾سورة الحج،الاية:۲۹ ۰ ومن حکمه اوددی نوعی حکم داهم دی ان وجوب
الصّلوة فیه لاینافی صحة صلوة اخری فیه چه واجبیدل دمونځ پدی وخت کښی منافی
ندی صحة دبل مونځ پدی وخت کښی حتّی لوشغل جمیع وقت الظهرلغیرالظهریجوز
تردی که یوسړی مشغول شی په مونځ باندی په ټول وخت دماسپخین کښی بغیردمونځ
دماسپخین نه په بل مونځ باندی نوداجائزدی یعنی قضاء شوی مونځ پکښی گرځوی یاتلاوة
پکښی کوي یانورعبادات، لکن جرم ئی دادی چه اول اصل شی چه دماسپخین مونځ وه
هغه ئی روستوکړو اوغیرمطلوب فی الوقت ئی مخکښی کړو ومن حکمه انه لایتاَدّی
الماموربه إلا بنیةٍ معینةٍ اوددی نوعی چه گرځیدلی دی وخت ظرف لپاره ددی نوعی
داهم حکم دی چه نه اداء کیږي ماموربه مگرپه نیت معین سره، ځکه چه هرکله پدی
وخت کښی دی سره نورعبادات هم کولی شی نودفرضولپاره به باقعده نیت کولی شی
ددی لپاره چه دفرضو امتیاز راشي دنفلونه، نیت نه مراد په ژبه نیت کول ندی بلکه قصد
قلبی ته نیت وائی په ژبه باندی رسول الله ﷺ نه صرف دحج لپاره نیت منقول شویدی (

Maktaba Tul Ishaat.com

اللهمّ إنی أریدُ الحجَ فیسّرهُ لی وتقبّلهُ مِنی ) دادحج نیت دی بلکه بعضی خلق په ژبه بالدی نیت ویل بدعت گنی لان غیرهُ لما کان مشروعاً فی الوقت لایتعین هوبالفعل ځکه ددغی فرضونه علاوه نورهم جائز دي پدی وخت کښی لودغه فرض مونځ به په فعل سره نه متعین کیږي بلکه په نیت سره به متعین کیږي وان ضاق الوقت اگرکه وخت تنگ ولی نوي ځکه پدغه تنگ وخت کښی هم بل عبادت کیدای شی لان اعتبارالنیة باعتبارالمُزاحِمِ معتبرکول دنیت ځکه ضروري دی چه ده سره مزاحم موجود دی ، مزاحِم مقابل له والی ځکه پدی وخت کښی نور عبادتونه هم اداء کیدای شی، زحمة گنی (رش) ته وائی ( کان هناك زحمة ) هلته کښی ډیرلوی ازدحام وه. وقد بقیت المزاحمةُ عند ضیق الوقت اوکه وخت تنگ هم وي بیا هم مزاحم موجود دی ځکه چه پدغه تنگ وخت کښی، نورعبادات هم کولی شی. والنوع الثانی دویمه نوع چه وخت ورسره ظرف نوي بلکه معیاروي مایکون الوقتُ معیاراً له وذلك مثل الصوم فانه یتقدّرُ بالوقت په مثل دروژی باندی ځکه روژه په وخت سره مقدره ده وهوالیوم اوداوخت مذکوره ورځ ده چه کوم وخت سره روژه مقدره ده ومن حکمه اوحکم ددی قسم دادی ان الشرع اذاعین له وقتاً چه شرع دهغه لپاره وخت معین کړو لایجبُ غیره فی ذلك الوقت ندی واجب پدی ورځ کښی بله روژه ولایجوز اداءُ غیره فیه پدی وخت کښی بله روژه هم جائزه نده حتّی ان الصحیح المقیم تردی چه صحیح سړی چه مریض نوي اومقیم وي مسافرنوي لواوقع امساکهُ فی رمضان عن واجب اخرکه چیرته داروغ اومقیم سړی په رمضان کښی خپل امساك واقع کوي دبل واجب نه مثلاً دنذرروژه نیسی یادبلی روژی قضاء راوړي یقع عن رمضان لاعما نوی نوواقع کیږي به داروژه درمضان نه نه دهغه روژی نه دکومی نیت ئی چه کړیدی ځکه قران مجید والی ﴿ فَمَنْ شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَفَلْيَصُمْهُ ﴾ سورة البقرة، الایة:۱۸۵ . دشهرنه مراد درمضان میاشت دی ځکه مخکښی درمضان ذکردی واذا اندفع المزاحمُ فی الوقت سقط اشتراط التعین هرکله چه مزاحم نوه په روژه کښی نوتعین دنیت ته هم ضرورت نشته ځکه په ورځ کښی صرف یوه روژه وي، دوه بادری روژی په یوه ورځ کښی نشی نیولی اوپه یووخت کښی دوه ، دری، مونځونه کیدای شی، نوپه یووخت کښی چه سړئ ډیرمونځونه کولی

شی نوهلته مُزاحم موجودوه نوپه هغه صورت کښې تعین هم ضروري وه اودروژی په صورت کښې مقابل اومزاحم نوه موجود نوپدی صورت کښې تعین نه هم ضرورت نشته نودرمضان روژه خودبخود متعینه شوه لکه والی فتعین البتك للبازگل ۰ ددی مثال داسی دی لکه په یوه کمره کښې صرف یوکس دی نوکه ته ورته اوازوکړی یارجلُ نوهغه نه مراد همهغه سړئ دی کوم چه په کمره کښې موجود دی پدی صورت کښې تعین ته ضرورت نشته خکه دلته کښې مُزاحم اومقابل موجودندی، تعین ته خوهله ضرورت وي چه په کوم خای کښې مزاحم(مقابل) اومتعدد افراد موجودوي۰ فان ذلك لقطع المزاحمة اوداشرط دقطع دمزاحمت من الغیرلپاره دی ولایسقط اصل النیة اواصل نیت نه ساقطیږي ، اوس معترِض اعتراض کوي چه هرکله مزاحِم ندی موجود نونیت ته څه ضرورت دی؟ نوجواب دادی چه نیّت خوبه خامخا کوی ددی لپاره چه دامساك مطلقاً اودامساك معین فرق راشی، یومطلق امساك دی کله ناکله دیوسړي هسی زړه ته ډوډئ نه کیږي، اوبل امساك معین دی دسړي زړه ته ډوډئ کیږي لکن شریعت منع کړیدی چه ډوډئ مه خوره نونیت ضروري شو، نومصنف په عبارت مذکوره جواب ورکوي چه اصل دنیت نه ساقطیږي۰ لان الامساك لایصیرصوماً إلابالنیّة امساك روژه نه گرځي مگرپه نیت سره چه نیت وکړی نوهله به امساك روژه گرځي۰ فان الصومَ شرعاً هوالامساكُ من الاكل والشربِ والجماعِ نهاراً مع النیة خکه روژه په شریعت کښې خوامساك دی داکل ، شرب، جماع نه دورځی سره دنیت نه وان لم یعیّن الشرع له وقتاً فانه لایتعیّنُ الوقت له بتعیین العبد اوکه هغه عبادت مؤقت داسی وي چه شریعت ورته وخت نوي متعین کړی نوددی لپاره به وخت نه معین کیږي لکه دقضاء روژی دقضاء روژو لپاره نیت ضروري دی لکن وخت ورته معین ندی خکه قران پاك فرمائی ﴿ فَمَنْ كَانَ مِنكُمْ مَّرِيضًا اَوْعَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ اُخَرَ ﴾ سورة البقرة، الاية: ۱۸٤ ۰ نوآیام اخرنه مراد عام دی چه کومی ورځی دی خوخی وي حتی لوعیّن العبدُ آیاماً لقضاء رَمَضان لاتتعیّنُ هی للقضاءِ تردی که چیرته یوسړي درمضان دقضاءروژو لپاره ورځی معینی کړی نوداورځی په تعین ددی سړي سره دقضاء لپاره نه معینی کیږي لکه یوسړی اووائی چه دشوال اولنی لس ورځی به زه درمضان دروژو قضائی راوړم لکن هغه سړی دشوال

Maktaba Tul Ishaat.com

اولوسوور خوکښې دکفارې روژې ونیسي هیڅ فرق نشته ، ځکه دانسان په تعین یوشی نه معین کیږي ځکه الله پاك تعمیم کړیدی. ویجوز فیها صومُ الکفارة والنفل اوجائزدي پدی آیاموکښې روژې دکفارې او روژې دنفلو ویجوزقضاءُ رَمَضان فیها وغیرُها همدارنګه پدی آیام معینه کښې قضاء دروژو درمضان اوغیرددی نه هم جائزدي. ومن حکم هذاالنوع اوحکم دامرمؤقت دهغه نوعی چه شریعت دهغی لپاره وخت نوي مقررکړیی لکن وخت ورلره معیاروي انه یشترط تعیین النیة تعین دنیت پکښې شرط دی لوجود المُزاحِمِ له وجهی دی وجوددمزاحمت نه ، دلته کښې ډیرمزاحمین موجود دي ځکه پدغه ورځ کښې نورعبادات هم کولی شي نوضرورېه تعین کوي ، لکه ددی مثال داسی دی چه یوسبق کښې زیات طالبان دي اوپدی کښې تقریباً پنځه کسان طالبان دعبدالله په نوم باندی یادیږي نوبعضی خلق ورسره نمبرلګوي عبدالله نمبر ایك ، عبدالله نمبر دو وغیرذلك، اوبعضی خلق ورسره نسبت لګوي لکه عبدالله بشاوري ، عبدالله افغانی وغیرذلك نوچه هرکله په یونوم زیات کسان موجودوي نومابه الامتیاز به ورسره ضرور لګولی شی نودلته کښې پدغه ورځ کښې ډیرمزحمات دي نودهغوئ نه دجداکیدولپاره به ورسره نیت کولی شی ثُم للعبد ان یوجبَ شیأ علی نفسه موقتًا اوغیرَمُوَقّتٍ بیابنده لره دامناسب دي چه دی لازم کړي یوشی پخپل ځان باندی برابره خبره ده چه مؤقت وي اوکه غیرمؤقت وي، مؤقت دامعنی چه وخت ورته تعین کړئ شي مثلاً راتلونکی جمعه باندی به روژې نیسم، اوغیرمؤقت دامعنی چه وخت ورته تعین نه کړی شی مثلاً روژې به نیسم لکن وخت معلوم ندی. نوانسان پخپل ځان باندی شی لازم کولی شی ځکه دده خپل اختیاردی لکن انسان دشریعت په خبروکښې ګوتی نشی وهلی چه یوشی شریعت دیوځیزلپاره تعین کړی وي نوانسان پکښې بیابدلون نشی راوستئ لکه درمضان په روژو کښې یوانسان دبل هیڅ روژونیت نشی کولی نه دقضاء ، نه دنذر، اونه دکفارې دروژو ځکه دا تعین دالله پاك دی دالله پاك په کارونوکښې انسان هیڅ تغیراوتبدل نشی راوستئ ولیس له تغییرُ حکم الشرع اوعبدلره جائزندي چه دئ دشریعت په حکم کښې تغیرراولي. مثالُه اذا نذرَ ان یصوم یوماً بعینه لزِمه ذلك مثال ئی دادی چه یوسړي ندرومنلو چه دی به روژه نیسي په فلانئ ورځ

باندی نویدی سرې باندی پدی معینه ورځ کښی روژه لازمه ده ځکه الله تعالی فرمائی ﴿ وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ ﴾سورة الحج،الاية:۲۹ ۰ یعنی دوئ به ندرونه خپل پوره کوي ۰ ولوصامه عن قضاء رَمَضَانَ اوعن کفارة یمینه جاز که هغه سړي چه ئی دندرروژی لپاره معینه کړی وه پدغه ورځ باندی دقضاء درمضان روژه نیوله یائی دکفاری دقسم نه روژه ونیوله نوجائزه ده لان الشرع جَعَلَ القضاءَ مطلقاً ځکه شرعی قضاء درمضان مطلقاً ذکرکړیده الله تعالی فرمائی ﴿ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ﴾داخوئی ندي ویلی چه هغه به خاص فلانئ ورځ وي بلکه مطلق ایام ئی بیان کړیدي۰ فلایتمکّن العبدُ من تغییره بالتقید بغیرذلك الیوم نوبنده تغیردمطلق نشی راوستی په تقیید سره بغیرددی ورځی نه ، نوکومه ورځ چه دی سړي تعینه کړی وه داهم پکښی داخله ده نوداسړئ چه خپله یوه ورځ دندردروژی نیولولپاره تعین کړی وه اوپه هغه کښی ئی دقضاء یادکفاری روژه ونیوله صحیح ده ځکه داده خپله خوخه ده اوخپل تعین ئی دی نوتغیراوتبدُل پکښی راوستئ شی لکن درمضان روژی الله پاك چه په کوم وخت کښی تعین کړیده په هغه وخت کښی به اداء کولئ شی اوپدی کښی تغیرنشی راوستئ ولایلزمُ علی هذا ما اوپدی باندی داعتراض نه واردیږي اذا صامه عن نفل حیث یقع عن المندورِ لاعما نوی هرکله چه یوسړي پدغه ورځ باندی دنفلی روژی نیت وکړو نوپدی حیثیت سره داواقع کیږي دندرنه دهغی روژی نه دکومی نیت ئی چه کړیدئ یعنی معترِض اعتراض کوي چه که یوسړي په ځان باندی دجمعی دورځی ندر منلئ وه اوبیا دئ پدغه ورځ دنفلو نیت کوي نودنفلونیت ئی نه صحیح کیږي بلکه دندرروژه صحیح کیدائی شی؟ نومصنف جواب ورکوي چه داعتراض مه کوه لان النفل حق العبد ځکه دغه نفل حق دبنده دی اذهُوَ یَسْتَبِدُّ بنفسِه من ترکه وتحقیقه ځکه داعبد مستقل دی په پرینبودو دنفلوکښی اوپه راوړو دنفلوکښی نودی وجهی نه نفل هم دعبدکاردی نودئ خپل تعین کښی تغیراوتبدیل راوستئ شی فجازان یؤثِرُ فعل فیما هوحقُّهُ نوجائزدي عبدلره تأثیرپه هغه فعل کښی کوم چه دبنده حق دی لافیما حق الشرع اونشته عبد لره تأثیرپه حق دشرع کښي وعلی اعتبارهذا المعنی قال مشایخنا اوبناء پدی اعتبارسره چه که انسان خپل حق ساقطوي نوساقطولئ شی اوکه انسان حقُ الله ساقطوي نونشی ئی ساقطولی زمونږ علماء وائی اذا

Maktaba Tul Ishaat.com

شرطالی الخلع کله چه زوج اوزوجه شرط ولګوي په خلع کښی ، خلع دیته والی چه ښځه دطلاق طلب وکړي اوسړی تری په بدل کښی مهراوياځه مال واخلی، نوخلع طلاق بمال ته والی آنَّ لانفقة لها ولاسُکنیٰ چه زما نفقه به هم نوي دربانډی اونه به دربالدی زماسکنی وي ، په خلع کښی هم په ښځه بانډی درې حیضه عدت تیرول شته. سقطت النفقةُ نونفقه ساقطیږي ځکه نفقه حق دعبد دی نوداساقطوی شی دون السکنی اوحق دسکنی به نه ساقطیږي ځکه داحق دالله تعالی دشریعت دی نوداښځه به درې میاشتی پدې کورکښی تیروي ورسره ځکه الله تعالی فرمائی ﴿ أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم ﴾ سورة الطلاق، الاية:٦ ·یعنی داښځې تاسواووسوئ، نودامردی دالله پاك اودا به نشی ساقطولئ · حتی لایتمکن الزوج من اخراجها تردی چه قادره ندی زوج په ویستوددی ښځې عن البیت العدة دعدت دکورنه لان السکنی فی بیت العدة ځکه اوسیدل په کوردعدت کښی حق الشرع داحق دشرع دی فلایتمکنُ العبدُ من اسقاطه بنده قدرت نلري چه داساقط کړي بخلاف النفقة په خلاف دنفقی سره ، نفقه خالص حق دښځې وه هغه خپل حق زائله کولی شی ( میاں بیوی راضی . توکیا کرے قاضی ) ښځه چه پخپله نفقه نه اخلی نودبل چاپکښی هیڅ دخل نشته.

فصلٌ الامرُ بالشئِ یدُلُّ علی حُسنِ المامور به فصل دی په بیان دامربالشئ کښی چه دابه دلالت کوي په حسن دمأموربه بانډی ځکه دامرمعنی دی ( طلب ایجادِالماموربه مع التاکید ) نوآمِرچه حکیم وي معلومیږي چه دی کښی حسن وي ځکه قرآن مجید کښی راځی ﴿ إِنَّ اللَّهَ لَا يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاءِ ﴾ سورة الآعراف، الآية : ۲۸ ·الله تعالی دبی حیایئ دکارونوباره کښی امرنه کوي نوالله تعالی چه دیوی خبری امرکوي هغی کښی به حسن موجودوي اذاکان الآمِرُحکیماً که آمِرحکیم وه ، مطلق حکیم چه چاته آمروکړي نوهغه کښی به حسن وي نودالله تعالی ذات خوداحکمُ الحاکمین دی لان الامرَ لبَیَان انَّ الماموربه ممایٰنبغی ان یوجد ځکه امردی دپاره وي چه ماموربه دکولوشی دی ځکه نبه وي ، اوپدی عبارت سره په معتزله وو بانډی هم رد دی ، معتزله وائی داشیاؤ حسن

اوقبحه دعقل له معلومیږي ، اوموږ وایوچه حسن اوقباحت داشیاؤ دعقل له نه معلومیږي
بلکه دشریعت له معلومیږي لکه مثلاً یوسړي سویه نه لی خړمن اوویسته او سپینه لی کړه
اوبل سړي پیشوله خړمن لری کړه او سپینه کړه اودواړه لی یوځای کښی کېښودی نوځه
فرق لی دی؟ فرق لی صرف داشوچه شریعت والی چه سویه حلاله ده اوپیشوحرامه ده
نوشریعت چه یوشی حلال کړوحلال دی اوچه شریعت یوشی حرام کړو نوحرام دی یالکه
کوهی کښی چه کله منګك پریوتونوشریعت والی چه دری‌سوه(۳۰۰) بوقی اوبه لری اوباسه
بس کوهی پاك شوحالانکه هره بوقه چه دکوهی نه اووځی نودهغی نه پلیت څاڅکی
اوبوله پریوځی په یوپلیت څاڅکی سره اوبه پلیتیږي نوپه دری سوه څاڅکوسره څوپه
طریقه اولی سره پلیتیږي ، نوچه شریعت والی چه سره ددی بیاهم پاك شو نوموږ وایوپاك
شو اودینه پس لی بیا دهرچازره هم منی. اوهغی نه مخکښی لی دچازړه بلکل نه منی
نومعلومیږي شریعت چه
یوشی ته حسن اووالی نوخلك لی بلکل منی اوچه شریعت اووائی مه کوه نوهغه نه کوي
خکه هغه قبیح وي نوحُسن اوقبحه دشریعت نه ثابت شول ثم المامور به فی حق الحسن
لوعانِ بیامأموربه دُحسن دوجهی نه په دوه قسمه ده حَسَنٌ بنفسه وحَسَنٌ لغیره یوهغه دی
چه په هغه کښی حُسن ذاتی وي اوبل هغه دی چه دغیردوجهی نه پکښی حُسن راغلی وي
فالحَسَنُ مثل الایمان بالله تعالی پس حسن لذاته په مثل دایمان بالله تعالی باندی
وشکرِالمُنعِمِ اوشکریه دمُنعِمْ داهم حَسَن لذاته دی، نوچاچه درباندی انعام وکړو نودهغه
شکریه اداء کړه ځکه ( الانسان عبد الاحسان ) انسان داحسان غلام دی. نوچاهم چه درسره
ښه وکړل دهغه شکریه پکار ده ځکه حدیث شریف کښی راځی ( من لم یشکُرِالناس لم
یشکُرِالله ) څوك چه دخلقوشکریه اداء نه کړي هغه به دخدای جل جلاله شکریه څنګه اداء
کړي، ځکه دخلقوشکریه خومعمولي ده نوچه یوسړی معمولی شکریه نشی اداء کولی نولویه
شکریه به لاڅنګه اداء کړي. والصِدق په رښتیاکښی هم حسن ذاتی دی ، درښتیاباره کښی
قران مجید فرمائی ﴿ یٰاَیُّهَاالَّذِیْنَ اٰمَنُوااتَّقُوااللهَ وَقُوْلُوْا قَوْلاً سَدِیْدًا *﴾سورة سبا، الآیة:۷۰) ای
قولاً صِدقاً یعنی رښتیا خبری کوی والعدل همدارنګه په عدل کښی هم حسن ذاتی دی

Maktaba Tul Ishaat.com

حسن لذاته دي. ونحوها من العبادات الخالصة اوپه مثل داتی دی ځکه الله تعالی فرمائی ﴿اَقِیْمُوا الصَّلٰوۃَ وَاٰتُوا الزَّکٰوۃَ﴾ (البقرة/الاية:۴۳) دا تول ځکه الله تعالی فرمائی ﴿ اعدِلوا﴾ عدل کوی والصلوة همدارنگه په مونځ کښی هم حسن اوابردي اوحسن لِذاته دی همدارنگه الله تعالی فرمائی ﴿ وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ ﴾ (العمران/ ۹۷) نودا تمام عبادات حسن لذاته دي. ونحوها من العبادات الخالصة اوپه مثل ددی مذکوره عباداتوسره نورعبادات خالصه دي . فحکم هذا النوع پس حکم ددغی نوعی، اصل کښی مامورچه حسن لذاته وي داپه دوه قسمه ده يوداچه لا يسقطُ في حين مِن الاحيان، يعنی چيری هم نه ساقطيږي هميشه به دربانډی لازم وي لکه ايمان دالله تعالی په ذات اوپه صفاتودالله تعالی بانډی لکه قران مجيد کښی راځی﴿ اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ﴾( الحديد/ ۷ ) يعنی ايمان راوړی په الله تعالی اوپه رسول پاك ﷺ بانډی ، نودالله دوحدانيت عقيده به ترمرګه پوری وي دابه چيری هم نه ساقطيږي ځکه دتصديق تعلق دقلب سره دی اوداقرار تعلق دژبی سره دی نوترڅوچه زړه اوژبه وي نوايمان بالله اوبالرسول اوبالکتب اوبالملائکة اوپه تماموموٴمن بِهٖ به لازم وي، اودويمه هغه نوعه ده چه سرِی اداء کړي نوترينه ساقطه شيْ. انه اذا وجب على العبد اداءه لايسقُطُ بالاداء هرکله چه واجبه شی اداء ددی په عبد بانډی نونه ساقطيږي په اداء سره وهذا فيما لا يحتملُ السقوط اوداهغه ده چه احتمال دسقوط نلري مثل الايمان بالله په مثل دايمان په الله تعالی بانډی اوپه صفاتودالله تعالی بانډی ، دابه نه ساقطيږي په اداء سره. وامّا مايحتمل السقوط فهويسقُطُ بالاداءِ اوباسقاط الآمِر اوچه احتمال دسقوط لري نوهغه په اداء سره ساقطيږي ياپه اسقاط دامِرسره يعنی مونځ دی وکړو نوساقط شو يادرنه آمِرساقط کړو لکه دمريض نه چه الله تعالی مونځ ساقط کړيدی لکه مثلاً يوسړیٔ مونځ نشی کولی نه قاعداً اونه قائماً نه مستلقياً نه اشارتاً نوده نه مونځ ساقط شو ، همدارنگه دښځی نه په حالت دحيض کښی مونځ ساقط دی اووربانډی قضاء هم نشته. وعلى هذا قلنا اوبناء پردی بانډی مونږ وايو اذا وَجبتِ الصّلوة في اول الوقت سقط الواجبُ بالاداء يوسړي بانډی چه مونځ فرض شو اوده اداء کړو نوواجب ساقط شو په اداء سره اوباعتراض الجنون يا يو سړیٔ ليونی شولوده نه هم مونځ ساقط شو والحيض والنفاس في اخرالوقت ياښځه حايضه

شوه یانفاسه شوه په اخردوخت کښی نودی دواړو نه هم مونځ ساقط دئ ځکه ددی وخت
هرمنځ مسلمان نه دمونځ کولو طلب کوي نوپه اخردوخت کښی یوسړی لیونی شو یایوه
ښځه حایضه یانفاسه شوه نومونځ تری ساقط شو ځکه پیغمبر ﷺ فرمائی (رُفِعَ القلم عن ثلثة
عن النائم حتی یستیقظ وعن الصبی حتی یبلغ وعن المعتوه حتی یعقل) رواه الترمذی. یعنی
دری کسان مرفوع القلم دي نائم ترڅوچه بیدارنشی بل ماشوم ترڅوچه بالغ نشی اوبل بی
عقل ترڅو چه عقل مند نشی. **باعتباران الشرع اسقطها عنه عندهذه العوارض** په دی
اعتبارسره چه شرعی ددوئ نه ساقط کړیدی مونځ ددغوعوارضوله وجهی نه . **ولا یسقط
بضیق الوقت وعدم الماء واللباس ونحوه** لکن مونځ دوخت دتنګوالی دوجهی نه
اوداوبودنشتوالی دوجهی نه اوجامودنشتوالی دوجهی نه نه ساقطیږي ، ځکه که مونځ قضاء
شی نوقضاء به ئی وکړی لکه شاعروائی .

نمازیں جب قضاء ہوں تب اداء ہوں . نگاہیں جب قضاء ہوں کب اداء ہوں.

همدارنګه که یوځای کښی اوبه نوي نوپه تیمم سره مونځ کولی شی، همدارنګه که لباس
نشته نویومحفوظ ځای کښی اودریږه نوبربنډ مونځ کولی شی اونورددی پشان لکه اشتباه
دقبلی اونور. **النوع الثانی** اودویمه نوعه دمأموربه نه **مایکونُ حَسَناً بواسِطةِ الغیر** هغه دی
چه هغه کښی حُسن ذاتی نوي دبل چا دوجهی نه پکښی حسن راغلی وي، لکه اودس
مقصود بالذات ندی بلکه اودس کښی حُسن دصلوة دوجهی نه دی ځکه چه اودس مقدمه
دموقوف علیه دصلوة دی نودی کښی حُسن دغیردوجهی نه راغلی دی ، یالکه دیوی ختی
دپاسه عطرپریوتل نوختیه خوخوشبویه نده بلکه دعطرودوجهی نه پکښی خوشبوئ راغله لکه
شاعروائی ؎ گِلے خوشبوی درحمام روزی ـ رسیدازدست محبوبی بدستم

بدو گفتم که مشکے یاعبیری ـ که ازبوئے دلاویزی تومستم

بگفتا من گِل ناچیزبودم ـ ولکن مدتے باگل نشستم

جمالِ همنشین درمن اثرکرد ـ وگرنه من همان خاکم که هستم

شاعروائی چه زما محبوبی راله دحمام ختیه راکړه اوچه بوئ می کړه نوزبردست بوئ ترتلو
نوماورته اوویل چه داته ختیه ئی اوکه مشك اوعمبرئی . ستاخوزبردست بوی دی زه ئی

Maktaba Tul Ishaat.com

مست کړم . نوراله لی اوویل چه زه خوبیکاره ختـه وم . لکن یوځو ورځی دګل پخوا کښی کیناستم . لودملګري حسن په ما کښی هم راغی . ورله زه خوشحاله یم حسن راکښی دعطرودوجهی له راغلی دی. وذلك مثل السعی إلی الجمعة اوداپه مثل دسعی إلی الجمعة دی، جمعة کښی حسن لذاته دی اوسعی لی هم حسنه ده ځکه داسعی ذوصول إلی صلوة الجمعةلپاره ذریعه ده . لکه الله تعالی فرمائی ﴿ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ ﴾ فاسعوا آمردی لکن دی کښی داحسن دالی لدی ځکه سعی پخپله حسنه نده مثلاً یوطالب پخپل ځای کښی ناست وي دابه ده اوکه ګرځی راګرځی؟ لوپښتاله والی کانی چه پخپل ځای پروت وي لودروند بښکاری لوامردفاسعوا إلی ذکرالله کښی چه کوم حُسن دی دا دالی لدی بلکه دادذی وجهی له دی چه پدغه سعی سره داسړی دجمعی مونځ له رسي نوپه فاسعوا إلی ذکرالله کښی حسن لغیره دی

والوضوءِ للصّلوة همدارلګه اودس لپاره دمونځ دی ، وضوء خالته مستقل څو اسراف دی ځکه اوبه پکښی مستعملیږي اواسراف کیږي لکن الله تعالی فرمائی ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ... الآية ﴾. نوچونکه وضوء مقدمه دصلوة ده نوصلوة خوحسن لذاته وه نوپه اودس کښی هم حسن دصلوة دوجهی نه پیدا شو. فان السعي حَسَنٌ بواسطةِ کوله مُفضِياً إلی اداء الجمعة داسعي حسنه وه ځکه ددی وجهی نه سړی دجمعی مونځ کولی شی والوضوء حَسَنٌ بواسطة کوله مفتاحاً للصّلوة اواودس حسن دی ځکه اودس چابی دی دمونځ لپاره لکه حدیث شریف کښی راځی ( مفتاح الصلوة الطهور . یا . الوضوء مفتاح الصلوة ) دمونځ کنجی اودس دی چه دسړي اودس نوي نومونځ له نشی داخلیدی . وحکمُ هذا النوع اوحکم ددی لوعی چه حسن لغیره وي اله یسقط بسقوط تلك الواسطة چه دابه ساقطیږي په سقوط ددغی واسطی سره، لوچه دیوسړي اودس وي اودمونځ وخت راغی لوبیا داذا قمتم الی الصلوةالخ حکم ورله متوجه لدی، یایوسړی په مسجد کښی ناست دی دجمعی دمولځ وخت پری راغلولوبیا دده له سعی ساقطه ده ځکه سعی مسجد له کیږي اودیخپله په مسجد کښی موجود دی ځکه چه واسطه ساقطه شی لوحکم هم ساقط شی حتی ان السعي لا یجب علی من لاجُمعة علیه لردی حه سعی نه

واجبيږي په هغه چا باندی چه په چا دجمعی مونځ نوي، داحنافوپه نزد په بانډه(قريه ) کښی مونځ نه کيږي ، اودشوافعوپه نزد په بانډه کښی دجمعی مونځ کيږي ، شوافع والی چه ﴿ إِذَا نُوْدِیَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ یَّوْمِ الْجُمُعَةِ الآية ﴾ (الجمعة، ۹/ ) حکم مطلق دی ، (والمطلق يجرى على اطلاقه )۰ احناف ورله په جواب کښی والی چه قران مجيد کښی راځی﴿ إِذَا نُوْدِیَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ یَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا اِلٰی ذِکْرِاللّٰهِ وَذَرُوا الْبَیْعَ الآية ﴾( الجمعة،۹/ ) يعنی کله چه اواز وشی دمونځ دجمعی لپاره لولاړشی مونځ ته اوبيع پريږدی ، ذروا دجمعی ميغه ده اوائل دجمعی دری تنه دي لوداذان په وخت کښی دری تنه دکالونونه سودا کول داپه ښارکښی وي خکه بانډه کښی خودغرمی نه پس دکالونه بند وي، دبانډی( قريی) دکانداران دسهاردبانگ نه پس دکان پرانزی که دسهارلپاره خوك سودا کوي لوولی کي ورله بيادکان بندکږي اودکاندارځی خپله زمينداره کوي اوبيا لی دمازيگرپه وخت پرانزی که خوك دماخستن لپاره څه څيز اخلی نووالی اخلي ورنه نوروخت کښی دکانونه بندوي نوعين داذان په وخت کښی الله تعالی فرمالی﴿ وذروا البيع ﴾ نوداموږه کم افراد دذروا نه واخستوورنه زيالوته هم شامل دی نوداپه ښارکښی وي چه عين دجمعی په وخت خلق بيع اوشراء له ولاړوي نوځکه امام ابوحنيفة صاحب والی چه صرف په ښارونوکښی دجمعی مونځ لازم دی، نوچه په بانډو کښی په چاباندی دجمعی مونځ ندی لازم نوپه هغه باندی سعی هم لشته۰ **ولا يجب الوضوء على من لاصلوة عليه** اونشته اودس په هغه چا باندی چه مونځ نشته لکه حالضی ښځی باندی مونځ نشته نواودس هم وربانډی نشته همدارنگه نفاسه ښځه همدارنگه دليونی حکم هم دی۰ **ولوسَعٰی إلى الجمعة** که يوسړي سعی کړی وه دجمعی دمونځ لپاره مسجدته **فحُمِل مکرهاً إلى موضع أخر قبل اقامة الجمعة** اودی پورته کړی شوپه جبرسره يوبل ځای ته مخکښی دجمعی دمونځ نه **يجب عليه السعی ثانياً** په ده بالدی واجبه ده چه دی به بيا سعی کوي هغه مخکښی سعی لی کلعدم شوه خکه چه مقصدلدی حاصل وجه داده چه مخکښی سعی دجمعی لپاره وه اوجمعه لانده شوی نوسعی هم لړی لالده ساقطه **ولوكان معتكفًا فى الجامعِ يكون ساقطاً عنه** که يوکس اعتکاف کړی وه په جامع مسجد کښی لوسعی لړينه ساقطه ده، خکه چه جمعه بغيردسعی نه موجوده ده

Maktaba Tul Ishaat.com

وکذلك همدارنګه په مثل دسعی لوتوضأ فاحدث قبل اداء الصّلوة که یوطالب اودس وکړو اومونځ ته روان وه اواودس ئی مات شو مخکښی داداء دمونځ نه یجب علیه الوضوء ثانیاً واجب ده په ده باندی اودس ثانیاً ، ځکه اودس.خانته مقصودبالذات نوه بلکه وصیله دغیرده نوچه غیراداء شوی ندی نواودس هم ساقط ندی ولوکان متوضیاً عندوجوب الصّلوة اوکه دیوسړي اودس وه مخکښی نه اودمونځ وخت پری راغلو لایجبُ علیه تجدیدُ الوضوء نوبل اودس پری ندی لازم ځکه اودس ئی شته اومقصود مونځ دی هغه پری اداءکیږي والقریبُ من هذا النوع اوقریب ددی مسئلی سره چه حسن لغیره هغی ته وائی چه هغی کښی حسن دغیردوجهی نه وي نوترڅو پوری چه هغه نوي اداء شوی نوهغه مأمور دده نه نه ساقطیږي اوکنه دادمخکښی نه موجود وه نوبیا ضرورت نشته نوددی قسم دی الحدودوالقصاص والجهاد حدود، قصاص، اوجهاد ، حد حسن لذاته ندی ځکه وچ په وچه دیومسلمان لاس پریکول یایوسړیٔ سنګسارول یایوسړي سل(۱۰۰) دوری وهل دی کښی څه حسن دی داخوتعذیب دمسلمان دی او( المسلمُ من سلِم المسلمون من لسانه ویده ) مسلمان هغه چاته وائی چه دهغه دژبی اولاس دضررنه مسلمان پرامن وي، نوداخومسلمان ته تکلیف ورکول دي نودی کښی حُسن ذاتی ندی موجود لکن چونکه داوصیله ده دمنع عن المعاصی نه ددی په ذریعه خلق دګناهونونه منعه کیږي اواجتناب عن المعاصی حسن لذاته دی لکه قران مجید وائی ﴿ لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَآ أَمَرَهُمْ ... الآیة ﴾( التحریم/ ٦) دم دمعصیت دا طاعت دی اوطاعت عبادت دی نودیوجهی نه دی کښی حسن پیداشولو فان الحد حسَنٌ بواسطة الزجرعن الجنایة دا حد حسن دی ځکه داسړی دګناهونواوجرمونو نه بچ کوي، نوهیڅ یوکس به غلانه کوي چه هغه ته داپته وي چه زمالاس به پریکولی شی اوهیڅ یوکس به زنا نه کوي چه هغه ته داپته وي چه زه به رجم کولی شم والجهاد حسَنٌ بواسطة دفع شرالکفرة اوجهاد هم حسن دی په واسطی ددفعی دشردکفاروله ،دی کښی خوحقیقت کښی تعذیب دعبادودی لکن ددفع دشردکفاروپاره علاج دی واعلاء کلمة الحق اوذریعه د اعلاء دکلمة الحق ده ولوفرضنا عدم الواسطة اوګه واسطه نوي لایبقی ذلك ماموراً به نوداماموربه نه پاتی کیږي فانه لولا الجنایة لایجب

الحدود ځکه که سړي جرم نوي کړی نوهغه باندی حد هم ندی لازم **ولولا الکفرالمفضی الی الحرب لا یجب علیه الجهاد** که یوخای کښی کفرنوي نوجهاد به هم نوي ، جهاد خودکفردډلیله کولوپاره دی **فصلٌ الواجبُ بحکم الامرنوعان** کوم شی چه دامرپه بنیاد باندی په سړي لازم شی نودابیا په دوه قسمه دی اداءٌ وقضاءٌ یوقسم ته اداء وائی اوبل قسم ته قضاء وائی ، اوکله ناکله دا دواړه دیوبل پرځای باندی مجازاً استعمالیږي لکه خسوف اوکسوف ، دلمرتندرنیولوته کسوف والی اودسپوږمۍ تندرنیولوته خسوف وائی لکن کله ناکله دیوبل پُر ځای استعمالیږي نواګرچه قضاء اواداء یوبل سره جدادي لکن کله ناکله دیوبل پُر ځای باندی استعمالیږي لکه قرآن مجید کښی راځی ﴿ فَإِذَاقَضَيْتُمْ مَّنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَذِكْرِكُمْ اٰبَاءَكُمْ اَوْاَشَدَّ ذِكْرًا۰۰الآية ﴾(البقرة/ ۲۰۰) دلته کښی دقضیتم معنی ادیتم دی کله چه تاسودحج افعال اداء کړئ بیادالله تعالی ذکرکوی ، دجاهلیت په زمانه کښی به چه خلقوحج وکړو نوبیابه لوي لوي میلی ولګیدی اوپه هغوی کښی به ئی دپلاراونیکه تعریفونه کول لکه فرزدق وائی .

ﺷ اولئك آبائی فجئنی بمثلهم - اذا جمعتنا یا جریرُ المجامعُ .

نوهغوی به دخپل پلارنیکه صفتونه کول اوهمدارنګه قران مجید کښی راځی ﴿ فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوْا فِي الْاَرْضِ۰۰الآية ﴾ (الجمعة، / ۱۰ ) یعنی دجمعی مونځ چه وشی نوبیاتجارت کولی شی نودلته کښی هم دفاذا قضیت الصلوة معنی فاذا ادیت الصلوة دی **فالاداءُ عبادةٌ عن تسلیم عین الواجب الی مستحقه** اداء عبارت دی دورکولودعین واجب نه خپل مستحق ته، نوچه کوم شی په انسان واجب وي هغه به خپل مستحق ته ورکوي نوپه عباداتوکښی مستحق دالله تعالی ذات دی لکه مونځ الله تعالی فرض کړیدی اوپخپل وخت کښی اداء شی، زکاة فرض دی اوپه خپل وخت کښی ورکړی شی، حج فرض دی پخپل وخت کښی چه وشی درمضان روژی فرض دي خوچه پخپل وخت کښی ونیول شی ،دیته اداء والی، دا تسلیم دعین واجب دی کوم واجب چه دسبب دوجهی نه درباندی لازم شوی وي دابه ورکوی مستحق ته ځکه الله تعالی حکم کوي ﴿ إِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُكُمْ اَنْ تُؤَدُّوا الْاَمٰنٰتِ اِلٰی اَهْلِهَا۰۰الآية ﴾( النسآء/۵۸ ) داعبادت یوامانت دی دانسان په غاړه کښی الله

Maktaba Tul Ishaat.com

تعالی اچولی دی نوعبادت به یواځې الله تبارك وتعالی ته کیږي بل چا ته نه کیږي ، یایوکس بل کس سره امانت کیښودلو نوپه هغه لازم دی چه هغه امانت کښې خیانت ونکړي اوعین امانت ورته تسلیم کړي ، نواداء دیته وائی چه کوم شی په انسان باندی آمرلازم کړیدی چه هغه بعینه اداء شی لکه حدیث شریف کښی راځی ( آدِّ الاَمَانة إلی من إءتمنك ولا تخن من خانك ) اداء کړه امانت هغه سړي ته چه تا سره ئی امانت ایښی دی که یوسړي تاسره خیانت کوي نوته ورسره خیانت ونکړی۰ **والقضاءُ عبارةٌ عن تسلیم مثل الواجب الی مستحقه** قضاء عبارت دی دورکول د مثل د واجب نه خپل مستحق ته لکه بل حدیث کښی راځی (خیرکم احسنکم قضاءً ) یعنی ښه سړیٔ هغه دی چه په ښی طریقی سره یوشی اداء کوي ، همدارنگه بل حدیث کښی راځی ( رحم الله امراءً سَهُلُ البیع والشراء سهل القضاء سهل الاقتضاء ) یعنی په هغه سړي دالله تعالی رحمت وي چه دهغه اخستل اوخرڅول ډیراسان وي یعنی ډیره چلاکی ورکښی نه کوي که دچاپری حق وي نوورته ورکوي ئی اوکه پرچا ئی حق وي نوپه ښیاونرمی طریقی سره ئی غواړي۰ **ثم الاداء نوعان** یبااداء پخپل کورکښی په دوه قسمه ده **کاملٌ وقاصرٌ** یوه اداء کامله ده اوبله اداء قاصره ده ، لکه مثلاً یوسړي تاته سل(۱۰۰) روپی امانت درکړی اوتاښی سمبالی کړی اومیاشت پس دی ورته په هغه حالت کښی ورکړی کوم حالت کښی ئی چه تاته درکړی وي دیته اداء کامله وائی اوکه تامحفوظی نوی ایښی اوښی وشلیدی اوخرابی شوی اوبیا دی ورکړی دیته اداء قاصره وائی **فالکاملُ مثل اداء الصلوة فی وقتها بالجماعة** پس اداء کامله دادمونځ اداء کول دي پخپل وخت کښی په جمعی سره ، یالکه دروژی اداء کول دي درمضان په میاشت کښی **اوالطواف متوضیاً** اویاطواف کول دخانه کعبی نه پداسی حال کښی چه دسړي اودس وي نوداهم اداء کامله ده ځکه الله تعالی وائی ﴿ وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ ﴾ سورة الحج، الآية:۲۹ ۰ نوبدی آیت عمل دادی چه سړی په اودس سره دخانه کعبی نه طواف وکړي۰ **وتسلیم المبیع سلیماً** اوورکول دمبیعی چه داسالمه وي ، یوسړي دبل سړي نه څه شی واخستو اودامبیعه بلکل سالمه ده هیڅ عیب پکښی نشته نوداهم اداء کامله ده اوکه څه عیب پکښی وه لودا اداء قاصره ده **کما اقتضاه العقد إلی**

المشتري لکه څنګه چه عقد تقاضه کوي مشتري ته ، څکه عقددبیعی اوشراء تقاضه ددی خبری کوي چه ثمن اومبیعه دی دواړه پوره اودرست وي څه عیب اونقصان دی پکښی نوي وتسلیم الغاصب العین المغصوبة کما غصبها تسلیم دغاصب عین دمغصوبی لره لکه څنګه چه ده غصب کړیده نودا اداء کامله ده اوکه غاصب نه مغصوبه هلاکه شوه اوغاصب بیادهغی قیمت ورکوي نودا اداء قاصره ده. وحکم هذا النوع اوحکم ددغی نوعی چه اداء کامله ده ان یحکم بالخروج عن العهدة به مونږه به حکم کوه په خروج دعهدی نه چه یوشی الله تعالی په تالازم کړو اوتابعینه هم هغسی اداء کړو نوغاړه دی خلاصه شوه یعنی چه کله دی مونځ وکړو یا دی درمضان روژی ونیولی نوستا غاړه خلاصه شوه څکه اداء وشوه وعلی هذا قلنا اوبناء پردی چه اداء کامله عبارت ده دعین هغه څیز نه چه پرتاباندی لازم دی نوموږوایو الغاصب اذا باع المغصوب من المالك اورهنه عنده اووهبه له وسلمه الیه یخرج عن العهدة هرکله چه یوغاصب یوشی غصب کړو اوبیائی همهغه شی په خپل ملك باندی خرڅ کړو اویائی ورته عاریتاً ورکړو اویائی ورته ګانه کیښودو اویائی ورته اوبښلواویائی ورته تسلیم کړو نوغاصب دعهدی نه ووتواوغاړه ئی خلاصه شوه څکه چه مغصوب منه ته ئی عین مغصوبه حواله کړه نودهبی ، بیعی اوعاریت تولی خبری ئی لغوه شوی ګویا مطلب ئی دادی چه مغصوبه ئی‌ورته واپس کوم . ویکون ذلك اداءً لحقه غاصب هغه حق اداء کړو، څکه عین مغصوبه ئی ورته حواله کړه ویلغوما صرّح من البیع والهبة اولغوه شوی هغه خبری چه ده پری تصریح کړی وه دبیعی اودهبی اودرهن وغیره، نومغصوب منه په عدالت دقاضی کښی دعوا نشی دائره ولی څکه غاصِب ورته خپل شی حواله کړو ( حق به حقدار رسید) اوغاصب کله ناکله دخلکونه شرمیږي نوخلکوته ځان نه څرګندوي نودبیعی هبی اونورالفاظ ورته مستعمل کړي. ولوغصب طعاماً فاطعَمهُ مالکه وهولایدری انّه طعامه که یوسړي دبل نه طعام په زوره واخستواوهمهغه طعام ئی په مغصوب منه باندی وخوړلو اومالك ته معلومات نه وو چه دا زما هغه طعام دی چه دی سړي رانه په زوره اخستی وو، نوحق ئی اداء شو اوغصب ثوباً فالبسهُ مالِکهُ وهولایدری انّه ثوبهٔ که یوسړي دچانه جامه غصب کړه اومغصوب منه ته ئی واچوله اوهغه ته پته نوه چه دازما

جامه ده چه مانه دی سړي غصب کړی وه يكون ذلك اداءً لحقه نودا اداء شوه په حق دمغصوب منه کښی والمشتری فی البيع الفاسد همدارنگه مشتری په بيعه فاسده کښی چه واجب دی رد په مبيعه کښی دوجهی دفسادنه په مبيعه کښی، لواعارَ المبيع من البائع چه په عاريت باندی بائع مبيعه ورکړي اورهنه عنده اوياني گانه کینوده دمشتری سره اواَجرَه منه اوباعه منه اووهبهُ له وسلمهُ يالی په کرايه اواجرت واخشته دی مشتری بائع نه اويانی مشتري ته هبه کړه اوورته تسليمه ئی کړه يكون ذلك اداءً لحقه دمشتری حق اداء شو ويلغُوماصرّح به من البيع والهبة ونحوه اولغوه شوتول الفاظ چه بائع پری تصريح کړی وه دبيعی نه دهبی نه اوداسی نورالفاظ، ديته اداء کامله وائی په هره طريقه چه وي خوچه هغه شئ مالك ته ورتسليم شی واَمّا الاداءُ القاصِرُ اداء قاصره چه ده فهوتسليمُ عينِ الواجب مع النقصان فی صفته هغه تسليم دعين واجب دی سره دنقصان نه په صفت کښی ، نحوالصلوة بدون تعديل الارکان لکه مونځ بغيردتعديل دارکانونه، لکه يوسړئ مونځ کوي لکن رکوع سجده پوره نه کوي اداء خوراغله لکن قاصره ده پکاروه چه يوسړی مونځ کوي دتعديل الارکان سره وي ځکه يواعرابی راغی اورسول الله مبارك باندی ئی سلام واچولو نومونځ ئی شروع کړو اوزر زرئی وکړو يعنی تعديل ئی پکښی ونکړو بياراغئ رسول الله ﷺ باندی ئی سلام واچولو نوپيغمبرعليه السلام ورته اوفرمائل ( صل انك لم تصل ) يعنی مونځ وکړه مخکښی مونځ دی ندی شوی هغه اعرابی بياهغسی زرزرمونځ وکړو بيا راغی اوپه رسول الله ﷺ باندی ئی سلام واچولو رسول الله مبارك ورته بيا وفرمائل( صل انك لم تصل) همدارنگه په دريم ځل تکرار شو بيا ئی خپل شکست ومنلو اودرسول الله ﷺ نه ئی دمونځ دطريقی تپوس وکړو اورسول الله ﷺ ورته طريقه مفصله وفرمائل، همدارنگه په رسول الله ﷺ صحابؤ ته باربار فرمائل ( صلوا کما رايتمونی ) نودرسول الله مبارك مونځ خوکمال دتعديل سره وه لومعلومه شوه چه تعديل په مونځ کښی ضروري دی، نوچه يوسړی مونځ سره دتعديل دارکانووکړي لودا اداء کامله ده اوکه بغيرتعديل وي اداء خوده لکن قاصره ده ځکه صفت دَ تعديل پکښی لدی موجود اوالطواف محدثاً اويالی طواف بغيراودس نه وکړو، طواف پکارده چه په اودس سره وي ځکه حديث شريف کښی راځی ( الطواف

بالبیت الصلوة ) طواف دَ بیت الله داسی دی لکه مونږ نوکه طواف په اودس سره وي نوداطواف کامل دی اوکه بغیرداودس نه وي نودشوافعوپه نزدباندی خوبلکل طواف ونشوخکه دَ هغوی په نزد طهارت په طواف کښی فرض دی لکن داحنافوپه نزد طواف وشو لکن قاصردی خکه زمونږ په نزد اودس په طواف کښی واجب دی اوفرض نه دی وجه داده چه داپه حدیث سره ثابت دی په نص دقران سره خوندی ثابت اوپه حدیث سره ثبوت دواجبوراځی اودفرضیت ثبوت خوپه نص دقران سره راځی۰ وردّ المبیع مشغولاً بالدّین اوواپس کول دمبیعی مشغول بدین مثلاً یوسړي په بل سړي باندی غلام خرڅ کړو اوهغه غلام باندي دچاقرض نوه لکن بیا بائع اومشتری په څه خبره وران شو اومبیعه چه غلام دی مشتری ورته واپس کوي لکن پدی صورت کښی غلام دیوبل کس نه قرض داره دی نوداهم اداء کامله نده بلکه اداء قاصره شوه خکه اوس غلام مشغول دی په دین سره اودمخکښی صورت کښی مدیون نوه اوبالجنایة اویا داغلام مشغول وه په جنایت سره، مثلاً اول سړي چه خرڅولو نوهیڅ مقدمه پری نوه لکن اوس ئی چه ورته واپس کوي ده باندی دجنګ یادبل څه مقدمه شته نودی صورت کښی هم اداء کامله نده بلکه قاصره ده وردّ المغصوب مباح الدم بالقتل اوردکول دمغصوب پداسی حالت کښی چه قتل ئی کړیدی، نوقاتل خومباح الدم وي هغه خوبه قصاص کیږي ، یاهغه یوبل سړی زخمی کړیدی نوکیدای شي دی هم زخمی کړی شي خکه ( والجروح قصاص ) نودا هم اداء قاصره شوه ۰ اومشغولاً بالدین اوالجنایة بسبب عندالغاصب یاپه ده چه جرمانه یاقصاص وغیره راغلی داسبب دغاصِب یادمشتری په مِلك کښی موجود دی داټول اداء قاصره ده همدارنګه واداء الزُیوف مکانَ الجِیاد زیوفی پیسی ورکول په ځای دجیادوباندی، زیوف هغوپیسوته وانی چه تاجران ئی یوبل نه اخلی لکن بیتِ المال ئی نه اخلی، کله کله بیت المال اعلان وکړي چه فلانی قسم پیسی مونږنه اخلو، نوکه یوسړي دبل نه پیسی اخشتی وی اوهغه بلکل صحیح وی اوس دهغوئ بدل کښی ورته نوری پیسی ورکوي اوهغه پیسی داسی دي چه سوداګرومنځ کښی خوچلیږي لکن بنك ئی نه اخلی نوداهم اداء قاصره شوه، ورکول دزیوفوپه مکان دجیادوباندی اذالم یعلَمِ الدائنُ ذلك داپه هغه وخت کښی

Maktaba Tul Ishaat.com

چه دائن ته معلوم نوي چه دا خنگه پیسی دي، یودائن دی اوبل مدیون دی، دائن: هغه چاته وائی چه قرض نی ورکړئ وي یا په بل عبارت صاحب دپیسوته دائن وائی اوچه په چائی پیسی دي یعنی پرچا چه قرض دی هغه ته مدیون وائی، نودائن صحیح لوټ ورکړی وه لکن مدیون داسی لوټ ورکوي چه تاجران نی اخلی لکن بنك نی نه اخلی نودا اداء قاصره ده، داپه هغه صورت کښی چه دائن ته ددی لوټ پته نوي اوکه دائن ته پته وه اوبیائی هم قبول کړو نوبیا اداء کامله ده ځکه دئ په هغه خپل حق باندی راضی دی( میاں بیوی راضی . توکیا کرے قاضی) دائن خوشحاله دی چه مدیون څه راکړي نوصحیح دی **وحکم هذا النوع** اوحکم داداء قاصری **انه ان امکن جبرالنقصان بالمثل ینجبربه** که یوځای کښی ممکن وي جبردنقصان په مثل نوجبربه پرې کولئ شی که یوځای کښی دهغی مثل شرعی یامثل صوری موجودوه نومثل به نیورکولی شی · **والا یسقطُ حکم النقصان الافی الاثم** دنقصان حکم به ساقط وي مگرگناه به باقی وي **وعلی هذا** اوبناء پردی باندی که دیوځیزلپاره مثل موجودوه اوهغه مثل تااداء کړو لکه طواف دی بغیراودس نه وکړو نودهغی مثل دم دی نوپه دم ورکولو سره دی غاړه خلاصیږي ځکه دم خانته سرئ ورکولی شی ځکه گډ پخپله موجودیږي اوکه دهغی مثل ځانته نه موجودیږي نوبیاورنه دهغی مثل ساقط دی لکه گنهگاریږي لکه مونځ کښی تعدیل دتعدیل مثل نشته چه یوسړی په مونځ کښی تعدیل ونکړي اوبیا دهغه لپاره بغیردمونځ نه تعدیل وکړي ځکه دتعدیل په خارج کښی جبیره نشته بلکښ سړی گنهگاردی اوبل داچه دی کس ته سارق الصلوة وائی ځکه دمونځ نه نی تعدیل غلا کړو· **اذا ترك الارکان فی باب الصلوة لایمکن تدارُکه بالمثل** هرکله چه پرینبودل شو تعدیل په مونځ کښی نوددی تدارُك په مثل نشی کیدای ځکه اعتدال په ارکانوکښی یووصف دی اوځانته پخپله باندی نه موجودیږي **اذلا مثل له عند العبد فسقط** چه تعدیل لره مثل نشته نه عقلاً اونه شرعاً په نزد دعبد نودا ساقط شوولوترك **الصلوة فی آیام التشریق** که یوسړي په ایامودتشریق کښی مونځ ونکړو، تشریق: وائی ځیری کولوته پدی آیاموکښی سړئ غوخی ځیری کوي ، ایامودتشریق کښی دمونځ نه پس تکبیرونه کول دي اودا دعرفی دورځی دسهاردمونځ نه شروع کیږي ترخوارلسم دذی

الحجی پوری به داحنافو په نزد په درویشت(۲۳) مونځونوپسی ویل کیږي، اودبعضی مذاهبوپه نزد په اتو(۸) منځونوپسی ویل کیږي ، اوداتکبیرات واجب دي اوثابت دي په نص قرانی سره ﴿ وَاذْكُرُوا اللَّهَ فِي أَيَّامٍ مَّعْدُودٰتٍ ﴾( البقرة، / ۲۰۳ ) چه هغه ایام معلومات دي اوتکبیرونه پدی شان سره دي ( الله اکبر الله اکبر لااله الا الله والله اکبر الله اکبرولله الحمد ) اوپه مدینه منوره کښی داسی تکبیرونه ویل کیږي( الله اکبرکبیرا . سبحان الله بکرةًواصیلا . والحمد لله کثیرا ) نوپه آیامودتشریق کښی کامل مونځ دادی چه په مونځ پسی به تکبیرات وانی اوکه یوسړی پدی آیاموکښی مریض وه اومنځونه تری قضاء شو **فقضاها في غيرايامِ التشريق لايكبر** نودی چه دهغی قضاء راوري نوبیابه تکبیرونه نه کوي په نورو آیاموکښی۰**لانه ليس له التكبيربالجهرشرعاً** ځکه تکبیربالجهردمونځ نه پس شرعاً نشته، اوندی لازم۰ **وقلنا في ترك الفاتحة** همدارنګه مونږوایو په ترك دفاتحی کښی **والقنوتِ والتشهد وتكبيرات العيدين** یایوسړي نه په وتروکښی دعا قنوت هیره شوه یاتشهدتری هیرشو اویا تکبیرات دعیدینوتری هیرشو**اِنهُ ينجَبِرُبالسجود** ددی جبیره به کولی شی په سجده سهوه سره، نوددی جبیره سجده سهوه دی لکن بعضی علماء وائی که داخترپه مونځ کښی درنه تکبیرات هیرشول اوسجد سهوه دی ونکړه نوخیردی همدارنګه دجمعی په مونځ کښی درنه واجب ترك شو اوسجد سهوه دی ونکړه نوپروانشته ځکه چه داختراوجمعی مونځ ته دباندو( اطرافو) خلق هم راغلی وي نوکه امام سجده سهوه وکړي نوهغوی چه کورته لاړشی نوهغوی به خپلومنځونوکښی هم دغسی کوي ځکه هغوئ به فکرکوي چه مونځ به دغسی کیږي نوهغوی نه به دمونځ خپله طریقه هیره شی نودعموم بلوا دوجهی نه ترك دسجدی سهوی کیدائی شی۰ **ولوطاف طواف الفرض محدثاً** که یوسړي فرض طواف بی اودسه وکړو **ينجبرُذلك بالدم وهومثل له شرعاً** نوجبیره به ورکولی شی په دم سره اودادهغی لپاره مثل شرعی دی **وعلى هذا بناء** پردی باندی **لوادّى زيْفاً مكان جيِّد** که مدیون پیسی ورکړی دالن ته چه زیوفی وي پرځای دجیدوباندی **فهلك عندالقابض** اودغه پیسی دقابض سره هلاکی شوی **لاشئ له على المديون عندابى حنيفة** نودداٸن لپاره په مدیون باندی هیڅ شئ نشته په نزد دامام ابوحنیفة صاحب، ځکه ددی جیدوالی خه بیل

Maktaba Tul Ishaat.com

صفت ندی،موجود چه هغه مونږ ورسره اداء کړو. **لانه لامثل لصفة الجودة منفردة** ځکه چه نشته مثل دَصفت دَ جودت لره یواخې **حتی یمکن جبرُها بالمثل** تردی چه ممکن شی جبرد جودة په مثل سره، یعنی ددی جودت اوزیف تقابل نشته **ولوسلم العبدمباح الدم بجنایةٍ عندالغاصب** که یوسړي بل ته غلام ورکړو اوهغه مباح الدم وه په جنایت سره دغاصب سره **اوعندالبائع بعدالبیع** اویادبائع سره روسته دبیعې نه مخکښې دتسلیم دمشتری نه **فان هلك عندالمالك** که چیرته هلاك شو دمالك په لاس کښې اومالك ئیمغصوب منه وه **اوالمشتری قبل الدّفع** اویا دمشتری سره هلاك شو مخکښې ددفع نه بائع ته **لزمه الثمن** نوپدی صورت کښې په مشتری باندی ثمن لازم دی ځکه بائع چه کومه مبیعه ورکړی وه هغی کښې څه عیب نوه موجود **وبرئ الغاصبُ** اوکه یوسړي دبل نه څه شی غصب کړو اوبیانی ورته واپس کړو نوغاصب پدی صورت کښې بری دی **باعتبارآصل الاداء** ځکه اصل اداء موجوده ده ، اصل اداء داده چه دغه جید اوزیوف یوشان شئ دی اوصفت دکوته والي یادجودت خانته نه متحقق کیږي **وان قُتِلَ بتلك الجنایة** اوکه داغلام هلاك شو ددغه جنایت دوجهی نه چه کوم متحقق شوی وه عندالغاصب **استندالهلاكُ الی اول سببه** نوبیا به هلاك اولِ سبب ته متوجه کولی شی چه هغه غصب دی اودادغاصِب دجنایت دوجهی نه هلاك شویده نوبیا دا اداء اداء نه ده نومغصوب منه ته به بیا دخپل عبد قیمت دغاصِب له طرف نه اداء کیږي. **فصارکانه لم یوجَدِالاداء عندابی حنیفة** رح نودامام ابوحنیفة صاحب په نزد داداسی شوچه بلکل اداء موجوده شوی نه ده دغاصب دطرف نه، نوبیابه مغصوب منه دغلام قیمت دغاصب نه اخلی اوکه هغه غلام هلاك نشونوپدی صورت کښی بیا اداء راغلی دهٔ **والمغصوبةُ اذا رُدّتْ حاملاً** اوهمدارنګه مغصوبة کله چه راواپس کړی شی مغصوب منه ته پداسی حال کښی چه حامله وه، یعنی چه یوسړي دبل نه وینځه غصب کړه اوبیا لی جماع ورسره وکړه اوحامله شوه اومغصوب منه ته نی واپس کړه **بفعل عندالغاصب** یعنی حامله شوه په جماع دغاصب سره یاپه جماع دبل چاسره لکن وینځه دغاصب سره وه **فماتت بالولادة عندالمالك** دغه وینځه چه غصب شده ده مړه شوه دمالك په لاس کښی نوپدی صورت کښی **لایبرأ الغاصبُ عن الضمان عندابی حنیفة** نه بری کیږي غاصب

دضمان نه په نزد دامام ابوحنیفة صاحب ، خکه چه نسبت دهلاك به دته کیږي **ثُمَّ الاصلُ فی هذا الباب بیاصل په باب داداء کښی هوالاداءُ کاملاً کان اوناقصاً** هغه اداء ده کامله وي اوکه ناقصه وي **وانّما یُصارالی القضاء عندتعذرالاداء** قضاء ته به صیرورت هله کیږي کله چه اداء متعذره شی مثلاً یوطالب دبل طالب نه قلم غصب کړو ترخو چه داقلم موجود وي دا غاصب به بعینه دغه قلم ورکوي لکن که دغه قلم دغاصب نه ورك شو اوددغه قلم مثل په بازار کښی ندی موجود نوبیابه داغاصب ددی قلم قیمت ورکوي اوداقیمت به قیمت عندالاداء معتبروي خکه ددی خبری امکان شته چه کله دغاصب نه قلم ورك شو نوپه هغه ورخ ددی قلم قیمت لس روپی وه اوکله چه مغصوب منه تری مطالبه وکړه اوقاضی فیصله وکړه لکن پدغه ورخ دقلم قیمت دولس روپی وه نوداغاصب به دولس روپی ورکوي خکه چه کله غاصب دغه قلم غصب کړیدی نوامکان ددی خبری شته چه ددغه قلم پشان بل قلم په بازارکښی پیداشی لکن چه کله بازارکښی نه پیداکیږي نوبدی صورت کښی به قیمت ورکوي خکه قیمت هله لازمیږي چه دهغه شئ مثل په بازارکښی مفقودشی **ولهذا یتعیّنُ المال فی الودیعة والوکالة والغصب** اوددی وجهی نه لازم دی مال په ودیعة کښی په وکالت کښی اوپه غصب کښی یوسړي بل سړي سره امانت کیښود بیا دا امانت مال دی سړي پخپله باندی هلاك کړو یایوسړي بل سړی وکیل کړو په بیعه اوشراء باندی اوپه غصب کښی پدی‌تماموصورتونوکښی به مال دهغی ورځی متعین کیږي چه په کومه ورخ مطالبه وشی **ولواراد المودَعُ والوکیلُ والغاصبُ اَنْ یُمسِكَ العینَ ویدفع مایُماثِلُهُ لیس له ذلك** که اراده وکړي مودع یاوکیل اویاغاصب چه خپل عین شئ دځان سره وساتی چه هغه ودیعة یادراهم دمؤکل یامغصوبه ده اومثل دهغوئ مالکانوته ورکړي نودوئ لره داجائزندي بلکه خپل شئ به ورکوي، خکه دامین په لاس کښی چه کوم شئ وي همهغه به ورکوي خکه امانت دغه ته والی لکه قران مجید کښی راخی ﴿ اِنَّ اللّٰهَ یَاْمُرُکُمْ اَنْ تُؤَدُّوالْاَمٰنٰتِ اِلٰی اَهْلِهَا ﴾ (النسآء/:۵۸) الله تاسوته امرکوي چه امانت خپل اهل ته وسپاری، همدارنگه وکیل به هغه پیسی ورکوي کومی چه مؤکل ورکړی وی ، اوهمدارنگه به غاصب هغه شئ ورکوي کوم شئ ئی چه غصب کړیدی **ولوباع شیأً وسلمه فظهربه عیبٌ** که یوسړي یوشئ خرخ کړو

اومشتری ته ئی حواله کړو اوبیاپه هغه شی کښې عیب پیداشو کان المشتری بالخیارین الاخذ والترك فیه دمشتری خوخه ده چه داشئ اخلی اوکه پریږدي ئی ، اودیته خیارعیب وائی دخیارډیراقسام دي خیارشرط، خیارعیب، خیاررؤیت وغیره وباعتباران الاصل هوالاداءُ یقول الشافعی الواجبُ علی الغاصب ردُّ العین المغصوبة اوپدی اعتبارسره چه اداء اصل ده امام شافعی صاحب وائی که یوسړي دبوسړي نه یوڅیزغصب کړو پده فرض دي چه همهغه شئ به ورکوي وان تغیرتْ فی یدالغاصب تغیراً فاحشاً اګرکه دغاصب په لاس کښې پدی مغصوبه کښې پوره تغیرراغلی وي بیابه ئی هم واپس کوي اصل مالك ته ، مثلاً یوسړي بل نه کپړا واخشته په غصب سره اوبیائی دهغی نه قمیص اوپرتوګ جوړکړو نوامام شافعی صاحب وائی چه همدغه قمیص اوپرتوګ به ورکوي اګرکه پدی کښې دومره لوئ تغیرراغلی دی چه نوم ئی بدل وي، امام ابوحنیفة صاحب وائی چه هرکله پدی کښې تغیرفاحش راغلونوبیابه دهغی قیمت اومثل ورکوي هغه شئ ورته بیانشی واپس کولئ ویجبُ الارشُ بسبب النقصان اوتاوان هم پری لازم ده ځکه چه دکپړی نه قمیص پرتوګ جوړشی نوتاوان پکښې راغی نوتاوان هم په غاصب باندی لازم دی وعلی هذا اوبناء پردی باندی،اوس پدی مسئله باندی نوری مسئلی مرتب کوي لوغصب حِنطَةً فَطحَنهَا که یوسړي دبل نه غنم غصب کړل اوبیائی هغه اوړه کړل ، داپوره تغائر فاحش دی ځکه اوروته ځوك غنم نه وائی بل داچه غنم ډیروخت لپاره ساتلی شی کړلئ هم شی اونورڅیزونه هم تری جوړیدلی شی لکه ګونګړي همدارنګه دغنمونه ناشسته هم وخی اوداوړونه داشیان نشی جوړیدی اوساجةً فبنی علیه داراً اویایوسړي دبل نه لویه سته غصب کړه اوبیا غاصب هغه سته ارا کړه اودکورلپاره ئی ترینه دروازی کړکی وغیره جوړکړل اوشاةً فذبحَها وشواها یایوسړي دبل نه ګډغصب کړو اوبیائی هغه ذبحه کړو اوپه اورباندی ئی ریته کړو اوعنباً فعصرها اویایوسړي دبل نه انګورپه زوره واخشتل اوبیائی هغه نچوړکړل اوحنطةً فزرعها ولبتَ الزّرعُ یایوسړي دبل نه غنم په زوره واخشتل اوبیائی هغه په زمکه کښې وکرل اوهغه فصل زرعون(شین) شو کان ذلك ملکاً للمالك عنده پدی ټولو صورتونوکښې داشئ دمالك دی په نزدامام شافعی صاحب باندی ځکه اصل همهغه دی ،

هغه قمیص پرتوګ هم دهغه دي همدارنګه هغه لرګی چه اراشویدی اوهغه ګډچه کټوی کښې پوخ شویدی یاوریت شویدی داټول دهغه مالك دي ځکه امام شافعي صاحب وائی چه اصل په اداء کښې اداء ده که کامله وي اوکه ناقصه وي لکن دعیب تاوان به ورته ورکولی شی لکه ګډ چه وریت شی نوهغه چه مالك ته واپس کولی شی سره دتاوان نه همدارنګه کله چه هغه لرګی واپس کولی شی کوم چه دستی نه وتلی دی لکن ددی عیب تاوان به هم ورته ورکولی شی کوم چه دی ستی ته دغاصب په لاس کښې رسیدلی دی وقلنا جمیعُها للغاصب ویجبُ علیه ردُّالقیمة اوموږ وایو چه پدی ټولو صورتونو کښې چه کوم مخکښې تیرشو دا تمام دغاصب دي اوغاصب به داصل مغصوبی قیمت ورکوي ځکه دتبدل دنوم دوجهی نه هغه شئ بدل شو ځکه اوروته خوك غنم نه وائی اوغنموته خوك اوره نه وائی اواعظم دمقاصدوفوت شو دغنموعظیمه فائده داده چه غنم نه خرابیږي اواوره خوبه لوښی کښې ډیرزرخرابیږي ، همدارنګه دګډ غوښه چه ریته شی نوبیاورته ګډنه ویل کیږي اوکه تغیردوجهی نه نوم نوه بدل نوهمهغه شئ به ورکوي لکه یوسږي دبل نه سره زرياسپین زر غصب کړل اوبیائی په سروياسپینوزروکښې کالي جوړکړو لکه( بنګړي ، کړئ ، ) نوهمدغه به واپس کوي ځکه دی باندی دذهبواطلاق کیږی بلکه لانورهم قیمتی شول دهسی زروقیمت زیات نوي لکن زرګرچه کله کالي ترئ جوړکړي نوقیمت ئی نورهم زیات شی پدی کښې اګرچه تغیرراغلی دی لکن نوم ئی ندی بدل شوی همهغه زر دي لکه شاعروائی- وماعلی التبر عاڑ حین فی النار یُقلّبُ ۰

یعنی پهٔ سروزرو باندی څه عارندی چه زرګرئی په اورکښی اخوا دیخوا اړوي یا لکه وائی چه ( زرپاك نوداوره نی څه باك ) زرچه زرګرپه اورکښې اچوي دادزرولپاره دخطری خبره نده بلکه لانورهم ځرګندشی، زروکښی داکمال دی که شل ځله ئی په اورکښی واچوی نوبیاهم نه کمیږي زرکه په ډیران کښی خخ کړی اوسل کاله پس ئی راوباسی نوهمدغه زربه وي هیڅ تغیراوتبدیل پکښې نه راځی اوکه اوسپنه خخه شی نوډیران ئی وخوري اوختمه شی همدارنګه که تامبه خخه شی نوتکه توره شی ولوغصب فضةً فَضربها دراهِم که یوسړي دبل نه سپین زرغصب کړل اودهغی نه ئی روپی جوړی کړی اوتبراً فاتَّخذَها دنانیر

اوبایوسري سره زرغصب کړل اودهغوئ نه نی اشرفئ جوړی کړی **اوشاةً فذبَحها** اویانی
ګډ غصب کړو اوذبحه ئی کړو څکه ګډ چه حلال شی نوبیا ئی هم نوم نه بدلیږي اګرکه
تغیرپکښی راغلو لکن تغیرفی‌الاسم نشته پکښی **لاینقطعُ حقُ المالك فی ظاهرالروایة** نونه
قطع کیږي حق دمالك په ظاهرروایت سره **وکذلك لوغَصَبَ قُطناً فغزله** همدانګه که یوسړي
مالوچ غصب کړل اوبیائی اوریشل **اوغزلاً فَنَسَجَهُ** اویانی ریشلی‌شوی مالوچ وه اودهغوئ نه
ئی جامه جوړه کړه **لاینقطعُ حقُ المالك فی ظاهرالروایة** نوحق دمالك پکښی نه قطع
کیږي په ظاهرروایت کښی ، څکه دمالوچودومره قیمت نوي اوچه هغوئ نه تارونه جوړشی
نودهغوئ قیمت هم زیات شی اوچه دتارونونه کپړا جوړه شی نودهغی قیمت نورهم زیات
شی ، اوبل داچه پدی تغیرسره دمالوچوقیمت نورهم سوا شو۰ **ویتفرع من هذا** ددی‌مسئلی
نه دیری مسئلی را اووتی **مسألةُ المضمونات** مسئله دمضموناتو، مضمونات هغه څیزونوته
وانی چه دهغوئ تاوان دربانذی لازمیږي **ولذاقال** اودغی وجهی‌نه وائی امام شافعی
صاحب **لوظهرالعبدُ المغصوب بعدماأخذالمالك ضمانه من الغاصب کان العبدُ مِلکاً للمالك**
که هغه غلام خرګندشو کوم چه غصب کړی شوی وه پس دهغی نه چه مالك اخشتی وه
تاوان دغاصب نه نوغلام به دمالك په ملك کښی داخل وي عندالإمام الشافعی، یوسړي
دبل نه غلام په زوره واخشتواوبیا غاصب اوویل چه هغه مړشو اوقاضی غاصِب ته حکم وکړو
چه قیمت ورکړه اوهغه قیمت ورکړو اوخوورځی پس غلام خرګندشو نوامام شافعی صاحب
وانی چه دمالك حق لا ثابت ده اومالك ته به ئی ورکوي اومغصوب منه به قیمت دغلام
واپس غاصب ته ورکړي، اوامام ابوحنیفة صاحب وانی چه صحیح ده غاصب غلام غصب
کړی وه لکن هرکله چه غاصب د هغه قیمت اداء کړو نوعبددغاصب په ملك کښی داخل
شو اودمغصوب منه په ملك کښی پیسی راغلی نوداداسی شولکه بائع اومشتري نوغلام
دغاصب شولو۰ **والواجبُ علی المالك ردُ ماأخذمن قیمة العبد** اوواجب دی په مالك چه
قیمت دغلام ورله واپس کړي **واما القضاءُ فنوعان** اوقضاءهم په دوه قسمه ده، لکه څنګه چه
اداء په دوه قسمه وه همدارنګد قضاء هم په دوه قسمه ده **کاملٌ وقاصرٌ** یوه کامله ده اوبله
قاصره ده **فالکاملُ منه تسلیمُ مثلِ الواجب صورةً ومعنیً** پس کامله قضاء تسلیم دمثل

دواجب دی مثل صوری اومثل معنوي ، لکه يوسړي دبل نه غنم واخستل اوهغه ئی وخوړل نوهغوغنموبه شان به ورته نورغنم ورکوي ځکه غنم دغنموسره په صورت اومعنی کښې يودي ځکه دهغوغنمونه چه څه کيدل دنوروغنمونه هم همهغه کيږي کمَنْ غصب قفيزحنطةٍ که يوسړي دبل نه يوقفيزغنم غصب کړل قفيزيوخاص مقداردی فاستهلکها اوهغه غنم ئی وخوړل يانې هلاك کړل لکن مطلب داچه ختم ئی کړل ضَمِن قفيزحنطةٍ ديوقفيزحنطه وو ضامن دی ويکون المؤدی مثلاللاول صورةً ومعنیً اوده چه دغنموبه مقابل کښې غنم ورکړل دی قضاء ته قضاء کامله وائی ځکه دامعنیً اوصورةً سره مشابه دي وکذلك الحکم في جميع المثليات دغسې حکم به په تماومثلياتوکښې وي واَمّاالقاصِرُهرچه قضاءقاصره ده فهومالايماثِلُ الواجِبَ صورةً ويماثِلُ معنیً چه هغه دواجبوپشان نوي صورتاً لکن په معنی کښې دهغه پشان وي، کمن غصب شاةً فهلکت ضمن قيمتها لکه يوسړي دبل سړي نه ګډ په غصب سره واغشتو اوهغه مړشو نودئ به دهغې دقيمت ضامن وي والقيمة مثل الشاة من حيث المعنی لامن حيث الصورة اوداقيمت دګډ پشان دی په صورة کښې اوپه معنی کښې دګډی پشان ندی ، ځکه ګډه خوحيوان دی ښپې لري، لم لري ، وړئ لري اودسې نور، اوداقيمت چه مثلاً زر(۱۰۰۰) روپې ده داخوجماد دی اوکاغذ دی لکن دګډ چه په بازار کښې قيمت څومره دی دازر روپې دهغه ګډ دقيمت سره برابر دی نوديته مثل معنوي وائی والاصلُ في القضاء الکاملُ اصل په قضاء کښې قضاء کامله ده وعلی هذا قال ابوحنيفة اوبناء پردی باندی امام ابوحنيفة صاحب وائی اذا غصب مثلياً يوسړي دبل نه مثلی شئ غصب کړو لکه غنم ، قلم اوداسې نورمثليات فهلك في‌يده اوداَمغصوبه په لاس دغاصب کښې هلاکه شوه وانقطع ذلك عن ايدی الناس اوداَمثلی شئ اوس بازارکښې دخلقوسره نه پيداکيږي ضمن قيمته عندالخصومة داغاصب دقيمت دمال مغصوبة ضامن دی کله چه خبره قاضی ته ورانډی شی اومغصوبه کامله ده ، قضاء کامله ديته وائی چه ديومثلی خيزبه مقابل کښې مثل صوری اومعنوي دواړه ورکړی نوچه کله حکم داشو نوچه کله مطالبه وشی دهغې ورځې قيمت به ورکولئ شی لکه مثلايوسړي دبل نه ريښم غصب کړل، ( ريښم اکثره په يخوعلاقوکښې کيږي دريښموبوچينجی وي چه دتوت پانه خوري

Maktaba Tul Ishaat.com

اوربنیم ترې پیداکیږي ) نوپه هغوورځو کښې دربښموقیمت سل(۱۰۰) روپۍ وه ، اوبيا په بازارکښې منقطع شو اوپدې وخت کښې ئې قیمت یوسل اوپنځوس(۱۵۰ )روپۍ وه ، اوچه کله دی سرې عندالقاضی مطالبه وکړه نوغاصب سره ربنیم نوه اوپه بازارکښې هم نه ملاویده لکن قیمت ئې دوه سوه(۲۰۰)روپۍ وه نوددی ورځې قیمت چه دوه سوه روپۍ دی دابه معتبروي ځکه چه ددی ورځې قیمت ډیراوچت وي اوکیدائې شي تردی پورې بازارته بیاراشي ، امام ابویوسف صاحب وائې چه په کومه ورځ ئې غصب کړل دهغې ورځې قیمت به معتبروي یعني پدې صورت کښې به سل(۱۰۰) روپۍ ورکوي، اوامام محمدصاحب وائې چه دانقطاع دورځې قیمت به معتبروي یعنی پدې صورت کښې به یوسل اوپنځوس(۱۵۰) روپۍ دي ځکه چه بازارکښې هغه شئ نشته نومعلومیږي چه رجعه به ئې قضاء ناقصی ته کیږي قضاء ناقصه داده چه دهغه څیزقیمت به ورکوي نوقیمت به دانقطاع دورځې معتبروي. لکن دامام ابوحنیفة صاحب قول راجح اوقوي دی لان العجزعن تسلیم المثل الکامل انما یظهرُعندالخصومة ځکه عاجزوالئ دتسلیم دمثل کامل نه ظاهریږي په وخت دخصومت کښې ، ځکه پدغه ورځ مغصوب منه دقاضی په دربارکښې رپوټ درج کوي چه مانه فلانی ربنیم غصب کړیدي نوقاضی حکم کوي چه ورکړه اوغاصب وائې چه مانه ورك شو اوبازارکښې هم نوي نوددغې ورځې قیمت به معتبروي فاما قبل الخصومة فلا اومخکښې دخصومت نه قیمت ندی مراد لتصورحصول المثل من کل وجهٍ امکان ددی خبرې شته چه بازارته دبلې خوانه راشي نوچه راشي بیابه مثل کامل ورته ورکړي فامالامثل له لاصورةً ولامعنیً لکن یوشئ داسې دی چه دهغه نه مثل صوري شته اونه مثل معنوي لایمکنُ ایجاب القضاء فیه بالمثل هلته کښې دمثل کامل قضاء ممکنه نده، ځکه بعضې څیزونه داسې دي چه دهغوئ مثل نوي نوپه هغه صورت کښې به قیمت معتبروي ولهذا المعنی قلنا ددغې وجهې نه چه دکوم څیزلپاره مثل وي نواصل خوداده چه مثل صوري اومعنوي دی دواړه وي اوکه دیوڅیزمثل صوري نوي نومثل معنوي به مرادوي لکن که دیوڅیزنه مثل صوري وي اوله مثل معنوي وي نوپه هغه صورت کښې به بیا منافع متلف(ضائع) وي اوددی غاصب په ذمه به ګناه باقی وي ، نومونږوایو إنّ المنافع لاتضمن

بالاتلاف منافع مضمون ندي په اتلاف سره، چه يوسړي دبل نه آس غَصب کړو اوبيا ئې نريوخايه پورې سورلئ هم وکړه اومغصوب منه قاضي ته اوويل چه ده زمانه آس غصب کړيدی اوفلانی خای پورې ئې ورباندې سورلئ هم کړيده نوقاضي ورباندې آس واپس کړي مغصوب منه ته لکن دسورلئ مثل نشته خکه سورلئ خانته نه موجوديږي اونه قاضي داکولئ شي چه غاصب ته اووائي چه ته ورته خپل آس ورکړه چه مغصوب منه ورباندې سورلئ وکړي نوسورلئ دبلې سورلئ مثل نشي کيدای خکه سورلئ کښې فرق ده دبعضې آس سورلئ ښه وي اودبعضې آس سورلئ ښه نوي بعضې آس داسې خوندکوي لکه سړی چه په موټرکښې سوروي اوبعضې آس دخردداته وي دسړي بنياد اوباسي ، الخيل ته خکه خيل وائي چه دسوريدونکي په زړه کښې خيال اوتکبر پيداکوي لکه متنبی شاعروائي-

شعر وخيرمکانٍ فی الدُ نی سرجُ سابحٍ - وخيرُجليسٍ فی الزمان کتابُ ۰

همدارنګه په سړي سړي کښې هم فرق دی بعضې سړئ په آس ډيره ښه سوروي اوبعضې سړی په آس باندې ښه سورلئ نشي کولی يريږي نوآس ته تکليف وي نودی وجې نه سورلی دسورلی مثل نشي جوړيدی خکه آس آس بويه اوسورلی سورلی بويه۰ لان ايجاب الضمان بالمثل متعذرٌ خکه ايجاب دضمان په مثل باندې متعذردی وايجابه بالعين کذلك اوداضمان په عين سورلئ سره داهم متعذردی لان العين لاتماثل المنفعة لاصورةً ولامعنیً خکه چه دغيردمنفعت سره ندی برابرنه صورتاً اونه معناً ، خکه سورلی خوخانته نه متحقق کيږي دابه هله متحقق کيږي چه دامغصوب منه دغاصب په آس باندې سورلئ وکړي اوداناجائزدی۰ کما اذا غصب عبداً فاستخدمَهُ شهراً لکه يوسړي دبل نه يوغلام په زوره واختستواودهغه نه ئې يوه مياشت خدمت واختستو اوداراً فسَکَنَ فيها شهراً يايوسړي دبل سړي کورغصب کړو اوبياپکښې يوه مياشت اووسيدو ثمّ رَدّالمغصوب الی المالك بيائې دامغصوب چه کوردی ياغلام دی واپس کړو اصل مالك ته لايجب عليه ضمانُ المنافع داغاصب چه په کورکښې ئې يوه مياشت استوګنه وکړه اويائې دغلام نه يوه مياشت خدمت اخستې دی ددې ضمان په غاصب باندې نشته خکه دامنافع خانته نه موجوديږي خلافاً للشافعی امام شافعی رحمه الله تعالی فرمائي چه دوه تنه به دمنافعوقيمت ولګوي چه مثلاً

Maktaba Tul Ishaat.com

يوه مباشت يوسري په يوكوركبنې اوسيږي نوخومره كرايه به ئې وي يايوه مباشت چه يوغلام خدمت كوي نوخومره تنخوا ئې كيږي نوهغه اندازه قيمت به غاصب وركوي اومونږ(احناف) وايوچه دمنافعومثل صوري نشته يعنې منافع نشته لكن فبقى الاثم حكماً له يعنې ددې غاصب په ذمه باندې گناه پاتې شوه نوداغاصب گنهگاردې وانتقل جزاؤه الى دارالاخرة يعنې جزائي داراخرت ته منتقله شوه نوجزاء به په اخرت كښې وركول كيږي الله تعالى به دهغې سزا وركوي. ولهذا المعنى قلنا ددغې وجهې نه مونږوايو لاتضمن منافع البضع دبضعې دمنافعوضمان نشته بالشهادة الباطلة على الطلاق په شهادةباطله سره په طلاق باندې، دوه گوهانو گواهي وكړه چه دې سړي خپلې ښځې ته طلاق وركړيدې اوقاضي ددې گواهي په بنيادفيصله وكړه چه ښځه دخان نه لرې كړه څكه تاطلاق وركړيدې اورجوع دې ورته نده كړې اومهرهم ورته واپس كړه مهرخوهسې دنكاح دوجهې نه لازم وي لكن اداء به ئې عندالمطالبه من الزوجة وي ياداچه كله خاوند طلاق وركړي ښځې ته نوبيابه هم مهرووركوي كوم چه دنكاح دوجهې نه لازم اوواجب شوي وه نوهركله چه دوه كسانوپه دروغوگواهي وكړه چه تاښځې ته طلاق وركړيدې اوقاضي ورباندې ښځه جداكړه نوددې دوه كسانودگواهي دوجهې نه پدې سړي باندې دبضعې منافع حرام شو نوداوده گواهان به ددې بضعې دمنافعوقيمت نة وركوي څكه دبضعې دمنافعومثل ندې موجود نه مثل صوري اونه مثل معنوي مثل صوري به داوي چه دوئ ورته بله ښځه وگوري چه ددې نه منافع واخله اوتبديل دبضعي بالبضعي حرام دې ، اودجماع قيمت هم نشته چه مثلاً دومره جماع گاني فوت شوې اودومره قيمت واخله ولابقتل منكوحة الغيرهمدارنگه منافع به نشي اخستې په قتل دمنكوحې دغير، يوسړي دبل منكوحه ووژله نوددغه قتل دوجهې نه داخاوند دخپلې منكوحې نه چه مقتوله ده منافع نشي اخستې نو داخاوند دقاتل نه دهغومنافعوضمان نشي اخستې كوم چه دقتل دوجې نه فوت شوې دې بلكه قاتل به مجرم وي چه بغيرد حق نه ئې نفس مؤمنه قتل كړو ولابالوطي اوله دوطي ضمان شته ، كه يوسړي دبل سړي ښځه وطي كړه نوداسړي به ددې واطي نه ضمان نه اخلي حتى لووطئ زوجة انسانٍ كه يوسړي ظلم وكړو اوزنائي وكړه اودبل سړي زوجه ئې وطي كړه لايضمن للزوج شيأً دزوج لپاره به هيڅ

شئ نوي څکه چه دبضعی بدل صورتاً اومعناً ندی موجود **الااذا اورد الشرع بالمثل** مگربه کوم ځایونوکښی چه شریعت اووائی چه دلته کښی ددی ضمان دادی، نوبیا دهغی لپاره دامثل شرعی دی لکه یوسړی په حالت داحرام کښی ښکاروکړي نوشریعت وائی﴿ فَجَزَآءٌ مِّثْلُ مَاقَتَلَ مِنَ النَّعَمِ ﴾ (المآئدة/ ٩٥ ) یایوسړي قتل وکړو نوقتل خطاء کښی کفاره ورکول دي نوداکفاره دهغه لپاره شریعت دوجهی نه مثل وګرځیدو **مع انه لايماثِلُه صورةً ولامعنیً** سره ددی چه دامثل دهغه شئ لپاره نه صورتاً مثل وي اونه معناً **فیکون مثلا له شرعاً** نودا دهغه لپاره مثل شرعي دی **فیجب قضاؤه بالمثل الشرعی** نوواجبه ده قضاء ددی په مثل شرعی سره **ونظیره ماقلنا** اوددی مثال هغه دی چه مخکښی موږ ذکرکړو **اِنّ الفِدیة فی حق الشیخ الفانی مثل الصومِ** یوشیخ فانی روژه نشی نیوی نودئ به دروژی په عوض کښی فدیه ورکوي ، څکه الله تعالی فرمائی ﴿ وَعَلَى الَّذِيْنَ يُطِيْقُوْنَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِيْنٍ ﴾(البقرة/١٨٤) یعنی شیخ فانی چه روژه نشی نیوی نوفدیه به ورکوي حالانکه فدیه دروژی لپاره نه مثل صوري دی اونه مثل معنوي ، روژه خووائی ( امساك عن المفطرات الثلاثة ) اوپه فدیه کښی خوبل کس مړه ول دي دامساك اواطعام په منځ کښی خوضد دی نوچه کله فدیه دروژی لپاره نه مثل صوري شواونه مثل معنوي نوچونکه الله تعالی وفرمائل ( فدیة طعام مسکین ) نوفدیه دروژی لپاره مثل شرعی وګرځیدو **والدیةُ فی القتل خطاء مثل النفس** همدارنګه دیت ورکول په قتل خطاء دیونفس کښی، یعنی چه یوسړي یونفس قتل کړو په قتل خطاء سره نودئ به دیت ورکوي نودیت دمقتول لپاره نه مثل صوري دی څکه دیت پیسی دي اواوښان دي یعنی سل(١٠٠) اوښان به په دیت کښی ورکوي نودا اوښان دسړي سره په صورت کښی ندی مشابه اونه ئی مثل معنوي دي څکه دیت مال دی اومال مملوك وي اومبتذل دی اوانسان حُر دی انسان څوك نشی استعمالولے اوموږ چه دغه دیت مثل ګرځوو دهغه مقتول لپاره نومال خوممملوك دی اوهغه مقتول خومالك دی نوممملوك اومالك خوندي برابر. **مع انه لامشابهة بينهما** سره ددی نه چه په مابین دهغه مقتول کښی اوپه مابین دهغه دیت کښی چه سل اوښان دي هیڅ مشابهت ندی موجود نه من حیث الصورة نه من حیث المعنی من حیث المعنی څکه ندی موجود چه مال مملوك وي اومبتذل وي

اوانسان چه کوم مړدی هغه مالك دی اوهغه غیرمبتدل دی نودواړو کښی تضاد دی لکن هرکله چه شریعت وویل چه دا دهغه مثل دی نوموږ ورته مثل تسلیم کړو نوچه په کوموځایونوکښی شریعت دیوځیزلپاره مثل مقرر کړی وي نوهغه به لازم وي لکن چه یوځیزلپاره نه مثل صوري وي اونه مثل معنوي وي نوهلته به بیا مثل تَلَفْ وي منافع به متلوف وي اوسزابه ئی دقیامت په ورځ ورته ملاویږي **فصلٌ فی النّهی** فصل دی په بیان دنهی کښی( النهی فی اللغة : المنعُ ، وفی الاصطلاح : قول القائل لغیرہٖ لاتفعلْ علی سبیل الاستعلاء ) قول دقائل دی چه داکار مه کوه اوهغه سړیٰ چه حکم کوي هغه به عالي وي دهغه کس نه چاته چه امرکوي نوگویا( نهی طلب ترك الفعل ) دی نوبرابره خبره ده چه دانهی په صیغی دنهی سره وي لکه الله تعالی فرمائی ﴿ وَلاَ تَقْرَبُوا الزِّنٰی۰۰۰الآیة ﴾ ( الإسراء/۳۲) یا ﴿ وَلاَ تَقْرَبُوا مَالَ الْیَتِیمِ۰۰۰الآیة ﴾(الانعام،/ ۱۵۳ ) یا ﴿ لاَ تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُکَارٰی۰۰۰الآیة ﴾( النسآء/۴۳ ) یا ﴿ لاَ تَقْتُلُوا الصَّیْدَ وَاَنْتُمْ حُرُمٌ۰۰۰الآیة ﴾( المآئدة/ ۹۵) یا ﴿ لاَیَحِلُّ لَکُمْ اَنْ تَرِثُوا النِّسَآءَ کَرْهًا۰۰۰الآیة ﴾(النسآء/ ۱۹ ) دجاهلیت په زمانه کښی به چه دسړي پلار مړشو نودده میرانه موربه چه پاتی شوه نوهغی سره به ئی نکاح کوله ، یایوسړي ته به چه دلره لورپاتی شوه نوهغی سره به ئی نکاح کوله اوویل به ئی چه دازما میراث دی‌نوددی مذکوره اخرنی آیت سره قرآن پاك ددی خبری تردید وکړو. نوپه مذکوره آیتونوکښی دلاتقربوا ، اودلاتقتلوا ، اودلایحل دا الفاظ په صیغی دنهی سره ذکرشویدي لکه لاتفعلْ ، یاداچه نهی په صیغی دتحریم سره وي لکه ﴿ حُرِّمَتْ عَلَیْکُمُ الْمَیْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِیْرِ۰۰۰ الآیة﴾(المآئدة/۳ ) دلته کښی لا نده راغلی لکن د حُرِمَتْ معنی حرام والی دی نونهی هم حرمت اوحرام والی دشئ ته والی ځکه نهی حُرمتْ ثابتوي نوداتول په نهی کښی داخل دي النهیُ نوعان نهی په دوه قسمه ده، **نهیٌ عن الافعال الحسیة** یوه نهی دافعال حسیه وو نه ده ، افعال حسیه دیته والی چه په حواس خمسه وو باندی معلومیږي اودلته کښی دافعال حسیه وو نه هغه افعال مراد دي چه دهغوئ معانی په خپل حال باندی باقي وي بعدالاسلام یعنی هغه الفاظ چه داسلام نه پس هم پخپلو معنوکښی مستعمل وي لکه ځنګه چه داسلام نه مخکښی وه کالزنا لکه زنا، داسلام نه مخکښی هم زنا دیته والی

چه یوسړی دپردئ ښځی سره کوروالئ وکړي اوپه شریعت کښی هم زنا دغی ته وائی وشرب الخمر همدارنگه شراب څکل مخکښی داسلام نه چه څنگه وو اوس هم هغه شان دشرابوڅکلوته شراب وائی والکِذبِ والظلمِ همدارنگه دروغ اوظلم ، نوداسلام نه مخکښی هم کَذِب کذب وه او اوس هم کَذِب ته کذب وائی همدارنگه ظلم داسلام نه مخکښی هم ظلم ته ویلی شول اواوس هم ظلم ته ظلم وائی ، اوبل افعال شرعیه دي، افعال شرعیه دیته وائی چه داسلام دراتلونه مخکښی دهغه بیله معنی وه اواسلام دراتلونه پس دهغه بله معنی شوه لکه صلوة ، صلوة داسلام نه مخکښی په دعا کښی استعمالیدو او چه اسلام راغئ نوصلوة ارکان معلومه وو معدوده وو ته وائی چه عبارت دی دقیام، رکوع ، سجده وغیره نه ، همدارنگه صوم مخکښی داسلام نه مطلق امساك ته ویل کیدائی شو چه یوسړي به چاسره خبری نه کولی دیته به هم صوم ویله کیدائی شو لکه قرآن مجید کښی راځی ﴿ فَقُولِيٓ إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمٰنِ صَوْمًا فَلَنْ أُكَلِّمَ الْيَوْمَ إِنْسِيًّا ﴾ (سورة مريم، الآية: ٢٦) بی‌بی مریم وائی چه زما خو نن ورځ روژه ده هیڅ انسان سره به خبری نه کوم ، دیته هم صوم ویل کیدائی شو لکن په شرع دمحمدﷺ کښی صوم ( امساك عن المفطرات الثلثة ) ته وائی. همدارنگه بیعه داسلام نه مخکښی ( مطلق مبادلة المال بالمال ) وه لکن داسلام نه پس په شرع دمحمدﷺ کښی بیعه عبارت ده( مبادلة المال بالمال مع ایجابٍ اوقبولٍ وتکون المبیعة مالٌ متقومٌ ) یعنی بیعه مبادله دمال ده په مال سره لکن دایجاب اوقبول نه بَغیرنه صحیح کیږي اوبل به مبیعه مال متقوم وي، نوپوره فرق پکښی راغی په بیعه دجاهلیت اوپه بیعه داسلام کښی، نونهی چه دافعال حسیه وو نه وي هغه قبیح لعینه دی اوکه نهی دافعال شرعیه وو نه وي نوهغه به قبیح لغیره وي دغیردوجهی نه به هغوئ کښی قباحت راغلی وي نودا دنهی دافعال حسیه اونهی دافعال شرعیه منځ کښی فرق شو. ونهيٌ عن التصرُفات الشرعية اوبله نهی دتصرفات شرعیه وو نه ده، تصرفات شرعیه دیته وائی چه داسلام دراتلودوجهی نه دهغی،معنی کښی فرق راغلئ وي کالنهي عن الصوم في يوم النَّحر لکه نهی دروژی نه په ورځ داخترباندی ، نوداختر دورځی روژه منعه ده نوداصوم فعل شرعی دی ځکه داسلام نه مخکښی دصوم معنی مطلق امساك وه اوداسلام نه پس دطلوع الفجرنه واخله ترغروب

Maktaba Tul Ishaat.com

الشمس پوری امساك عن مفطرات الثلثة ته وائی ، نوداختریه ورځ روژه خکه قبیحه ده چه داختروځ دخدای جل جلاله دمیلمستیاورځ ده پیغمبرعلیه السلام فرمائی ( کلوا وشربوا فإنها ایامُ اکلٍ وشربٍ وبعالٍ ) پدغه ورځ الله تعالی بنده گانوته میلمستیا کړیده ، دیومعمولی سړي میلمستیا چه قبوله نشی خفه کیږي نودخدای جل جلاله میلمستیا ردکول خوډیره سخته خبره ده نودی کنبی داقباحت دغیردوجهی‌نه راغلی دی ځکه خپله روژه عبادت دی لکن داختریه ورځ روژه نیول دخدای پاك دمیلمستیانه مخ اړول دي نوځکه پکنبی قباحت راغئ. والصلوة فی الاوقات المکروهة همدارنگه نهی راغلی دصلوة داوقات مکروهه نه ، پیغمبرعلیه السلام فرمائی چه اوقات مکروهه کنبی مونځ مه کوئ ، اوقات مکروهه دادي عندطلوع الشمس، عنداستواء الشمس ، عندغروب الشمس، نوچه نهی دافعال شرعیه نه راغلی وي دی کنبی به قباحت ذاتی نوي ځکه مونځ فی نفسه عبادت دی لکن پدغه مذکوره اوقاتوکنبی مونځ دا دَ عَبَدَةُ الشمس سره مشابهت راځی نودی وجهی نه دی کنبی قباحت دغیردوجهی نه راغلی دی. وبیع الدرهم بالدرهمین همدارنگه بیعه ددرهم بالدرهمین دینه هم منعه راغلی ده ځکه دا سود دی اوپه جاهلیت کنبی به خلقو بیعه ددرهم بالدرهمین کوله نودجاهلیت دزمانی اوداسلام نه پس په بیعه کنبی فرق دی وحکم النوع الاول حکم د نوعی اولی چه هغی کنبی نهی دافعال حسیه وو نه وي ان یکون المنهی عنه عین ماوَرَدَ علیه النهی دامنهی عنه به وي عین هغه شئ په کوم شے چه نهی وارده شویده. فیکون عینه قبیحاً فلایکون مشروعاً اصلاً نوعین دهغی قبح دی اوهغه بیا بلکل حرام دی یعنی بلکل پکنبی مشروعیت نشته. وحکم النوع الثانی اوحکم دنوعی ثالی چه هغی کنبی قباحت دغیرنه وي ان یکون غیرماضیف الیه النهیُ منهی عنه غیروي دهغه نه چه هغی ته اضافت شویدی فیکون هوحسناً بنفسه قبیحاً لغیره هغه به حسن لنفسه اوقبیح لغیره وي ، روژه بنفسه جائزده لکن داختریه ورځ روژه حرامه ده ځکه دالله تعالی دمیلمستیانه مخ اړول دي . ویکون المباشرمرتکباً للحرام لغیره که یوسړي داختریه ورځ روژه اونیوله نوده حرام لغیره وکړو روژه بنفسه عبادت وه لکن داختردورځی نه عبادت ونه گرځیدو ځکه دا د الله تعالی دمیلمستیاورځ ده لالنفسه دغه روژه بنفسه حرامه

نده وعلی هذا اوبناء پردی باندی چه نهی دتصرفاتوشرعیه وونه داحسن بنفسه به وي اوقبیح لغیره به وي قال أصحابنا زمونږ ملګري( علماء احناف ) واني النهی عن التصرفات الشرعیة یقتضی لقریرها چه نهی دتصرفات شرعیه وونه داتقاضه کوي چه داشئ به موجود وي فی نفسه ویُرادبذلك ان التصرف بعدالنهی یبقی مشروعاً کماکان ددی مطلب دادئ چه تصرف بعدنهی دابه مشروع وي لکه څنګه چه مخکښی مشروع وه لانه لولم یَبْقَ مشروعاً څکه که دنهی نه پس دامشروع پاتی نشی کان العبدعاجزاً عن تحصیل المشروع بیابه دابنده عاجزه شی دتحصیل دمشروع نه ، څکه مونږ ته داروږه خودشریعت دوجهی نه معلومه شویده چه روږه دیته وائی مخکښی خومونږه روږه نه پیژنده ، مخکښی خومونږه صلوة نه پیژندو صلوة چه په اوقات مکروهه ووکښی منع دی دادی وجهی نه چه مونږه صلوة پیژنو که یوسړی صلوة نه پیژنی اوته ورته وائی چه دی وخت کښی مونځ مه کوه نودا نهی دعاجز ده څکه یوسړی چه یوشئ نه پیژنی نوځنګه به ئی دهغه نه منع کړی نودی وجهی نه معلومیږي چه نهی دافعال شرعیه وونه راشی نوهغه شئ به مخکښی موجود وي، هله به یوسړئ دیوشي نه منع کوی، اوکه یوشئ یوسړي ته معلوم نوي اوته ئی منع کوی نوداظلم دی وحینئذٍ کان ذلك نهیاً للعاجز چه یوسړي ته یوشئ معلوم نوي اوته ئی منعه کوی نودانهی دعاجزده وذلك من الشارع محالٌ اودا دشارع نه هم محاله ده څکه شارع څنګه یوسړی دیوڅیز نه منعه کوي اوهغه شئ به دی سړي ته معلوم نوي لکه یوسړی ړوند ته اووائی چه ماته مه ګوره څکه هغه سرنه څه وینی نه نوځنګه به منعه کولی شی ، یایوه کوزه کښی اوبه نشته اوته چاته اووائی چه دکوزی نه اوبه مه څکه نوداهم نهی دعاجزده څکه کوزه کښی بلکل اوبه نشته نوځنګه به ئی اوڅکي، یایو سړي ته څوك اووائی چه مه الوځه نوهغه کښی دالوتوماده بلکل نشته نوځنګه به والوځی نوداهم نهی دعاجزده

• وبه فارق الافعال الحسیة اوددغه فرق دوجهی نه افعال شرعیه جدا شول دافعال حسیه وونه لانه لوکان عینُها قبیحاً که چیرته عین دافعال شرعیه وو قبیح وائی لایؤدّی ذلك إلی نهی العاجز دابیانهی دعاجزنده لانه بهذا الوصف لایعجزالعبدُ عن الفِعل الحسیِ څکه بنده دفعل حسی نه عاجزه ندی ویتفرّعُ من هذا حکم البیع الفاسد ددینه را اووتوحکم دبیعی

Maktaba Tul Ishaat.com

فاسدی ، بیع فعل شرعی وه داسلام نه مخکښې بیع مطلق مبادلة المال بالمال وه لکن شریعت دبیعې په تعریف کښې بعضې قیودات ولګول چه بیع مبادلة المال بالمال بالتراضي اوبل وینعقِدُبایجابٍ وقبولٍ ونهی عن بیع شرطٍ، نودی وجهې نه بیعه فاسده والاجارة الفاسدة همدارنګه اجارة فاسدة والنذربصوم یوم النحر همدارنګه نذرپه روژې سره په ورځ داخترباندی ، مثلاً یوسړي اوویل چه زه به داخترپه ورځ روژه نیسم نونذراوروژه دواړه عبادات دي لکن دیوم نحردوجهې نه په هغوی کښې ممانعت راغئ وجمیع صورالتصرفات الشرعیة په تولوتصرفاتوشرعیة وو کښې مع ورودالنهی عنها چه دهغوی نه نهی راغله، مثلاً صلوة فعل شرعی دی لکن اوقات مکروه وو کښې دهغه نه منع راغله همدرانګه دنوافلو منع راغلې چه دسهاراومازیګردمونځ نه پس به نوافل نه کیږي. فقلنا البیع الفاسِدُ یفیدُالملک عندالقبض مونږه وایوبیع فاسده ملک فائده کوي په وخت دقبض کښې، مثلاً بیع فاسده وشوه لکه یوسړي بیع اوکړه اوشرط هم پکښې ولګولو چه داغلام درباندي خرڅوم لکن یوه میاشت به دی زما خدمت کوي نودابیع فاسده ده لکن که دا بیع فاسده وشوه اومشتری داغلام خپل مِلک ته بوتلو نودهغه ملک پری ثابت شو قاضی به ورته دبیعې دفسخه کولو امرکوي باعتبارانه بیعٌ څکه دابیع ده ویجبُ نقضه باعتبارکونِهِ حراماً لغیره لکن واجب دي ماتول ددې بیعې پدې اعتبارسره چه داحرام لغیره دی یعنی دشرط فاسد دوجهې نه پدې کښې فسادراغی، اوس معترِض اعتراض کوي چه تاسو داوایاست چه نهی دافعال الشرعیه وونه دی کښې قباحت لغیره دی نوکه چیری دغه فعل دغه بنده وکړلو نوپه دغه فعل باندی به حکم مرتب کیږي لکه دبیع حکم دادی چه هغه ثمن په مِلک دبائع کښې داخل شی اومبیعه به په ملک دمشتري کښې داخله شی حالانکه زه به درته اووایم چه فعل شرعی به وي اوشریعت به دهغه نه منع فرماللی وي اوکه بیاهم بنده هغه فعل وکړلو نوحکم پری نه مرتب کیږي ؟ لکه نکاح: نکاح هم یوفعل شرعی دی ( دجاهلیت په زمانه کښې دنکاح بله طریقه وه، بخاری کښې دنکاح څلورطریقې ذکرشویدي خاصکردغه نکاح کومه چه په شریعت محمدی ﷺ کښې ده دا دشریعت دوجهې له متعینه شوله چه دزوج اودزوجې په منځ کښې ایجاب اوقبول وي اودوه ګواهان به هم موجود وي اومهربه هم متعین وي که

مهر ذکرهم نشی نومهرمثل به لازمیږي اونکاح کښی به شروط فاسده نوي ) نومعترض والی که یوسړي مشرکی سره نکاح وکړه نوپدی باندی قطعاً ملك نه راځی اوحالانکه نکاح فعل شرعی ده ، همدارنګه منکوحه دآب: یوسړي دخپلی میرانه مورسره نکاح وکړه پدی صورت کښی دهغه سړي پدی ښځه باندی ملك نکاحی نه ثابتیږي، همدارنګه معتده دغیر: یوه ښځه دبل سړي دعدت نه لانده وتی اوبل سړی ورسره نکاح کوي لکه یوی ښځی ته خاوندی یوطلاق یادوه طلاق یادری طلاق ورکړیدي نودغه مطلقی سره نکاح په عدت کښی حرامه ده اوبیاهم یوسړي دمعتدی دغیرسره په عدت کښی دننه نکاح وکړه ، اوهمدارنګه دشته خاوند له ښځی سره یوسړی نکاح کوي داهم ناجائزده ځکه قرآن مجید کښی الله پاك پنځلس محرمات بیانوي اوپنځلسم محرم دادی چه ﴿ وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَآءِ ﴾( النسآء/ ۲٤:) نودینه مراد دشته خاوند ښځی دي ، همدارنګه دمحارموسره نکاح حرامه ده لکه لور، خور، وریره ، خواخی، وغیره ، اوبل نکاح بغیردشهودو نه هم حرامه ده نومعترض وائی چه پدغه ټولو ځایونو کښی نکاح فعل شرعی دی نوکه داصورتونه متحقق شی نوپکارده چه ملك نکاحی دسړي دی پری ثابت وي لکه په بیع فاسده کښی چه تاسودمشتری ملك په مبیعه باندی ثابتوئ ؟ نومصنف ورته په راتلونکی عبارت سره جواب ورکوي وهذا بخلاف نکاح المشرکاتِ ومنکوحة الاب ومعتدّةِ الغیر ومنکوحته ونکاحِ المحارم والنکاح بغیرالشهود اوداپه خلاف دنکاح دمشرکاتو، اوپه خلاف دنکاح دمنکوحی دپلار، اوپه خلاف دمعتدی دغیر، اوپه خلاف دشته خاوندښځه، اوپه خلاف دنکاح دمحارمو، اوپه خلاف دنکاح بغیردشهودو نه ، دامنم چه داټول افعال شرعیه دي لکن دی کښی مانع موجود دی لان موجب النکاح حل التصرف ځکه موجَب دنکاح حِل دتصرف دی یوسړی چه یوی ښځی سره واده وکړي نودی به دی ښځی سره جماع کولی شی وموجَب النهی حُرمَةُ التصرف اوموجَب دنهی حرمة دتصرف دی ځکه پدی ځایونوکښی منع راغلی ده نودی وجهی نه دواړه نشی جمع کیدای نوداجتماع دمتنافیینودوجهی نه پدی صورت کښی نکاح نکاح نده که مونږدیته وګوروچه نکاح یوفعل شرعی دی اوافعال شرعیه وو کښی قباحت دغیردوجهی نه وي اوداني قباحت نوي نوپکارداده لکه په بیع

فاسده کښې په مبیعه باندې ملك دمشتری راځې نوپدې نکاحونوکښې هم پکاروه چه دسړي مِلك پدغه منکوحه باندې راغلی وێ لکن مصنف رحمه الله تعالی فرمائی چه دنکاح موجَب حِلْ دتصرف دی لکه یوسړی واده وکړي نو دیْ دخپلې زوجې نه استمتاع دبضعې کولی شي، اوپه کوموآیاتونو اوحدیثونو کښې چه منع راغلی ده لکه په حق دمنکوحه کښې چه حدیث راغلی ( ولاتنکحوا مانکح اباءُکم ) یا لکه په حق دمحارموکښې چه آیت دی ﴿ حُرِمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهٰتُكُمْ وَبَنٰتُكُمْ وَاَخَوٰتُكُمْ وَعَمّٰتُكُمْ۰۰۰الآیة ﴾ (النساء/ ۲۳ ) همدارنگه په حق دنکاح دمعتدی دغیرکښې چه حکم راغلی ( ولاتعزموا عقدةَ النکاح ) یعنی دمعتدی سره به دنکاح عقد نه کوی ، لکن تعریض دنکاح ورته کولی شی ، نوچه دنکاح موجب حِل دتصرف دی اوپه دی صورتونوکښې دنهی صیغی راغلی دي اودنهی موجَب حرمت دتصرف دی نودی وجهی نه دواړه نه جمع کیږي فاستحال الجمعُ بینهما نوجمعه محاله ده په مابین ددی دواړو کښې فیُحملُ النهی علی النفی پدی ځایونوکښې چه کومه نهی راغلی وه داموږمحموله وه په نفی باندی، یوه نهی ده: نهی دیته وائی چه یوسړی یوپه ځیزباندی قادِره وي بیا ئی هم نه کوي ۰ اوبله نفی ده : نفی دیته وائی چه په یوځیزباندی بلکل قادِرنوي ، نفی په معنی دنسخه کښې ده گویا داحکم نسخه شویدی، په زمانه دجاهلیت کښې به خلقو دمیرانه مورسره اودمحارموسره اودمعتدی سره به ئې نکاح کوله لکن شریعت داتمامې خبرې منسوخې کړې، نودلته کښې چه داکومه نهی راغلی ده داپه معنی دنفی کښې ده نودیته مونږه نهی دافعال شرعیه وو نه وایو بلکه دیته به مونږه نسخه وایو فاما موجب البیع ثبوت الملك هرچه بیعه فاسده ده نوهلته کښې دموجَب دبیعې اودنهی کښې تضادندی ځکه موجَب دبیعې کښې ثبوت دمِلك دی وموجَب النهی حرمة التصرف اوموجَب دنهی حرمة دتصرف دی اودادواړه جمع کیږي چه یوشیْ دی دسړي په ملك کښې هم وي اوتصرف دی پکښې نشی کولی وقدامکن الجمع بینهما بان یثبتَ الملك ویُحرم التصرف اوممکنه ده جمع په مابین ددی دواړو کښې چه ملك به وي لکن تصرف پکښې نشی کولی لکه یوسړي سره سرکه وه اودهغې نه شراب جوړشو نوداشراب په مِلك دمسلمان کښې دي لکن څکلی ئی نشی نوچه دلته کښې اجتماع ددی

دوارو ممکنه شوه نونهي پخپله معنی باندی باقي پاتی ده نودبیعی په صورت کښي ددوارو جمع کیدانی شی لکن دنکاح په صورت کښې نه جمع کیږي ځکه په نکاح کښي دنکاح موجب حل دتصرف دی اوپه کوموا حادیثو کښي چه رسول الله ﷺ منع فرمائلي ده نوهلته کښي حرمت دتصرف دی نودا دواړه هلته نه جمع کیږي نوهلته مونږه مجبوراً هغه نهی دنفی په معنی سره کړه اودنفی معنی نسخه ده ګویا داځیزونه شریعت منع کړل نودنهی حکم ورته متوجه نشو. الیس انه لوتخمّرالعصیرُفی ملك المسلم یبقی ملکه فیها ویحرم التصرف آیا ندی داخبره چه کله دانګورودعصیرنه شراب جوړشي په لاس دمسلمان کښي نوملك به باقي وي لکن تصرف پکښي حرام دی ، دانګورو عصیرته دانګوروشربت هم وائي، اوشیره انګوروته هم وائي، عرب دکجورونه عصیراوباسي اودبره زمانه ئي استعمالوي همدارنګ دیرعرب دانګورونه عصیراوباسي اودیره زمانه ئي استعمالوي همدارنګه عصیرتفاح دسیوانو(منو) عصیرته وائي نوعصیرته نن سبا جوس ویل کیږي اکن عرب ورته عصیروائي وعلیٰ هذا اوبناء پردی باندی چه نهي دافعال شرعیه وونه داتقاضه دلباحت لغیره کوي اوهغه فعل به فی نفسه مشروع وي لکن دمجاورت له وجهي نه به منع راغلی وي لکه روژه فی نفسه عبادت دی لکن داختربه ورځ چه ونیول شي نوداختردوجهي نه پکښي منعه راغله ، یا لکه مونځ خو فی نفسه عبادت دی لکن په اوقات مکروه وو کښي راغي نوځکه ترې منع راغله دغي وجهي نه قال اصحابنا زمونږ علماء وائي اذاندربصوم یوم النحرِ وآیام التشریق یوسړي په ځان دلوی اختردورځي روژه ندرکړه یائي دآیامودتشریق روژه ندرکړه ، دآیام تشریق بحث مخکښي ذکرشویدی. یصح نذره لانه نذرٌ بصومٍ مشروعٍ نوداندرئي صحیح شوځکه ندربه روژئ سره خوعبادت دی لکن چه کله دروژئ تعلق داختردورځي سره راغي نوپدی کښي قباحت دغیردوجهي نه راغئ نوپدغه ورځ دی روژه نه نیسي اوپه بله ورځ دی قضاء راوړي وکذلك لوندربالصلوة فی الاوقات المکروهة یصحُ همدارنګه یوسړي په ځان باندی په اوقات مکروه وو کښي مونځ لازم کړو مثلاً یوسړي په ځان باندی په لمرختویالمرپریوتوکښي دوه رکعته مونځ نذر کړو نوداندرئي صحیح دی ، ځکه چه صلوة فی نفسه قطع نظردوخت نه داعبادت دی ، همدارنګه صوم

Maktaba Tul Ishaat.com

قطع نظردیوم النحرنه داعبادت دی لانه نذرٌ بعبادةٍ مشروعةٍ لماذكرنا څکه داندردی په عباداتومشروعه وو سره لکه مونږه داخبره ذکرکړیده ان النهی یوجبُ بقاءالتصرف مشروعاً چه نهی واجبوی بقاء دتصرف مشروعاً ولهذا قلنا اوددی وجهی نه چه نهی واجبوي بقاءدتصرف مشروعاً مونږه وایو لوشرع فی النفل فی هذه الاوقات لزمه بالشروع که چیرته یوسړي په نفلوکښی شروع وکړه په اوقات مکروه وو کښی نوپدده باندی لازم دی دشروع دوجهی نه څکه الله تعالی فرمائی ﴿ ولاتبطلوا اعمالکم ﴾ نوچه چاپدی وخت کښی نفل شروع کړه نوپکارده چه پوره ئی کړي لکن وخت فاسددی نودی وخت کښی دی نه کوي اوددی په بدل کښی دی ددی قضاء راوړي وارتكابُ الحرام لیس بلازم اوارتکاب دحراموندی لازم په پرینبودودنفلوسره پدغه وخت کښی للزوم الاتمام فانه لوصبرحتی حلتِ الصلوة له وجهی دلزوم دتمام والی دمونځ نه څکه که دی سړي صبرکړی وانی لردی چه ده ته مونځ جائزشوی وانی بارتفاع الشمس وغروبها ودلوکها امکنته الاتمام بدون الکراهة په ختلودلمرسره اوپه غروب دلمرسره اوپه دلوك دلمرسره نودی سړي به هغه مونځ مکمل کړی وو بغیردکراهت نه نودی وجهی نه اتمام ممکن ده ، اتمام دندرپه صورت کښی داده چه بله ورځ به قضاء راوړي وبه فارق صومُ یوم العید اوپه عدم لزوم دارتکاب دحراموسره جداکړی شو دغه نفل دروژی نه په ورځ داختر، لکن دصلوة اودصوم په منځ کښی فرق دی صلوة کښی که یوسړی صبروکړي اووقت صحیح راغی نوهغه وخت دی مونځ کولی شی لکن صوم چونکه عبادت مستمره دی نوپدی صورت کښی پدی سړي باندی ارتکاب دحرام ممتد راځی هغه شئ دحرمت نه بیانه اووځی نوکه اوقات مکروه وو کښی دغه سړی صبراوکړي نواوقات صالحه وو کښی به مونځ وکړي لکن په روژه کښی داممکن ندی نوروژه به نه نیسی اود هغی به په بله ورځ قضاء راوړي فانه لوشرع فیه لایلزمه عندابی حنیفة ومحمد څکه که دغه سړی پدغه ورځ روژه کښی شروع وکړي نودامام ابوحنیفه صاحب اوامام محمد صاحب په لزد پدی سړي باندی پوره کول ددی روژی لازم ندي. لان الاتمام لاینفكُ من ارتکاب الحرام څکه تمام والی ددی روژی دادارتکاب دحرامونه نه جداکیږي ، یقیناً دئ ارتکاب دحراموکوي ، لکن امام ابویوسف

صاحب وائی چه پده باندی روژه لازمه ده اودهغی بدل کښی دی قضاء راوړي **ومن هذا النوع وطئ الحائض** اودغی نوعی نه دی وطی دحائضی ښځی سره **فان النهی عن قربانها باعتبارالاذی** ځکه دانهی دقربت دحائضی نه دا دتکلیف دوجهی نه دی **لقوله تعالی يسئلونك عن المحيض قل هواذی فاعتزلوا النساء في المحيض ولاتقربوهن حتی يطهرن**

یعنی یسئلونك عن المحیض دوئ تانه تپوس کوي یارسول الله دحائضی باره کښی ، محیض که مصدرمیمی شی نوبیابه کلمه دحکم ورته مقدرکولی شی یعنی ( یسئلونك عن حکم الحیض )، اوکه محیض ظرف شی نوبیابه دامعنی وي چه ( یسئلونك عن الوطی فی زمن الحیض ) ، اصل کښی په مدینه منوره کښی یهود هم وو اونصاری هم وو یهود دحائضی نه تښتی بلکه دحائضی لپاره ئی دکلی نه بهریوکورجوړکړی وي اوهغه کورته ئی دحیض په وخت کښی وشړي اودخمځئ پشان یوپلن لرګی وي په هغه کښی ورته ډوډئ ورکوي، اونصاریٰ (عیسایان) په حالت دحیض کښی هم دښځی سره جماع کوي ، نو واده کړو صحابه وو درسول الله ﷺ نه تپوس وکړو چه یارسول الله په حالت دحیض کښی مونږ دیهودوپشان ښځه دکورنه اوباسواوکه دعسایانوپشان ورسره مونږ هم جماع کوو نوشریعت منځنی لاره اختیارکړه چه حایضه به په کورکښی درسره وي اوروټی به هم ورسره خوری ( افعلوا کل الشئ الاالجماع ) هرڅه به ورسره کوی لکن صرف جماع به ورسره نه کوی ، نوالله جل جلاله فرمائی ( قُلْ هُوَ اَذًی ) ته ورته اووایه یا محمدﷺ چه دا اذیت دی اوطهارت اونظافت نه خلاف ده ( فاعتزلوا النساء فی المحیض ) تاسوجدا کئ ښځی په حالت دحیض کښی یعنی دهغوئ نه لری اوسئ ( ولاتقربوهنّ حتی یطهرن ) اوتاسودوئ ته مه نژدوکیږی تردی چه دوئ پاکی شی، دخپلی ښځی سره خووطی جائزه ده، ځکه الله تعالی فرمائی ﴿ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَاَنْتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ﴾(البقرة/ ۱۸۷) نولباس سړی استعمالوي ، همدارنګه الله تعالی فرمائی ﴿ نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ فَاْتُوْا حَرْثَكُمْ اَنّٰی شِئْتُمْ ﴾ (البقرة/:۲۲۳) **ستاسوبیبیانی ستاسولپاره پټی دی اوخپل پټی ته راځی چه دکوم خوانه وي لکن وطی به په خپل محل کښی وي چه فرج دی ځکه هغه نه لخم پیداکیږي اوپیداوار تری لاس ته راځی چه بچي دي، نودا آیت لپاره دوجوب دی نوپه واجبوباندی عمل ضروري وي لکن**

Maktaba Tul Ishaat.com

که دوجوب لپاره نوي استحباب خوپکښې خامخاشته، نووطی دخپلی ښځی سره جائزه شوه لکن دحیض په وخت کښې مونږ منع شوي یو چه قربان به نه کوئ څکه چه دی کښې اذی دی، نوکه یوسړی دخپلی ښځی سره قربان کوي لکن من دون الفرج وي دا جائز دی څکه هلته کښې اذی(تکلیف) ندی موجود څکه رسول الله ﷺ فرمائی ( افعلوا کل الشئ إلا الجماع ) دحائضی سره هرڅه کولی شی لکن جماع ورسره نشی کولی، دی‌وجهی نه دعلماؤ دحائضی په باره کښې اختلاف دی چه خاوند دحائضی ښځی سره مباشرت فاحشه کولی شی اوکه نشی ئی کولی نوامام محمد صاحب اوامام احمد صاحب دمباشرت فاحشه قائله دي څکه حدیث کښې راځی ( افعلوا کل الشئ إلا الجماع ) لکن امام ابوحنیفه صاحب وائی چه مباشرت فاحشه ورسره کولی شی لکن ماتحت السرة ومافوق الرکبة استمتاع تری نشی حاصلوی بلکه فوق الازار اوفوق السرة اوتحت الرکبة هم ترینه استمتاع حاصلوی شی لکن مافوق الرکبة اوماتحت السرة استمتاع کښې خطره ده هسی نه چیرته په جماع کښې واقع نشی لکه شپون چه دشپولی نه چارچاپیره گډی څروي قریبه ده چه گډی چیرته شپول ته وردننه شی کمایقال- چرا کاری کند عاقل که بازآید پشمانی . ولهذا قلنا اوددغی وجهی نه حائضی ته قربان منع شویدی مونږه وایو یترتب الاحکام علی هذا الوطئ پدی وطئ باندی به احکام مرتب کیږي ، لکه بیع فاسده باندی حکم مرتب شودملك نوپدی باندی به هم حکم مرتب کیږي فیثبتُ به احصان الواطی پس ثابتیږي پدی سره احصان دواطي ، یوسړي دیوی ښځی سره نکاح وکړه اوهغه حائضه وه اودی سړي ورسره په حالت دحیض کښې جماع وکړله اوبیا دی سړي ددی نه پس دیوی اجنبی لی سره زناوکړه اوونیوی شو اوڅلورگواهان پری تیرشونوداسړي محصن دی اودمحصن لپاره حکم درجم دی څکه چه دئ دشته ښځی خاوند دی نودشته ښځی خاوند چه زنا وکړي نودهغه لپاره بیا رجم دی ( الشیخ والشیخة إذا زنیا فارجموهما البتة نکالاًمن الله والله عزیزحکیم ) اودا سړی څکه محصن شو چه ده خپلی ښځی سره جماع کړیده اگرچه په حالت دحیض کښې ده وتحل المرأة للزوج الاول اودابڅه دزوج اول لپاره روا شوله ، یوی ښځی ته سړي دری(۳) طلاقه ورکړي وو اوالله تعالی فرمائی ﴿ فَإِنْ طَلَّقَهَا

فَلَاتَحِلُّ لَهُ مِنْۢ بَعْدُ حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ ﴾ ( البقرة ،۲۳۰/ ) كه يوسړي خپلې ښځې ته درې طلاقه وركړه نوده لره بياندې جائز نرځو چه بل سړي سره نكاح ونكړي ، نوكه دغه شان په دريو طلاقو سره مطلقه ښځې دبل سړي سره واده وكړو لكن دا ښځه په حيض كښې وه چه خاوند ورسره جماع وكړه اوس دغه خاوند دغې ښځې ته طلاق وركړو اوعدت نه پس دغه ښځه دهغه مخكښې مطلق (زوج اول) سره واده كوي نوكولي‌ئې شي ځكه په حتى تنكح باندې عمل راغې ځكه چه دبل خاوند ورسره دخول وشو نوحكمورباندې مرتب شو ويثبت به حكم المهر اوپدې سره حكم دمهرهم راغې ، يوسړى چه ديوې ښځې سره نكاح وكړي اودا سړى ورسره په حالت دحيض كښې وطي هم وكړي او دې بيا طلاق وركړي نوكه مهرمسمٰى وو نوټول مهربه وركوي اوكه مهرمعين نوو اوسړي ورسره وطي وكړه نوطلاق كښې به بيا مهرمثل وركوي اوكه وطي ورسره نوه كړې اوطلاق ئې وركړل نوپه هغه صورت كښې به بيا كه مهرمعين وي نونيم مهربه وركوي اوكه مهرمعين نوي نوبيا به متعه وركوي ، كماذكرنا في بيان الطلاق ، نومطلب داشو چه دوطي في الحيض دوجهې نه هم باقاعده احكام ثابتيږي والعدة اوعدت حكم هم پرې ثابت شو، كه سړي واده وكړو اوښځه په حالت دحيض كښې وه لكن په حالت دحيض كښې ئې ورسره جماع وكړه اوبيا خاوند ورته طلاق وركوي نوښځه به عدت تيروي ځكه چه يوسړى ديوې ښځې سره نكاح وكړي اوجماع هم ورسره وكړي اوبيا طلاق وركړي نوپه ښځه باندې عدت تيرول لازم دي اوكه وطي نه مخكښې مخكښې ئې ورته طلاق وكړو لكه قرآن مجيد كښې راځي ﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّوْنَهَا ﴾ (الاحزاب ۴۹/ ) نوبياعدت ته ضرورت نشته والنفقة همدارنګه حكم دنفقې هم ثابت دى، لكه يوسړي ديوې ښځې سره نكاح وكړه اوپه حالت دحيض كښې ئې ورسره جماع وكړه اوبيا ئې طلاق وركړو اوښځه په عدت كښې ده نوپدې سړي باندې په عدت كښې ددې ښځې نفقه لازمه ده. ولوامتنعت عن التمكين الصداق كانت ناشزة عندهما يوسړي ديوې ښځې سره واده وكړو اوپه ړومبئ شپه ئې چه جماع ورسره وكړه نودا ښځه حايضه وه بيا ښځه پاكه شوه اوخاوند ورسره جماع كوي لكن ښځه وائي چه ماته به اول

Maktaba Tul Ishaat.com

دصاحبینو، ناشزه ده په نزد ناشزه نودابنځه کولی نی نشی ورنه کوی جماع بیابه مهراکی ته سرلایه وائی. **فلاتستحق النفقة** سرلایه ته وائی کومه ښځه چه دخاوند خبره نه منی هغی ته سرلایه وائی چه ناشزه نده بلکه بیاددی ښځی لپاره نفقه اوسکنی نشته، اوامام ابوحنیفه صاحب وائی چه دی حرام هم وي اوحکم خپل حق غواړي ، دلته کښی اعتراض واردیږي چه آیا یوشئ دی حرام هم وي اوحکم دشریعت دی هم پری مرتب وي داځنګه کیدای شی ؟ نومصنف ورته پدی عبارت سره جواب ورکوي **وحرمة الفعل لاتنافی ترتب الاحکام** یعنی حرمة دفعل منافی ندی دترتب داحکاموسره **کطلاق الحائض** لکه طلاق دحائضی ښځی شو، طلاق ورکول په طهرکښی پکاروي لکن که یوسړي ښځی ته په حالت دحیض کښی طلاق ورکړو اګرچه منع دي لکن طلاق واقع شواوحکم پری مرتب شولکه عبدالله ابن عمررضی الله عنهما چه خپلی ښځی ته په حالت دحیض کښی طلاق ورکړی وو اوچه کله ده درسول الله ﷺ په امرباندی ورته بیارجوع وکړه ابن عمررضی الله عنهما به ویل چه هغه طلاق کوم نی چه په حالت دحیض کښی ورکړی وو هغه هم پکښی حساب شوی دی.دهغی نه روستوکه نی دوه طلاقه ورکړل نوځځه پردرې مغلظوطلاقوسره طلاقه شوه. **والوضوء بالمیاه المغصوبة** یالکه اودس په اوبومغصوبه سره ، لکه یوسړي دبل نه په زوره اوبه واخشتی ، دا اوبه حرامی دي لکن که اودس نی پری اوکه اومونځ نی وکړو نومونځ نی صحیح دی اګرچه اوبه مغصوبه دي اوغصب حرام دی نوداهم حرام دی لکن حکم پری مرتب شولو **والاصطیاد بقوس مغصوبة** همدارنګه ښکارکول په لینده مغصوبه سره ، یوسړي دبل نه لینده په زوره واخشته اوپه هغی سره نی ښکاروکړو مرغئ نی پری وویشتی نوهغه مرغئ حلالی دي اګرچه هغه لینده یاتوپك وغیره دغصب دي نودلته کښی هم حکم دحلال والی په ښکارباندی ولګیدو **والذبح بسکین مغصوبة** اوذبحه په چاقو نی مغصوبه سره ، لکه یوسړي دبل نه چاقوپه زوره واخشتو اوپه هغه چاقوسره نی ګډ وغیره حلال کړو نوهغه ذبیحه حلاله ده اګرچه چاقودغصب وه اوغصب حرام دی **والصلوة فی الارض المغصوبة** همدارنګه مونځ په زمکه کښی ، یوسړي دبل نه په زوره زمکه اخشتی ده اوپه هغی کښی مونځ هم کوي نوغصب خوحرام دی لکن دغه مونځ نی چه پدغه زمکه کړیدی دا روا دئ **والبیع فی وقت النداء**

همدارنگه بیع په وخت داذان دجمعې کښې لکه الله تعالی فرمائی ﴿ يَاَيُّهَاالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْ اِلٰى ذِكْرِاللّٰهِ وَذَرُواالْبَيْعَ٠٠٠الآية﴾( الجمعة/٩ ) يعنی ای مؤمنانوكله چه دمونځ دجمعې لپاره آذان وشی نوخريد اوفروخت پرېږدی اودالله تعالی ذكرته منډه كړی، لكن كه يوسړی داذان نه پس هم خريد اوفروخت كوي نودمشتری ملك په مبيعه باندی اودبائع ملك په ثمن باندی راغي اوحالانكه بيع پدی وخت كښې حرامه ده٠ فانه يترتب الحكم على هذه التصرفات مع اشتمالها على الحرمة نومرتب كيږي حكم پدی تصرفاتومذكوره وو باندی سره ددی چه داټول كارونه حرام دي ، نويوشئ به حرام هم وي لكن حكم شرعي به پری مرتب كيږي ، نونتيجه ئی داراووته چه نهی دافعال شرعيه وو نه راغلی وي نوهغی باندی به احكام مرتب كيږي ځكه چه هغی كښې قباحت ذاتی ندی بلكه قباحت دغيردوجهی نه پكښې راغلی دی٠ وباعتبارهذا الاصل قلنا في قوله تعالی اوپه اعتبارددی اصل سره چه نفی دوجود دمشروعيت سره منافی ندی مونږ وايوپدی قول دالله تعالی كښې ولاتقبلوا لَهُمْ شهادةً ابدا مه قبلوئ دغومحدودينوفی القذف لره گواهي چيری هم ، يوسړي په بل سړي پوری دروغ پوری كړل چه دازناكاردی ، يابوي‌بنځې ته ئی زناكاره اوويلی اوخلورگواهان ئی رانه وستل نودی به اتيادرے وهلی‌شی ځكه ديومسلمان بی‌عزتي ئی وكړه اوالله تعالی فرمائی ﴿ وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنٰتِ ثُمَّ لَمْ يَاْتُوْا بِاَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ فَاجْلِدُوْ هُمْ ثَمٰنِيْنَ جَلْدَةً وَّلاَ تَقْبَلُوْا لَهُمْ شَهَادَةً اَبَدًا ﴾ (النور/ ٤) يعنی هغه كسان چه په مؤمناتومحصناتوباندی تهمت دزناولگوی اوبيا خلورگواهان رانه ولی نواتيا(٨٠) دوری ئی اووهئ اوهيڅ كله ئی گواهی مه قبلوی، ځكه دئ محدود فی القذف ۵ی، امام ابوحنيفه رحمه الله تعالی عنه فرمائی چه دمحدود فی القذف گواهی به بلكل نه قبليږي ، شوافع وائی‌كه توبه ئی اوكړه نو گواهی به ئی قبلولی شی ځكه چه الله تعالی فرمائی ﴿ اِلاَّ الَّذِيْنَ تَابُوْا مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ وَاَصْلَحُوْا ﴾ سورة النور، الآية: ٥ ٠ مگرهغه كسانوشهادت به قبلولی شی چه توبه اوباسی اواصلاح شی ، لكن مونږ(احناف) وايوچه دتوبی دوجهی نه خودفِسق نه اووتو لكن دلاتقبلوا سره دابدًا تكی هم راغلی ۵ی نوعدمی قبلول دشهادت بيله خبره ده اوفِسق نه وتل بيله خبره ده اِنَّ

الفاسق من اهل الشهادة فاسق من اهل شهادت دی لکن که شهادت ورکوي شهادت به لی نه شی قبلولی فینعقدالنکاح بشهادة الفُساق که دیوسري په نکاح کنبی دوه فاسقان دشهادت په حیث موجود وي نونکاح منعقده ده خکه ( لانکاح إلابحضورشاهدین ) نوکه شاهدین فاسقان وي نوپه نکاح باندی حکم دنکاح مرتب دی لان النهی عن قبول الشهادة بدون شهادة محال خکه چه نهی دقبول دشهادت نه بغیردشهادت نه دامحال دی، مونږه چه منعه شو دقبلولودشهادت دفساقونه نومعلومیږي چه شهادت ورسره شته لکن قبلولی به نه شی نوقبول بیل دی خکه چه قبول دشئ اوعدم قبول دشئ دافرعه دوجوداودثبوت دشئ ده نودابه هله وي چه هغه شئ موجودوي لکه زه وایم چه فلانی ماته بادام راوړیدي نوکه زه لی اخلم داقبول شو اوکه نه لی اخلم نوداعدم قبول شو نوکه یوشئ نوي نوقبول اوعدم قبول به دکومی خوانه راشی، نومطلب داشوچه الله تعالی دفاسق شهادت ته شهادت اوویل لکن که شهادت کوي نوقبلولی به نشی اوکه وئی کړو نوحکم به پری مرتب وي وانما لم تقبل شهادتُهم لفسادٍ فی الاداء دهغوی شهادت به نه قبلیږي خکه چه اداء کنبی فساد دی، ایهام دکذِب موجود دی خکه چه داسړی فاسق دی اوگناهونه کوي نوکه ددروغوگواهی وکړي نوخه بعیده نده لکه وائی (دلندو به خه لانده شی) چه یوسړئ دگناهونوعادت دی نوهغه ته خودروغ بلکل اسان دي نوخکه دده شهادت نشی قبلولی لالعدم الشهادة اصلا ددی وجهی نه نه چه شهادت ندی موجود خکه قران مجید وائی ﴿ لاتقبلوا لهم شهادةً ابداً ﴾ نودینه پته لگیږي چه شهادت موجود دی وعلی هذا اوبناء پردی باندی لایجب علیهم اللعانُ په فاسقانواومحدودینوفی القذف باندی لعان نشته، لعان دیته والی چه یوسړی پخپله ښځه باندی دزناگواهی وکړي چه زمانبځی دفلانکی سره زناکړیده نوداسړی به دقاضی په مخکښی څلورگواهان پیش کوي اوکه گواهان نوي نوداسړی به قاضی په مخکښی څلورخله داسی گواهی ورکړي( اشهدبالله إنها زنتْ بفلانٍ ) اوپه پنځم خل به اووالی ( أن عليَ لعنة الله إن كذبتُ ) بیابه قاضی ښځی له مخاطب شی اوورته به اووالی دخدای جل جلاله نه اوویریږه که جرم دی کړی وي نواووایه چه حد درباندی قائم کړو خکه عذاب داخرت ډیرسخت دی دعذاب ددنیا نه ، که بیاهم هغی اقرار ونکړو

نوبیابه هغه خلورخله داسی اووائی ( اشهدبالله إنی مازنیتُ بفلانٍ ) اوپه پنخم خل به داسی اووائی ( إن علیّ غضب الله إن کذبتُ ) یعنی په ماذی دخدای جل جلاله غضب وي که زه دورغ وایم، نوکه یوفاسق پخپله ښخه باندی دزنا دعوا وکړه چه زمانښځې زناکړیده نوقاضی به فاسق ته دلعان حکم نه کوي ځکه چه لعان کیږي په اداء دشهادت اومحدود فی القذف اداء دشهادت نشی کولی ، یوشهادت دی اوبل اداء دشهادت ده، نوفاسق کښی نفس شهادت شته دی لکن اداء دشهادت نشی کولی ځکه الله تعالی فرمالی ﴿ ولاتقبلوا لهم شهادةً ابداً ﴾ اونکاح دفاسقانوپه شهادت باندی ځکه قایمیږي چه نکاح کښی اداء نده بلکه شهوددشاهدینودی چه شاهدین موجود وي نونکاح وتړل شی نونکاح صحیح کیږي ، اوپه لعان کښی خواداء دشهادت دی چه دقاضی په مخ کښی به گواهی ورکوي چه اشهدانها زنت بفلانٍ ، اومحدود فی القذف اهل داداء دشهادت ندی لان ذلك اداءُ الشهادة ځکه دا اداء دشهادت دی ولا اداء مع الفسق دفسق سره اداء دشهادت نه کیږي ځکه دواړوکښی فرق دی۰

**فصلٌ فی تعریف طریق المرادبالنصوص** دافصل دی په بیان دطریقی دمراد بالنصوص کښی یعنی چه دنص مراد به څنگه معلومیږي ، تعریف نه مراد تعریف ندی لکه دکافیه ملاچه دکلمی تعریف کوي ( الکلمة لفظٌ وضع لمعنی مفردٍ ) بلکه دتعریف نه مراد بیان دی ځکه دلته کښی چیرته هم مصنف علیه الرحمة تعریفونه ندي کړي لکه چه نوروکتابونوکښی داسم تعریف دفعل تعریف دکلمی تعریف اوداسی نورتعریفونه ذکرشویدي، اودافصل دمخکښیوفصلونولپاره یوقسم تتمه ده ځکه دمخکښیوفصلونودبعضی اعراضوتتمه پدی کښی بیانیږي اوپه طالب کښی ددی دزده کولودوجهی نه په طریق داستدلال کښی بیاقوت پیداشی نوځکه دمخکښیو درسو نو لپاره تتمه گڼلی شي۰ **اعلمْ ان لمعرفة المراد بالنصوص طرقاً** زده کړه داخبره چه دپیژندلودمراد دنصوصونه مختلفی طریقی دي، داطریقی چه وپیژندلی شی نوبیابه دقرآن پاك په نص اودرسول الله ﷺ داحادیثوپه نص باندی ښه پوهیږي۰ **منها إنّ اللفظ اذا کان حقیقةً لمعنی** یوه طریقه هغوطریقونه داده چه یولفظ دیوی معنی لپاره حقیقت وي، **ومجازاً لاخرفالحقیقة اولی** اودبلی معنی لپاره مجازوي

Maktaba Tul Ishaat.com

خکه حقیقت اولی دی لوچه لوحقیقت اولی دی ، یعنی حقیقت باندی عمل کول پکاردی خکه حقیقت اولی دی لوچه پوخای کښی حقیقت متعذرلوي اوحقیقت مهجورلوي اوقرینه هم لوي موجوده چه واضع دالفظ دخه لپاره وضعه کړیدی اومانع هم لدی موجود نومجازته صیرورت بلکل ندی پکار خکه مجازته خوهله صیرورت کیږي چه پوخای کښی حقیقت مهجور وي یاحقیقت متعذروي یامانع موجود وي نوبیامجبوراً مجازته صیرورت کیږي ، بل داچه حقیقت کښی لبادروي اوخالی والی وي دقرینی نه نوهرکله چه یولفظ مستعمل شواوبغیردقرینی له دهغه معنی یك دم ذهن ته راغله نوپوه شه چه حقیقت دی اومجازنه دی۰ مثاله ماقال علماءُنا اوددی مثال دادی چه زمونږعلماء احناف والی البنت المخلوقة من ماءالزنا یوه جینۍ چه دزنا له پیداشویده، لکه مثلاً یوسړي ظلم وکړو اودیوی اجنبی سره لی زناوکړه اودهغی له لورپیداشوه لوداجینۍ دهغه سړي دالی لور ده خکه دا دهغه داوبوله پیداشویده ، بنت والی دهغه سړي لورته چه هغه دهغه داوبوله پیداشوی وي پدی بالدی دبنت اطلاق حقیقتاً کیږي لوکوم احکام چه دلوروي هغه ددی هم وي۰ یحرم علی الزانی نکاحُها نوددی جینۍ نکاح ددی زانی سره حرامه ده ، خکه دلورسره نکاح له کیږي اودا دده لورده ، خکه یوخل خو لي دزناجرم وکړو اوبیا بل جرم کوي چه هغه دلورسره نکاح کول دي اوابدالآباد پوری خان په گناه کښی مبتلاکوي کمایقال (چوری‌اوسینه زوری) یوسړی غلاهم کوي اووالی هم چه بنه کوم، نواحناف والی چه دا خکه دده لورده چه ( البنت متولدة من ماءِ الزوج ومن ماءِ الزوجة ) چه دسړي اودښځی داوبونه پیداشوی وي هغی له دهغوئ دواړو لوروالی الله تعالی فرمالی ﴿ هَلْ أَتَى عَلَى الْإِنْسَانِ حِينٌ مِنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُنْ شَيْئًا مَذْكُورًا * إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ نُطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَاهُ سَمِيعًا بَصِيرًا * ﴾ سورة الدهر، الآیة: ۱-۲ ) الله تعالی فرمالی چه موږه انسان دمخلوطلو اوبوله پیداکړیدی، دسړي اوبه چه دښځی داوبوسره یوځای شی لودهغی له بیا بچی پیداکیږي۰ وقال الشافعیؒ یحِلُّ امام شافعی صاحب والی چه دزنا له دپیداشوی لوّرسره نکاح جائزه ده، خکه هغه والی چه دا بنت لده ، اووالی چه بنت هغی له ویل کیږي چه په نکاح شرعی سره پیداشوی وي والصحیح ماقلنا اوصحیح خبره هغه ده کومه چه احنافوکړیده لانها بنت حقیقیة خکه

داجېنۍ دهغه زاني حقيقتاً لورده، يعنې په عرف کښې ورته لوروبلې شي فتدخل تحت قوله تعالى نوداپدى حکم کښې داخله شوه حُرِّمَتْ عليكم امّهاتكم وبناتكم حرامې کړيدي الله تعالى په تاسوباندې مېندې خپلې اوحرامې کړيدي الله تعالى په تاسوباندې لونه خپلې ، په امهاتو کښې نياګانې هم راغلې ځکه هغوی هم حکماً مېندې دي ، اوپه بنات کښې لوسئ اوګروسئ هم راغلې، پدى آيت کښې الله تعالى پنځلس محرمات بيان کړيدي نويوه پکښې بنته هم ده، نوپدى صورت کښې متولده من الزنا هم بنته ده اوپدى آيت کښې داخله ده.
ويتفرع منه الاحکام على المذهبين اوپدى مسئله باندې ددواړومذهبونولوړدېرتفريعات کيږي. من حل الوطى امام شافعى صاحب چه دمتولده من الزنا سره نکاح جائزه کړه نووطى هم ورسره جائزه ده ځکه دنکاح مطلب جماع ده اودنکاح دوجهې نه خاوند دښځې دبضعې مالک شي نوبياهغه وطى کولی شي ووجوب المهراوچه واده نې ورسره وکړو نومهرهم پرې لازم دى . ولزوم النفقة اوپدى خاوند باندې ددې ښځې نفقه هم لازمه ده ، ځکه الله تعالى فرمائي ﴿ وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ ﴾ (البقرة،/ ٢٣٣ ) وجريان التوارث که دغه جېنۍ مړه شوه نوخاوند ترې ميراث وړئ شي اوکه خاوند مړشو نوجېنۍ ترې ميراث وړئ شي ځکه زوج دزوجې نه اوبالعکس يودبل نه دميراث حق داردي وولاية المنع عن الخروج والبروز همدارنګه سړی دغه ښځه کومه چه دده دزنانه پېداشويده لکن واده نې ورسره وکړو نودامنعه کوی شي چه دفلانې کورته به نه ځې يابه بهرنه وځې، ځکه ښځه دخاوندتابع وي نوامام شافعي صاحب وائي چه دانولې خبرې لازمې شوی ځکه( اذاثبت الشئ ثبت بجميع لوازمه ) نوامام شافعي صاحب چه دهغې سره نکاح جائزه کړه نودنکاح ټول لوازم ورسره ثابت شو، دنکاح دلوازمو نه حل دوطى ده په واده سره سړي ته ښځه روا ده نودا جېنۍ ورته روا شوله ، همدارنګه دنکاح دوجهې نه په خاوند باندې مهرلازمېږي نوپدې صورت کښې هم مهرلازم شوهمدارنګه دنکاح لوازمانو نه نفقه هم ده نونفقه هم لازمه شوه، لکن دامام ابوحنيفه صاحب نه قربان شم ، دامام ابوحنيفه صاحب هره مسئله په احتياط بناء وي هغه فرمائي چه لورې جېنګئ خولګې ندي چه الا دمتولدې من الزنا سره نکاح کوي اوځان په جرم على الجرم کښې واقع کوي

Maktaba Tul Ishaat.com

یوځل نی زنا وکړه اوبیادزنا نه پیداشده جنین سره نکاح کوي نوباید بلی جینئ سره واده
وکړي کمایقال (ملك خدا تنگ نیست پائ گدالنگ نیست)، قرآن مجید کښی هم راځی ﴿ وَأُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَآءَ ذَٰلِكُمْ ﴾ سورة النساء،الاية: ۲٤ . یعنی ددی پنځلسو محرماتونه بغیرنوری
ټولی جینکئ درته حلالی دي ، لکه دکافیه ملاوانی (واللفظی فیما عداه) یعنی چه
یوځوتقدیری اعرابات نی بیان کړل نووالی چه باقی ټول لفظی اعرابات دي. ومنها
اوبعضی دطرقونه چه طالب ته په هغی باندی دنص مراد معلومیږي داطریقه هم ده. ان
احدالمحملین اذا وجب تخصیصاً فی النص دون الاخر که یودمحملینونه خاص وي په
نص کښی اوبل خاص نوي، محمل هغه ته وائی چه غایت په هغه باندی منطبق شي ، مثلاً
په یولفظ کښی دوه معنی گانی دي هغه یوه نی عامه ده اوټولوافرادوته شامله وي اوبله
معنی نی خاصه ده بعضی افرادوته شامله وي اوبعضوته نوي شامله، فالحملُ علی مالا
یستلزم التخصیص اولی نودالفظ په هغه معنی باندی محمولول بهتردي کومه معنی چه
ټولوته شامله وي ، لکه مثلاً قرآن مجید کښی یوآیت وي یایولفظ وي یایوه جمله وي اوهغه
دومعنیین دی نوکه یوه معنی تری واخلو نوځپلوتماموافردوته شاملیږي اوکه بله معنی تری
واخلونوځپلوبعضوافرادوته شاملیږي اوبعضوته نه شاملیږي نوهغه معنی چهپه ټولو افرادو
باندی صادقیږي نو هغه معنی به اخلولکه الله تعالی فرمائی ﴿ أَوْجَآءَأَحَدٌمِّنكُم مِّنَ الْغَآئِطِ أَوْلَمَسْتُمُ النِّسَآءَ فَلَمْ تَجِدُوْامَآءً فَتَيَمَّمُوْاصَعِيْدًا طَيِّبًا...الآية﴾ سورةالمائدة، الاية: ٦٠ که
چیرته یوستاسونه دکندی(اودس ماتی) نه راغئ اویایوستاسونه دځپلوبیبیانوسره جماع
وکړله او اوبه نشته نوبیا په پاکه خاوره باندی تیمم ووهئ ، نوچه دلامستم نه مونږ جماع
مرادکړو نوجماع چه هرځای کښی موجوده شی اواوبه نوي نوتیمم جائز دی ، داسی نده
چه یوسړی دی جماع وکړي اوبه ده باندی دی غسل لازم نوي بلکه غسل پری لازم دی
نوکه اوبه وي ځولامبی به اوکه اوبه نوي نوتیمم به کوي،اود شوافعوپه نزد دلامستم نه
لمس بالیدمراد دی نوکه یوسړي ښځی نه لاس ولګولواودده اودس وو نواودس ئی مات
شو نوچه کله دمونځ وخت راشی اواوبه نوي نولیمم به کوي، هرکله چه شوافعودلامستم نه
مراد مس بالیدواخستواوبیاوالی چه که یوسړي ځپلی مورته یاځپلی ماشومی لورته یادبل چا

ماشومی(وړی) لورته نی لاس ولګولو نواودس نی نه ماتیږي ځکه هغه وائی چه هرکله ښځه بالغه وي مشتهاته وي اوهغی ته لاس ولګیږي نواودس نی مات دی ، نوګویا چه دلامستم نه نی لمس باليدواخشتولکن بعضی افراد نی تری اوباسل نوکه دلامستم نه جماع واخشتل شی نوټول افرادوته شامل دی اوکه دلامستم نه لمس باليدواخشتل شی نوبعضی افراد ترینه ندي مراد لکه کوم چه امام شافعی صاحب ترینه اوباسل ، نواحناف وائی چه هرکله دیولفظ لپاره دوه معانی وي یوه معنی ټولوافرادوته شامله وي اوبله معنی بعضی افرادوته شامله وي اوبعضی افرادوته نوي شامله نوهغه معنی چه ټولوافرادوته شامله وي اولی دی دهغی معنی نه چه بعضوافرادوته شامله وي نودی وجهی‌نه احناف دلامستم نه مراد جماع اخلی چه هغه ټولوافرادوته شامليږي، اوشوافع ترینه مراد لمس باليداخلی چه هغه بعضی افرادوته شامله ده اوبعضی افرادوته ندی شامله، داحنافوبل دلیل دادی چه لامستم دباب مفاعلی نه دی، لَامَسَ - يُلَامِسُ - مُلَامَسَةً ، لکه ضَارَبَ - يُضَارِبُ - مُضَارَبَةً ، اودمفاعلی خاصیت دادی چه دی کښی به مشارکت من الجانبین وي ، نوپه جماع کښی هم مشارکت من الزوجین دی ځکه سړی به ښځی ته نزدوکیږي اوښځه به سړي ته نزدوکیږي اوداصورت په جماع کښی وي ، دمفاعلی خاصیت په بحث دخاصیاتوکښی ذکرشویدی ، دخاصیاتوبحث په علم صیغه ، فصول اکبری ، پنج ګنج وغیره کتابونوکښی شته دی، پخوابه طالبانوپه علم صرف کښی پنج ګنج هم ویلی ، دپنج ګنج په نوم ډیرزیات کتابونه دي ، منطق کښی پنج ګنج شته ، په صرفوکښی پنج ګنج شته ، په نظم کښی پنج ګنج شته ، په طب کښی پنج ګنج شته اوداسی نور پنج ګنج معنی پنځه خزانی یعنی چه پنځه کتابونه یوځای شوي وي هغه ته پنج ګنج والی۰ اوبل دلیل دادی چه ابن عباس رضی الله عنهما رئیس المفسرین دی هغه والی چه قرآن مجید کښی دمس ټکی‌دَلَامَسَ ټکی په جماع کښی مستعمليږي ۰ اوبل دلیل داحنافو دادی چه یوقانون دی چه تأسیس اولی وي دتأکید نه ، تأسیس نوی معنی ته والی اوتأکیدزری معنی ته والی نودی آیت( اَوْجَآءَاَحَدٌمِّنْكُمْ مِّنَ الْغَآئِطِ) نه معلوم شو چه یوسړي ووکئ اودس مات کړی وي لکه چه په جوابی چی(متیازو) سره ووکی اودس ماتیږي نوکه دلامستم نه مس باليدواخلونوامام شافعی صاحب وائی چه پدی باندی هم

اودس مات شو لود( أَوْجَآءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ الْغَآئِطِ) اود (أَوْلَمَسْتُمُ النِّسَآءَ ) ددوارو يوه معنی شوه يعنی اودس مالول دي، اوكه د(أَوْلَمَسْتُمُ النِّسَآءَ ) نه مراد جنابت واخلواود(أَوْجَآءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ الْغَآئِطِ) نه مراد وړوکی اودس واخلونويوحدث اصغرشوچه وړوکی اودس اوبل حدث اكبرشوچه جنابت دی نودآيت معنی داشوه چه كه يوسړی په حدث اصغركښی مبتلاء وي اوياپوطالب په حدث اكبركښی مبتلاء وي اواوبه نشته نوتيمم دوارو لپاره روا دی نوكه دلامستم نه مونږ جنابت واخلونودا حدث اكبرشونودايوه نوی‌معنی مونږته معلومه شوه نوقانون خودادی چه تاسيس اولی وي دتاكيدنه نودی وجهی نه مونږ دلامستم نه مراد جماع اخلو، اوس مصنف ددی طريقی مذكوری لپاره مثال بيانوي مثاله فی قوله تعالٰی اولامستُمُ النساء مثال ددی طريقی پدی قول دالله تعالی كښی چه كه تاسودخپلوښخوسره جماع وكړه فالملامسةُ لوحملت علی الوقاع كه دملامسی لفظ مونږحمل كړوپه جماع باندی كان النصُ معمولاً به فی جميع صُوروجوده نونص باندی به عمل كولی شی په ټولوصورتونودوجودجماع كښی ، يعنی چيرته هم چه جماع راغله نوپدی صورت كښی به پدغه سړي باندی غسل لازم وي اوكه اوبه نوی تيمم ورته جائزدی لوحملت علی المس باليداوكه دلامستم نه مراد مس باليدواخلی لكه امام شافعی صاحب چه والی كان النصُ مخصوصاً به فی كثيرمن الصور نونص به مخصوص وگرځی په ډيروصورتونوكښی له وجهی دوجود دعلت نه چه هغه مس باليددی اومختلف كيږي حكم ددی چه هغه ماتيدل داودس دي فان مسّ المحارم والطِّفلة الصغيرة جداً غيرناقض الوضوء ځكه مس دهغوښځوچه دهغوی نكاح كول جائزندي اومس دهغی جينئ چه ډيره وړه وي داناقض داودس لپاره ندی فی اصح قول الشافعی په اصح قول دامام شافعی كښی ، يعنی هغه والی چه محارموته لاس لگول او وړی جينئ ته لاس لگول اودس نه ماتوي وي ويتفرع منه الاحكام علی المذهبين اوددينه ډيراحكام راووتل په نزد دواړومذهبونوباندی من اباحة الصّلوة لكه اباحت دمونځ، لكه يوسړئ ډاكټر دئ او اودس لی شته اويوی مريضی ښځی ته لی په مټ باندی ستن اووهله نودشوافعوپه نزد باندی په دی اودس مونځ نشی كولی اواودس لی مات شو لكن زمونږ په نزد باندی ئی اودس شته

اومونځ کولی شي ومسّ المُصْحف همدارنګه مسح کول دقران کریم ، لکه دیوسړي اودس شته او ښځې ته لی لاس ولګولو اوبیا دئ دقرآن مجید تلاوت کړي نومونږه وایوکولی شي اوقرآن ته لاس لګولی شي اوشوافع والی چه تلاوت نشی کولی اوقرآن مجید ته لاس نشی لګولی ځکه مس دمرءی راغلی نواودس لی مات دی اوقرآن مجید کښی راځی ﴿ لاَيَمَسُّهُ إِلاَّالْمُطَهَّرُوْنَ ﴾سورة الواقعة ، الآية ۷۹ ۰ ودخول المسجد همدارنګه داخلیدل مسجد ته، زمونږيه نزد جائز دي بغیردکراهت نه اودشوافعوپه لزد مکروه دي وصحة الامامة همدارنګه داسړی چه اودس لی شته لکن مس دمرءی راغلی نوداحنافوپه نزد بالدی داسړی امامتی کولی شيځکه اودس نی شته لکن شوافع والی چه اودس لی نشته امامتی نشی کولی ځکه مس دمرءی سره دهغوی په نزد اودس ماتیږي ولزوم التیمُّم عندعدم الماء همدارنګه لزوم دتیمم دی چه اوبه نوي ، دیوسړي اودس شته اوبیالی ښځې ته لاس لګولی اوبیا دمونځ وخت راغلولکن اوبه نشته نواحناف والی چه اودس لی پخپل حال باقی دی تیمم ته ضرورت نشته اوشوافع والی چه اودس لی نشته تیمم پری لازم دی چه اوبه نشته ولذکرُالمس فی الثاء الصّلوة یوسړي اودس کړی وو اوڅهغی نه پس لی ښځې ته لاس لګولی وو لکن تری هیرشوی وو اویه مونځ کښی ولاړدی چه ورته رایاد شو چه ماخویوی ښځې ته لاس لګولی وو ، یاداکتېردی ورته رایاد شو چه ماخویوی ښځې ته په متّ باندی ستن لګولی وه نوشوافع والی چه مونځ لی مات شو اومونږ(احناف) وایو چه مونځ نی صحیح دی ځکه اودس نی ندی مات ځکه چه اودس په ماخرج سره ماتیږي اودمس دوجهي نه خوهیڅ شئ ندی خارج شوی ، نوخلاصه داشو چه ګویا دیولفظ دوه محمله وي اویو محمل خپلوټولوافرادوته شامل وي اوبل بعضوته شامل وي اوبعضوته نوي شامل نوآیت به په داسی معنی باندی حمل کول پکاردي چه هغه خپلوټولوافرادوته شامل وي، لکه لامستم چه په معنی دجماع واخلی نوټولوافرادوته شاملیږي اوکه په معنی دمس سره ئی واخلی نوبعضوافرادوته شاملیږي نومونږيه عامه معنی باندی حمل کړه چه جماع ده تفصيل مخکښی ذکرشو۰ ومنها ای من طرق معرفة المرادبالنصوص ، یعنی بله خبره داده چه یوټکی قرآن مجید کښی په دوو قرأتوباندی کیدای شي نوبیاهرقرأت خانته مستقله معنی

Maktaba Tul Ishaat.com

لري لکه په آیت دوضوء کښې چه ارجلَکمْ تکی راغلی دی ﴿ يَاأَيُّهَاالَّذِينَ آمَنُوٓا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوْا بِرُءُوْسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ... الآية﴾ ( المائدة/٦ ) نوبو قرأت دی ارجلَکمْ(بالفتح) اوبل قرأت دی ارجلِکمْ(بالکسر) نودهریوبیله بیله معنی شوه نودوه معانی تری ثابتی شوی ارجلَکم چه منصوب اوویل شی نودا په ایدیَکمْ باندی عطف دی اوهغه په مغسول باندی عطف شو نودخپووظیفه غسل دی که یوسړي موزی نوي اچولی نوبیابه خپی وینځی ، اوکه ارجلِکم مکسور اوویل شی نوبیا به په رأس باندی عطف وي اوهغه په مسح باندی عطف شو نوپدی صورت کښې دخپووظیفه مسح دی یعنی چه سړي موزی اچولی وي نومسح به پری کوي نوگویا دخپو دوه وظیفی دي که رجلین مجردتین وي نووینځلی به شی اوکه رجلین مع الخفین وي نوبیابه په موزوباندی مسح کیږي نودوه قرأته دي اوهرقرأت موبه بیله بیله معنی باندی محمول کړو نودا یوبل قانون شو، نومصنف وائی انّ النصّ اذاقُرِئَ بقراءتین که دقرآن مجید یولفظ یایوآیت په دوه طریقوسره تلاوت کیږي او رُوِیَ بروایتین یایوحدیث کښې دوه روایت راغلی وي کان العملُ به علی وجهٍ یکون عملاً بالوجهین اولٰی نووي به عمل پدی نص دکتاب الله باندی یاپه دی حدیث درسول الله ﷺ باندی پداسی طریقی سره چه عمل په دواړو سره راشی دا اولٰی دی ددینه چه یوترك کړی شي. مثاله فی قوله تعالی وارجُلکم مثال ددی مقرُوء بقرأتین اوددی مروي بروایتین پدی قول دالله تعالی کښې چه وارجلَکمْ دی قُرِئَ بالنصب عطفًا علی المغسول که په نصب سره تلاوت شی نوبیاعطف دی په مغسول باندی ، یعنی فاغسلوا وجوهکم ، وجوهکم مفعول به دی، او وایدیَکمْ هم مفعول به دی وبالخفض عطفًا علی الممسوح اوبل قرأت چه په جرسره دی ، دا عطف دی په ممسوح باندی یعنی قران وائی وامسحوا برؤسکم – ب – په رؤسکم باندی داخله ده نومعطوف علی المجرور مجرور وي ، که په برؤسکم باندی ئی عطف کړی نوبیا ارجلِکمْ بالکسر شو اوکه په مغسول باندی ئی عطف کړی نوبیا ارجلَکمْ بالفتح شو فحُمِلَتْ قراءةُ الخفض پس حمل کړی شو قرأت دجر علی حالة التخفف په حالت دموزوباندی ، یعنی چه یوسړي موزی اچولی وي ، ( تخفف الرجلُ ای لبِسَ الخُفین ) وقراءة النصب علی

حالة عدم التخففِ اوقرأت دنصب حمل کړی شو په عدم تخفف باندی، یعنی چه یوسړي موزی نوي اچولی وباعتبارهذا المعنی قال البعض جوازُالمسح ثبت بالکتاب اوپدی اعتبارسره چه قرأت دجرمحمول کړی شو په حالت دموزوباندی اوحالت دنصب محمول کړی شو په حالت دعدم لبس دخف سره بعضی علماء والی چه ثبوت دمسحی په کتاب الله سره راغلی دی، یعنی دمسح جواز دقران نه ثابت دی ځکه چه دوه قرات راغلي دي نوداصحیح ده چه مسح دقرآن کریم نه ثابته ده، ځکه مسحه دومره اهمه ده که یوسړی مسح نه منی په اسلام کښی ئی شك دی ، امام شافعی صاحب والی( اَخافُ الکفرَ علی منْ لَمْ یرالمسْحَ علی الخفینِ ) یعنی څوك چه مسح په خفینوباندی نه منی زه پری دکفرنه یریږم. امام ابوحنیفة صاحب به فرمائل ( ثلاثةٌ من الایمان ان تُفضِلّ الشیخین وتُحِبَّ الختنین والمسح علی الخفین ) یعنی دایمان دری(۳) نښی دي چه حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه اوحضرت عمرفاروق رضی الله عنه به افضل صحابه منی ، شیخین نه مراد ابوبکر اوعمررضی الله عنهما دي چه هغوی افضل صحابه دي، اودرسول الله ﷺ ددواړو زومانوسره به محبت ساتی چه یوزوم ئی حضرت عثمان رضی الله عنه دی اوبل زوم ئی حضرت علی کرم الله وجهه دی ، اوموزو باندی به مسح منی ، حسن بصری هم والی چه دمسحی باره کښی دشپیتو(۶۰) نه تر اویا(۷۰) صحابه وو پوری روایت ماته رسیدلی دي نومعلومه شوه چه مسح علی الخفین ډیره زیاته مهمه ده ، شیعه گان مسح علی الخفین نه منی بلکه هغوئ دمسح علی الرجلین قائل دي نودی وجهی نه هغوی په اودس کښی خپی نه وینځی نوداوجه ده چه دشیعه گانوپه جوماتونو کښی ډیرزیات بوئ وي، دایران خلق اکثره شیعه دي اودایران خلق ډیرزیات سروب(مزي) وي اوهمیشه لپاره جورابی استعمالوي اوخپی هم په اودس کښی نه وینځی نوددی وجهی‌نه دایرانیانوپه جوماتونو کښی ډیرزیات بوئ وي لکه دی باره کښی جناب شیخ صاحب یوئ عجیبی غریبی قیصی اومناظری ته اشاره کوي او والی چه کله په اول ځل زه حج ته تلم نودکویتی نه دایران په لاره تلم دروژی مبارکی میاشت وه اوپه ایران کښی یوهوټل ته دروژه ماتی لپاره ودریدو روژه ماتی . ته لګ تیم وو چه مااودس کولو نوچه کله می‌خپی وینځلی نوډیرزیات

چل وشو چه دومره خلق ايرانيان(شيعه گان ) په ماراجمع شول نوما ورله اوويل چه خه
راجمع شوی ؟ نوهغوی ته خو سنيان نوو معلوم خکه ډيرکم خلق به پدی لاره للل نوماته
لی اوويل چه ( جعفری نيستی ؟ ) نوجناب شيخ صاحب فرمائی چه ماته په هغه وخت کنبی
جعفريان نه پيژندل خکه هغوی ته خومونږ شيعه گان وايو نوماورته اوويل چه ( جعفری چه
بلا است ؟ ) نوهغوی ډيرغوصه شول اوراته لی اوويل چه ( به عمر رضی الله عنه لعنت
ميفرستی ؟ ) ( استغفرالله ثم اسغفرالله ) لوجناب شيخ صاحب فرمائی چه زه ډيرزيات خفه
شوم اوورته می اوويل ( اگرحضرت عمر فاروق رضی الله عنه لائق لعنت می بود بازچرا
حضرت علی کرم الله وجهه دخترخود(ام کلثوم)درعقدِنکاح داده بود ؟ ) اوداخبره چه
حضرت علی رضی الله عنه خپله لور ولے حضرت عمررضی الله عنه ته په نکاح ورکړې وه
ستاسوپه کتابونو کنبی ليکلی ده ، فَبُهِتَ الَّذِی کَفَرَ، نووائی چه شيعه گان بلکل چپ شول،
نومعلوميږي چه شيعه گان ډيرلوی ظالمان دي، اومعلوميږي چه مسح ډيره مهمه ده خکه
پری امام ابوحنيفه صاحب اوامام شافعی صاحب اوحسن بصری صاحب ډيرزيات تاکيد
کوي ، نوگويا يوشئ چه مقروء بالقرآتين وي نوهرقرأت نه به يوه معنی ثابتيږي وکذلك قوله
تعالی حتی يَطْهُرْنَ همدارنگه په مثل دقول دالله تعالی باندی چه وارجلكم داقول دالله
تعالی هم دی چه حتی يَطْهُرْنَ ياحتی يَطَّهَّرْنَ دوه قرأت دي يومخففاً اوبل مشدداً دی نود
دوارو بيلی بيلی معانی دي الله تعالی فرمائی ﴿ وَلَاتَقْرَبُوْهُنَّ حَتّٰی يَطْهُرْنَ ﴾(البقرة الآية
۲۲۲) دی حالضانوته به نه نږدوکيږی ترخوچه دا پاکی نه شی، اودابه هغه صورت کنبی چه
دبوی ښخی لس ورځی حيض تيرشی اووينه منقطع شی نوکه دی ښخی غسل هم نوي
کړی نوداپاکه شوله اوخاوند ورسره جماع کولی شی خکه چه دلسوورځو نه زيات حيض
نشته نوچه لس ورځی پوره شوی اودم منقطع شونوداښخه پاکه شوه اويطهرن پری صادق
شو غسل خوبه ضروو کوي لکن که قبل الغسل ورسره خاوند جماع وکړه نوکولی شی ، اوپه
هغه صورت کنبی چه دبوی ښخی حيض دلسوورځو نه کم راغی مثلاً اته(۸) ورځې يا
شپږ(٦) ورځی اووينه بنده شوه خاوند ورسره جماع نشی کولی ترخوچه ښخه غسل ونکړي
خکه حيض دپوره مودی ندی اويطهرن پری ندی صادق خکه دا دمبالغی صيغه ده نوپه

دوارو باندی عمل راغی نومصنف والی قُرِئَ بالتشدید والتخفیف داللفظ مذکوره په تشدید اوتخفیف دوارو سره قرات کیدای شي فیعمل بقراءة التخفیف فیما اذا کان آیامها عشرة نوعمل به کولی شی په قرات مخفف سره چه دحیض ایام دبنځی لس وي اولس ورځی تیرشوی اووینه منقطع شوه نوخاوند ورسره جماع کولی شی اگرچه بنځی لامبلی نوي وبقراءة التشدید فیما اذاکان ایامها دون العشرة اوعمل به کولی شی په قرات شدیده سره به هنه صورت کښی چه دبنځی دحیض آیام دلسوورځونه کم وي۰

وعلی هذا قال اصحابنا اوبناء پردی چه حمل شو قرات خفیفه په لسوورځو دحیض باندی اوحمل شوقرات شدیده په کم دلسوورځو باندی زمونږ علماء( احناف) والی اذا انقطع دمُ الحیض لاقلَّ من عشرة ایامٍ لم یُجزوطئ الحائض حتی تغتسِلَ چه هرکله بنده شي وینه دحیض مخکښی دلسوورځونه نوخاوند لره وطئ دحائضی مخکښی دغسل نه جائزنده لان کمال الطهارة یثبتُ بالاغتسال ځکه کمال دطهارت ثابتیږي په غسل سره ولوانقطَعَ دمُها لعشرة ایام جاز وطئُها قبل الغسل اوکه وینه دحائضی پس له لسوورځو بنده شوه نوخاوند لره وطئ دحائضی جائزه ده مخکښی دغسل نه لان مطلق الطهارة ثبت بانقطاع الدم ځکه پدی صورت کښی مطلق طهارة په انقطاع دوینی سره ثابتیږي۰ لواوس پدی دوارو الفاظوباندی چه حتی یَطْهُرَنَ دی اوبل حتی یَطَّهَّرْنَ دی دنوروسئلو تفریعات کیږي ځکه چه دی دوارو کښی فرق دی ولهذا قلنا اووددی وجهی نه چه مطلق طهارت په انقطاع ددم سره ثابتیږي اذا انقطع دمُ الحیض لعشرة ایام فی اخروقت الصلٰوة تلزمها فریضة الوقت که چیرته وینه منقطع شوه پس له لسوورځونه په اخردوخت دمانځه کښی نوپدی بنځی باندی دوخت فریضه لازمه ده ځکه چه دیته حکم دصلوة متوجه شو۰ وان لم یبق من الوقت مقدارمالغتسل فیه اگرکه دوخت نه دومره مقدارباقی نوي چه دا پکښی ولامبی ، ځکه چه دحیض نه په وتوسره داطاهره شوه اوحکم دصلوة ورته متوجه شو ولوانقطع دمُها لاقل من عشرة ایامٍ فی اُخروقت الصلوة اوکه وینه ئی دلسوورځو نه مخکښی منقطع شوه اواخردوخت دمونځ دی ان بقیَ من الوقت مقدار مالغتسِلُ فیه وتحرمُ للصّلٰوة لزمتْها الفریضة که چیرته دومره وخت باقی وي چه بنځه پکښی غسل وکړي اودمونځ لپاره پکښی

Maktaba Tul Ishaat.com

تکبیرتحریمه وکړي نوداوخت پری لازم دی ځکه دابه دحیض نه هله وځی چه ولامبی خکه ددی موده لاپاتی ده اودمودی‌نه مخکښی وینه منقطع شوه ځکه دلته کښی یطهرن دمبالغی صیغه ده نوپکارده چه دلته کښی دومره وخت وي چه داپکښی دغسل تول لوازمات پوره کړي اوبیاغسل وکړي اوبیا دتکبیرتحریمه وخت هم وي چه تکبیرتحریمه پکښی وکړي والا فلا که چیرته دانقطاع ددم نه پس دومره وخت نوه پاتی چه داپکښی غسل وکړي اوتکبیرتحریمه وکړي نوبیا ورباندی فریضه نده لازمه ځکه چه داپاکه نوه چه پاکه نوي ښځی ته حکم دصلوة.ندی متوجه. داخبری ختمی شوی اودامذکوره خبری دزیادت دعلم دطالب لپاره وی چه دطالب علم مظبوط وي، اوس بعضی نوری خبری بیانوي چه په هغوی باندی دلیل نیول ندی پکار اوکه چا نیولی وي هغه دلیل به دلیل نوي لم نذکرطرقاً بیا درته ذکرکوم طریقی من التمسکات الضعیفة دهغوتمسکاتونه چه کمزوري دي ، داددی لپاره چه طالب ته تمسك قوي اوتمسك ضعیف کښی فرق معلوم شی لکه وائی ( الاشیاء تعرف باضدادها ) لیکون ذلك تنبیهاً اوددی لپاره چه دابه دطالب لپاره تنبیه وي علی موضع الخلل فی هذا النوع په هغوموا‌ضعومخللوو پدغه نوع کښی، اوتاته به معلومه شي چه دامخالف پدی باندی دلیل نیسی دادلیل ئی کمزوری دی. منها بعضی دتمسکاتوضعیفه وو نه دادي اَنّ التمسّكَ بمارُوِیَ عن النبی صلی‌اللّٰهُ علیه وسلم انه قاء فلم یتوضأ لاثبات ان القئ غیرناقضٍ ضعیفٌ چه تمسك پدی حدیث باندی چه رسول الله ﷺ قئ وکړو او اودس ئی ونکړو داحدیث مثبت ګرځول ددی خبری لپاره چه قئ ناقض للوضوء ندی داخبره ضعیفه ده، نوکه مذکوره حدیث سړئ ددی لپاره دلیل پیش کوي چه که یوسړي قئ وکړو نواودس ئی نه ماتیږي نودی حدیث نه خودانه معلومیږي خکه کیدائی شی داودس وخت به نوو، اکثره وخت یوسړی قئ وکړي لکن اودس نه کوي، اودس خوسړی هله کوي چه مونځ پری فرض شي، نومعلومیږي چه دقئ دوجهی‌نه یك دم اودس ندی لازم ، همدارنګه یوخل رسول الله مبارك ورو‌کئ اودس مات کړو اویوصحابی ورله داودس اوبه راوړی نورسول الله ﷺ ورته اوفرمائل چه ایا هرکله زه وروکئ اودس ماتوم نوبیابه زه هغه وخت اودس کوم ؟ ، نوداﻻزمه نده چه خامخا به هغه

وخت اودس كولى شى بلكه چه كله دمونځ وخت راشى نواودس به كولى شى ، نوكه يوسړى اودس مات كړي اوهغه مال اودس كوي چه دې په اودس كښى گرځى داخوډيره ښه خبره ده ځكه حديث مبارك دى چه ( الوضوء سلاح المؤمن ) اودس دمؤمن لپاره اسلحه ده نودرسول الله ﷺ پدى حديث باندى عمل كول چه ( انه قاء فلم يتوضا ) چه قئ اودس نه ماتوي دا دليل فاسد دى ځكه چه دقئ نه پس په سړي باندى اودس واجب على الفورندى بلكه اودس په سړي هله لازميږي چه حكم دصلوة ورته متوجه شى، اوبل حديث كښى راځى پيغمبرعليه السلام فرمالى ( من اصابه قئٌ اورعافٌ اومذئٌ فلينصرف وليتوضا وليبنِ على صلوته ) يعنى يوسړئ په مونځ كښى ولاړ وي اوقئ ئى وكړو يادبوسړي دپوزى نه وينه شروع شوه يا ديوسړي نه مذى اووته نودئ به واپس شى او اودس به وكړي اودكوم ځاى نه ئى چه مونځ پرايښى ده دهغه ځاى نه دى مونځ شروع كړي ، كه يوسړي ته دا عارض يوځل پيښ شوى وي نوپكار ده چه دسرنه بيا دوباره مونځ وكړي اوكه خوخه ئى وي نوبناء هم كولى شى ځكه په مونځ كښى دانقل اوحركت ورته جائز دى، نوددى حديث نه معلوميږي چه په قئ سره اودس ماتيږي ، اودايوه بيله اختلافى مسئله ده چه اودس په څه ماتيږي ، نوموالك، شوافع، اوحنابله وائى چه اودس په هغه څيز ماتيږي چه ماخرج من السبيلين وي اوماخرج من غيرالسبيلين اودس نه ماتوي لكه قئ وينه وغيره ، اوماخرج من السبيلين لكه متيازى، منى، ودي، مذي، رياح، قاذورات ٠ وغيره اوزمونږ په نزد باندى خروج دنجاست دبدن نه دا اودس ماتوي خوا هغه دسبيلينونه وي اوكه دغيرسبيلينونه وي اوپدى باندى زمونږدليل دا مذكوره حديث دى چه ( من اصابه قئ اورعاف٠٠٠الخ) نواصل خبره داده چه دهغوى په نزد باندى ماخرج من السبيلين سره اودس ماتيږي اوزمونږ په نزد باندى ( كل نجسٍ خرج من البدن سواءٌ كان من السبيلين اومن غيرالسبيلين ) سره اودس ماتيږي اوهغوى په يوحديث باندى دليل نيسى هغه داچه يوځل رسول الله ﷺ غزاته تللى وو اورسول الله ﷺ به چه چيرته غزا ته لاړو اوچه كله به د اودو كيدو وخت راغئ نورسول الله ﷺ به اوفرمائل ( من يكلؤنا الليلة ) نن به زمونږ څوك څوكئ كوي ، نوصحابه به اوډريدل چه يارسول الله مونږ به څوكئ كوو ، طريقه هم داده

چه خوك په جهاد کښی وي او اوده کیږي نوپکار ده چه چوکیداران مقرر کړي هسی نه چه دوئ ټول اوده وي اودښمن راشي اوټول اووژنی. نوچه کله رسول الله ﷺ اوویل چه خوك به زمونږ څوکیداره کیٔ نویوانصاري اویل مهاجرصحابی پاڅیدل او وویل چه مونږ څوکیداره کوو نورسول الله مبارك اوصحابه ټول اوده شول اوهغه دوه کسان دچوکیداری لپاره پالی شول نوهغوی دواړو خپلوکښی سلااومشوره وکړه چه نیمی شپی پوری به یوڅوکیداره وکړو اونیمی شپی له پس ترسهره پوری به بل څوکیداره وکړو ځکه که دواړه ویښ یو نوکیدای شي اخره شپه کښی دواړو له خوب راشي ، نوهغه یوصحابی اوده شواوهغه بل څوکیداری لپاره پالی شو نوهغه دخان سره اوویل چه راځه نفل مونځ شروع کړه مونځ به هم کیږي اوڅوکیداره به هم وي لکه والی ( هم ثواب اوهم خرما ) ، نودکافرانودطرف نه دیوکافردخپلوالو څخه یوکس دمسلمانالو دلاسه په جنګ کښی قتل شوی وو نوهغه کافرپه ځان بالدی نذرمنلی وو چه هله به اوبه او روټی خورم چه ترڅودهغه په بدل کښی یومسلمان ووژنم نوهغه کافرچه دامسلمان ولیدو چه په مونځ بالدی ولاړدی نودامسلمان لی په نښه کړو اوپه غشي بالدی لی اوویشتو اوهغه صحابی په خپل مونځ بالدی ولاړ هغسی ولاړ وو اووینه لرینه روانه وه چه په بل غشي بالدی لی اوویشتو نوهغه نه ډیره وینه لاړه اودخان سره لی اوویل هسی نه چه زه ددیری وینی دوتوله وجهی نه بی‌هوشه شم اوزما هغه بل ملګری به هم اوده وي اوکافران به راشي اوپه رسول الله ﷺ اوپه صحابه وو به حمله وکړي ، نومجبوراً لی بیا مونځ مات کړو اوملګری لی پاخولو نوهغه چه وکته چه په ملګري لی وینی روالی دي نوورته لی اوویل چه په تاکښی خودوه غشي ننخ دي زه دی په اول ځل ولی نه پاخولم ؟ تاله خودیره وینه تللی ده نوهغه په جواب کښی ورله اوویل چه ما په مونځ کښی یوسورة شروع کړی وو ما نه غوښتل چه هغه سورة په نیمه کښی مات کړم نووینه راله بهیده ماهغه سورة پوره کړو. نوامام شافعی صاحب ددی حدیث نه استدلال کوي چه هغه دی صحابی نه وینه بهیږي اوبیاهم لګیادی مونځ کوي نومعلومیږي چه په وینه ولوبالدی اودس نه ماتیږي. لکن مونږ ورله جواب کوو چه داخودمجذوب الحال صحابی فعل دی چه هغه صحابی په مونځ دومره مین وو اودومره

فناء فی الصلوة وو چه وینه تربنه بهیده اودی دخان له ندی خبر، آیا داخبره رسول الله له رسیدلی ده اوهغه بیاورته بنه کاروبلی دی لکن داسی ندي شوي ، بل داچه داخودصحابی فعل دی بل خواله درسول الله مبارك صریح قول دی ( من اصابه قئ اورعاف ... الخ) نوچه کله درسول الله مبارك دقول اودصحابی دفعل په منځ کښی تعارض راشی نودرسول الله مبارك قول له به ترجیح ورکولی شی ۰ په شوافعو باندی دلته کښی مولږ اعتراض کوو هغه داچه ای شوافعوستاسوپه نزد باندی خوپه مونځ کښی قدرقلیل من النجاست هم ندی معاف چه دسړي په بدن یاجامه باندی لګ غولدی نجاست هم وي لوتاسووایالی چه مونځ ئی له کیږي اوزمولږ په نزد خوکه دسړي په بدن یاجامه درویی له کم لجاست وي نومونځ ئی کیږي نوچه ستاسوپه نزد لګ غولدی پلیتی هم په مونځ کښی ندی معاف نودهغه صحابی په بدن باندی چه وینی راپهیدی اوجامی ئی په وینوکښی لت پت وی نومونځ ئی خنګه وشو اوحال دادی چه ستاسوپه نزد خوکه وینه لګ هم په بدن لګیدلی وي لومونځ له کیږي ؟ لوشوافع جواب کوي چه هغه صحابی مجذوب وو اودوینی ورته پته له لګیده ، نومولږ ورته په جواب کښی وایو( فماهوجوابك عن مثبت الدّم فهوجوابنا عن خروج الدم ) ، اوبل داچه مولږ ورته په مقابله کښی بل حدیث هم پیش کوو چه ( من اصابه القئ اورعاف .. الخ )۰ لان الاثريدل علی ان القئ لایوجب الوضوء فی الحال څکه حدیث خوپدی باندی دلالت کوي چه قئ فی الحال اودس له واجبوي ولاخلاف فیه اوپدی خبره کښی خواختلاف نشته چه قئ فی الحال اودس له واجبوي والما الخلاف فی کوله ناقضاً اواختلاف خوپدی خبره کښی دی چه قئ ناقض للوضوء دی اوکنه ، اومذکوره حدیث له خوداخبره له معلومیږي۰ وکذلك التمسّك بقوله تعالی حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ همدارلګه استدلال کول ضعیف دی پدی قول دالله تعالی باندی چه حرامی دي په تاسو باندی دمردار شي غوښه چه حلال لکړی شی ، الله تبارك وتعالی محرمات بیانوي ﴿ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيحَةُ وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ ... الآية﴾(المائدة، الآية: ۳) نودا آیت دمحرمالو باره کښی دی چه دا دا خیزوله په تاسی حرام دي ، اوس ددی آیت له دا دلیل نیول لاثبات فسادالماء

بموت الذباب ضعيف چه دمچ یادماشی په مړکیدو باندی اوبه پلیتیږي داستدلال ضعیف دی ، نوپښتوکښی وائی ( وهم دی کوم خای اوډب دی کوم خای خیږي ) آیت دمحرماتوباره کښی دی اوترینه داثابتول چه اوبه دمچ په مرگ باندی پلیتیږي لان النصّ یُثبتُ حرمة المیتة څکه آیت ثابتوي حرمت دمیتی، یعنی چه مرداره حرامه ده ولاخلاف فیه اویدی کښی خواختلاف نشته څکه مونږه تول وایو چه کوم حیوان پخپله مړشي نودا مردار دی اومردار به نه خوری صرف دوه مرداری ترینه مستثنی دي ( احلت لنا المیتتان السمك والجراد ) همدارنگه وینه پلیته ده مگردوه وینی تری مستثناء دي ( الکبِدُ والطحالُ ) نوآیت دمحرماتوباره کښی دی نودینه داثابتول چه مچ په اوبوکښی مړ شي نواوبه پلیتی دي آیت کښی خوددی خبری ذکرنشته وانماالخلاف فی فسادالماء خلاف خوزمونږه په فساد داوبوکښی دی چه آیا دمچ په مړکیدوباندی اوبه پلیتیږي اوکنه ، اونص کښی خوددی خبری بلکل ذکرنشته، داخبره منم چه مچ میتته دی اوبه اوبوکښی مړشو نوآیا دا میتته اوبه پلیتی وي اوکنه ؟ زه به درته ډیری میتتی وښایم چه اوبوکښی به مړی وي اواوبه به پلیتی نه وي لکه په سمندر کښی غټ غټ ماهیان ، اوغټ غټ نهنگان ، او نورحیوانات پکښی مري لکن دسمندر اوبه خونه پلیتیږي، نوداسی نوری میتتی هم شته چه اوبه نه پلیتی وي لکه دسمندر اوبه ډیری زیاتی ترخې وي اوچه کله څوك په سمندرکښی سفرکوي نودخان سره دڅکلولپاره خوگی اوبه اوچتی کړي، اوبل داچه په سمندرکښی ډیرزیات ماهیان، نهنگان اونورحیوانات پکښی مړکیږي نودی‌وجهی نه چه دسمندراوبه پاکی دي اوکنه ؟ دپیغمبرعلیه السلام نه عبدالله مدلجی یوصحابی‌دی هغه تپوس وکړو(یارسول الله ان نرکب البحر ونحملُ معنَاالقلیل من الماء فإن توضأنا به عطشنا افنتوضأ بماء البحر فقال له الرسول الله ﷺ الطهور ماءه والحِلّ میتته ) چه یارسول الله کله چه مونږه سمندرکښی سفرکوو دخان سره مو لگی غوندی اوبه اوچتی کړی وي نوکه هغه په اودس کښی استعمالوو نوبیا دلندی نه مړو نومونږه دسمندر په اوبو باندی اودس کولی شو؟ پیغمبرعلیه السلام ورته په جواب کښی اووبل دسمندر اوبه هم پاکی دي اومرداره لی هم پاکه ده ، په سمندرکښی عجیبه حیوانات دي داسی ماهیان هم پکښی شته چه الوخی پوره سیل دیوځای نه بل

خای نه الوحی، اوداسی نور عجیبه عجیبه حیوانات پکښی شته ﴿ فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ اَحۡسَنُ الۡخٰلِقِیۡنَ *﴾سورة المؤمنون، الآیة:۱٤ · نودسمندر مرداره پاکه ده نواوبه ئی هم پاکی دي خکه دسمندر په حیواناتو کښی وینه نوي اووینه دیته وائی چه لمرته ئی کیږدی نوتوره شي اودماهي یادنهنگ یا دبل سمندري حیوان وینه چه لمرته کیږدی نوسپینه شي نوهغه وینه نده ، نودینه هم ثابته شوه چه الله تعالی دحرمت علیکم المیتة الخ آیت ددی لپاره نازل کړو چه دادا څیزونه درباندی حرام دي اوچه خوك ترینه دمچ دمرگ دوجهی نه داوبو دفساد دلیل نیسی داندی صحیح· نودمچ دوجهی نه اوبه نه پلیتیږي څکه پیغمبرعلیه السلام بل حدیث کښی فرمائی ( اذا وقع الذباب فی طعام احدکم فامقلوهُ فإن فی احد جناحیه داءٌ وفی اخری دواءٌ ) کله چه ستاسو په طعام کښی مچ پریوځی نوغوپه ورته ورکړی څکه یو وزر دمچ کښی مرض دی اوپه بل وزرکښی ئی دواء دی ، څکه مچ اول کله چه په یوڅیز کښی پریوځي نواول هغه دمرض واله وزر بنکته کوي نوچه غوپه ورکړی شي نوداء اودواء سره برابر شي اودمرض اثرختم شي· نوددی حدیث نه خودطعام پلیتی نه معلومیږي بلکه حدیث وائی چه هغه شئ کښی چه مچ پریوځي هغه استعمال کړه نوپدی آیت سره دمچ دوجهی نه داوبوفساد ندی ثابت· **وکذلك التمسك بقوله علیه السلام حُتیهِ ثم اقرُصِیهِ ثم اغسلِیهِ بالماء** همدارنگه دلیل نیول په قول درسول الله ﷺ چه منی یادحیض وینه په یوشئ باندی ومښه بیائی نکونوباندی وگروه اوبیائی په اوبوسره اووینځه، داهم یوحدیث دی، په کیړا باندی چه منی یادحیض وینه لگیدلی وي اوهغه اوچه شي نوداپه گرولوسره هم خي چه یوسړئ ئی په کانی، ډکي یاگوتوسره وگروي اوبیائی په اوبوباندی اووینځی نودابه پاکیږي ، نوحدیث پدی کښی دی چه دمنی دلری کولوصورت دادی اوددینه داثابتول چه په سرکه باندی یوشئ نه پاکیږي، داخبره خوصحیح نده څکه که یوسړي په سرکه باندی دمنئ هغه جِرم لری کړو نومقصود خو دتطهیرنه ازالة دنجاست دی نوکه په سرکی سره ازاله دنجاست راغله نوصحیح ده څکه سرکه نرمه وي هغی کښی رقت اوسیلان موجود وي اوهغی کښی غلظت اوسخت والی نوي، لکن که یوشئ کښی غلظت وي په هغه سره ازاله دنجاست نه راځي ، نومقصود ازاله دنجاست وي په هره

Maktaba Tul Ishaat.com

طریقه چه وي نوصحیح ده، که یوسړئ ازاله دنجاست په پټرولو ، یادخاوروپه تیلوسره وکړي نوحکم دلطهیربه پرې مرتب وي لالبات ان الخلّ لایزیل النجسَ ضعیفٌ دینه دادلیل پیش کول چه سرکه پلیت شئ نه لری کوي دا استدلال ضعیف دی لان الخبریقتضی وجوب غسل الدم بالماء خکه حدیث تقاضه کوي چه وینځلی به شي وینه په اوبوسره فیتقیدبحال وجود الدم علی المحل پس داحدیث به مقید وي که چیرې وینه موجوده وي په کپړا باندی ، نوبه کپړا باندی چه کله دحیض وینه موجوده وي ، دحیض وینه جرم یعنی ذات لري اوغټه وي ، یوزی نه هم کله کله وینه بهیږي لکن هغه پوره جسم لري ، نوچه کله وچه شي نواول لی وګره وه اوبیا لی په اوبوچه ووینځی نوهغه سوروالی به لری شي اوازاله دنجاست به راشي. ولاخلاف فیه اویدی کنبی خوخلاف ندی چه سرکه نجاست نه پاکوي ، دپاکوالی داطریقه ده چه دنجاست هغه ذات لری شي وانما الخلاف فی طهارة المحل بعد زوال الدم بالخَلِ زمونږه دامام شافعی صاحب سره خلاف پدی کنبی دی چه که چیرې په سرکی سره دم لری شو نوپلیتی دهغه خای څخه پاکیږي، اوشوافع والی چه نه پاکیږي ، همدارنګه بل حدیث کنبی راځي چه منی لری کړه ( ولوبالاذخر) اګرکه په سرګړي سره ولی نوي، سرګړی دبروزی په شان دی لکن خوشبویه بوئ لري ، نومعلومیږي چه مقصود ازاله دنجاست ده. وکذلك التمسّك بقوله علیه السلام اوهمدارنګه دلیل نیول پدی حدیث باندی فی اربعین شاةً شاةٌ په څلویښتو ګډو کنبی یوګډ دی، تاسوته نصاب معلوم دی چه په پنځو اوښانوباندی کال تیرشي لو یوګډبه په زکاة کنبی ورکوي په لسواوښانوکنبی دوه ګډان دي په پنځلسواوښانوکنبی درې ګډان دي په شلواوښانوکنبی څلورګډان دي په پنځویشت(۲۵) اوښانوکنبی یوښت مخاض دی، همدارنګه په دیرشوغواګانوباندی چه کال تیرشي نوبوسخئ به په زکاة کنبی ورکوي ، همدارنګه په څلویښتوګډانوباندی چه کال تیرشي نویوګډ به په زکاة کنبی ورکوي. نوحدیث خوددی لپاره دی چه په ګډانوکنبی دزکاة نصاب دڅلویښتوڅخه شروع کیږي ، اودینه داثابتول چه په زکاة کنبی قیمت ورکول ناجائز دي داخولرینه نه ثابتیږي ، دشوافعواوحنابلوپه نزد باندی په زکاة کنبی قیمت نشته بلکه همغه شئ به ورکولی شي په کوم شي کنبی چه زکاة

لازم دی، همدارنگه په صدقه دفطرکښې هم دوئ والی چه غنم، اوربشی،اوکجوری ورکولی شي اوقيمت به نشی ورکولی ، لکن دامام ابوحنيفه صاحب نه قربان شم هغه والی‌چه مقصود دزکاة اوصدقی دفطر نه ( سدّخلة الفقير ) دی دفقيرحاجت پوره کول دي، نوبه زکاة کښې قيمت(پيسی) ورکول ډيرانسب دي دعين جنس نه ځکه که له فقيرله به زکاة کښې ګډ ورکئ اوګډه په بازارکښې په زر(۱۰۰۰) روپی خرڅيږي لکن دفقيرنه لی بهاخوك په پنځه سوه(۵۰۰) هم له اخلی نودهغی په ځای فقيرله دهغی ګډی قيمت چه زر(۱۰۰۰) روپی دي هغه ورکړه ، اوبل داچه که فقيرته ګډه ورکړی نوفقيربه بيا دهغی لپاره ګيا راوړي اونورخدمتونه به لی کئ نودلورکاراوبارځخه به پری ولی وي ، اوکه زر(۱۰۰۰)روپی دی ورکړی نوکيدای شي دفقيرنور څه نه ضرورت وي مثلاً دماشومانوجامی لی نه وي يالی په کورکښې څوك بيمار وي دهغه علاج ورباندی وکړي نوسدّدخلت دفقيربه قيمت ورکولوکښې زيات دی دعين شئ نه ، جناب شيخ صاحب فرمالی چه کله مونږ په مدينه منوره کښې وو نوخلقوبه فقيرانوله په صدقة الفطر کښې غنم يااوربشی ورکړی نومونږ ته معلوم وو چه دغنمو يااوربشوسيربه په پنځه(۵) ريال وو لکن کله به چه فقيرهغه غنم يا اوربشی دکاندارله يوړے نودکانداربه بيا دهغه نه په دوه(۲) ريال سيراخشتو، نومعلوميږي چه دامام صاحب مذهب کښې دغريبانولپاره زياته فائده ده. جناب شيخ صاحب فرمالی چه زمونږسره دجرمنی يوملګری وو اوهغه اسلام راوړی وو نوهغه به دامام ابوحنيفه صاحب يوه يوه خبره دځان سره ليکله او ويل به لی چه دامام صاحب مذهب عالمی مذهب دی اوپدی کښې دامت مسلمه لپاره ډيره اسانتيا ده ، ډيرملکونه داسے دي چه هلته به غنم،اوربشی،اوکجوری نه وي هلته به مجبوراً قيمت ورکوے لهذا دامام صاحب دمذهب يوه يوه خبره ليکل پکار دي. لاثبات عدم جواز دفع القيمة ضعيف چه دی نه دا ثابتول چه دشئ قيمت په زکاة کښې ورکول ناجائز دي بلکه عين هغه شئ به ورکوي لکه ګډ وغيره نودا استدلال پری ضعيف دی، لانه يقتضی وجوب شاة ځکه دا حديث تقاضه کوي ددئ خبری چه په څلويښتوګډوکښې يوه ګډه ده ولاخلاف فيه اوپدی خبره کښې چه په څلويښتو ګډو کښې يوه ګډه ده هيڅ اختلاف نشته بيننا وبينه. وانما الخلاف فی سقوط

Maktaba Tul Ishaat.com

الواجب باداء القیمة اوخلاف پدی کنبی دی چه که دعین شئ پرځای مثلاً دګډی پرځای قیمت ورکړی شي نوواجب ساقطیږي اوکنه؟ نوموږ وایو چه واجب پری ساقطیږي اوشوافع اونورمذاهب وائی چه نه ساقطیږي وکذلك التمسك بقوله تعالٰی همدارنګه تمسك نیول پدی قول دالله تعالی واَتِموا الحج والعمرة لِلّٰهِ پوره کئ حج اوعمره دالله تعالی لپاره ، یعنی چه یومسلمان حج اوعمره کوږنوبیا به ئی پوره کوي اومنځ کنبی به ئی نیمګړی نه پریږدي لاثبات وجوب العمرة ابتداءً ضعیفٌ دینه دعمری وجوب ابتداءً ثابتول دااستدلال هم ضعیف دی، آیت پدی کنبی دی که یوسړي عمره شروع کړه اومنځ کنبی نی ماته کړه نوقضاء پری لازمه ده ، که یوسړی نفل نه کوي نوپړی لازم ندي لکن که یوسړي پکنبی شروع وکړه اوبیائی مات کړل نواوس به نفل پوره کوي ځکه اګرچه په ده باندی مخکنبی لازم نوو لیکن چه کله ئی پکنبی شروع وکړه نو﴿ ولاتبطلوا اعمالکم ﴾حکم ورته متوجه شو، نوځکه فقهاء وائی ( لزم النفل بالشروع ) نفل لازمیږي په شروع کولو سره. لان النّص یقتضی وجوب الاتمام ځکه نص تقاضه کوي چه یوشئ شروع شونودهغه اتمام واجب دی. وذلك انما یکون بعدالشروع اودا اتمام به دشروع نه پس راځي، ځکه چه یوسړي په عمره کنبی شروع نوي کړی نوعمره پری ندی لازم اوچه کلهٔ ئی پکنبی شروع وکړه نواتمام نی پری واجب اولازم دی اونیمګړی پرینبودل ئی بیاندي پکار لکه متنبی وائی -

ولاالترکُ للاِحسان خیرٌلِمُحْسِنٍ إذا ترك الإحسان غیرربیبٍ .

یقیناً دأحسان پرینبودل دیواحسان کونکی لپاره ښه دی - کله چه هغه احسان نیمګړی پریږدي . نومطلب داشو چه چا سره احسان کول درباندی فرض ندی لیکن چه شروع دی کړو نونیمګړی ئی مه پریږده. ولاخلاف فیه اوپدی وجوب داتمام کنبی خوهیڅ اختلاف نشته وانما الخلافُ فی وجوبها ابتداءً اوخلاف پدی کنبی دی چه عمره ابتداءً واجبه ده اوکنه؟ اواختلاف اصل پدی کنبی دی چه ځنګه په مالداره سړي باندی حج فرض دی نوعمره هم پری فرض دی اوکنه ؟ نوشوافع وائی چه دواړه پری فرض دي ، اواحناف وائي چه حج فرض دی اوعمره مستحبه ده. اودااِتموا دامعنی ده که یوسړي په عمره کنبـ .

شروع وکړه اوبیائی عمره نیمګړی پریښوده نودئ به عمره پوره کوي بلکه داحنافوپه نزد په ټولونوافلو کښې چه شروع وشوه نودهغوئ اتمام لازم دی، اوشوافع وائی چه که نفل عبادت کښې دی شروع وکړه اوبیادی مات کړو نوبیا دربانډی قضاء اواتسام نشته ځکه نفل تبرع دی اوپه باب دتبرع کښې توسع وي ځکه دی سړي باندی یوشئ لازم نوو اوپه ځان باندی ئی لازم کړو نوخوخه ئی ده که پوره کوي ئی اوکنه، نوکه یوسړي په نفلوکښې شروع وکړه اویورکعات ئی وکړو اوبیائی مات کړو نوشوافع وائی قضاء پری نشته اوزمونږ په نزد به ئی پوره کوي اویا به ئی قضاء راوړي، همدارنګه که یوسړي نفلي روژه اونیوله اوبیا ئی په نیمه کښې وخوړله شوافع وائی چه قضاء وربانډی نشته لکن زمونږ په نزدِ قضاء به ئی راوړي ،امام صاحب رحمة الله علیه ډیرباریك بین دی هغه وائی چه یوځل دی شروع اوکړه نود( لاتبطلوا اعمالکم ) آیت درته متوجه شو، ځکه تاته چا ویلی وو چه نفل شروع کړه چه شروع دی کړو نواوس ئی تمام کړه ، لکه وائی چه -

ع - چرا کاری کند عاقل که باز آید پشیمانی.

**وکذلك التمسُّكُ بقوله علیه السلام** همدارنګه دلیل نیول پدی قول دنبی کریم ﷺ باندی **لاتبیعوا الدرهم بالدرهمین ولاالصاع بالصَّاعَینِ** چه یوه روپی به ددوه روپیوپه مقابله کښې اویوصاع به ددوه صاعوپه مقابله کښې نه خرڅوی، ځکه دا ربا ده ، پیغمبرعلیه السلام بل حدیث کښې فرمائی چه ( الحنطة بالحنطة والشعیر بالشعیر... الخ یداً بیدٍ مثلاً بمثلٍ والفضل الربوا... الخ ) چه داشیږ خیزونه به مثلاً بمثلٍ خرڅوئ اویداً بیدٍ به ئی خرڅوئ اوزیادت به پکښې نه کوئ ځکه زیادت پکښې ربا ده اوربا بیع فاسده ده، لکه قرآن کریم وائی ﴿ وَاَحلَّ اللّٰهُ الْبَیْعَ وَحَرَّمَ الرِّبٰوا ﴾سورة البقرة، الایة:۲۷۵ . الله تعالی بیع حلاله کړیده اوربا ئی حرامه کړیده، نودی حدیث نه دامعلومه شوه چه بیع فاسده به سړی نه کړئ **لاثبات ان البیع الفاسد لایفیدالملك ضعیفٌ** اودی حدیث نه داثابتول چه دبیع فاسدی نه ملك نه ثابتیږي دا استدلال ضعیف دی ځکه دا تری نه معلومیږي. په حدیث کښې خودبیع فاسدی نه منع راغلی چه بیعه فاسده مه کوئ اوکه چا وکړه آیا مِلك پری ثابتیږي اوکنه؟ نودابله خبره ده پدی حدیث کښې خوددی خبری ذکرنشته. **لان النصَّ یقتضی**

Maktaba Tul Ishaat.com

تحریم البیع الفاسد دنص نه دامعلومه شوه چه بیع فاسده حرامه ده، ولاخلاف فیه اوېدی خبره کښې چه بیعه فاسده حرامه ده دی کښې هیڅ اختلاف نشته وانما الخلاف فی ثبوت الملك وعدمه اوخلاف خوېدی خبره کښې دی چه آیا بیع فاسده ملك ثابتوي اوکنه؟ اوهغه ځانته بیله مسئله ده اوهغه ددینه نه ثابتیږي وکذلك التمسّك بقوله علیه السلام همدارنگه دلیل نیول پدی حدیث الاّ لا تصُومُوا فی هذه الایام فانها ایام اکلٍ وشُربٍ وبعالٍ رسول الله مبارك فرمالی چه داخترپه ورځو کښې روژې مه نیسی ځکه داورځې دخوراك اودڅکاك دي اوکه یوواده کړی سړی دخپلی بی‌بی سره جماع کوي نوکولی شي ، نوآیام دتشریق دالله تعالی دضیافت ورځې دي الله تعالی خپلوبنده گانوته میلمستیاورکې، نوکه دیومعمولی سړي میلمستیا قبوله نشي نوخومړه خفه اوغصه لی بیا دالله تعالی میلمستیانه مخ اړول دا خودیرلوی جرم دی، پدی ورځو کښې دقربانئ غوښې ډیری وي اوایام دتشریق ورته ځکه والی چه خلق پدی ورځو کښې دقربانئ غوښې ترشی کې - شَرَّقَ - یُشَرِّقُ - تشریق معنی شکول اوپریکول ۰ اودترشی کولوفائده داده چه غوښه بیانه وچه شي اوخرابیږي نه۰ لاثبات ان النذربصوم یوم النحرلایصحُّ ضعیفٌ اودی حدیث نه دا ثابتول چه نذرپه روژې دیوم النحردا صحیح نده ، داستدلال هم ضعیف دی ځکه هغه خودنوروحدیثونونه معلومیږي اودینه خونه معلومیږي بلکه دینه خودامعلومیږي چه خوره اوڅکه اودالله تعالی میلمستیاقبوله کړه۰ لاالنصّ یقتضی حرمة الفعل نص نه دامعلومه شوه چه داخترپه ورځ روژه نیول ندی پکار یاپدغه ورځ روژه حرامه ده ، اوداخوځانته بله مسئله ده ولاخلاف فی کونه حرامًا دی کښې دچا خلاف هم نشته چه داخترپه ورځ روژه حرامه ده وانما الخلاف فی افادة الاحکام مع کونه حرامًا اوخلاف پدی کښې دی که یوسړي داخترپه ورځ باندی روژه ونیوله اوندرلی کړی وو نوندرلی وشو لکن سخت مجرم دی چه دالله تعالی دمیلمستیا په ورځ لی دندرلپاره مقرره کړی وه لکه پښتانه وانی چه ( نه یو وخت اونه بل وخت راغی دغوبل وخت )۰ ولی دانوری ورځې لگی دي چه دالله تعالی دحکم مخالفت نی وکړو وحرمة الفعل لاتنافی ترتّبِ الاحکام اودیوفعل حرامیدل دامنافی ندي دترتب داحکاموسره، یوشئ به حرام هم وي لکن حکم شرعی به هم پری مرتب وي فان

الاب لواستولد جارية ابنه يكون حرامًا لكه يوپلارچه ام ولده جوړه كړي دخوی دوبنځی نوداحرامه ده، دزوی وینځه دپلارلپاره حرامه ده ځكه هغه دزوی وینځه ده لكن پلار ولګیدو اودزوی دوینځی سره لی جماع وكړه اوددی جماع نه بچی پیداشو نوپه هغی وینځی باندی به احكام دام ولدی جاري كیږي ويثبتُ به الملك للاب اوپدی وینځه باندی دواطی(پلار) ملك ثابت شو، نوپدی صورت كښی دابچی دپلارشو ځكه ( انت ومالك لابيك ) ورته متوجه شو نودهغه ام ولده شوه ولوذبح شاة بسكين مغصوبة يكون حرامًا يوسړي يوګډ په يوه چاړه باندی حلال كړو چه هغه چاړه لی دبل نه په زوره اخشتی وه نوداچاړه حرامه ده ويحِلُّ المذبوح اودامذبوحه(ګډه) دابه حلاله وي نوپدی باندی هم حكم شرعی مرتب شو. ولوغسَلَ الثوبُ النجسَ بماءٍ مغصوبٍ يكون حرامًا همدارنګه دیوسړي جامه پلیته وه اودبل سړي نه لی په زوره اوبه واخشتی اوهغه جامه لی پری ووینځله نودا اوبه حرامی دي ځكه دغصب اوبه دي اومال مغصوبه حرام وي ويطهره الثوب لكن داجامه پدی اوبوسره پاكه شوه نوپدی صورت كښی هم حكم پری ثابت شو. ولووطئ امرأةً في حالة الحيض يكون حرامًا كه يوسړي خپلی بی‌بی سره په حالت دحيض كښی جماع وكړه نوداحرام كاردی ځكه الله تعالی منع فرمائلی ده ﴿ وَيَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْمَحِيْضِ قُلْ هُوَاَذًى فَاعْتَزِلُوا النِّسَآءَ فِى الْمَحِيْضِ وَلَاتَقْرَبُوْهُنَّ حَتّٰى يَطْهُرْنَ...الآية﴾(البقرة الآية ۲۲۲ ) یارسول الله تاته دحيض باره كښی تپوس كوي نوورته اووایه چه دی كښی تكليف دی نوپه حالت دحيض كښی دښځونه جداشئ ، لكن كه يوسړي په حالت دحيض كښی دخپلی ښځی سره جماع وكړه نواحكام به پری مرتب كيږي ويثبتُ به احصان الواطي اوپدی جماع سره محصن والی دواطی ثابتيږي ، لكه يوسړي واده وكړو اوچه كله ښځی سره دده اول ملاقات كيدو نوښځه په حالت دحيض كښی وه اودی سړي ورسره جماع په حالت دحيض كښی وكړه اوهغی نه پس داسړی په زنا كښی اونيولے شو اوځلور ګواهان پری هم تيرشول نوداسړی به په حكم دمحصن كښی وي، اومحصن دښته ښځی خاوندته وائی اوپه شريعت كښی دمحصن زانی لپاره حكم درجم دی ځكه قران مجيد كښی راځی (الشيخ والشيخة إذا زنيا فارجموهما البتة نكالاًمن الله والله عزيزحكيم) دا آيت

Maktaba Tul Ishaat.com

منسوخ التلاوة لکن باقی الحکم دی څکه حضرت عمررضی الله عنه به په ممبرباندی خلقوته وبل چه دا آیت باقی الحکم دی اوزه یریږم چه روستوزمانه کښې به داسی خلق پیداشي چه هغوئ به درجم نه انکارکوي ، نوپدی صورت کښې وطئ حرامه ده لکن حکم شرعی چه احصان دی هغه پرې مرتب شو ویثبتُ للزوج الاول اواثبات دحل وشوزوج اول ته ، لکه مثلاً چه یوسړي ښځه په نکاح باندی واخشته اوهغه ښځه دبل سړي نه په دری(۳) طلاقوسره طلاقه شوی وه اوبیا عدت هم تیرشوی وو لکن کله چه دابل سړي ته واده شوه نوپه حیض کښې وه اودی سړي ورسره په حالت دحیض کښې جماع وکړه اوبیادی دویم سړي طلاقه کړه نواول سړي ته بیاجائزه ده چه دعدت نه روستوئی په نکاح سره واخلی څکه وطئ ورسره شویده اګرچه په حالت دحیض کښې ده نوحکم شرعی پرې مرتب شو.

**فصلٌ فی تقریر حروف المعانی** فصل دی په بیان دتقریردحروف معانی کښې، چونکه په دی حروفوباندی دفقهی ډیری مسئلی مرتب دي نودحروفومعانی وو بحث ئی دلته شروع کړو لکن ډیرمصنفین دا بحث دکتاب په اخرکښې ذکرکوي لکن داصول الشاشی اونورالانوار مصنفینوددی بحث دکتاب په منځ کښې کړیدی. لکه څنګه چه حقیقت اومجاز په فعل اوپه اسم کښې راځی همدارنګه حقیقت اومجاز په حروفوکښې هم راځی اودهغی دوجهی نه دحروفوپه معناګانوباندی فقهی مسئلی مرتبی دي مثلاً یودحروفوځپله معنی ده اوبله ئی مجازی معنی ده نودهغه معنی ګانودتبدیلئ دوجهی نه په فقهی مسئلوباندی هم اثرپریوځي څکه نی دحروفوبحث شروع کړو ، یوحروف مبانی دي لکه - الف - ب - ت - ج - الخ هغوی نه خووړوکي ماشومان هم خبردي ، هغوی نه خوکلمی جوړیږي اودکلمونه اوصولیین بحث نه کوي لکن کلمه چه تری جوړه شی نوبیا هغوی ته حروف معانی وائی لکه زیدٌکالاسد - دلته کښې کاف دتشبیه لپاره راځی، ب دمصاحبت اودالصاق لپاره راځی، عن دمجاوزت لپاره راځی لکه رمیتُ السهم عن القوس ، نوحروفومعانی وو نه ئی بحث شروع کړو اوپدی کښې ئی حروف عاطفه مقدم کړل داڅکه چه فقهی مسائلوکښې دحروف عاطفه وو ډیرلوی ضرورت دی. **الواو للجمع المطلق** واو دمطلق جمع لپاره دی، اودی کښې ترتیب نشته دامام ابوحنیفه صاحب په نزد وقیل ان الشافعی جعله للترتیب اوخوك

وائي چه واو دامام شافعي صاحب په نزد دترتيب لپاره دی، ټول حروف عاطفه په عطف کښې شريك دي لكن منځ كښې يودبل سره فرق لري لكن بعضوكښې به مجرد جمع وي اوبعضوكښې به جمع سره دترتيب وي اوبعضوكښې به جمع دترتيب اوتراخی لپاره وي، لكه جاءزيدٌ وعمرٌو - زيد اوعمرو دواړه راغلي وو تقديم اوتأخيردزيد اودعمرو ترى نه معلوميږي ځكه واو دمطلق جمع لپاره دي ترتيب پكښې نشته كيداى شي دواړه يوځاى راغلي وي كيداى شي يومخكښې اوبل روستووي ، اوچه ويلى شي جاء زيدٌ فعمرٌو - نوپدى صورت كښې - ف - دتعقب لپاره ده زيد مخكښې وو اوعمرو ورپسې وو ، اوچه ويلى شي جاء زيدٌ ثم عمرٌو - نوپدى صورت كښې دا- ثم -دتراخی لپاره دى زيدراغلي وو بياورپسې لګ ساعت پس عمرو راغلي وو، اوعطف دا معنى چه معطوف اومعطوف عليه په دى فعل كښې شريك دي لكه زيداوعمرو په مجيئت كښې شريك دي لكن په اول صورت كښې معلوم ندي چه څنګه راغله، خوراغلي دي ، اودويم صورت كښې دتعقيب لپاره دى چه يومخكښې راغلواوبل ورپسې وو، اوپه دريم صورت كښې دتأخيرلپاره دى چه يومخكښې راغلواوبل ورپسې يوځه ساعت پس راغلو نولګ غوندى فرق پكښې راغلو نورخوټول په عطف كښې سره برابردي· په عربى كښې داكمال دى چه ټكى زياتيږي نومعنى نى هم زياتيږي ( كثرة المبانى تدل على كثرة المعانى ) لكه واو خوځانته ليكلى كيږي لكن كه واو باندى يوټكى كيښودل شي نود- ف - سر ترينه جوړشي نوهغى كښې بيا ترتيب راغلواوپه ثم كښې بيادرى ټكي دي اوهغى كښې بيا تراخی هم راغله، فصم پرى كولوته وائى لكه قرآن مجيد كښې راځى ﴿ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لَا انْفِصَامَ لَهَا···الآية ﴾( البقرة/٢٥٦ ) دانفصام معنى انقطاع اوپه فصم كښې د- ف ذټكى سره يوټكى بل كيښودل شي نوقصم به ترى جوړ شي اوقصم معنى يوشئ دمنځه ريبل اوكه دقصم سره د- ص - پرسر يوټكى كيښودل شي نوقضم به ترى جوړشي اوقضم معنى يوشئ ذجررونه راويستل، لكه شاعر وائى ، به يك نقطه بابوكه يابوشود لگامش بده تاكه قابوشور - بابو خو بابو ته وائى لكن كه -ب- سره يوټكى اضافه شي نويابوبه ترينه جوړشي اويابو مست ټټوته وائى اوهغه بيادنيزى اودواګونه بغيرنه قابوكيږي· امام ابوحنيفه صاحب وائى چه واودمطلق جمعى لپاره دى

لکن امام شافعی صاحب والی چه واو دترتیب اومعیت لپاره دی لکن دنحوی اکثره علماء دامام صاحب سره دي لکه سیبویه چه دنحویانوامام دی همدارنگه ابوعلی نحوي، سیرافی، سهیلی داتول والی چه واو دجمعی لپاره دی ځکه نحویانوپدی اجتماع کړیده چه واودمطلق جمع لپاره دی همدارنگه ابن حاجب چه دکافیه مصنف دی اوشافعی مسلکه هم دی هغه په مختصرالمنتهی کښی والی چه واو دمطلق جمعی لپاره دی ، نوددی وجهی نه دامام صاحب خبره مظبوطه اوقوي شوه ځکه تمام لغوی علماء والی چه واو دمطلق جمع لپاره ده اوهغی کښی ترتیب اومعیت نشته کلمه دمع هم دعطف لپاره راځی اوکلمه دمع کښی معیت دی لکه جاء زیدٌمع عمرٍو لودی کښی معیت دی ځکه دواړه معاً راغلی دي اوپاتی شو واو په واو کښی نه ترتیب شته اونه پکښی معیت شته دی ځکه ابن حاجب نحوي عالم دی اوشافعی مسلکی هم دی هغه والی چه واو دمطلق جمعی لپاره دی هغه والی که دا دمطلق جمعی لپاره نشی بلکه ترتیب هم پکښی راولی نوبیابه دقرآن مجید په آیاتونوکښی تعارض راشي لکه سورت بقرة آیت نمبر۵۸ کښی راځی ﴿ وَادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَّقُولُوا حِطَّةٌ نَّغْفِرْلَكُمْ خَطٰيٰكُمْ ۰۰۰الآیة ﴾(البقرة/ ۵۸) دینه معلومیږي چه داخل شئ دروازی ته سجده کونکی اوبیا دهغی نه پس وایاٸی، که واو دترتیب لپاره شي نوبیا معنی داشوه چه اول دروازی ته داخل شی اوبیا اووایاٸی۰ اوپه سورت الآعراف آیت نمبر۱٦۱ کښی قرآن مجید وانی ﴿ وَقُوْلُوْا حِطَّةٌ وَّادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا نَّغْفِرْلَكُمْ خَطِيْئٰتِكُمْ۰۰۰الآیة ﴾( الاعراف/ ۱٦۱ ) دلته کښی قولوا حطة مخکښی دی او وادخلوا الباب سجدا وروسته دی هلته کښی معلومیده چه اول دروازی ته دننه شی اوبیا اووائی اودلته کښی عکس دی چه اول اووائی اوبیا دروازی ته دننه شی نوکه واو دترتیب لپاره شي نودقرآن په آیاتونو کښی به تکراو راشي اوحال دادی چه قرآن مجید کښی تعارض نشته لکه قرآن کریم کښی راځی ﴿ وَلَوْكَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِاللهِ لَوَجَدُوْا فِيْهِ اخْتِلَافًا كَثِيْرًا ﴾سورة النسآء، الآیة۸۲ ۰ که دا قرآن دالله تعالی نه بغیردبل چاکتاب وے نودی کښی به ډیراختلافات وو ، نومعلومیږي چه واو دجمعی لپاره دی اوددی آیاتونونه مراد دادی چه داخل شی اوپه ژبه داکلمات وایاٸی کوم مخکښی اوکوم روستوله اعتبارنشته، اودا مذکوره دلیل ابن حاجب صاحب پیش کوي

اودا خو داامام شافعی صاحب دکورسری دی داامام ابوحنیفه صاحب تایدکوي ﴿ وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِنْ أَهْلِهَا ﴾سورة یوسف، الآیة۲۶ . لواامام ابوحنیفه صاحب څه معمولی سری لدی بلکه ټول دلغة امامان دده تایدکوي ، نودی وجهی نه داامام صاحب په لزد باندی ترتیب په وینځلو د اعضاؤدوضوء کښی فرض ندی که ترتیب دی پکښی وکړو ډیره ښه ده ورنه اودس دی وشو لکن ترك دستوراغی. وعلی هذا اوجب الترتیب فی باب الوضوء اوبناء پردی باندی امام شافعی صاحب ترتیب واجب کړیدی په باب دوضوء کښی، هغه والی‌چه قرآن مجید کښی راځی ﴿ يَاأَيُّهَاالَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ... الآیة﴾ ( المائدة،/ ٦) دا واو دترتیب لپاره دی او ترتیب په اودس کښی واجب دی، اوموږوایو د آیت نه ترتیب نه معلومیږي بلکه درسول الله ﷺ دفعل نه ترتیب معلومیږي رسول الله چه اودس کړیٔ مرتب لی کړیٔ ، نوموږ ترتیب درسول الله ﷺ دفعل نه ثابتوو نوموږ څکه ترتیب ته مسنون وایو. دصیغی دامرنه ترتیب نه معلومیږي څکه یقیناً صیغه دامردقران دوجوب لپاره ده اوبل داچه دلغة علماء والی چه دا واو دمطلق جمعی لپاره دی. قال علماؤنا زموږ علماء احناف والی اذا قال لامرأته إن کلمتِ زیداً وعمرواً فانت طالِقٌ یوسړي خپلی بی‌بی ته اوویلی که تا دزید اودعمرو سره خبری وکړي نوته به طلاقه نی فکَّلمتْ عمرواً ثم زیداً طُلِقَتْ ښځی اول دعمروسره خبری وکړی اوبیائی دزیدسره خبری وکړی نوښځه طلاقه شوه څکه چه دخاوند مطلب ترتیب نه وو چه که اول دی دزید سره خبری وکړی اوبیا دی دعمرو سره نوته به طلاقه لی بلکه مطلق ددواړو دخبرونه نی منع کړی وه نوپدی صورت کښی ښځه طلاقه شوه ولایشترط فیه معنی الترتیب والمقارنة پدی کښی معنی دترتیب اومعنی دمقارنت شرط نده، که زید سره نی سهارکښی خبری وکړی اودعمرو سره نی ماښام کښی خبری وکړی بیابه هم طلاقه کیږي، دانه چه ددواړو سره معاً خبری وکړی بلکه معیت لپاره خوکلمه دمع راځی لکه جاءزیدمع عمرو ددی مطلب معیت دی څکه دواړه یوځای راغلی وو. ولوقال ان دخلتِ هذه الدار وهذه الدارفانتِ طالِقٌ که یوسړي خپلی ښځی ته اوویلی که ته دی دوه(۲) کورونوته داخله شوی نوته به طلاقه نی فدخلت الثانیة ثم دخلت الاولی طَلِقَتْ

Maktaba Tul Ishaat.com

نواول هغه دویم کورته داخله شوه بیاخه ساعت پس هغه اول کورته داخله شوه نونبځه طلاقه شوه قال محمد اذا دخلتِ الداروانت طالقٌ امام محمدصاحب وائی که سړي خپلی ښځی ته اوویل که ته داخله شې کورته نوته طلاقه ئی تطلق فی الحال همهغه وخت طلاقه شوه ځکه واو دمطلق جمع لپاره دی دتعقیب اوترتیب لپاره خوندی او د وانت طالقٌ خاتنه جمله ده ولواقتضی ذلك ترتیباً که چیرې دغه واو تقاضی دترتیب کولی لترتّب الطلاق به علی الدخول بیاخوبه طلاق په دخول باندی مرتب وو، اوحالانکه دخول ندی راغلی اوطلاق واقع شو نومعلومیږي چه واو دمطلق جمع لپاره دی۰ ویکون ذلك تعلیقاً لاتنجیزاً بیاخوبه داتعلیق شي تنجیزبه نشي، اوحالانکه وانت طالقٌ تنجیزدی ، تنجیزمعنی نغدطلاق ورکول، اوکه داسی ئی اوویل اِن دخلت الدار فانت طالِقٌ نوفاراخی لپاره دتعقیب نوبیا به طلاق ددخول نه پس واقع کیږي نوپدی صورت کښی بیا تعلیق دی اوفی الحال طلاق ندی واقع اوچه کله دخول الی الداروشي نوبیابه دهغی نه پس طلاق واقع کیږي نوپدی طریقی سره د- ف - اود واو فرق هم ظاهرشي وقدیکون الواو للحال اوکله واو په معنی مجازی کښی دحال لپاره هم راځی چه کوم ځای کښی عطف متعذروي، فتجمعُ بین الحال وذی الحال نوبیابه جمع کیدای شي په مابین دحال اوذوالحال کښی ځکه چه زمانه دحال اودعامل د ذی الحال یوه وي لکه جاءنی زیداً راکباً راغی ماته زید پردی حال کښی چه سور وو ، نوزمانه درکوب اودمجیئت یوه وه وحینئذٍتفیدمعنی الشرط اوپدی وخت کښی چه دا واو دحال لپاره راځی بیابه دا فائده کوي معنی دشرط، یعنی پدی کښی به دشرط معنی وي ځکه چه احوال مقیدوي لکه څنګه چه شروط مقیدوي لکه بوسړی ښځی ته اووائی ( انت طالقٌ وانت راکبةٌ ) یعنی ته طلاقه ئی پداسی حال کښی که ته په اس سوره ئی ۰ نودا طلاق مقید دی بحالة الرکوب نوپدی صورت کښی چه واو په معنی دحال وي بیابه پدی صورت کښی معنی دشرط پکښی راشي، نودابنځه به هغه وخت کښی طلاقه کیږي چه کله داپه اس سوره شي۰ مثاله مثال ددی چه واو په معنی دحال شي ماقال فی الماذون هغه دی چه یوسړي عبدماذون ته اوویلی، عبدماذون دیته وائی چه ده ته مولی لخوانه اذن بالتجارت شوی وي اذا قال لعبده اَدِاِلَیّ الفاً وانت حرٌ یوسړي

خپل عبدمأذون ته اوویل ماته زر(۱۰۰۰) روپۍ راکړه پدی حال کښې چه ته ځرئي مطلب دادی ( إِنْ اَدَّيتَ اِلَيَّ الفاً فانت حر ) که تاماته زر(۱۰۰۰) روپۍ راکړی نوبیاپدی حال کښې ته ازاد ئې دلته کښې معنی حالي شوه نو دئ يك دم نه ازاديږي ځکه دلته واو دمطلق جمع لپاره ندی بلکه دلته په معنی دحال سره شو **يكون الاداء شرطاً للحُرية** نواداء کول دزرو روپیو داشرط دی لپاره دحریت نوګویا اداء کول دالف(۱۰۰۰) شرط دی اوحریت دهغه لپاره جزاء دی ، نودلته کښې واو دمطلق جمع لپاره ندی مستعمل ، لکه ځنګه چه حال دذوالحال سره مقارن وي نودلته کښې به هم حريت مقارن وي د اداء د الف وو سره چه کله زر(۱۰۰۰) روپۍ اداء شوی نوحریت به راځي، **وقال محمد في السيرالكبير** امام محمد بن الحسن الشيباني صاحب په خپل كتاب سيركبيركښې ويلي دي، سيركبيرډيرغټ كتاب دی ، دامام محمد يوبل كتاب سيرصغير هم دی **اذا قال الامام للكفارافتحوا الباب وانتم أمنون** کله چه دمسلمانانو امام کافرانوته اووائي چه تاسودروازه پرانځی نوتاسوبه امن کښې يئ، **لايأمنُون بدون الفتح** دوئ په امن کښې ندي بغيردفتح نه ځکه دوانتم امنون جمله حاليه ده اوحال په منزله دَ شرط وي يعنی په امن کښې به هله وي که دروازه موپرانسته اوکه دروازه نی نوه پرانستی بیابه نی بادشاه اولي اوکه دروازه ئی پرانسته بیاهغه کافران ذمیين شول اوذمی ته ځوك ځه نه وائی. **ولوقال للحربيِّ وَأنت اٰمِنٌ** که يوسړي حربی ته اوويلی راكوز شه دقلا نه تاته زه امن درکوم ، حربی هغه کافرته وائی چه هغه دمسلمان سره جنګ کوي. **لايأمنُ بدون النزول** بغيردنزول نه دئ نه په امن کښې کيږي، نودئ به هله په امن کښې وي چه راکوز شي اوکه راکوز نشو په امن کښې ندی **وانما تحملُ الواو على الحال بطريق المجاز** اوحاليت دواو مجازی معنی ده، اوحقيقی معنی دواو جمع ده ، هرکله چه دا مجازي معنی ده **فلابُدمن احتمال اللفظ ذلك** پس ضروري ده چه لفظ دی ددی محتمل وي ، یعنی لفظ دی ددی مجازي معنی محتمل وي **وقيام الدلالة على ثبوته** اوبل قرینه دی هم موجوده وي په ثبوت ددی معنی باندی ځکه مجاز کښې لابدی ده دقرينی نه ځکه چه قرینه نه وي هغه حقيقت دی لکه دسلم العلوم ملا محب الله ... «وعلامة الحقيحة التبادُروالعراء عن القرينة » دحقيقت معنی داده چه

نه ذهن ته نه يك دم ذهن ته راشي اوقرينه به پكښې نوي، اومجازيك دم اوبغيرد قرينې نه ذهن ته نه راځي كمافي قول المولى لعبده اَدِّ الىَّ الفاً وانت حرٌ لكه قول دمولى خپل غلام ته اداء كړه ماله زر(١٠٠٠) روپۍ پداسې حال كښې چه ته حُرلې فإن الحُرية يتحقق حال الاداء كله چه غلام اداء وكړي نوبيابه حريت قايميږي وقامت الدلالة على ذلك اودلالت پدى باندى قائم شولوځكه چه دا اَدِّالفاً دا جمله انشائيه ده او وانتِ حرٌ داجمله خبريه ده نوخبريه به معنى حال كړى نوهله به دواړو كښې عطف صحيح شي فان المولى لايستوجب على عبده مالاً مع قيام الرِّقِ فيه ځكه مولى طلب دوجوب نه كوي په عبدباندى چه په هغه كښې رق هم وي ، مولى هله مطالبه كوي چه هغه غلام ازاد وي نوگويا دويلوسره سم دهغه سري غلام ازاد شو وقدصح التعليق به فحُمِل عليه اوصحيح دى تعليق پدى سره نوحمل كړى شو پدى تعليق باندى ولوقال انتِ طالقٌ وانتِ مريضةٌ اومصلّيةٌ تطلّقُ في الحال كه يوسړي خپلى ښځې ته اوويلى ته طلاقه لې پدى حال كښې چه ته مريضه لې اوته طلاقه لې پدى حال كښې چه ته مونځ كونكې ئې لوېدى صورت كښې يك دم به هغه طلاقيږي، ځكه پدى صورت كښې حاليت لدى موجود ، انتِ طالقٌ انتِ مريضةٌ دا عطف دجملې خبريې دى په جملې خبريې باندى، ځكه انتِ طالقٌ جمله خبريه ده او انتِ مريضةٌ هم جمله خبريه ده ځكه انت مبتداء اوطالقٌ لې خبردى انتِ مبتداء اومريضةٌ لې خبردى اوعطف تقاضه دمغايرت كوى انتِ طالقٌ خانته جمله ده اوانتِ مريضةٌ خانته جمله ده نوپدى صورت كښې تعليق نشته بلكه مطلق جمع ده، لوطلاق همهغه مال واقع شو، ولولوى التعليق صحّتْ نيته فيما بينه وبين الله تعالى اوكه يوسړى والى چه دينه زمامراد تعليق وو اولنجيزنوو چه في الحال طلاق واقع كوم نونيت لې صحيح دى بينه وبين الله نوبيابكښې دليت داراومدار دى نوښځه به هله طلاقيږي كله چه مريضه شي اويا چه په مولخ اودريږي . لان اللفظ وان كان يحتملُ معنى الحال ځكه دا لفظ اگرچه احتمال دمعنى دحال لري الا ان الظاهِرخلافهُ مگرظاهرخلاف دى ددينه ځكه ښځه چه ناجوړه وي هغه خوقابل درحم اواحسان وي نه دطلاقو نودى وجهې نه احتمال ددى نلري، ياچه ښځه مونځ كې هغه خوخوك نه طلاقه لې بلكه خوشحاليږيورباندى لكه قرآن مجيد كښې

راځی ﴿ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ ﴾(الفرقان الآية: ۷٤ ) بزرگان دعا کړی ، خدايه مولږته داسی ببیانی اوبچیان راکی چه هغوی زمونږدسترګوبخوالی وي، حسن بصري صاحب والی چه هغه ښځه دخاوند دسترګوبخوالی وي چه خاوند کورته لاړشي اوښځه لی په نفلوولاړه وي ، یایوخاوند کورله لاړشي اوښځه لی دقرآن مجید تلاوت کے داډیره دخوشحالی خبره ده اوموجب دمحبت ده نه موجب دطلاق ، لکن که بياهم يوسړي والی چه زمامراد داوه چه په مولغ ودرېږي یاښځه مریضه شي نوطلاقه به وي نومابينه وبين الله به دده خبره معتبره وي واذا تأيّد ذلك بقصده لثبت کله چه داخبره دهغه دلقصدسره مؤلده شوه نوبیابه دا ثابتيږي ، اوس يوه بله مسئله ذکرکوي ولوقال خُذ هذه الالف مضاربةً که يوسړي اوويلی بل سړي ته دغه زر(۱۰۰۰) روپی واخله اومضاربت پری کوه ، مضاربت دیته والی چه رب المال يوسړي ته پیسی ورکړي چه پیسی زما اوعمل ستا اوله پری کاراوبارکوه ګټه اولقصان کښی سره شریك يو لودی معملی ته مضاربت والی، اوددی ضرورت خکه وي چه بعضی سړي سره مال ډیروي لکن دلتجارت چل نه ورځی اوبعضی سړي سره پیسی نوي لکن په لجارت کښی ښه ماهروي واعمل بها في البزّ اودکپړی کاراوبارپری کوه ، لوآیا دامضاربت به دکپړی دتجارت سره خاص وي اوکنه؟ دمضاربت دکپړی دکاراوبارسره تعلق نشته نوعلماء والی چه واو دمطلق جمعی لپاره ده نودا دواړه کاره کولی شي نومضاربت مقیدبعمل البزنشونودمضارِب خوخه ده چه څه اخلی اوڅه خرڅوي لايتقيدُالعملُ في البزويكون المضاربة عامةً نوعمل مقیدنشوپه بزکښی اومضاربت عام شو، بعضی سړي په کپړا کښی ماهروي اوبعضی سړي په بل څه کښی ماهروي نوهغه سړی چه په څه کښی ماهروي هغه کاربه کوي لان العمل في البزلايصلِحُ حالا لاخذالالف مضاربةً خکه عمل في البزصلاحيت دحال نه لري له وجهی داخستود زرو روپونه په مضاربت کښی، مونږويلی وو چه واو کله کله مجازاً په معنی دحال هم راځی اوپه معنی دحال موخکه کړو چه دوالحال اوحال هم يوخای وي اومعنی مجازی لی معنی دحال ده اودلته کښی معنی دحال نه صحیح کیږي خکه چه محل دحال صلاحیت نه لري دلته کښی ورله دمضاربت محل نښ چه ستا دا تجارت دی دکپړو په خای کښی وي

Maktaba Tul Ishaat.com

نوکیږی محل دتجارت دي حال ندی، محل خانته وي اوحال خانته وي نومحل صلاحیت دحال نه لري نودلته کښی کلمه دواو دادعطف لپاره ده نودواړو جملوکښی مناسبت هم راغلوځکه دواړه جملی انشائی دي ( خذهذه الالف واعمل بها ) خذ او واعمل دا دواړه امردي او امرلپاره دانشاء راځی نودا دواړه جملی انشائی په یوبل باندی معطوف شوی اومعطوف علیه غیروي دمعطوف نه نومضاربت بیل دی اوعمل فی البزبیل دی نودواړو جملو کښی مغایرت راغی نوجمع پکښی رانغله ، جمع به هله راتلی چه واو مونږ حالیه کړی وای نوپدی صورت کښی تجارت عام شو چه څه کولی شي اوپه څه کښی ماهروي هغه دی کوي **فلایتقیدُصدرالکلام** به صدرد کلام چه **خذهذه الالف** دی هغه مقیدنشوپه تجارت فی البز، بزاز هغه سړی ته وائی چه دکپړو تاجروي **وعلی هذا قال ابوحنیفة** اوبناءپردی باندی امام ابوحنیفة صاحب وائی **اذا قالت لزوجها طلِّقنی ولك الفٌ** یوی ښځی خاوند ته اوویلی ته ماته طلاق راکړه اوزه به زر(۱۰۰۰) روپی درکړم **فطلَّقهَا لایجب له علیها شئٌ** اوهغه سړي طلاق ورکړو نودی سړي لپاره پدی ښځه باندی هیڅ شئ واجب ندی، داسړی ددی ښځی نه دزرو روپو مطالبه نشی کولی **لانّ قولها ولك الفٌ لایقیدحال وجوب الالف علیها** ځکه داد لك الفٌ جمله چه ده دامقیده نده په حال دوجوب دزرو روپو پدی ښځه باندی، دی وجهی نه دامام صاحب په نزد پری زر روپی ندی لازمی اوصاحبین وائی پری لازمی دي هغوئ وائی داخلع شوه اوخلع طلاق بمالٍ ته وائی اوپهٔ خلع کښی مال په ښځه باندی لازم وي **وقولها طلِّقنی مفیدٌبنفسه** اوقول ددی ښځی چه طلقنی داخانته مستقله جمله شوه، اومستقله جمله په خپله معنی باندی دلالت بالذات کوي ، اوچاته محتاجه نوي **فلایترك العملُ** به بدون الدلیل پس مونږ به نه پریږدو عمل پدی سره چه دلیل نوّي موجود **بخلاف قول اِحمِلْ هذا المتاع ولك درهم** په خلاف ددی قول چه یوسړي بل ته اوویلی زما دا پنډ(غونډه) اوچته کړه اوتاته به زه یوه روپی درکوم، نوکه هغه سړي هغه پنډ ترکوره پوری ورسره یوړو نوپه هغه سړي باندی یوه روپی لازمه ده. **لان دلالة الاجارة یمنع العمل بحقیقة اللفظ** ځکه دلالة د اجارې منع کښی عمل په حقیقت دلفظ، دا اجاره شوه اواجاره هغې ته وائی چه هلته کښی مال لازم وي لکه نن سبا عرف کښی هم رواج دی چه یوس...

یومزدورکار ته اووانی دا کار وکړه دومره روپۍ به درکوم که هغه کارنی اجراء کړو نوهغه روپۍ پرې لازمې شوې ځکه اجاره بغیردپیسونه نه وي ، نوپدې صورت کښې قرینه موجوده ده(اجاره) چه مال به ورکوي اوپه اول صورت کښې قرینه نوه موجوده.

**فصلٌ** فصل دی په بیان د- ف - کښې، مصنف کمال کړیدی دهرحرف لپاره نی خانته مستقل فصل راوړیدی ځکه نوئ فصل اونوئ باب تنشیط ددهن راولي ، دهن ددی سره ډیرخوشحالیږي ، اوبل داچه اکثره طالبانْ په مخکښنې درس باندې نه پوهیږي نوچه نوئ فصل راشي نوبیا ورته ښه متوجه شي چه پدې باندې به پوهیږو **الفاء للتعقیب** ف - راځی لپاره دتعقیب ، یعنې دامعطوف به په عقب دمعطوف علیه کښې وي ، عَقِبْ پوندی ته وائی اوپوندہ دسړي په بدن پسې وي، تعقیب معنی یوشئ په چا پسې کول ( جعلُ الشئ عقِب الشئ ) یعنې یوشئ بل شئ پسې لازم کول **مع الوصل** سره دوصل نه ، فصل اوتراخی به پکښې نوي بلکه متصل به وي **ولهذا تستعمِلُ فی الاجزیةِ لما انها تتعقب الشرط** اوددی وجهې نه دا مستعمليږي په جزاء کښې ځکه چه جزاء دشرط نه ورستومتصله اوفوراً راځی لك( اِنْ کانت الشمسُ طالعةً فالنهار موجوْدٌ ) یعنې دلمرختوسره سم ورځ موجوده وي.

اودغی وجهې نه – ف – ته حرف الجزاء هم وائی اوهمدغی وجهې‌نه دغه – ف – عطف دحکم راولي په علت باندې ځکه چه حکم متصل وي دعلت سره لکه یوسړئ وائی ( جاء الشتاءُ فادفا ) ژمې راغئ خان ورته تیارکړه یعنې گرم کوټ، گرمې کپړې وغیره ورته تیار کړه، نوژمې علت دی د ادفأ لپاره. قصه : یوبوډا سړی وو اوښځه نی مړه شوه نوژمې را روان وو نوزامنوته نی اوویلی ( اذا جاء الشتاءُ فأدفئونی فإن الشیخ تقتله الشتاء ) یعنې بچو چه ژمئ راشي نوماگرم کړی ورنه ژمې به موپلارمړ کړي، معنی داچه واده راته وکړئ ځکه ﴿ هُنَّ لِبَاسٌ لَكُمْ وَأَنْتُمْ لِبَاسٌ لَهُنَّ ﴾ نوښځه دسړي جامه ده اوسړئ دښځې جامه ده ، نوبچیانونی ورته بیا واده وکړو ، کله سړی دزیاتی یخنې دوجهې نه هم مړشي، قصه: جناب شیخ صاحب فرمائی یوځل مونږپه افغانستان کښې دغزنی ولایت نه راتلو اوسخت ژمې وو او واوره هم وریده ، په لاره کښې دچې ځکلولپاره دسالار په نوم یوهوټل ته اودریدو دومره یخنې وه چه اودس به موکولو اومخ به مووینځلو نودگیری په ویښتانوکښې به هغه اوبه یخ وگرځیدلی

اوبیابه مو اوخندله، نوموږ په هوټل کښې ناست وو چه یوغټ اومضبوط سړی ئی هوټل ته
رادننه کړو بې هوشه وو اوخبری ئی هم نشوی کولی اویوبوډا پلارئی هم ورسره وو دهغه
نه ماتپوس وکړو چه پدی څه وشول؟ هغه راته په جواب کښې اوویل مونږه دغزنی
دښارڅخه په موټرسیکل راتلواو زما پدی بچی باندی یخه هوا لګیده اودلته چه راورسیدو
نوماورته اوویل چه چئ سکو نوچه اودریدو نودئ دموټرسیکل څخه راپریوتو اوډیری
یخنئ بې‌هوشه کړو ، نوجناب شیخ صاحب فرمائی چه بیاموهغه سړي ته څه ګولی او ګرمی
چئ ورکړی اوګرم موکړو څه ساعت پس واپس ټیك اوصحیح شو اوالله تعالی دمرګ نه بچ
کړو، اوپلارئی ورته وبل څه چه خو نوهغه بچي ئی ورته اوویل چه لګ دی نورهم ګرم شم،
اوپلار ئی ډیرتوکي وو اوبچی ته ئی اوویل چه پاخه والله چه ښځه دی ګرم نه کړي که بل
هیڅ شئ دی هم ګرم کړي، نوماورته اوویل چه بابا ډیره ښه خبره دی وکړه قرآن مجید
هم وائی ﴿ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ﴾ نوهغه بابا راته اوویل چه ملاصاحب ددی څه
معنی دی؟ نوماورته اوویل چه قرآن مجید وائی چه ښځی ستاسوجامی .دي
اوتاسودښځوجامی یئ، نوهغه بابا راته اوویل چه خارشم دقرآن نه څه زبردست حقیقت ئی
ویلی دی اوزوی ته ئی اوویل چه پاخه اوس خودرته ملاصاحب آیت هم اوویلے، بهرحال
کله سړی دیخنی نه مړکیږي، نودشرط اودجزاء په منځ کښې کمال ربط وي نوځکه دغه
ف - عطف دحکم په علت باندی راولي. **قال اصحابنا** زمونږه علماء احناف وائی **اذا قال**
**بعتُ منك هذا العبد بالفٍ فقال الاخرفهوحرٌ** که یوسړي بل ته دا اوویل چه داغلام
مې‌درباندی په زر(۱۰۰۰) روپې خرڅ کړو هغه بل سړي اوویل نوبیا دئ ازاد دی، مطلب
داچه مادرنه واخستواوداخستونه پس ما بیا دئ ازاد کړو، نوپه دوېم سړي باندی زر(۱۰۰۰)
روپئ لازمی دي ځکه ده چه دا ( ف) راوړه لومطلب دادی چه دادغلام ازادول عقب
البیع دی، یوسړي چه یوشئ نوي اخستی نوهغه بهالئی ازادولی ځکه حدیث کښې راځي(
لایعتق فیما لایملك ابن ادم ) دیوسړي چه یوشئ په ملك کښې نوي نوهغه نشی ازادولی نو
ځکه پردي غلامان خوك نشی ازادولی، نوداول سړي قول چه( بعت منك بالف) داغلام
درباندی په زر(۱۰۰۰) روپې خرڅوم دا په منزله دایجاب سره دی اودوېم سړي قول چه (

فهوحرٌ) داد قبول په منزله شو نود ایجاب اودقبول نه پس بیع قایمیږي، نوداداسی شو چه حکماً ئی دا غلام اخشتی دی اوبیائی ازاد کړو. یکون ذلك قبولاً للبیع اقتضاءً نودا قول چه فهوحرٌ دا اقتضاءً قبول دی لپاره دبیع، یعنی اقتضاءً دلته کښی بیع راغله حالانکه دی سړي خوداندي ویلي چه قبلتُ یا اشتریتُ خکه قبول خوهله راځی چه دی اوواٸی اشتریتُ ماواخشتو لکن هغه اوویلی فهوحرٌ نوحریت خوهله ثابتیږي چه یوشی دده په ملك کښی داخل وي نوګویا په اقتضاء داشارة النص سره داثابته شوه چه ( انی اشتریته فهوحرٌ) ماواخشتواودئ دی ازاد وي، اوبل داچه حریت بدون القبول نه متحقق کیږي ویثبت العتق منه عقیب البیع اوثابت شوعتق روستودبیع نه بخلاف مالوقال وهوحرٌ اوهوحرٌ په خلاف ددی خبری چه یوسړی بل ته اوواٸی( بعت منك هذا الغلام بالف درهم ) یعنی دا غلام می درباندی په زر(۱۰۰۰) روپی خرخ کړ ده اوویئی ( وهوحرٌ اوهوحرٌ ) ف - ئی رانه وړه نویدی صورت [illegible]ښی حریت نه ثابتیږي بلکه لا د[illegible] پدی ملګري باندی څه قدر رد هم کې چه هغه خو حُر دی هغه څنګه راباندی خرخوی [illegible]له یکون ردًا للبیع دا د بیع لپاره رد دی واذا قال للخیاط أنظر الی هذا الثوب أیَکفینی قمیصاً یوسړي درزی ته اوویلی چه دی کیږی ته اوګوره دا زما دقمیص لپاره به کافی شي ، خاطَ - یخِیطُ معنی ګنډل، مِخیَط ستنی نه وائی خکه په هغه اله دګنډلوده لکه قرآن مجید کښی راځی ﴿ حَتّٰى يَلِجَ الْجَمَلُ فِىْ سَمِّ الْخِيَاطِ ﴾سورة الاعراف، الآیة:٤٠ ۰ اوخیّاط مبالغه ده په خالط کښی۰ فنظرفقال نعم اودرزی ورته اوکتل او ورته ئی اوویل چه اوکافی کیږي فقال صاحب الثوب فاقطَعهُ نوصاحب دکیږی ورته اوویل چه بیا ئی نودقمیص لپاره پریکړه ، همیشه چه کله درزی دکیږی نه یوشی جوړه وي نوبیری ئی کړي لکه اردو کښی والی ( سو دفعه ناپو یك دفعه کاٹو ) یعنی سل خله یوشی ناپ کړه اوهغی نه پس ئی بیا پریکړه خکه دپریکولو نه پس ئی علاج نوي۰ فقطعه فاذا هولایکفیه نو پریکړه او دهغی نه قمیص نه جوړیدو کان الخیاط ضامناً نوخیاط به دهغی کیږی دتاوان ضامن وي خکه کیږا ئی ورته خرابه کړه لانه انما امره بالقطع عقیب الکفایة خکه هغه ورته دکیږي دپریکولو امرهله کړیوو چه درزی اوویلی چه او دینه قمیص جوړیږي ، دا ف - ئی چه راوړی وه نوداخودوصل اود تعقیب لپاره وه

Maktaba Tul Ishaat.com

گویا دهغه مطلب دادی چه ( إن کفانی قمیصاً فاقطعه ) که دینه زما قمیص جوړیږي نوبیا نی پریکړه نوهغه ورته ویلی وو چه جوړیږي، نومعلومیږي چه درزی ندی نوخبره که قاضی ته لاړه نودکیږی قیمت په درزی لازم دی یا به ورته په بازار کښی دومره کېړا اخلی. بخلاف مالوقال إقطعه او واقطعْهُ په خلاف ددی باندی چه اقطعه اوواقطعه نی ورته اوویلی، یعنی چه - ف - نی نوه راوړی اویا واو نی راوړو . فقطعهُ فانه لایکون الخیاط ضامناً اوکېږه نی پری کړه نوپدی صورت کښی خیاّط بیا ندی ضامن ، ځکه دلته اذن مطلقًا دی اذن مربوط ندی، اوګوری فقهاء خومره دیبوبتکي باریك باریك فرق بیانوي دادفقهاؤ کمال دی. ولوقال بعتُ منك هذا الثوب بعشرة که صاحب دثوب اوویل چه داکېږه می درباندی په لس روپی خرخه کړه فقال المشتری اومشتری اوویل، دا عبارت په اکثره نسخوکښی نشته باید ولیکل شي. فاقطعهُ فَقَطَعَهُ اومشتری ورته اوویل چه پریکړه اوبائع پریکړه ولم یقل شیأ کان البیعُ تامًا اونورڅه نی ورته اونه ویل چه اشتریته یا وغیره نوبیع تامه شوه، ځکه امرالقطع دا دلیل دی په قبول دبیع باندی ، ځکه پدی فاقطعه کښی چه - ف - راوړه ددی معنی ده چه ما واخشته اوزما په حکم نی پریکړه ، نوبیع خومنعقده وي په ایجاب اوقبول سره نوقبول پدی کښی اقتضاءً راغلو اوایجاب پکښی ذکردی چه بعتُ منك الخ دی. ولوقال ان دخلتِ هذه الدار فهذه الدار فانت طالِقٌ یوسړي خپلی ښځی ته اوویلی که ته دی کورته داخله شوی بیاوریسی دی کورته داخله شوی نوته به طلاقه نی، نودا ښځه اول هغه کورته داخله شوه دکوم نه چه اول منع کړی شوی وه اوبیا هغه بل کورته داخله شوه کوم نه چه دویم ځل منع شوی وه نوښځه طلاقه شوه ځکه خاوند - ف - راوړیده او- ف- دتعقیب لپاره وي مطلب داچه اول دی کورته داخله شی اوبیا وریسی دی بل کورته داخله شوی نوطلاقه به وی، لکن که هغی ښځی عکس کاروکړو اول هغه دویم کورته داخله شوه اوبیا هغه اول کورته نوپدی صورت کښی ښځه نه طلاقیږي ځکه دلته کښی - ف - راوړی شویده اوپدی صورت کښی په - ف- باندی عمل ونکړی شو، بعضی ښځی هم ډیری وښیاری وي اوعلم هم ورسره وي نوکه دخاوند دوینا څخه پدی صورت کښی عکس کاروکړي نودطلاق نه به بچ شي، لکه یوځل دامام ابوحنیفه صاحب

رحمة الله عليه په زمانه کښې يوه ښځه په پارسنګ(زينه) باندې خته نوخاوند ورته اوويل که
ښکته شي هم په درې طلاقوسره طلاقه ئې اوکه راکوزيږې هم نوحيرانه وه چه څه وکړي
نوښځه وښياره وه په ځای ولاړه وه اوخبره ډيرو علماؤ ته لاړه اودښځې خپلوانو ترينه
پوښتنه وکړه چه څه چل وکړو لکن علماؤ سره ددې خبرې جواب نوو نوامام صاحب ته
خبره ورسيده اوتپوس ئې ترې وکړو نوامام صاحب ورته اوفرمائل چه دښځې محارم خپلوان
دې ورشي اوپارسنګ(زينه ) دې دغسې راوچته کړي اوپه زمکه دې کيږدي نوښځه به ترې
کوزه شي اوپدې صورت کښې په پارسنګ باندې نه ښکته اونه پورته تګ راځي نوښځه به
دطلاق څخه بچ شي اوکه داسې ونه کړې نوطلاقيږي۰ امام ابوحنيفه صاحب ته الله تعالی
ډيرلوی فقاهت اوپوه ورکړې وه، يوځل ، دامام ابوحنيفه صاحب رحمه الله تعالی په وخت
کښې يوډيرلوی عالم اومحدث وو امام صاحب سره ئې ډيرحسد لرلو اوپه امام صاحب پسې
به ئې بدې خبرې هم کولې، يوه شپه دخپلې ښځې سره په څه خبره وران شو اوښځې
ورسره خبرې نه کولې نوښځې ته ئې اوويلې که تا ما سره نن شپه خبرې ونه کړې نوته به
په درې(۳) طلاقوسره طلاقه ئې نوښځې ورسره خبرې نه کولې اومحدث غريب حيران وو
دمحدث بچيانو هم مورته ډيرې خبرې اوزارئ وکړې چه پلارسره مو خبرې وکړه ورنه
طلاقه به شې نوبيا به خلق خاندي چه پلارئې لوی محدث دی اوپه بوډا توب کښې ئې
ښځه طلاقه کړه لکن مور ئې دبچيانوخبره نه منله ، محدث ډيروملايانوته ورغئ چه څه
وکړې خوچاورته څه حل راونه ويستو، دامام صاحب يوشاګرد ورته اوويل چه ددې خبرې
حل امام بوحنيفه صاحب رحمة الله عليه راونه باسي‌نو بل څوک ئې نشي راويستئ
نودسهارازان ته کم وخت پاتې وو چه امام صاحب ته لاړ اودروازه ئې ورته وټکوله نوامام
صاحب خپل بچې ته اوويل چه ورشه اوګوره څوک دې بې وخته ئې ور اووهلو حاجتمند
به وي نوزوي ئې چه وکتل چه دامام صاحب شاګرد اوهغه محدث ورسره دی نوواپس امام
صاحب ته راغلو اوورته ئې اوويل چه ستاسوشاګرد اوهغه محدث ورسره دی چه تاسوپسې
بدرد واني امام صاحب ورته په خنده راووتو دحال اوداحوال تپوس ئې ترينه اوکړو هغوئ
ورته خپله قصه تيره کړه چه داسې چل شويدی امام صاحب ورته اوويل چه کښيني اننه

Maktaba Tul Ishaat.com

تعالی به خیرکړي، نوامام صاحب دجومات مؤذن راوغوښتو اوورته ئی اوویل چه دنن سهار اذان نیمه ګینټه مخکښی اوکړه، دسهار اذان قبل الوقت دبعضې عالمانوپه نزد جائز دی ددی بحث په احادیثوکښی ذکرشویدی، نوهغه مؤذن اذان نیم ساعت دسهارنه مخکښی وکړو امام صاحب هغه سړي(محدث) ته اوویل چه اوس کورته وردننه شه نوچه کله وردننه شونوښځه خوډیره خوشحاله وه چه اذان خووشو اوفکرنی کاوه چه ددی‌سړي نه خوخلاصه شوی، نوښځي ورته اوویل (الحمدلله الذی اخرجنی من عقدنکاحك) یعنی دخدای جل جلاله ډیر شکردی چه زه نی ستادنکاح نه اوویستم، نومحدث ورته اوویل چه نه ئی وتی خکه ماسره دی خبری وکړی اوشپه لاپاتی ده خکه مؤذن قبل الوقت اذان اوکړو، نومعلومیږي چه امام ابوحنیفه رحمه الله تعالی دمسائلوپه حل کښی ډیرلوئ مهارت درلود.

**فالشرطُ دخولُ الثانیة عقِب دخول الاولی متصلاً به** نوشرط دئ دخول دویم کورته پس داول کورنه متصل، یعنی چه په ترتیب سره اومتصله داخله شوه نودابه طلاقه وي. **حتی لودخلت الثانیة اولاً اواٰخِرًا لکنه بعدمدة لایقع الطلاق** که اول خل دویم کورته داخله شوه اواول کورته په دویم خل داخله شوه یا عکس ددی سره داخله شوه لکن په دویم خل چه کوم کورته ورداخلیده متصله ورداخله نشوه بلکه څه مده پس ورداخله شوه نودابنځه به نه طلاقیږي، خکه – ف – کښی دوه خبری دي یوتعقب دی اوبل وصل دی، نوچه دواړه موجود شي بیابه طلاق واقع کیږي اوکه یونوي نوطلاق نه واقع کیږي.

(**وقدیکون الفاءُ لبیان العلة** کله ناکله – ف – راځی لپاره دبیان دعلت ، یعنی اصل په – ف – کښی خوداده چه دا به په حکم باندی داخلیږي ، حکم ورسره ډیرمناسب دی خکه چه حکم معلول وي اومعلول مؤخروي دعلت نه، لکن کله ناکله بالعکس شي دا – ف – په علت باندی داخله وي نودغی – ف – ته بیا – ف – تعلیلیه وائی ، – ف – جزایه ورته نه والی خکه جزاء مؤخره وي دشرط نه ، اوچه – ف – په علت باندی داخله شوه نوعلت مقدم وي دحکم نه، پکار ده چه – ف – په هغه ځیزداخله شي چه هغه مؤخروي، نوچه په علت باندی داخله شي نوګویا دا – ف– په خپله معنی کښی ندی مستعمله اوپه بله معنی باندی مستعمله شوه. **مثاله** نوچه – ف – په علت باندی داخله شي دهغی مثال داسی

دی۰ **اذاقال لعبده اِدِّ الیّ الفاً فانت حرٌّ** که یوسړي خپل غلام ته اوویل چه ماته زر(۱۰۰۰) روپی راکړه نوته ازاد یئ، نودغه - ف - نی داخله کړه په علت باندی ، دا انت حرٌ علت دی یعنی ماته زر روپی راکړه ځکه چه ته ازاد یئ ، مولی ورته وانی چه اوس کومی پیسی ستاپه لاس کنبی دي دا ستادي(ستاپه مِلك کنبی دي) نواوس ماته روپی راکړه، غلام چه کله غلام وو نودهغه مال هم دمولی وو ځکه ( العبد وما فی یده لمولاه ) نودغلام پیسی خو دي دمولی نوغلام ته دا ویل چه ماته پیسی راکه ددی دامعنی شوه چه سړی خپل جیب نه وائی چه جیبه پیسی راکه نودخپل خان نه خوسړی پیسی نشی غوښتی، بل دا چه عبد ټول دمولی دی نودهغه مال خو خود هم دمولی دی نودخپل غلام نه پیسی غوښتل داسی دي لکه دخپل خان یا خپل جیب نه پیسی غوښتل، نومعلومیږي چه دئ ددی غلام نه پیسی غواړي نودا غلام نی ازاد کړیدی ځکه چه حُر دخپل مال پخپله مالك وي اودهغه نه بیا پیسی هم غوښتلی شي اودعبدنه خپل مالك پیسی نشی غوښتلی ځکه دهغه مال ددی سړي خپل مال دی نوبیا دغلام نه دهغه لپاره دپیسومطالبه درسته نده۰ **کان العبدُ حرًّا فی الحال وان لم یؤدّ شیئاً** نودا غلام فی الحال ازاد شوددی کلمی دوجهی نه اګرکه هیڅ شئ ئی نوي ورکړی، اوپدی صورت کنبی هغه - ف - دخپلی معنی نه اووته او - ف - تعلیلیه شوله ، ف - خوددی لپاره راتله چه دابه په حکم داخلیده اوحکم مؤخروي، نوکه چیرته دلته مونږه دا اووایوچه پدی غلام باندی زر(۱۰۰۰) روپی لازمی دي نوبیا دلته کنبی - ف - تعلیلیه شوله بیا خودامعنی ده چه ( اِن ادیتَ الیّ الفاً فانت حرٌ ) اوحالانکه داکلام خوندی، که تعلیق وي نوبیاصحیح ده جزاء ده ( اِن اَدّیتَ الیّ الفًا فانت حرٌ ) که تا ماته زر روپی راکړی نوته به ازاد ئی ، نوبیاپه هغه صورت کنبی دا انت حرٌ حکم شو او اِدّالیّ دهغی لپاره شرط شو اوشرط مقدم وي لکه ( اِنْ کانتِ الشمسُ طالِعةً فالنهارُ موجودةً ) نوکه ان اَدّیتَ الیّ الفًا داشرط کړی نوبیا منم چه فانت حرٌ کنبی دا - ف - جزایه ده، لکن تاسوهم منی چه په فانت حرٌ کنبی دا - ف - تعلیلیه ده نودی صورت کنبی غلام ازاد دی، پیسی ورکنے اوکه نه ئی ورکنے ، ځکه چه - ف - پخپله معنی کنبی ندی مستعمله۰ **ولوقال للحربیِ اَنزِل فانت آمِنٌ** که یوسړي حربی کافرته اوویل چه نازل شه ځکه چه ته به امن

Maktaba Tul Ishaat.com

کنبي يئ ،حربی هغه کافرته وائی چه په دارحرب کنبی وي ، حربی ورته خکه وائی چه دئ دمسلمان سره جنگ ته هرمال تياروي کان امِناً وان لم ينزل نودئ په امن کنبی شواگرکه هغه رانشی ، خکه چه دلته کنبی – ف – تعليليه شوه او – ف – تعقيبه نشوه ، يعنی ته په امن کنبی نی نوپدی صورت کنبی که هغه نازل هم نشی نوهغه په امن کنبی‌دی **ولی الجامع اذا قال امرُ امرأتی بيدك فطلِّقهَا** اودامسئله په جامع صغيرکنبی ذکرشويده که يوسري بل سري ته اوويلی چه زما دبنځی مسئله ستاپه لاس کنبی ده اوهغی ته طلاق ورکړه، يعنی تاته مااختياردرکړيدی اوته زما دطرف نه وکيل يئ **فطلّقها فی المجلس** هغه سړي په هغه مجلس کنبی طلاق ورکړو **طُلِّقتْ تطليقةً بائنةً** نوهغه بنځه طلاقه شوه په طلاق بائن سره ، خکه امرامرأتی بيدك دا کلام کنائی دی، اوکنائی کلام سره چه کوم طلاق واقع کيږي هغه طلاق بائن وي، اودا مابعد چه فطلِّقها دی دا معلول دی علت ندی۰ **ولايكون الثانی توكيلاً بطلاق غيرالاوّل** اودا دويم تکی چه (فطلقها) دا توکيل ندی بلکه ( امرُ امرأی بيدك)داتوکيل شو، يعنی مخکنئ خبره مراد ده۰ **فصاركانّهُ قال طلِّقها بسبب اَنّ امرها بيدك** گويا عبارت داسی شو چه ده ويلی وي چه زمابنځه طلاقه کړه په هغه سبب سره چه دهغه امرستاپه لاس کنبی دی ، ( وانَّ امرها بيدك ) دا کلام کنائی دی اوکلام کنائی سره طلاق بائن واقع کيږي۰ **ولوقال طلّقها فجعلتُ امرها بيدك** اوکه دائی ورته اوويل چه زما بنځه طلاقه کړه اوددی امرمی ستاپه لاس کنبی وگرځولو، په فجعلتُ کنبی تأئيد دسابق دی، نوپدی صورت کنبی دواړو کنبی فرق دی، ( ف ) راځی لپاره دتعقيب مع الوصل ، نوددی معنی داشوه چه طلاق ورکړه خکه چه ما گرځولی دی امر ددی ستاپه لاس کنبی **فطلّقها فی المجلس طلقت لتطليقةً رجعيّةً** اوهغه وکيل ورته په هغه مجلس کنبی طلاق ورکړو نوبنځه طلاقه شوه په طلاق رجعی وو سره، خکه چه دا فجعلتُ امرها تأئيد لسابق دی، اوچه کله دا تاليدلسابق شونوبه طلاق کنبی چه کله ط – ل – ق – راشی نوهغه طلاق رجعی وي ، اوبه کوم کنبی چه ط – ل – ق نوي لکه انتِ بتةٌ ، انتِ بتلةٌ ، انتِ حرامٌ عليّ ، انتِ کظهرامی داتول طلاق بائن دي ، اوپه طلاق رجعی اوطلاقِ بائن کنبی فرق دادی چه طلاق رجعی وو کنبی سړی په عدت کنبی دننه رجوع کوي نوکول .

طلاق بائنوکښې به تجدید دنکاح کولی شي بیابه ورته ښځه روا کیږي. نوهغه مخکښې کلام چه ( امرُامرأتی بیدك فطلِّقها الخ) وو هغه بیل وو اوداکلام چه ( طلقها فجعلتُ امرها بیدك الخ ) دابیل دی. ولوقال طلِّقهَا وجعلتُ امرهَا بیدك اوکه زوج یوسړي ته دا اوویل چه زما ښځه طلاقه کړه اوما ددی امرستاپه لاس کښې ګرځولی دی وطلقها فی المجلس طُلقتْ تطلیقتین اوهغه ئی طلاقه کړه په هغه مجلس کښې نوبیا دوه طلاق واقع شو، ځکه طلِّقهَا نه ورستو واو راغلی دی‌او واو دجمع لپاره راځی نودوه خبری شوی، یوه داچه طلاق ورکړه اوبله داچه ماددی امرستاپه لاسو کښې ګرځولی دی. نوداسړی دواړه کولی شی ، نوچه دواړه کاره وشو نودوه طلاق واقع شو. وکذلك لوقال طلِّقهَا وأبِنْهَا همدارنګه که یوسړي بل ته اوویل چه زما ښځې ته طلاق هم ورکړه اوجدا ئی هم کړه وأبِنْهَا وطلِّقهَا اوبائی ورته دمخکښې جملې عکس اوویل چه زما ښځه جدا هم کړه اوطلاق ورته هم ورکړه ، نود واو دوجهې نه دواړه جمع شول. فطلقهَا فی المجلس وقعتْ تطلیقتان نوپه هغه مجلس کښې ئی ورته طلاق ورکړو نودوه طلاق واقع شو، ځکه دلته کښې واو راغلی دی او واو دمطلق جمع لپاره راځی پدی صورت کښې‌هم دوه طلاق واقع شو. وعلی هذا اوبناء پردی باندی چه – ف – راځی دتعقیب مع الوصل لپاره، اوکله ناکله مجازی معنی ئی په علت باندی داخلیدل دي نوهغې ته بیا – ف– تعلیلیه وائی قال اصحابُنا اذا أُعتِقَتِ الامةُ المنکوحةُ زمونږه علماء احناف وائی کله چه ازاده شوه یوه وینځه چه منکوحه وي، یعنی دیوسړي وینځه وه اوبل سړي ته ئی په نکاح ورکړه اوبیاخه وخت پس مولی هغه وینځه ازاده کړه نواوس ددی وینځې خوښه ده چه ددی مخکښې خاوندسره پاتې کیږي اوکنه؟ ثَبَتَ لها الخیارسواءٌ کان زوجُها عبداً اوحرّاً نودی وینځې لره اختیارثابت دی برابره خبره ده چه خاوند ئی عبد وي اوکه حُروي، ځکه دی ښځې ته خیارعتق ثابت شو. لان قوله علیه السلام لبریرة حین أُعتِقَتْ ملکتِ بضعكِ ځکه قول دنبی کریم ﷺ بریری ته هرکله چه هغه ازاده کړےشوه نوته دخپلې بضعی خپله مالکه شوی، بریرة یوه وینځه وه او ام المؤمنین حضرت عایشي رضی الله عنها واخشته اوبیائی ازاده کړه، اودهغې دخاوند نوم وو مغیث هغه هم غلام وو، اوهغه هم ازاد شو نورسول الله مبارك بریری ته اوفرمائل چه ته هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

مخکنی خاوندسره پاتی کیدل غواړی اوکه ترینه بیلیدل غواړی ؟ نوهغی ورته اوویل چه زه ترینه بیلیږم ، نومغیث پری مین وو هغه غوښتل چه ښځه دی ورسره پاتی شی، لکن بریری ترینه انکارکولو ، نومغیث به دمدینی منوری په کوڅوکښی ګرځیدو اوپه ښځه پسی به ئی ژړل، نورسول الله مبارك ئی سفارش وکړو اوبریری ته ئی اوویل چه خپل خاوند سره پاتی شه! نوهغی ورته اوویل چه یارسول الله که امرکوي نوبیا ئی په سرسترګو منم، خکه درسول الله ﷺ په امرکښی به لیت اولعل نشی کیدای لکه قرآن مجید کښی راځی﴿ وَمَاكَانَ لِمُؤمِنٍ وَّلاَمُؤمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللهُ وَرَسُوْلُهُ اَمْرًا اَن يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ اَمْرِهِمْ ﴾( الاحزاب /٣٦) یعنی چه خدای جل جلاله اورسول الله ﷺ کله امروکړي نوبیا به مسلمان په هغه کښی لیت اولعل نه کوي اومنی به ئی۰ نورسول الله مبارك بریری ته اوویل چه امرندی بلکه سفارش دی نوهغی ورته اوویل چه امرنوي نوبیا ورسره یارسول الله -زه نه پاتی کیږم۰ نودی حدیث نه خیارعتق ثابت شو۰ فاختاری پس ستااختیاردی چه مخکنی خاوند سره پاتی کیږي اوکنه؟ نوخبره په فاختاری کښی ده، دلته کښی - ف - په اختیارباندی داخله شویده، نوبریری ته اختیارثابت دی په سبب دملك دبضعی سره، نودغه مِلك بضعی علت دی دثبوت دخیارلپاره، چه ته دمخکنی خاوندسره پاتی کیږی هم دی خوخه ده اوکه نه پاتی کیږی نوهم دی خوخه ده۰ اثبت الخیارلها بسبب ملکها بُضعها بالعتق نورسول الله مبارك هغی ته خیارثابت کړو خکه هغه دځپلی بضعی په خپله مالکه شوه دعتق دوجهی نه، وبنخه دمولی په ملك کښی وي مولی ئی چه چاته حواله کې حواله کولی ئی شي، اوچه کله ازاده شی نوبیا دخپل خان پخپله مالکه ده، ازاد سړیٔ دخپل خان پخپله مالك وي۰ وهذا المعنی لایتفاوت بین کون الزوج عبداً اوحرًا هرکله چه هغی ته دخپل بدن مِلك ثابت شونوبرابره خبره ده چه خاوندنی عبد وي اوکه حُروي، نوکه دبوی وینځی خاوند حُرولی نوي لکن چه کله مولی ازاده کړه ددی خوخه ده چه مخکنی خاوند سره پاتی کیږي اوکنه. خاوندلره ئی اعتبارنشته بلکه دی وینځی ته بالذات اختیارحاصل دی۰ ویتفرع منه مسألة اعتبارالطلاق بالنساء اوددینه راووته مسئله داعتباردطلاقوپه نساؤ باندی ، که ښځه حره وه نو دری طلاقه به ورکیږ اوکه امة وه نودوه طلاقه به ورکولی شي خاوندچه هرڅنګه

وي هغه لره اعتبارنشته، نوداراومدار دطلاقوپه ښځه باندی دی زمونږپه نزد اوداامام شافعی صاحب په نزد سړی معتبردی. **فان بُضع الامة المنكوحة ملك الزوج** خکه بضعه دامی چه منکوحه وي داملك دزوج دی. **ولم يزل عن ملكه بعتقها** اونه زائله کیږي بضعه ددی وینځی دملك دزوج نه په عتق ددی وینځی سره. **فدعتِ الضرورة الى القول بازدياد الملك بعتقها حتى يثبت له الملك في الزيادة ويكون ذلك سببًا لثبوت الخيار لها وازديادُ مِلكِ البُضع بعتقها معنى مَسْألةِ اعتبارِ الطلاق بالنساء فيُدار حكم مالكيّةِ الثلاث على عتق الزوجة دون عتقِ الزوج كماهو مذهبُ الشافعي.** پس ضرورت ددی تقاضه کوي چه دَ وینځے په ازادیدو مزید ملك راغے اوخاوند ته هم دغه مزید ملك حاصل شو خکه چه دَعتق دوینځی په وجه دخاوند ملك دَبضعے ندی زایله شوی ورنه که په عتق دَوینځے ملك دزوج زائله شوی وے نوبیا به تجدید دنکاح ته ضرورت وو، نوچه دَحریّت دوجی نه ملك دبضعی کښی زیادت راغی نواوس دَوینځی دضررلری کولو په خاطروینځی ته خیارعتق ثابت شو، ددی خوخه ده چه خاوند سره پاتی کیږي اوکه جداکیږي، دغه عتق سبب شودخیارلره اوددغے زیادت دَملكِ بضعی له وجهی نه دامعلومه شوه چه دَطلاقوداروممدار په ښځو دی که ښځه حره وي نوپه دری(۳) طلاقو به مغلظه کیږي اوکه امة وي نوپه دو(۲)طلاقو مغلظه کیږي اوداحدیث ددی تانیدکوي ( طلاق الأمة ثنتان وعدتها حيضتان ) ، اودارمداردطلاقو به په سړو نوي لکه دامذهب دامام شافعی صاحب دی. دبریری ددی حدیث دوجهی نه مونږته په اسلام کښی دری خبری معلومی شوی: یوه داچه بریری ته مالکانو اوویل چه مونږ دی خرخوو لکن ولایت دعتق به دی زمونږه وي یعنی که ته مړه شوی نومیراث به دی زمونږه وي ، نوبریرة راغله او ام المؤمنین حضرت عائشی ته ئی اوویلی چه ماته مالکان دغسی وائی نوحضرت عائشی رضی الله عنها رسول الله مبارك ته اوویل نوبیا رسول الله ﷺ په ممبرباندی تقریروکړو چه چاغلام یا وینځه ازاده کړه نوهغه ئی بیامولی دعتق دی، اوکه وینځه یاغلام مړشو اونوروارثان ئی نوو نودغه معتِق به ئی میراث وړي نورسول الله ﷺ دخلقوخبری رَدّ کړی، نوچه چاازاده کړه هغه ئی مولی دعتاقت دی. دویمه مسئله دا چه په تبدل دمِلك سره تبدل دحکم راځی لکه بریری ته چا دصدقی غوخه وړکړی وه اویه

یوه کتھوی کښې نی په اورباندی کړی وه چه پیغمبرعلیه السلام کورته راغی نوهغه نی اولیده چه غوخه پکښې ایشیري، بیاچه کله دروتی وخت راغی نورسول الله مبارك ته نی چه پخکړی( لنده بل) یورو نوهغه کښی غوخه نه وه نوهغه مبارك ورته اوویل چه ولی په کتھوی کښی خوغوخه پخیده هغه څه شوه؟ نوام المؤمنین ورته اوویل چه هغه خو دبریری وه اوبریری ته چا صدقه ورکړیده اوتاسوخوصدقه نه خوری، پیغمبران صدقه نه خوري نوپیغمبرعلیه السلام اوویل چه دا خو دبریری لپاره صدقه وه نوهرکله چه دغه غوخه په ملك دبریری کښې داخله شوه اوس دهغی خوخه ده چه هرچاته نی ورکئ، اوهدیه خوري، نودهغی لپاره خوصدقه وه لکن زما لپاره خوهدیه ده اوهدیه زما لپاره جائزه ده، نوپه تبدل دملك سره تبدل دحکم راغی. دریمه مسئله دا ترینه ثابته شوه چه یوه وینځه ازاده شي نوهغی ته بیا اختیاردی چه مخکښی خاوند سره پاتی کیږي اوکنه برابره خبره ده چه خاوند نی حُروي اوکه عبدوي خکه چه دحریت دوجهی نه پدی کښی طاقت پیداشو، مخکښی داپه دوه غونوتړلی وه اوس نی طاقت زیات شو نوپه دری غوتوبه تړل کیږي، نودا مسئله هم ترینه ثابته شوه.

فصل ثم لتراخی فصل دی په بیان ددی خبره کښی چه ثم دتراخی لپاره راځی، ثم دتعقیب مع التراخی لپاره راځی، ف - کښی هم تعقیب شته لکن وصل ورسره موجود دی، اوکلمه دمع دقران لپاره راځی، بعضی کتابونوکښی کلمه دمع دثم نه مخکښی ذکرکوي. لکنه عندابی حنیفة یفیدالتراخی فی اللفظ والحکم لکن ثم داامام صاحب په نزد باندی تراخی په لفظ اوحکم دواړو کښی غواړي وعندهما یفیدالتراخی فی الحکم (عملاً بالظاهرلان ظاهراللفظ متصلٌ ) اوصاحبین وائی چه ثم تراخی په حکم کښی راولي . امام صاحب وائی چه هرکله ثم دتراخی لپاره راځی نوتراخی دمعنی دلالت کوي په تراخی دلفظ باندی اگرچه لفظ کښی تراخی نشته لکه یوطالب وائی چه ( جاء زیدٌثم عمرٌو ) نودلته کښی دثم مابعد لفظ دثم دماقبل لفظ سره متصل راغلی دی نودا داسی شوه چه لکه یوسړي داسی اوویل ( جاء زیدٌ ...(وقفه) ثم عمرٌو ) نواگرچه په لفظ کښی تراخی نشته لکن تراخی دمعنی په تراخی دلفظ باندی دلالت وکړو لکه ثلاثة چه په کلام دعربوکښی

مونږ غیرمنصرف ومندو اوپه دی لفظ دثلاثه کښی ماسوا دوصف نه بل څه نووموجود، اووصف خوداسی سبب ندی چه ددوو سببونوپرځای اودریږي نومونږه دپوره تفتیش(کتنی) نه پس اوکتل چه معنی نی مکرره ده ، دثلاثه معنی ده دری(۳) دری(۳) اودا دثلاثةٌ ثلاثةٌ نه معدول دی ، نوتکرار دمعنی دلالت اوکړو په تکرار دلفظ باندی ، نوامام صاحب وائی چه دلته کښی هم تراخي دمعنی په تراخي دلفظ دلالت کوي، اوبل داچه امام صاحب وائی چه تراخي نی کامله دیته وائی چه تراخي په لفظ اومعنی دواړو کښی وي٠ اوصاحبین وائی چه په لفظ کښی خوکلام بلکل متصل دی بلکه په معنی کښی تراخي راغلی ده یعنی لفظ خونی زمونږپه ژبه باندی متصل راځی لکه یوطالب وائی ( جاء زیدٌ ثم عمرٌو) په لفظ کښی خوهیڅ تراخي نشته بلکه په معنی کښی ئی تراخي شته٠ تلفظ کښی ډیرلوی فرق وي لکه یونوکرچاسره کارکاوه اوډیرتکړه وو ، نوبل سړي ورته اوویل چه ده سره کارکئ اوتوله ورځ کښی درته صرف سهارروټی درکوي اوبیا دی په کارکولو مړ کړي اوبیا صرف درته ماخستن روټی درکوي، راځه زما سره کارکوه سبابیګا، سبابیګا به درله روټی درکوم نوهغه نوکرهغه سړي سره کارپرینښودو اوهغه بل سړي سره ئی نوکری اونیوله نوهغه هم ورته صرف سهاراوماخستن ډوډی ورکوله نو نوکرورته اوویل چه تاخوماته دډوډئ.دزیاتولو ویلی وو نوهغه مالك ورته اوویل چه مادرته ویلی وو چه سبابیګا سبابیګا به ډوډی درکوم اودا دی په خپل قول وفاداریم او سهاراوماخستن درته ډوډی درکوم ، نودادی صرف دتلفظ دبدلیدو دوجهی نه نی ورته دوکه ورکړه ٠ نودتلفظ دوجهی نه په کلام کښی پوره فرق راځی لکه پښتوکښی وائی چه ( کینه مه٠٠٠(وقفه) پاځه ) او( کینه - مه پاځه) دادواړه جملی په لیکلوکښی یوشان دي لکن په تلفظ کښی دوقف دوجهی نه پکښی پوره فرق راغلو اودلفظ نه ئی فرق معلومیږي٠ همدارنګه یوځل دیوی جلسی پوستر لګیدلی وو اوپری لیکلی وو چه (مستورات کیلیے خاص انتظام ہوگا ) یعنی که زنانه هم راځی نوورته دخاص ځای پروګرام شوېدی٠ نوچرسیان تیریدل په نشه کښی وواوپوسترته ئی نظرشو نوخپلوکښی نی اوویل چه داخو مزی دي پدی پوسترکښی خولیکلی دي چه ( مستو٠٠٠ (وقفه) رات کیلیے خاص انتظام ہوگا ) هغوی په نشه کښی مست وو نوهغوی تری (مستو )بیل کړو او (رات) ئی بیل

Maktaba Tul Ishaat.com

کړو نودتلفظ دوجهی نه پوره فرق راخی. نوځکه پکښی امام صاحب اوصاحبین اختلاف کوي ځکه چه پدی کښی پوره فرق راخي. وبیان فیما اوبیان په اختلاف مذکوره کښی دادی اذا قال لغیرالمدخول بها ان دخلتِ الدارَ فانتِ طالقٌ ثم طالِقٌ ثم طالقٌ که یوسړي خپلی ښځی ته اوویلی اودابنځه غیرمدخول بها وه چه که کورته داخله شوی نوته به طلاقه لی بیا به طلاقه لی بیابه طلاقه لی فعنده یتعلقُ الاولی بالدخول نوپدی صورت کښی په نزد دامام صاحب دا اول طلاق معلق شوپه دخول سره، ځکه کلمه داِنْ لی راوړیده اوکلمه داِنْ مابعدخپل جزاء گرځوي اوجزاء موقوف وي په شرط باندی، شرط اوجزاء کښی تعلق وي نوپه وجود دشرط سره وجود دجزاء راځی چه شرط متحقق شي نوجزاء هم متحقق کیږي. ولقع الثانیة فی الحال اوهغه دویم طلاق فی الحال واقع شو، ځکه چه په تلفظ کښی فصل راغی گویا داسی لی اوویل چه ( ان دخلتِ الدارفانت طالقٌ...(وقفه) ثم طالقٌ ) نودا دثم نه روستوخانته مستقل کلام شو اوپه مخکښی کلام پوری چه ان دخلت الدارا الخ دی په هغه پوری مربوط ندی. اودهغه نه روستودی ولغتِ الثالثة اودا دریم طلاق لغوه شو، ځکه چه غیر موطوٴة په یوطلاق سره جدا کیږي نودیته یوطلاق کافی وو، اودا ښځه همهغه وخت بل خاوند سره نکاح کولی شي، اوپدی صورت کښی عدت ته هم ضرورت نشته ځکه الله تعالی فرمائی ﴿ يَاأَيُّهَاالَّذِينَ اٰمَنُوٓا إِذَانَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوْهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّوْنَهَا فَمَتِّعُوْهُنَّ وَسَرِّحُوْهُنَّ سَرَاحًا جَمِيْلاً * ﴾ سورة الاحزاب،الاية: ۴۹ . ای مؤمنانوهرکله چه تاسو دمؤمنانوښځوسره نکاح وکړه اوبیا دهغی نه روسته تاسوهغوښځوته طلاق ورکړو چه لاسونه موندی ورنژدی کړي نوتاسولره پدی ښځوباندی عدت نشته اووركړی ددوی متاع(سامان) اوجدالی کړی په ښه جداکیدوسره. وعندهما یتعلق الکل بالدخول اوصاحبین والی چه دا ټول طلاقونه په دخول پوری مربوط شو، ځکه چه دا کلام مربوط دی، نودا ان دخلت الدار دټولو سره لگیدلی دی. ثم عندالدخول یظهرالترتیب اوس چه دغه ښځه دغه کورته داخلیږي نوترتیب به ظاهریږي فلایقعُ الا واحدة صرف یوطلاق به واقع کیږي، ځکه چه غیرموطوٴه به یوطلاق سره جدا کیږي نومحل دطلاق پاتی نشو اوبردو ښځوته خوك طلاق نه ورکوي.

ولو قال انتِ طالِقٌ ثم طالقٌ ثم طالِقٌ ان دخلت الدار اوکه یوسړي خپلی ښځی ته اوویلی چه ته طلاقه ئي بیادهغی نه پس طلاقه ئی بیادهغی نه پس طلاقه ئی که چیرته ته کورته داخله شوی . فعندابی حنیفة رح وقعتِ الاولی فی الحال ولغت الثانیة والثالثةُ نوېدی صورت کښی دامام ابوحنیفه صاحب په نزد اول طلاق واقع شو اودا نوردواړه لغوه شول وعندهما یقع الراحدةُ عندالدخول لماذکرنا اوصاحبین والی چه یوطلاق په وخت ددخول کښی واقع کیږي ، هغوی والی چه ټول کلام مربوط دی، اوموږه وایو چه هغه اول طلاق سره دنکاح بنیاداووتو نوروطلاقوته ضرورت نشته ځکه ثم دتراخی لپاره راخی لفظاً ومعناً وان کانت المراةُ مدخولاً بها اوکه ښځه مدخول بها وي فان قدّم الشرط اوکه شرط ئی مقدم کړو ، اوورته ئی اوویل چه ان دخلتِ الدار فانت طالقٌ ثم طالقٌ ثم طالقٌ. تعلّقت الاولی بالدخول ویقع ثنتان فی الحال عندابی حنیفة نوېدی صورت کښی اول طلاق معلق بالدخول شواوهغه نوردواړه طلاقونه فی الحال واقع شو. وان اخّرالشرط ثنتان فی الحال وتعلّقت الثالثةُ بالدخول اوکه شرط ئی مؤخرکړو نوهغه دواړه طلاقونه فی الحال واقع شو اوهغه دریم طلاق متعلق په دخول سره شو. وعندهما یتعلق الکلُ بالدخول فی الفصلین اودصاحبینوپه نزد ټول طلاقونه متعلق دي په دخول سره په دواړو صورتونو کښی ځکه هغوی وائی چه کلام کښی وصل دی نوچه وصل دی نو( ان دخلت ) ټولوسره ترلی شویدی. اوامام صاحب وائی هرکله چه ثم راځی دتراخی فی الماضی لپاره نوګویاکه لفظ هم متراخی دی.

فصل: فصل دی دحروفوعاطفوو دجملی څخه په بیان د( بل) کښی بل لتدارک الغلط باقامة الثانی مقام الاول بل راځی لپاره دتدارک غلط په قایمولو دکلمی ثانی په مقام دکلمی اولی باندی، یدی ترتیب سره چه اوله خبره کښی زه خطاء شوی یم اوخبره اصل کښی دا دویمه ده( لاثبات مابعده والاعراض عما قبله ) لکه یوسړی اووالی ( جاء زیدٌ بل عمرٌو) معنی داچه زید راغلی وو نه بلکه عمرو وو زما په خوله هسی دزید لکی راغئ. فاذا قال لغیرالمدخول بها انتِ طالِقٌ واحدةٌ لابل ثِنتین وقعتْ واحِدةٌ که یوسړي خپلی ښځی(غیرمدخول بها) ته اوویلی چه ته په یوطلاق سره طلاقه ئی نه بلکه په دوو طلاقوسره طلاقه ئی نویوطلاق واقع

Maktaba Tul Ishaat.com

شو. خکه دا انشاء ده اوانشاء رجوع نه غواړي، جمله خبریه احتمال دصدق اوکذب لري، اوانشاء خوایجاد مالم یوجد ته وائی یعنی چه یوشئ موجود نوي اوته هغه شئ موجودوی نوهغه کښی خونه صدق شته اونه پکښی کذب شته، صدق خومطابقت دکلام واقع ته وېل کیږي، اوعدم مطابقت دکلام ته کذب وائی لکه ( جاء زیدٌ ) نوکه زید په رښتیا راغلی وي نوصدق شو اوکه نوي راغلی نوکذب شو، نوچه یوسړئ ښځی ته اووائی چه (انت طالقٌ) نوداښځه طلاقه شوه نودواحدةً پرځای(بل ثنتین ) هیڅ معنی نه لري خکه غیرمدخول بها ته دی چه یوطلاق ورکړو نونکاح ختمه شوه، نواجنبی ئی ته خوخوك طلاق نه ورکوي، نوهمیشه لپاره چه یوسړئ دځپلی خبری نه اوړي هغه بایدخبریه وي، اوداجمله انشائیه ده. لان قوله لابل ثنتین رجوعٌ عن الاول باقامة الثانی مقام الاول خکه قول ددی زوج چه (لابل ثنتین ) دا رجوع ده داولی خبری نه چه هغه ددویمی خبری راوړل دي په مقام داول باندی ولم یصح رجوعه اودا رجوع ئی ندی صحیح خکه دا انشاء ده اوانشاء رجوع نه منی اوپه انشاء سره یوشئ واقع کیدای شي. فیقع الاول فلا یبقی المحلُ عندقوله ثنتین نواول طلاق واقع شو اودویم قول چه ثنتین دی دهغه لپاره محل پاتی نشو. نوغیر مدخول بها په یوطلاق باندی مغلظه شي ، ښځه خوهله معتده وي چه هغه مدخول بها وي نوچه سړي ورسره دخول نوي کړی اوطلاق ئی ورکړو همهغه وخت بل خاوند کولی شي. ولوکانت مدخولاً بها یقعُ الثلاثُ اوکه یوسړي مدخول بها ښځی ته اوویلی چه ( انت طالقٌ واحدةً بل ثنتین) نودری(۳) واړه طلاق واقع شو. ړومبنی طلاق خوځکه واقع شو چه هغه انشاء ده اوانشاء کښی ابطال اورجوع نده صحیح لکه رسول الله ﷺ فرمائی ( ثلثٌ جِدُّهنّ جِدٌ وهزلُهنّ جِدٌ النکاحُ والطلاقُ والرّجعةُ ) رواه الترمذی. اوپه بعضی روایاتو کښی والایمانُ راځی. یعنی په مذکوره دری واړو کښی توقه اوغیرتوقه برابره ده. اودا دوه روستونی طلاقه خکه واقع شو چه ددی لپاره محل باقی دی خکه عدت ثابت دی. وهذا بخلاف مالوقال لفلانٍ علیّ الفٌ لابل الفان اودا په خلاف ددی خبره باندی چه که جمله خبریه کښی یوسړي اوویل چه دپلانکی سړي په ماباندی زرروپی دي اوبیا ئی اوویل نه بلکه دوه زره دي. حیث لایجب للهٔ الالف عندنا نوپدی صورت کښی زمونږه په نزد باندی به دری

زره روپی نوي ، ځکه چه جمله خبریه کښی رد صحیح دی، دو چه جمله خبریه بیان کړه چه ( لفلان علی الفٌ ) اوبه (لا )سره ئی بیا رد کړ اودهغه نه روستوبیا (بل) راوړي اوبل خوراخی دتدارك غلط لپاره ، مطلب داچه زمونږه په نزد بالدی به په دی سری باندی دوه زره روپی وي۰ دلته کښی امام زفرصاحب والی چه دری زره(۳۰۰۰) شوی ، زر(۱۰۰۰) دالفٌ دوجهی نه دي اودوه زره دالفان دوجهی نه پری لازمی شوی لوجمله دری زره روپی شوی۰ وقال زفر یجب ثلثة الاف اوامام زفرصاحب والی چه دری زره پری لازمی شوی، هغه والی چه دلته کښی کلام بلکل دهغی پشان شو چه یوسړي ځپلیٔ مدخول بها ښځی ته اووېل ( انت طالقٌ واحدةً لابل ثنتین ) نوپدی صورت کښی دری طلاق واقع شو، نوامام زفرصاحب والی چه په صورت داقرار کښی هم دری دي ځکه هغه صورت داقرار په طلاقوبالدی قیاس کوي یعنی دجملې خبری قیاس کړ په جملې انشائی بالدی، ځکه هلته کښی په صورت دطلاقوکښی یواودوه جمع شول نوپه صورت داقرار کښی به هم یواودوه جمع کیږي۰ اومونږوایو چه داقیاس صحیح ندی ځکه پدی کښی به دبل معنی کړ ، بل ددی لپاره دی چه مخکښی کلام غلط وي اوروستنی کلام صحیح کوي۰ نوددی معنی داده چه ماویلي دي ( لفلان علیٔ الفٌ لابل الفین) نوالف ځالته لدي بلکه د(الف)سره نورهم ( الف )دي نودوه (الف) چه جمع شي نو(الفین) یعنی دوه زره تړینه جوړشي، نودا اخبارشو اوپه اخبارکښی سړی دقول اول نه رجوع کولی شي، اومخکښی دطلاقومسئله هغه انشاء وه اوپه انشاء کښی سړیٔ رجوع نشی کولی ځکه ( ثلث جدهن جدٌ وهزلهن جدٌ ) الحدیث۰ اوزمونږ لپاره دلیل دادی چه لان حقیقة اللفظ لتدارك الغلط باثبات الثانی مقام الاول مونږه وایو دوه زره ځکه دي چه حقیقة دلفظ دبل دا دتدارك غلط لپاره دی په اثبات دثانی سره په مقام داول بالدی۰ ولم یصح عنه ابطال الاول اوپدی صورت کښی خوابطال داول نه صحیح کیږي۰ فیجب تصحیح الثانی مع بقاء الاول نوواجب دی تصحیح دثانی سره دبقاء داول نه۰ وذلك بطریق زیادة الالف علی الالف الاول اودا داسی شو چه لکه زرپه زرو اولو بالدی سوا شي نودوه زره تړینه جوړشو۰ ځکه دا طریقه ده په اعدادو کښی چه عدد اول هم باقی وي اوعدد ثانی هم ورسره یوځای کړه نوعدد اول

له منځه نه خی بلکه په عدد اول کښی اضافه هم وشي ، نوپدی صورت کښی دعددثانی په عدداول باندی اضافه وشوه نومجموعه ترینه دوه زره شوی ، نوګویا د(لابل) معنی داشوه چه (لابل مع ذلك الالف الفٌ اخر) نومجموعه دوه زره راځی ، نودا داسی شو لکه یوطالب ته چه مونږاوواېو ( کم سنك ؟ فقال سنی عشرون بل ثلاثون ) نوددی معنی دانده چه زما عمرشل اودیرش کال دواړه دی بلکه ددی معنی دادی چه زما عمرشل(۲۰) کال اولس پری نورهم سوا کړه یعنی زما عمردیرش(۳۰) کال دی. قصه : دجامعة اسرفیة یو استاد وو مفتی جمیل احمدصاحب(مرحوم) رحمة الله علیه ، ډیرلوی عالم وو نوهغه ته به چه چا اوویل چه(مولنا آپ کی عمر کتنی هے ؟) نوهغه به ویل چه (تیس(۳۰) چالیس(٤٠) سل هوگی) اوهغه بوډا وو، هغه به تیس اوچالیس جمع کول اوخوك به ورباندی نه پوهیدل، اوپدی خبره به ئی خانته زره خوشحالولو لکن اصل کښی خوهغه دستر(۷۰) کالو وو. بخلاف قوله انت طالقٌ واحدة لابل ثنتين په خلاف ددی قول مذکوره باندی چه ( انت طالق واحدة لا بل ثنتين ) لان هذا انشاءٌ وذلك اخبارٌ ځکه دا انشاء ده اوپه انشاء کښی رجوع نشی کیدای اوهغه قول چه ( الف بل الفين ) اخباردی اوپه اخبارکښی رجوع کیدای شي. والغلط انما یکون فی الاخباردون الانشاء اوغلطی په اخبارکښی راتلی شي اوپه انشاء کښی نشی راتلی فامکن تصحیح اللفظ بتدارك الغلط فی الاقرار دون الطلاق نوممکن شو تصحیح دلفظ دبل په تدارك غلط سره په اقرار کښی نه په طلاقوکښی. ځکه طلاق انشاء ده. حتی لوکان الطلاق بطریق الاخبار اوکه یوسړي بنځی ته طلاق په جمله خبریه باندی ورکړو اوپه هغی کښی ئی دبل تکی استعمال کړو نوبیا صحیح ده، نوبیا په هغه کښی دمخکنی کلام نه رجوع کولی شي. بان قال کنتُ طلّقتُكِ اَمسِ واحدةً لابل ثنتين چه بنځی ته خاوند اووائی چه ماخوتاته پرون یوطلاق درکړی وو اوبیا اووائی چه نه دوه طلاقه می درکړی وو، نوصحیح دی هغه مخکنی طلاق ندی واقع ځکه چه په جمله اخباریه کښی تدارك دغلط کیدالی شي لکن په انشاء کښی نشی کیدای ځکه هغه چه دمتکلم دخولي نه څرنګه اووخی نوپه خارج کښی فوراً واقع شي. یقع ثنتان لماذکرنا ( لان الاخبار یقبل الرجوع دون الانشاء) نودوه طلاقه واقع شو دهغه دلیل دوجهی نه چه

مونږ ذکرکړو چه تدارك دغلط په اخبارکښی راتلی شي اوپه انشاء کښی نشی راتلی. نوکلمه دبل ددی لپاره ده چه دیوسړي نه به مخکښی کلام کښی غلطی وشي نودی لفظ د(بل) هغه غلطی صحیح کړي نورجوع په هغه خای کښی صحیح کیږي چه په کوم خای کښی رجوع صحیح کیدای شي اوچه کوم خای کښی رجوع نشی صحیح کیدای نوهلته کلمه دبل هغه خپله معنی بیا نه ورکوي. کلمه دبل په جملوخبریوکښی خپله معنی ورکوي نه په جملوانشانیوکښی.

---

**فصل** لکن للاستدراک فیکون موجبهُ اثبات مابعده فامّا نفی ما قبله فثابتٌ بدلیله لکن دپاره داستدراک رائحی پس دنفی نه پس حکم د لکن به د مابعد اثبات وی هر چه نفی دماقبل دے هغه به ثابت وی په دلیل خپل سره نو مطلب داشو چه دماقبل کلام نه چې کومه شبهه پیدا شوی وی نو په لکن سره هغه شبهه دفع کیری لکه څوک اووائی مارایت زیداً لکن عمراً چه مارایت زیداً ئی اووئیل نو شبهه پیدا کیدله چه زید سره به عمرو هم شریک وی ځکه چه دواړه ملګری دی نو متکلم د دی شبهه د ازالی د پاره اووئیل لکن عمریعنی لکن عمر رایتهُ مثلاً ( وَمَا رَمَيْتَ إِذْرَمَيْتَ وَلَكِنَّ اللهَ رَمیٰ )، پیغمبر ﷺ د بدر په جنګ کښ یو موټے شګه د کافرانو په طرف ور ګذار کړه هغه د زرو (۱۰۰۰) کافرانو سترګو کښی پرے وته ، د زرو کافرانو سترګو کښ د شګو راتلل د الله تعالیٰ په کامل قدرت سره وه شګه خو رسول الله مبارك ویشته وه او دری کرته ئي شَاهَتِ الوجوه او فرمائیل لکن عادةً داسی نشی کیدی چه یو موټے شګه د زرو کافرانو سترګو ته اورسی او د زرو کافرانو د شکست سبب او ګرځی دا صرف الله تعالیٰ خپل قدرت سره د هر کافر سترګو ته او رسولے. والعطف بهذه الکلمة انما یتحقق عندالِساق الکلام عطف په کلمی دلکن سره متحقق کیږي چه کلام متسق اومنظم وي یعنی مقدرنوي. فان الکلام مُتسِقاً یتعلقُ النفی بالاثبات الذی بعده که کلام متسق وو بیابه دغه نفی متعلقه وي داثبات سره چه کوم دلکن نه روستووي. والافهومستانِفٌ اوکه چیرته دا شرطونه پکښی نوي نودامابعد دلکن به کلام مستقل وي اودماقبل سره به مربوط نوي. مثاله ماذکره محمدٌ فی الجامع مثال دهغه چه اتساق لپاره وي هغه دی چه امام محمد په جامع کبیرکښی ذکرکړیدی. اذاقال لفلان عليّ الفٌ قرضٌ هرکله چه یومُقِرْ اقرار وکړلو چه دبلانکی به ماباندی زر روپی قرض دي فقال فلان لا ولکنه غصبٌ اوهغه بل سړي( مقرله) اوویل چه دا تامانه په زوره اخستی وی قرض نوو، نوکلام کښی اتساق موجود دی، ګویا زرروپی خودي انکارنشته خوپو وانی چه دزرو

Maktaba Tul Ishaat.com

روپوسبب قرض دی،اوبل والی چه غصب دی نودواړه صورتونو کښی تلازم موجود دی
لوکلام کښی کمال الساق موجود دی. لزمه المال په مقر باندی به مال لازم وي. لومقربه
دا زرروپی ورکوي، ( انما المرءُ یؤخذ باقراره) لان الکلام متسقٌ خکه کلام متسق دی،
دواړه(مقراومقرله) په اصل مال متسق دي اواختلاف هم پکښی لشته. فظهران النّفی کان
فی السبب دون لفس المال نوظاهرشوه چه لفی په سبب کښی ده نه په لفس مال کښی،
خکه مقر سبب دمال قرض بیانوی اومقرله سبب دمال غصب بیانوي لکن په وجوب دالف
وو کښی دواړه متفق دي وکذلك لوقال لفلان علیّ الفٌ من ثمن هذه الجاریة همدارلګه
بل مثال بیانوي که یوسړي (مقر) اوویل چه دپلانکی په ماباندی زر(۱۰۰۰) روپی دي له
وجهی دقیمت ددی جاریه لی له. فقال فلانٌ لاالجاریة جاریتك ولکن لی علیك الفٌ
اوهغه مقرله اوویل چه له زماپه تاباندی ددی وینځی دقیمت له زر روپی لدي پالی بلکه
وینځه ستا خپله وینځه ده لکن زما دربالدی زر روپی دي دبلی وجهی له مثلاً قرض دی
راله اخستنی دي یا دی راله غصب کړیدي وغیرذلك لوګویا مقرله پدی صورت کښی دالف
وو الکارله کړ بلکه سبب دالف وو بل بیانوي چه هغه غصب دی یاقرض دی وغیرذلك،
لوپدی صورت کښی دا کلام هم صحیح دی یلزمه المال پدی مقربالدی زر روپی لازمی
دي. فظهران النفی کان فی السبب لافی اصل المال لوظاهره شوه چه دامقرله لفی
دسبب کړ داصل مال لفی له کړ، اصل مال خومقرله هم منی لکن سبب لی بل بیانوي.
اوس مخکښی خبری ختمی شوی اوبله خبره بیانوي ولو کان فی یده عبدٌفقال هذا لفلان
فقال فلان ماکان لی قطُ ولکنه لفلانٍ اخر اوکه یوسړي سره غلام وو اودی سړي اوویل چه
دا دپلانکی سړي دی اوهغه سړی(مقرله) اوویل چه دا بلکل زما لدی بلکه داد
فلالکی(دبل سړي) دی. فان وصل الکلامُ کان العبد للمقرله الثانی که دی مقراول دا
کلام دماقبل سره متصل راورو لوعبد به دمقرله ثالی لپاره وي، خکه چه هغه مقرهم والی
چه دا غلام زما لدی اودا مقرله هم والی چه زما لدی بلکه ددی بل سړي دی کوم چه
مقرله ثالی دی. لان النفی یتعلقُ بالاثبات خکه داکلام چه ورسره موصول راورو لوددی
تعلق دالبات سره راځی ، داسړی لفی کوي چه داغلام زما لدی بلکه ددی بل سړي دی

نودی وجهی نه اثبات ددی نفی نه پس متصلاً راغلو. وان فصل کان العبد للمقرالاول اوکه ډیر ساعت پس نی اوویلی نوکلام به مقراول وي. فیکون قول المقِرله رداً للاقرار نوقول دمقرله به رد لپاره داقرار شي، صرف اقرار نی رد کړو لکن بل چانه پکښی اثبات رانغی. ولوان امةً تزوجت نفسها بغیراذن مولاها بمائة درهمٍ یوی وینځی پخپله خان واده کړو بغیردحکم دمولی نه په سل درهم باندی، اوحالانکه وینځه چه واده کئے نو خپل مولی نه به اجازت اخلی فقال المولی لاأُجیزالعقدبمائة درهمٍ اومولی دخبریدونه روستو اوویل چه ماله خوښه سل درهم ددی وینځی دنکاح عقدندی منظوراوبیائی روستواوویل ولکن اجیزه بمائة وخمسین اوبیا روستولی اوویل چه عقد دنکاح منم لکن په یوسل پنځوس (۱۵۰) روپوباندی، نوپدی صورت کښی په کلام کښی اتساق نشته. بَطَلَ العقدُلان الکلام غیرمتسقٍ نوعقدباطل شوځکه کلام غیرمتسق دی، هرکله چه وینځی اول نکاح وکړه په سل روپی مهرباندی اومولی چه کله خبرشونوهغه اوویل چه زه دا عقدنه منم مګرکه په یونیم سل روپی وي نوصحیح دی، نوپدی صورت کښی نکاح صحیح نشوه ځکه دوینځی اوغلام نکاح بغیرداذن دولی نه نه صحیح کیږي اومهرهم لازم نشوځکه مهرفرع دنکاح ده نوچه نکاح نوی نومهربه له کومه ځایه راشي. فان نفی الاجازة والبالها بعینها لایتحقق که دمولی داقول چه ( لااجیزالعقد) دافسخه دنکاح شوه، نوچه کله کلام کښی اتساق نوي موجود نوکلمه دلکن به دعطف لپاره نوي بلکه داستیناف لپاره به وي معنی داچه دا وینځه به بله نکاح کوي اومهربه یونیم سل روپی وي. فکان قوله لکنا اجیزه البالة بعدردٌ العقد نوداقول دمولی چه ولکن اجیزه الخ دا اثبات دنکاح دی روستودفسخ دعقداول نه ، یعنی مولی وائی چه اول عقدنه منم اوهغه نکاح نده شوی. وکذلك لوقال لااجیزه ولکن اجیزه ان زدتنی خمسین علی المائة همدارنګه داقول دمولی چه زه اجازه دعقد نه ورکوم مګرکه ماله پنځوس روپی نوری زیاتی کړي په سلوروپوباندی. یکون فسخاً للنکاح لعدم احتمال البیان نوداقول هم فاسخ شودنکاح لپاره ځکه احتمال دبیان پکښی شته. لان من شرطه الاتساق ولاالتساق ځکه شرط پکښی اتساق دکلام دی لکن دلته کښی اتساق نشته، نوموږ نه داپته ولګیده که په ماقبل دلکن اوپه

Maktaba Tul Ishaat.com

اوکه اتساق نوو نوبیا به هغه مابعددلکن کښي اتساق وو نوبیاخوکلمه دلکن دعطف لپاره ده اوروستونی کلام به خانته مستقل مخکنۍ کلام روستونی کلام سره هیڅ تعلق نه لري، اوروستونی کلام به خانته مستقل اوجدید کلام وي. نوپدی صورت کښي معنی داشوه چه هغه مخکني نکاح ماختمه کړه اوکه خوك بله نکاح کول غواړي نومهربه ئې یوسل اوپنځوس روپۍ وي. ے

فصلٌ : فصل دی په بیان د او کښي، او هم دحروفو عاطفوو څخه دی. اولتناول احدالمذکورین او دتناول دیودمذکورینویا دمذکوراتو لپاره راځي، کم ازکم اوپه دوو کښي راځي ، نومصنف ئې کمه درجه ئې بیان کړه ، لکن په زیاتومذکورینویامذکوراتوکښي خوپه طریقه ئې اولی سره راځي، لکه په هدایة النحوکښي بیان شوی دي چه تنازع دفعلانوکم ازکم په دوو فعلانوکښي راځي اوکه زیات وي نوهم کیدای شي لکه ( کماصلیت وسلمت وبارکت ورحمت وترحمت علی ابراهیم ) نودمذکوره ټولو افعالوپدی ابراهیم کښي جګړه ده یووالی چه زماسره دی متعلق وي بل وائی چه ماسره دی متعلق وي الخ ، نوهمدارنګه دلته هم اقله درجه د او بیان شوه ورنه په زیاتوکښي هم راځي. اوکه جمله خبریه وه بیا به پکښي شك پیداکیږي اګرچه کلمه داو دشك لپاره ندی لکه ( جاءَ زیدٌ اوعمرٌو ) یعني پته نه لګیږي چه زید راغلی اوکه عمرو، یعنی پوره یقیناً معلوم ندی چه کوم کس دی لکن یوتن راغلی دی نوشك پکښي پیداشو. اوانشاء کښي به او داحدالامرین لپاره وي. ولهذا لوقال هذا حرٌ اوهذا که یوسړي اوویل چه دا غلام ازاد دی اوکه دابل ، یعنی‌دیوسړي دوه غلامان وو نوده اوویل هذا اوهذا ، هذا باندی اشاره کیږي هرموجود مذکرمبصرفی الخارج ته، اوهذه باندی اشاره کیږي هرې موجودې مؤنثې مبصرې فی الخارج ته. نوپدی صورت کښي کلمه داو داحدالامرین لپاره ده، اوس دمتکلم دبیان ضرورت به وي چه آیا دینه سناکوم مراد وو؟ نوبیان دمتکلم ضروری شو ځکه چه خبره مبهمه ده ځکه احدالامرین چه دوه لنوکښي دالرشي لوبیا پته نه لګیږي چه دادی اوکه دا ، نوضرورېه تعین دمتکلم نه ضرورت وي. کان بمنزلة قوله احدهما حرٌ ددی دا معنی شوه چه پدی کښي یولن ازاد دی. حتی کان له ولایةُ البیان دی وجهی نه متکلم ته حق دبیان دی چه دیٔ به داخرګنده وي چه دی سره ددی مراد کوم غلام وو. ولوقال وکّلتُ ببیع هذا العبد

هذا اوهذا همدارنگه که يوسړي اوويل چه ددی غلام دخرڅولو لپاره ماوکيل کړو داسړی
اويا داسړی ، نوامربه داحدالوکيلينولپاره وي، نوکه يوسړي(وکيل) تصرف وکړو اوغلام ئی
خرڅ کړو اويا څو ورځی پس هغه غلام بيا خرڅيدو اوهغه بائع کوم چه مؤکل وو هغه بيا
واخستونوهغه وکيل ثاني ته حق دبيع نشته چه هغه غلام دی بيا خرڅ کړي ځکه کلمه داو
داثنينولپاره نوه بلکه داحدهما لپاره وه نوچه احدهما تصرف وکړو نودبل وکالت لغوه شو.
كان الوكيل احدهما نووکيل به احدهما وي ويباح البيع لكل واحد منهما اوبيع دهردواړو
لپاره جائزه ده، يعنی چه کوم يووکيل ئی خرڅوي ځکه به لفظ داحدهما سره دواړه متعين
شويدي. ولوباع احدهما که يووکيل ولگيدو اوداغلام ئی خرڅ کړو اوغلام دموليٰ دلاس
نه اووتو ثم عاد العبد إلى ملك المؤكل اويا دا غلام راغی مِلك دمؤکل ته لايكون
للاخر ان يبيعه مناسب ندي بل وکيل ته چه هغه غلام دی بيا خرڅ کړي ، ځکه خبره(بيع)
مخکښی ختمه شوه. ولوقال لثلث نسوةٍ له هذه طالقةٌ اوهذه وهذه که يوسړي
خپلوښځوته اوويلی اوده لره دری(۳) ښځی وی چه دا طلاقه ده اويا داطلاقه ده اوداهم
طلاقه ده، يعنی ديوسړي دری(۳)ښځی وی او وويل چه داښځه اويا داښځه طلاقه ده يعنی
داولودوو په منځ کښی ئی او راوړو اودروستنۍاودِمينځنی په منځ کښی ئی واو راوړو نودا
دريمه ښځه خوبه في الحال طلاقه شوه اوبه هغو اولو دوو کښی احدهما طلاقه شوه نوهلته
به زوج بيان کوي. طُلِقتْ احدى الأوليين وطُلِّقتْ الثالثةُ في الحال نوپه اولو دوو کښی
يوه طلاقه شوه اودا دريمه في الحال طلاقه شوه. لانعطافها على المعلّقة منهما ځکه دا
دريمه کلمه دعطف دی په مطلقي باندی، ځکه حرف دعطف ئی راوړلو او واو دجمع لپاره
وي، نوجمع بحرف الجمع. دا داسی جمع وي لکه جمع بلفظ الجمع . ويكون الخيار
للزوج في بيان مطلّقة منهما اود زوج لپاره به اختياروي په بيان دهغومخکنيودواړو
مطلقوکښی چه دده مراد کومه ښځه ده ځکه هلته کښی ئی هغوئ دواړو په منځ کښی کلمه
داو راوړيده(هذه اوهذه) نوتعين به ضرورکوي. بمنزلة ماقال احدكما طالقٌ وهذه
داداسی دی لکه داسی ئی چه ويلی وي چه يوه ستاسونه طلاقه ده اوداهم طلاقه ده.
وعلى هذا قال زُفر اوبناء پردی باندی چه کله ذ او داحدالامرين لپاره راځی. امام زفررحمة

Maktaba Tul Ishaat.com

الله علیه والی. اذا قال لاأکلِمُ هذا اوهذا وهذا چه زه به د ده اویاد ده سره خبری نه کوم اودی بل سره به لی هم نه کوم نودمخکنیودواړو په منځ کښی لی کلمه داو راوړه اودروستنیودواړو په منځ کښی لی کلمه دواو راوړه کان بمنزلة قوله لااکلِمُ احدهذین وهذا نوددی مطلب داشو چه یوددی دواړو سره به خبری نکوم اونه ددی دریم سره، نوپه اولو دوو کښی لی احدالامرین دی اوهغه دریم پری عطف دی. فلایحنث مالم یُکلِمُ احدالاولین والثالث نوداسری به نه حانث کیږي ترڅو چه احدالاولین سره خبری ونکړي اوبیا هغه ثالث سره خبری اونکړي. وعندنا لوکلم الاول وحده یحنث اوزموږه په نزد باندی که هغه اول سړي سره لی یواځی خبری وکړی نوحانث کیږي، ځکه چه زموږه مراد په کلمی داو سره احدالرجلین دی اوهغه هلته متعین ندی اواحدالرجلین پکښی راغللو، اصل کښی یوطلاق دی اوبل کلام دی نومقصود په طلاق سره احدزوجین دی اولعین هم پکښی نشته ځکه کلمه داو راغلی ده نوپدی صورت کښی دهغی مطلب دادی چه ( احداکما طالِقٌ وهذه ) یعنی یوستاسودوو ښځونه یوه طلاقه ده اوهغه دریمه ښځه هم طلاقه ده، لکن په مسئله دکلام کښی ولوکلّم احدالاخرین لایحنث مالم یُکلِّمُهُما اوکه یوداخرینوسره لی خبری وکړی نونه حانث کیږي ترڅو چه دواړو اخرینوسره معاً خبری ونکړي ځکه هلته کښی واو راغلی او واو دمطلق جمعی لپاره راځی، اومخکښی دواړو په منځ کښی او راغلی او هغه او خوداحدالامرین لپاره راځی اوپدی روستونی صورت کښی خو دا (وهذا) لی په هغه روستونی باندی عطف کړیدی نو واو دجمعیت تقاضه کوي. ولوقال بع هذا العبداوهذا کان ان یبیع احدهما ایُّهما شاء که یوسړي خپل وکیل ته اوویل چه زما دا غلام اویادا غلام خرڅ کړه نووکیل کولی شي چه هریولی خوخ وي هغه دی خرڅ کړي، نووکیل چه هریوغلام خرڅ کړونوبیع صحیح شوه. ولودخل اوفی المهربان لزّوجها علی هذا اوعلی هذا نوکلمه داوبه مهرکښی داخله شوه چه یوسړیٔ دیوی ښځی سره نکاح وکړي پدی مهراوبیا به هغه مهرکښی داخل شوه ، یعنی یوسړی اووالی ( تزوجتُ هنداً علی الف درهمٍ اومائة دینارٍ) یعنی ما دهندی سره واده وکړو یا به دا زمانه زرروپی اخلی اویا به سل اشرفی اخلی کلمه د او داحدهما لپاره راځی، نوپدی صورت

کښې مهرمثل لازم شو. يحکم مهرالمثل عندابي حنيفة حکم به کولی شي دمهرمثل په لزد
دامام ابوحنيفه رحمة الله عليه باندي ، ځکه چه مهرقيمت دبضعي وي. لان اللفظ يتناولُ
احدهما ځکه چه کلمه د او احدهما ته شامله ده،"چه هغه زر(۱۰۰۰) روپۍ دي يا سل
اشرفۍ دي. والموجب الاصلي مهرالمثل په باب دنکاح کښې خوموجب اصلي مهرمثل
دی، لکه په باب دبيع کښې اصل شئ قيمت وي، دبائع اودمشتري که په ثمنوکښې خلاف
راشي(ثمن دیته والي چه بائع اومشتري په هغې خلاصي کړی وي راضي شوی وي پدی
سره) لکه مثلاً داکتاب دربانديی په شل روپۍ خرڅوم نودا شل روپۍ ددی کتاب ثمن
شونوچه په ثمن کښې خلاف راشي( مثلاً مشتري والي چه دا کتاب دی راباندی په
اتلس(۱۸) روپۍ خرڅ کړیدی اوبائع والي چه په شل(۲۰) روپۍ مې دربانلدی خرڅ کړیدی)
نورجوع به لی قيمت ته کيږي اويه بازار کښې دهغه شے چه څومره قيمت وي نوهغه به
معتبروي . نويه مهر کښې هم چه اختلاف راشي نومهرمثل به معتبروي( مهرمثل دیته والي
چه دهغې ښځې دتره دلورمهر يا دهغې ښځې دماما دلورمهرمعتبرشي) . فيترجّحُ مايشابهُه
پس مونږه به ترجيح ورکوو هغه څيزته چه هغه ورسره مشابه ده، که دهغې دتره دلورسل
اشرفۍ وي نوسل اشرفۍ به معتبريږي اوکه دهغې دتره يادماما دلور زر روپۍ وي نوهغه به
معتبريږي. وعلی هذا قلنا پدی بناء باندی چه کلمه داو داحدالامرين لپاره ده مونږه وايو
التشهّدُ ليس برکن في الصلوة چه تشهدپه مونځ کښې رکن ندی، لکه حديث دمسئ الصلوة
کښې چه دمونځ طريقه ذکرشويده دهغې نه معلوميږي چه تشهدپه مونځ کښې فرض(رکن)
ندی بلکه واجب دی ، ځکه په حديث دمسئ الصلوة کښې رسول الله ﷺ اعرابي ته په
اخرکښې اوفرمائل( اذا قلت هذا اوفعلت هذا فقدتمت صلوتك) يعنی که تادا تشهد اووايه
اويا په دومره اندازه کيناستی نومونځ دی مکمل کړلو، نوپدی حديث کښې رسول الله ﷺ
کلمه د او راوړيده يعنی چه يا دي تشهداووائی اويا هسی کيناستی نوهم دی مونځ
وشونودکلمې داو دوجهې نه تشهد په مونځ کښې مونږه واجب منواوفرض(رکن) لی نه
منو. په حديثوکښې داکثروحديثونو لپاره خپل نومونه وي لکه مذکوره حديث(مسئ
الصلوة)- هغه حديث ته ويل کيږي چه په هغه کښې دبواعرابي واقعه داسی بيانيږي چه

یوځل رسول الله مبارك په جومات کښی ناست وو اوړو اعرابی راغی مونځ ئی ډیرزر زر وکړلو نوچه کله دمونځ نه فارغ شونوراغی اوپه رسول الله ﷺ نی سلام واچولو نورسول الله مبارك ورته دسلام جواب ورکړو اوورته نی اوفرمائل ( اذهب صل انك لم تصل ) هغه لاړو اوبیا نی زر زر مونځ وکړلو او بیا راغلو اوپه رسول الله مبارك نی سلام واچولواورسول الله ﷺ ورته بیا دسلام جواب ورکړو اوورته نی اوفرمائل ( اذهب صل انك لم تصل) نوهم دی ترتیب دریم ځل هم تکرار شو، نوپه څلورم ځل رسول الله ﷺ ته هغه صحابی اوویل چه یارسول الله ماته خوبله طریقه نه راځی اوتاسو راته دمونځ طریقه اوښایئ ، نورسول الله ﷺ ورته تفصیلاً دمونځ طریقه بیان کړه اوپه اخرکښی نی دتشهد باره کښی ورته اوفرمائل ( اذا قلت هذا اوفعلت هذا فقدتمت صلوتك) نودیته حدیث دمسئ الصلوة والی۰ یالکه۔ حدیث جبرئیل هغه حدیث ته والی چه حضرت عمرابن الخطاب رضی الله عنه روایت کړیدی ( عن عمر بن الخطاب رضی الله عنه قال بینما نحن عندرسول الله ﷺ ذات یوم اذطلع علینا رجل شدیدُ بیاض الثیاب شدیدُسوادالشعرلایُری علیه اثرالسفرولایعرفه مناا‌حدحتی جلس الی النبی ﷺ فَاَسنَدرُکبتیهِ اِلی رکبتیه ووضع کَفَّیه علی فخدیه وقال یا محمد اخبرنی عن الاسلام قال الاسلام ان تشهَدان لااله الاالله وان محمدا رسول الله وتقیم الصلوة وتؤتی الزکاة وتصوم رمضان وتحج البیت ان استطعت الیه سبیلا قال صدقتَ فعجبنا له یسأله ویصدّقه قال فأخبرنی عن الایمان قال ان تُؤمِن بالله وملئکته وکتبه ورُسله والیوم الاخرِ وتؤمن بالقدرخیره وشره قال صدقت قال فاخبرنی عن الاحسان قال ان تعبدالله کانك تراه فان لم تکن تراه فانه یراك قال فاخبرنی عن الساعة قال ماالمسئول عنها باعلم من السائل قال فاخبرنی عن اماراتها قال ان تلدالامة ربّتها وان تری الحفاة العراة العالة رعاءالشاء یتطاولون فی البنیان قال ثم انطلق فلبثت ملیاً ثم قال لی یاعمراتدری من السائل قلتُ الله ورسوله اعلم قال فانه جبرئیل اتاکم یعلمکم دینکم ۰ رواه مسلم ۰ یعنی حضرت عمررضی الله عنه فرمائی چه یوه ورځ مونږه درسول الله ﷺ په مجلس کښی ناست وو چه یوسړی راغی چه ډیری سپینی جامی ئی اچولی وی اوډیرلوروښتان ئی لرل اودسفرهیڅ نښه هم وربانده‌نوه اوزمونږه دملګرونه هیچا هم نه پیژندولردی چه کیناستواو ځیل

خنګنونه لی درسول الله مبارك خنګنونو ته ورنژدی کړل اوخپل لاسونه لی درسول الله مبارك په خنګنونو مبارکو باندی کیښودل اورسول الله ﷺ نه ئی تپوس وکړو چه اسلام څه شئ؟ دی نورسول الله ﷺ ورته اوفرمایل چه اسلام دادی چه کلمه ئی تشهد اووائی اومونځ قایم کړی اوزکات ورکړی اوروژی درمضان ونیسی اوکه چیرته دحج دلاری طاقت ئې اوحج وکړی دیته اسلام وائی. نوهغه سائل ورته اوویل چه رښتیا دی اوویل ، نومونږه حیران وو چه سوال هم کنے اوتصدیق هم کنے، نوبیا درسول الله ﷺ نه تپوس وکړو چه ایمان څه شئ دی ؟ نورسول الله مبارك ورته اوفرمائل چه ایمان راوړل په الله جل جلاله باندی اوپه ملائکو دالله تعالی باندی اوپه کتابونو دالله دتعالی باندی اوپه رسولانو دالله تعالی باندی ، هم دارنګه ایمان راوړل دي په ورځ داخرت باندی ایمان راوړل دي په تقدیرخیراوشرباندی دیته ایمان وائی، نوهغه بیا ورته اوویل چه رښتیادی اوویل. بیائی درسول الله ﷺ نه تپوس وکړو چه احسان څه ته وائی؟ هغه مبارك ورته په جواب کښی اوویل چه احسان دیته وائی چه دالله تعالی عبادت په داسی طریقی سره وکړی چه لکه ته الله ګوري اګرچه ته هغه نه ګوری لکن الله تا ګوري. بیا ئی درسول الله مبارك نه تپوس وکړو چه خبرراکړه په قیامت باندی؟ نورسول الله مبارك ورته اوویل چه مسئول پدی باره کښی دسائل نه ډیرعالم ندی. بیا ئی درسول الله ﷺ ته اوویل چه دقیامت علامی(نښی) راته اوښایه ؟ نورسول الله ﷺ ورته اوویل چه یوه نښه ئی داده چه کله وینځه خپل سید وزیږوي، اوبله نښه ئی داده چه ته به ګوری هغه خلق چه هغوئ به خپی ابله خپی وویعنی خپلی یا بوټان به ئی نوو اوهغه خلق چه بربنډ به وو یعنی دغریبی نه به ئی جامی هم نوی اوهغه خلق چه سرتورسر به وو یعنی دغریبی نه به ئی توپی یا پګړی هم نود اوپه غرونو کښی به ئی بزی اوګډان څرول، هغوی به بازارونو اوښاریوته راکوز شي او هغوئ به دومره مالداره شي چه دیوبل سره به په کورونو اوبلډینګونو جوړولو او اوچتولو کښی مقابلی کئ. نوحضرت عمررضی الله عنه فرمائی چه بیا هغه سائل لاړ اوڅه درنګ تیرشو چه رسول الله ﷺ وفرمائل چه یاعمرپوهیږی چه دا سائل څوك وو؟ نوماورته په جواب کښی اوویل چه الله تعالی اودهغه رسول ﷺ ښه پوهیږي ، نورسول الله ﷺ اوفرمائل چه دا جبرائیل علیه السلام

Maktaba Tul Ishaat.com

وو راغلى وو چه ستاسو ته ستاسو دين وښائي. نوددى حديث مضمون ته حديث جبرئيل وائي. همدارنگه حديث دليلة التعريش: هغه حديث ته وائى چه په هغه كښى هغه واقعه بيان شويده چه يوځل رسول الله ﷺ دغزوة نه راتللواوپه لاره كښى ددمى لپاره حصارشول نوچه كله شپه شوه نورسول الله ﷺ اوفرمائل ( من يكلؤنا الليلة ) چه نن به زمونږه څوكئ څوك كوي؟ نوحضرت بلال رضى الله عنه اوفرمائل چه زه به څوكئ كوم يارسول الله ﷺ نورسول الله مبارك اونورټول صحابه اوده شول نوحضرت بلال رضى الله عنه ټوله شپه څوكئ وكړه چه كله سهارقريب شولوستړى شو اوددمى لپاره لى لگ څوندى ډډه ولگوله اواسمان ته لى كتل چه كله سبا راوخيږي اواذان وكړم پدى كښى هغه هم اوده شو تردى چه لمرراوختواودرسول الله ﷺ شا مباركه لمرگرمه كړه او اول رسول الله مبارك راويښ شونوبلال ته لى اوويل چه داولى يا بلال ؟ نوهغه ورته اوويل چه كوم رب جل جلاله ستاسونه نفس اخشتى وو زما له لى هم اخشتى وو. لانّ قوله عليه السلام اذا قلت هذا وفعلت هذا فقدتمت صلوتك څكه قول دنبى عليه السلام چه كله دى تشهدولستويا ددى په اندازه كيناستى نوتامونځ مكمل كړو. علق الاتمام باحدهما څكه رسول الله ﷺ دمونځ داتمام تعليق كړيدى په يوددغو دوو كارنو پورى چه ويل دتشهداويا په دومره اندازه كيناستل دي يعنى كه په دى دوو كارونوكښى يو وشو نومونځ مكمل شو. فلايشترط كل واحدمنهما او هردواړه دقعدة اوتشهده نه شرط ندي څكه كلمهٔ داو دائنينولپاره نه راځى بلكه كلمه داو ديولپاره راځى نويابه قول كئے اويابه فعل كئے، نومعلوميږي چه تشهدركن ندى نوكه يوسړي قعده وكړه اوتشهدئى اونه ويلو نومونځ لى وشولكن ترك دواجبونى وكړو نويكارده چه سجده سهوه وكړي. وقدشرطت القعدة بالاتفاق اوپه تحقيق سره قعدة په اتفاق دعلماء احنافواوشوافعوسره شرط ده نوځكه هغه فرض وگرځولى شوه. فلايشترط قراءةُ التشهد اوقراءة دتشهدشرط ندى په مونځ كښى لوځكه زمونږه په نزدواجبه وگرځولى شوه. ثم هذه الكلمة فى مقام النفى يوجب النفى كلِ واحدِ من المذكورين كلمه داو كله په نفى كښى هم راشي نوبيا به نفى دهرواحددمذكورينومراد وي، لكه قرآن مجيد كښى راځى ﴿ وَلَاتُطِعْ مِنْهُمْ اٰثِمًا اَوْكَفُوْرًا ﴾ سورة الدهر،الآية: ٢٤ يه: ٢٤ . يعنى دوئ(

مجرم اوناشکره) سره قطع تعلق وکړه اوله تعبداري مه کوه یارسول الله ددوئ ، لومطلب داشوچه کافرخودلبولو له لوئ ناشکره وي لهذا دکافرتعبداری هم مه کوه ، نوداٰثِمًا اوکفورا منځ کښی چه او راغلی دی لومعنی دالشوه چه داحدهما تعبداری مه کوه بلکه ددواړو تبعداری مه کوه ځکه چه آثِمًا هم نکره ده اوکفورهم نکره ده اولکره چه په سیاق دنفی کښی راشي عموم پیداکوي یعنی دیوهم تعبداري مه کوه. حتی لوقال لاأُكَلِّمُ هذا اوهذا که یوسړي قسم اوکړلو چه زه به خبری له کوم ددده سره اوددده سره هم يحنَثُ اذا كلّمَ احدهما داسړی به حالثيږي که يوددی دواړو سره لی خبری وکړی ، ځکه مقصدعموم دی لکه مخکښی مودقرآن کريم آيت مبارکه هم ذکرکړو. لکه څنګه چه او په نفی کښی دعموم لپاره راځی همدارنګه کله کله په اثبات کښی هم دعموم لپاره راځی، که يوطالب بل ته اووائی ( جالِسْ ابن سيرين اوالحسن البصری ) يعنی ابن سيرين ياحسن بصری سره کينه ، لوکه دواړو سره کيناستولودېره ښه ده اولوزعلی لورخبره ده. يايواستادطالب ته وائی ( جالِسْ المحدثين اوالفقهاء) يعنی دفقهاؤيادمحدثينومجلس کښی کينه، نوکه هغه طالب ددواړو په مجلس کښی کيني لوهم صحيح ده، لومعلومه شوه چه او په اثبات کښی هم دعموم لپاره استعماليږي. وفی الاثبات يتناول احدهما مع صفة التخييراوپه اثبات کښی هم کلمه داو داحدهما لپاره وضعه ده لکن سره دصفت دتخيرله يعنی اختيارپه تعين کښی وي كقولهم خذهذا اوذلك لکه دا قول ددوئ چه داواخله باهغه ، لوپدی صورت کښی اختيارثابت دی په احددی دواړو کښی له په جمعيت ددی دواړو کښی. ومن ضرورة التخييرعموم الاباحة هرکله چه په کلمه داو کښی تخييرراغلی نوهرفردتاله مباح دی. قال الله تعالی الله تعالی فرمائی چه قسموله مه خوری لکن که يوسړي قسم اوخوړو اوبيا لی مات کړو لوکفاره لی څه ده ؟ اصل کښی قسم په دری قسمه دی ١- يمين لغوه: هغه له وائی چه يوسړی بغيردقصدله اووائی (والله) ، لوپدی صورت کښی مواخذه نشته. ٢- يمين غموس: دېته وائی چه قصداً په دروغوقسم اوخوری، دا ډيرلوی اوخطرناك قسم دی اوددی قسم خوړونکی له به په دوزخ کښی غوپی ورکولی شي ځکه دالله تعالی مبارك لوم لی په دروغوکښی استعمال کړو. ٣- يمين منعقده دی: هغه قسم له وائی چه يوسړی په

Maktaba Tul Ishaat.com

نوکفاره به ورکوي اوهغه اینده زمانه کښي دیوکارنه قسم اوکړي اوکه داقسم ئې مات کړو نوکفاره به ورکوي اوهغه داکفاره ده. فکفّارتُهُ إطعامُ عشرة مساکین من اوسط ماتطعمون اهلیکم اوکسوتُهم اوتحریرُرقبۃٍ طعام ورکول دي لسومسکینانوته دوه تیمه هغه دوډئ چه درمیانه تاسوخپل اهل ته ورکوی، یابه لسومسکینانوته یوه یوه جوړه جامه ورکول وي ، اویایوه رقبه ازادول دي، نودی درې واړو کښي چه هرشئ ورکړی غاړه ئې خلاصه شوه. وقدیکون اوبمعنی حتی اوکله کله او په معنی دحتی سره هم راځی ، که د اونه پس چیرته مضارع منصوبه وه نوهلته کښي واو به معنی دحتی دی اوحتی مضارع ته نصب ورکوي. قال الله تعالی الله تعالی فرمائی، مثال بیانوي لیس لك من الامرشئ اویتوب علیهم یعنی نشته تاله دامراودتصرف نه څه شئ تردی چه الله تعالی ددوئ توبه قبوله کړي، دلته کښي او په معنی دحتی سره دی یعنی حتی یتوب علیهم دأحد په جنګ کښي درسول الله ﷺ غابس مبارك شهید شو اوتندی ئې هم زخمي شو، نوپیغمبرعلیه السلام اوفرمائل چه هغه قوم به څنګه نجات حاصل کړي چه دپیغمبرعلیه السلام مخ (مبارك) زخمي کړي، اوقریبه وه چه رسول الله ﷺ ورته خیری هم کړی وائی، نوالله تعالی دامذکوره آیت مبارکه نازل کړو اورسول الله مبارك ته ئې خطاب وکړو چه صبراواستقامت نه کاراخله ، اودوی ته خیری مه کوه کیدای شي دوئ یاددوئ په اولاد کښي څوك مسلمان پیداشي. قیل معناه حتّی یتوب علیهم چاویلی چه ددی آیت( اویتوب علیهم) معنی حتی یتوب علیهم دی. قال اصحابنا زمونږه علماء احناف وائی. لوقال لاادخل هذه الدار او ادخل هذه الدار که یوسړي قسم اوخوړو چه زه به نه داخلیږم دی کورته ترڅو چه دی بل کورته نه یم داخل شوی، داو نه پس د ادخل داصیغه منصوبه ده نوموږته دقاعدی مذکوری مطابق معلومیږي چه داو په معنی دحتی سره دی، نواصل کښي دی(حتی ان ادخل) ، اوچه چیرته په معنی دحتی سره وي نوهلته کښي به (ان) مقدروي او (آنْ) مقدره باندی دفتحی نبه ده په اخرد کلمی کښي. اوبمعنی حتی حتی لودخل الاولی حنث نوپدی صورت کښي اوبه معنی دحتی سره دی تردی که اولنی کورله داخل شواولاً نوحانث شو، ځکه ده شرط لګولی وو چه اول به دویم(ثانی) کورله داخلیږم اوبیا به اولنی کورله داخلیږم اوده ددی عکس

کاروکړو نوقسم نی مات کړو اوحانث شو. **ولودخل الثانیة اولاً برّفی یمینه** اوکه دویم کورته داخل شواولاً نوداسړی بیا په خپل قسم کښې رښتونی دی اوحانث ندی. **وبمثله** اوددی پشان باندی دامثال هم دی. **لوقال لاافارقك اوتقضی دیْنِی** یعنی(اَن تقضی دینی) ، په تقضی کښې دی فتحی دلالت وکړو چه (اَنْ) مقدردی، که یوسړي خپل مقروض اونیولو او ته ... پریږدم ترڅو پوری چه زما قرضه ادانکړی، نوکه ده ورته قرضه ورکړه اوبیانی پرېښود نوحانث به نوي لکن که هسی نی پرېښود نوحانث دی ځکه بغیرد اداءګئ دقرض نه نی پرېښود اواداء دقرض نی دقسم لپاره شرط لګولی وو نودا سړی حانث دی. **یکون بمعنی حتّی تقضِی دیْنِی** نودا په دی معنی شو چه تردی چه ته ماته زما قرض راکړی.

**فصل** : فصل دی په بیان دحتی کښې. **حتی للغایة کإلی** حتی راځی دغانی لپاره ځکه ځنګه چه الی دغانی لپاره راځي، حتی نی اوپسی راوړو ځکه اوکله ناکله په معنی دحتی باندی راځي، نواوس حتی درته بیانوي. **فاذا کان ماقبلها قابلاً للامتداد** که چیری ماقبل دحتی قابل دامتداد وي، یعنی چه هغی کښې اوږدوالی راتلی شي. **ومابعدها یصلح ایةً له** اومابعددحتی صلاحیت دغایت دامتداد لري. **کانت الکلمةُ عاملة بحقیقتها** داکلمه دحتی به عمل کوي پخپله معنی کښې چه هغه خالصه غایه ده، یعنی بیابه نی معنی دغانی وي. **مثاله ماقال محمد** ددی مثال امام محمد رحمة الله علیه ذکرکړیدی. **اذا قال عبدی حرّان لم اَضربكَ حتی یشفع فلان** زما دا غلام به ازاد وي که ته می ونه وهلی تردی چه بلانکی شفارس وکړي. **اوحتی تصیح** اویاتردی چه چیغی دی ځوپوری نوي ویستی. **وحتی لشتکی بین یَدَیّ** اویا تردی چه فریاد وکړی زما مخ کښې **اوحتی یدخلُ اللیلُ** اویا تردی چه شپه داخله شي، یعنی ترشپی پوری به دی وهم. **کانت الکلمةُ عاملةً بحقیقتها** نوکلمه دحتی به په خپله معنی حقیقی کښې مستعملیږي، حتی دغانی لپاره ده ځکه مخکښې کلام چه ضرب دی دا امتداد لري، کله ناکله یوسړی په بل سړي باندی وهل شروع کړي نوتراوږد وخت پوری نی وهي ، امیة به حضرت بلال رضی الله عنه تولہ تولہ ورځ وهلو، نومعلومیږي چه په ضرب کښې امتداد راځي، اودروستنی خبری غایة هم صحیح

کیږي ځکه صلاحیت دغایی لري کله ناکله یوسړی خپل ماشوم تردی پوری وهي څوپوری لی چه ژړلی نوي، بعضی هلك دپرکلك وي هرڅومره لی چه اووهی نونه ژاړي لوډېلار غوصه لی لوره هم سوا شي اوزیات لی اووهی. همدارنګه عکس ذدی خبری بعضی هلك ډېرچغن وي چه محض لاس ورلزدوکړی لوچغی کړي نوبیا لی زر پرېږدي اوله لی وهي ځکه زره لی پری وسوځي. لان الضرب بالتکرار یحتمل الامتداد ځکه ضرب په تکرار سره احتمال دامتداد لري. وشفاعة فلان وأمثلتها تصلح غایةً للضرب اوشفاعت دفلان او امثال دهغی لکه صیاح اشتکاء دا غایة جوړیږي ، کله ناکله لوئ سړی سفارش وکړي چه خیردی پرېږده. فلوامتنع من الضرب قبل الغایة حنث اوکه وهل لی بند کړل مخکښی دغایی نه یعنی چا سفارش هم ندی کړی چغی لی هم ندي وهلی اوشکایت لی هم ندی کړی اوشپه هم نده راغلی لکن وهل لی بند کړل لوحانث کیږي به. اوس بل مثال بیانوي. ولوحلف لایفارقُ غریمه حتی تقضیه دینه که یوسړي قسم اوخوړو چه زه به خپل مدیون نه پرېږدم ترڅو می چه تری خپل قرض اخستی نوي، لوکه هغه قرض ورکړو اوبیا لی پرېښود لولدی حانث. ففارقه قبل قضاء الدین حنث اوکه ده هغه خپل مدیون داداء دقرض نه مخکښی پرېښودو لوحانث شولو، حتی دغایی لپاره راځي اودا دحتی خپله حقیقی معنی ده. فاذا تعذر العملُ بالحقیقة لمانعٍ کالعرف که یوځای کښی عمل په معنی حقیقی دحتی بالدی متعذره شوه دمانع دوجهی نه هغه مانع لکه عُرف عام یا عُرف خاص ، لوبیاپه هغه صورت کښی به دحتی معنی دغایی لوي بلکه ماقبل به سبب اومابعد به مسبب شي. دحتی دېراحوال دي اوپوره بدلون راولي لکه لفحة العرب کښی فراء والی ( اموتُ وفی نفسی من حتی) یعنی مربه شم خوپه زره کښی به دحتی ارمان یوسم ، دحتی مذهب له معلومیږي کله دحتی نه پس منصوب راځی، کله مرفوع راځي، کله مجرور راځي لکه یوسړی والی( اکلتُ سمکة حتی رائسها) لودا راسها په سمکة بالدی معطوف دی ځکه مفعول به دی لوحتی په معنی دواو شو( اکلتُ سمکة ورائسها) یعنی ماهي اوسرهی دواړه خوړلی وو، لودلته کښی منصوب شو. مرفوع هم راځي ( اکلتُ سمکة حتی رائسها) ځکه چه دا (رائسها)مبتداء دی اوخبرمحذوف دی یعنی ( اکلتُ سمکة حتی رائسها ماکولٌ ) یعنی تردی

چه سرنی هم خوړلی شوی وو. اومجرور هم راځي ( اکلتُ سمکة حتیٰ رأسِها ). اوس مصنف علیه الرحمة مثال بیانوي. **کمالوحلف ان یضربهُ حتی یموت اوحتی یقتله** که یوسړي قسم اوخوړلو چه والله فلانی به وهم تردی چه مړشي اویا تردی چه مړنی کړم، ( حتی یقتلهُ معنی دی حتی أقتلهُ ) نوپه عرف کښي دحتی یموت معنی داده چه سم به وهمه یعنی مرګ ته به نی قریب کومه، حقیقی مرګ تری مراد ندی ځکه حقیقي مرګ په ضرب سره نه راځي، نوپدی صورت کښي چه شدیدنی ووهلو اوبیا ئی پرینبود نوسړئ نه حانثیږي ځکه چه حتی یموت کښي دا یموت غایة نده بلکه دا مسبب دی. **حُمِلَ علی الضرب الشدید باعتبارالعرف** نوحمل کولی به شي په ضرب شدید سره ځکه په عرف کښي موت اوقتل کله کنایة وي دضرب شدید نه ، لکه پښتانه وائی پلانی سړي خوخپل بچئ مړکړو معنی دا چه ډیرئی اووهلونوډیرو وهلوته په عرف کښي موت ویل کیدای شي. **وان لم یکن الاوّل قابلاً للامتداد والأخِرُ صالحًا للغایة** که دحتی نه مخکښئ تکی دامتداد قابل نوي اودحتی نه روستونئ تکی قابل للغایة وي یعنی انتهاء پکښي راتلی شي یاعکس وي ماقبل دحتی کښي امتداد وي اومابعدکښي غایة نوجوړیږي .حتی چه په خپله معنی حقیقی کښي راځي نودوه خبری ضروري دي، یوه دا چه دحتی نه به ماقبل کښي امتداد وي(اوږدوالی به پکښي راتلی شي) . دویمه داچه دحتی نه مابعد به دغائی صلاحیت لري، نوکه دواړه نوو یا احدهما نوو نوبیاحتی په خپله معنی حقیقي ندی. **وَصَلَحَ الاول سببًا والاخرجزاءً** نواول سبب جوړیدی شي اواخرجزاء. **یحمل علی الجزاء** بیانوماقبل دحتی به سبب وي اومابعد دحتی به جزاء وي یعنی مسبب به وي، اومشارکت نی موجود دی ځکه معطوف اومعطوف علیه کښي هم یوه نوعه دتغانرشته اوسبب اومسبب کښي هم یوه نوعه دتغانرشته ځکه سبب علة وي اومسبب حکم اواثرمرتبه وي. **مثاله ماقال محمد** دهغی مثال به داسی وي کوم چه امام محمدصاحب ذکرکړیدی. **اذا قال لغیره عبدی حرٌ ان لم اٰتِك حتی تُغَدِّیَنی** که یوسړي بل سړي ته اوویلی چه زما غلام دی ازاد وي که زه تاته رانغلم اودغرمی ډوډی می تاسره ونخوړه، دزوال نه مخکښي ډوډی خوړلو ته غدی وائی اودزوال نه پس ډوډی خوړلو ته عشاء وائی اودسهاردچئ سره ډوډی خوړلوته

فطورواني اوفطور ورته څکه واني چه سړئ خوتوله شپه روژه وي اودسهاريه چئ سره روژه ماتولي شي. يعني لازم به راځم اوتاسره به ډوډئ خورم که داسې مې ونکړل نوزما غلام دی ازاد وي يا په ماباندی دی ښخه طلاقه وي يعني تعليق بالحريت يا تعليق بالطلاق نې وکړو. **فاتاه فلم يغده لايحنث** پس دغه سړئ ورته راغی لکن ډوډئ نی ورسره ونخوړه نونه حانثيږي ، څکه دا غانه نده که غانه وي بيابه حانثيږدو. **لان التغدية لايصلح غايةً للاتيان** څکه چه تغديه دا صلاحيت دغاني نلري لپاره داتيان، څکه تغديه خويوقسم سبب اواحسان دی او احسان خواحسان راکاګي څوك چه چاسره احسان وکړي نوهغه ورته په منډه راځي نوداسبب دانتهاء نه ګرځي بلکه داخوسبب دوصال ګرځي. **بل هوداعٍ الی زيادة الاتيان** بلکه دا تغديه داعی ده دزيادت اتيان لپاره څکه تغديه احسان دی. **وصَلَحَ جزاءً فيحملُ علی الجزاء** اودا صلاحيت دجزاء لري نوجزاء ترې مراد شوه. **فيكون بمعنی لامِ كَئ** نوېدی صورت کښې حتی په معنی د(کئ) سره شوه يعنی کئ تغديتَنِیٓ يا کئ تُغَدِّيَنِیٓ - يعنی دی لپاره راځم چه ته دغرمی ډوډئ ماته راکې يا دی لپاره راځم چه دغرمی ډوډئ درسره وخورم. **فصاركما لوقال** نودا داسې شولکه يوسړی بل ته واني **ان لم اٰتِك اِتياناً جزاؤه التغديةُ** که زه تاته رانغلم په داسې راتګ سره چه دهغې بدل دغرمی ډوډئ وي، نودا بيا سبب اومسبب شو، غاية نشوه. **اذا تعذّر هذا** که يوځای کښې سبب اوجزاء نه جوړيږي يعنی نه غاية جوړيږي اونه سبب اومسبب جوړيږي. **بان لايصلح الاٰخِرُجزاءً للاوّلِ** پداسې طريقی سره چه مابعددحتی صلاحيت دجزاء نلري لپاره دماقبل دحتی. **حُمِل علی العطف المحض** نوېدی صورت کښې به په عطف خالص محمول کولی شي، يعنی بيابه نوغايه وي اوسبب اومسبب به نوي بلکه په معنی دعطف خالص سره به وي لکه يوطالب والی ( مات كلُ ابٍ لی حتی ادم) نودا ادم نه غايه ده اونه جزاء ده نودا په معنی دعطف سره دی. يابوطالب والی( مات کل الناس حتی الانبياء) نوحتی الانبياء کښې انبياء نه غايه ده اونه جزاء ده نوعطف دی يعنی ( مات الناسُ والانبياء ). **مثاله قال محمدٌ** اوددی مثال هغه دی کوم چه امام محمد صاحب ذکرکړيدی. **اذا قال عبدی حرٌ ان لم اٰتك حتّی الغدی عندك اليوم** که يوسړي قسم اوخوړلو او وويل چه زما غلام به ازاد وي که زه تاته

راغلم تردی چه زه ډوډۍ وخورم تاسره نن ورځ، دلته کښې داحتی په معنی دواو دی ( وانغدی عندك اليوم ) یا داسی اوویل وان لم تأتِنِیْ حتی تغدّی عندی الیومَ که تاما سره راغلی تردی چه ماسره ډوډۍ وخوری نن ورځ فاتاه فلم يتغدّعنده في ذلك اليوم حَنَثَ نودی راغلو لکن هغه ورځ ئی ورسره ډوډۍ ونه خوړله نو حانث شو، یعنی په اول صورت کښې متکلم راغلولکن ډوډۍ ئی ورسره ونه خوړله یا په دویم صورت کښې مخاطب راغلو لکن په هغه ورځ ئی ډوډۍ ورسره ونه خوړله نوحالِف حانث شو. وذلك لانه لما أُضِيفَ كل واحد من الفعلين الى ذات واحد اودا تعذردحمل په جزاء باندی خکه دی هرکله چه منسوب کړو هريودواړو فعلينوته چه اتيان اوتغدی دی ذات واحد ته، مخکښی(اولنی) صورت کښی دواړه فعلونه يوتن ته متوجه دي يعنی داسی ئی ويلي وو( عبدی حرٌ ان لم اتك حتی اتغدی عندك ) نواتيان اوتغدی دواړه متكلم ته منسوب دي، نويوسړي ته چه د دوه فعلينونسبت وشي نودهغه يوفعل قطعاً جزاء نه ګرځي دهغه دشرط لپاره ځکه شرط بيل وي اوجزاء بيله وي. همدارنګه په روستوني(دويم) صورت کښی دواړه فعلونه مخاطب ته منسوب دي. لايصلح ان يكون فعلُه جزاءً لفعله ځکه ديوسړي يوفعل صالح دجزاء لپاره دفعل دهغه نه ګرځي، ځکه دانشي کيدای چه يوانسان دی يوفعل وکړي هم اوبيا دی نه هم کوي. فيُحملُ على العطف المحض نوحمل شوبه عطف محض (خالص) باندی اوپه عطف کښی داجائزه ده چه معطوف دی دمعطوف عليه نه جزء وي. فيكون المجموع شرطاً للبّر دا دواړه خبری شرط دي لپاره دبری کيدو ددی سړي، يعنی چه دا دواړه کاره به کيږي نوهله به نه حانثيږي چه هغه دواړه کارونه ( تغدی اواتيان دي). لکه يوسړی اووائی ( اسلمتُ کیْ اَدْخلَ الجنة ) مادی لپاره اسلام راوړيدی چه زه جنت ته داخل شم نودخول دجنت دا دانسان په اختيارکښی‌ندی، داسی به نه وائی چه دا ناجائزدي بلکه داسی ويل پکاردي(اسلمتُ کیْ اُدْخلَ الجنة ) مادی لپاره اسلام راوړيدی چه زه جنت ته داخل کړی شم ، ځکه جنت ته ادخال دادالله تعالی کاردی، وعلی کل حال، خلاصه دادی چه دحتی دری(۳) معنی شوی که يوځای کښی دحتی نه ماقبل قابل دامتداد وو اودحتی نه مابعدغايه ګرځيده نوپدی صورت کښی حتی دغانی لپاره دی‌لکه الله تعالی

Maktaba Tul Ishaat.com

فرمائی ﴿ وَكُلُوْا وَاشْرَبُوْا حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْاَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْاَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ثُمَّ اَتِمُّوا الصِّيَامَ اِلَى الَّيْلِ۰۰۰ الآية ﴾ (البقرة / ۱۸۷ ) نوماقبل دحتی کښې امتداد راځي، ځکه بعضی سري پوره تیم اخلی په روتی خورلواوچښ ځکلوباندی، نوپه اکل اوشرب کښې امتداد راځي، نوالله تعالی وانی کلوا وشربوا یعنی خورئ اوڅکئ حتی یتبین لکم الخ دا دهغې غاية شوه ځکه حتی دغاني لپاره دی اوس دلته کښې خوراك اوڅکاك بندشو. یالکه الله تعالی وانی ﴿ فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ وَاَيْدِيَكُمْ اِلَى الْمَرَافِقِ﴾ الله تعالی فرمائی چه مخونه اولاسونه اووینځی ترڅنګلوپوری، لاس کښې امتداد نشته ځکه ګوتونه ترمټ پوری دی تول ته لاس ویل کیږي، نودلته کښې الی هم غایه شوه، حتی اوالی دلته کښې تقریباً په یوه معنی کښې مستعملیږي اومابعدمرفق دغسل نه خارج شو، اوکه ماقبل دحتی کښې امتداد نوو اومابعددحتی کښې صلاحیت دغانی نوو، یاماقبل کښې امتداد وو لکن ما بعدکښې غایه نه جوړیده ، یاعکس ددی چه مخکنی کښې امتداد نوو اوروستونی(مابعد) کښې غایه جوړیده . یا پدی صورتونوکښې به ګورو که ماقبل دحتی سبب جوړیږي نومابعددحتی به بیا جزاء وي لکن که نه غایه جوړیده اونه سبب مسبب جوړیدوبیابه حتی په معنی دعطف باندی وي، لکه ( مات کلُّ ابٍ لی حتی ادمُ ) ادم به مرفوع وي ځکه دلته کښې دا حتی په معنی د واو دی یعنی وادمُ ځکه دادمُ دماقبل لپاره غایه نده ادم خودتولونه مخکښې مړدی اوغایه بعدالمغیاً وي نوپدی صورت کښې حتی دغانی لپاره نه صحیح کیږي اوسبب مسبب هم نه جوړیږي چه ګویا دمخکنودامرګ داد ادم دمرګ لپاره سبب شو، نودلته کښې حتی په معنی دواو دی۰ همدارنګه خبره ده پدی قول دسري کښې چه ( مات الناس حتی الانبیاء)۰

**فصلٌ** : فصل دی په بیان دالی کښې ، دحتی نه مخکښې تول حروف عاطفه وواودحتی نه پس تول حروف جاره ذکرکوي نوحتی نی ورته ځکه په مابین کښې ذکرکړو چه حتی ذو وجهین دی اوبل حتی واسطه ده بین الحروف العطف والحروف الجارة ځکه حتی په حروفوعاطفه وو کښې هم راځي اوپه حروفوجاره وو کښې هم راځي، او إلی صرف جاره دی اوپه حتی پسې نی ځکه متصل ذکرکړوچه إلی په غایه کښې دحتی سره شریك دی۰ الی

**لانتهاء الغاية الي راخي** لپاره دانتهاء دغائی **ثم في بعض الصُوَر يفيدمعنی امتدادِالحکم**

پس کله که به لفظ دإلی په بعضی صورتونوکښی فائده کوي معنی دامتداد دحکم، یعنی حکم به راکاګي. **وفی بعض الصُور يفيدمعنی الاسقاط** اوپه بعضی صورتونوکی به معنی داسقاط راولی اوحکم به غورځوي **فان افادالامتداد لاتدخُلُ الغايةُ فی الحکم** که صرف دإلی دامتداد لپاره راغلی وو نوبیا به غایه په حکم دمغایه کښی نوي داخله لکه الله تعالی فرمائی﴿ ثُمَّ اَتِمُّوْا الصِّيَامَ اِلَی الَّيْلِ﴾ نوصوم خوپه لغة کښی مجرد امساك ته وائی برابره خبره ده چه امساك عن الکلام وي اوکه امساك عن الطعام وي، پخوا زمانه کښی به چاسره خبری نه کول هغی ته به هم صوم ویل کیدائی شولکه قرآن دبی‌بی مریمی بیان کوي﴿ فَقُوْلِیْٓ اِنِّیْ نَذَرْتُ لِلرَّحْمٰنِ صَوْمًا فَلَنْ اُکَلِّمَ الْیَوْمَ اِنْسِیًّا ﴾ (سورة مریم، الآیة: ۲٦ ) یعنی دهیڅ یوانسان سره به خبری نکوم مګرکه پرشته راغله نوخبری به ورسره کوم ، اوپه‌اصطلاح دشرعی کښی صوم وائی (امساك عن المفطرات الثلاث الاکل والشرب والجماع) نوامساك خویومنټ امساك ته هم وائی لکه مونږه فی الحال نه خوراك کوو اونه څکاك کوو نوزمونږه امساك فی الحال موجوددی نودلته کښی ( ثم اتموا الصيام إلی الليل ) دی، إلی فعل ته امتداد ورکړو ، یعنی چه دا امساك دی ستاسوممتد وي إلی الليل دشپی پوری نوشپه امساك کښی ندی داخله اوورځ پکښی توله راغله نو په امساك کښی امتداد والیُ د الی لوجهی نه ظاهر شو نوپدی صورت کښی امتداد راغلونوغایه چه شپه ده هغه په حکم دامساك کښی داخل نشو. **وان افادالاسقاط تدخُلُ** اوکه مقصداسقاط وي نوبیا داخلیږي لکه الله تعالی وائی ( فاغسلوا وجوهکم وایدیکم الی المرافق ) نود یَدٌ اطلاق دمن رؤوس الاصابیع الی الاباط تول باندی کیږي ، نوکه کلمه دالی داسقاط لپاره راغلی وي نوبیامابعددالی به په حکم دماقبل کښی داخل وي پدی صورت کښی حکم دماقبل غسل دی نود مرفقینو حکم هم غَسل دی. نودلته کښی کلمه دالی ددی لپاره راغله چه حکم دفاغسلو دمرفق دمابعدنه ساقط دی، نوکلمه دإلی پدی آیت کښی داسقاط لپاره شوه نوبیا غایه په حکم دمغیاً کښی شریکه شوه نوحکم خوغَسل وو نومرفقین به هم وینځلی شي په اودس کښی. اوس نظائرذکرکوي اوفرمائی چه **نظيرالاول** اونظیرداول صورت چه کوم خای کښی إلی

دامتداد لپاره وي اشتريتُ هذا المكان الى هذا الحائط يوسړی اووائی چه ما داکورواخستوتردی ديوال پوری لاتدخلُ الحائط فی البيع داديوال په بيع کښی داخل نشوځکه دمکان اطلاق په اقل اواکثرتولوباندی کيږي، نوپدی صورت کښی کلمه دالی دامتداد لپاره ده نومابعددإلی په حکم دشراء کښی ندی داخل٠ ونظيرالثانی اونظيردديم صورت چه الی داسقاط لپاره وي٠باع بشرط الخيارثلثة ايّام خرخول دي په شرط خيارسره ددريو ورځو لپاره، مثلا يوسړئ ووائي داشئ درباندی خرخوم لکن دری ورځی به ماته اختياروي، يايومشتری ووائی چه داشئ درنه اخلم لکن دری ورځی به ماته اختياروي، نودلته کښی إلی داسقاط دماوراء لپاره ده نودريمه ورځ هم په خيارکښی داخله شوه نوکه دريمه ورځ نی هم خوخه نشوه نومبيعه واپس کولی شي ځکه چه کله کلمه دإلی داسقاط دماوراء لپاره راشي نوغايه به داخله وي په حکم دمغيّا کښی وبمثله لوحلف لاأُکلِّمُ فلانا الی شهرٍ کان الشهرداخلاً فی الحکم اوپه مثل ددی نظيرمذکوره سره اسقاط لپاره به بل نظيرهم درته وښايم که يوسړي قسم اوکړلوچه زه به دپلانکی سره يوه مياشت خبری نکوم نوداتوله مياشت په حکم کښی داخله ده٠ وقدافادفائدة الاسقاط هٰهُنا اوفائده داشوه چه که دمياشتی نه زيات وخت وشو نوبيا خبری ورسره کوی شي٠ وعلی هذا قلنا اوبناء پردی باندی چه غاية لپاره داسقاط دی مونږه وايو٠ المرافق والکعب داخلان تحت حکم الغسل فی قوله تعالٰی الی المرافق چه مرفق اوکعب دواړه داخل دي په حکم دغسل کښی له وجهی دقول دالله تعالی نه چه( فاغسلووجوهکم وايديکم الی المرافق وارجلکم الی الکعبين ) لان کلمة الی هٰهنا للاسقاط ځکه کلمه دالی دلته کښی داسقاط لپاره ده، چه دغسل ديدحکم داسقاط دی دمرفقونه اخوا، نومرفق په حکم دغسل کښی داخل شو٠ همدارنګه وارجلکم الی الکعبين اوتاسوبه وينځی خپی ترخنګروپوری نوکعبين په حکم دغسل کښی داخل دی٠ اودا عبارت داسی پکاروو چه( المرفق والکعب داخلان تحت حکم الغسل فی قوله تعالی الی المرافق والی الکعبين الخ) ځکه مخکښی نی دوه خبری ذکرکړی المرفق والکعب نودمرفق لپاره خونی دليل راوړو لکن دکعبين لپاره نی دليل ذکرنکړو نودانی دطالب په فهم باندی پرينښود نودا به ورپسی مونږدځان نه ولګوو٠ فانه

**لولاه لاستوعبتِ الوظيفةُ جميع اليد** ځکه شان دادی که دالی المرافق تہکی نوی نوراګیرکړی به وو وظیفی دغسل تول لاس(من رؤس الاصابع الی اخرالاباط) نوکه صرف فاغسلووجوهکم وایدیکم وای نوبیا به موټول لاسونه وینځل دی وجهی نه به ابوهریرة رضی الله عنه لاسونه ترمټونوپوری وینځل چه بلکل وچ خای پکښی پاتی نشي. نوصرف داکمال دإلی دی چه حکم دغسل ئی دماوراء دمرفق نه ساقط کړو. **ولهذا قلنا** اوودی وجهی نه مونږه وایوالرکبةُ **من العورة** چه زنګنونه هم عورت دی **لان کلمة الی فی قوله عليه السلام عورةُ الرجل ماتحت السُرّة الی الرکبة تفیدفائدة الاسقاط** ځکه کلمه دإلی پدی قول دنبی علیه السلام کښی چه(عورةُ الرجل ماتحت السرة الی الرکبة) فائده کئے اسقاط دماوراء دغایی، یعنی دا غایه ده ماوراء دحکم نه خارجوي. **فتدخل الرکبة فی الحکم** نورکبة په حکم دسترکښی داخله شو اوهغه وجوب دستردعورت دی په صلوة اوغیردصلوة کښی. **وقدتفیدکلمةُ الی تاخیرالحکم الی الغایة** اوکله کله کلمه دالی فائدة کوي تأخیردحکم غائی ته چه کله دا إلی په زمان باندی داخله شي. **ولهذا قلنا** اوودی وجهی نه چه الی تأخیرافاده کوي **اذا قال لامرأته انتِ طالِقٌ الی شهرولانیّة له** هرکله چه خاوندخپلی ښځی ته اوواٸی (انتِ طالق الی شهر) اوده نیت دطلاقونوی کړی، دلته کښی مصنف دولانیة قیدولاګاوه ځکه چه که دی سري پدی الفاظوسره چه انت طالق الی شهرالخ نیت دتنجیزکړی وي نوبیا خوفی الحال طلاق واقع شواوروستوالفاظوچه الی شهردا لغوه شو. **لایقع الطلاق فی الحال عندنا** پدی صورت کښی زمونږه په نزد باندی فی الحال طلاق نه واقع کیږي بلکه بعدالشهربه واقع کیږي ځکه چه کلمه دالی دامتداد دزمانی لپاره راغلی ده. **خلافا لِزُفَرَ لان ذکرالشهرلایصلح لمدّالحکم والإسقاط شرعاً** امام زفرصاحب خلاف کئے ځکه هغه وائی چه ذکردشهردلته کښی صلاحیت دامتداد دحکم اواسقاط شرعی نلري، ځکه طلاق نې دزمانی سره ندی معلق کړی، نوپدی صورت کښی طلاق فی الحال واقع شو. اوکه چیرته ئی تعلیق کړی وای او ویلی ئی وائی چه ( انتِ طالِقٌ إنْ طلع الشهرُ یا إنْ طلع الهلالُ ) نوبیا به طلاق بعدالشهرواقع کیدو، نوامام زفرصاحب وائی چه پدی صورت کښی عمل ممکن ندی اوکلمه د الی تأخیرنه غواړي. **والطلاقُ**

Maktaba Tul Ishaat.com

یحتملُ التاخیربالتعلیق اوطلاق احتمال دتاخیرلري که چیرته ئی تعلیق کړی وای ، که دربیع الثانی اوداسی ئی ویلی وای چه ( ان طلع هلال الربیع الثانی فانت طالقٌ ) نو دی صورت کښی خوتعلیق ندی میاشت اوخته نوبیا ته طلاقهٔ ئی نوبیا صحیح وه، اوپه دی صورت کښی خوتعلیق ندی موجود فیحملُ علیه نوکه احتمال دتعلیق لري نوبیا به ئی په تعلیق محمول وي چه کلام دالغاء نه بچ پاتی شي.

فصلٌ : فصل دی په بیان دکلمی دعلی کښی کلمةُ علی للالزام کلمة دعلی دلزوم لپاره راځي. واصله لافادة معنی التفوُّق والتعلّی: اولغوی معنی ئی تفوق اوفوقیت دی اوهمدارنګه دتعلی اوعلولپاره هم راځي، تفوق په دوه قسمه ده - (۱) تفوق حسی: تفوق حسی دیته وائی چه په حواسو سره دهغه فوقیت معلومیږي، لکه یوسړی چه دچت(بام) په سرولاړوي نوموږته په حواسوسره معلومیږي چه هغه دچت په سرولاړ دی یا لکه (زیدٌ علی الفرس)زیدداس په شاباندی ناست دی، نودافوقیت علی ظهرالفرس په سترګوباندی لیدی شي. (۲) تفوق معنوي: تفوق معنوی دیته وائی چه هغه کښی مرتبتاً فوقیت وي لکن په سترګو(په حواسوسره ) نه معلومیږي لکه یوسړی وائی چه( فلانٌ علینا امیرٌ) پلانکی په موږباندی امیر(مشر) دی نودمشرخویقیناً په کشرانوباندی فوقیت وي ، په سترګونه لیدل کیږي لکن مرتبه کښی ورباندی اوچت وي، یالکه یوسړی وائی (زیدٌعلی القوم رئیسٌ) زیدپه خپل قوم باندی مشردی، نودلته کښی فوقیت معنوي دی. ولهذا اوددی وجهی نه چه کلمه دعلی کښی تفوق اوتعلی اوالزام دی لوقال لفلان عليَّ الفٌ یحملُ علی الدین که یوسړي اووائی دپلانکی په ماباندی زر روپی دي نوددینه مراد قرض دی ځکه داقرض په سړي باندی بره سوروي، پښتانه وائی پلانکی باندی دومره قرضونه دي چه ملانی ورته ماته کړه نوملاخوپه بارماتیږي. نوقرض د بارنه هم ډیردروندداوثقیل وي. بخلاف مالوقال عندی اومعی اوقبلی په خلاف ددی قول دسړي باندی چه اووائی ( لفلان عندی الف یا لفلان معی الف یا لفلان قبلی الفٌ ) قبل جانب ته وائی نوپدی صورتونوکښی به بیا مراد دین نوي بلکه دینه به مراد امانت وي ځکه کلمه دعندی اوکلمه دمع اوکلمه دقبل دادتفوق لپاره ندي موجود. وعلی هذا اوبناء پردی باندی چه کلمه دعلی دلزوم ، فوقیت

اوتعلي لپاره ده قال في السيرالكبير امام محمد ويلي دي په سيرکبيرکښې اذاقال راسُ الحصن اٰمِنُوني من اهل الحصن که چيرې اووائې سردار(رئيس) دقلاماته امن راکړئ سره دلسوهغوکسانوچه زه په هغوی سرداريم يعنې دوئ زما ماتحت دي. ففعلنا فالعشرة سِواه اومونږه ورته اوويل لك الامان نوهغه لس کسان به ددې اميرنه سِوا وي خکه کلمه دعلی راغلی نو دئ پرې بره شواوهغوی ترې لاندې شول وخيارالتعين له اوهغه لس به رئيس دکفارومتعين کوي خکه دئ په هغوئ باندې خان فوق گڼي اوهغوی دده ماتحت دي. ددې خبرې خلاصه داشوه چه مثلاً يوه قلا وه اوپه هغې کښې کفاردي اودمسلمانانوهغوی سره جنگ دی اودکفاروامير(صاحب قلا) دمسلمانانواميرته اوويل چه ماته دلسوکسانوسره امن راکړئ اوزه دهغوئ کمانډريم اودمسلمانانوکمانډرورته اووائې چه مونږه امن درکړو نودده سره به نوررلسوکسانوته هم امن وي اواختياربه هم دکافرومشرته وي چه کوم کسان متعين کوي، خکه دلته کښې چونکه کلمه دعلی دتفوق لپاره ده نودده مطلب داده چه زما ماتحت کوم لس کسان دي هغه به هم په امن کښې وي نوچه دئ دهغوی دپاسه شونوانتخاب به نې دئ کوي ، نودا دکلمې دعلی په صورت کښې که کلمه دعلی نوه نوبيا به په هغه صورت کښې دمسلمانانوکمانډرانتخاب کوي چه کوم لس کسان نې متعين کړل هغه به پرامن وي. ولوقال اٰمِنُوني وعشرة اوفعشرةً اوثمّ عشرةً اوکه چيرې نې اوويلی امن راکړئ ماته اولسونوروکسانوته هم اويا نې - ف - راوړه چه فعشرة اويا نې -ثم - راوړه چه ثم عشرة، نوپدې اول صورت کښې چه وعشرة ئې اوويلی نودا نې په خان باندې عطف کړو نومعطوف غيروي دمعطوف عليه نه، مطلب داده چه زه په هغوئ باندې تفوق نلرم بلکه هغوئ زماسره په رتبه اودرجه کښې برابردي نوپدې صورت کښې به دمسلمانانومشرانتخاب کوي چه اميرورته اووائې چه ته دا دا نورلس کسان تا سره په امن کښې دي. همدارنگه که - ف - نې راوړه يا نې - ثم - راوړه نوپدې ټولوصورتونوکښې به دده ماتحت کسان نوي بلکه دده سره به برابرکسان په امن وي اوانتخاب به نې دمسلمانانواميرکوي. ففعلنا فکذلك اودمسلمانانواميرورته امن ورکړو نوپدې صورت کښې به هم دده نه بغيرنورلس کسان هم پرامن وي وخيارالتعين للاٰمن اوخياردتعين به دمسلمانانواميرته وي چه هغه اٰمِن

Maktaba Tul Ishaat.com

دی نه کفاروامیر چه هغه مستأمِن دی خکه چه هغه امیرڅانوَرلَسُ کسان په خان عطف کړل نوهغه هم دده پشان شول، ده لره په هغوئ باندی فوقیت نشته نودانتخاب حق هم نلري.

**وقدیکون علی بمعنی الباء مجازاً** اوکله ناکله علی په معنی د باء سره مجازاً راځي په معاوضاتوکښی، یعنی کوم عقود چه معاوضات وي لکه بیع، اجاره وغیره، بیع خومبادلة دمال بمال ده، اواجاره مبادلة دمال بلمنافع ده نوپدی صورتونو(معاوضاتو) کښی به کلمه دعلی دباء په معنی باندی راځي خکه باء هم دعوض لپاره راځي لکه ( اشتریتُ الکتاب بدرهم) ماکتاب واخستوپه عوض دیوی روپی، نوچه باء همیشه په معاوضاتوباندی داخلیږي نوکه علی هم په معاوضاتوکښی راشي نوپه معنی دباء سره به وي اومجازاً دامعنی چه دواړو کښی مناسبت موجود دی خکه باء راځي لپاره دَالصاق( الباء للالصاق ) اوعلی راځي لپاره دلزوم دالصاق اودلزوم په منځ کښی مناسبت دی خکه الصاق سره لزوم لازم دی نودی وجهی نه دواړو کښی مناسبت موجود شو۰ لکه دشرح مائة عامل مصنف چه دحروفولپاره کومه رومبنی معنی بیان کړی هغه نی معنی حقیقی وي اوچه روستونی ورته په قدیکون سره کومه معنی بیان کړی هغه نی معنی مجازی وي، نودلته کښی دعلی لپاره رومبنی معنی چه لزوم اوفوقیت دی هغه نی معنی حقیقي ده اودویمه معنی چه په قدیکون سره نی بیان کړه چه هغه الصاق دی هغه نی معنی مجازی ده۰ **حتی لوقال بعتُك هذا علی الفِ** تردی که یوسړی اووائی چه داشی دربااندی خرخوم په زر(۱۰۰۰) روپی باندی، دعلی الف معنی دی (بالف) نودلته کښی علی په معنی د باء سره دی۰ **یکون علی بمعنی الباء لقیام دلالة المعاوضة** نوپدی صورت کښی به علی په معنی دباء سره وي خکه دلته کښی دلالت(قرینه) دمعاوضی موجوده ده، خکه دلته کښی لی چه علی الف اووبلی نوالف ثمن دی اوثمن همیشه لپاره به بیع کښی استعمالیږي. اوثمن همیشه لپاره ثمن وي دمبیعی نه. نوعلی به معنی د باء سره شوه۰ **وقدیکون علی بمعنی الشرط** کله ناکله علی شرطي هم راځي یعنی علی به معنی دشرط سره راځي **قال الله تعالی یبایعنك علی ان لایُشرِکْنَ بالله شیئًا** الله تعالی په قرآن مجید کښی فرمائی﴿ یاأیها النبيُّ اذا جاءَكَ المُؤمِنتُ یُبایِعنك علی اَنْ لایُشرِکْنَ باللّهِ شیئا ولایَسرِقْنَ ولایَزنِینَ۰۰۰الآیة﴾(سورة الممتحنة،الآیة:۱۲) یعنی ای پیغمبرعلیه السلام

که تاته راشي مؤمنی ښځی اوستا په لاسوباندی بیعت کوي چه مونږه به بیادالله تعالی سره هیڅ شئ شریك نه جوړوو اومونږه به غلا هم نه کوو اومونږه به دزنا جرم هم نه کوو نوبیا ورسره بیعت وکړه الله تعالی به ورته مغفرت وکړي. نودلته کښی علی ان لایشرکن الخ کښی دعلی دشرط لپاره دی یعنی پدی تولوشرطونوباندی به ورسره بیعت کے، نودی وجهی نه دیته بیعت علی الاسلام وائی. اصل کښی واقعه داسی وه چه دکفارونه به ډیری ښځی راغلی اورسول الله ﷺ سره به ئی عهد وکړو ځکه پته نه لګیده چه بعضی ښځی به جاسوسی وی نودی وجهی‌نه به هغوښځوپه خپلوژبواقرار کولو چه مونږه به نه دالله تعالی سره شرك کوو اونه به غلا کوو اونه به زنا کوو الخ نورسول الله ﷺ به بیا ورسره بیعت کولولکن درسول الله مبارك بیعت به لسانی وو یعنی ښځوبه په ژبه اقرارکولو، اوددی زمانی بعضی برای نام پیران دښځوسره لاس په لاس بیعت کوي اودا حرام کاردی ځکه سړی داجنبی ښځی سره لاس نشی میلاوولی‌خوبیا هم ددی زمانی بعضی پیران ازتکاب دحراموکوي چه اجنبی ښځی سره لاس په لاس بیعت کوي اومرتکب دحراموفاسق وي نوداسے پیران فاسقان دي اوهسی پیران اوصوفیاء کرام بدناموي، یوپیرد خانه کعبی طواف کولواوده ښځی نی دلاسه نیولی وی نوچاورته اوویل چه داستاخه کیږي ؟ هغه ورته وائی چه دازما مریدانی دي نوهغه سړي ورته اوویل چه وشقي(بدبخته) دخانه کعبی خواکښی طواف کوی اواجنبیات دلاس نه نیولی دي داخوارتکاب داحرامودی اوبیا دخانه کعبی خوا کښی حرام کول نورهم زیات جرم دی. رسول الله ﷺ به دښځوسره په ژبه بیعت کولو اوحالانکه رسول الله ﷺ دټول امت روحانی پلاردی اودامت ټولی ښځی درسول الله مبارك روحانی لونه دي، او لونو سره پلارلاس میلاوونی شي، لکن حضرت بی‌بی عائشه رضی الله عنها وائی چه چیری هم رسول الله ﷺ دښځوسره په لاس بیعت ندی کړی بلکه بیعت به قولی وو نوښځوبه صرف خبره کوله، نوبهرحال دلته کښی بحث پدی کښی دی چه کلمه دعلی دلته کښی دشرط لپاره ده. ولهذا قال ابوحنیفه اوددی وجهی نه چه کله کله علی دشرط لپاره راځي امام ابوحنیفه صاحب وائی اذا قالت لزوجها طلقنِي ثلثاً علی الفٍ یوی ښځی خپل خاوند ته اوویلی ماته دری طلاقه راکړه په زر(١٠٠٠) روپی ، یعنی

Maktaba Tul Ishaat.com

ماته دری طلاقه راکړه زه به زرروپی درکړم. **فطلقها واحدة لایجب المال** اوخاوندورته یوطلاق ورکړو پدغه صورت ددغی ښځی په ضمه باندی مال نه واجبیږي یعنی خاوندترینه پیسی نشی اخستی. **لان الکلمة ههُنا تفیدمعنی الشرط** ځکه کلمه دعلی پدی صورت کښی افاده کوي معنی دشرط لره **فیکون الثلثُ شرطا للزوم المال** نودا دری طلاقه شرط شولپاره دلزوم دمال، نوپدی صورت کښی شرط متحقق نشونوانتفاءدشرط مستلزم وي انتفاء دمشروط لره. نوالف(۱۰۰۰) مشروط وو په تطلیقات ثلاثه سره اوتطلیقات ثلاثه نی شرط وو نوچه شرط موجودنشوچه تطلیقات ثلاثه دي نومشروط هم موجودنشوچه الف(۱۰۰۰) روپی دي.

**فصل**: فصل دی په بیان دفی کښی، بل دحروفونه کلمه دفی ده اوپدی سره هم دفقهی دیری مسئلی متعلقی دي. **کلمةُ فی للظرف** کلمة دفی راځي لپاره دظرف په اعتبارداصل وضعه سره یعنی واضع کلمه دفی دظرف لپاره وضعه کړیده،مطلب دادی چه کلمه دفی چه په چا داخله شي نوهغه مدخول اومجرور دفی به ظرف وي، اودلته کښی مجازی معنی مراد ده یعنی نفس فی ظرف ندی ځکه ظرف خوهغه ته وائی چه په هغه کی څه کیښودلی شي لکه جیب په جیب کښی پیسی کیښودلی شي یا لکه کوزړی په کوزړی کښی اوبه کیښودلی شي ، نوچه فی کښی هیڅ شئ نشی کیښودلی نودفی هغه مدخول مراد دی چه هغه فی په څه داخله شي هغه ته ظرف وائی اوظرف عام دی یابه ظرف زمان وي یابه ظرف مکان وي، لکه یوسړی ووائی ( صلیتُ فی المسجد) نودا جومات ظرف دی دمونځ لپاره، اودا ظرف مکانی دی، یا یوسړی ووائی (صمتُ یوم الجمعة) نوداورځ دجمعی دا ظرف دی دروژی لپاره،اوداظرف زمانی دی. نودافی چه په څه داخله شوی وي هغه به ظرف وي دماقبل لپاره . لکه (صلیتُ فی المسجد) نودا(فی) په مسجدداخله شویده نومسجدظرف دی دماقبل لپاره چه صلوة دی. یالکه (صمتُ فی یوم الجمعة) نودافی په یوم الجمعة باندی داخله شویده نودجمعی ورځ ظرف دی دماقبل لپاره چه صوم دی. اوکله ناکله به ظرف حقیقتاً مشتمل وي په مظروف باندی لکه (الماءُ فی الکوز) نوکوزه په اوبوباندی مشتمله ده اودا اوبه په کوزه کښی دننه دي، یا (العطرُفی القارورة) عطرپه شیشه کښی دي

نوهغه شیشه مشتمله ده په عطروباندی، یالکه (زیدٌفی البلد) (زیدٌفی الحجرة)دلته کښی هغه ظرفیت حقیقتاً موجود دی. یا به هغه ظرف په مظروف باندی مجازاً مشتمل وي لکه یوسړی وائی (زیدٌ فی النعمة) زیدپه نعمتونوکښی دی نونعمت خوپه زید کښی حقیقتاً ندی موجود بلکه مجازاً خلق وائی چه زید په نعمتونوکښی دی ، یالکه (الدارفی یده ) نومعنی داچه کوردهغه په مِلك کښی دي ځکه حقیقتاً خوکوردسړي په لاس کښی نه راځي، یالکه (السیارةُ فی یده) نومعنی داچه موټردهغه په قبضه کښی دی. **وباعتبارهذا الاصل قال اصحابنا** اوپه اعتبارددی قانون چه دفی مابعد به ظرف وي لپاره دماقبل زمونږه علماء وائی. **اذاقال غصَبْتُ ثوباً فی مِندیل** چه یوسړي اقراروکړو چه ما جامې په رومال کښی تړلی شوی غصب کړی مثلاً دزیدنه، نودا ثوباً مظروف دی اومندیل دهغې لپاره ظرف دی نودغه غاصب به مغصوب منه ته رومال اوجامې دواړه ورکوي ځکه چه (فی) راځي لپاره دظرفیت نودینه دامعلومه شوه چه کله ئی چه دهغه نه جامې په زوره اخستې وی نورومال هم ورسره وو نودواړه به ورته واپس کوی **اوتمراً فی قوصرة** یایوسړی اووائی چه ماد پلانکی نه کجوری په ټوکری کښی په زوره واخستې، یعنی سره دټوکری نه می ترینه کجوری وتښتولی، قوصره هغې ټوکری ته وائی چه په کومه کښی کجوری وي **لزِماه جمیعاً** نوغاصب به دواړه ورته واپس کئ، یعنی په اول صورت کښی به جامې او رومال اوپه دویم صورت کښی به کجوری اوټوکری دواړه واپس کوی، ځکه چه دی سړي اقرار وکړو چه ظرف اومظروف می دواړه غصب کړیدي یعنی رومال اوجامې یاکجوری اوټوکری، اوحال دادی چه ( المرءُ یؤخذُ باقراره) نودا غاصب به ټول مال واپس کوی. داخبره ختمه شوه اوس یوه بله نوی خبره ذکرکئې، **ثُمّ هذه الکلمةُ تستعملُ فی الزمان والمکان والفعل** بیاکلمه د(فی)مستعملیږي په زمان ، مکان، اوفعل کښی ، ګویا ظروف په دری قسمه دي: ۱- ظرف زمان ۲- ظرف مکان ۳- ظرف فعل ، مخکښې خومونږه دوه قسمه ظروف پیژندلو(ظرف زمان اوظرف مکان) اوداصول الشاشي مصنّف دلته دریم قسم هم ذکرکړوچه هغه ظرف فعل دی. **امّا اذا استُعمِلَتْ فی الزمان** اوس دهغې تفصیل کئ چه داکلمه د(فی) په زمان کښی مستعمل شی **بان یقول انتِ طالِقٌ غداً** چه یوسړي اوویلی خپلی ښځی ته چه

Maktaba Tul Ishaat.com

ته طلاقه نی سهارته، دلته ئی(فی) مقدرراوړه لکن غد ظرف زمان دی، ظرف زمان سره کله ناکله کلمه دفی ظاهره راخي اوکله مقدره راځي، نوددی قول چه انت طالق غداً مطلب دادی چه انتِ طالقٌ فی غدٍ. **فقال ابویوسف ومحمدٌ یستوی فی ذلك حذفُها واظهارها** نوامام ابویوسف اوامام محمد وائی چه اظهار اوحذف دفی په ظرف زمان کښی سره برابردي ، که یوسړی ووائی انتِ طالقٌ غداً یعنی فی مقدره راوړي اویا اووائی چه انتِ طالقٌ فی غدٍ یعنی فی ظاهره راوړي نود دواړو یومطلب دی. **حتی لوقال انتِ طالِقٌ فی غدٍ کان بمنزلة قوله انتِ طالقٌ غداً** که یوسړي ښځی ته اوویلی چه انتِ طالقٌ فی غدٍ داپه منزله ددی قول دی چه انتِ طالِقٌ غداً ، نوګویا صاحبین وائی چه دفی په ذکرکولواونه ذکرکولوسره په کلام کښی څه فرق نه راځي **یقع الطلاقُ کما طلع الفجرفی الصورتین جمیعاً** واقع کیږي به طلاق چه کله صبا راوختوپه دواړو صورتونوکښی، نودصاحبینوپه نزدپه دواړوصورتوکښی چه صبا راوخیږی نوښځه طلاقه شوه، ځکه هغوئ په کلام کښی دفی دذکراودترك(داظهاراودتقدیر) اعتبارنکوي. **وذهب ابوحنیفة** اوامام ابوحنیفة صاحب فرق کنې هغه وائی چه کلام کښی دفی دذکرکولو اونه ذکرکولوډیرلوی فرق دی. **الی انها اذا حُذِفتْ یقعُ الطلاقُ کما طَلَعَ الفجرُ** دی خبری ته کله چه په کلام کښی حذف وي طلاق به واقع کیږي کله چه صباراوختو، یعنی دصبادراختوسره ښځه طلاقه ده. امام ابوحنیفه صاحب والی چه ظروفونه چه فعل په خپله متوجه شي اوواسطه پکښی نوي نوپه هغه صورت کښی استیعاب دی ځکه چه دغه ظرف مشابه شودمفعول بِهٖ سره نوګویا دافعل په هغې باندی واقع دی لکه (ضربتُ زیداً) نودغه ضرب په زید باندی واقع دی نوچه یوسړی ښځی ته اووالی انتِ طالقٌ غداً ته طلاقه نی سهارته نومعنی داشوه چه پدی ټوله ورځ دغه طلاق دپاسه راغلونوسهاروختی هغه طلاقه شوه. اوچه ذفی کلمه نی په لفظ کی راوړه نویدی صورت کښی بیا ظرف شونوهغه طلاق به ټول غدباندی‌واقع نشوبلکه په بعضی حصه دغدکښی واقع شو. **واذا ظهرتْ کان المرادُ وقوع الطلاق فی جزء من الغدعلی سبیل الابهام** هرکله چه فی ظاهره شي نومراد به وقوع دطلاقووي په یوجزء دغدکښی په طریقی دابهام سره، یعنی مونږله معلوم ندی چه کوم جزء ترې مراد دی دضربتُ زیداً معنی

خودادی چه پدی سُرُنی گذارخورلی دی څکه مفعول بهٖ دپاسه فعل واقع وي نوامام ابوحنیفه صاحب وائی چه یوسړی ښځی ته اووائی انتِ طالقٌ غداً اوکلمه دفی رانه وړي نوهمیشه لپاره چه یوفعل متوجه شي ظرف ته بغیردواسطی دفي نه نودغه ظرف مشابه شودمفعول بهٖ سره نودصبادراختوسره دابنځه طلاقه ده اوکنه کلمه دفي پکښی راوړي نوبیا دالازمه نده چه هغه ظرف په ټول مظروف باندی احاطه وکړي لکه (الماءُفی الکوز) دامطلب ندی چه کوزه بلکل دابونه ډکه ده بلکه کوزه کښی اوبه شته دي نودکوزی څه حیصی په اوبوباندی احاطه کړیده اوڅه حصه ئی خالی هم ده یالکه یوسړی وائی(الزهور فی الجیب ) یعنی گلونه په جیب کښی دي نومطلب داشوچه څه حیصه دجیب ئی نیولی ده ټول جیب ئی ندی نیولی نوچه کلمه دفي راوړي دهغی مطلب دادی چه مظروف دظرف په څه حیصه کښی پروت دی دانده چه په ټول ظرف کښی پروت دی،نوچه دا اووائی انتِ طالقٌ فی غدٍ مطلب دادی چه دسبا ورځی په څه حیصه کښی دی طلاق واقع وي اوهغه حیصه نده معینه څکه سهار، غرمه، ماسپخین، مازیگر داټول په غدکښی شامل دي۰ لکه مونږه وایوچه وخت دمونځ لپاره ظرف دی نومونځ دوخت په څه حیصه کښی کیږي اوپه هغه وخت کښی چه ظرف دبل مظروف هم ځایږي چه هغه اودس کول یانفل مونځ کول اوداسی نورکارونه دي۰ اصل کښی یوظرف دی اوبل معیاردی: ظرف خودادی چه بیان شو لکن معیارکښی عمل بلکل پوره وي دوخت سره یعنی معیار بلکل دعمل سره سربه سر وي لکه د روژی لپاره ورځ معیارده دسباختونه پس ترمابنام لمر پریوتو پوری به دا ټوله ورځ بلکل ډکه وي په روژه باندی، لکن ظرف کښی صرف مظروف نوي بلکه نورځیزونه هم ورسره راځي لکه جیب ظرف دی دی کښی صرف پیسی نه وي بلکه قلم ، کاغذونه وغیره نورشیان هم پکښی کیښودی شي۰ نوامام صاحب وائی چه که فی دی پکښی ذکرنکړه نودغه ظرف دی دمفعول بهٖ سره مشابه کړو اومفعول بهٖ دپاسه فعل واقع وي نودسهاریه مطلق ختوسره په اول سرکښی ښځه طلاقه ده اوکه فی دی ذکرکړه نودامعنی شوه چه داد سبا په څه حیصه کښی طلاقه ده۰ دینه معلومیږي چه امام صاحب صرف فقهی نوبلکه په لغت کښی ئی هم مهارت درلوِد۰

فلولاوجود النیّة یقع الطلاق باول الجزء لعدم

Maktaba Tul Ishaat.com

المزاحم له که دلته کی نیت نوي موجود نوطلاق په ړومبنی جزء کښی واقع شو ځکه دهغه مقابل ندی موجود، داغدظرف شودطلاقولپاره نوکه دیوسړي نیت نوو چه زما مراد دغد نه څه دی نوپه اول سردغدکښی ښځه طلاقه شوه ځکه چه اولنی حیصه دسهار هم دغد یوه حیصه دی اومزاحم(مقابل) هم ورسره ندی موجود، اوکه دی سړي اوویل چه زما مراد دغد نه دغرمی وخت وو چه طلاق به په غرمه کښی وي چه ښه گرمی هم وي اوښځه نوره هم گرمه شي په طلاقوسره ښځه ښه گرمیږي لکه شاعروائی، الشعر:

حژوجهٔ حژهجرِ حژ - ایُّ عیْشٍ یکون من ذا مرُّ ٠

په عربو کښی یوسړی عاشق شوی وو ، دحجاز دگرمی موسم هم وو نوژاړی او وائی ، چه دعشق گرمی هم زما په بدن کښی موجوده ده(عاشق یم )، دهجرگرمی هم راکی شته (معشوقه هم رانه جداشویده) ، اوهسی هم دحجاز گرمي ده، نوکوم ژوندبه ددینه ډیرتریخ وي نومراد ترینه دحدنه زیاته گرمي ده٠ دحجاز گرمی ډیره سخته وي اوپه گرمیوکښی حجازگرمي ډیره مشهوره ده ، ددی متعلق جناب شیخ صاحب یوه قصه بیانوي٠ قصه: جناب شیخ صاحب فرمانی چه اوس خودخانه کعبی نه گرد چاپیره سنگ مرمر لگیدلی دي اوهغه نه گرمیږي، اوفرمانی چه یوځل زه په یوه زمانه کښی حج ته تللی وم اودخانه کعبی نه گرد چاپیره شگی پرتے وی نوخلقوبه په شگوکښی طواف کولو نوبوه ورځ دماسپځین وخت وو ، هلته کښی دماسپخین مونځ هم وختی کئ نوخلق دخانه کعبی سره نزدو(مطاف) کښی صرف یوځو صفونه ولاړوو نورتول برنډوکښی په سوري کښی ولاړوو نوزه هم خانه کعبی سره نزدو لمرته اودریدم ، نو خلق خوچه لمرته ولاړوو دنېپولاندی تولی ، څادری وغیره اچولی وی لکن زه دغسی ولاړوم نوزما خپی داسی سوی وے چه بلکل په مونځ هم پوه شوی‌نه یم، اوځه وخت پس زما خپی سپینی پولی شوی اوبیا خوورځی حرم شریف ته نشوم رالللی، نودینه دحجازگرمی ډیره سخته معلومیږي٠ نوچه یوسړی وانی چه زما مراد دغرمی وخت دی اودغرمی گرمي ډیره وي اوښځه په طلاقوسره نوره هم گرموم نونیت ئی صحیح دی ځکه غد غرمی‌ته هم شامل دی اوغدظرف دی دغرمی،ماسپخین، مازیگروغیره ټول وختونونه پکښی راځي، نومصنف وانی٠ ولونوی آخرالنهار صحتْ نیّته

اوکه دی سرې اخردورځې یاوسط دنهار اراده کړئ وو نونیت ئی صحیح دی. ومثال ذالك فی قین، مازیګروغیره تول وختونونه پکښې راځي، نومصنف وائی. ولونوی اخرالنهار محتٔ نیّته اوکه ول الزُجلِ اومثال ددی چه امام ابوحنیفه صاحب فرق بیانوي په حذف اواظهارد(في) کښې هغه دی چه یوسړی خپلی ښځی ته اووائی ان صُمتِ الشهرفانتِ کذا که تا روژه اونیوله یوه میاشت نوته به طلاقه ئی، د(الشهر) دوه معنی دي یوه داچه توله میاشت تری مراد ده اودویمه داچه دمیاشت څه حیصه تری مراد ده. فانه یقعُ علی صوم الشهردینه به مراد دتمامی میاشتی روژی وي ځکه چه دا (صمتِ) ئی مضاف کړو (الشهر) ته نومراد ترینه توله میاشت ده. ولوقال ان صمتِ فی الشهرفانت کذا که تا روژه ونیوله په میاشت کښې نوته به طلاق ئی، یعنی شهرئی ظرف وګرځولونو که په بعضی حیصه دمیاشتی کښې روژه اونیسې یا توله میاشت روژه اونیسې نودواړو ته شامله ده. یقعُ ذالك علی الامساك ساعةً فی الشهرنومراد به ترینه مطلق امساك وي په هغه شهرکښې که هغه یوساعت ولی نوي، ځکه ( الصوم ف ی لغة: الامساك ). خلاصه داشوه چه ظرف زمان کښې دامام صاحب اودصاحبینوپه مابین کښې اختلاف دی صاحبین وائی چه که (فی) راوړی اوکه ئی رانه وړی نوددواړو یومطلب دی. امام صاحب وائی چه ډیرفرق لري که (فی) مقدره وي نوبیا دا ظرف دی په منزلة دمفعول بِهٖ سره نوپه اول سر دورځ کښې به طلاقیږي اوکه (فی) پکښې موجوده وه نوبیا به دوه خبری وي یابه نیت وي یابه نوي که نیت نوو نوبیاهم په سردورځ کښې طلاق واقع شوځکه مزاحم ورسره ندی موجود ځکه د ورځې اول سر هم دورځې یوجزدی ځکه دورځې ډیراجزاء دي، یوه ورځ کښې دولس ګهنټی(ساعات) دي اوهرساعت کښې شپیته(٦٠) منته دي اوپه هرمنټ کښې شپیته(٦٠) سکنډه دي نوتقریباً په یوه ورځ کښې (٤٣٢٠٠) سکنډه جوړیږي اوهرسکنډ دورځې جزء دی اوپه یوسکنډ کښې ښځې له طلاق ورکیدای شي ، لهذا دورځې ډیرزیات اجزاء دي اوهرجزء ددی احتمال لري چه پکښې طلاق واقع کیږي، اوکه نیت موجود وو نوهغه وخت تری مراد ده دکوم وخت نیت ئی چه کړی وي. اوس مصنّف دظرف دویم قسم بیانوي چه هغه ظرف مکان دی. وامّا فی المکان اوهرچه کلمه دفی دی په مکان کښې. فمثل قوله انتِ طالِقٌ فی

Maktaba Tul Ishaat.com

الدار) یانې داورته اوویل (انتِ طالقٌ فی الدار) یانی داورته اوویل (انتِ الداروفی مکة داقول دخاوند دی چه ( انتِ طالقٌ فی الدار) یانی داورته اوویل (انتِ طالقٌ فی مکة) یکون ذلك طلاقاً علی الاطلاق فی جمیع الاماکن نوپدی صورت کنبی هم مطلق طلاق(فی الحال طلاق )واقع شو په تولوځایونوکنبی ، ځکه چه طلاق مقید بالمکان دون المکان دی۰ وباعتبارمعنی الظرفیة قلنا اذاحلف علی فعل واضافه الی زمانٍ اومکان اوپه اعتباردمعنی دظرفیت په کلمه د(فی) کنبی مونږه وایوکه یوسړي قسم اوخوړو په یوفعل باندی اومضاف نی کړودافعل یوزمان ته یایومکان ته، نوفعل به خالی نوي۰ فان کان الفعلُ ممّا یتمّ بالفاعل یشترطُ کونُ الفاعل فی ذلك الزمان اوالمکان که چیری وو دافعل دهغه نه چه هغه په فاعل باندی پوره کیدونوبیا ضروري ده چه فاعل دی وي پدغه زمان یا پدغه مکان کنبی ، یعنی ضروري نده چه فاعل دی پدغه زمان یا پدغه مکان کنبی موجود وي۰ وإن کان الفعل یتعدی إلی محلٍ یشترط کونُ المحلِّ فی ذلك الزمان والمکان اوکه چیری فعل متعدي وو محل ته نوبیا ضروري ده چه دغه محل دی پدغه زمان یامکان کنبی موجود وي۰ لان الفعل انما یتحقّقُ بأثرِہٖ ځکه فعل موجودیږي په اثرخپل سره واثره فی المحل اودهغه اثرځرگندیږي په محل کنبی قال محمد فی الجامع الصغیرامام محمدپه جامع صغیرکنبی دظرف مکان مثال بیانوي۰ اذا قال ان شتمتُكَ فی المسجد فکذا یوسړي بل ته اوویلی که ماتاته په مسجد کنبی کنځلی وکړی نوبیا به زما بنځه طلاقه وي یابه زما غلام ازادوي۰ فشتمه وهوفی المسجد والمشتُوم خارج المسجد یحنث پس کنځلی وکړی دغه قسم خورونکي(شاتِم) هغه مخاطب ته اوداشاتم په جومات کنبی وو اوچاته نی چه کنځلی کولی هغه دجومات نه بهروو نومتکلم به پدی صورت کنبیٰ به حانث وي(بنځه به نی طلاقه وي یاغلام به نی ازاد وي) ځکه چه دی صورت کی ددغه شتم تعلق دشاتِم سره دی دمشتوم سره ندی ځکه کنځلی شاتِم کنے اوهغه په جومات کنبی متحقق شوی اوشرط هم داوو چه کنځلی به په جومات کنبی ورته کنے نوپدی صورت کنبی شرط موجود شونوداسړی حانث دی۰ لکن ولوکان الشاتِمُ خارج المسجد والمشتومُ فی المسجد لایحنثُ اوکه شاتم دمسجد نه بهروو اومشتوم په مسجد کنبی وو نونه حانثیږي ځکه شرط دحنث موجود نشو ځکه هغه ویلی وو چه شتم به په جومات کنبی موجودیږي یعنی شتم

نی معلق کړئ وو په مکان دمسجد سره نوکه شاتم په جومات کښې وي مشتوم په جومات کښې وي اوکه نوي نوحانث کیږي. **ولوقال ان ضربتُك اوشججتُك فی المسجد فکذا** اوکه یوسړي داسې اوویلی که ته ماپه جومات کښې اووهلې اویامې زخمي کړې نوزما ښځه به طلاقه وي یا به زما غلام ازاد وي. نوضرب داسې تعلق دی چه دبغیردمضروب نه نه موجودیږي اوشتم موجودیدو، اوموږه ویلي وو که فعل داسې وو چه هغه په صرف فاعل موجودیدو نوهغه صورت کښې به بیادفاعل وجود ضروري دی په مکان کښې لکن که فعل داسې وو چه هغه بغیردمفعول نه نه تمامیدو نوبیا پدې صورت کښې دهغه مفعول وجود ضروري ده لکه ضرب بغیردمضروب نه نه راځي اوشج بغیردمشجوج نه نه راځي - شجَّ یشُجّ - معنی زخمي کول، نودشج اودضرب فعل بغیردمشجوج اودمضروب نه نه راځي. **یشترط کون المضروب والمشجوج فی المسجد ولایشترط کونُ الضارب والشاجّ فیه** نوشرط به وي وجود دمشجوج اودمضروب به مسجد کښې اوشرط به نوي وجوددضارب اودشاج په مسجد کښې، ځکه دفعل تعلق دمفعول سره دی نودمفعول وجود ضروري دی په ضرب اوشج کښې. **ولوقال لو قتلتُك فی یوم الخمیس فکذا** اوکه یوسړي داسې اوویل که ما نه قتل کړې دزیارت په ورځ کښې نوښځه به راباندې طلاقه وي یابه مې غلام ازاد وي. **فجرحه قبل یوم الخمیس ومات یوم الخمیس یحنث** نوهغه داسړی دزیارت دورځې نه مخکښې زخمي کړو او هغه زخمي دزیارت په ورځ مړ شو نوحانث کیږي به یعنې ښځه به پرې طلاقه وي یاغلام به ئې ازاد وي ځکه چه موت یاقتل موجود شولواوقتل عبارت دی د( خروج الروح) نه اوداداسې فعل دی چه بغیردمفعول نه نه موجودیږي. **ولوجرحه یوم الخمیس ومات یوم الجمعة لایحنث** اوکه هغه داسړی دزیارت په ورځ زخمي کړو اودجمعې په ورځ باندې مړشو نونه حانثیږي ځکه چه موت موجود نشودزیارت په ورځ باندې، بل داچه دزیارت په ورځ باندې هغه مجروح دی اومړندی یعنې دموت اطلاق پرې نشي کیدای ځکه موت یا قتل هله وي چه دانسان نه روح اووځي، اوهغه دموت تعلق ورکړی وو دزیارت په ورځ پورې. اوس دظرف هغه دریم قسم بیانوي چه هغه ظرف فعل دی. **ولودخلت الکلمةُ فی الفعل تفیدمعنی الشرط** که چیرې کلمه دفي داخله شوې وي په فعل کښې نوبیا

Maktaba Tul Ishaat.com

لغوي(مصدري) دی دينه مراد فعل
دفعل نه مراد معنی
.. فائده کوي معنی دشرط ، دفعل نه مراد معنی لغوي(مصدري) دی دينه مراد فعل
اصطلاحی ندی خکه مصنف روستنی تول مثالونه د معنی مصدری بيانوي نو ددی امثله وو
نه معلوميږي چه مراد فعل مصدري دی. الفعل علی نوعين: ۱- لغوي : وهوالمصدر. ۲-
اصطلاحي : اصطلاحي دينه وائی چه هغه کښی دری(۳) خبری موجودی وي، ۱- معنی
حدثی ۲- نسبت الی الفاعل ۳- نسبت الی الزمان لکه ضَرَبَ پدی کښی دری واړه خبری
موجودی دي. **قال محمد** امام محمد مثال بيانوي. **اذا قال انتِ طالِقٌ فی دخولكِ**
**الدار** چه يوسړي خپلی ښځی ته اوويلی چه ته طلاقه ئی کله چه ته کورته داخليږې،
مطلب دادی (ان دخلتِ الدار فانت طالقٌ)، نودا(فی دخولكِ ) فعل لغوي(مصدری) دی.
**فهوبمعنی الشرط** نودا(فی) په فی دخولكِ په معنی دشرط دی **فلايقع الطلاق قبل دخول**
**الدار** نوطلاق ددخول ددارنه مخکښی نه واقع کيږي **ولوقال انتِ طالقٌ فی حيضتِكِ** اوکه
يوسړي ښځی ته دا اوويلی چه ته طلاقه ئی په حيض کښی، حيضةٌ معنی مصدری ده
اوحاضت معنی اصطلاحي ده خکه ديکښی زمان، نسبت الی الفاعل، حدث ټول موجود
دي. **ان کانت فی الحيض وقع الطلاق فی الحال** اوکله ئی چه داخبره ورته کوله نوهغه
ښخه په حيض کښی وه نوطلاق فی الحال واقع شوخکه فعل موجود دی. **والاّ يتعلق**
**الطلاق بالحيض** اوکه فی الحال هغه پاکه وه نوطلاق به په حيض پوری معلق کيږي يعنی
چه کله حيض راشي نودابه طلاقيږي **وفی الجامع** دابله مسئله هم په جامع کبيرکښی ده
**لوقال انتِ طالِقٌ فی مجئ يوم لم تُطلّق حتی يطلع الفجر**يوسړي ښخی ته اوويلی چه ته
طلاقه ئی کله چه ورځ راغله ، نونه به طلاقيږي تردی چه ورځ راشي نوچه کله ورځ راغله
نودابه طلاقيږي، اوديوم اطلاق کيږي دطلوع فجرنه ترغروب الشمس پوری، اصل کښی
بيان دادی چه يو يوم دی اوبل نهار دی : يوم دطلوع فجرنه شروع کيږي ترغروب الشمس
پوری ، اونهاردطلوع الشمس نه شروع کيږي ترغروب الشمس پوری( ان کانتِ الشمسُ طالعةً
فالنهارموجودٌ). **ولوقال فی مُضِیّ يوم** اوکه يوسړي اوويلی چه ته طلاقه ئی چه ورځ تيره
شي، نوداخبره به دده يادورځی نه کړی وي اويا به لی دشپی نه کړی وي. **اذا کان ذلك**
**فی الليل وقع الطلاق عندغروب الشمس من الغدلوجود الشرط** که چيرته دا کلام په شپه

کښې وو يعنې دا خبره نې دشپې نه کړی وه نوطلاق واقع کيږي دصبا دلمرپريوتونه پس دوجود دشرط نه چه هغه تيرېدل دورځې دي، ځکه چه دا کلام نې دمضئ يوم سره متعلق کړی وو اوديوم اطلاق کيږي دطلوع فجرنه ترغروب الشمس پورې اوغروب الشمس راغلونوورځ تيره شوه نوطلاق موجودشو. **وان کان فی اليوم تطلّقُ حين تجئُ من الغدللك الساعة** اوکه دا کلام نې په ورځ کښې کړی وو نودصبائ ورځې په هغه ساعت کښې به ښځه طلاقيږي، مثلاً نن ورځ په دولسوبجوسرې خپلې ښځې ته اوويلې چه ته طلاقه نې چه ورځ تيره شي نوصبا ته په دولسوبجوبه هغه ښځه طلاقيږي ځکه څه حيصه دنن ورځې اوڅه حيصه دصبائ ورځې چه سره جمع شي نومکمله ورځ ترې جوړيږي. **وفی الزيادات** اوپه زيادات کښې امام محمدصاحب ويلې دي، داهم دامام محمدصاحب کتاب دی. **لوقال انتِ طالِقٌ فی مشية الله تعالی اوفی ارادة الله تعالی** که يوسړي ښځې ته اوويلې چه ته طلاقه نې که دخدای تعالی خوښه وي يا ته طلاقه نې که دالله تعالی اراده وي، نودا نه طلاقيږي ځکه دالله تعالی دمشيت علم چاته هم نشته مګرپه ذريعې دوحی سره دالله تعالی دمشيت علم معلوميږي اووحی دپيغمبرعليه السلام نه بغيرنشی راتلې. **کان ذلك بمعنی الشرط لاتطلّق** نودا مشيت اواراده دالله تعالی په معنی دشرط سره دی تردې چه دانښځه نه طلاقيږي له وجهې دعدم ادراك دوجود دشرط ، لکن که يوسړي داسې اوويلې چه(انتِ طالِقٌ فی علم الله )نوښځه همهغه وخت طلاقه شوه ځکه علم په معنی دمعلوم دی اودا تمام څيزونه اوتمام کائنات دالله تعالی په علم کښې دي.

**فصلٌ** : فصل دی په بيان د(باء) کښې، بل دهغه حروفونه چه هغوی سره مسئلې دفقهې وابسته دي هغه حرف دباء دی. **حرف الباء للالصاق فی وضع اللغة** حرف دباء واضع وضعه کړيدی په لغت کښې دالصاق لپاره، دادباء حقيقي معنی ده اومجازی معنی نې روستوذکرکيږي ځکه دشرح مائة عامل ملاچه دحرف اولنئ معنی بيان کي هغه نې معنی حقيقي وي اوچه بياروستوپه قديکون سره کومه معنی بيانوي هغه نې مجازی معنی وي لکه (مررتُ بزيدٍ) معنی داچه (مررتُ بمکانٍ ملصقٍ بزيدٍ) يعنې ما پداسې مکان باندې مروروکړو چه هغه مکان دزيدډمکان سره پيوست وو، يالکه بسم الله ای بدأتُ يعنی الکتاب ملصقاً

Maktaba Tul Ishaat.com

باسم الله تعالی یعنی زما داشروع پیوسته ده دالله تعالی دمبارك نوم سره. **ولهذا تصحبُ الأثمان** اوددی وجهی نه دابه په ثمن باندی داخلیږي لکه اشتریتُ الکتاب بدرهمٍ نودا درهم ثمن دی اوثمن دمبیع سره مصاحب اوپیوست وي. **وتحقیق هذا انّ المبیع اصل فی البیع والثمن شرط فیه** اوددی خبری تحقیق دادی چه مبیعه اصل دی په بیعه کښی خکه دا معقود علیه دی اوثمن شرط دی په بیع کښی. بیع وائی( مبادلة المال بالمال بالتراضی ) نویومال مبیع ده اوبل مال ثمن دی لکن مبیع اصل ده اوپه تبدل ددی سره بیع ختمیږي اوثمن په تبدل سره بیع نه ختمیږي خکه چه اثمان مثلیات دي بدلیږي رابدلیږي لکه مثلاً یوسړي دبل نه گهړی واخشته اوهغه سړي هغه گهړی ورنکړه بله گهړی ئی ورکوله نوبیع نده صحیح خکه چه په کومه گهړی عقد شوی وي هغه به ورکوي اوکه ثمن ئی بدل کړو نوبیع صحیح ده مثلاً گهړی ئی ترینه په زر روپی اخشتی وه اوهغه ورته دزرو روپو لوټ نبودلی وو لکن بیا ئی ورته بل دزرو لوټ ورکړو یا ئی ورته دوه د(۵۰۰) لوټونه وکړو نوبیع نه خرابیږي خکه اثمان بدلیږي لکن په قیمت کښی ئی تغیرنه راځي. یایوسړي اوویل چه غوا درباندی خرخوم پدی غلام باندی نوپدی صورت کښی غوا اصل ده خکه مبیعه ده اوغلام ثمن دی اوشرط دی خکه باء چه په چا داخله شي نوهغه به ثمن وي اوهغه به اصل نوي لکه (اشتریتُ الکتاب بدرهمٍ ) دلته کښی باء په درهم داخله شوه نودا اصل نده خکه داثمن دی اوثمن بدلیږي رابدلیږي. **ولهذا المعنی هلاكُ المبیع یوجِبُ ارتفاع البیع دون هلاكُ الثمن** اوددی وجهی‌نه چه مبیع اصل دی که مبیع هلاکه شوه نوبیع هلاکه ده اوپه هلاکیدوثمن سره بیع نه هلاکیږي، مثلاً یوسړي بل نه غوا واخشته اوغوا هلاکه شوه نوبیع ختمه ده اوکه ثمن هلاك شونوبیع نه هلاکیږي خکه دهغه ثمن پرځای به ورته بل ورکړي. **اذاثبت هذا** هرکله چه پدی خبره پوه شوی چه اصل په بیع کښی مبیع ده اوثمن ورته شرط د **فنقول الاصلُ ان یکون التبعُ ملصقاً بالاصل لا ان یکون الاصلُ ملصقا بالتبع** نو موږ وایو قانون دادئ چه تبع (ثمن) به ملصق وی په اصل(مبیعه) پوری داسی نه چه اصل به ملصق وی تبع پوری **فاذا دَخَلَ حرفُ الباء فی البدل فی باب البیع دل ذلك علی انه تبعٌ ملصقٌ بالاصل فلایکون مبیعاً فیکون ثمناً** نو

کله چه حرف با داخله شی په بدل باندی په باب د بیع کښې نو دا دخول د با دلالت کوی چه دا بدل تبع ده اوملصق ده اصل پوری نو مدخول دبا مبیعه نشی کیدئ بلکه ثمن به وی **وعلی هذا** بناء پر دی چه مدخول د با به ثمن وی **قلنا اذا قال بعتُ منك هذا العبدبکُرٍّ من الحنطة ووصفها یکونُ العبد مبیعاً والکُرُّثمناً فیجوز الاستبدالُ به قبل القبض** . کله چه یو سړی ووائي چه دا عبد ما تا نه واخسته په ډیری د غنمو سره اود غنمو صفت ني هم بیان کړو مثلا سره غنم ، نو دی صورة کښې به عبد مبیعه وی او غنم به ثمن وی نو جائز ده بدلول ددی غنمو مخکی د قبض نه ځکه چه کله ني قبض کړی بیا خو مشتری ثمن نشی بدلوئ، یعنی که دا مشتری ددی غنمو په بدل کښې نور غنم ورکوی یا بیسی ورکوی یا بل شئ ورکوی نو ورکولئ ني شی **ولوقال بعتُ منك کرًا من الحنطة ووصفها بهذا العبدیکونُ العبدُ ثمناً والکرُّ مبیعاً** او که چیری ني داسی وویل چه دا ډیرئ د غنمو ما تا نه واخسته او د غنمو وصف ني هم بیان کړو (یا به ښه وی یا به ردی وی ) په بدله ددی عبد کښې نودی صورة کښې به عبد ثمن وی او غنم به مبیعه وی ځکه حرف با په عبد باندی داخله ده او مدخول د با ثمن وی نو په دی صورة کښې غنمو کښې تبدیل نشی کولئ **ویکون العقدسلما لایصِحُّ الاّ مؤجّلاً** نوپدی صورة کښې به دا بیع سلم وی یعنی ثمن چه عبد ده هغه به اوس ورکوی او مبیعه چه غنم دی هغه به وروسته ور کوی **وقال علماؤنا** زمونږه علماء احناف وائی **اذا قال لعبده إنْ اخبرتنی بقدوم فلانٍ فانت حرٌ** بوموليٰ خپل غلام ته اووائی که تا ماته خبرراکړو په راتلودېلانکي سره، مثلاً دیوسړي زوئ حج نه تللی وو اوپته ئی نه لګیده نوهغه سړي غلام ته اوویل که ماته دی دخپل زوی دراتلوخبرراکړو نوخوشحالي(زیری) کښې به دی ازاد کړم ، نوکله چه واقعی دهغه سړي زوی راغی اوغلام په منډه راغلو مولی ته ئی اوویل چه زیری می درباندی زوی دی راغلو(سالماً اوغانماً) نوغلام ازاد شو ځکه دی مولی دغلام حریت معلق کړی وو په خبردقدوم دزوی خپل اوهغه ورته خبردقدوم ورکړو. **فذلك علی الخبرالصّادق** نودینه به مراد هغه خبروي چه رښتونئ وي، ځکه چه قدوم یواسم دی لپاره دیوفعل چه هغه موجودیږي دانسان نه، قدوم دغه ته وائی چه یوانسان راشي لکه (قدم فلانٌ الی الجامعة

الحقانية ) ، بالکه اکثره خلق میلمنوته وائی( قدمت خیرمقدم) یعنی پخیرراغلی اوفارسی کښې وائی (خوش امدید) ، نوچه کله قدوم متحقق شو نوعتق هم متحقق شو نوهرکله چه حریت معلق شو قدوم پورې نومطلب داشوچه کله قدوم ددی سړي نه صادرشي نوته ازاد نی. لیکون الخبرُ ملصقاً بالقدوم نوداخبره پیوسته دی دقدوم سره اوالصاق دخبربالقدوم دانه محقق کیږي مخکښې دوجود نه، خبربه هله ملصق بالقدوم وي چه واقعي زید راغلی وي، نوهغه ورته ویلی وو ( إن اخبرتنی بالقدوم ) دلته کښې باء دالصاق لپاره ده ، چه داخبره ملصق بالقدوم وي یعنی قدوم خارج کښې موجود وي اوخبردهغی سره پیوست وي نوپدی صورت کښې دعتق هغه شرط چه قدوم دی متحقق شولو نوعتق به هم متحقق کیږي. فلواُخبرکاذباً لایعتق که غلام په دروغواوویل چه راغی نوپدی صورت کښې به غلام نه ازادیږي، ځکه خبرملصق بالقدوم ندی، خبرداسی پکاروو چه هغه دقدوم سره پیوست وي اوقدوم خارج کښې نشته، اگرکه پدی صورت کښې خبرنشته لکن زمونږه مراد هغه خبروو چه هغه ملصق بالقدوم وي، نوغلام نه ازادیږي. ولوقال ان اخبرتنی اَنَّ فلاناً قدِمَ فانت حرٌ که مولٰی داسی ورته ویلی وو چه که خبردی راکړو چه فلانکئ راغی نوته ازاد نی، هغه ورته په دروغوخبرورکړو چه پلانکی راغی نوبیاهم غلام ازاد شو ځکه( الخبرُ مایحتمِلُ الصِدق والکِذب ) مطلق خبرخونی ورته ورکړو اوپه خبرکښې خودا ضروري نده چه خامخا به رښتونی وي لکه نن صبا زمانه کښې اخبارونه ټول خبرونه په دروغو خېره وي لکن بیا هم ورته عرف کښې اخبار وائی، لکه مونږه وایو چه قضیه خبریه هغه ده چه ( یحتمِلُ الصدق والکذب ). اومخکښې صورت کښې تعلیق دحریت شویدی دقدوم سره نوچه خبردقدوم په رښتیا متحقق نشي نوغلام به نه ازادیږي. فذلك علی مطلق الخبرنودا به حمل کولی شي په مطلق خبرباندی، یعنی چه مطلق خبرنی ورته ورکړو نو دئ ازاد شو. فلواخبره کاذباً عتق که په دروغونی هم ورته خبرورکړو نو غلام ازاد دی. اوس بله خبره ذکرکئ. ولوقال لامرأته ان خرجتِ مِن الدارِ إلا باذنی فانتِ کذا که یوسړي ښځی ته اوویلی چه که نه دکوره اووتی مگرزما په اجازت باندی نوته به طلاقه نی ، یعنی که بغیرزما داذن نه دکورنه اووتی نوته به طلاقه نی(إلاباذنی) یعنی(إلاّ خروجاً ملصقاً باذنی) دا باء

دالصاق لپاره ده، نوهروخت چه دا اووځي نودخاوند نه به اجازت اخلي اګرکه دفرض عبادت لپاره ولی نه وي، اوکه چیرته یوځل هم دا بغیرداجازت نه لاړه(اووته) نوهغه وخت به طلاقیږي ځکه چه دلته کښی خروج ملصق دی په اذن پوری ، نوهرځل به اذن غواړي. تحتاج إلی الاذن کُلَّ مرّةٍ دغه ښځه به محتاجه وي اذن ته هرځل ، ځکه دِ(إلاّ بإذنی ) معنی دی ( إلاّ خروجاً ملصقاً بإذنی). اذ المستثنی خروج ملصقٌ بالاذن ځکه چه مستثنی هغه خروج دی چه.پیوست وي داذن سره اودا به نه موجودیږي مګرپه تجدید داذن سره( فی کل مرةٍ) یعنی هرځل، لکه یوځل رسول الله ﷺ باندی ډیری ورځی وحی نه راتله نوچه بیا کله جبرئیل علیه السلام راغئ نورسول الله مبارك جبرئیل علیه السلام ته اوویل( لِما لاتزورنا اکثرمِمّا تزورنا ) یعنی ولی زمونږ سره ډیرډیرملاقات نه کوی ؟ یعنی ته خوډیرورځی پس راغلی زمونږه زیارت ولی زیات نه کوی ؟ نوفرشتی(جبرئیل آمین) ورته اوویل ( ومانتنزل إلاّ بأمرِ ربك ) یعنی مونږه نه نازلیږو مګرپه امردرب جل جلاله ستا، نودا باء دالصاق لپاره ده اوعبارت داسی دی ( وما نتنزلّ الاّ نزولاً ملصقاً بأمر ربنا) چه خدای جل جلاله مونږته حکم وکړی نومونږه هله راځو پخپله خوښه نه راځو( نحنُ مامورون بالإتیان عندك باذنٍ وبأمرٍ من الله تعالی ) یعنی چه الله تعالی امروکړی نومونږه راځو دالله تعالی دامرنه بغیرمونږه قطعاً رب هم نشووهلی ، ځکه ملائکی عباد مکرمون دي قرآن مجید کښی راځي﴿ لأیَعْصُوْنَ اللهَ مَآ اَمَرَهُمْ الآیة ﴾ نودلته کښی هم مستثنی خروج ملصق بالإذن دی. فلوخرجتْ فی المدة الثانیة بدون الاذنِ طُلِقتْ اوکه دابښځه په دویم ځل دخاوند داجازی نه بغیراووته( په ړومبی ځل خونی اجازت اخشتی وو) نودابښځه طلاقه شوه ولوقال إن خرجتِ من الدارإلاّ أنْ اذنَ لكِ لکن که خاوند داسی ورته ویلی وو چه که ته دکورنه اووتی مګرچه زه اجازت درکړم یعنی باء ئی نده ذکر کړی. فذلك علی الاذن مرةً حتی لوخرجتْ مرةً اخری بدون الاذن لاتطلقُ نودینه به مراد یوځل اجازت اخشتل وي تردی که بیا دوباره بغیرداذن دخاوند نه اووته نونه طلاقیږي ځکه کلمه دباء پکښی نشته نودلته کښی خروج ملصق بالاذن رانغلو. وفی الزیادات اوپه زیادات کښی دا مسئله ذکرشویده، زیادات دامام محمد صاحب دشیږو(٦) مشهورو کتابونو څخه یوکتاب دی. اذا قال انتِ

**طالقٌ بمشية الله تعالی اوبارادة الله تعالیٰ اوبحکمه لم تطلق** که یوسړي خپلی ښځی ته اوویلي چه ته طلاقه ئی که دالله تعالی مشیت وي ، یاته طلاقه ئی که دالله تعالی اراده وي، یا که طلاقه ئی که دالله تعالی حکم وي، نودا ښځه نه طلاقیږي ځکه الصاق دالله تعالی دمشیت،ارادی ، اوحکم سره چاته هم نه معلومیږي مګرکه پیغمبرﷺ وي نوهغه ته دالله تعالی مشیت، اراده ، حکم دوحی په ذریعه معلومیږي۰

**فصلٌ : فی وجوه البیان** فصل دی په طرق دبیان کښی، دبیان ډیراقسام دي۰ **البیانُ علی سبعة انواعٍ** بیان په اوو(۷) قسمه دی۰ **بیانُ تقریر وبیان تفسیر وبیان تغییر وبیان ضرورة وبیان حال وبیان عطف وبیانُ تبدیل** اول بیان تقریردی، دویم بیان تفسیردی، دریم بیان تغییردی،خلورم بیان ضرورة دی ، پنځم بیان حال دی، شپږم بیان عطف دی، اووم بیان تبدیل دی۰ **امّا الاولُ** هرچه اول قسم دی(بیان تقریر) **فهوان یکون معنی اللفظ ظاهراً لکنه یحتملُ غیره** بیان تقریر هغه دی چه معنی دلفظ خونی څرګنده ده لکن احتمال دبلی خبری لري، نوچه بیان ورپسی وشي نودبیان دوجهی نه احتمال ختم شي اومخکنۍ معنی بنه مظبوطه شي۰ مخکنۍ جمله احتمال دحقیقت اودمجازدواړو لري نوچه دویمه جمله ذکرشي نواوله جمله متقرره شي اوبنه مظبوطه شي ( اذا تکررالکلامُ علی السمعِ تقررفی القلبِ)، دویم ځل باندی خبره دسړي په زړه کښی پریوځي۰ دیته ځکه بیان تقریروائی چه کوم شیٔ احتمالات دګنومعنولرلو نودمجاز احتمال تری ختمیږي لکه الله تعالی فرمائی﴿ فَاِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهٗ * ﴾ دا فاتبع قرانه دا بیان تقریر دی چه مراد دقرأت نه قرأت باللسان دی اودینه مراد مجازي معنی نده بلکه حقیقی معنی تری مراد ده۰ **فبیّن المرادُ بما هوالظاهرُ فیتقرّرُ حکم الظاهرببیانه** چه کله بیان ددی وکړي چه په ظاهرځه مراد دی(داولنۍ جملی نه مراد څه دی) ؟ نوحکم دظاهرمقرر شي په بیان دقائل سره۰ **ومثاله اذا قال لفلانٍ علیّ قفیزحنطةٍ بقفیزالبلد** دهغی مثال داسی دی چه یوسړی اووائی چه دپلانکی په ماباندی یوقفیزغنم دي دپلانکی کلی په قفیز سره ، قفیز یوه خاصه پیمانه ده تقریباً یوغونډی غنم پکښی راځي لکه صاع په صاع کښی دوه نیم سیره غنم راځي۰ نوقفیز مجهول دی پته نه لګیږي چه قفیز نه کوم قفیز مراد دی ځکه دهرځای بیل بیل وزن وي

چیرته کچه کانی چلیږي چیرته پوخ کانی چلیږي لکه په افغانستان کښی (من) اوو(۷) سیره وي اوپه پاکستان کښی(من) څلویښت سیره وي. نوچه کله هغه سړي ویل چه دپلانکی په ماباندی یوقفیزغنم دي نوپه هغه کښی احتمال وو چه ددینه به دکوم ځای قفیزمراد وي، نوچه کله نی اوویل چه په پاکستانی من سره نی په ماباندی یومن غنم دي نوهغه احتمال ختم شو. یالکه یوسړی ووائی چه دپلانکی په ماباندی زرروپی دي نواحتمال پکښی دهرملک دروپوشته لکن چه کله نی.اوویل چه کلداری نودنورو ملکونوپیسی مثلاً ( افغانی، ربال ) وغیره ترینه خارج شول. **اوالفٍ من نقدالبلد** یایوسړي اوویل چه دپلانکی په ماباندی زر روپی دي دهذا البلد دروپونه نودلته کښی کلداری استعمالیږي نومراد ددینه کلداری دي. **فانه یکون بیان تقریر** نوددینه مراد بیان تقریردی، اوبیان تقریردیته وائی چه مخکښ معنی کښی احتمالات وو نوچه متکلم دهغی بیان وکړو نواحتمال ختم شو. **لان المطلق کان محمولاً علی قفیزالبلدونقده مع احتمال ارادة الغیر** ځکه مطلق قفیزیامطلق روپی دا محمول وو په قفیزدبلد یاپه نقد دبلدباندی سره داحتمال دارادی دغیرنه. **فاذا بیّن ذلك فقد قرّر ببیانه** اوکه متکلم ددی بیان اوکړلو نوپه تحقیق سره نی ٥قرر کړو په بیان سره. **وکذلك لوقال لفلان عندی الفٌ ودیعةٌ** همدارنګه که یوسړي اوویل چه دپلانکی زما سره زر روپی دي، احتمال ددی وو چه قرض وي، احتمال ددی ووچه دانی ترینه غصب کړی وي، نوچه (ودیعةٌ ) نی اوویلی نونوراحتمالات ترینه ختم شول اوتعین دامانت وشو چه ماسره نی امانت دي. **فان کلمة عندي کانت باطلاقها تفیدالامانة مع احتمال ارادة الغیر** اوکلمه دمطلق عندي فائده کوي امانت سره داحتمال دارادی دغیرنه. **فاذا قال ودیعةٌ فقدقررحکم الظاهرببیانه** اوهرکله چه متکلم دودیعةٌ ذکروکړو نوحکم دظاهرلفظ دعندی مقررشوپه بیان دمتکلم سره.

**فصلٌ** **وامّا بیان التفسیر** هرچه بیان تفسیردی ، دا دویم قسم دبیان دی. **فهوماذا کان اللفظ غیرمکشوف المراد** اوبیان تفسیرهغه دی چه یولفظ غیرمکشوف المراد وي، یعنی مراد نی څرګند نوي. **فکشفه ببیانه** متکلم هغه لفظ پخپل بیان باندی څرګند کړو، نودیته بیان تفسیرویل کیدای شي، لکه قرآن مجید کښی راځي﴿ وَلِذِی الْقُرْبٰی﴾سورة الحشر،الآیة:۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

مراد قربی دخپلولئ دي نوولدی القربی خو گڼی معنی لري، لکه دا پته نه لگیږي چه دینه مراد قربی دخپلولئ دي اوکه دینه مراد قربی دنصرت دي لکه گڼ ملگري په جهاد کښی دیوبل نصرت ته تیاروي نورسول الله ﷺ ددی تفسیراوکړو چه دینه مراد( قربی النصرت) دي یعنی کوموکسانوچه په جهاد کی‌درسول الله مبارك نصرت کړیدی هغه تری مراد دي نومعلومیږي چه مقارب وغیره تری ندي مراد، یعنی کله چه کافرانوپه مکه مکرمه کښی په رسول الله ﷺ اودهغه په بعضوخپلوانو باندی پابندی ولگوله اومحاصره نی کړل ، او ویل نی چه دوئ باندی به نه خوك څه شئ خرڅوي اونه به دوئ نه څوك څه شئ اخلي نودینه مراد درسول الله مبارك هغه خپلوان دي چه درسول الله ﷺسره په محاصره کښی شریك وو ورنه درسول الله ﷺ خونورخپلوان هم وو لکه ابولهب وغیره لکن هغوئ ندي مرادبلکه هغه خپلوان تری مراد دي کوم چه رسول الله مبارك سره په سخت وخت کښی ولاړ وو. اوس مصنّف بل مثال ذکرکوي. ومثاله اذا قال لفلان عليّ شئٌ اومثال دادی چه یوسړي اوویل چه د پلانکی په ماباندی یوشئ دی. ثم فسّرالشئ بثوبٍ اوبیانی اوویل چه هغه شئ جامه ده ، نوشئ خومجمل وو خوپه ثوب سره نی دهغه شئ وضاحت اوتفسیراوکړلو. اوقال عليّ عشرةُ دراهِمَ ونيفٌ یانی اوویل چه دپلانکی په ماباندی زر روپی دي یا نی څه دپاسه زر روپی دي (نیف) څه دپاسه ته وائی، نوڅه دپاسه مجهول دی ثم فسّرالنیف اوبیانی دنیف تفسیراوکړو چه هغه مثلاً ثلاثة دي یا اربعة وغیره. نوهغه مجمل لفظ واضح شوڅکه سل مونږ ته معلوم وو لکن داڅه دپاسه نه وو معلوم نودهغه تفسیرنی اوکړو چه دیارلس تری مراد دي، نوپدی صورت کښی متکلم هغه مبهم لفظ په خپل بیان باندی واضح کړو. اوقال عليّ دراهِمَ یانی داسی اوویل دپلانکی په ماباندی دراهم دي، نودراهم خوجمع ده پته نه لگیږي دری دي ، شپږ دي وغیرذلك.وفسرها بعشرة اوبیا نی ددی تفسیراوکړو په عشرةْ سره نودینه مراد لس دي، نودی عشرةْ تفسیراوکړو اودیته بیان تفسیروائی لکه (جاءنی رجلٌ ای زیدٌ ) رجل دلته کښی معلوم نوو چه کوم رجل لری مراد دی نو( ای زیدٌ ) دهغی تفسیراوکړو چه زید تری مراد دی. وحکمُ هذین النوعین من البیان اوحکم ددی بیان تقریراودبیان تفسیردادی. ان یصحّ موصولاً ومفصولاً چه صحیح دی ذکردمبتین(بالکسر) که یوځای وي اوکه جداوي،

یعنی که متصل ذکرشي نوهم جائز دی اوکه څه ساعت پس ذکرشي نوهم جائز دی څکه الله تبارك وتعالی فرمائی ﴿ لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ * إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ * فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ * ﴾ سورة القيامة،الاية: ۱۸ ۰ نودلته کنبی دا ثم دتراخی لپاره دی یعنی دهغی نه روستومونږه بیا بیان کوو نودرسول الله ﷺ بیان به بیان تفسیریابیان تقریر وو یعنی رسول الله ﷺ به چه دیوآیت معنی بیانوله دابه دهغه آیت تفسیروو څکه الله تعالی فرمائی ﴿ وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَانُزِّلَ إِلَيْهِمْ ﴾سورة النحل، الآية:۴۳ ۰ نوچه کله په آیت کنبی ثم دتراخی لپاره شوه نومعلومه شوه چه که بیان تقریراوبیان تفسیرکنبی تراخی هم وي نوبیاهم معتبردی اودلیل ئی دا آیت دی﴿ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ ) سورة القيمة، الآية:۱۹ ۰ یعنی چه بیان دمجمل یابیان دغیرمکشوف المراد که پیغمبرعلیه السلام معاً کنے اوکه روستونی کنے نودواړو صورتونوکنبی جائزدی۰ نودیته تفسیروائی ، تفسیربه دری قسمه دی : ۱- تفسیرالقرآن بالقرآن۰ ۲ - تفسیرالقرآن بالحدیث ۰ ۳ - تفسیرالقرآن باقوال الصحابة۰

فصلٌ : وامّا بیان التغییر هرچه بیان تغییردی ، دا دریم قسم دبیان دی۰ فهوان یتغیرببیانه معنی کلامه بیان تغیرهغه دی چه پخپل بیان سره دمخکنی معنی دتغیرراولي یعنی مخکنی معنی نه یوشئ معلومیدو په بیان سره ئی هغه ردکړو۰ ونظیره التعلیقُ والاستثناء اودبیان تغیرمثال تعلیق اواستثناء دی۰ دتعلیق مثال: لکه یوسړي خپلی ښځی ته 'وویلی ( انتِ طالِقٌ إنْ دخلتِ الدار) نود انتِ طالِقٌ خپله معنی داده چه طلاق فی الحال واقع شي لکن ده وریسی اوونیل ( إنْ دخلتِ الدار) نوکلام منَجّز ئی معلّق کړو یعنی انتِ طالقٌ کلام تنجیزی وو (هغه وخت طلاق واقع کیدل) خوچه وریسی د( إنْ دخلتِ الدار) تکی ولګولو نوکلام دمنجزنه معلق شو، فی الحال طلاق واقع نشو بلکه هله به طلاق واقع کیږي چه کله دخول فی الدار راشي۰ اوداستثناء مثال دادی: لکه یوسړی اووائی ( لفلان عليَّ مائة درهمٍ إلاَّ عشرة دراهم) یعنی دپلانکی په ماباندی سل روپی دي ، نوسل خوهغه دي چه د(۹۹) نه بره وي اود(۱۰۱) نه لاندی وي، نودمخکنی کلام موجب پوره سل وو لکن چه کله ئی( إلاَّ عشرةً ) ورسره اوویلی نولس تری اووتی نوکلام دسلو(۱۰۰) نه نوي(۹۰) ته رابکته شو، نودیته بیان تغییروائی۰ وقداختلف الفقهاءُ فی الفصلین اوعلماء پدی دواړو صورتونو کنبی

Maktaba Tul Ishaat.com

اختلاف کوي يعنی که کلام سره تعليق ولگي اوکه کلام سره استثناء ولگي. **فقال اصحابنا المعلق بالشرط سببٌ عندوجود الشرط لاقبله** زمونږه علماء احناف وائی چه بيان تغيير معلق په شرط سره داسبب دی لپاره دوقوع دطلاق کله چه شرط موجود شي، لکه يوسړي ښځی ته اوويل ( انتِ طالقٌ ان دخلتِ الدار) نودا انتِ طالقٌ سبب دطلاقو کله گرځي ؟ چه کله شرط موجود شي اوکنه فی الحال سبب دی؟ نوامام ابوحنيفه صاحب وائی چه دا به هله سبب گرځي چه شرط موجود شي، لکه په پنجابی ژبه کښی متل دی ( تپ چه سي ته توس کرسي ) يعنی داکارتوس چه ماپه لمرکی ايښی دی چه کله ښه گرم شي نوبيا به خلاصيږي. نوامام صاحب رحمة الله عليه وائی چه کله دخول فیالدار راشئ نو هغی نه پس انتِ طالقٌ سبب شولپاره دوقوع دطلاقو. **وقال الشافعی التعليقُ سببٌ فی الحال الاّ أن عدم الشرط مانِعٌ من حکمه** اوامام شافعی صاحب وائی چه هرکله دی سړي تلفظ وکړو نودا سبب دی دوقوع دطلاقولپاره مگرعدم شرط مانع دی دحکم نه چه هغه وقوع دطلاقودی **وفائدةُ الخلاف تظهرفيما اذا قال لاجنبيةٍ اِنْ تزوَّجتُكِ فانتِ طالِقٌ** اوفائده دخلاف به صورت داجنبے کښی ظاهريږي چه کله يوسړی اجنبی ښځی ته اووائی چه که ما تاسره نکاح وکړه نوته به طلاقه وی، نوامام ابوحنيفه رحمة الله عليه وائی چه که واقعي دغه سړي ددغی ښځی سره نکاح وکړه نودغه ښځه پری طلاقه شی، ځکه امام صاحب وائی چه کله دغه شرط متحقق شي چه هغه نکاح ده نوهغه شئ به بيا سبب گرځي. اوامام شافعي صاحب وائی چه دا هغه وخت کی سبب دی چه کله پری مطلق تلفظ وشو، نوپردئ(اجنبی) ښځی ته خوك طلاق نشی ورکولی نو دا کلام لغوه شو اوکه بل وخت ئی واده ورسره وکړو نوښځه ورباندی نه طلاقيږي، ځکه کله چه ده دا کلام کولو هغه وخت هغه ښځه اجنبيه وه اواجنبی ته خوك طلاق نشی ورکولی ، طلاق خو خپلی منکوحی ته ورکولی شي ځکه طلاق فرعه دنکاح ده اونکاح موجوده نده نوطلاق دکومه شو. **اوقال لعبدالغيران ملکتُكَ فانت حرٌ** يايوسړي دبل سړي غلام ته اوويل که زه ستا مالك شوم نوته به ازاد يې. **يکون التعليق باطلاً عنده** نودامام شافعی صاحب په نزد باندی تعليق باطل دی، يعنی تعليق دعتاق په مِلك اوتعليق دطلاق په تزويج سره دا باطل دی. **لان حکم**

التعليق انعقادُ صدرالكلام علةً خكه حكم دتعليق دا د انعقاد دصدردكلام علت دی. والطلاقُ والعتاقُ ههُنا لم ينعقِدُ علةً لعدم اضافته الى المحل طلاق او عتاق دلته كې علت نه منعقد کیږي له وجهې دعدم اضافت دهريوطلاق اودعتاق نه محل خپل ته . فبطل حكمُ التعليق نوحکم دتعليق باطل شو. فلايصحُّ التعلقُ نوتعليق مذكورصحيح نشو. وعندنا كان التعليقُ صحيحاً حتى لوتزوَّجها يقعُ الطلاقُ اوزمونږه په نزد باندی تعليق صحيح دی تردی که دابنځه دی سړي په نكاح واخشته طلاق به واقع کیږي، بل داچه داد عاقل اوبالغ كلام دی باید لغوه نشي. لانّ كلامهُ انما ينعقِدُ علةً عند وجود الشرط اوكلام ددی قائل منعقد کیږي علت چه کله شرط موجود شي له وجهې دوقوع دطلاقونه. والملك ثابتٌ عندوجود الشرط اوملك ثابت دی چه کله شرط موجود شي. فيصحُّ التعليق نوپدی صورت کښې تعليق صحيح شو. ولهذا المعنى قلنا شرط صحّة التعليق للوقوع في صورة عدم الملك اوددی معنی‌ه دوجهې نه چه زمونږ په نزد باندی معلق سبب ندی مخکښې دوجود دشرط نه مونږه وايوچه شرط دصحت دتعليق لپاره دوقوع په صورت دعدم ملك کښې. ان يكون مضافاً الى الملك اوالى سبب الملك چه وي دا تعليق مضاف ملك ته اويا سبب دملك ته. حتى لوقال لاجنبيةٍ ان دخلتِ الدّار فانتِ طالقٌ تردی که اوويلي يوسړي اجنبی ښځې ته که ته کورته داخله شوی نوته طلاق ئی ثم تزوّجها ووُجد الشرط لايقع الطلاقُ اويا ئی دهغې اجنبی ښځې سره نكاح وکړه اوهغه شرط هم موجود شو مثلاً کورته هم داخله شوه نوطلاق نه واقع کیږي له وجهې دعدم اضافت دملك ته اويا سبب دملك ته. وكذلك طولُ الحُرّة يمنع جواز نكاح الامةِ عنده همدارنگه قدرت په نكاح دحرې باندی منع کنې جواز دنكاح دامې په نزد دامام شافعي صاحب باندی، طول قدرت ته وانی ، امام شافعي صاحب وانی چه قرآن مجید کښې راځي﴿ وَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنكُمْ طَوْلاً أَنْ يَّنكِحَ الْمُحْصَنٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ فَمِنْ مَّامَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ﴾سورة النسآء، الآية: ۲۵.يعنی کوم سړی چه طاقت نلري چه دحرې مؤمنې سره واده وکړي ( خکه چه دحرې مهرزيات وي اوبل دحُرې نان اونفقه په خاوند باندی وي) نوبيا دی نكاح وکړي دهغووينځو سره( مَلَكَتْ أيمان أخوانكم ) چه دستاسودمسلمان ورور وينځه وي، خپلې

وینځی سره خوږ نکاح ضرورت نه وی هغه ورته په ملك رقبی سره جائزه ده. نوامام شافعی صاحب وائی چه دئ به هله دوینځی سره نکاح کوي چه دځری طاقت نلري نومعلومیږي داچه کُم سړی دځری طاقت لري هغه به دوینځی سره نکاح نه کوي لان الکتاب علّق نکاح الامة بعدم الطّول ځکه چه قرآن معلقه کړیده نکاح دامی په عدم قدرت باندی، چه ګویا یوسړی دځری دنکاح قدرت نلري نوهغه دوینځی سره نکاح کولی شي فعندوجود الطّول کان الشرط عدماً اوکه یوسړی قدرت دنکاح دځری لري نوشرط دجواز دنکاح معدوم دی، شرط دنکاح دجواز دامی عدم طول دی نوچه یوځای کښی طول موجود وي نوشرط موجودنه شولو، اوانتفاء دشرط مستلزم ده انتفاء دمشروط لره اوحکم هم موجود نشولو چه هغه جواز دی ٠وعدمُ الشرط مانعٌ من الحکم فلایجوز اوعدم دشرط مانع دی د حکم دی جواز دنکاح دامی نوکه یوسړي طول دځری لري نودهغه نکاح دامی سره ناجائز ده ، داداامام شافعی صاحب قول دی، لکن زمونږه امام ابوحنیفه صاحب فرمائی چه که یوسړئ طول(قدرت) دحری لري اوبیا هم دوینځی سره نکاح کول غواړي نوکولی شي، اودا خبره چه آیت مقید راغلی په قید دطول سره دینه مراد دادی چه نبه خبره داده چه حری سره نکاح وشي ځکه چه دځری اولاد ځر وي ورنه نفس جواز دنکاح دامی سره په وخت دقدرت دنکاح د ځری سره شته دی، لکن نبه خبره نده چه امی سره نکاح وشي ځکه چه دامی نه چه کوم بچیان پیداکیږي هغه به غلامان او وینځی وي لهذا دآیت نه ممانعت دنکاح دامی سره دقدرت دنکاح دحری سره نه معلومیږي بلکه صرف ترجیح ورکئ نکاح دحری ته په نکاح دامی باندی ، نوددی آیت دوجهی نه زمونږه اودشوافعویدی مسئله مذکوره کښی اختلاف دی. اوس په اصل مسئله مختلف فیه باندی داامام شافعیصاحب بله تفریع بیانوي. وکذلك قال الشافعی لانفقة للمبتُوتةِ الاّ اذا کانت حاملاً همدارنګه ویلی دي امام شافعی صاحب چه نفقه نده لازمه دمطلقی بالبائن لره مګرکه حامله وي. لان الکتاب علّق الانفاق بالحمل لقوله تعالی ځکه قرآن مجید معلق کړیده نفقه په حمل دښځی پوری پدی قول دالله تعالی کښی. وإنْ کُنَّ أُولاتِ حملٍ فَأنفِقُوا عَلَيْهِنَّ حتّٰی یضَعْنَ حَمْلَهُنَّ الله تعالی فرمائی که چیری دغه ښځی حاملی وي(اولات حملٍ) یعنی

په خاوندانودحمل باندی تاسوخرچ کړئ په هغوی باندی تردی چه هغوی حمل وضعه کړي، نوهغوئ اگرچه مطلقی وي مگرنفقه به ورکولی شي ځکه چه دهغوئ عدت وضعه دحمل ده. نوامام شافعی صاحب وائی چه نورومطلقاتو ته نفقه نشته مگرصرف دحاملولپاره شته ځکه دلته کښې نفقه د(اولات حمل) سره وابسته شویده، نومعلومیږي چه که (اولات حمل) نوي نونفقه ورته نشته. **فعندعدم الحمل كان الشرط عدما** که یوه مطلقه حامله نوي نوشرط دانفاق ندی موجود اوشرط دانفاق حمل دی. **وعدمُ الشرط مانعٌ من الحكم عنده** اوعدم شرط مانع دی حکم لره په نزد دامام شافعی صاحب باندی، نوامام شافعی صاحب دا دواړه مسئلی ذکرکړیدي اودائی دتعلیق دوجهی نه معلقی کړی ځکه چه تعلیق مخکښی کلام بدل کړو ، دیته بیان تفسیروائی ، مخکښی کلام خومطلق وو خوچه دائی اوویل چه کوم یوسړی طول دنکاح دحری نلري هله به دامی سره واده کوي. همدارنگه پدی دویم صورت کښی پکارخودا وه چه هر یو مطلقی ته نفقه ورکولی شوی لکن قرآن اوویل چه ( اولاتِ حملٍ ) نوتعلیق دوجهی نه هغه مخکښی کلام داطلاق دوجهی نه مقیدشو. **وعندنا لمّالم یکن عدمُ الشرط مانعاً من الحکم** اوزمونږه په نزد باندی هرکله چه نوي عدم الشرط مانع دحکم نه، یعنی مونږه چه دغه حکم نه منوځکه شرط ندی موجود زمونږه په نزدباندی خوبه داشئ هله سبب گرځي چه کله هغه شرط موجود شي. **جازان یثبت الحکمُ بدلیله** جائز دی چه حکم پخپل دلیل سره ثابت شي. کله نا کله دیوڅیزلپاره بل یودلیل وي **فیجوزنکاح الامة ویجب الانفاقُ بالعمومات** نوجائز ده نکاح دامی اونفقه هم واجبه ده ځکه مونږه سره نوردلائل هم موجود دي، مونږه دهغه عموآیاتونونه استدلال کوو الله تبارك وتعالی فرمائی ﴿ وَأُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ ﴾ پدی تعمیم باندی مونږ دامی نکاح جائزه منو. اول کښی الله تعالی دپنځلسومحرماتوذکروکړو اوبیا روستونی اوویل چه مذکوره پنځلسومحرماتونه بغیرنوری تولی ښځی درته جائزی دي نوپه ماوراء ذلکم کښی نکاح دامی هم راغله نونکاح دامی هم کولی شي. همدارنگه بل آیت کښی راځي ﴿ فَانْكِحُوْا مَاطَابَ لَكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ مَثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ ﴾ (النسآء / ۳). ددی عموم نه هم معلومیږي چه نکاح دامی جائزه دی ځکه (من النساء) کښی امة هم راغله اودلته کښی دطول قیدهم

نشته، اوپاتې شودمطلقې باره کښې هلته کښې بل آیت دی﴿ وَإِنْ كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ فَأَنفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ﴾ (الطلاق/ ٦ ) الله تعالی فرمائی چه که مطلقې حاملې وي نو ورباندې انفاق کوی ، همدارنګه بل آیت کښې راځي ﴿ وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ ﴾ (البقرة،/٢٣٣ ) یعنی په پلار باندې د خپلو ځځو رزق اوجامه(لباس) لازمه ده، ځکه مولودله پلاروي اونسب هم پلارته ثابتیږي، بل داچه ښځې بچې ددی خاوند لپاره راوړیدي نوچه بچې ده لره راوړي نونفقه به هم دئ ورکوي ځکه قرآن مجید په آیت مذکوره کښې وائي چه هغوښځوته نفقه ورکړی چه تاسوته بچې راوړي، نود(وعلی المولود له رزقهن) دعموم نه دمطلق مطلقې نفقه ثابته ده. ومن توابع هذا النوع ددغې نوعی په توابعوکښې یوه بله مسئله هم ده. ترتُبُ الحکم علی الاسم الموصوف بصفةٍ ترتب دحکم په اسم موصوف باندې ، یواسم چه مطلق ذکرشوی وو هغه کښې خواطلاق وو لکن هغه اسم چه په صفت سره موصوف شو نوتغییرپکښې راغلو، لکه رجلٌ خوعام دی لکن چه رجلٌ عالمٌ اووایونو تقید پکښې راغلو اوهغه مخکښې کلام بدل شوځکه مخکښې کلام کښې اطلاق وو، نوددغې نه دې ترتب دحکم په یواسم موصوف بصفةٍ باندې. فانه بمنزلة تعلیق الحکم بذلك الوصف عنده ځکه داهم په منزله دتعلیق دحکم دی پدی وصف سره په نزد دامام شافعی صاحب باندې. وعلی هذا قال الشافعی لایجوز نکاح الامة الکتابیة اوبناء پردی باندې امام شافعی صاحب وائي چه دامې کتابې نکاح جائزه نده. لانّ النص رتّب الحکم علی اَمةٍ مؤمنةٍ ځکه نص کتاب الله حکم دامې مؤمنې سره مرتب کړیدی. لقوله تعالی مِنْ فَتَيَاتِكُمُ الْمُؤْمِنَاتِ الله تعالی فرمائی چه مؤمنې ښځې سره به نکاح کوئ ، همدارنګه دمؤمنې وینځې سره نکاح کول جائز دي اودغیرمؤمنې وینځې سره نکاح کول ناجائزدي نوکتابیه وینځه خوغیرمؤمنه ده نوهغې سره نکاح نشي کولی ځکه که فتیات مطلق ذکرشوی وی نوبیا به لولو وینځوسره نکاح کول جائزوو که مؤمنه وی اوکه کتابیه لکن دفتیات نه روستوالمؤمنات صفت راغلی دی نودالفتیات مقید شو په قید دایمان سره نودی وجهې نه به دکتابې وینځې سره واده کول ناجائز وي اودکتابې حُرې سره نکاح کول جائزدي ځکه بل آیت کښې الله تعالی فرمائی﴿ وَطَعَامُ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حِلٌّ لَّكُمْ وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ

وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الْمُؤْمِنٰتِ وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ ﴾ سورة المآئدة، الآية: ٥) يعنى طعام داهل كتابوستاسولپاره حلال دى اوستاسوطعام دهغوى لپاره حلال دى همدارنگه مؤمنوښځواوداهل كتابيه وو نكاح هم درته جائزه ده، لكن دكتابى نه مراد هغه كتابيه ده چه مشركه نوي، په عيسايانوكښى ډيرى كمى ښځى دي چه هغوى مشركى نوي، په عيسايانوكښى اوس هم داسى عيسايان شته چه هغوى عيسى عليه السلام دخداى جل جلاله پيغمبرمنى اودبى‌بى مريم عليه السلام زوئ نى منى اوثالث الثلاثه نه وائى. لكه جناب شيخ صاحب فرمائى چه زه يوځل په سفرتللي وم اوبعضى انگريزانوسره مى ملاقات شوى وو چه هغوى كښى زما دداسى بوانگريز(اهل كتاب) سره ملاقات وشوچه هغه ويل چه زه عيسى عليه السلام دخداى جل جلاله پيغمبرمنم اودبى‌بى مريمى زوئ ئى منم اوثالث الثلاثه ورته نه وايم يعنى دخداى جل جلاله سره نى په خدائى كښى شريك نه منم ، داسى كسان په عيسايانوكښى شته لكن ډيركم دي. همدارنگه دداسى يهودنى سره چه هغه عزير ابن الله ) نه وائى نوهغى سره هم واده كول جائز دي. لكن كه عيسائنى درى خدايان منى‌اوعقيده نى داوي چه( three in one ) يعنى عيسايان وائى چه درى خديان ره يوځاى شي نوخداى ترينه جوړشي نو أقانيم ثلاثه ورته وائى مطلب داچه الله الى،عيسى عليه السلام ، او بى‌بى‌مريم چه يوځاى شي نويوخداى ترينه جوړ شي( العياذ له) نوددى عقيدى خاوندانوته اهل كتاب نه وائى بلكه مشركان دي الله تعالى فرمائى﴿ تَنْكِحُوا الْمُشْرِكٰتِ حَتّٰى يُؤْمِنَّ ﴾ سورة البقرة، الآية:٢٢١ . فيتقيدُبالمؤمنةِ نومقيده شوه مؤمنى سره ، نوكه يوسړى دامى سره نكاح كول غواړي نوپكارده چه هغه دى مؤمنة ، نوكه بوه امة كتابيه ده هغى سره مسلمان واده نشى كولى. فيمتنع الحكم عندعدم صف حكم دجواز دنكاح ممتنعه ده په وخت دعدم وصف دايمان كښى، يعنى كه يوه ية كښى وصف دايمان نوي نوهغى سره واده ناجائز دى فلايجوز نكاحُ الامة الكتابيّة ى جائز نكاح دامى كتابى سره،اوزمونږه په نزد باندى عدم وصف دايمان نه منع كوى ح لره ځكه مونږه دبل نص دكتاب الله نه استدلال كوو هغه داچه ﴿ وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ مِنٰتِ وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ ﴾ (المآئدة/ ٥ ) يعنى هغه كتابى

Maktaba Tul Ishaat.com

نجٔی چه بدکاری نوي دهغوی نکاح ستاسولپاره جائزه ده ، نودلته کنبی دا آیت مطلق راغلی دی اوهیڅ قید پکښی نشته لهذا دامی کتابی سره هم زموږپه نزد نکاح جائزه ده. داخبره ختمه شوه اوس بله نوی خبره شروع کوي. **ومن صُوَر بیان التغییرالاستثناء** استثناء دبیان تغییردصورتونه یوصورت دی ، استثناء هم بیان تغییردی لکه یوسړی ووائی ( لفلانٍ عليَّ الفٌ إلامائة ) نوداولی جملی(لفلان عليَّ الف) نه معلومیږي چه زرروپی دي لکن ددویمی جملی( إلامائة) دوجهی نه ترینه سل روپی کمی شوی نو نهه سوه(٩٠٠) روپی پاتی شوی نوتغییرپکښی راغلویعنی په الفو کښی تغییرراغلو، لکه څنگه چه ته دیوڅیز سره شرط ولگی مثلاً اووانی ( انتِ طالقٌ ) نودانتِ طالقٌ موجَب خودادی چه طلاق دی فی الحال واقع شي لکن تا چه وریسی دا جمله راوړه چه ( ان دخلتِ الدار) نودانتِ طالقٌ تنجیزدی تعلیق کړو ، تنجیز معنی داچه یك دم یوشئ واقع شي، تعلیق معنی داچه معلق نی کړي ، نولکه څنگه چه شرط مخکښی کلام کښی تغییرراولی نودارنگې استثناء هم مخکښی کلام کښی تغییرراولی ، مصنف وائی چه **ذهب اصحابنا إلی ان الاستثناء** زموږه علماء احناف وائی چه استثناء **تکلّمٌ بالباقی بعد الثُنیا** داگویا تکلم دی په باقی سره پس داستثناء نه **کانّه لم یتکلم إلابمابقي** دا داسی شو چه لکه صرف په مابقي باندی نی کلام کړی وي، تا چه دا اوویل ( لفلان عليَّ الفٌ إلا مائةٌ ) نوددی دامعنی ده چه (لفلانٍ عليَّ تسع مائة) یعنی دپلانکی په ماباندی نهه سوه(٩٠٠) روپی دي ، گویا په الفٌ موږ بلکل تلفظ ندی کړی حالانکه موږ اوویل چه ( لفلانٍ عليَّ الف) اوبیا دهغی نه روستوموږه ثنیا(استثناء) راوړیده. ثُنیا دثناء یثنی نه دی ثناء یثني معنی اړول ( ثناء یثني اوثناء یثنو ) دنصراوضرب دواړو بابونه مستعملیږي، ( ثنیتُ العنانَ الفرسِ ) یعنی داس واږی می واړولی ، مثلاً آس می شمال طرف ته بوتلولکن اراده می بدله شوه دجنوب طرف ته نوداس واږی می واړولی ، استثناء هم مخکښی کلام واړوی ، لفلان عليَّ الفٌ پوره زر روپی لازمولی لکن الامائةٌ هغه واږی بل طرف ته واړولی چه نه سوه(٩٠٠) دي. نواحناف وائی چه دا گویا تکلم بالباقی دی نوگویا داسې داسی اوویل چه ( لفلان عليَّ تسع مائةٍ ) لکه په الفٌ باندی سرنه تلفظ نده شوی حکماً ، نوداحنافو مسلك داشوچه گویا پدی الف وو باندی دسرنه

تکلم ندی شوی اوداستثناء دوجهی نه چه کومی (۹۰۰) روپی پاتی شوی لکه چه صرف پدی باندی تکلم شوی وي، لکه قرآن مجید کښی راځي ﴿ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰی قَوْمِهٖ فَلَبِثَ فِيْهِمْ اَلْفَ سَنَةٍ اِلاَّ خَمْسِيْنَ عَامًا ﴾ سورة العنكبوت، الآية: ۱۵ ۰ نوح علیه السلام په قوم کښی زرکاله تیرکړل مګرپنځوس ، نودزرونه چه پنځوس اوباسی نونه نیم سوه (۹۵۰) کاله نی په قوم کی تیرکړیدي یعنی نه نیم سوه کاله نی قوم ته تبلیغ اوکړو. وعنده صدرُ الکلام ینعقِدُلوجوب الکل اوپه نزد دامام شافعي صاحب دا صدردکلام علت دی لپاره دوجوب دکل، دلفلانٍ عليَّ الفٌ نه معلومیږي چه پوره زر روپی دي. اِلاان الاستثناء یمنعُها من العمل مګراستثناء مونږه په زروباندی دعمل نه منع کوی ځکه اِلا مائةٌ نی ویلی دي بمنزلة عدم الشرط في باب التعليق داپه منزله دعدم شرط شولکه په باب دتعلیق کښی، بکارخوداوه چه طلاق في الحال واقع وی لکن (اِن دخلت الدار) هغه مخکښی کلام دتنجیزنه تعلیق ته رابدل کړو نوګویا امام شافعي صاحب وائی چه دا تکلم بالباقی ندی بلکه دا تکلم بالاول اوبالاخردواړو دی۰اصل کی امام شافعي صاحب وائی اهلِ لغت چه داخبره کے چه استثناء دنفی نه په معنی داثبات وي اواستثناء داثبات نه په معنی دنفی وي ، نومعلومیږي داچه ماقبل اومابعد دواړه مطلوب دي ، اوتکلم بالباقی ندی لکه یوسړی ووائی ( ما جاءنی قومٌ اِلا زیداً ) نواِلا دنفی نه پس راغله ( ماجاء قومٌ اِلازیدًا یعنی اِلازیداً جاءنی ) صرف زید راته راغلی وو، نوامام شافعي صاحب وائی چه ماقبل اومابعد کښی به معارضه هله راځی چه دواړه مطلوب وي. بل داچه هغوی وائی چه که مونږ داحنافوخبره اومنوچه دا تکلم بالباقی دی بیا خوکلمه دتوحید کلمه دتوحید نشوه ( لا اله الا الله ) یعنی دلته کښی لفظ داِلاَّ استثناء راوسته نوکه تاسو وایائی چه داتکلم بالباقی دی نوپدی صورت کښی‌خوبیا صرف نفی دغیرراغله اوحالنکه نفی دغیرهم ده لکن اثبات دتوحید هم دی نوشوافع وائی چه اصلیت کښی داسی دی ( لا اله اِلا الله موجودٌ ) اومونږه وایوچه که بواځی نفی دآلهوو راشي داهم کافی دی ځکه چه کافرانوالله تعالی منلولکن نفی دالهوو ئی نه کوله لکه قرآن مجید وائی﴿ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ﴾ (الزمر، / ۳۸ ) هغوی خو الله تعالی منلوچه الله تعالی موجود دی لکن دالله تعالی سره ئی

Maktaba Tul Ishaat.com

په خدائی کښی نورهم شریکان کړی وو، بتانونه به نی‌هم مرادونه غوښتل ، اوبتانوباره کښی نی هم داعقیده وه چه هغوی هم نفعه اونقصان ورکولی شي نومقصود خونفی دغیرده اوپاتی شو وجود دباری تعالی هغه خوکافرانوهم منلو. نوکه په کلمه توحید کښی نفی دغیرراشي دغه مطلوب دی . مطلب داشوچه امام شافعی صاحب وائی چه په مابین دماقبل اومابعد دکلام کښی معارضه ده، مخکښی کلام که مثبت وي نوإلاّ به نی منفی کوي اوکه مخکښی کلام منفی وي نو إلا به نی مثبت کوي نودواړه مقصود دي دانه چه دا تکلم بالباقی دی. **مثال هذا فی قوله علیه السلام لاتبیعوا الطعام بالطعام إلاّ سواءً بسواءٍ** اوددی مثال دا قول دنبی علیه السلام دی چه طعام په طعام باندی مه خرڅوی مګربرابربه برابرباندی، نودا الا استثناء ده دلاتبیعوا الطعام بالطعام نه یعنی طعام بالطعام به نه خرڅوی مګرکه په حالت دمساواة کښی، یعنی چه جانبین دواړه برابرشي لکه یومن غنم به په یومن غنموباندی خرڅوی ، همدارنګه من جوار په من جوارو باندی الخ اوکه یوطرف ته من غنم وي اوبل طرف ته دمن غنمونه کم وي نودا ربا اوسود دی. **فعندالشافعی صدرالکلام العقد علةً لحرمة بیع الطعام بالطعام علی الاطلاق** امام شافعی صاحب په نزد باندی صدردکلام منعقدشویدی لپاره دحرمت دبیعی دطعام په طعام باندی مطلقاً ، یعنی چه طعام بالطعام به مطلقاً نه خرڅوی خکه ( لاتبیعوا الطعام بالطعام)مطلق دی ، لکن إلا پکښی یوه نوعه دجواز ثابته کړه چه طعام بالطعام برابرخرڅولی شي. **وخرج عن هذه الجملة صورةُ المساوات بالاستثناء** په استثناء سره صورت دمساوات ددی جملي نه خارج شو، یعنی من غنم په من غنموخرڅول صحیح دي. **فبقِیَ الباقی تحت حکم الصدر** نودا نورټول صورتونه دحکم لاندی باقی پاتی شوچه هغه نهی ده یعنی لاتبیعوا الطعام بالطعام الخ. **ونتیجةُ هذا حرمةُ بیع الحفنة من الطعام بحفنتین** منه نتیجه نی دا راووته چه امام شافعی صاحب والی چه بیع دحفنة من الطعام بحفنتین ناجائزه دی.( الحفنةُ ملاء الکفین ) یعنی حفنه دېته والی چه دواړه لاسونه ډک شي. اوپښتوکښی ورته (لپه) والی. عرب وائی( إنّما نحنُ حفنةٌ من حفنات الله تعالی) موږه دالله تعالی بود لپه یو یعنی بنی ادم دالله تعالی دنوروملخلوقاتوپه مقابله کښی یوه لپه ده ، یولاس(یوچونګ ) ته عرب (غرفة ) والی.

لوشوافع وائی چه دا جائزه نده صدر دکلام نه معلومیږي چه مطلق بیع دطعام بالطعام حرامه ده مګرچه سره برابروي نومعلومیږي دا که برابرنوو نوبیا به حرامه وي برابره خبره ده که هغه شئ لږ وي اوکه ډیروي . احناف وائی چه داسی نده دلته کښی شریعت چه دا اووئیلی چه ( إلاّ سواء بالسواء) نوددی دا معنی دی چه هغه شئ به په پیمانه باندی پیمانه کولی شي نوبرابروالی خو به دپیمانی نه معلومیږي نوبوصاع چه په یوصاع ورکوی نوبرابر به ورکولی شي که کم اوزیات وي نودا ناجائز دی یعنی خمونږپه نزد باندی برابروالی په هغوځیزونوکښی معتبردی چه هغه تحت الکیل راځي. لکن چه یوشئ داسی وي چه دهغی پیمانه نده موجوده نوځنګه به دهغی بیع منع کیدای شي داخونهی دعاجزده ، په عربوکښی به یو(مُدّ) وو اوبل (صاع) په یوصاع کښی به څلور(مُده) راتلل اودمُدنه کمه پیمانه هلته نوه موجوده. نوچه یوشي لږه پیمانه نوي نوهغه به په حفنه باندی خرڅولی شي نوداحنافوپه نزد باندی بیع دحفنی په حفنتینو باندی جائزه ده څکه چه دا تحت الکیل نه راځي ، اوشوافع وائی چه یوغنم هم په دوو غنمونښی بدلولی څکه مطلق منع راغلی ده دهغوی په نزد باندی ماقبل د إلاّ اومابعد دالاّ درایره مراد دي اوهغوئ حکم بالباقي نه منی اووائی چه په حدیث کښی دمطلق بیع دطعام بالطعام منع راغلی ده اوصرف یوصورت کښی صحیح دی چه په هغه کښی مساوات وي نوبرابره خبره ده چه هغه تحت الکیل راځي اوکنه راځي مطلق زیادت حرام دی. اومونږه ورته وایو چه دمساوات دصورت نه معلومه شوه چه هغه شئ په پیمانه راځي نوپیمانه به دپیمانی سره برابر ورکولی شي لکن که یوشئ مونږه نشو پیمانه کولی یعنی پیمانه ئی نوه موجوده نوهغه کښی زیادت ندی حرام، لکن دا مذهب داامام ابوحنیفه صاحب په هغه زمانه کښی معتبروو په کوم زمانه کښی چه مصنف دا کتاب لیکلو څکه هلته کښی د(مُد) نه کمه پیمانه نوه ، بل داچه پخوا به غنم په غوندو کښی اچولی شو یوغوندی به په دری روپی وو نوکه هغه کښی به یومن غنم راغله یا دوه منه یا دری منه غنم تول به په دری روپی وو. غوندی هغه ته والی چه دواړه جانبینوته بوری وي اوخاصکردوچ غنی نه جوړ شوی وي . اوس دوه کسان ئی به مشکله باندی دابی ته اوچتولی شي. نن صبا خو دچیناکی غنمووزن کولی شي اوقیمت

نی لگولی شي، بل داچه نن صبا غنم په پیمانونه خرخیږي بلکه په وزن( کیلو، من ) وغیره باندی خرخیږي نونن صبا زمانه کی چیتاکئ غنم هم په دوه چیتاکوغنمو نشئ ورکولی ځکه هرخیز وزن کیدلی شي ، نودی زمانه کښی د امام ابوحنیفه صاحب قول مفتی به ندی بلکه مسلك دامام شافعی صاحب رائج دی. **وعندنا بیعُ الحفنة لایدخلُ تحت النصّ** مونږه وایو چه بیع دحفنی تحت النص نده داخله . **لانّ المراد بالمنهِی یتقیّدُ بصورة بیع یَتمکّن العبد من اثبات التساوي والتفاضل فیه** ځکه مراد په منهی(حدیث) سره مقید کوي پداسی صورت دبیع سره چه قادره وي بنده په ثبوت دبرابریدوسره اوپه هغه کښی زیاتوالی متحقق کیږي. **کیلایُؤدي الی نهی العاجز** دی لپاره چیرت دی کښی نهی دعاجز رانشي. **فمالایتدخلُ تحت المعیارالمسوّی** کوم شئ چه په پیمانه کښی نه داخلیږي( لکه لپه )داسی معیارچه هغه برابرونکی وي پس غنم یا هرهغه شئ چه مطعوم دی نه داخلیږي تحت المعیار( معیارهغی پیمانی ته وائی چه کومه پیمانه باندی خلق هغه شئ خرڅوي) نودرسول الله ﷺ په زمانه کښی به یوشئ په کیل یاپه مُد خرڅیدو اودمُد نه کمه پیمانه نوه نودی وجهی‌نه کوم شئ چه تحت المعیارندی نودهغی لپاره پیمانه نده موجوده نوکه هغی کی تفاضل راغی پروانشته، وجه داده چه برابروالی دغنموبه په پیمانه باندی معلومیږي. اوس هم مدینه منوره کښی غنم په پیمانه باندی خرڅیږي ، همدارنګه نن صبا زمونږه په عُرف کښی اکثره خلقوسره غنم وي اوهغوی سپین غنم خوخوي نودبل چاسره نی په غنموبدلوي نویوخاص مقدار(پیمانه) ورته وضع کړي دهغی په واسطی سره نی بدلوي اگرچه سره غنم دسپینونه خواګه وي لکن بعضی خلق سپینه روټی اوسپینه پراټه خوخوي. **کان خارجاً عن قضیة الحدیث** نوداخارج شودقضیه دحدیث نه ، داخبره هم ختمه شوه. دلته کښی جناب استاد صاحب داخبره ثابته کړیده چه نن زمانه کښی دچیتاکئ غنموحساب هم لگولی شي ځکه چه نن زمانه کښی عرف دغنموبه تول باندی روان دی اوپښتانه وائی چه دکلی اووخه لکن دنرخه مه اووخه، نودچیتاکی حساب داسی لگولی شي، په حساب کښی قاعده اوقانون دی چه په څومره روپوباندی (من) غنم وي نوپه دومره ( آنو) باندی دوه نیم سیره غنم کیږي نونن صبا تقریباً ( ۳۷۰) روپوباندی یومن غنم دي نوپه (۳۷۰)

آنوباندی دوه نیم سیره غنم کیږي، نوپه روپۍ کښې شپاړس آنې وي نو(۳۷۰) چه په شپاړسو(۱٦) باندی تقسیم کړی نوتقریباً څه دپاسه درویشت(۲۳) روپۍ باندی دوه نیم سیره غنم راځي اوپه سیرکښې شپاړس چیټاکۍ دي تودوه نیم سیرو غنمونه څلویښت(٤٠) چیټاکی غنم جوړیږي اوچه څلویښت(٤٠) چیټاکی په درویشت(۲۳) باندی تقسیم کړی نوتقریباً یوه نیمه روپۍ دچیټاکۍ غنموقیمت راځي. **ومن صُوربیان التغییر** اودصورو دبیان تغییرنه داهم دی **اذاقال لفلانٍ عليّ الفٌ وديعةً** کله چه یوسړي اوویل دپلانکی په ماباندی زر دي اوبیا نی وریسی اوویلی چه ( وديعةً ) نودلفلانٍ عليّ الفٌ نه معلومیږي چه دپلانکی پده باندی زرروپۍ قرض دي اوقرض واجب الاداء وي اوچه کله ئی وریسې وديعةً ولګولونوهغه مخکنی کلام ئی بدل کړو، وديعةً دامعنی چه ده ما سره داپیسی امانت ایښی دي ، معنی داچه ماباندی ئی ددی مال حفاظت لازم کړیدی نوکه امانت هلاك شي دهغی تاوان نشته، اوقرض، به لازماً ورکولی شي هغه نه ساقطیږي ، نوودیعةً دلفلان عليّ په موجب کښې تغییرراوستلو. **فقولُه عليّ يفيدالوجوب وهوبقوله وديعةً غيّرهُ الى الحفظ** نوقول دقائل چه(عليّ) دی دا افاده کوي وجوب اوپدی قول سره چه (وديعة ) هغه مخکنۍ معنی ئی بدله کړه حفظ ته چه دده په ذمه صرف دپیسوحفاظت دی. **وقوله اعطيتني واسلَفتني الفاً فلم اقبضها** همدارنګه یوسړي بل ته اوویلی چه تا ماته زرروپۍ راکولی لکن مادرنه وانه اخستی ، یا ما ته دی زرروپۍ قرض راکولی لکن ما درنه وانه اخستی، داعطیتنی نه معلومیږي چه ماته دی راکړیدي لکن ( فلم اقبضها) نه معلومیږي چه مادرنه ندي اخستی. **من جملة بيان التغيير** داهم دجملی دبیان تغییرنه دی. **وكذا لوقال لفلانٍ عليّ الفٌ زيوفٌ** همدارنګه که یوسړي اوویلی چه دپلانکی په ماباندی زر روپۍ دي لکن وریسې نی اوویل(زيوفٌ) نود(عليّ) نه معلومیږي چه جیادی دي لکن چه زيوفٌ قید نی ورسره ولګولو نوپه مخکنی کلام کښې تغییرراغلو نومراد به ترینه زر زیوفی روپۍ وي. **وحكم بيان التغيير انه يصحُّ موصولاً** اوحکم دبیان تغییردادی چه دا موصولا صحیح کیږي ځکه چه شرط اواستثناء یوددی دواړو نه کلام غیرمستقل دی. اوکلام غیرمستقل هیڅ معنی نه فائده کوي بغیردماقبل خپل نه. **ولايصح مفصولاً** مفصولا ندی صحیح ځکه چه دا قرار عمًا لزم دیُ

نوداداسی شولکه یوسړی چه خان نه تبنتي. **ثم بعد هذا مسائل اختلَفَ فیها العلماء** ددی نه روستوډیری مسئلی دي چه علماؤ دهغوی باره کی اختلاف دی چه آیا دا بیان تغییردی اوکه ندی؟ **وانها من جملة بیان التغییرفتصحّ بشرط الوصل** که دا مسئلی مختلف فیها که دبیان تغییردجملی نه وي نوموصولاً به صحیح کیږي اومفصولاً به نه صحیح کیږي. **اومن جملة بیان التبدیل فلاتصِحُّ** اوکه دبیان تبدیل دجملی نه وي نودامسائل به بیا نه صحیح کیږي **وسیأتی طرفٌ منها فی بیان التبدیل** اوپه بیان تبدیل کنبی به دهغومسائلوبیان راشي، چه بعضی علماء وائی چه دابیان تبیردی اوځوك وائی چه دابیان تبدیل دی.

**فصلٌ** : فصل دی په بیان دبیان ضرورة کنبی. **وامّا بیان الضرورة** اوهرچه بیان ضرورت دی، بیان ضرورت دیته وائی چه خودبخود دهغه شئ دسیاق اوسباق نه ثابتیږي. **فمثاله فی قوله تعالی** مثال پدی قول دالله تعالی کنبی‌دی. **وَوَرِثَهُ ابواهُ فلأُمّهِ الثلثُ** که دمړي وارثان شو موراوپلارنوموربه نی ثلث وړي، یعْنی یوسړی مړشو موراوپلارنی وارثان دی نورڅوك نی نشته نومورته به نی ثلث ورکولی شي اوحالنکه قرآن مجید فرمائی (وورِثه ابواهُ) چه وارثان موراوپلاردواړه وي لکن قرآن یواځي دمورحصه بیان کړه. پدی آیت کنبی چه ﴿ يُوْصِيْكُمُ اللّهُ فِيْ أَوْلاَدِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الأُنْثَيَيْنِ﴾ (النسآء/۱۱ ) پدی یوه رکوع کنبی الله تعالی تولی دمیراث مسئلی بیان کړیدي دینه معلومیږي چه قرآن ډیرمعجزکتاب دی، پدی رکوع کنبی چه څومره دمیراث مسئلی دي پدی باندی بیا توله سراجي لګیدلی ده اوپه سراجي باندی بیا شربفیه لګیدلی ده. **اوجب الشرکة بین الأبوین** دی آیت واجب کړو شرکت دموراوپلارپه منځ کنبی، څکه قرآن مجید کنبی راځي ﴿وورثه ابواه﴾ نو،چه دمور حصه قرآن مجید بیان کړه نودپلارحصه خودبخود متعین شوه چه دپلارثلثین کیږي. **ثم بیّن الأمّ فصارذلك بیاناً لنصیب الاب** نوچه قرآن دمورحیصه بیان کړه نودینه دپلارحیصه پخپله باندی معلومه شوه چه للثان دي. مثلاً یوسړی مړشو اودری سوه روپی ترینه پاتی دي نوبدی کنبی به سل روپی دموروي څکه داسل روپی ددری سوو ثلث دی(دثلث معنی دا چه یوشئ دری حایه کړی نودریمی ته نی ثلث وائی) اودوه سوه نی دپلارشوی څکه مابقی به دپلاروي چه هغه ثلثان دي. **وعلی هذا قلنا اذا بینا نصیب المضارب** اوبناء پردی

باندې چه کله رب المال اومضارب بیان کړه حیصه دمضارب، مضارب هغه چاته وائی چه
هغه عمل(تجارت) کوي مثلاً یوسړي بل ته اوویل چه ته په تجارت کښې ماهره ئی زما
دالس زره روپۍ واخله اوتجارت پرې کوه نیمه برخه پکښې ماته راکوه یا دریمه پکښې ماته
راکوه اودهغه بل برخه بیان نشي نومعنی داچه نوره پاتې برخه ستاشوه ، چه نیمه ئی ورته
اوویلې نومعنی دا چه نوره نیمه ستاشوه اوچه دریمه ئی ورته اوویلې نومعنی داچه دوه
برخې ستاشوې. نوهرجانب چه بیان شي بل جانب ترینه پخپله معلومیږي ، لکه مونږه
ویلې وو چه یوملا به په ګرمی کښې تیراه ته تلو نوټول خپل څیزونه به ئی دطالبانوته حواله
کړل ، صرف بتك پاتې شو اوبه طالبانوکښې بازګل پاتې شو نوملا اوویل چه ( فتعین البتكُ
للبازګل ) یعنی بازګل به بتك اوچته کړی ځکه نه بل څیزپاتې ده اونه بل طالب نوپخپله
هغه متعین دی. وسكتا عن نصیب ربّ المال صحّت الشركة او دواړه(مضارب اورب المال)
چپ پاتې شو دتعین درب المال دبرخې نه نوشرکت صحیح شو، رب المال هغه چاته وائی
چه مضارب ته پیسې ورکړي اومضارب هغه ته وائی چه پیسې جنګوي ځکه تجارت وائی
پیسوجنګولوته ، مثلاً غنم واخلی ګټه پکښې وکړي بل شئ واخلي اوګټه پکښې وکړي.
وکذلك لوبيّنا نصيب رب المال وسكتا عن نصيب المضارب كان بياناً اوهمدارنګه درب
المال برخه ئی معینه کړه اودواړه چپ دي دتعین دمضارب دبرخې نه نوداخودبخود بیان
دی لپاره دحیصې دمضارب نوباقي حیصه دمضارب شوه. وعلی هذا حکم المزارعة اوپدې
باندې دی حکم دمزارعت، یورب الارض وي(دزمکې مالك) اوبل زمیندار(دیهقان) وي هغه
څوك چه عمل کئ په زمکه کښې هغه ته زمینداروانی لکه صاحب دزمکې اووائی چه ته دا
زمکه کړه ماته پکښې نیمه راکوه نومطلب داشوچه باقي نیمه ستاشوه یاورته اووائی چه ماته
پکښې څلورمه راکوه نومطلب داشوچه باقي درې برخې دزمیندارشوې. وكذلك لواوصى
لفلانٍ وفلانٍ بالفٍ لم يبيّن نصيب احدهما كان ذلك بياناً لنصيب الأخر همدارنګه که
یوسړي وصیت وکړو چه پلانکی اوپلانکی ته زما زرروپۍ ورکړی اوبیا یو ددوئ دواړو نه
حیصه متعیّن کړي نودا بیان شو لپاره دتعین دحیصې دبل کس، مثلاً یوسړی وصیت وکړي
، وصیت دیته وائی چه یوسړی مري اودئ دخپل مال په ثلث کښې وصیت وکړي چه

Maktaba Tul Ishaat.com

چه زه خومرم لکن دی دوو کسانوته به پلانکی ته زما په مال کښې دومره حیصه ورکړی» چه زه خومرم لکن دی دوو کسانوته به پلانکی ته زما په مال کښې زر روپې ورکړی اوبیا ئی اوویل چه «زید» ته پکښې شپږسوه ورکړی یعنی زما په مال کښې زر روپې ورکړی اوبیا ئی اوویل چه «زید» ته پکښې شپږسوه ورکړی یعنی دیوحیصه نی معینه کړه نومعنی داچه دبل به پکښې څلورسوه وي، نوچه دیوحیصه بیان شوه دبل حیصه پخپله معلومیږي. **ولوطلق احدی امرأتیه ثم وَطِئَ احدهما کان ذلك بیاناً فی الاخری** که یوسړي یوه ښځه دخپلودوو ښځونه طلاقه کړه اوبیانی دیوی سره جماع وکړه نودا جماع بیان شوه په تعین دهغه بلی ښځی کښې یعنی هغه بله طلاقه شوه، مثلاً دیوسړي دوه ښځی وی اوورته ئی اوویل( احدکما طالِقٌ) په تاسوکښې یوه ښځه طلاقه ده اوبیا ئی دهغی نه پس دیوی ښځی سره جماع وکړه نومعلومیږي چه کومی سره ئی جماع کړیده هغه طلاقه نده ځکه دمطلّقی سره خوك جماع نه کوي داددی خبری دلیل دی چه دایوه ئی ښځه ده اوهغه بله طلاقه شوه، نودا بیان بالعمل دی، عملي بیان ئی وکړو(دکومی یوی سره ئی چه جماع وکړه ) نومعلومیږي چه هغه نده طلاقه بله طلاقه شوه ځکه طلاق سړی دبغض دوجهی نه ورکوی(چه ښځی سره ئی نه لګي) اوجماع دمحبت دوجهی نه کیږي نوچه کومی یوی سره ئی جماع وکړه نوهغه ئی زوجه پاتی شوه اوغیرموطؤ طلاقه شوه. **خلاف الوطئ فی العتق المبهم عندابی حنیفة** په خلاف دوطئ نه په عتق کښې چه کوم مبهم وي په نزد دامام ابوحنیفه صاحب باندی، مثلاً دیوسړي دوه وینځی وی اوموله ورته اوویل « احدا کما حرّةٌ » تاسوکښې یوه حره ده اودیوی وینځی سره ئی بیا دهغی نه روستوجماع وکړه نودا ددی خبری دلیل ندی چه هغه بل ازاده شود، ځکه وینځه په دوو طریقوسره سړي ته روا کیږي یوه داچه دده په ملك رقبی کښې وي اوبله داچه نکاح نی ورسره ترلی وي، نوپوره پته نه لګیږي. **لانَّ حل الوطئ فی الاماء یثبتُ بطریقین فلایتعیَّنُ جهةُ الملك باعتبارحلِّ الوطئ** ځکه حلال والی دوطئ په وینځو کی په دوو طریقوسره ثابتیږي نونه معین کیږي جهت دملك ، پدی اعتبارسره چه ده ورسره وطئ وکړه کیدای شي دی سره لی وطئ من وجه نکاح کړی وي او هغه بله نی وینځه وي. **فصلٌ** : فصل دی په بیان دبیان الحال کښې، **واَمّا بیانُ الحال** اوهرچه بیان الحال دی، یعنی بل بیان حال دی « رنگ رابیبین حال رامه مپرس » یوشی کله ناکله دحالت نه

پخپله باندی معلومیږي دیته وائی بیان حال یعنی هغه حال پخپله باندی حال وائی چه دینه مطلب دادی. مثال ئی دادی چه رسول الله ﷺ به لیدل چه صحابه کرام رضی الله اجمعین په بازارکښی مضاربت کئ یا په بازار کښی بیع اوشراء کئ اورسول الله ﷺ به دهغوی باره کښی هیڅ هم نه ویل نومعلومیږي چه داشئ جائز وو لکه رسول الله ﷺ به لیدل چه صحابه کراموبه په بازار کښی بیع سلم کولو «بیع سلم دیته وائی چه یوسړي ته پیسی ورکړی اوورته اووائی چه دغنموبه ورخوکښی به ماته لس منه غنم راکئے یا دیوسړي دکجورو باغ دی اوورته زر روپی ورکړی چه کله کجوری پخی شي نودوه بورئ کجوری به ماته راکئے.» نورسول الله ﷺ به صحابه منع نه کړل بلکه لا نور وضاحت ئی وکړو اوورفرمائل ( الآ من اسلم منکم فلْيُسْلِمْ فی کيلٍ معلومٍ ووزنٍ معلومٍ الی اجلٍ معلومٍ ) نوچه رسول الله ﷺ یوشئ وینی اوبیا چپ شي نودا ددی خبری دلیل دی چه دا شئ جائز دی خکه چیری هم پیغمبرعلیه السلام په ناجائزو باندی چپ نه پاتی کیږي، خکه حدیث کښی راځي ( من رای منکم منکراً فليغيره بيده فان لم يستطع فبلسانه فان لم يستطع فبقلبه وذلك اضعفُ الايمان وليس وراء ذلك حبةُ خردلٍ من الايمان) **فمثاله فيما اذا رأى صاحبُ الشرع امراً معاينةً فلم ينهُ عن ذلك كان سكوته بمنزلة البيان انه مشروعٌ** دبیان حال مثال دادی چه هرکله صاحب الشرع(رسول الله ﷺ ) یوامرپخپلوسترګو اووینی اودهغی نه بیا منع نه کی نوسکوت دپیغمبرعلیه السلام په منزلة دبیان دی چه داخبره مشروع ده **والشفيعُ** همدارنګه شفیع ، چه کله اووینی چه دده دزمکی خواسره زمکه خرخه شوه او شفیع پری شفعه نه کوی داددی خبری دلیل دی چه دئ پدی بیع خوشحاله اوراضي دی خکه پری شفعه نه کوي، اوکه بیا روستو په هغی زمکی شفعه کوي نودعوا ئی نده معتبره. خکه دده به مخکښی سودا کیده نوده به اخشتی وه. **اذا عُلِمَ بالبيع وسكَتَ كان بمنزلة البيان بانه راضٍ بذلك** هرکله چه شفیع پدی پوه شو چه زما دپتی به خوا کښی پتی خرخ شواوهغه چپ شونودده چپ کیدل دا په منزله ددی خبری دي چه دئ پدی بیع راضي دی، همدارنګه یوه باکره جینئ وه چه کله ورته اوویل شول چه پلارخوپلانی سړي ته ورکړی اوهغه چپ شوه نومعلومیږي چه دا جینی پدی نکاح باندی رضاده. **والبكرُاذا علمت**

بتزویج الولی پیغله ښځه وه کله چه دیته پته ولګیده چه ولي واده کړه،« ولی لکه پلار، تره، مشرورور» وغیره دا ټول اولیاء دنکاح دي ۰وسکتَتْ عن الردّ کان ذلك بمنزلة البیان بالرضاء والاذن اوهغه جینۍ چپ شوه دردّ دنکاح نه نودا په منزلة دبیان درضاء اواذن سره شو، یعنی معلومه شوه چه داپدی خبره خوشحاله اوراضي ده اواذن دنکاح ئی اوکړو. والمولی اذا رای عبده یبیعُ ویشتری فی السوق فسکت کان ذلك بمنزلة الاذن کله چه مولی خپل غلام اووینی چه بیع اوشراء کړی په بازارکی اومولی چپ شي نودا په منزلة داذن سره شو، یعنی دا عبد ماذون فی التجارة شو۰ فیصیرماذوناً فی التجارات نودا غلام ماذون فی التجارات اوګرځیدو،« عبدماذون فی التجارة هغه ته وائی چه مولی ورته اووائی چه ګټه کوه اوماته ئی راکوه» نوپدی صورت کښی( العبدومافی یده لمولاه) بل مکاتب دی« مکاتب دیته وائی چه مولی ورسره بدل کتابت کړی وي چه مثلاً که لس زره روپی دی وګټلی اوماته دی راکړی نوته ازاد ئی» نودهغه تصرفات به ټول دخپل ځان لپاره وي هغه به لس زره جمع کوي اومولی ته به ئی ورکوي چه ازاد شي۰ اودماذون فی التجارت په صورت کښی داحکم ندی بلکه چه څه ګټی مولی ته به ئی ورکوي ځکه دهغه لپاره لګیادی کارکوی۰ همدارنګه دمدعیٰ‌علیه په صورت کښی : مثلاً یومدعي په بوسړي(مدعیٰ‌علیه) باندی دعوا وکړه نوپکارده چه مدعي دوه ګوهان پیش کړي ځکه حدیث کښی راځي ( البینةُ علی المدعی والیمین علی من انکر) نومدعي چه ګواهان پیش کړي خبره خلاصه ده اوشۍ دده دی لکن که مدعي سره ګواهان نوو نوبیابه قاضي مدعیٰ‌علیه ته قسم ورکړی نوهغه که قسم اوخورو بیا هم خبره ختمه ده اوشۍ دمدعیٰ‌علیه دی لکن که هغه دقسم نه انکاروکړو معلومه شوه چه دمدعي حق پری ثابت دی ځکه قسم نه خوري یعنی انکار دمدعیٰ‌علیه دقسم نه حق دمدعي ثابتوي۰ والمدّعیٰ علیه اذا نکل فی مجلس القضاء هرکله چه مدعیٰ‌علیه انکاروکړو دقسم نه په مجلس دقاضي کښی ۰ یکون الامتناع بمنزلة الرضاء بلزوم المال بطریق الاقرار عندهما نودا امتناع دیمین نه داپه منزلة درضاء سره شوپه لزوم دمال(په لزوم دمدعیٰ‌به) سره په طریقی داقرار په نزد دصاحبینوباندی۰ وبطریق البدل عندابی حنیفة امام صاحب والی چه په طریقی دبدل سره

پری مال لازم شو، « بدل دیته والی چه دیمین په بدل کښی ورته پیسی ورکړي ».
اوصاحبین وائی چه دا ده اقرار وکړو. امام صاحب والی چه اقرار لی ندی کړی لکن
بعضی خلق دقسم دومره احترام کوي چه تاوان به ورکړم لکن قسم نه خورم. مطلب داچه
په هره طریقه چه وي خوپیسی پری لازمی دي یعنی که په طریقی داقرار سره وي کماقال
الصاحبان اوکه په طریقی د بدل سره وي کماقال الامام/ابو حنیفة رحمة الله علیه. **فالحاصل**
**ان السکوت فی موضع الحاجة الی البیان بمنزلة البیان** خلاصه داشوه چه سکوت په خای
دحاجت دبیان کښی داپه منزلة دبیان سره دی **وبهذا الطریق قلنا** اوپدی طریقی سره چه
سکوت کیدل په وخت دحاجت دبیان کښی دابیان دی مونږه وایو . **الاجماعُ ینعقِدُ بنص**
**البعض وسکوت الباقین** چه اجماع منعقده کیږي په نص دبعضوصحابه وو سره(خبری
وکړي) اوپه سکوت دنوروصحابوو سره(چه چپ پاتی شي) ، یعنی دی اجماع ته اجماع
سکوتي والی چه بعضی صحابوو اوویل داسی ده اونورتول چپ شول. نودا چپ کیدل په
معرض دبیان کښی عین بیان دی خکه دوئ په حقیقت دمسئلی باندی ښه پوه دي اوبیاهم
رد نه کوی نومعلومیږي چه داشئ جائز دی خکه صحابه اوبیا حق پټول دامحاله خبره ده
خکه حدیث کښی راځي(الساکِتُ عن الحق شیطانٌ اخرسْ ) یعنی چپ کیدونکی دحق نه
گونگی شیطان دی ، نوصحابه دحق نه چیری هم نه چپ کیدل نوکه بعضی صحابه وو به
خپله رایه څرگنده کړه چه دامسئله داسی ده اونورصحابه به ناست وو اوهغوئ به چپ شو
نوهغوی هم دوئ سره پدی خبره کښی شریك دي. دیته اجماع سکوتی وائی.

**فصلٌ** : فصل دی په بیان دعطف کښی. **واَمّا بیانُ العطف** هرچه بیان عطف دی ،
نودبیانالومذکوره وو نه بیان عطف هم دی ، دعطف لغوی معنی خوپه هدایة النحواوکافیه
کښی ذکرشویده چه عطف په لغت کښی میلان اومحبت ته والی، عطوف دخدای تعالی په
صفتونوکښی یوصفت دی خدای جل جلاله په خپلوبنده گانودېرمین اومهربانه دی، اوعطف
په نحوه کښی دیته والی چه دمخکښی خبری حکم روستونی خبری ته هم متوجه کړي لکه
(جاءزیدٌ وعمرٌ ) دا واو ولگیدو دمجیئت نسبت لی عمرو له هم وکړو یعنی حکم دجاء نی
مالله کړو معطوف له ، معطوف په حکم دمعطوف علیه کښی وي، «بیان عطف دیته والی چه

Maktaba Tul Ishaat.com

عطف شي اودعطف دوجهي‌نه هغه مخکني
يوه خبره ذکرشي اوپه هغې باندې بل يوشئ عطف شي اودعطف دوجهي‌نه هغه مخکني شئ چه مجمل وو دهغه بيان وشو» . فمثل أنْ تعطف مکيلاً اوموزوناً على جملة مجملةٍ پشان ددی چه ته عطف وکړی دمکيل يادموزون په مخکنئ جمله باندی چه هغه مجمله ده. يکون ذلك بياناً للجملة المجملة دغه جمله معطوفه به بيان وي دمجملي جملي لپاره ، اکثره خلق دمخکنئ مجملي جملي سره دکثرت استعمال دوجهي نه هغه شئ نه ذکرکوي،خکه کثرت استعمال تقاضه دتخفيف کړی. نومخکنئ جمله کی اجمال وکړي بيا ورپسی کوم شئ چه معطوف کړي هغې کی بيا بيان وي نودمعطوفي جملي دبرکت نه مخکنئ مجمله خبره مونږته معلومه شي. مثاله اذا قال لفلانٍ عليّ مائةٌ ودرهمٌ مثال ئی دادی چه يوسړی اووائی چه دپلانکی په ماباندی سل اويودرهم دي، نوخه سل تری مراد دي؟ خکه مائةٌ ئی مجمل ذکرکړو اوبيائی اوويل (ودرهمٌ) نوپته ولگيده چه يودپاسه سل روپی پدی باندی دپلانکی‌قرضه ده نومخکنئ مائةٌ خکه مجمل دی چه عدد ذکر دی اومعدود ندی ذکر، نوشبه پيدا کيږي چه خه شئ سل تری مراد دي آيا تيپر، سل تماټر، وغيره خه تری مراد دي ؟ نوچه درهمٌ ئی اوويل نومعلومه شوه دمائةٌ نه مراد روپی دي. اومائةٌ وقفيزُ حنطةٍ يانی داسی اوويل چه دپلانکی په ماباندی سل دي ، نوخه سل تری مراد دي ؟ نوچه قفيزحنطة ئی اوويل نومعلومه شوه چه غنم تری مراد دي، نوسل قفيزغنم درباندی قرض شول« قفيزهغه غنم دي چه په غوندي کنبی راخي»نوسل غوندي تری مراد شول. کان العطفُ بمنزلة البيان أنّ الکل من ذلك الجنس نوعطف په منزلة دبيان شو چه داسل اويودرهم داټول ديوجنس خخه دي، خکه ديته عطف بيان وائی. وکذا لوقال مائةٌ وثلثةُ اثوابٍ همدارنگه دجنس ددرهمونه ده داخبره چه يوسړی اووائی‌چه دپلانکی په ماباندی سل اودری جامی دي، « ثلاثةُ اثواب » نه معلومه شوه چه « مائةُ » نه مراد جامی دي. اومائةٌ وثلثةُ أعبُدٍ يا ئی اوويل چه « مائة وثلاثة اعبد» .فانه بيانٌ أنّ المائة من ذلك الجنس دا بيان دی چه دامانه(سل) دمعطوف دجنس خخه دي. بمنزلة قوله احدٰوعشرون درهماً دا داسی شو لکه يوسړی چه وائی احدوعشرون درهماً(يواوشل) ، نواحدٌ مقدم دی اوعشرون مؤخردی ، اوپه مخکنوخابونو کنبی اکثرمقدم دی اوقليل مؤخردی، يعنی

مخکنوصورتونوکښی کثیرمخکی وو اوقلیل وروسته وو اودی صورت کښی قلیل مخکی دی اوکثیروروسته دی یعنی نودا مخکښی داسی شو چه قلیل مخکی کړی اوکثیروروسته کړی ، لکن په دواړو صورتونوکښی چه تمیز دټولو راغی نوټولوسره به لګیدلی وي. **بخلاف قول مالهٔ وثوب** په خلاف ددی باندی چه سړی اووائی دپلانکی په ماباندی سل اوبوه جامه ده، **اومالهٔ وشاةٌ** یا نی اوویل چه دپلانکی په ماباندی سل اویوشات دی ، په مخکنوصورتونوکښی موجَب دحذف کثرت استعمال وو، اوکثرت استعمال په هغه مقدراتوکښی وي چه کوم مقدرات په سړي باندی دین فی الذمة وي، یوسړي باندی چه یوشئ دَین وي اوبرابره خبره ده چه دئ هغه اداء کوی اوکنه اوبرابره خبره ده چه دا دین حالي وي اوکه مؤجل وي ، " مکیلاتواوموزوناتو کښی همیشه لپاره حذف کیږي " ځکه اکثره بازار کښی بیع اوشراء دمکیلاتواوموزوناتو کیږي ځکه خلق دیته انتهائی محتاجه وي وجه داده چه انسان اکثره اوره راوړي یاغوړي، چینی ، وریژی وغیره دا ټول په وزن یا کیل سره خرڅیږي اودی څیزونوته(اشیاء خورد اونوش ) وائی ، دیته روزمره زنده ګي کښی ضرورت وي اودا اکثرالاستعمال دي اوکثرت استعمال تقاضه دتخفیف کړي، اوکه یوشئ تحت المقدارنه راځي هغه کثیرالاستعمال نوي، نودی وجهی نه هغه روستونی تکی چه وروسته ذکرشي نوهغه به دماقبل لپاره بیان وي لکن پدی ځای کښی دا "مانةٌ وثوبٌ یا مانةٌ وشاةٌ "دا اکثرواجب فی الذمةنوي اوډیرقلیل استعمالیږي. **لایکون ذلك بیاناً للمانة** کوم شئ چه دقبیلی دمکیلاتواودموزوناتونه وي هغه به دماقبل لپاره بیان نوي ځکه چه داپه استعمال کښی قلیل دي دی سره ذکرکول پکاردي. **واختُصّ ذلك فی عطف الواحد بمایصلحُ دیناً فی الذمة کالمکیل والموزون** دابه خاص وي په هغه ځای کښی چه عطف دواحدوي اوهغه واحدچه هغه دین فی الذمة صلاحیت لري لکه مکیلات اوموزونات ، نومکیلات اوموزونات چونکه کثیرالاستعمال شواودا واجب فی الذمة وي نوهغه ځای کښی ځکه حذف کیږي.اوپاتی شو مالهٔ وثوبٌ یا مانةٌ وشاةٌ دا دقبیلی دمکیلاتواوموزوناتوځخه ندی ، نوپدی کښی بیان پکاردی ورنه شئ به مجمل پاتی شي. یعنی متکلم نه به تپوس کولی شي چه دمالهٔ نه دی څه مراد دی؟ نوهغه به بیان وکړی چه سل روپۍ یا سل جامی

Maktaba Tul Ishaat.com

يا سل گډی می تری مراد دي ، نوبس هغه به تری مراد وي، نوبغيردبيان نه به هغه کلام نشي محمول کيدای څکه چه دا کثيرالاستعمال ندي۰ **وقال ابويوسف يکون بياناً فی مائةٍ وشاةٍ ومائةٍ وثوبٍ علی هذا الاصل** امام ابويوسف صاحب وائی چه دا عطف به بيان وي په دی قول دسړي کښی چه (مائةٌ و شاةٌ يا مائةٌ و ثوبٌ ) بناء پردی اصل باندی چه هغه « کون المعطوف والمعطوف عليه بمنزلة شئ واحدٍ» يعنی هغه وائی لکه مخکنوصورتونوکښی چه څنګه وو دلته کښی به هم سلونه سل جامی اوسل ګډی مرادوي ، لکن امام صاحب اوامام محمدصاحب فرمائی چه داواجب په ذمة ندي نودی وجهی نه پکښی دمجمل دبيان ضرورت به وي۰

**فصلٌ** : فصل دی په بيان دبيان تبديل کښی۰ **وامّا بيان التبديل** هرچه بيان تبديل دی **وهوالنسخُ** اودی بيان تبديل ته نسخ هم وائی، الله تعالی فرمائی﴿ مَا نَنۡسَخۡ مِنۡ اٰيَةٍ اَوۡنُنۡسِهَااۡتِ بِخَيۡرٍمِّنۡهَآ اَوۡمِثۡلِهَا اَلَمۡ تَعۡلَمۡ اَنَّ اللّٰهَ عَلٰی کُلِّ شَیۡءٍ قَدِيۡرٌ *﴾ سورة البقرة،الآية:۱۰۶ ۰ همدارنګه بل ځای کښی الله تعالی په قرآن مجيد کښی فرمائی ﴿وَاِذَا بَدَّلۡنَآ اٰيَةً مَّکَانَ اٰيَةٍ الآية۰۰۰ ﴾( النحل/۱۰۱) يعنی مونږه که دیوآيت پرځای باندی بل آيت راوړو نوهغی کښی زمونږه حکمتونه دي۰نودی آيت نه نسخ معلومه شوه۰ **فيجوزذلك من صاحب الشرع** جائزه ده نسخ يا بيان تبديل دحکم دشارع نه يعنی بيان تبديل به الله تعالی کئ اويابه نی دهغه رسول عليه السلام کئ څکه پيغمبرباندی دالله تعالی دطرف نه وحی راځي ، مونږاوتاسوبيان تبديل(نسخ) نشوکولی۰ **ولايجوز ذلك من العباد** دنسخ اودتبديل حق بنده نلري بلکه الله تعالی اودهغه رسول به نی کوی۰ **وعلی هذا بطل استثناء الکل من الکل** بناء پردی باندی چه نسخ دبنده لپاره نده جائزه نواستثناء دکل عن الکل ناجائزه ده۰ **لانه نسخُ الحکم** څکه چه داد يوحکم منسوخ کول دي **ولايجوز الرّجوع عن الاقراروالطلاق والعتاق** اوهمدارنګه ندی جائز رجوع داقرارنه دطلاق اودعتاق نه هم، لکه يوسړی اووائی(لفلانٍ علیّ مائةٌ إلامائةٌ ) نومعنی داشوه چه دپلانکی په ماباندی سل دي مګرسل ، نودا فرار عن الاقرار دی اودا ناجائز دی۰ يايوسړی اووائی ( لفلانٍ علیّ عشرةٌ ) اوبيا نی اوويل (ليس له عليّ) نوکلام کښی تناقض دی داهم ناجائزدی ۰ همدارنګه يوسړي ښځی

ته ( انتِ طالِقٌ) اوویلی اوبیا وانی چه ماخوطلاق ندی ورکړی۰ همدارنگه یوسړي غلام ته (انت حرٌ) اوویل اوبیا وانی چه ماندی ازاد کړی نودا تولی خبری جائز ندي خکه حدیث کښی راځي(ثلثُ جِدُّهنّ جِدٌ وهزلُهُنّ جِدٌ النکاحُ والطلاقُ والرّجعةُ)۰ **لانه نسخٌ وليس للعبد** خکه دانسخ دی اودعبد لپاره نسخ دحکم جائزندی، اوس هغه مختلف فیه مسائل ذکرکوي کوم چه مصنف دبیان تغییردبیان په اخرکی زمونړسره وعده کړی وه چه دبیان تبدیل په طرف کښی به ئی درته بیانوم نواوس ئی بیانوي۰ **ولوقال لفلانٍ عليّ الفُ قرضٌ اوثمن المبيع** که یوسړي اوویل چه دپلانکی په ماباندی زروپی قرض دي یا ئی راباندی دمبیع ثمن راباندی زروربی پاتی دي۰**وقال هی زيوفٌ** اوبیا ئی اوویل چه دا کوته روپی دي ، « زیوف هغوپیسوته وانی چه سوداګرنی خپل منځ کښی اخلي لکن بیت المال(بنك) ئی نه اخلي۰ **كان ذلك بيان التغييرعندهما** نودا دصاحبینوپه نزدباندی بیان تغییردی۰ **فيصحّ موصولاً** نودا به موصولاً صحیح وي لکن مفصولاً به نوي صحیح خکه دیٔ دخپل اقرار نه تښتي۰ **وهوبيانُ التبديل عندابي حنيفة فلايصحُ وان وصل** اوداپه نزد دامام ابوحنیفه صاحب باندی نسخ دی اوهغه وانی چه که متصل ئی هم اوویل نونه صحیح کیږي خکه نسخ دبنده لپاره جائزہ نده ، بلکه ده اقرار وکړو نواوس مأخوذ دی۰ **ولوقال لفلانٍ عليّ الفٌ من ثمن جاريةٍ باعنيها** که یوسړي اوویل دپلانکی په ما باندی ددی وینځی دثمن زر روپی دي اوپه مانی دغه وینځه خرڅه کړیده **ولم اقبضها** اوماداوینځه په خپل مِلك کښی‌نده راوستی۰ **والجارية لاالرلها** اوجاریه بلکل نوه، یعنی‌معلومه نوه۰ **كان ذلك بيان التبديل عندابي حنيفة** دابیان تبدیل دی په نزد دامام ابوحنیفه صاحب ، خکه مخکی ئی اقرار وکړو چه دپلانکی په ماباندی زرروپی دي اوروستو بیا دخپل اقرار نه تښتي نودیٔ به په خپل اقرارباندی مأخوذوي۰ **لان الاقرار بلزوم الثمن اقرارٌ بالقبض عندهلاك المبيع** خکه اقرار په لزوم دثمن سره دا اقرار دی په قبض سره په وخت دهلاکت دمبیعی کښی۰ **ذلوهلك قبل القبض** که دامبیعه قبل القبض هلاکه شوی وانی **ينفسخ البيع** بیا بیع فسخه لیږي، خکه دبیع داراومداریه مبیع وي نومبیع چه مشتری ترڅوپوری خپل مِلك ته نده اوړی نوترهغی پوری په مشتري باندی ثمن واجب ندي، نوپدی صورت کښی چه دیٔ

Maktaba Tul Ishaat.com

وائی دپلانکی په ماباندی زرروپی دي ددغی وینځی او وینځه نشته نودا دهغه زرو روپو نه قرار دی. فلایبقی الثمن لازماً نوثمن لازم نشو، دئ دی لپاره وانی چه دامبیعه مانده قبضه کړی چه ثمن پری لازم نشي ځکه مبیعه چه نوي قبضه شوی نوپه مشتري باندی ثمن نه لازمیږي نوسرکی خونی ویلی وو (لفلانٍ عليّ الفٌ) دپلانکی په ماباندی زر روپی دي ، دئ اوس دځپل اقرارنه تښتي نودده دا تبدیل به غلط وي بلکه پده باندی زر روپی لازمی دي ځکه ( المرءُ يؤخذُ باقراره ).

## ﴿ البحث الثاني : ﴾

رومبنی بحث په کتاب الله کښی وو، دکتاب الله شل اقسام اودهغوئ پوره تول مالها وما علیها بیان شول ،دویم مصدر د مصادرو د شرع نه حدیث دی یعنی اول مصدر کتاب الله دی که کتاب الله کښی یوحکم نوی نو بیا به ني په حدیث کښی کوری بیا به اجماع کوری که اجماع کښی نه وی بیا به قیاس کوی ، نو مقصد دا شو چه سنت د رسول الله دا حجت دی ، او دا رد دی په پرویزیانو منکرینو د حدیث باندی ، هغوی حدیث حجت نه منی او وائي (یَکْفِینا کتابُ الله ) ځکه الله تعالی قران مجید ﴿ تِبیاناًلِکُلِّ شَیئٍ ﴾ وائي اوبل دا چه الله تعالی وائي ﴿اَلْیَومَ اَکْمَلتُ لَکُمْ دِینُکُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَیْکُم نِعْمَتِی ﴾ نوهغوی وائي چه قران کافی دی سنت ته ضرورت نشته ، په هره زَمانه کښی منکرین د حدیث وو په دی زمانه کښی غلام احمد پرویز راغئ او د حدیث نه ني انکار وکړو، هغه به ویل چه د پیغمبر مثال په شان د ډاکی دی او ډاکی چه چا ته خط راوړی نو خط ورته نه اوروی بلکه هر سړی په خپله خط کوری ،نو پیغمبر ﷺ ډاکی دئ ، خلقو ته ني د خدائ ج ډاك راوړو چه هغه قران دی نو هر سړی به پخپله قرآن کوری او د هغی نه دی مطلب اخلی، او دا بی وقوفه پوه نشو چه د پیغمبرﷺ قران مجید خلقو ته بیانوی ، ابراهیم علیه السلام چه کله د کعبی بُنیادونه پورته کول او اسماعیل ع ورته کانی ورکولی نودواړو په ژبو دا دُعا کوله ﴿ رَبَّنا وَابْعَثْ فِیهِمْ رَسُولاً مِّنْهُمْ یَتْلُوا عَلَیْهِمْ آیٰتِكَ وَ یُعَلِّمُهُمُ الکِتٰبَ وَالْحِکْمَةَ وَیُزَکِّیْهِمْ ﴾ایة ۱۲۹ سورة البقره )ترجمه ، خدایه خمونږه په اولاد کښی اهل مکه ته داسی پیغمبر راولیږه چه هغه دوی ته ستا ایاتونه تلاوت کوی او دوی ته ستا د کتاب تعلیم ورکوی د شریعت خبری

ورته اوښائي او تزکيه د نفوسو ئي هم وکړی، تلاوت دیته وائي لکه يو استاذ طالبانو ته د يو
کتاب عبارت وائي او چه معنی ئي وکړی نو دیته تعلیم وائي، نو دا پیغمبر به د قران تعلیم
ورکوی چه ددی آیت دا مقصد دی او دینه دا ثابتیږی ، نو سنت دويم حُجت دی د حججِ
شرعیه نه او که سنت نه وائ نو بیا به د قران کریم په آیاتونو باندی خوك نه پوهیدل، قران
کښی خو تعداد د رکعاتو هیڅ ځای کښی نشته چه د سهار دوه رکعاته فرض دی او د
ماسپښين څلور رکعاته فرض دی وغيره، او مقادير دزکات به درته څنګه معلوميږی دا هم په
قران کښی نشته چه څومره اوښانو کښی، يا ګډو، يا سرو او سپينو کښی زکوة لازميږی، او
ددی ټولو تشريح احاديثو کښی راغلی ده  نودی وجهی نه د قران کريم معنی بغير د
احاديثو نه څوك نه شی معلومولی، عدی بن حاتم سوچه عرب دی د حاتم طائي خوی
دی او حاتم طائي إنتهائي سخی وه او ددغه علاقی عربیژبه إنتهائي فصيحه او بليغه
وه،سعودی کښی يو ځاي ده حائل ورته وائي هلته  دحاتم طائي قبر دی زه(شيخ صاحب)
ورته تللی يم،خو چه کله دغه ايت راغلی ﴿ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ
الْأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ، اية ١٨٢ البقرة﴾ يعنی کله چه صبا راوخيژی نو خوړل سکل بنده کړی په
رمضان کښی يعنی دغه ايت د رمضان باره کښی نازل شو، نو عدی  بن حاتم طائي چه کله
ايت واوريده نو د خپل بالخت لاندی ئي يو تور تار او يو سپين تار اينبی وه نو پابه څيده
هغه تار ته به ئي وکتلو تر سهاره پوری هغه ورته معلوم نشو، نو رسولﷺ ته ئي وويل چه
قران کښی خو راځی(حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الخ) نو رسولﷺ ورته وويل چه ستا ډير لوی
څټ دی خيط ابيض او اسود ستا د څټ لاندی راغلی دی نو قران کښی دا ټکی راغی
(مِنَ الْفَجْرِ) يعنی د تار نه مراد د ګنډلو تار ندی بلکه د تار نه د اسمان تار مراد دی يعنی
صبح صادق (ټوله کناره د مشرق سپين شی) مراد دی نو عدی بن حاتم اوويل چه اوس
پوی شوم، نو هغه ده لوی صحابي وه د قران په مطلب نه پوهيږی نو که ډير لوی عربی
دان هم وی خو چه د پيغمبر ﷺ بيان نه وی هغه د قران په مطلب نه پوهيږی نو ځکه
سنت حُجت دی فصل في سنة رسول الله سنت ئي وويل خبر ئي ونه ويل ځکه مابين د
سنت او خبر کښی نسبت د عموم خصوص من وجه دی. دوه مادی د افتراق غواړی يوه د

Maktaba Tul Ishaat.com

اجتماع، نو کله به خبر او حدیث دواړه وی لکه حدیث د رسولﷺ او کله به خبر وی حدیث به نه وی لکه د بادشاهانو خبری او کله به حدیث وی خبر به نه وی لکه حدیث قدسي او بعض واني چه د حدیث او د خبر منځ کښی نسبت د عموم خصوص مطلق دی هر خبر حدیث دی اوهر حدیث خبر ندی ، او بعض واني دا کلمتین مترادفتین دی ،وهی اکثر من عدد الرمل والحصٰی او د رسول الله حدیثونه د شکونه هم ډیر دی ، د رسولﷺ په لکونو باندی مرویات دی ، کوم کتابونه د حدیثو چه چاپ شوی دی دهغه کتابونو په مقابله کښی چه لا مخطوطه دی او ندی چاپ شوی لسمه برخه ده ،(بخاری، مسلم، ترمذی، ابوداود، نسائي ابن ماجة، موطا امام مالك ،موطا امام محمد، سنن سعید بن منصور، سنن دار قطنی، سنن بیهقی ،مسند امام ابوحنیفة) د غیر چاپ شوو کتابونو مقابله کښی لسمه برخه ده، فصل فی اقسام الخبر سوال ، مخکی ني سنت ووېل دلته ني خبر ووېل دا ولی ؟ جواب اصول فقه کښی بحث د رسول الله د اقوالو نه کیږی او د کتاب الله اقسام ټول (خاص ،عام ،الخ )د رسول الله په اقسامو کښی هم جاري کیږي یعنی څنګه چه قران کښی جاری کیدل همدارنګه د رسول الله په اقوالو کښی هم جاری کیږی، خبرُ رسول الله ﷺ بمنزلة الکتاب د رسولﷺ خبر پشان د قران دی څنګه چه د قران نه یو حکم ثابتیږی همدارنګه د رسولﷺ د خبر نه هم ثابتیږی ، دیکی رد دی په پرویزیانو باندی چه هغوی د حدیث منکرین دی ، نو مصنف واني چه خبر د رسول اللهﷺ په لزوم د علم او عمل کښی په منزله د قران دی لکه څنګه چه قران باندی علم او عمل لازم دی نو خبر د رسول الله ﷺ باندی به هم علم راولی او هم عمل پری کوی، فان من اطاعه فقد اطاع الله ځکه څوك چه د رسول ﷺ اطاعت کوی په تحقیق سره د الله ج اطاعت ني وکړه، فما مَر ذکره پس هغه خبری چه د هغه مخکښی ذکر وشو من بحث الخاص والعام والمشترك والمجمل فی الکتاب فهو کذالك فی حق السنة د خاص عام او غیره څنګه حکم چه کتاب کښی وه هغه دلته په خبر د رسولﷺ کښی هم دی ،مګر دومره فرق دی چه کتاب الله کښی شُبه نشته او د خبر په بعض روایاتو کښی شبه وی، اصلیت کښی خبر په څلور قسمه دی، ۱خبر متواتر،۲ خبر مشهور، ۳ خبر عزیز، ٤ خبر غریب، خبر متواتر هغه حدیث ته واني چه هغه نقل کړی

وی یو جماعت بل جَماعت نه پدی طریقی سره چه راویان په کښی کم شوی نوی دومره زیات وی چه د هغوی اتفاق په کذب باندی محال وی،او دا قطعی الثبوت وی یعنی مفید د علم یقینی وی، او که یو خای کښی راویان کم شوی وی هغه ته مشهور وانې اوکه یو خای کښی راویان دوه شوی وی نو هغی ته عزیز وانې ، او که یو خای کښی راوی یو وی نو هغی ته حدیث غریب وانې د متواتر نه ماسوا دری واړو اقسامو ته خبر واحد وانی، إلاان السنة فی باب الخبر فی ثبوته من رسول اللهﷺ مګر دومره شبه د خبر په ثبوت کښی شته چه ددی حدیث ثبوت د رسول الله ﷺ نه شوی دی او که نه ، واتصاله به او دا سند متصل ده کنه یعنی رسول الله ﷺ نه چه دا خبره روایت شوی ده سند کښی خو چیرته راوی ندی پریشوی ولهذ المعنی ای لاختلاف ثبوته منه صار الخبر علی ثلاثة اقسامٍ ، اوګرځیده خبر په دری قسمه، قسم صح من رسول اللهﷺ وثبت منه بلا شبهة یوهغه قسم دی چه هغه د رسول الله ﷺ نه صحیح وی او هغه ثابت وی بغیر د شبهی نه وهو المتواتر دا متواتر دی ،وقسم فیه ضربُ شبهة بل هغه قسم ده چه هغه کښی یو نوع د شبهی وی وهو المشهور او دا مشهور دی، وقِسمٌ فیه احتمال وشبهةٌ بل هغه قسم دی چه هغه کښی احتمال او شبهة وی وهوالاحاد او دا احاد دی ، نو مصنف د هر یو تعریف کوی، فالمتواتر تَوَاتَرَ بمعنی تَتَابَعَ عرب وانې تَواتَرَ المَطَرُ باران مسلسل وریږی، تَواتَرَالقَوْمُ قوم یکي با دیګری راځی، قران کښی راځی﴿ثُمَّ اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا تَتْرَا .اية ٤٤، المؤمنون ﴾ مونږ یو بل پسی رسولان لیږل یعنی د نبوت دروازه بنده نه وه هر کله چه رسول اللهﷺ راغی نو د نبوت دروازه بنده شوه، مانقله جماعة عن جماعة پس متواتر هغه حدیث دی چه روایت کړی وی یو جماعت د بل جماعت نه او دغه سلسله تر اخیره پوری وی یعنی اول کښی چه کُنو صحابو نه منقول وی همدارنګه اخر کښی هم وی لایتصور توافقهم علی الکذب چه نه متصور کیږی توافق ددوی په دروغو باندی لِکثرتهم ددوی د زیادت له وجهی نه واتصل بك هکذا تاته هم دارنګه متصل رارسیدلے وی نو دي ته متواتر وانې، یو خل اکوری کښی میله وه نو یو بابا ابن الحمار(کوچے یعنی کوټی ) راوستی وه د خرخولو لپاره، نو دری دلالانو خپلو کښی صلاح وکړه چه د بابا نه به دا کوچیٔ په خه چل مفت اخلو ، نو هغه یوه ته ،نې وویل چه

۱. اصول القرآن

افادات شیخ الحدیث مولانا حسن جان المدنی

۲. الحاشیة المروتیة علی شرح العقائد النسفیة

افادات شیخ الحدیث حضرت مولانا مفتی سیف اللہ حقانی


ناشر:

جامعہ مظہر العلوم نیازی

سٹاک

جدید مکتبہ رشیدیہ

قصہ خوانی بازار محلہ جنگی پشاور 091-2580074